الفوائد

د نفسونو تزکیه
د زړونو علم او د الله محبت

تالیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری
حفظه الله تعالی



پښتو ترجمه
ابو سلمان حضرت محمد غفرله

مکتبه محمدیه
بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پېښور

الفوائد

د نفسونو تزکیه

د زړونو علم او د الله محبت

تألیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری

حفظه الله تعالیٰ

١

پښتو ترجمه

ابو سلمان حضرت محمد غفرله

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پېښور

عربي تالیف ——— الفوائد (المجلد ۱) في تزكية النفوس وعلم القلوب والرغبة الى علام الغيوب
مؤلف ——— الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري
پښتو ترجمه ——— دَ نفسونو تزكیه، دَ زړونو علم او دَ الله دَ محبت باره کښې فوائد
مترجم ——— ابو سلمان حضرت محمد غفر له
فن ——— تزكية النفس
طباعت ——— ۲۵ جمادی الثانیة: ۱٤٤۱هـ
موافق: ۲۰۲۰/۱/۲۰ء
ناشر ——— مكتبه محمديه

مکتبه محمدیه
بیرون گنج گیټ منکل مارکیټ پیښور
زیر انتظام ولی الله: 0301 8828402



١ - اوله فائده

چه د سرو زرو په اوبو باندې د ليکلو لائق ده

پوهه شه ! چه عمل صالح د مسلمان سرمايه ده، او د همدے دپاره پيدا شوے دے، او په همدے به حساب کتاب او ثواب وی، او همدے طرفته الله تعالىٰ او د هغه نبی ﷺ ترغيب ورکړے دے. نو عقل مند سړی له پکار دی چه ددے سخت اهتمام اوکړی، او ددے د شرطونو، آدابو او حقوقو لحاظ اوساتی، او په پوره او ښائسته طريقے سره ئے سرته اورسوی. رسول الله ﷺ فرمائی : اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ مِنَ الْعَامِلِ إِذَا عَمِلَ أَنْ يُّتْقِنَهُ. (الله تعالىٰ د عمل کونکی نه کله چه عمل کوی دا خوښوی چه پوره طريقے سره ئے اداء کړی).

[صحيح الجامع]

اودا قانون دے چه کله يو شے گران او عزتمند وی نو د هغے شرطونه زيات او قيدونه ئے سخت وی .

اوس مونږ د عمل صالح دپاره شرطونه ذکر کوو، اودا هم ذکر کوو چه ددے حفاظت په څه شئ باندے کيږی، او ددے د قبليدو شرائط څه دی ؟

اودا شرطونه ډير زيات دی چه مونږ د شرعی دلائلو نه راويستلی دی نو :

١-اول شرط : ايمان :

هيڅ عمل د ايمان نه بغير قبول نه دے، الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ [نحل : ٩٧]

(څوك چه نيك عمل اوکړی نارينه وی که زنانه خو په دے شرط چه دا مؤمن وی نو

خامخا به مونږ دہ له پاکیزه ژوند ورکړو)۔

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴾ [نساء: ١٢٤]

(څوك چه نيك عمل اوکړي نارينه وي که زنانه او دے مؤمن وي نو دا خلق به جنت ته داخليږي او په دوئ به د کهجورے د هډوکي د داغومره ظلم اونشي)۔

او الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴾ [اسراء: ١٩]

(او چاچه د آخرت اراده اوکړه او هغے دپاره د هغے موافق عمل کوی اودا مؤمن وی نو ددے خلقو محنت خوارئ ته به د قدر په نظر کتلے شی)۔

آیتونه په دے مضمون باندے ډیر زيات دی۔

نو الله سبحانه وتعالىٰ د عمل صالح دپاره په دے آیتونو کښے ایمان شرط گرځولے دے۔

۲ - دویم شرط : اخلاص :

او هغه داچه عمل خالص د الله دپاره اوکړے شی، نه د دنیا دپاره، نه د ریاء اونه د غیر الله دپاره۔ لکه الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْ لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴾ [كهف: ١١٠]

(نو څوك چه د خپل رب سره د ملاقات امید لري نو هغه له پکار دی چه نيك عمل اوکړي او د خپل رب په عبادت کښے هیچا له برخه ورنه کړي)۔

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ حُنَفَآءَ وَ يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ﴾ [بينة: ٥]

(او دوئ ته حکم نه دے شوے مگر ددے چه دوئ صرف د الله عبادت اوکړي په داسے حال کښے چه خالص کونکی وی هغه دپاره دین، (او) کلك وی (په دین) او پابندی د مانځه کوی او زکات ورکوی اودا مضبوط دین دے)۔

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ﴾ [حج: ٣١]

(کلك اوسيږئ او د الله سره شرك کونکی مه جوړيږئ)۔

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ [مومن: ٦٥]

(نو خاص الله رابلئ چه خالص کونکی يئ هغه دپاره دین اگرکه کافران ئے بد گنړي)۔

او الله فرمائي : ﴿ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾ [زمر: ٣]

(خبر دار الله لره خالص دین دے)۔
نو په دے آیتونو کښے الله تعالیٰ په عمل کښے د اخلاص پیدا کولو حکم فرمائیلے دے۔

۳ - دریم شرط : اتباع سنت :

څکه عمل چه کله د سنت موافق نه وی نو هغه داسے وی لکه کوته روپۍ یا لکه کوته مال۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ [کهف: ۷]

(دے دپاره چه تاسو باندے امتحان اوکړی چه په تاسو کښے څوك ښائسته عمل والا دے)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ [کهف: ۷]

(یقینا مونږ ګرځولے هغه څه چه په زمکه باندے دی ښائست د زمکے، دے دپاره چه مونږ په دوئ باندے امتحان کوو چه په دوئ کښے څوك ښائسته عمل والا دے)۔

او الله فرمائی : ﴿ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ [ملك: ۲]

(مرګ او ژوند ئے پیدا کړی دی، دے دپاره چه تاسو باندے امتحان اوکړی چه په تاسو کښے څوك ښائسته عمل والا دے)۔

د عمل صالح په تشریح کښے فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائی : چه دا ډیر خالص او درست وی، ده ته عرض اوکړے شو چه ډیر خالص څه معنیٰ ده ؟ وے فرمائیل : چه د الله دپاره وی۔ بیا اوویئلے شو چه : درست څه معنیٰ ده ؟ وے فرمائیل : چه د سنت موافق وی۔ څکه چه کله عمل خاص د الله دپاره نه وی نو نه قبلیږی، دغه شان کله چه د سنت موافق نه وی نو هم نه قبلیږی۔(تفسیر ابن کثیر ۱/۲۱٤)

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ. (چا چه یو داسے عمل اوکړو چه په هغے باندے مونږ حکم نه وو کړے نو هغه مردود دے)۔ رواه مسلم

امام مالك رحمه الله فرمائی : د سنت مثال د نوح علیه السلام د کشتۍ دے، څوك چه په دے کښے سور شو نجات به بیامومی، او څوك چه ددے نه پاتے شو، غرق به شی۔

(الاعتصام بالسنة د امام سیوطیؒ)

د اتباع سنت دلائل ډیر زیات دی چه مونږ ورته صرف اشاره قدرے کوو۔

٤ - څلورم مهم شرط : احسان دے :

د احسان تفسیر خپله رسول الله ﷺ کړے دے هغه دا چه : أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ. ((ته د الله داسے عبادت اوکړے چه ګویا ته الله وینے، که ته ئے نه وینے نو هغه خو دے وینی))۔

(متفق عليه)

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [حج: ٣٧]

(اوزيرے وركړه احسان كونكو ته)۔

او الله حكايت كوي فرمائي : ﴿ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [الزمر: ٥٢]

(ارمان دے چه زما دپاره دوباره واپسي وے دنيا ته چه زه د نيك عمله خلقو نه جوړ شم)۔

او الله فرمائي : ﴿ بَلٰى مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ﴾ [بقرة: ١١٢]

(هاؤ، چا چه خپل مخ خاص الله دپاره تابع كړو او دا احسان كونكے وي نو ده دپاره اجر او ثواب دده دے په نيز د رب دده)۔ نو په دے آيت كښې الله تعالیٰ احسان شرط كړو۔

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴾ [رحمٰن: ٦٠]

(د احسان بدله خو صرف احسان دے)۔ يعني په دنيا كښې د احسان كولو بدله صرف جنت دے۔

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ بَلٰى مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ واتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ ﴾ [نساء: ١٢٥]

(هاؤ، چا چه خپل مخ خاص الله دپاره تابع كړو او دا احسان كونكے وي او د ابراهيم – عليه السلام – د دين پسے روان وي چه كلك ولاړ وو په توحيد)۔

بيا دَ اِحسان دوه مرتبے دي : (١) اوچته (٢) او خكته۔

(١) اوچته مرتبه داده چه ته د الله داسے عبادت كوے چه گويا ته الله وينے۔ (٢) او خكته مرتبه ئے داده چه ته په زړه كښې ددے لحاظ اوساتے چه الله تا ته گوري۔

او دَ اِحسان مرتبے ته رسيدل ډير گران دي چه صرف د الله په فضل او مهربانئ سره كيدے شي۔ نبي كريم ﷺ په بے شماره حديثونو كښې په مختلفو الفاظو سره په دے باندے حكم فرمائيلے دے ۔ لكه په يو حديث كښې فرمائي :

اِحْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ، وَاحْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ. ((ته د الله حفاظت كوه، الله به ستا حفاظت كوي، ته د الله حفاظت كوه نو ته به هغه خپلے مخے ته بيامومے))۔ (ترمذی)۔

او لكه نبي كريم ﷺ فرمائي : وزكى نفسه، قيل :و ما تزكية المرءِ نفسه ؟ فقال : يعلم أن الله معه حيث كان. (او دخپل نفس تزكيه ئے اوكړه، عرض اوشو : د نفس د تزكيے نه څه مراد دے ؟ وے فرمائيل : چه په دے پوهه شي چه چرته دے وي الله ورسره وي)۔ په يو بل حديث كښې دي : اَفْضَلُ الْاِيْمَانِ اَنْ تَعْلَمَ اَنَّ اللّٰهَ مَعَكَ حَيْثُمَا كُنْتَ.

(غوره ايمان دادے چه ته دا اوپيژنے چه چرته هم ته ئے هلته تا سره الله دے)۔

دا ټول احادیث د احسان باره کښې راغلي دي.

۵ - پنځم مهم شرط : په عمل کښې احتساب دے :

د **احتساب** معنیٰ ده : د هغه اجر اوثواب شمارل (او د هغې امید ساتل) کوم چه په عمل کولو باندې مرتب وي، او د دغه اجر او ثواب د وجې نه عمل کول. احتساب د حساب نه ماخوذ دے . په احادیثو نبویه ﷺ کښې د احتساب تذکره ډیره کیږي.

لکه رسول الله ﷺ فرمائي : مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَاباً، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ (رواه البخاری)

(څوك چه د ایمان او ثواب ګنړلو د وجې نه د رمضان روژې اونیسي نو د هغه مخکني ګناهونه بخښلې شي، او څوك چه د ایمان او ثواب ګنړلو د وجې نه په رمضان کښې عبادت (تراويح) اوکړي نو د هغه مخکني ګناهونه بخښلې شي، او څوك چه د ایمان او ثواب ګنړلو د وجې نه په ليلة القدر کښې عبادت اوکړي نو د هغه مخکني ګناهونه بخښلې شي).

په النهايه د ابن الأثيرؒ کښې دي : (د احتساب معنیٰ ده د الله د مخ او د هغه ثواب غوښتل. او احتساب د اعمالو صالحو اود مصيبتونو په وخت په تادئ سره اجر او ثواب غوښتل، او په تسلیم او صبر سره اجر حاصلول، یا قِسما قسم نیکئ استعمالول او د هغې په مناسب طريقه باندې اهتمام کول، او په هغې باندې چه د کوم اجر او ثواب وعده شويده هغه طلب کول.او د همدې نه د عمر رضی الله عنه حدیث هم دے چه (اے خلقو ! په خپلو اعمالو کښې احتساب کوئ، ځکه څوك چه په خپل عمل کښې احتساب کوي نو هغه دپاره دده د عمل او د هغې د احتساب دواړو اجر ملاویږي).

په حدیث کښې دي : مَنْ مَاتَ لَهُ وَلَدٌ فَاحْتَسَبَهُ... (دچا چه یو بچے مړ شي او د هغې احتساب اوکړي) یعنی کوم مصيبت چه ده ته رسیدلے دے د هغې د ثواب امید اوساتي.

او په یو بل حدیث قدسي کښې دي الله فرمائي :

مَنْ سَلَبْتُ كَرِيْمَتَيْهِ ثُمَّ صَبَرَ وَاحْتَسَبَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ.

(د چا دوه سترګې چه زه واخلم او بیا هغه صبر اوکړي نو ددے دواړو په عوض کښې به زه ده ته جنت ورکړم).

دا مشهور حدیث دے چه امام منذریؒ په الترغيب والترهيب کښې ذکر کړے دے.

په یو بل حدیث کښې دي : مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، كُتِبَ لَهُ قِيْرَاطٌ..

الحديث. (څوك چه د ايمان او د ثواب اميد ساتلو د وجې نه د يو مسلمان سړي په جنازه پسې روان شي، نو ده دپاره به يو قيراط – د اُحُد غره هومره ثواب – وي)۔

روا ه البخاري (١/١٣٠)

امام بخاري ؒ فرمائي: بَابُ الأَعْمَالِ بِالنِّيَّةِ وَالْحِسْبَةِ. نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا صَدَقَةٌ. (باب دے په بيان ددے كښے چه اعمال په نيت او د ثواب اميد ساتلو پورے تړلي دي، سړے چه په خپل اهل وعيال باندے خرچه كوي او د هغے د ثواب اميد ساتي نو دا صدقه ده۔

په يو حديث كښے دي: إِنَّ اللّٰهَ لَيُدْخِلُ الْجَنَّةَ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلاثَةً: صَانِعَهُ الَّذِيْ يَحْتَسِبُ فِيْ صُنْعِهِ الْخَيْرَ، وَرَامِيَهُ وَمُنْبِلَهُ. (رواه أبوداود)

(بيشكه الله د يو غشي په ذريعه درے كسه جنت ته داخلوي (١) د هغے جوړونكے چه ددے په جوړولو كښے د خير اراده اوكړي (٢) ددے ويشتونكے (٣) ددے وركونكے)۔

په يو بل حديث كښے دي چه كله بنو سلمه اراده اوكړه چه د مسجد خواته كور اونيسي نو رسول الله ﷺ دوئ ته اوفرمائيل: يَا بَنِيْ سَلِمَةَ! أَلَا تَحْتَسِبُوْنَ آثَارَكُمْ؟.

(اے بني سلمه! آيا تاسو خپل قدمونه ثواب نه ګڼړئ؟)۔ بخاري۔

داهم حديث كښے دي چه رسول الله ﷺ فرمائي:

عَجِبْتُ لِلْمُسْلِمِ إِذَا أَصَابَهُ الْخَيْرُ حَمِدَ اللّٰهَ وَشَكَرَ، وَإِذَا أَصَابَتْهُ مُصِيْبَةٌ احْتَسَبَ وَصَبَرَ، الْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ، حَتَّى اللُّقْمَةَ يَرْفَعُهَا إِلَى فِيْهِ.

(مسلمان دپاره خوشحالي ده، كله چه ده ته خير اورسي نو د الله حمد وثنا اووائي او شكر اوكړي، او كله چه ده ته مصيبت اورسي نو ثواب ئے اوګڼړي او صبر اوكړي، مؤمن ته په هر څه كښے اجر ملاويږي، تردے چه په هغے نوړئ كښے هم چه خولے ته ئے اوچتوي)۔

(رواه احمد باسناد قوي صحيح، ١/١٧٧، ١٨٢)

په يو حديث كښے دي: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ صَابِرًا مُحْتَسِبًا، مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ، أَيُكَفِّرُ عَنِّيْ خَطَايَايَ؟ قَالَ: نَعَمْ، إِلَّا الدَّيْنَ.. الحديث.

(چه يو سړي عرض اوكړو: كه زه د الله په لاره كښے په داسے حالت كښے قتل كړے شم چه زه صبر كونكے او د ثواب اميد لرونكے يم، مخ كونكے يم، شا كونكے نه يم، نو آيا ماته به زما ګناهونه اوبخلے شي؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: هاؤ، خو قرض نه... حديث تر آخره پورے)۔ رواه احمد ٢/٣٠٨، مف صلا

حاصل دا چه احتساب په نیکو اعمالو او هغه مصیبتونو کښې شرط دے کوم چه ګناهونه رژوی۔ او ځوك چه احتساب اونه کړی نو ده ته بل مصیبت هم اورسیده، او هغه دا چه په دے مصیبت کښې به دده اجر او ثواب نه کیږی، او نه به دده په نیك عمل کښې دده دپاره ثواب وی ځکه چه دا د نیك عمل د ضروری شرط نه خالی دے، او دا ځکه چه کله انسان په عمل کښې د ثواب امید نه ساتی نو دا عادت وی، د سوچ خبره ده !

نو اوس چه کوم صُوفیه دا خبره کوی چه مونږ د جنت دپاره نیك عملونه نه کوو، نو دا خطاء خبره ده، ځکه چه په دے کښې احتساب او د ثواب امید لرل نشته۔

د احتساب مثال داسے دے : لکه یو سړے یو قیمتی انعام د هغه چا دپاره مقرر کړی چه هغه دده مقصد پوره کړی، نو ځوك چه په دغه انعام کښې رغبت اولری نو دا ددغه سړی خوښ وی، او ځوك چه په دغه انعام کښې - سره د قیمتی کیدو د هغې نه - رغبت اونه لری نو دا ئے بدے شی۔

٦- شپږم مهم شرط : په عمل کښې صدق یعنی رښتین والے :

صدق توحید الارادة ته وائی، لکه څنګه چه اخلاص توحید المراد ته وائی۔ په عمل کښې صدق دادے چه صرف ددغه عمل اراده اوکړی، او د هغه دنیوی څیزونو اراده اونه کړی کوم چه ددے عمل سره متعلق وی اونه د نفسانی خواهشاتو اراده اوکړی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ﴾ [توبة: ١١٩]

(اے ایمان والو ! د الله نه اویریږئ او د رشتینے خلقو ملګرتیا اوکړئ)۔ او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالصّٰدِقِينَ وَالصّٰدِقٰتِ ﴾ [احزاب: ٣٥]

(او رشتینے نارینه او ریشتنے زنانه)۔ او الله فرمائی : ﴿ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ﴾ [مائدة: ١١٩]

(دا هغه ورځ ده چه ریشتینے خلقو ته به د دوئ رشتیا فائده ورکړی)

اوپه حدیث کښې دی : تَفْضُلُ صَلَاةُ الْجَمِيعِ عَلٰى صَلَاتِهِ فِيْ بَيْتِهِ وَفِيْ سُوْقِهِ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ ضِعْفاً، وَذٰلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ، لَا يُرِيْدُ إِلَّا الصَّلَاةَ... الحديث. (د جَمعے مونځ د کور او د بازار د مانځه نه پنځه ویشت درجے غوره دے، دا ځکه چه کله دے ښه اودس اوکړی او بیا مسجد ته روان شی چه صرف د مانځه اراده ئے وی)۔

نو دا خبره چه (صرف د مانځه اراده ئے وی) دا د صدق او رشتیا ؤ مصداق دے۔

او دغه شان دا قول چه : مَا كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ، لَا يَنْقَلِبُ إِلٰى أَهْلِهِ.

(ملائك انسان لـه دعاء غواړي تر څو چه مونځ هغه لره ايسار کړے وي، کور ته نه واپس کيږي) ـ (رواه البخاري) ـ نو ددے سړي د مانځه نه سيوا بل هيڅ کار په مسجد کښے نشته. دا د رشتياؤ مصداق دے.

او په عمل کښے رشتين والے يو مهم او ضروري شے دے، دے دپاره چه عمل کښے نفساني خواهشات داخل نشي، لکه يو سړے چکر لګوي او هغے ته د دعوت الي الله نوم ورکوي، يا د يو سړي مقصد مال جمع کول وي او ددے دپاره مدرسے جوړوي، يا لکه د يو سړي مقصد چاکره خوراك څکاك کول وي او ديته د الله دپاره د ملاقات کولو نوم ګدي. اوداسے نور شو.

او په عمل کښے صدق او رشتينے والے دادے : چه په عمل کونکي باندے باعث د الله عز وجل رضا وي، نه نفساني خواهشات. دے وجے نه الله تعالیٰ مهاجرينو ته رشتينے خلق وئيلي دي، لکه فرمائي :

﴿ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَ رِضْوَانًا وَّ يَنْصُرُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴾ [حشر: ۸]

(د هغه مهاجرينو دپاره چه ويستلے شوي دي د کورونو او مالونو خپلو نه چه د الله مهرباني او رضا لټوي او د الله او د هغه د رسول امداد کوي، همدا خلق رشتيني دي).

او د الله ددے قول په باره کښے چه ﴿ وَكُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِيْنَ ﴾ [التوبة: ۱۱۹]

(د رشتينے خلقو ملګري شئ) ابو بکر صديق رضي الله عنه فرمائي : (يعني د مهاجرينو سره ملګري شئ) ـ ځکه مهاجرينو دپاره دغه وخت په هجرت کښے څه نفساني خواهش نه وو، بلکه د الله عز وجل رضائے مقصد وه – ددے نه تاته د صدق في العمل معنیٰ معلوميدے شي.

او صدق په اعتقاد، عمل، قول اوحال هر څه کښے وي، الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴾ [البقرة: ۱۷۷]

(دا رشتينے خلق دي او همدا متقيان خلق دي).

او صدق په سَير الي الله کښے کمالِ عزم ته وائي او د هر نقصان تلافئ ته وائي او کوم شے چه ده نه فوت شو د هغے تدارك ته او کوم شے چه تر اوسه نه دے فوت په طاعت سره د هغے ډکولو ته وائي.

او ددے **صدق** علامه داده : چه خپله وعده به نه ماتوي، او د غفلت والو په ملګرتيا به

صبر نه کوي، او هیڅ کله به د محنت او کوشش نه نهٔ ستړے کیږي، او د زندګئ تمنا به صرف د الله عز وجل او د هغه د طاعت دپاره کوي، او خپل ځان ته به همیشه دپاره د نقصان په نظر ګوري، او د رخصتونو فراخئ ته به نه ګوري، ځکه چه دا دَ صدق سره منافات لري، بل دا چه د صدق په پیژندلو کښې به کوشش کوي، او په خپلَ عمل، قصد او حال کښې به د الله عز وجل د رضا موافقت کوي۔(مدارج السالکین ۲/۲۷۹)

۷ - **اووم شرط دادے** : چه دده عمل به الله ته په عاجزئ او ذلت باندے مبني وي۔ او :

۸ - **اتم شرط دادے** : چه ددے عاجزئ سره به د الله مینه او محبت هم ملګرے وي۔

ځکه هر هغه عمل چه په هغے کښې انسان الله ته عاجزي اونه کړي او نه په هغے کښې د الله سره محبت اولري نو دا عبادت نه وي، ځکه د عبادت معنیٰ ده : محبت او ذلت، یا انتهائي محبت چه د ذلت سره ملګرے شي، لکه الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللهِ أَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللهِ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا أَشَدُّ حُبًّا لِلّٰهِ ﴾ [بقرة: ۱٦٥]

(اوځینے خلق داسے دي چه د الله نه سیوا نور شریکان ئے نیولي دي، هغوئ سره د الله د محبت پشان محبت کوي، خو هغه خلق چه ایمان ئے راوړے هغوئ د الله سره سخت محبت کونکي دي)۔

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ ﴾ [احزاب: ۳۵]

(او عاجزي کونکي نارینه او عاجزي کونکي زنانه)۔ او الله فرمائي : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ [مومنون: ۱]

(یقینا کامیاب شو هغه مؤمنان چه دوئ په خپل مونځونو کښې خشوع کونکي دي)۔

نو په دے آیتونو کښې الله سبحانه وتعالیٰ محبت او خشوع شرط اوګرځول او دائے د علاماتو د هغه اهلِ ایمان نه اوګرځول چه د هغوئ اعمال د الله په نیز قبول دي۔

ابن قیم رحمه الله په القصیدة النونیة کښې فرمائي :

وَعِبَادَةُ الرَّحْمٰنِ غَايَةُ حُبِّهِ مَعَ ذُلِّ عَابِدِهِ هُمَا قُطْبَانِ
وَعَلَيْهِمَا فَلَكُ الْعِبَادَةِ دَائِرٌ مَا دَارَ حَتّٰى قَامَتِ الْقُطْبَانِ

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائي : کوم عبادت باندے چه حکم کړے شوے دے هغے کښې د ذلت او محبت معنیٰ پرته ده، یعنی الله ته د انتهائي عاجزئ سره چه انتهائي محبت ملګرے شي نو دیته عبادت وائي۔ بیا فرمائي : نو څوك چه یو انسان ته عاجزي اوکړي خو هغه سره بغض لري نو دا انسان د هغه عبادت کونکے نه شمارلے کیږي۔ دغه

شان كه څوك د يو شي سره محبت لري خو هغې ته عاجزي نه كوي، نو دا ددغه شي عبادت كونكے نه حسابيږي. (العبودية ص : ۷)

ابن كثير رحمه الله د سورت فاتحې په تفسير كښې فرمائي :

((عبادت په شريعت كښې عبارت دے د هغه عمل نه چه په هغې كښې پوره محبت، خضوع او ويره راجَمع وي))۔

نو هر هغه آيت او حديث چه د محبت ،خشوع، تضرع، خضوع او ذلت باره كښې راغلے وي نو دا په دے خبره دلالت كوي چه دا په عبادت كښې شرط دے۔ دے وجے نه شريعت د ريښمو، او سرو زرو، او سرو گډو نه منع فرمائيلے ده، دغه شان د سرو او سپينو زرو په لوښو كښې د خوراك كولو، فخري لباس اغوستلو، لنگ پينسے راخكلو او د ويښتانو ډيرو غټولو وغيره نه ئے منع فرمائيلے ده۔ ځكه دا ټول څيزونه د رب العالمين د عبوديت او هغه ته د ذلت سره منافات لري۔ او په لباس كښې تواضع ئے د ايمان علامه گرځولے ده، لكه په مخكنو احاديثو كښې تير شو۔

۹ - **نهم شرط دادے :** چه د آخرت په خوف، او د الله تعالىٰ په خوف سره عمل اوكړي :

۱۰ - **لسم شرط دادے :** چه د الله د كتاب نه به تاثر قبلوي، نو چا چه بغير د خوف نه يو عمل اوكړو، دا نه قبليږي، بلكه دا عبادت دے نه، لكه چه دا خبره د امامؒ ابن كثيرؒ په قول كښې تيره شوه۔

او د الله د كتاب نه د تاثر اخستو مطلب دادے چه دا اوپيژني چه دا د الله حكم دے او ددے فرمانبرداري سعادت او نيك بختي ده، او ددے په مخالفت كښې هلاكت دے۔ او په دے عمل كښې به د الله نه سيوا د بل چا نه متاثره كيږي۔ لكه يو سړے نيك عمل كوي خو په دے كښې د خپل جماعت يا ډلے يا امام او مجتهد نه متاثره وي، نو دے عمل ته نيك عمل نه وئيلے كيږي۔ لكه الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا ﴾ [كهف: ۱۰۳، ۱۰٤]

(ورته اووايه ! آيا زه تاسو ته د هغه كسانو باره كښې خبر دركړم چه د هغوئ عملونه برباد دي، هغه خلق دي چه د هغوئ محنت خوارئ په دنيوي ژوند كښې برباد شوي دي او د دوئ دا خيال دے چه دوئ ښه كار كوي، دا هغه خلق دي چه د خپل رب د آيتونو او د هغه

د ملاقات نه ئې انکار کړے دے، نو د دوئ عملونه برباد شو نو مونږ د دوئ دپاره په ورځ د قيامت کښې وزن نه قائموو)۔

نو ددے خلقو اعمال د دوو وجهونه برباد شو :

١ - د الله تعالىٰ د آيتونو نه تاثر نه اخستل۔

٢ - د آخرت نه نه ويريدل۔ معلومه شوه چه دا دواړه خبرے شرط دی۔

دے وجے نه حديث کښې راغلی دی :

لَا تُحْدِثُوا حِلْفًا فِي الإِسْلَامِ۔

(تاسو په اسلام کښې حِلف مه پيدا کوئ)۔

يعنی په شرعی امورو او عباداتو باندے چاسره بيعتونه مه کوئ، ځکه په دے کار کښې د هغه چا نه تاثر قبلول دی چاسره چه عهد او وعده او بيعت شوے وی۔ او په دے کښې د الله د آيتونو نه تاثر قبلول نه وی۔

دے وجے نه صُوفيه (پيران) چه په کومو ذکرونو او عباداتو باندے د خلقو نه بيعت اخلی دا جائز نه دے بلکه بدعت دے، هيڅ دليل پرے نشته۔

سوال : کله چه پير سره بيعت کول جائز نشو نو عوام خلق به په دين باندے څنګه عمل کوی ؟ **جواب** : د تعليم او تعلم (ښودلو او زده کولو) په ذريعه به عوام خلق په دين باندے عمل کوی، لکه چه دا طريقه په مسلمانانو کښې د صحابه کرامو - رضی الله عنهم - د دور نه اوسه پورے را روانه ده۔ يعنی عوام خلق به د علماؤ نه ذکر اذکار زده کوی دغه شان دينی مسائل به زده کوی او عمل به پرے کوی۔

په دے شرط باندے سوچ کول پکار دی ځکه دا ډير عجيب شرط دے، ډير کم خلق ددے خيال ساتی۔

١١ - **يولسم شرط** : په خوراك ، څکاك او لباس کښې به د حرامو نه ځان ساتی، ځکه حرام عبادات او دعاګانے خرابوی۔ لکه الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ﴾ [مومنون: ٥١]

(اے ايمان والو ! پاك څيزونه خورئ او نيك عمل کوئ)۔

نو حلال خوړل په عمل کولو کښې مدد کوی، او حرام ددے برعکس دے۔

او الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ حَلٰلًا طَيِّبًا وَاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴾ [النحل: ١١٤]

(هغه پاك څیزونو نه خوراك كوئ كوم چه تاسو گټلی دی، او د الله شكر كوئ، كه چرے تاسو خاص د هغه عبادت كوئ)۔

حدیث كښے دی : ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَارَبِّ، يَارَبِّ ! وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟

(رواه مسلم). (رسول الله ﷺ د یو سړی تذكره اوفرمائیله چه اوگده سفرونه كوی، گډوډ او گرد آلود ویختانو والا وی، لاسونه ئے آسمان ته اوچت كړی وی او یارب یارب (وائی، الله نه) دعاء غواړی، حال دا چه دده خوراك حرام وی، څكاك ئے حرام وی، لباس ئے حرام وی، او په حرامو باندے غټ شوے وی، نو ددے سړی دعاء به څنگه قبوله شی ؟)۔

نو د حرام خور دعاء نه قبلیږی۔ په دے معنیٰ كښے ډیر احادیث راغلی دی چه مونږ په (فتاوی الدین الخالص) كښے جمع كړی دی۔

په حدیث كښے راځی : وَلَا يَقْبَلُ اللّٰهُ إِلَّا الطَّيِّبَ

(الله تعالیٰ صرف پاكیزه څیز قبلوی)۔ (بخاری)۔

۱۲ - دولسم شرط : گناهونه پریښودل : چه ددے شرط نه ډیر خلق غافل دی۔

دا یاد لرل پكار دی چه د اهل سنت والجماعت په نیز د عمل د قبلیدو دپاره : ټول گناهونه پریښودل شرط نه دی، البته بعضے گناهونه داسے دی چه د عمل په قبلیدو كښے ركاوټ واقع كیږی۔ لكه : مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِيْنَ صَبَاحًا (څوك چه شراب اوڅكی نو د هغه څلویښتو ورځو پورے مونځ نه قبلیږی)۔(رواه النسائی واحمد ۲/۱۹۷)

یا لكه صله رحمی پریكول۔ لكه حدیث كښے دی (د صله رحمی پریكونكی عمل نه قبلیږی)۔ (احمد ۲/۴۸۴)

اولكه په مانځه كښے لنگ پرتوگ خكته كول، یا بدعت كول، یا لكه د چا په جامه كښے چه خلوق خوشبوئے وی نو دده مونځ نه قبلیږی، لكه په ابوداود باب الترجل (۸) او احمد (۴/۴۰۳) كښے حدیث راغلے دے۔

دغه شان څوك چه بدعتی له ځائے وركړی نو دده نه فرض قبلیږی، نه نفل۔ (بخاری، مسلم)

دغه شان څوك چه یو قوم ته امامتی كوی او هغوئ په ده راضی نه وی ۔ دارنگ هغه ښځه چه په داسے حالت كښے شپه تیره كړی چه خاوند ترے ناراضه وی۔ یا هغه دوه مسلمانان ورونه چه خپلو كښے ئے ورانه وی۔ (مشكاة : ۱/۹۸) اوداسے نور خلق شو۔

اگركه ددئ بعضے صورتونه په اتباع سُنت كښے هم داخلیږی۔

دغـه شـان د الله دپاره دوستـي او دشـمـني شوه، چه تر هغه وخته پورې د انسان ، نه مونځ قبـلـيـږي اونـه روژه تـرڅو چه دده دوستـي د الله او رسول ﷺ او مـؤمـنان سره جوړه نشي. او خاص د الله دپاره د الله عز وجل د دشمنانو سره ښکاره دشمني اعلان نه کړي.

عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائي :

مَنْ أَحَبَّ فِي اللّٰهِ وَأَبْغَضَ فِي اللّٰهِ، وَوَالَى فِي اللّٰهِ وَعَادَى فِي اللّٰهِ، فَإِنَّمَا تُنَالُ وَلَايَةُ اللّٰهِ بِذٰلِكَ. وَلَنْ يَّجِدَ عَبْدٌ طَعْمَ الإِيْمَانِ وَإِنْ كَثُرَتْ صَلَاتُهُ وَصِيَامُهُ حَتّٰى يَكُوْنَ كَذٰلِكَ. وَقَدْ صَارَتْ مُؤَاخَاةُ النَّاسِ عَلٰى أَمْرِ الدُّنْيَا وَذٰلِكَ لَا يُجْدِيْ عَلٰى أَهْلِهِ شَيْئًا.

(څوك چه چاسره د الله دپاره محبت کوي، د الله دپاره بغض کوي، د الله دپاره دوستي کوي، د الله دپاره دشـمـنـي کوي، نو د الله تعالیٰ نزديکت صرف په همدې خبره حاصليږي. او – نـن صبا – د خلقو دوستي د دنيا په شيانو باندې ګرځيدلې ده، حال دا چه دا چاته هيڅ فائده نه رسوي).

(رواه ابو نعيم في الحلية : ۱/۳۱۲)

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي : (د نافرمانه خلقو سره په بغض لرلو باندې د الله نزديکت حاصل کړئ، او دوئ سره په نفرتي مخونو سره ملاقات اوکړئ، او ددوئ په ناراضه کولو باندې د الله رضا حاصله کړئ، او د دوئ نه په لرې والي باندې د الله نزديکت حاصل کړئ).

(ذكره صاحب الموالاة : ۱/۱۱۸)

لـيـکـن دا وَلاء بـراء (دوستـي او دشمني) په اولني شرط کښې داخل دي – چه هغه صحيح ايـمـان دې – ځکه صحيح ايمان ددې تقاضا کوي چه مؤمنانو سره دوستي او کافرانو سره دشمني اولرې شي او ګناهونه پرېښودلې شي.

د نيک عمل د محفوظ ساتلو او ددې نه د فائدې اخستلو شرائط :

۱۳ – د نيك عـمـل د مـحـفـوظ سـاتـلـو دپاره حقوق العباد اداء کول، ښائسته اخلاق، مسلمان ته تکليف نه رسول شرط دي، ګنې نو عمل به ئې ضائع شي.

لـکـه حديث کښې دي (آيا تاسو ته پته شته چه مفلس څوك دې ؟ صحابو رضي الله عنهم عرض اوکړو : په مونږ کښې مفلس هغه څوك دې چه نه روپئ لري اونه ددنيا سازو سامان. رسول الله ﷺ اوفـرمـائـيـل : زما په امت کښې مفلس هغه څوك دې چه د قيامت په ورځ به ډير مونځونه، روژې او زکاتونه راوړي، خو چاته به ئې کنځل کړې وي، چاباندې به ئې تور پورې کړې وي، د چا مـال بـه ئـې خـوړلـې وي، د چا وينـه بـه ئې توئې کړې وي، څوك به ئې وهلې وي. نو دې

(مظلوم) سړي ته به ددې (ظالم) سړي د نیکیو نه ورکړې شي، او دې بل ته به دده د نیکیو نه ورکړې شي، نو که ددې (ظالم) سړي نیکۍ د خلقو د حقونو پوره کولو نه مخکښې ختمې شوې، نو د هغوئ ګناهونه به واخستلې شي او په ده باندې به ور واچولې شي او بیا به اور ته ګوذار کړې شي). (مسلم).

غور کول پکار دي! دا سړې د نیکیو باوجود اور ته ګوذارلې شي، ځکه چه دده اخلاق ښه نه وو، یائې مسلمانانو ته تکلیف ورکولو.

امام بخاریؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کوي چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې: (چا چه د خپل ورور د عزت وغیره حق وهلې وي نُو نن - په دنیا کښې - دې ترې دهغې اجازت اوغواړي، مخکښې ددې نه چه داسې ورځ به راشي چه نه به په کښې روپۍ وي اونه اشرفۍ، بلکه که دده نیك عمل وي، نو د هغه د وهلی شوي حق مطابق به ترې واخستلې شي، اوکه دده څه نیکۍ نه وي، نو دده د ملګرې ګناهونه به واخستلې شي او په ده به بار کړې شي).

دې نه معلومه شوه چه ښائسته اخلاق د عمل د ساتلو او د عمل نه د فائدې اخستلو دپاره شرط دی.

ډیر خلق داسې دي چه د دینداریٔ د دعوې لرلو باوجود مؤمنانو نارینه او زنانه ؤ ته تکلیف ورکوي، په هغوئ باندې بهتانونه لګوي، کنځل ورته کوي، صرف په دې ګناه باندې چه دوئ په الله او رسول الله (ﷺ) باندې ایمان لرلې، او شرك او بدعت او تقلید ئې پرېښې دې، دې مظلومانو خلقو له به الله اجر عظیم ورکړي. ان شاء الله.

اې الله! مونږ هم په خپل رحمت سره په دې خلقو کښې داخل کړه!

١٤ - د عمل دحفاظت او دې نه د فائدې اخستلو دپاره بل شرط : ادب دے :

اودا په دوه قسمه دې:

١ - په عمل کښې ادب کول. چه دا د عمل د قبلیدو د شرطولو نه دې. لکه مشهوره ده چه: ادب د عمل د قبلیدو علامه ده.

٢ - د عمل نه پس ادب کول.

ځکه چه څوك د عمل کولو نه روسته ادب اختیار نه کړي نو دده عمل برباد دې.

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوٓا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ﴾ [الحجرات: ٢]

(اے ایمان والو ! د نبی (ﷺ) د آواز دپاسه خپل آوازو نه مه اوچتوئ او هغه ته په زوره آواز هم مه کوئ څنګه چه یو بل ته په زوره آواز کوئ هسے نه چه تاسو ته به پته نه وی او اعمال به مو برباد شوی وی)۔
دا آیت د ابو بکر صدیق او عمر - رضی الله عنهما - باره کښے نازل شوے دے۔ لکه حدیث کښے راځی : کَادَ الْخَيِّرَانِ أَنْ يَّهْلِكَا (نزدے وه چه دوه غوره سړی هلاك شوی وے)۔
نو څه دے خیال دے چه د بل چا به څه حالت وی ؟

بیا د ادب یو څو اقسام دی :

١ - د الله ادب کول
٢ - د رسول الله ﷺ ادب کول
٣ - د کتاب او سنت ادب کول
٤ - د سلفو او صحابو - رضی الله عنهم - ادب کول
٥ - د عامو مؤمنانو ادب کول

★ هرچه د **الله عز وجل ادب** کول دی : نو هغه دادے چه :
١ - انسان د الله معامله د نقصان د شوائبو نه پاکه کړی۔
٢ - او خپل زړه د الله رب العزت نه سیوا بل چاته د توجه کولو نه اوساتی ۔
٣ - او په کوم څیز باندے چه الله ناراضه کیږی د هغے اراده هم اونه کړی۔

ابو علی دقاق ؒ فرمائی : بنده د الله په طاعت باندے جنت ته رسیږی، او د الله په طاعت کښے په ادب کولو باندے الله عز وجل ته رسیږی۔
داهم فرمائی چه : ادب نه کول د شړلو باعث جوړیږی، نو چاچه په بستره باندے بے ادبی اوکړه، هغه به دروازے ته اوشړلے شی، او چاچه په دروازه کښے بے ادبی اوکړه، هغه ته به د چارپایانو سنبالول اوسپارلے شی۔
یحییٰ بن معاذ رازی ؒ فرمائی : څوك چه الله والا ادب اوکړی، نو دے به د هغه خلقو نه حساب شی، چاسره چه الله محبت لری۔
عبد الله بن مبارك ؒ فرمائی : څوك چه په ادب کښے سستی کوی، ده ته به د سنتو نه د محرومتیا عذاب ورکولے شی، او څوك چه په سنتو کښے سستی کوی، ده ته د فرائضو نه د محرومئ سزا ورکولے شی، او څوك چه په فرائضو کښے سستی کوی، ده ته به د الله د معرفت نه د محرومتیا سزا ورکړے شی۔

ابو نصر سراجؒ فرمائی : خلق په ادب کښې په درې طبقاتو باندې دی :
د دنیا والو غټ ادب په فصاحت او بلاغت، په حفظ د علومو او په قیصه گوئی د بادشاهانو او اشعارو د عربو کښې وی۔
او هرچه دینداره خلق دی : نو د دوئ اکثر ادب په ریاضت د نفسونو، په ادب د اندامونو، په حفظ د حدودو او په ترك د شهواتو کښې وی۔
او هر چه خواص خلق دی : نو د دوئ اکثر ادب د زړونو په پاکوالی، د رازونو په لحاظ ساتلو، لوظونو باندې په وفاء کولو، د وخت په حفاظت، او وسوسو ته په کم توجه ورکولو، اوپه اوقاتو د حضور اوپه مقاماتو د قرب کښې په ښه طلب کولو کښې دے۔
عبد الله بن مبارکؒ فرمائی : ادب، نفس او د نفس خواهشات پیژندل او بیا دغه خواهشات پریخودلو ته وائی۔
شبلیؒ فرمائی : د الله سره کهلاؤ خبره کول ادب پریخودل دی۔
ابن قیمؒ فرمائی : د ادب حقیقت ښائسته اخلاق استعمالول دی۔ دے وجے نه د ټولو خلقو نه کامل ادب والا خلق انبیاء کرام – علیهم السلام – دی، لکه د ابراهیم ﷺ په دے وینا کښې ادب ته اوگوره چه هغه فرمائی : ﴿ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴾ [شعراء: ۸۰]
(اوکله چه زه بیمار شم نو هغه ماله شِفا راکوی)۔
نو مرض ئے خپل ځانته منسوب کړو، او باقی څیزونه ئے الله ته منسوب کړل۔
دغه شان د خضر ﷺ دے قول ته اوگوره چه هغه فرمائی : ﴿ فَأَرَدْتُ أَنْ أَعِيبَهَا ﴾ [الكهف: ۷۹] (نو ما اراده اوکړه چه زه دا کشتئ عیب ژنه کړم)۔
نو عیب ئے خپل ځان ته منسوب کړو۔
دغه شان د موسیٰ ﷺ دے قول ته اوگوره :
﴿ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴾ [القصص: ۲٤]
(اے ربه! ته چه کوم خیر ښیگړه ماته نازلوے نو زه هغے ته محتاج یم)۔
داسے ئے اونه فرمائیل چه ماله خوراك څکاك راکړه۔
دغه شان مؤمنان پیریان فرمائی :
﴿ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴾ [الجن: ۱۰]
(او مونږ ته پته نشته چه آیا په زمکے والو باندے د شر اراده کړے شویده اوکه د دوئ رب دوئ ته د هدایت اراده کړیده)۔

دغه شان د آدم علیه السلام دے قول ته اوګوره : ﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنْفُسَنَا ﴾ [اعراف: ۲۳]
(اے ربه ! مونږ په خپل ځانونو باندے ظلم اوکړو)۔ داسے نه وائی چه تا په ما باندے ابلیس قادر کړو۔ څنګه چه ابلیس اووئیل : ﴿ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِي ﴾ [اعراف: ۱٦]
(تازه ګمراه کړم)۔
دغه شان د ایوب علیه السلام ادب ته اوګوره هغه فرمائی :
﴿اَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴾ [الانبياء: ۸۳]
(اے ربه ! ماته تکلیف رسیدلے او ته ډیر زیات رحم کونکے ئے)۔
داسے نه فرمائی چه ماله شِفا راکړه، نو دوه عظیم ادبونه ئے اختیار کړل۔
زمونږ د نبی ﷺ ادب ته اوګوره چه د هغه باره کښے الله فرمائی :
﴿ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴾ [النجم: ۱۸]
(دده نظر کوږ نه شو او نه ئے د خپل حد نه تجاوز اوکړو، یقینا چه ده د خپل رب غټے نښے اولیدلے)۔
په دے آیت کریمه کښے ډیر رازونه دی چه دائے د تفصیل ځائے نه دے۔
دا وجه ده چه نبی ﷺ چه کله د عورت پټولو حکم اوفرمایه نو عرض اوشو چه : کله مونږ کښے څوك ځانله وی نو بیا ئے هم پټول پکار دی ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : (د خلقو په نسبت الله ډیر لائق دے ددے خبرے چه دده نه حیاء اوکړے شی)۔
لنډه دا چه ادب ټول دین ته وائی۔ په مانځه کښے ټیټ سر اودریدل، دواړه لاسونه په سینه کیخودل، په نرمئ او عاجزئ آواز سره قرآن لوستل، عورت پټول، د ژړے حفاظت کول، رکوع سجده کښے تلاوت نه کول، د غټ او وړو بولو وخت کښے قبلے طرفته نه مخ کول، قبلے طرفته نه تهوکل، دغه شان په مانځه کښے خاموشه اودریدل او الله عز وجل مخکښے ظاهرا او باطنا په ادب سره پیش راتلل دا ټول آداب دی۔ دغه شان رب العالمین دپاره ځان ډولی کول څکه چه هغه ښائسته ذات دے ښائست خوښوی۔
صاحب المنازل وائی : ادب د غلو او جفاء ترمینځه حد بندئ ته وائی چه انسان د تجاوز ضرر اوپیژنی۔
ابن قیم رحمه الله فرمائی : دا ډیر ښائسته تعریف دے۔
د الله رب العزت په ادب کښے داخبره هم ده چه د هغه نه داسے ویره کول چه نا امیدئ ته اونه رسی، اونه د هغه نه په امن کیدو ته اورسی۔ او خپله خوشحالی هم په هغه باندے د

جرأت کولو نه کنټرول کړے شي۔

ابو عبيدؒ فرمائي : زه مکے ته داخل شوم او هلته به کله ناکله د کعبے مخامخ کيناستم، اوکله به مخامخ کيناستم او خپے به مے خورے کړے، نو ماته عائشه مکيهؒ راغله او راته وے فرمائيل : اے ابو عبيد ! داسے وئيلے شي چه ته د علماؤ نه ئے، مانه يوه خبره قبوله کړه هغه دا چه الله سره په ادب باندے کينه، ګنے ستا نوم به د نزديکت د رجسټر نه ختم شي۔

سريؒ فرمائي : يوه شپه ما مونځ اوکړو او خپے مے په محرام کښے اوغزولے، نو ماته آواز اوشو چه اے سري ! آيا بادشاهانو سره ته داسے کينے ؟

يوسف بن حسينؒ فرمائي : علم په ادب سره زده کيږي، او علم سره عمل صحيح کيږي، او په همدے سره حکمت حاصليږي، او په حکمت سره زهد حاصليږي، او په زهد سره دنيا پريخودلے شي، او په دنيا پريخودلو سره په آخرت کښے رغبت کيږي، او په آخرت کښے په رغبت سره د الله عز وجل سره مرتبه حاصليږي۔

زه وايم : د الله د ادب نه دا هم ده : چه په لفظ او کتابت دواړو کښے د هغه د نوم تعظيم اوکړے شي، او آواز دے پورته نشي، او د هغه مخے ته دِ د خپل ځان تزکيه نه کوي، او په هغه دے اعتماد اوکړے شي نه په خپل ځان او نه د هغه نه علاوه په بل چا۔

اوهرچه د رسول الله ﷺ سره د ادب سلوک کول دي :

نو هغه دا چه د هغه په ژوند او مرګ دواړو کښے تعظيم اوکړے شي، او د هغه پوره ادب دادے چه د هغه حکم ته دے تسليم او انقياد اوکړے شي، او د هغه خبره دے په قبلولو او تصديق باندے واخستلے شي، او په باطل خيال سره دِے ددے مقابله اونه کړے شي، چه ديته معقول او قياس، يا ذوق او سياست يا تقليد وائي۔ لکه څنګه چه د الله تعالیٰ توحيد اختيارولے شي نو دغه شان دے د رسول الله ﷺ هم خالص متابعت اوکړے شي۔ ډير خلق داسے شته چه په دے مذکوره خبرو کښے د رسول الله ﷺ بے ادبي کوي، سره ددے نه چه دوئ د ادب دعویٰ هم کوي۔

★ د رسول الله ﷺ **ادب** دا هم دے چه هغه ته دے په نوم آواز اونه کړے شي او نه دے هغه ته په زوره خبره اوکړے شي، او نه دے د هغه په آواز باندے آواز اوچت کړے شي، نه دے د هغه نه مخکښ کيږي، نه دے د هغه د نص په خلاف فتویٰ ورکوي، او نه دے د هغه احاديث ګران او مشکل اوګنړلے شي، بلکه هغه رائے ګانے دے ګرانے او مشکلے اوګنړلے شي کومے چه د هغه د احاديثو نه خلافے وي۔

دارنګ د هغه په **ادب** کښې دا هم داخل دي چه هیڅوك دے د هغه په ژوند کښ د هغه د مجلس نه نه پاځیږي تردے چه د هغه نه ئے اجازت نه وي غوښتلے، هرکله چه یو قابل مشوره کار دپاره رابللے شوے وي.

دارنګ د رسول الله ﷺ **ادب** دا هم دے چه د هغه د صحابه کرامو او اهل بیتو– رضي الله عنهم – قدر او احترام اوکړے شي. او د هغه نوم په تعظیم او اجلال سره واخستے شي او په هغه دے درود اووئیلے شي. اوداسے نور هم شته چه قرآن کریم ددے نه ډك دے.

۳ – او هرچه د صحابو او سلفو – رضي الله عنهم – ادب دے :

نو د هغوئ سره محبت کول، او هغوئ ته رضي الله عنهم وئیل، او په ښو اعمالو کښې د هغوئ تابعداري کول، او د هغوئ صفت کول، او کوم تنازعات او اختلافات چه د هغوئ ترمینځه واقع شوي دي هغه نه ذکر کول – مګر کله چه په هغې کښې څه فائده وي – دغه شان د دوئ دا قسم کارونه د دوئ په اجتهاد باندے حمل کول، دوئ چه کوم جهادونه او تبلیغونه کړي دي د هغې شکر کول، او څوك چه دوئ سره بغض او کینه لري هغوئ سره بغض او کینه لرل، او د هغوئ چه چاسره محبت وي هغوئ سره محبت کول.

٤ – اوهرچه د خلقو ادب کول دي نو دا خو هرچاته معلوم دي.

۵ – او هرچه د کتاب او سنت ادب دے :

نو هغه دادے چه دا دواړه په هر کلام اوکتاب باندے مقدم کول، په دے دواړو باندے ایمان لرل، ددے احترام کول، ددے د نصوصو مخے ته په تسلیم او انقیاد سره راپیش کیدل، او ددے د خیالي شیطاني معارضو نه ځان بچ کول، دا دواړه د سلف صالح په فهم باندے پیژندل، په دے دواړو کښې سوچ او فکر کول، دا دواړه حفظ کول او خورول، دے دواړو ته فیصلے وړل، ددے دواړو فضائل ذکر کول، او ددے دواړو دپاره خیر خواهي کول، او دا دواړه په ښې لاس کښې نیول، او د نورو کتابونو دپاسه کیخودل، دے دواړو طرفته خپے نه غزول، دواړو دپاره اودس کول خاصکر قرآن کریم دپاره، اودا دواړه د عربو په طرز او اسلوب باندے لوستل.

نوڅوك چه وائي چه په کتاب او سنت کښې لسمه برخه دین هم نشته، یا قیاس او اصولي قوانینو یا انګریزي قوانینو لره په دے باندے مقدم کوي، یا دا عقیده لري چه دا دواړه لفظي ظني دلائل دي، یقین نه پیدا کوي، یا وائي ددے دواړو دلالت ظني دے، یا دا وائي چه کتاب او سنت ددے جدید دور سره سمون نه خوري : نو دا کافر دے، او د الله د

کتاب او د پیغمبر ﷺ د سنتو لوئیے ادبه دے۔ چه ددے خلقو نه ځان ساتل واجب دی۔
دَ ادب درجه په دین کښے ډیره لویه ده، ددے بیان یو لوئے کتاب غواړی، کیدے شی چه مونږ ئے په یو ځائے کښے ذکر کړو ان شاء الله تعالیٰ۔
دلته مقصود صرف دادے: چه ادب د شروطو د قبولیت د عمل نه یو شرط دے، دارنګ د عمل نه د فائدے اخستلو دپاره یو ډیر مهم شرط دے، نو هر انسان له پکار دی چه ظاهر او باطن دواړو حالتونو کښے ادبناك جوړ شی۔

۱۵ - د عمل صالح نه د فائدے اخستلو دپاره یو بل شرط دادے:

چه انسان په ایمان او صحیح عقیده باندے وفات شی، ګنے نو عمل به ئے برباد وی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ﴾ [البقرة: ۲۱۷]

(او څوك چه پتاسو کښے د خپل دین نه واوړیده او د کفر په حالت کښے مړ شو نو ددے خلقو عمل په دنیا او آخرت - دواړو - کښے برباد شو)۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی: إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ
(دارو مدار د اعمالو په آخرنو عملونو دے)۔ (متفق علیه)

او فرمائی: (یو سړے به بظاهر د جنتیانو عمل کوی، حال دا چه دابه د اورِ والو نه وی.... (الحدیث متفق علیه)

دے وجے نه مسلمان باندے واجب دی چه د خپل ایمان حفاظت اوکړی، او په الله پورے د نفاق او فتنے نه پناه اوغواړی، او خصوصا دا دعاء دے ډیره ډیره لولی:
اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ، يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلٰى دِيْنِكَ۔
(اے د زړونو اړونکیه راوړنکیه! زمونږ زړونه په خپل طاعت باندے راواړوه، اے د زړونو اړونکیه راوړنکیه! زما زړه په خپل دین باندے مضبوط اوساته)۔

دارنګه دا دعاء دے کوی: ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴾ [ال عمران: ۸]

(اے زمونږ ربه! د هدایت نه پس زمونږ زړونه مه کږوه، او د خپل طرفنه مونږ له رحمت راکړه، واقعی چه ته بخشش کونکے ئے)۔

خو دا یاد لرل پکار دی چه کله انسان ښه عمل کوی، نو د الله عز وجل شانِ کریمی ددے نه ډیر لرے دے چه د انسان عمل ضائع کړی۔

الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ﴾ [ال عمران: ۱۹۵]

(نو د دوئ رب د دوئ دعاء قبوله کړه، چه زه پتاسو کښې د هیڅ یو عمل کونکی عمل نه ضائع کوم ، نارینه وی که زنانه)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ﴾ [توبة: ۱۱۱]

(او څوك دے ډير زيات پوره کونکے د خپلے وعدے د الله نه)۔

لهذا مونږ له پکار دی چه په الله عز وجل باندے ښه ګمان اولرلو، او د خپلے خاتمے د خرابیدو نه خوف اوکړو، ځکه چه د الله د مکر او تدبیر نه صرف تاوانیان خلق په امن کښے وی۔ ﴿ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ [الاعراف: ۹۹]

★★★★★★

۲ - فائده عظیمه نافعه

فتنې او د هغې علاج

چه هر هغه چاته فائده رسوي چه ددې آخرې زمانې چه مونږ په کښې موجود يو د شرونو اود قيامته پورې د راتلونکې زمانې د شرورنو نه د نجات اراده لري.

او هغه داده : چه انسان فتنې او د هغې علاج اوپيژني، او د هغې د اسبابو نه ځان اوساتي، ځکه ډير خلق د خپل ايمان د کمزورئ يا د جهل د غلبې يا د فتنو سره د آموخته کيدو په وجه فتنې نه پيژني. والله المستعان.

د فتنې دپاره ډيرې معاني دي :

۱ - امتحان

۲ - شيطان

۳ - هر هغه څوك چه د حق نه خلق اړوي او گمراه کوي ئې.

٤ - خو د فتنې اکثر استعمال په مکروه امتحان کښې کيږي، بيا ددې استعمال په گناه، کفر، قتال، په اور سيزلو، ختمولو او د يو شئ نه په اړولو باندې کيږي.(النهاية : ۳/٤۱۰).

په لسان العرب کښې دي (سړې ئې په فتنه کښې واچولو، ددې معنیٰ داده چه په څه باندې چه هغه ولاړ وو د هغې نه ئې واړولو. قرآن کښې دي ﴿ وان كادوا ليفتنونك ﴾، يعنې نزدې ده چه دوئ تا مائله کړي او وادې روي.

دلته معنیٰ مقصوده داده : چه فتنه ديته وائي چه انسان د الله عز وجل نه واړوي، نو هر هغه شي چه ته ئې د الله نه، او د هغه د ذکر او د هغه د لارې نه واړولې نو دا فتنه ده.

بيا د فتنو ډير اقسام دي :

۱ - يو د هغې نه مال دے :

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ إِنَّمَآ أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ﴾ [التغابن: ۱۵]

(بيشکه ستاسو مالونه او اولاد فتنه ده).

۲ - دويم اولاد دے : رسول الله ﷺ فرمائي :

إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً، وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ

(د هر امت دپاره یوه فتنه وي، او زما د امت دپاره فتنه مال دے)۔

رواه الترمذی باسناد صحیح

مال او اولاد حاصلول څه منع نه دي، لیکن ډیر کرته انسان په دے شیانو سره د الله او د هغه د ذکر نه مشغوله کیږي، بلکه کله د دوئ په وجه خپل دین د دنیا په سازو سامان باندے خرڅ کړي او د اسلام نه مرتد شي – والعیاذ بالله ۔ څومره خلق دي چه د دنیا جمع کولو په وجه د الله تعالیٰ نه غافل دي، او ددے په وجه په مختلفو ګناهونو او صله رحمئ پریکولو کښے واقع کیږي۔

په حدیث کښے دي ((زه په تاسو باندے ددے نه نه ویریږم چه تاسو به فقیران شئ بلکه تاسو باندے ددے نه ویریږم چه تاسو باندے به دنیا فراخه شي او په هغے کښے به داسے رغبت اوکړئ څنګه چه تاسو نه مخکښے خلقو رغبت کړے وو، نو تاسو لره به داسے هلاك کړي څنګه ئے چه هغوئ هلاك کړل))۔ رواه البخاری

۳ - دریم ښځے دي :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَآءِ ﴾ [ال عمران: ١٤]

(ښائسته کړے شوے دے خلقو دپاره محبت د خواهشاتو یعنی زنانو)۔

او رسول الله ﷺ فرمائی : (ما دخپل ځان نه روسته بله هیڅ یوه فتنه داسے نه ده پریښے چه هغه د نارینه ؤ دپاره ډیره ضرري وي، د زنانه ؤ نه)۔

او رسول الله ﷺ فرمائی : ((دنیا شنه او خوږه ده، او الله تعالیٰ تاسو لره په دے کښے خلیفه جوړونکے دے، دے دپاره چه هغه اوګوری چه تاسو څنګه عمل کوئ، نو تاسو د دنیا او زنانه ؤ – د فتنے – نه ځان اوساتئ څکه اولنئ فتنه چه په بني اسرائیلو کښے شروع شوه هغه د زنانه ؤ په باره کښے وه))۔ رواه مسلم

څکه زنانه د شیطان رسئ دي، چه ددے په ذریعه نارینه خکار کوی، اودا فتنه په دے دور کښے ډیره زیاته ده، اودا د کفارو او شیطانانو وسله ده چه ددے په ذریعه مسلمانانو او خاص طور سره ځوانے طبقے سره ئے د جنګ اعلان کړے دے۔ دے وجے نه زمونږ نبی ﷺ خپل امت د خیر خواهئ د وجے نه ددے فتنے نه اویروګو۔

علماء وائی : پردئ ښځے ته مه ور داخلیږه اګرکه ته وائے چه زه دیته قرآن ورښایم۔

په حدیث کښے دي ((هیڅ داسے ورځ نشته چه په هغے کښے به دوه ملائك دا خبره نه

کوي چه : نارينه ؤ دپاره د زنانه ؤ د وجے نه هلاکت دے، او زنانه ؤ دپاره د نارينه ؤ د وجے نه هلاکت دے))۔ رواه ابن ماجه

٤ - **څلورمه فتنه : د دنيا ده** ۔ ځکه د دنيا محبت د هرے گناه جرړه ده، لکه دا خبره په هغه اثر کښے راغلے ده کوم چه د عيسیٰ ﷺ نه نقل شوے دے۔ اودا په مرفوع حديث کښے هم راغلے ده۔ او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللهِ الْغَرُوْرُ ﴾ [الفاطر: ٥]

(نو تاسو له دنيوی ژوند دهوکه درنه کړی، او تاسو له دهوکه ورکونکے په الله باندے دهوکه درنه کړی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَآ إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴾ [ال عمران: ١٨٥]

(او دنيوی ژوند خو بس صرف د دهوکے سامان دے)۔

دنيا مؤمن سړی لـه دا دهوکـه ورکوی چه دا باقي او هميشه ده، حال دا چه دا فاني کيدونکے ده، ظاهرئے پړقيدونکے دے خو په حقيقت کښے د مصيبتونو او دردونو نه ډکه ده، اود دے مثال — د حسن بصری ؒ د قول مطابق -- لکه د يو شين بوټی يا د ماشومانو د گوډئ گانو دے چه هيڅ فائده نه کوی۔ او دا ډير زر زائله کيدونکے سامان دے۔

او ددے نه د نجات او خلاصيدو لاره داده : چه ددے د خوندونو او مزونه ، ددے د حکومتونو او راحتونو نه صبر اوکړے شی، او ددے په مصيبتونو او ويرو او سختيو باندے صبر اوکړے شی، ځکه چه دا هميشه نه وی، او په دے کښے دے د اجر او ثواب اميد لری

دارنگ د دنيا هيڅ شے دے د الله عز وجل په طاعت باندے نه رامخکښے کوی، خوراك څکاك او خوب وی که ښځه او بال بچ وی، راحت او کرسئ او اقتدار او مال وی، اوکه سيل صفا او د ملگرو معاشره وی۔ او ددے دنيا نه دومره اندازه اخله چه ته پرے الله عز وجل ته اورسيږے۔

دا د دنيا پريخودلو معنیٰ ده۔ او د دنيا پريخودلو معنیٰ دا نه ده چه گنے سړے به د خپل ځان او بال بچ دپاره کار کسب نه کوی، يا دا چه حلال مال به نه جمع کوی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللهِ الَّتِيْ أَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ [الاعراف: ٣٢]

(ورته اووايه ! چا حرام کړی دی هغه زينتونه چه الله خپل بندگانو دپاره راويستلی دی او پاك رزقونه، ورته اووايه دا د ايمان والو دپاره په دنيا کښے (شريك) دی او په ورځ د قيامت به

خالص دوئ دپاره وی)۔

نو اوس چه څوك خپل ځينې خواهشات د الله تعالىٰ په طاعت باندې وړاندې کړی، نو دې سړی ته دنيا غوره کونکې او دَ دُنيا سره مينه محبت کونکې وائی۔ او ددې په خلاف چاچه د الله طاعت لره په خپل خواهش باندې مخکښې کړو، نو دې سړی ته زاهد يعنی په دنيا کښې بې رغبته وائی۔

او دې باره کښې خلق مختلف دی، ځکه ډير خلق داسې شته چه ښځه او بچو کښې بې رغبته وی، خو مال او مرتبه خوښونکې وی او ددې په حاصلولو کښې ډير عمرونه لګوی۔

او ديته قرآن کريم اشاره کړيده لکه فرمائی : ﴿ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴾ [الدهر: ٢٤،٢٦]

(او د خپل رب په حکم باندې کلك اوسه، او په دوئ کښې د هيڅ ګنهګار او ناشکره خبره مه منه، او صبا بيګاه خپل رب يادوه، او د شپې په څه حصه کښې هم الله ته سجده کوه او د شپې په اوږدو کښې د هغه پاکی بيانوه، يقينا داخلق دنيا خوښوی او خپل رو ـته درنه ورځ پريدی)۔

نو الله تعالىٰ اشاره اوکړه چه څوك په دې پاکيزه اوقاتو کښې د الله عز وجل ذ کر نه کوی، نو همدا سړې دنيا خوښوی او د آخرت درنه ورځ پريدی۔ دې کښې سوچ اوکړه ځکه دابه درته ان شاء الله فائده درکړی او ددې په وجه به د هغه زهد معنىٰ اوپيژنې په کوم کښې چه ترغيب ورکړې شويدې۔

٥ - پنځمه فتنه : دنيوی علوم :

لکه فلسفه، منطق، رياضی او نور عصری علوم۔ ځکه دا کله د انسان دپاره فتنه جوړه شی او د الله عز وجل د ذکر بلکه د کتاب او سنت نه بلکه د حق قبلولو او هغې ته د انقياد کولو نه ئې منع کړی، او په خپل علم باندې تکبر اوکړی۔ الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴾

[المؤمن: ٨٣]

(څه وخت چه دوئ ته د دوئ پيغمبرانو واضح دلائل راوړل نو دوئ په خپلو علمونو باندې خوشحاله شو، او په دوئ باندې هغه شئ ګيره واچوله په کوم پورې به چه دوئ توقے کولې)۔

نو د دوئ علمونه د دوئ دپاره فتنه جوړ شو۔

په دې دور کښې هم مونږ د منطق دعوئ لرونکی لیدلی او د هغوئ باره کښې مو آوریدلی دی چه هغوئ د کتاب او سنت علومو پورې توقې کوی او سپك ئې گڼړی۔

او بعضې (سائنسی) ماهران د الله د آیتونو تکذیب کوی، او خپل بکواساتو باندې خوشحاله وی، او دې مسکین ته دا پته نه وی چه حقیقی علم خو د هغې مُنزلې وحی دې چه د هغه ذات د طرفه راغلې دې چه د آسمانونو او زمکې د رازونو نه خبر دې۔

اَلْعِلْمُ مَا فِيْهِ قَالَ حَدَّثَنَا وَمَا سِوىٰ ذٰلِكَ وَسْوَاسُ الشَّيَاطِيْنِ
اِلْعِلْمُ قَالَ اللّٰهُ قَالَ رَسُوْلُهٗ قَالَ الصَّحَابَةُ هُمْ أُولُوا الْعِرْفَانِ
دِيْنُ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ اِخْبَارُ نِعْمَ الْمَطِيَّةُ لِلْفَتَى الْآثَارُ
لَا تَرْغَبَنَّ عَنِ الْحَدِيْثِ وَأَهْلِهٖ فَالرَّأْىُ لَيْلٌ وَالْحَدِيْثُ نَهَارُ
يَا أَيُّهَا الْمُقْتَدِىْ لِتَطْلُبَ عِلْمًا كُلُّ عِلْمٍ عُبَيْدُ عِلْمِ الرَّسُوْلِ
وَتَطْلُبُ الْعِلْمَ كَىْ تُصَحِّحَ أَصْلًا كَيْفَ اَغْفَلْتَ أَصْلَ الْأُصُوْلِ

(علم خو هغه دې چه په هغې کښې چه په هغې کښې سند بیان شوې وی، اوچه ددې نه سیوا وی نو هغه شیطانی وسوسې دی ★ علم خو دیته وائی چه په دې کښې د الله او د رسول او د صحابه کرامو خبرې وی چه پو هه خلق وو۔ ★ د نبی کریم ﷺ دین د هغوئ احادیثو ته وائی، د ځوان سړی دپاره د احادیثو سورلئ ځومره مزیداره وی۔ ★ د حدیث او اهلِ حدیثو نه اعراض مه کوه، ځکه چه رائې شپه ده او حدیث ورځ۔ ★ اې هغه سړیه چه د علم طلب کولو پسې روان ئې: هر یو علم د رسول الله ﷺ د علم غلام دې۔ ★ تهٔ علم دې دپاره طلب کوې چه صحیح قواعد اوپیژنې، نو تهٔ څنگه د قواعدو د بنیاد نه غافل شوې)۔

(قواعد التحدیث، ص: ۵۱، وشرح الفقه الأکبر، ص: ۳)

د کتاب او سنت په علومو کښې دا خصوصیت دې چه دا په انسان کښې تواضع او عاجزی پیدا کوی، او ددې نه علاوه نور علوم په انسان کښې کبر، خود پسندی او وحشت پیدا کوی۔

بلکه بعضې خلق حق لره په دې وجه هم پریدی چه خلق به وائی: دا څنگه مُلا دې چه اوسه پورې په دې مسئله نه پوهیده، او اوس ئې بیانول شروع کړل، نو دې وجې نه دا سړې بیا حق نه بیانوی۔ والله المستعان۔

نو د علم شرعی طالب العلم له پکار دی چه د هغه علوم هغه دپاره فتنه جوړه نشی۔

٦ - او دلويو فتنو نه : جماعتونه، تنظيمونه او د اختلافاتو په لړونو کښې ځان پيلل دي، ځکه ډيرو خلقو دپاره د هغوئ جماعت فتنه گرځيدلے وي. ددغه ډلے او جماعت په وجه د خلقو سره دوستي او دشمني کوي، هغې طرفته خلق رابلي. حال دا چه قرآن کريم او سنت نبويه ﷺ مونږ لره په دے جماعتونو کښې د ځان شاملولو نه منع کړے دے. لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَلَاتَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا ﴾ [ال عمران: ١٠٥]
(او د هغه چا پشان مه جوړيږئ چه هغوئ (په عقيده کښے) تس نس شو او (په اعمالو کښے ئے) اختلاف اوکړو).
او رسول الله ﷺ فرمائي : (نو بيا د دغه ټولو فرقو نه ډډه اوکړه).
د تفصيل دپاره فتاوی الدين الخالص، شپږم جلد، دريمه مسئله اوگوره.

٧ - او د هغه فتنو نه چه په هغې باندے ماشومان لوئے شول او غټ پرے بوډاگان شول : د **تقليد فتنه** ده، دا ډيره لويه فتنه ده، چه ډير خلق ئے د الله عز وجل د دين او هغه ته د اخلاص کولو نه منع کړي دي. بلکه خلق ئے د الله او رسول ﷺ د محبت، او د هغه د کتاب او د هغه د رسول ﷺ د سنت نه لرے اوساتل. او د ايمان د خوند او د قرآن او سنت د لذت نه محروم کړل. او د تحقيق د صحيح علم او عرفان نه ئے په ډډه کړل او د شيطان په مختلفو جالونو کښے ئے اوغورزول. چه ددے فتنے شکايت خاص الله تعالیٰ ته کولے شي.
ددے (تقليد) فتنے د تفصيل دپاره زمونږ کتاب (د تقليد حقيقت) او د اهل الحديث والسنت کتابونه اوگوره.

٨ - او د فتنو د جملے نه لاديني مؤسسات او بعضے مدارس هم دي، لکه مدارس د اهل الشرك والبدعه، چه دا د الله د لارے نه اړول کوي، او د خلقو د گمراهئ او بے لارے کولو سبب جوړيږي، والله المستعان.

٩ - او د فتنو د جملے نه : بعضے هغه کتابونه هم دي چه په هغې کښے بکواسات، غلطے قيصے او دوړئ ليکلي وي، دا رنگ هغه کتابونه هم دي چه د کتاب او سنت په خلاف په **فروعو** کښے ليکلي شوي دي، بلکه بعضے خلقو د کتاب او سنت د رد کولو دپاره او خلقو لره د سمے لارے نه د اړولو دپاره ليکلي دي، لکه د حنفي فقهے د اصولو بعضے کتابونه، او هغه کتابونه چه د اهل الحق والسنت په رد کښے ليکلے شوي دي، چه دا د عوامو دپاره عظيمه فتنه ده، ولے چه دوئ د صحيح او غلط، وچ او لامدو ترمينځه فرق کولو باندے قادر نه دي، نو د دوئ د گمراهئ دپاره سبب اوگرځي.

۱۰ - اوبله فتنه د تصاویرو ده : اودا فتنه دے دور کښے ډيره عامه شويده، او دا مصيبت گرځيدلے دے چه ډير اهل علم هم ددے باك نه كوى پاتے لا عوام خلق ؟ حال دا چه تصاوير يوه داسے فتنه ده چه ايمان خرابوى، او د رحمٰن ذات تعلق خرابوى، او د انسان په زړه کښے يو وحشت پيدا كوى۔

۱۱ - او بله فتنه : د گاډو موټرو، ټيلفونونو، موبائلو، كمپيوټرو، ټيليوژنو، ټى، ويانو او نور د غفلت د آلاتو او اسبابو دے۔ ځکه دا داسے فتنه ده چه په دے کښے دننه نورے ډيرے فتنے پرتے دى، چه دا صرف هغه خلق پيژنى چه د الله عز وجل محبت ئے ځكلے وى، دغه شان د الله د ذكر حلاوت اومزه ئے ځكلے وى، او د وخت او عمر قدر اود قرآن كريم د تلاوت قدر او مرتبه پيژنى۔ لږ د سورتِ لقمان په دے آيت باندے نظر واچوه :

﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ [لقمان: ٦]

(بعضے خلق داسے وى چه بے فائدے لغوه خبرے دے دپاره غوره كوى چه خلقو لره په غير د علم نه د الله د لارے نه واړوى)۔

او انسان د احسان مرتبے ته هغه وخته پورے نشى رسيدے تر څو چه دا شيان ورسره وى، مگر يو گاډے دده د سورلئ دپاره باك نه لرى، او دا تجربه كړے شوے خبره ده۔

بلكه دا آلات د هغه گناهونو دپاره اسباب دى كوم چه په سلفو ؒ كښے د هيچا په زړه كښے هم نه وو تير شوى، دے وجے نه په دے آلاتو كښے د رغبت نه ځان ساتل پكار دى۔

موبائلونو خو مونځونه، ذكر اذكار او طوافونه خراب كړل، او د خلقو اوقات ئے مشغوله كړل او خلق ئے په سفرونو كښے غمژن كړل۔

۱۲ - او منجمله ددغه فتنو نه : خلقو سره ډير اختلاط كول دى، دارنگه د ميلمنو ډير والے، د سفرونو ډير والے او د كور نه بے فائدے وتلو ډير والے دے۔ او په دے شيانو كښے ډيرے فتنے دى۔ دے وجے نه صحابه كرامو - رضى الله عنهم - د رسول الله ﷺ نه په سياحت - چكر لگولو - كښے اجازت او غوښتلو، او وے فرمائيل : مونږ ته په سياحت كولو كښے اجازت اوكړه۔ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل : إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِي الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (زما د امت چكرونه لگول د الله په لاره كښے جهاد كول دى)۔ رواه ابوداود

د خلقو سره ډير اختلاط كول زړه خرابوى، وقت ضائع كوى او د ډيرو خبرو ، غيبت او غفلت سبب گرځى، مونږ خپله په دے تجربه كړيده۔

۱۳ - او ددے فتنو د جملے نه : اختلافات ، بحث ومباحثے او جنگ جگړے هم دى۔

دا داسې فتنې دي چه خلقو لره د الله تعالیٰ د دین او د هغه د ذکر نه اړوي۔
په حدیث کښې دي (هیڅ قوم د هدایت نه پس نه دې ګمراه شوې مګر دوئ ته بحث ومباحثې ورکړې شوي دي)۔
په بل حدیث کښې د قیامت په علاماتو کښې دي چه (هرج یعنی جنګونه به زیات شي)۔
لهذا مؤمن سړی له پکار دي چه د هغه جګړو نه ځان اوساتي کوم چه زړه خرابوي، خلق په نفرت کښې اچوي او ددې په وجه غفلت واقع کیږي۔

۱٤ - او ددې فتنو د جُملې نه : د زړه سخت والې هم دې : اودا واقعي چه لویه فتنه ده، اودا د یهودو مرض دې چه دې امت ته ئې - عرب دې که عجم دې - سرایت کړې دې، مګر کم خلق دي چه ددې نه خلاص دي۔ اودا فتنه د هر شر جرړه او د هرې ګناه، ظلم، فساد او د الله او د رسول ﷺ د بې ادبئ بنیاد دې۔
او دا د الله د آیتونو نه د اثر نه اخستلو سبب دې، اوکله چه دا فتنه په زړونو کښې مضبوطه شي نو د عبادتونو خوندونه ختم کړي، او تعصب، فساد او په آیتونو او په احادیثو نبویه ؤ کښې تحریفات پیدا کړي، او خشوع، خضوع دغه شان د ذکر او دعاء او مونځونو په وخت اوښکې بهیول ختم کړي۔ ددې نه په الله پورې پناه!
اودا یو داسې فتنه ده چه ډیر کم خلق ددې د ختمولو کوشش کوي، او د الله نه ددې د ختمولو دعاګانې غواړي۔ حال دا چه دې فتنې ته الله تعالیٰ ښکاره ګمراهي وئیلې ده۔
لکه فرمائي : ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللهِ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴾ [الزمر: ۲۲]
(هلاکت دې هغه خلقو دپاره چه د هغوئ زړونه د الله د ذکر نه سخت دي، همدا خلق په ښکاره ګمراهئ کښې دي)۔
او د زړونو نرم والي ته ئې هدایت وئیلې دې لکه فرمائي : ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴾ [الزمر: ۱۸]
(دا هغه خلق دي چه الله ورته هدایت کړې دې، او همدا خلق د عقل خاوندان دي)۔
نو په مونږ باندې لازم دي چه ددې فتنې نه ځان بچ کړو۔ اومونږ ددې علاج په همدې کتاب کښې روسته ذکرکړې دې۔

۱۵ - او ددې فتنو د جُملې نه : انتخابات (ووټونه) او ریاسات او حکومتونه طلب کول دي، چه دا ډیره لویه فتنه ده، چه په الله او په اسلام باندې په کفر کولو باندې مشتمله ده، او غټو او وړو ټولو ګناهونو لره راجمع کونکې ده۔ ځوك چه دا نه پیژني نو هغه له

پکار دی چه د الله تعالیٰ نه د خپل دغه زړه په بدل کښې بل زړه او د خپل دغه عقل په ځائے بل عقل او د خپل دغه ایمان په ځائے بل ایمان اوغواړی۔

د انتخاباتو پنځوس (۵۰) ضررونه زمونږ په کتاب (فتاوی الدین الخالص : ۲/۵) کښې اوګوره۔

۱۶ - او د همدے فتنو د جملے نه : د مسلمانانو په معاشره کښې د نصاریٰ، ملحدینو اسماعیله ؤ، شیعه ګانو، قادیانانو وغیره دعوتونه دی۔ د مسلمانانو او نصاریٰ ترمینځه تګ راتګ ډیروخلقو لره په مال، ښځو، وسلے، فتوانو، د ټنګ ټکور او مشغلے سامانونو، انټرنټ، موبائیلو، تصوف طرفته په دعوت ورکولو اوداسے نورو ډیرو شیانو کښې ګمراه کړل کوم چه د هیڅ یو مسلمان نه پټ نه دی۔

۱۷ - او د همدے فتنو د جملے نه : سخت فقر، نیستی او بعضے هغه اوګدے بیمارئ دی چه د انسان صبر ختم کړی او په ده کښې جزع فزع او بے صبری پیدا کړی۔ دے وجے نه رسول الله ﷺ به ددے نه پناه غوښتله او فرمائیل به ئے :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡكُفۡرِ وَالۡفَقۡرِ وَعَذَابِ الۡقَبۡرِ ۔

(اے الله زه پتاسره د کفر، فقر او عذابِ قبر نه پناه غواړم)۔

دغه شان رسول الله ﷺ د ژوند او مرګ د فتنو نه، د سینے د فتنے نه، د دجال د فتنے نه، د مالدارئ او د شپے او ورځے د فتنو نه په الله پورے پناه غوښتلے ده۔

۱۸ - او د همدے فتنو نه :

د والدے ښیرے هم دی چه ظالم بچی ته د فتنے ښیرے اوکړی۔

د جریج په حدیث کښې - چه دا د بنی اسرائیلو یو عابد وو - رسول الله ﷺ فرمائی :

(که دده مور ده ته د فتنے ښیرے کړے وے نو دا به خامخا په فتنه کښې پریوتے وے)۔

(رواه مسلم)

لیکن د جریج مور صرف دومره ښیرے کړے وے چه (اے الله ! جریج هغه وخته پورے مه وژنه تر څو پورے ئے چه د زناکارو ښځو مخونه لیدلی نه وی)۔ او همدغسے اوشوه۔

۱۹ - او د همدے فتنو نه : هغه علمائے سوء هم دی چه خلقو ته خرافات بیانوی۔

حدیث کښې دی (په آخره زمانه کښې به دجالان او دروغژن خلق پیدا شی، تاسو ته به داسے احادیث راوړی چه نه تاسو آوریدلی وی اونه ستاسو پلرونو، نو تاسو خپل ځانونه د هغوئ نه بچ کړئ او هغوئ د خپلو ځانونو نه بچ کړئ هسے نه چه ګمراه مو کړی یا مو په فتنه

کښې وا چوی)۔ (رواه مسلم)

اودا هم یوه لویه فتنه ده، څکه عوام خلق دا مُلیان په علم او هدایت باندې گنړی، حال داچه دوئ ددې هرڅه نه لرې اوجدا وی، او ډیر خلق نه پو هیږی او نه د حق او باطل او صحیح او غلطو خبرو ترمینځه فرق کولې شی، دې وجې نه فتنې ډیرې شو ې او صحیح اسلام زوړ شو او فساد خور شو، ناپو هه عامه شوه او علم پورته شو۔ والله المستعان۔

حدیث کښې دی (زه په خپل امت باندې د هر هغه منافق نه ویریږم چه جراره وی)۔

۲۰ - او د همدې فتنو نه : د نیکانو او الله والا خلقو ښیرې هم دی۔

لکه سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه یو سړی ته ښیرې اوکړې نو هغه په فتنه کښې پریواته، هغه به هغه جینکئ چیړلې کومې به چه په لاره باندې تیریدلې۔ حال داچه دا ډیر بوډا سړې وو چه د بوډاوالی نه ئې دواړه وروځې په سترگو باندې رازوړندې شوې وې، خو ددې باوجود به ئې جینکئ سکوندلې۔ لکه دبخاری په روایت کښې راغلی۔

او دا خبره په تجربه کښې هم راغلې ده۔

په حدیث کښې دی (چاچه زما د یو ولی سره دشمنی اوکړه نو هغه سره زه د جنگ اعلان کووم)۔

نو انسان له پکار دی چه په مؤمنانو کښې هیڅ یو مؤمن له تکلیف ورنه کړی، دې دپاره چه د هغه د ښیرو په وجه په فتنه کښې پرې نه وځی۔

۲۱ - او د همدې فتنو نه : جهل هم دې : او جهل (ناپو هی) د ټولو مصیبتونو او فتنو جرړه ده، دې وجې نه رسول الله ﷺ د قیامت د علاماتو باره کښې فرمائی :

وَ يَكْثُرُ الْجَهْلُ وَيَقِلُّ الْعِلْمُ (او جهل به ډیر شی او علم به کم شی)۔ رواه البخاری وغیره

د فتنو نه د نجات اسباب

او هرچه د فتنو نه د نجات اسباب دی نو دا - الحمد لله - ډیر دی، چه د امت د نصیحت او خیر خواهئ دپاره قرآن او سنت ذکر کړی دی۔

زه دې اسبابو طرفته اشاره قدرې کوم۔

۱ - اول سبب : د مذکوره فتنو نه د خپل وس مطابق لرې اوسیدل۔

رسول الله ﷺ فرمائی : (نزدې ده چه د مسلمان سړی غوره مال گډې بزې شی، چه د

غرونو په سرونو او د باران په ځایونو کښې ئې گرځوی او خپل دین د فتنو نه تختوی)۔
امام بخاریؒ فرمائی : باب دے په بیان ددے کښې چه د فتنو نه تختیدل د ایمان حصه ده، بیائے پورتنے حدیث ذکر کړیدے۔
په حدیث کښې دی (د خلقو دپاره د خلقو د ژوندگئ په اسبابو کښې هغه سړے غوره دے چه د خپل اس واگے نیونکے وی --)۔
او په همدے حدیث کښې دی چه (بل هغه سړے دے چه گډے بزے ورسره وی او د غرونو په سرونو کښې یا په صحرائی میدانونو کښې ئې گرځوی، د مانځه پابندی کوی، زکات ورکوی او د خپل رب عبادت کوی تردے چه مرگ ورته راشی، په خلقو کښې صرف همدا سړے غوره دے)۔ بخاری، ابن ماجه
په بل حدیث کښې دی (بیا هغه سړے غوره دے چه د غرونو د دَرو نه په یوه دَره کښې وی، د الله عبادت کوی او خلق د خپل شر نه په امن کښې اوساتی)۔
د حذیفهؓ په حدیث کښې دی (اگرکه ته د وُنے په ستِه پورے اونخلے، تردے چه تاته په دے حالت کښې مرگ راشی)۔
په یو بل حدیث کښې دی (زر دے چه داسے فتنے به راشی چه په هغے کښې ناست سړے به د ولاړ نه غوره وی، او ولاړ سړے به په هغے کښې د روان نه غوره وی ..... الحدیث)۔

۲ - دویم سبب : د ژبے حفاظت کول۔

۳ - دریم سبب : کور کښې کیناستل۔

٤ - څلورم سبب : په خپلو گناهونو ژړل۔

لکه د عقبه بن عامرؓ په حدیث کښې دی، چه دا وائی : ما عرض اوکړو : نجات په څه شی سره حاصلیږی ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (خپله ژبه په واك کښې ساته، او کور دے تاله ځائے درکړی، او په خپلو گناهونو باندے ژاړه)۔ رواه ابوداود باسناد صحیح په حدیث کښې دی (په دغه فتنو کښې به ژبه د تورے د گوذار نه زیاته سخته وی)۔
رواه الترمذی۔ د عبد الله بن عمرو - رضی الله عنهما - په حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (تاته چه کوم کار ښه معلومیږی هغه اخله، او کوم چه درته بد معلومیږی هغه پریده، او خپله ژبه کنټرول ساته، د خپل ځان غم کوه او د عامو خلقو معامله پریده)۔ رواه الترمذی کما فی المشکاة : ۲

۵ - پنځم سبب : عبادت او ذکر او اعمال صالحه ډیرول :

لکه حدیث کښې دي (د شپږو څیزونو راتللو نه مخکښې مخکښې په تادئ سره نیك اعمال کوئ: د مغرب طرف نه نمرراختل، لوګے، دَابَّةُ الأَرُض، دجال او خاص د خپل ځان غم، او د عوامو معامله)۔ ابن ماجه

په حدیث د مسلم کښې دي (د فساد په وخت عبادت کول داسې دي لکه زما طرفته هجرت کول)۔ رواه ابن ماجه

په بل حدیث کښې دي (دداسې فتنې راتللو نه مخکښې نیك اعمال کوئ چه د تورې شپې د ټکړو پشان – تورې – به وی، چه په هغې کښې به سړے په صبا کښې مؤمن وی، او بیګاه کښې به کافر شی، بیګاه کښې به مؤمن وی او صبا کښې به کافر شی۔ خپل دین به د دنیا په سامان باندې خرڅوی)۔ رواه مسلم

په دې کښې اشاره ده چه نیك اعمال انسان لره د کفر او فتنو نه بچ ساتی۔

او اعمال صالحه د اور نه د نجات سبب دے، نو د فتنو نه د نجات سبب به ولې نه وی؟

د ام سلمه – رضی الله عنها – په حدیث کښې دي: (نن شپه څومره فتنې نازلې شوې؟ څوك به د حجرو خاوندانې رابیدارې کړی؟)۔ رواه البخاری

په دې کښې دیته اشاره ده چه د شپې عبادت کول د فتنو نه د خلاصئ سبب دے۔

٦ – د فتنو نه دخلاصئ په اسبابو کښې غټ سبب: د الله عز وجل کتاب دے۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِیْ لِلَّتِیْ هِیَ أَقْوَمُ﴾ [الاسراء: ۹]

(بیشکه دا قرآن هغه خوئے خصلت طرفته راهنمائی کوی کوم چه ډیر زیات برابر دے)۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ [النحل: ۱۰۲]

(دے دپاره چه ایمان والا مضبوط کړی)۔

نو کله چه فتنه پیدا شی او فتنې ته خپل ځان طرفته راوبللې، نو تاله پکار دی چه قرآن کریم ته توجه اوکړې او په هغې کښې سوچ او فکر اوکړې، نو خامخا به ته په هغې کښې خپل علاج بیامومې، ان شاء الله۔

د علی ﷺ په حدیث کښې دی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (زردے چه فتنې به موجودې شی، عرض اوشو: یا رسول الله! ددې نه د نجات څه صورت دے؟ وې فرمائیل: د الله کتاب)۔ رواه أبوداود

۷ – د فتنو نه د نجات اووم سبب: د فتنې په وخت صبر کول:

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ﴾ [البقرة: ۱۵۳]

(اے ایمان والو ! د صبر او مانځه په ذریعه مدد غواړئ)۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّمَا یُوَفَّی الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴾ [الزمر: ١٠]
(بیشکه چه صبر کونکو ته به د دوئ اجرے حسابه ورکړے شی)
او الله فرمائی : ﴿ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِکَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴾ [الشوری: ٤٣]
(او خامخا چاچه صبر او معافی اوکړه، نو بیشکه چه دا کار د پخو کارونو نه دے)۔
او الله فرمائی :﴿ وَالْمَلٰٓئِکَةُ یَدْخُلُوْنَ عَلَیْهِمْ مِّنْ کُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلٰمٌ عَلَیْکُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ ﴾
[ابراهیم: ٢٤]
(او ملائك به دوئ ته د هرے دروازے نه داخلیږی – ورته وائی به – سلام دے وی پتاسو په سبب ددے چه تاسو صبر کړے وو)۔
او الله فرمائی : ﴿ اُولٰٓئِکَ یُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا ﴾ [الفرقان: ٧٥]
(دا هغه خلق دی چه دوئ ته به د دوئ د صبر په بدله کښے بنګلے ورکولے شی)۔
او رسول الله ﷺ د دجال راوتلو په وخت فرمائی چه : (صبر کوئ)۔
صبر د هر مصیبت او فتنے علاج دے۔
علماء فرمائی : فتنه مصیبت وی او د هغے علاج صبر کول وی۔
او هیچا ته څه داسے شے نه دے ورکړے شوے چه هغه د صبر نه ډیر غوره او فراخه وی۔
بیا صبر په دریمه قسمه دے (١) د ګناهونو نه صبر کول (٢) په نیکیو باندے صبر کول (٣) په مصیبتونو او بلا ګانو باندے صبر کول۔
او هیچا دپاره ممکن نه دی چه د صبر نه بغیر دے کمال ته اورسیږی، او د شر نه نجات هم صرف په صبر کولو کښے دے۔
د صبر باره کښے علامه ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب (عُدَّةُ الصَّابِرِین) کښے ډیر مزیدار مباحث لیکلی دی، هغے ته رجوع کول پکار دی۔
په حدیث کښے دی (ستاسو مخے ته داسے ورځے – را روانے – دی چه په هغے کښے صبر کول داسے دی لکه سکروټے په لاس کښے نیول، په هغے کښے د نیکی کونکی اجر دَ پنځوسو سړو – دا جر – پشان دے چه هغوئ دده پشان عمل اوکړی)۔
(رواه ابن ماجه وهو فی الصحیحة ١/٤٩٤)

٨ – اتم سبب : د حرامو او شبهاتو نه ځان ساتل :

څکه څوك چه ددے نه ځان اوساتی نو د هغه دین صحیح سالم پاتے کیږی۔

امام بخاري رحمه الله د نعمان بن بشير ﷺ نه روايت كوي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ((حلال هم ښكاره دى او حرام هم ښكاره دى، او ددے دواړو ترمينځه مشتبه شيان دى، نو څوك چه ددے مشتبه څيزونو نه ځان اوساتى نو ده د خپل دين او عزت حفاظت اوكړو، او څوك چه په شبهاتو كښے پريواته نو دا به په حرامو كښے پريوځى، لكه د هغه شپونكى پشان چه د چراګاه نه ګير چاپيره ګډے بزے څروى، نزدے ده چه په هغے كښے واقع شى))۔ الحديث۔

دے حديث كښے ديته اشاره ده چه مشتبه څيزونه حرامو ته، او حرام لويو فتنو طرف ته راښكل كوى۔ او كوم سړے چه په مشتبه څيزونو كښے احتياط كوى نو هغه به په خالص حرامو دارنګ د مسلمان په وينه تويولو يا د هغه په حق يا عزت اخستلو باندے څنګه اِقدام اوكړى ؟

۹ - د فتنو نه د نجات د اسباب نه څلورم سبب : دعاء ده۔

ځكه چه دا د مؤمن سړى وسله ده، او د دعاء كولو سره هيڅوك نه هلاكيږى۔ په احاديثو نبويه كښے د فتنو نه ډيره پناهي غوښتلے شويده۔ لكه رسول الله ﷺ به په خپل مانځه كښے د څلورو څيزونو نه پناه غوښتله :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ، وَأَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ فِتۡنَةِ الۡمَحۡيَا وَالۡمَمَاتِ، وَأَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ فِتۡنَةِ الۡمَسِيۡحِ الدَّجَّالِ (رواه مسلم)

(اے الله ! زه پناه غواړم پتاسره د عذاب د جهنم نه ، او د عذاب د قبر نه ، او پناه غواړم په تاسره د فتنے د ژوند او د مرګ نه، او پناه غواړ په تاسره د فتنے د مسيح دجال نه)۔

او رسول الله ﷺ فرمائى : (الله پورے د فتنو نه پناه غواړئ ، كومے چه ښكاره وى او كومے چه پټے وى)۔ رواه مسلم، المشكاة : ۲۳/۱

او رسول الله ﷺ د فتنے د مالدارئ او د فتنے د سينے، او د فتنے د دنيا او د فتنے د قبر، او د فتنے شرمګاه نه پناه غوښتلے ده۔ لكه دا امام نسائیؒ په باب الاستعاذه كښے ذكر كړى دى۔ دغه شان د فتنے د دجال او دفتنے د اور او د فتنے د فقر نه ئے د ابن ماجه په حديث كښے پناه غوښتلے ده۔

نو اے نيك عمله وروره ! تاله پكار دى چه دعاء لازم اونيسے خاصكر په اوقاتو د استجابت او قبوليت كښے، كيدے شى چه الله عز وجل تا د فتنو نه خلاص كړى۔

او رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : (نيك بختنه هغه څوك دے چه د فتنو نه اوساتلے شى، او

هغه څوك دے چه په فتنه کښے پریوتـه او بیا ئے صبر اوکړو، نو دا قابل تعجب دے)۔ رواه ابوداود

او دعاء چه کله په خپلو شروطو سره اوشي او انسان ئے همیشه دپاره غواړي نو هیڅ کله نه رد کیږي ۔ د دعاء فوائد ددے کتاب په فائده نمبر (٤٣) کښے اوګوره۔

۱۰ - د فتنو نه د نجات په اسبابو کښې یو غټ سبب : صدقه ورکـول او د الله په بندګانو باندے شفقت کول هم دي ، خاصکر په مسکینانو، یتیمانو او کونډو رنډو باندے۔ لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰی وَاتَّقٰی وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰی فَسَنُیَسِّرُهٗ لِلْیُسْرٰی ﴾ [اللیل: ۵،۷]

(پس هغه څوك چه ورکړه اوکړي او تقویٰ اختیار کړي او د ښے خبرے تصدیق اوکړي نو زر دے چه مونږ ده سره د آسانئ معامله اوکړو)۔

اورسول الله ﷺ فرمائي : (صدقه زر زر ورکوئ، ځکه مصیبتونه په صدقے باندے نشي راختے)۔ (روله رزین وهو فی المشکاة ۱/۱٦۷)

په حدیث کښے دي (د صدقه کونکي او بخیل مثال د هغه دوه سړو پشان دے چه په هغوئ باندے دوه ډالونه پراته وي ..... الحدیث)۔ او په دے حدیث کښے دي چه کله صدقه کونکے د صدقے کولو اراده اوکړي نو دا ډال فراخه شي تردے چه دده منډونه وران کړي الخ۔

نو صدقه د فراخئ او د فتنو نه د نجات سبب دے۔ اوڅوك چه د یو مؤمن نه یو مصیبت لرے کړي، الله تعالیٰ به دده نه د قیامت د مصیبتونو نه یو مصیبت لرے کړي۔

او غار والو ته مور پلار سره د احسان، او د زنا ، نه د تیختے او مزدور سره د احسان کولو په وجه نجات ملاؤ شو۔ لکه دا روایت په صحیح بخاري کښے ذکر دے۔

۱۱ - یوولسم سبب توبه ده : لکه حدیث کښے دي (الله تعالیٰ هغه بنده سره مینه لري چه مؤمن وي، فتنو نه لرے او ډیر زیات توبه ویستونکے وي)۔ رواه احمد ۱/۸۰، ۱۳۰، وهو فی المشکاة.نو توبه د فتنو او ګناهونو دپاره یو عظیم علاج دے۔

۱۲ - دولسم سبب : په الله او په آخرت باندے قوي ایمان او ښائسته اخلاق دي۔

لکه د عبد الله بن عمرو - رضی الله عنهما - په یو اوګد مرفوع حدیث کښے دي چه (بیا به داسے فتنے راشي چه په هغے کښے به یوه فتنه بلے لره وړوکے ګنړي، نو مؤمن به وائي : دا فتنه زما د هلاکت سبب دے، خو بیا به هغه ختمه شي، بیابه فتنه راشي نو مؤمن به وائي : دا فتنه زما د هلاکت سبب دے، نو چالره چه دا خبره خوشحاله کوي چه د اور نه

لړې شي او جنت ته داخل شي نو هغه لره دِ په داسې حالت کښې مرګ راشي چه په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لري، او خلقو سره دې هغه معامله کوي کومه معامله چه د هغوئ نه د خپل ځان په حق کښې غواړي)۔ الحدیث۔
نو دې حدیث کښې د فتنو نه د نجات دوه سببه ذکر دي : یو په الله باندې ایمان لرل، دویم احسان کول۔ ښه سوچ اوکړه۔
۱۳ - دیارلسم سبب : د ولایتونو او حکومتي منصب، عُهدې او اقتدار نه ځان لرې ساتل، اګرکه اسلامي حکومت ولې نه وي، نو ستا څه خیال دې چه کله حکومت کافر او سیکولر انګریزي وي چه د الله د قانون نه علاوه په نورو وضعي قوانینو باندې فیصله کوي په هغې کښې اقتدار قبلول به څه حکم لري ؟ لهذا په دې کښې ځان شاملول یوه لویه فتنه ده۔ ډیر هغه خلق مونږ اولیدل چه د علم او دین دعوئ لرونکي وو چه کله په دې حکومتي منصبونو کښې ورداخل شول نو په فتنه کښې پریوتل، په کفر کښې پریوتل، او په دوئ کښې بعضې په حرامو او رشوتونو، غفلت او ظلم، شهرت او دروغ، خیانت او د دنیا په محبت وغیره کښې پریوتل۔
امام ابوداودؒ د ثعلبه نه روایت کوي چه دا فرمائي : مونږ حذیفه ﷺ ته ورغلو نو هغه اوفرمائیل : ماته یو سړې معلوم دې چه هغه ته فتنې هیڅ ضرر نشي ورکولې۔ ثعلبه وائي : کله چه مونږ اووتلو نو څه ګورو چه یوه خیمه لګیدلې ده، مونږ هغې ته ورننوتلو، په هغې کښې محمد بن مسلمهؓ ناست وو، مونږ ترې ددې په باره کښې تپوس اوکړو، نو هغه اوفرمائیل : زه دا نه غواړم چه ستاسو د ښارونو نه دې د یو ښار امور ماته اوسپارل شي، چه څوك دا حاصلوي هغه دې حاصل کړي ماسره ئې هیڅ پرواه نشته۔
(ابوداود رقم : ٤٦٦٤)

نو محمد بن مسلمه ﷺ ته فتنه ولې ضرر نشي ورکولې ؟ ځکه چه دې مشرۍ نه خوښوي او نه دا خوښوي چه د یو ښار څه امور دې ده ته اوسپارلې شي۔
نو اوس هم چه څوك ددې صحابيﷺ په صفت باندې وي، نو هغه ته به هم ان شاء الله فتنه ضرر نه ورکوي۔ لهذا که انسان د خپل ایمان حفاظت او د اور نه بچاؤ غواړي نو ده له پکار دي چه د ولایتونو او منصبونو په قبلولو کښې دې تادي نه کوي، او نه دې خپل ځان انتخاباتو دپاره پیش کوي۔
په یو حدیث کښې راغلي دي (څوك چه بادشاه ته راغې په فتنه کښې پریواته)۔

رواه الترمذی وابوداود والنسائی

۱٤ – اوهرچه د دجال د فتنې نه نجات حاصلول دی نو دا په یو شو کارونو سره :

۱ – سورت کهف لوستل، لکه د ابوداود په روایت کښې دی چه دا سورت تاسو لره د دجال د فتنې نه بچ کونکے دے۔

۲ – د دجال نه لرے لرے اوسیدل۔

۳ – اودا خبره یاد ساتل چه د دجال سترګه یوه کانړئ او بله د انګور د دانې پشان نیغه راوتے ده۔

٤ – او د هغه په تندی باندے ئے (کافر) لیکلے دے۔

۵ – اود اخبره یاد ساتل پکار دی چه الله تعالیٰ خوك په دنیا کښې په سترګو نشی لیدلے، او دجال به د الوهیت دعویٰ کوی۔

۱۵ – د ټولو فتنو نه د نجات حقیقی سبب : د ایمان په حالت کښې مرګ دے۔

حدیث کښې دی (مؤمن مرګ بد ګڼړی خو مرګ ده دپاره د فتنې نه غوره دے)۔

(رواه احمد : ٥/٤٢٧)

اورسول الله ﷺ به دا دعاء غوښتله : (وَإِذَا أَرَدْتَّ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِیْ إِلَیْكَ غَیْرَ مَفْتُوْن) . الترمذی۔ (اوکله چه ته په خپلو بندګانو باندے د فتنې اراده اوکړے نو ماپه داسے حال کښې ځان طرفته واخله چه په فتنه کښې غورزیدلے نه یم)۔

۱٦ – شپاړسم سبب : د فتنې په وخت مضبوط اوسیدل، او تادی نه کول۔

په ابن ماجه کښې دی (باب دے په بیان د ثابت قدم اوسیدلو کښې په فتنه کښې)۔ او په ابوداود کښې دی (باب دے په بیان د تقرب کښې په فتنه کښې)۔ او په مسند احمد کښې دی (آیا ته ماته په فتنه کښې حکم کوے چه زه دے ددے سر جوړ شم ؟)۔ ۱۷۷/۱۔

۱۷ – اولسم سبب : جهاد فی سبیل الله او دعوت الی الله۔

مخکښې مونږ دا حدیث ذکر کړو چه (د خلقو په زندګئ کښې غوره زندګی د هغه سړی ده چه هغه د خپل اس واګے ئے نیولے وی ـ ـ الحدیث)۔

په حدیث کښې دی (کله چه تاسو عِینه – یو قسم سودی – کاروبار شروع کړو، او د غوایانو لکئ مو اونیولے، او جهاد مو پریخودلو، نو الله تعالیٰ به په تاسو داسے ذلت مقرر کړی چه تر هغه وخته پورے به ئے درنه نه لرے کوی ترڅو چه تاسو خپل دین ته واپس شوی نه ئے)۔ ذکره فی الصحیحة :۱

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَايَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ﴾ [البقرة: ٢٣]
(اودا خلق به همیشه تاسو سره جنګیږی تردے چه تاسو د خپل دین نه مرتد کړی که ددوئ طاقت اورسی)۔

نو په دے آیت کریمه کښے اشاره ده چه جهاد پریخودل د ډیرو خلقو دپاره د ارتداد سبب دے – والعیاذ بالله۔

او دعوت الی الله او امر بالمعروف او نهی عن المنکر دا د فتنے ختمولو دپاره اسباب دی، او په همدے باندے د مسلمانانو اتحاد او اتفاق قائم دے، او داعی سړے د دعوت په برکت باندے په دین باندے مضبوط ولاړ وی۔ وبالله التوفیق۔

۱۸ - اتلسم سبب : عدم شهرت دے د خلقو ترمینځه۔ ځکه شهرت سبب د فتنو دے، اوددے نه د سړی په نفس او دین کښے فتنے پیدا کیږی۔ دے وجے نه په حدیث کښے راځی (د سړی دپاره دا شر هم بس دے چه ده ته په دین او دنیا کښے په ګوتو اشاره کیږی، مګر هغه څوك چه الله ئے حفاظت اوکړی)۔

(رواه البیهقی فی شعب الایمان، المشکاة : ٢/٤٥٥)

دے کښے اشاره ده چه شهرت سبب دے دپاره د شرونو، تکبر، غرور، غفلت، غیبت، ځان اوچت ګنړل او فساد۔ په سنن ابن ماجه کښے دی (باب دے په بیان د هغه چاکښے چه د فتنو په وخت کښے د هغه د سلامتیا امید کیدے شی)۔ بیا ئے په ضعیف سند سره د معاذ بن جبل نه مرفوعًا نقل کړی دی چه (یقینا لږه ریاء هم شرك دے، او بیشکه الله تعالیٰ هغه نیکانو، متقیانو، غیر مشهورو خلقو سره مینه کوی، چه کله غائب شی نو د هغوئ تپوس نه کیږی، او کله چه حاضر وی نو نه رابلل کیږی او نه پیژندلے کیږی۔ د دوئ زړونه د هدایت ډیوے وی، چه د هرے ګرد آلودے تیرے نه راوځی)۔

یعنی د هرے ګرد آلود او تورے فتنے نه راوځی دخپل عدم شهرت په وجه، ځکه چه دوئ د خپلو نورانی زړونو په وجه د دنیا سره محبت نه کوی، نو دوئ ته فتنه د کوم ځائے نه راشی ؟

دا حدیث اګرکه د سند په لحاظ ضعیف دے، خو ددے تائید د سعد ؓ د هغه حدیث نه کیږی کوم چه امام مسلم ؒ په خپل صحیح کښے نقل کړے، چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (بیشکه الله تعالیٰ هغه متقی بنده سره مینه کوی، کوم چه قناعت والا او غیر مشهور وی)۔ (المشکاة : ٢/٤٥٠)

۱۹ - نولسم سبب : مسجد او د ایمان او ذکر مجالسو ته حاضریدل دی۔
په حدیث کښې دی چه ابو رزین عقیلی ﷺ ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (آیا زه تاته ددې کار بنیادی څیز نه ښایم چه د هغې په وجه به د دنیا او آخرت خیر حاصل کړې ؟ هغه دا چه د ذکر والو مجالس لازم اونیسه، او کله چه ته یواځې ئې نو څومره چه درنه کیدې شي د الله په ذکر باندې خپله ژبه خوزوه، اود الله دپاره خلقو سره مینه کوه، او د الله دپاره بغض ساته۔ اې ابو رزینَ ! آیا تاته پته شته چه سړې کله د خپل کوره د یو مسلمان ورور سره د ملاقات دپاره اووځی، نو ده لره اویا (۷۰) زره ملائك رخصتوی چه ټول په ده باندې رحمتونه وائی، اودا وائی چه : اې زمونږ ربه ! دا سړې ستا دپاره تعلق ساتی، نو ته هم ورسره تعلق اوساته۔ نو که ددې طاقت لرې چه خپل بدن په دې کار کښې اولګوې نو دا کار اوکړه)۔
(رواه البیهقی فی شعب الایمان، ددې په سند کښې عثمانٌ بن عطاء راوی دې اودا ضعیف دې)۔

۲۰ - شلم سبب : استقامت دې : ځکه چه دا د فتنو په ختمولو کښې یو عظیم نعمت دې، او مونږ ددې اسباب او تفصیلات د استقامت په فائده کښې ذکر کړیدی، نو هغې ته رجوع اوکړه ۔

★★★★★★

۳ - فائده

عمل صالح به تاته څنګه آسانیږي؟

او تاته به ددې توفیق څنګه ملاویږي؟

ځکه د هیڅا دپاره دا ممکنه نه ده چه نیك عمل اوکړي مګر هله چه د الله عز وجل مشیت او اراده اوشي. ﴿وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾ [التكوير: ۲۹]

(او ستاسو خوښه هله وي چه کله د الله خوښه اوشي).

دې وجې نه ضروري ده چه د عمل صالح د آسانتیا دپاره به په کتاب او سنت کښې اسباب وي، کله چه انسان هغه اسباب اختیار کړي نو د الله په مشیت سره د هغه عمل صالح توفیق ورته ملاویږي، په کوم باندې چه د دنیا او آخرت د نجات دارو مدار دې.

ځکه الله تعالیٰ د هر مقصد دپاره اسباب مقرر کړي دي. لهذا تا له پکار دي چه خپل بدن په هغه اسبابو کښې استعمال کړې چه د هغې په وجه عمل صالح او د نیکیو توفیق ملاویږي، کیدې شي چه الله عز وجل تالره د هغې داهل نه اوګرځوي.

او دا اسباب یو څو امور دي:

۱ - اول سبب: دا چه په انسان کښې ورکړه او سخاوت وي، خپل مال ورکوي، طاعت کوي، بل چاته د ژبې، لاس، بدن او نیت او قصد سره فائده ورکوي، د الله شکر اوباسي، هغه ته توبه او اخلاص کوي، نو دده نفس مطیع او خرچ کونکې وي، نه دا چه کنجوس او منع کونکې وي، نو دا نفس نفع مند او احسان کونکې وي. ددې مثال د هغه چینې دې چه خلقو ته نفع ورکوي، خپله ترینه څکل کوي، حیوانات، فصلونه ترې اوبه کوي، خلق ددې نه څنګه چه اوغواړي فائده اخلي دا هر وخت دې دپاره تیاره وي. دغه شان مبارك انسان هم وي چرته چه دې وي هلته خلقو ته هر وخت فائده ورکوي، نو ددې انسان جزاء اویدنه دا وي چه لکه څنګه چه دده نفس ورکړې دپاره آسان وو، الله تعالیٰ هم ده ته د آسانې او ښې خبرې توفیق ورکوي، دا دده پوره بدله ده. نو ډیر انفاق او مخلوق سره ډیر احسان دغه شان طاعت او خدمت دا ټول د توفیق او آسانتیا سبب دې.

۲ - دویم سبب تقویٰ ده: یعنی الله تعالیٰ چه د کومو څیزونو نه منع فرمائیلې ده،

هغې نه منع کيدل۔ د توفيق په اسبابو کښې دا غټ سبب دے چه ددے ضد د اسبابو د گرانئ د عمل نه دے۔ نو متقي سړی دپاره د دنيا او آخرت کارونه آسانيږی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا﴾ [الطلاق: ٢]

(او څوك چه د الله نه يريږی هغه له به د وتلو لاره پيدا كړی)۔او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا﴾ [الطلاق: ٤]

(څوك چه د الله نه اويريږی نو د هغه دپاره به د هغه د كارونو نه آسانتيا پيدا كړی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ [ال عمران: ٢٠٠]

(او د الله نه اويريږئ دے دپاره چه كامياب شئ)۔ فلاح د آسانئ انتهائی درجه ده ـ

اودے ته قرآن كريم په دے قول سره اشاره كړيده : ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْلَكُمْ﴾ [الحديد: ٢٨]

(اے ايمان والو ! د الله نه اوويريږئ او د هغه په رسول باندے ايمان اولرئ تاسو ته به د خپل رحمت نه دوه انډی دركړی او تاسو له به داسے رڼا دركړی چه په هغې سره به ژوند كوئ او بخښنه به درته اوكړی)۔

٣ - دريم سبب : د الله په وعدو باندے تصديق او يقين دے :

او مذكوره درے واړو اسباب ته قرآن كريم اشاره كړيده : ﴿فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى﴾ [الليل: ٥،٧]

(او هغه څوك چه وركړه اوكړی او تقویٰ اختيار كړی او د نيكے خبرے تصديق اوكړی نو خامخا به مونږ ده ته د نيكے خبرے توفيق وركړو)۔

په آيت كريمه كښې د (حُسنیٰ) تفسير په لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه يعنی ايمان سره او په جنت او عوض سره شويدے۔ اودا ټول تفسيرونه حق دی۔

او د (يُسریٰ) نه مراد خصلتِ يُسریٰ دے يعنی د نيكيو توفيق او د عمل صالح او د جنت د اسبابو آسانتيا ده۔

په انسانی نفس كښې درے طاقتونه دی :

١ - د وركړے او خرچے قوت

٢ - د بندولو او منع كولو قوت۔

٣ - د علم، فهم او ادراك قوت۔

نو كله چه دا قوتونه روغ او صحيح وی نو د انسان د بدن نه اعمال صالحه او اخلاقِ

فاضله راوځي، اوکله چه خراب شي نو دده نه بد اعمال راوځي. دے وجے نه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَاَمَّا مَنْ م بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى﴾ [الليل: ۸،۱۰]
(او څوك چه بخل اوکړي او بے پرواه شي او د نيکے خبرے تکذيب اوکړي نو خامخا به مونږ ته ده د گرانئ توفيق ورکړو).
اودا ډيره ښه مقابله ده، ځکه بخل بندولو ته وائي او بخيل د الله په بندگانو باندے سخن وي، نو الله عز وجل په ده باندے د خير کارونه سخت کړي دي. لکه په حديث د بخاري کښے راځي (د بخيل او او انفاق کونکي مثال د هغه دوه کسانو دے چه هغوئ باندے د اوسپنے دوه زغرے وي ـ ـ ـ الحديث).
په آيت کښے د بے پروايئ نه مراد د الله عز وجل نه بے پروائي ده چه دا کينسر بيماري ده، اوپه دے بيمارئ باندے ډير خلق بيماران دي، او دا بے پرواه د متقي په مقابله کښے گرځولے شويدے، ځکه متقي چه کله په هره لحظه او په خپلو ټولو دنيوي او ديني کارونو کښے الله تعالیٰ ته خپل ضرورت او احتياج محسوس کړو نو د الله نه اوويريدلو او د هغه د ناراضگئ نه ئے ځان بچ کړو، لکه د يو انسان چاته سخت حاجت وي، نو د هغه په رضا کښے منده تړرے وهي او د هغه د ناراضگئ نه ځان ساتي او په هر شئ کښے د هغه خبره مني دے دپاره چه د هغه نه خپل حاجت پوره کړي. نو هغه بنده به ولے د خپل رب نه نه ويريږي کوم چه فقير، گمراه، عاجز او مسکين دے او د هغه د خفگان نه به ولے ځان نه بچ کوي، او د هغه نه به ولے بے پروائي کوي. دا کار خو صرف هغه څوك کوي چه خپل رب نه پيژني او نه خپل نفس او نه د نفس حاجت پيژني.
او د (حُسنىٰ) يعني د ښے خبرے تکذيب کول په علم، اراده، محبت او يقين کښے فساد دے. او يقين د اعمالو صالحه ؤ بنياد دے، نو کله چه يقين خراب شي اعمال خرابيږي.
اودا دواړه آيتونه په علم، عمل، هدايت، مسائلو د تقدير، سلوك، اخلاقو او د الله عز وجل او د بنده په حق باندے مشتمل دي. اودا شان کمال د الله عز وجلّ د کتاب سره لائق دے. (اوگوره : بدائع التفسير په تفصيل سره : ٥/ ٢٤٢).

٤ - څلورم سبب : دعاء ده

په نبوي احاديثو او قرآني آيتونو کښے د نيکو اعمالو او د هغے د توفيق دعاء گانے ډيرے زياتے ذکر شوي دي. الله تعالیٰ فرمائي :
﴿ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰهُ وَاَصْلِحْ

لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ إِنِّيْ تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ﴾ [الاحقاف: ١٥]

(وائی : اے ربه ! توفیق راکړه ماله ددے چه شکر اوکړم زه ستا د هغه نعمت چه تا په ما او زما په مورو پلار باندے کړے دے، او ددے چه زه نیك عمل اوکړم چه ته ئے خوښوے او ماله زما په بال بچ کښے خیر ښیګړه واچوے،بیشکه ماتاته رجوع اوکړه او زه د مسلمانانو نه یم)۔

او رسول الله ﷺ فرمائی : (آیا تاسو غواړئ چه په دعاء کښے کوشش اوکړئ ؟ نو داسے وایئ : (اَللّٰهُمَّ اَعِنَّا عَلٰى شُكْرِكَ وَذِكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ) الصحیحة

(اے الله مونږ له د خپل ذکر او شکر او ښائسته عبادت توفیق راکړے)۔

په یو بل حدیث کښے د فرض مانځه نه پس په دعاء کښے دی :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِيْنِ وَأَنْ تَغْفِرَ لِيْ وَتَرْحَمَنِيْ ... الحدیث)۔

(اے الله ! زه تانه د نیك كارونو كولو او د بدو كارونو پریخودلو او د مسكینانو محبت غواړم اودا چه ته ماته بخښنه اوكړے او رحم راباندے اوكړے)۔

دارنګ : (اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْنَا مِنْهُ وَمَالَمْ نَعْلَمْ).

(اے الله ! زه تانه هر قسمه خیر غواړم، په تادئ باندے او راتلونكی وخت كښے، كوم چه مونږ ته معلوم وی اوكوم چه معلوم نه وی)۔ رواه ابن ماجه۔

عمر رضی الله عنه فرمائی : (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ عَمَلِيْ كُلَّهُ صَالِحًا، وَلَا تَجْعَلْ فِيْهِ نَصِيْبًا لِأَحَدٍ غَيْرِكَ)۔ (اے الله ! زما ټول عمل نیك جوړ كړے، او په دے كښے ستانه علاوه بل هیچا دپاره حصه مه مقرروه)۔دارنګه نورے ډیرے دعا ګانے هم شته۔

٥ - **پنځم سبب : حلال خوراك** : څكه دا په نیك عمل كښے مددګارجوړیږی۔

الله تعالیٰ فرمائی :

﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا إِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ﴾ [مؤمنون: ٥١]

(اے رسولانو ! پاك څیزونه خورویئ او نیك عمل كوئ بیشكه زه ستاسو په عملونو خبرداریم)۔ابن كثیر – رحمه الله – فرمائی : حلال خوری په نیك عمل كولو كښے مدد كوی، دا وجه ده چه الله تعالیٰ ددے دواړو ترمینځه جمع والے راوستلو۔

سهل بن عبد الله – رحمه الله – فرمائی : څوك چه حلال خوری نو دابه – خوښه ئے وی اوكه نه وی – د الله اطاعت كوی۔او څوك چه حرام خوری نو دابه د الله نافرمانی كوی،

خوښه ئې وي اوکه نه ۔

(فتاویٰ الدین الخالص المجلد الخامس باب التهجد)

نـو تاباندې واجب دي چه په خپل خوراك څكاك او لباس بلكه په خپلو ټولو احوالو كښې د حرامـو نـه بـلـكه شبهاتو نه ځان اوساتې، دې دپاره چه د الله تعالیٰ په مشيت سره د عمل صالح توفيق دركړې شي۔

٦ - شپږم سبب : خاموشي اختيارول او بې فائدې خبرونه پرېښودل :

ځكه دا په نيكيو باندې ډېر مدد كونكې څيز دې۔

د ابو ذر ﷺ په حديث كښې دي چه ده نبي ﷺ تـه عرض اوكړو : ماته وصيت اوكړئ ! ورته ئې اوفـرمـائـيـل : (زه تاته الله نه د وېرې وصيت كوم، ځكه دې سره ستا ټول كارونه ښائسته كيږي۔ ما عرض اوكړو : لږ زياتي نور څه راته اووايه ! وې فرمائيل : د قرآن كريم تلاوت او د الله عـز وجل ذكر لازم اونيسه، ځكه دا ستا دپاره په آسمان كښې د تذكرې او په زمكه د رڼړا سبب دې۔ مـاعـرض اوكړو : لږ زياتي نور څه راته اووايه ! وې فرمائيل : لازم ده په تا باندې اوګـده خـامـوشي، ځكه دا د شيطان د شړلو سبب دې او تا دپاره ستا په ديني كار كښې مدد دې۔ مـا عـرض اوكړو : لږ نور، وې فرمائيل : ځان د ډېرې خندا نه اوساته، ځكه دا زړه وژني او د مـخ رڼړا ختـمـوي۔ مـا عرض اوكړو : لږ نور، وې فرمائيل : حقه خبره كوه اكركه ترخه وي۔ مـا عـرض اوكړو : لږ نور، وې فرمائيل : د الله په باره كښې د ملامتګر د ملامتيا نه مه وېـرېـږه۔ مـا عـرض اوكړو : لږ نـور، وې فرمائيل : تاته چه په خپل ځان كښې كوم عيبونه مـعـلوم دي، هغه دې تالره د نورو خلقو - د عيبونو - نه منع كړي۔ (رواه البيهقي باسناد لا بأس به) خو معنیٰ ئې صحيح ده۔

نو په دې كښې ئې خاموشي او د هغې اوږدوالې په ديني كارونو كښې مددګار خودلې دې، چه دا نيك اعمال دي۔

پـه يـو صـحـيـح حـديث كښې راغـلـي دي چه (د سړي ښائسته اسلام دادې چه بې فائدې كارونه - خبرې - پرېدي)۔ (رواه أحمد والترمذي)

نو بې كارونه او شيان پرېخودلو سره د انسان اسلام ښائسته كيږي۔

٧ - اووم سبب : درسته خبره كول : يعني هغه خبره چه په هغې كښې كوړ والې نه وي، او نـه په كښې ضرر وي، نه نفاق او نه په كښې مسلمانانو ته د ضرر رسولو اشاره وي، او نـه پـه كښې غيبت، تحقير، چغلي وي ، اونه په دين پورې توقې او نه په كښې په مسلمانانو

پورے توقے وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾ [الاحزاب: ٧٠، ٧١]

(اے ایمان والو ! د الله نه اوویریځ او درسته خبره کویځ تاسو دپاره به ستاسو اعمال جوړ کړی او گناهونه به درته اوبخی)۔

نو الله سبحانه وتعالیٰ د هغه درستے خبرے کولو په وجه - چه هغه د زړونو په سلامتیا باندے دلالت کوی - د اعمالو د جوړولو او د گناهونو د بخښلو وعده اوفرمائیله۔

تفسیر ابن کثیرؒ کښے دی ﴿ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴾ ددے معنیٰ داده چه تاسو له به د نیکو اعمالو توفیق درکړی، او تیر شوی گناهونه به درته اوبخښی، او په راتلونکی وخت کښے چه کوم گناهونه کیږی د هغے نه د توبے الهام به درته اوکړی۔

قرطبیؒ فرمائی : دا ځومره لویه درجه، مرتبه او رفعت دے۔

نو د ژبے اصلاح د توفیق سبب دے، او د ژبے نیغ والے د نیکیو د اهم اسبابو نه دی، اودا سبب دے دپاره د باقیات صالحات۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا ﴾ [البقرة: ١٨٣]

(او خلقو ته ښه خبره کویځ)۔

او همدے معنیٰ ته نبی کریم ﷺ اشاره کړیده لکه فرمائی :

(په تاسو کښے ځوك تر هغه وخته پورے پوره مؤمن کیدے نشی ترڅو چه د هغه زړه برابر شوے نه وی، او زړه ئے تر هغه وخته پورے نشی برابریدے، ترڅوئے چه ژبه نه وی برابره شوے، او هغه سړے هیڅ کله جنت ته نشی داخلیدے چه د هغه گاونډی د هغه د ضررونو نه په امن نه وی)۔ (مسند احمد : ٣/١٩٨)

نو نبی ﷺ د ژبے نیغ والے د ایمان بنیاد اوگرځولو۔

نو په انسان باندے لازم دی چه خپله ژبه نیغه کړی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ﴾ [الاسراء: ٥٣]

(او زما بندگانو ته اووایه چه هغه خبره کوی کومه چه ډیر ښائسته ده، بیشکه شیطان د دویځ تر مینځه فساد اچوی)۔

٨ - اتم سبب : امیدونه لنډول : دا د نیك عمل دپاره تریاق دے، ځکه ځوك چه دا سوچ اوکړی چه دده عمر لنډ دے او په ده باندے ډیر حقونه دی، نو دے به ضرور په نیکیو کښے تادی کوی۔ لکه نبی کریم ﷺ عبد الله بن عمرؓ ته فرمائی : (په دنیا کښے داسے اوسه گویا

تـه مسـافـر یـا پـه لاره تیریدونکې ئې)۔ ابن عمر رضی الله عنه به فرمائیل : کله چه ته صبا
کړې نـو د بیګـاه انتـظار مه کوه، اوکله چه بیګاه کړې نو د صبا انتظار مه کوه، او د خپل 4
صحت نه د مرض دپاره څه اخله، او د خپل ژوند نه د مرګ دپاره څه اخله)۔ (بخاری)

پـه یـو حـدیث کښې دی (بیشکه ډیر قابلِ خوف شے چه زه په خپل امت باندې د هغې نه ویریږم خـواهـش او اوګـد امید دې۔ هرچه خواهش دې نو دا انسان د حق نه منع کوی، او هـرچـه اوګـد امید دې نو دا د انسان نه آخرت هیروی۔ اودا دنیا کوچ کونکې ختمیدونکې ده، او آخـرت کـوچ کـونکې راتلونکې دې، او په دې دواړو کښې د هریو دپاره څامن شته دې، نـو کـه ستاسو وَس رسی چه د دنیا د څامنو نه نشئ نو دا کار اوکړئ ځکه نن تاسو د عمل پـه کـور کښې یئ او حساب نشته، او تاسو به صباله د حساب په کور - آخرت - کښې یئ او بیابه عمل نه وی)۔

(رواه البیهقی فی الشعب، المشکاة : ۲/٤٤٤)

نـو امیـدونـه لنډول د عمل صالح دپاره کامیابه دوائی ده، او د الله په توفیق سره په دې سره انسان ته د نیك عمل توفیق ملاویږی۔

۹ - نهم سبب : د وخت قدر او قیمت پیژندل او دا غنیمت ګڼړل : دې دپاره چه دا قیمتی اوقات - خاصکر د مانځه اوقات - په معمولی څیزونو کښې ضائع نشی۔ ځکه څوك چه د مـانـځه د اوقاتو حفاظت کوی، نو ان شاء الله، الله عز وجل ددې نه علاوه دده د باقی اوقاتو هم حفاظت کوی۔ لکه دا خبره په (قیمه الزمن عند العلماء) د ابو غده کښې ذکر شویده۔

دغـه شانِ څوك چه د شپې د وخت حفاظت کوی، الله تعالیٰ به دده د ورځې د اوقاتو حفاظت اوکړی۔ او څوك چه د پیشمنی او د سَحر مانځه نه د روسته وخت حفاظت کوی، الله تعالیٰ به دده د ټولې ورځې د اوقاتو حفاظت اوفرمائی۔ لکه دا خبره تجربه کښې راغلې ده۔

۱۰ - لسم سبب : د اعمال صالحه ؤ د نه قبلیدو ویره :

لـکه د الله تعالیٰ په دې قولِ کښې دیته اشاره شویده : ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَآ اٰتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ﴾ [مومنون: ٦٠، ٦١]

(او - مـؤمـنـان - هـغـه خـلـق دی چه څه - نیك اعمال - کوی هغه اوکړی په داسې حال کښې چـه د دوئ زړونـه ویـریـدونکی وی ددې خبرې نـه چه دوئ بـه خپل رب تـه واپس کیدونکی وی، دا خلق په نیکیو کښې تادی کونکی دی او همدوئ دیته سبقت وړاندې کیدونکی دی)۔

په حدیث کښې دي : عائشه - رضي الله عنها - عرض اوکړو : آیا دا هغه خلق دي چه شراب څکي اوغلا کوي ؟ ورې فرمائیل : نه اې د صدیق لورې ! بلکه دا هغه خلق دي چه مونځونه کوي، روژې نیسي، صدقه ورکوي او - ددې باوجود - ددې نه ویریږي چه دابه د دوئ نه قبول نشي)۔

په دې کښې راز دادې چه مؤمن د وجې د معرفت دده نه په الله باندې الله دپاره هر عمل صالح معمولي ګڼړي، سره ددې چه د هغې د پوره کولو او په هغې کښې د اخلاص کولو پوره کوشش کوي، او ددې باوجود ده سره دا غم وي چه دا عمل ئې په داسې طريقه اونه کړو چه د الله عز وجل د شان سره لائق وي، دې وجې نه په دويم او دريم او څلورم ... الیٰ آخره عمل کښې کوشش اوتادي کوي تردې چه داسې عمل اوکړي چه د الله د شان سره لائق وي، دې وجې نه دده اعمال او باقيات ډير وي۔ اود نيك عملونو په ډيروالي کښې دا يو عجيب څيز دې۔

۱۱ - يوولسم سبب : مجاهده ده :

څکه څوك چه مجاهده او کوشش کوي نو الله تعالیٰ د هغه عمل نه ضائع کوي، او د نيك عمل يو ثواب دادې چه ددې نه پس به د بل نيك عمل توفيق ملاويږي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾[العنكبوت: ٦٩]

(او كوم خلق چه زمونږ په دين کښې كوشش كوي نو خامخا به مونږ هغوئ ته خپلې لارې اوښايو)۔

۱۲ - دولسم سبب : هميشه دپاره د اوده كيدو په وخت دا دعاء لوستل : (اَللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ نَفْسِيْ اِلَيْكَ ... تر آخره پورې)۔ څکه په دې حدیث کښې دي چه (كه تا صبا كړو نو خير ته به اورسيږې)۔ يعنی ددې دعاء په بركت سره به تاله د نيك عمل توفيق دركړې شي۔ اودا حديث په صحيح بخاري کښې دې (۱/۲۷)۔

۱۳ - ديارلسم سبب : علم شرعي (د كتاب او سنت علم) طلب كول :

حديث کښې دي (څوك چه په يوه داسې لاره لاړ چه په هغې کښې ئې علم طلب كولو نو الله تعالیٰ به ده ته د جنت لاره آسانه كړي)۔ يعنی د نيك عمل توفيق به وركړي۔

شقيق بن ابراهيمؒ فرمائي : د شپږو څيزونو په وجه په خلقو باندې د توفيق دروازه بنده شويده :

★ په نعمت باندې د هغې د شكر نه مشغوله شول

★ په علم کښې رغبت لري خو عمل نه کوي
★ ګناه ته په تادئ ورځي خو توبه کښې تاخير کوي
★ د نيکانو خلقو ملګرتيا باندې خپل ځان له دهوکه ورکوي خو د هغوئ د کار پشان کار نه کوي
★ دنيا د دوئ نه شاته ده خو دوئ ورپسې دي
★ او آخرت دوئ ته مخې ته راروان دې خو دوئ د هغې نه مخ اړونکي دي۔

ابن قيم – رحمه الله – فرمائي : ددې وجه عدم رغبت او رهبت دې، او ددې وجه د يقين کمزوري ده، او بيا ددې وجه ضعفِ بصيرت دې، او ددې وجه د نفس سپکوالې او کمينه ګي ده۔ ځکه شريف نفسونه په ښکته او پريوتي کارونو باندې نه راضي کيږي۔ نو خير ټول د الله په توفيق او د هغه په مشيت سره حاصليږي، او اصل خير د نفس شرافت غټ والې او د هغې حاصلول دي، او اصل شر د نفس رذالت کمينه ګي او سپکوالې دې۔

(الفوائد : ص : ۳۰۷)

★★★★★★

٤ - فائده

د هر ښهٔ صفت او اعلیٰ اخلاقو بنیاد

د هر ښه صفت او اعلیٰ اخلاقو بنیاد دوه څیزونه دی (١) اوچت همت (٢) او خشوع۔ او د هر رذالت، کمینه ګئ او فساد بنیاد هم دوه څیزونه دی (١) کمزورے همت (٢) او تکبر۔

نو **فخر**، غرور، نخره، خود پسندی، حسد، بغی، خیلاء، ظلم، زړه سختی، څوك په خپله رائے مجبورول، حق نه انکار کول، نصیحت نه قبلول، اعراض کول، ځان غوره ګنړل، اوچت والے طلب کول، حبِ جاه، حب ریاست، اودا چه یو کارئے نه وی کړے او دے خوښوی چه په هغے دے دده صفت اوکړے شی، حقوق العباد نه اداء کول، ګاونډی له تکلیف ورکول، مسلمانانو له ضرر ورکول، د الله د لارے نه خلق بندول، غصه کول، معافی نه کول، غصه نه قابو کول، په مظلوم باندے غصه چلول اوداسے نورے بد اخلاقئ دا ټولے د تکبر نه پیدا کیږی۔

او دروغ، رذالت، خیانت، ریاء، مکر، دهوکه، طمع، جزع فزع، بُزدلی، بخل، عجز، سستی، غیر الله ته عاجزی کول، د غوره څیز بدله کښے ادنیٰ څیز اخستل، د الله ذکر او د هغه محبت پریخودل او په مخلوق باندے راضی کیدل، د خوراك څکاك، خوب او جماع اهتمام کول، خوش طبیعتی، دنیا سره محبت کول، آخرت هیرول، معمولی څیزونو باندے جنګ جګړے کول، معمولی څیز منع کول، د عبادت او علم اهتمام نه کول، په دنیا کښے یو بل نه مخکښے کیدل، زنا او بے حیائی کول، حرام خوړل، وختونه ضائع کول، قناعت نه کول، لا یعنی (بے فائدے) څیزونو کښے مشغولیدل، د الله او د توبے نه غفلت کول، بد اخلاقی کول، مخلوق نه سوال کول، ګواهی نه اداء کول، د خلقو په عیبونو کښے نظر کول او خپل عیبونه نه لیدل اوداسے بد صفات :

دا ټول د نفس د سپکوالی، ذلت او د همت د کمزورئ نه پیدا کیږی۔

او غوره او اعلیٰ اخلاق دادی : صبر، بهادری، عدل، ځوان مردی، پاکدامنی، بدو صفاتو نه ځان ساتنه، سَخا، برد باری، عفو، اعراض، تکلیف برداشت کول، ایثار او قربانی، رذیل صنعتونو نه خپل نفس په عزت کښے ساتل، تواضع، قناعت، رشتیا، ښائسته

اخلاق، د ښیګړے بدله په همدغه ښیګړے یا ددے نه په غوره ورکول۔ د خلقو د عیبونو نه غفلت اختیارول، لایعنی کارونو کښے نه لګیدل، د رذیل اخلاقو نه زړه سالم ساتل، آخرت طلب کول او په هغے کښے د یو بل نه مخکښے والے کول، د الله عز وجل په قرب او نزدیکت کښے کوشش کول، علوم شرعیه زده کول او یادول، جهاد کول، الله طرفته د مالی او شهرت د طمعے نه بغیر په اخلاص سره دعوت ورکول، تقویٰ سره محبت کول، په عمل صالح کښے کوشش کول، نیکیو طرفته مسابقت او تادی کول او په دے کښے د خلقو نه د اوچتوالی کوشش کول لکه څنګه چه د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – عادت مبارك وو چه په هغوئ کښے فقیرانو اووئیل: (مالدارانو ټول اجرونه او ثوابونه حاصل کړل)، د شعائر الله تعظیم کول، ښه ادب اختیارول، حقوق اداء کول، عامو مسلمانانو دپاره خیر خواهی کول، او خصوصا الله عز وجل او د هغه رسول ﷺ دپاره خیر کواهی کول، سوال نه ځان بچ ساتل، بخل نه وړاندے کیدل، الله طرفته توبه ویستل، د الله په نعمتونو باندے حمد وثناء وئیل، توکل کول، حیاء کول، د الله تعالیٰ ډیر ذکر کول، د الله د عذاب نه ویریدل، امانتونه اداء کول، د ګواهئ اهتمام کول، د ملامتیا د ملامتګر نه نه ویریدل، مؤمنانو سره محبت او کافرانو سره دشمنی ساتل، د نفس په تزکیه کښے مجاهده کول اوداسے ښه صفات: دا ټول د اوچت همت او خشوع نه پیدا کیږی۔

نو هر مسلمان له خشوع او اوچت همت اختیارول پکار دی۔ دے وجے نه قرآن کریم د مؤمنانو نارینه او زنانه ؤ داسے صفت راغلے دے:

﴿ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ ﴾ [الاحزاب: ۳۵]

(او عاجزی کونکی نارینه او عاجزی کونکے زنانه)۔

او خشوع یواځے مونځ پورے خاص نه ده څنګه چه د بعضے خلقو خیال دے، بلکه دا د ایمان د شعبو نه یوه شعبه ده۔ اے الله! په مذکوره خبرو باندے مونږ له د عمل کول توفیق راکړے، آمین!

۵ - فائده

هغه کوم ایمان دے چه بنده له بیخی نجات ورکوی، او الله تعالیٰ ئے قبلوی، او هغه فائدے پیدا کوی کوم چه تاسو ذکر کړے؟

نو د حقیقی ایمان دپاره یو څو تعبیرات دی، ته په هغے کښے سوچ اوکړه کیدے شی چه ته هغه حاصل کړے۔

۱ - په زړه سره کلك تصدیق کول، په ژبه اقرار کول، او بدن د الله په طاعت کښے لګول۔ او په دے درے کارونو کښے د خلقو په خپل مینځ کښے ډیر لوئے فرق دے، ځینے په دوئ کښے لکه د صدیق ؓ غوندے وی، او ځینے لکه د مؤمنِ ضعیف غوندے وی۔

۲ - یا د ایمان په ټولو شعبو باندے راتګ کول، کومے شعبے چه په (الدین الخالص :۱) او ددے کتاب په دویم جلد کښے ذکر شوی دی۔

۳ - یا دا عبارت دے د قلبی کیفیت نه یعنی الله رښتینے ګڼړل، هغه نه تسلیمیدل، هغه نه رضا کیدل، په هغه باندے توکل کول، هغه طرفته انابت کول، هغه ته عاجزی کول، هغه نه خوف او خشیت کول، هغه ته ځان ذلیله کول، د هغه د دروازے په درشل باندے خپل زړه قائم ساتل، هغه باندے سرور او خوشحالی کول، هغه باندے تر اوتازه ګی حاصلول، هغه طرفته تختیدل، هغه دپاره صبر کول، هغه سره سخت محبت کول، هغه دپاره محبت کول، د هغه باره کښے محبت کول، هغه دپاره دشمنی کول، د هغه ذکر او تسبیح کول۔

او دا کیفیت په انسان کښے د ژبے او اندامونو اعمال او اوچت اخلاق پیدا کوی۔ او دا کیفیت همیشه دپاره زیاتیږی او کمیږی، داوجه ده چه صحابه کرامؓ به په دے باندے ویریدل او ددے د خړوالی په وخت کښے به ئے خپل ځانونه د منافقانو نه شمارل۔

اکثر خلق ددے کیفیت نه غافله دی، او په نورو څیزونو کښے سرګردانه دی، او د مزیدار ژوند نه اعراض کونکی دی، او دیته التفات نه کوی۔ په دے عالم کښے چه څه دی د هغے خوند ئے اونه څکلو، بلکه ډیر مزیدار، دولی اوښائسته شے ترے فوت شوے دے۔ والله المستعان۔

نو اے عقلمنده! لږ اوګوره چه ته په کوم میدان کښے ئے، او ستا زړه ولے د ایمان او محبت

په باغ كښې د ښائسته ګلانو نه او د عمل صالح او د قرآن په باغچو كښې د خوشبويانو نه د غفلت په خوب كښې ډوب دے ؟

دا خبرے ما د كتاب او سنت نه مستنبط كړې دي.

علامه ابن القيم رحمه الله په الفوائد ص : ١٨٣، كښې فرمائي :

((او هرچه ايمان دے نو اكثر يا ټول خلق ددے دعویٰ لري ﴿ وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ [يوسف: ١٠٣]

(او اكثر خلق اګركه ته د دوئ په ايمان باندے حرص اوكړے خو دوئ مؤمنان نه دي). د اكثرو مؤمنانو سره صرف مجمل ايمان دے. او هرچه تفصيلي ايمان دے په هغه څه چه په هغې باندے رسول الله ﷺ راتګ كړے دے د هغے معرفت، علم او اقرار كول او هغے سره محبت ساتل ، دغه شان د هغے ضد او كراهيت او بغض پيژندل : نو دا په امت كښې د خواصو او رسول الله ﷺ سره د خصوصي تعلق لرونكو لكه د ابو بكر صديق رضی الله عنه او د هغه د ملګرو ايمان دے.

١ - د ډيرو خلقو ايمان صرف دا وي چه په وجود د صانع باندے اقرار كوي او په دے چه صرف هغه زمكه او آسمانونه او ددے دواړو ترمينځه څيزونه پيدا كړي دي، حال دا چه ددے نه بُت پرستو قريشو وغيره ؤ هم انكار نه دے كړے.

٢ - او د بعضے نورو خلقو په نيز ايمان صرف په شهادتينو باندے تكلم كول دي، برابره خبره ده كه عمل ورسره وي اوكه نه وي، او برابره ده چه د زړه تصديق ورسره موافق وي اوكه ترے مخالف وي.

٣ - د بعضے خلقو په نيز ايمان صرف په دے خبره باندے تصديق قلبي ته وائي چه الله تعالىٰ د زمكے او آسمانونو خالق دے، او محمد ﷺ د الله بنده او رسول دے، اګركه په ژبه باندے اقرار اونه كړي او هيڅ عمل هم اونه كړي، بلكه اګركه الله او رسول ته (نعوذ بالله) كنځل هم كوي او هره غټه ګناه كوي خو چه د الله وحدانيت او د رسول الله ﷺ د نبوت اعتقاد لري نو دا مؤمن دے.

٤ - او د بعضے خلقو په نيز ايمان ديته وائي چه د الله تبارك وتعالىٰ د صفاتو نه انكار اوكړے شي .

٥ - او د بعضے خلقو په نيز ايمان ديته وائي چه د خپل ذوق او وجد په حكم سره د الله عبادت اوكړے شي.

٦ - او د بعضے خلقو په نیز ایمان هر هغه څیز ته وائی چه دوئ پرے اتفاقی طور سره خپل پلار نیکه موندلی وی هرشے چه وی۔

٧ - او د بعضے خلقو په نیز ایمان د ښائسته اخلاقو، ښے معاملے، فراخ تندئ، هرچا باندے د ښه گمان کولو او خلق - سره د غفلتونو نه - د پریخودلو نوم دے۔

٨ - او د بعضے خلقو په نیز ایمان دنیا او د هغے تعلقات پریخودل، زړه ددے نه فارغول او په دے کښے د بے رغبتئ نوم دے۔ نو کله چه دوئ داسے سړے اووینی نو دوئ ئے د ایمان والو سردار گنړی، اگرکه هغه په علم او عمل دواړو کښے د ایمان نه خارج وی۔

دے ټولو د ایمان حقیقت نه دے پیژندلے))۔ (ملخصًا)

بیا روسته فرمائی :

٩ - بلکه ایمان ددے هرڅه نه اخوا دے۔ یعنی دا حقیقتِ مرکبه دے ددے نه چه څه شے رسول الله ﷺ راوړے دے هغه په علم سره اوپیژندلے شی، په زړه سره د هغے تصدیق اوشی، په ژبے سره د هغے اقرار اوکړے شی، په محبت او عاجزئ سره هغه قبول کړے شی، په ظاهر او باطن کښے په هغے عمل اوکړے شی، دا نافذ کړے شی، او دے طرفته څومره چه کیدے شی دعوت ورکړے شی۔ او ددے کمال په دے سره دے چه د الله دپاره خلقو سره محبت او د هغه دپاره خلقو سره بغض اوکړے شی، الله دپاره ورکړه او الله دپاره منع اوکړے شی، اودا عقیده جوړه شی چه یواځے الله دده اله او معبود دے۔ او دیته لاره داده چه یواځے د رسول الله ﷺ په ظاهر او باطن کښے متابعت اوکړے شی، او د زړه سترگے د الله او رسول نه علاوه بل چاته د کتلو نه بندے کړے شی۔ وبالله التوفیق۔

★★★★★★★

٦ - قیمتي فائده

کله چه ستا زړه روستو ددے نه چه نرم وو سخت شو، او ستا خشوع روسته ددے نه چه ډیره وه کمه شوه، او ستا د عبادت خوند روسته ددے نه چه زیات وو کمزورے شو، او ستا د زړه رڼرا روسته ددے نه چه پړقیدونکے ځلیدونکے وه په مړه کیدو شوه، نو په دے حالاتو کښے ته د الله عز وجل د رحمت نه مه نا امیده کیږه، بلکه ددے بیماریانو علاج اوکړه۔ ځکه الله عز وجل ستا حالت په یوه طریقه باندے همیشه دپاره نه پریدی، ددے ډیرے وجے دی :

١ - دے دپاره چه ستا تضرع او عاجزی هغه ته همیشه وی۔

٢ - ته په مجاهدے کولو باندے مکلف ئے۔

٣ - زړه په داسے طریقه پیدا شوے دے چه دا آوړی راوړی چه په دے کښے د الله عز وجل پوره حکمت وی۔

٤ - د گناهونو د ډیر والی په وجه دا کیږی۔

٥ - د غفلت او په مخلوق سره د مشغولیدو په وجه دا کیږی۔

٦ - په دے کښے ډیر اثر د خواهشاتو هم وی۔

اوکیدے شی چه ددے دپاره نور څه اسباب وی چه په هغے باندے مونږ ته علم نه وی۔ ولے چه د الله په هر څه کښے ډیر حکمتونه وی۔

نو یاد لرل پکار دی چه ستا زړه به خپل اولنی حالت او مخکنی سیرت طرفته راگرځی بلکه د هغے نه به ډیر غوره او بهتر وی هر کله چه ته د هغے ښه علاج اوکړے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ یُحۡیِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا قَدۡ بَیَّنَّا لَکُمُ الۡاٰیٰتِ لَعَلَّکُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴾ [الحدید: ١٧]

(پوهه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ زمکه روسته د اوچ والی ددے نه ژوندئ کوی، په تحقیق سره مونږ تاسو دپاره نښے ښکارہ ښکاره بیان کړی چه تاسو د عقل نه کار واخلئ)۔

دا خبره الله هغه وخت ذکر کړه کله ئے چه ددے نه مخکښے د مؤمنانو د زړونو د سختئ او ددے نه د منع کولو تذکره اوفرمائیله۔ نو دے کښے دیته اشاره ده چه د زړه مړه او سخته زمکه به د الله د رحمت د باران په چپو باندے بیرته راژوندئ شی او په هغے کښے به قسما قسم بوټی راژټو کیږی او میوه دارے اونے او پړقیدونکی گلان او پاکیزه خوشبویانے به په

کښې راز رغونې شي، پس ددې نه چه دا زمکه شاړه او برباده وه۔ دې خبرې ته امام قرطبیؒ هم اشاره کړیده۔

۱ – نو ددې علاج دادې چه ته الله عز وجل ته د ټولو ظاهري او باطني ګناهونو نه توبه اوباسې، او هره ورځ سل ځله بلکه ددې نه زیات استغفار غواړې۔ لکه رسول الله ﷺ دا کار کولو حال دا چه هغه سید المتقین وو او د هغه زړه د ټول مخلوقاتو د زړونو نه زیات پاکیزه او صفا وو۔ هغه فرمائي: (زما په زړه باندې چه کله څه غبار راشي نو زه د الله نه سل ځله استغفار غواړم)۔(مسلم بروایتِ اغر المزنی رضی اللہ عنہ)

نو په دې کښې بشارت او اشارت دې دې خبرې ته چه کدورات قلبیه په صحیح استغفار کولو سره ختمیږي، اودا چه دا سل ځله وي خو په کامله توجه او ډیر زیات انابت سره۔ نو کله چه ته د استغفار خوند بیاموم نو کیدې شي چه بیاته په دې نور کښې بل هیڅ شي ته محتاج نشې ان شاء الله۔

نو په مذکوره حدیث کښې علاج او اتباع او ستا د مرض شفاء هر څه دي، نو اوګوره د الله شرعې ته چه څومره کامله ده! او زمونږ د نبي کریم ﷺ سنت څه ډیر ښائسته دې! الله دې زمونږ د طرف نه هغه ته خیر کثیر ورکړي!

۲ – دویم دا چه: ته د الله د کتاب تلاوت په یو خالي ځائے کښې په کامل طهارت سره، په پاکو جامو، په خوشبوئے لګولو، په ژور سوچ او په غمژن آواز سره اوکړې، دا واقعي چه د زړونو د رنړا کولو او ژوندي کولو او نرمولو دپاره یو غټ سبب دې، ډیر کم خلق په دې سره علاج کوي۔ الله تعالیٰ قرآن کریم ته په بے شماره ځایونو کښې شفاء وئیلے ده : ﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ﴾ [یونس: ۵۷]

که ستا په سینه کښې د زنګ یا خړوالي یا تیارې او تنګئ غوندې مرضونه وي نو قرآن کریم د هغې دپاره د شفاء بهتره ذریعه ده، نو ته دا ولې نه حاصلوې؟

کله چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې د زړه د سختئ تذکره اوفرمائیله نو د هغې نه پس فرمائي: ﴿اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ﴾ [الزمر: ۲۳]

(الله ښائسته خبرې یعنی کتاب نازل کړې چه آیتونه یو بل سره په تصدیق کښې مشابه دي چه ددې په وجه د هغه خلقو غونې زیګ کیږي چه د هغوئ د خپل رب نه ویریږي بیا

د هغوئ څرمنے نرميږي او زړونه ئے د الله ذکر ته مائله وي، دا د الله هدايت دے چه په دے سره چاته چه اوغواړي هدايت کوي، او چالره چه الله گمراه کړي نو هغه دپاره څوك هدايت کونکے نشته).

نو په دے آيت کريمه ښکاره اشاره ده ديته چه د زړه سختى د الله په کتاب باندے ختميږي لکه په دے خبره د آيت کريمه سياق دلالت کوي.

او د رسول الله ﷺ نه ثابت دى چه هغه فرمائيلى دى : (زه تاته د الله په تقوىٰ سره حکم کوم، ځکه دا د هر شئ سر دے، او ته جهاد لازم اونيسه ځکه چه دا د اسلام رهبانيت دے، او ته د الله ذکر او د قرآن تلاوت لازم اونيسه ځکه چه دا په آسمان کښے ستا دپاره روح او په زمکه کښے ذکر دے).

(اخرجه احمد، الصحيحة :٢/٨٧، ٥٥٥)

او په يو روايت کښے دى (دا ستا دپاره په زمکه او آسمان دواړو کښے نور او رڼا ده).

امام بيهقىؒ په شعب الايمان (٢/٣٥٤) کښے د ابن عمر – رضى الله عنهما – نه مرفوعا نقل کوي چه (بيشکه دا زړونه داسے زنګ نيسى څنګه چه اوسپنه زنګ نيسى. عرض اوکړے شو : يا رسول الله ! دا به په څه شى سره صفا کيږي ؟ وے فرمائيل : په مرګ او قرآن تلاوت سره). (ددے په سند کښے خبرے اتريږيسه دے).

خو کله چه ستا زړه په قرآن سره منوّر نشي نو ددے نه پس به بيا کوم يو شے وي چه ستا زړه روښانه کړي ؟

قرآن نور دے، هدايت دے، رحمت او نعمت دے او د الله هغه مضبوطه رسئ ده چه څوك په دے پورے اونښتلو نو الله ته به ئے اورسوي، او د الله سبحانه وتعالىٰ د مناجات خوند به ورته وراوښکوي، نو ياد ساته چه ته ددے نه غفلت اختيار نه کړے !

٣ – دريم دا چه : څو مره تانه کيدے شى خوش طبيعتى اومزاح پريده، البته مسلمانانو سره په خنده پيشانئ او روند تندى سره ملاويږه.

٤ – څلورم دا چه : د ډيرے خندا او خوشحالئ نه ځان ساته، ځکه دے سره زړه مړ کيږي لکه حديث کښے دى (د ډيرے خندا نه ځان ساته ځکه دا زړه وژنى او د مخ رڼا ختموي).

(اخرجه احمد والترمذى، کما فى المشکاة : ٢/ ٤٤٠)

مفسرينو ذکر کړى دى چه کله په صحابو – رضى الله عنهم – کښے په جنګونو کښے د فتحے او د دشمنانو د ذليله کيدو نه پس مزاح او خندا راښکاره شوه، نو الله تعالىٰ دوئ په

خپل دے قول سره ملامته کړل : ﴿ اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴾

[الحديد: ١٦]

(آيا ايمان والو دپاره دا خبره نزدے نه ده راغلے چه د دوئ زړونه د الله ذکر او هغه چه کوم حق راليږلے دے هغے ته نرم شي، او د هغه خلقو په شان جوړ نشي کوم ته چه مخکښے کتاب ورکړے شوے وو چه په هغوئ باندے زمانه اوګده شوه نو زړونه ئے سخت شو او ډير په دوئ کښے نافرمانه وو)۔

نو په دے کښے اشاره ده چه مزاح او خندا او دا کارونه ډير کول زړه سختوی او د زړه رڼړا ختموی۔ نو کله چه انسان ددے نه اجتناب اوکړی نو کيدے شي چه الله تعالیٰ ورته د زړه رڼړا او خپل اُنس را واپس کړی۔

د خندا او خوش طبيعتئ کولو ډير ضررونه دی چه په دے کتاب کښے په خپل مناسب ځائے کښے ذکر شوی دی۔

۵ – حلال مال د خير ښيګړے په کارونو کښے په لګولو سره زړه ته رڼړا، ژوند او پاکيزګی حاصليږی، لکه په دے باندے ډير آيتونه او بے شماره حديثونه دلالت کوی۔

همدے خبرے ته په سورت کښے حديد د دغه پورته ذکر شوی آيت نه پس په دے آيت کريمه کښے اشاره شوے ده :

﴿ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴾ [الحديد: ١٨]

(بيشکه صدقه کونکی نارينه او صدقه کونکی زنانه او هغه خلق چه الله ته ئے قرضِ حسنه ورکړے دے دوئ دپاره به دا دوچنده کيږی او دوئ دپاره عزتمند اجر دے)۔

او په حديث کښے دی (صدقه ګناه داسے ختموی لکه څنګه چه اور لره اوبه وژنی)۔

أخرجه احمد

صدقه کښے دا کمال الله اچولے دے چه صدقه کونکی ته د خير ښيګړے کارونه آسانوی او د هغے توفيق ورکوی، لکه مخکښے دا خبره تيره شوه۔ او د صدقے کولو ډير زيات فضائل دی۔شايد چه تابه د خپل زړه په روښانه کولو کښے په صدقه ورکولو باندے تجربه کړے وی يا نه ؟

٦ – شپږم دا چه : ته خپل ايمان په هغه اسبابو باندے مضبوط کړے چه هغه مونږ په خپل ځائے کښے ذکرکړی دی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ

الصِّدِّيْقُوْنَ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ﴾ [الحديد: ١٩]

(او هغه خلق چه په الله او د هغه په رسولانو ايمان لري همدوئ صديقين او شهداء دي د خپل رب په نيز، دوئ دپاره د دوئ اجر او رڼا ده)۔

٧ – اووم دا چه : په دے فاني كور كښے خپل رغبت او مزے كمے كړے او په دے كښے بے رغبته اوسے، ځكه په دنيا كښے بے رغبتي راحت او رڼا او د غمونو نه زړه خلاصول دي د الله په توفيق سره۔ او په زړونو كښے چه څه خِيرى او خروالي پيدا كيږي نو ددے واحد سبب د دنيا محبت دے۔ لكه عيسىٰ عليه السلام فرمائي : (د دنيا محبت د هرے گناه جرړه ده)۔ دے كښے سوچ اوكړه !

دا وجه ده چه الله تعالىٰ مونږ ته په دے كښے د بے رغبتئ حكم فرمائيلے لكه فرمائي : ﴿اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌ ۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ﴾. (الحديد : ٢٠)

(پو هه شئ چه دنيوي ژوند خو صرف لوبے، مشغله، ډول ډال او خپلو كښے په يو بل باندے فخر كول او په مالونو او اولاد كښے يو بل باندے ډير والے كول دي، لكه د باران پشان چه ددے په وجه راختونكي بوټي زميندار لره خوشحاله كړي بيا اوچ شي چه ته به ئے زيړ وينے بيا ذره ذره شي)۔

او دا تجربه شوے خبره ده چه زُهد زړه روښانه كوي او آخرت او څه چه په آخرت كښے پكار راځي هغے دپاره ئے خالي كوي۔

٨ – آتم دا چه : ته په نيكيو او په هر هغه څيز كښے مخكښے والے اوكړے كوم چه تا الله ته نزدے كوي ﴿ سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ .. الآية ﴾ [الحديد: ٢١]

(د يو بل نه وړاندے والے اوكړئ د خپل رب مغفرت او جنت طرفته)۔

٩ – تقوىٰ او ايمان بالرسول ﷺ په دے ټولو كښے ضروري څيز دے : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ﴾ [الحديد: ٢٨]

(اے ايمان والو ! دالله نه ويره اوكړئ او د هغه په رسول باندے ايمان اولرئ تاسو ته به د خپل رحمت نه دوه اندى دركړي او تاسو له به يو داسے رڼا دركړي چه په هغے سره به ژوند تيروئ او بخنه به درته اوكړي)۔

دا ټول اسباب د سورت الحديد نه اخستلے شوي دي۔

١٠ – لسم دا چه : ته ټول گناهونه پريدے، خاصكر حرام خوړل لكه مردارے، مشركانو

ذبح کړې شاروې، سود او د نشائې څیزونو روپئ پیسے۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ أَوَ مَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ﴾ [الانعام: ١٢٢]

(آیا هغه څوك چه مړ وې او مونږ هغه لره ژوندے کړو او هغه دپاره داسے رنړا ورکړو چه په هغې سره په خلقو کښې روان وی (ژوند تیروی) دا د هغه چا پشان کیدے شی چه په تیارو کښې دننه پروت وی هیڅ کله ترے راوتونکے نه وی)۔

کله چه الله سبحانه وتعالیٰ د مُردارے اوْد هر هغه حیوان خوړلو نه منع اوفرمائیله چه په هغې باندے د الله نوم نه وی یاد شوے، نو ددے نه پس دغه پورتنے آیت وارد شو۔ چه په دے کښې اشاره ده دیته چه د زړه ژوند او روښانتیا په دے باندے حاصلیږی۔

۱۱ - او کیدے شی چه تا د نظر په غلط استعمالولو او په شهواتو پوره کولو کښې فراخی پیدا کړے وی چه ددے په وجه دے زړه خړ شوے دے۔ نو که ته دا څیزونه پریدے نو د خپل زړه ژوند او رنړا به اووینے، ځکه نظر ښکته ساتل زړه ته قوت، روښانتیا او خوشحالی ورکوی۔ همدا وجه ده چه الله تعالیٰ په سورت نور کښې چه کله د فحشاء نه منع اوفرمائیله او ددے دپاره ئے اصول او قواعد مقرر کړل نو ددے نه روستو فرمائی :

﴿ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴾ [نور: ٣٥]

(الله د آسمانو او زمکے رنړا کونکے دے، د هغه د رنړا مثال (په زړه د مؤمن کښې) د هغه طاقچے په شان دے چه په هغې کښې ډیوه وی، ډیوه په شیشه کښې دننه وی، شیشه داسے (صفا) وی لکه پړقیدونکے ستورے چه د زیتون د مبارکے وُنے نه بلیږی، چه نه شرقی ده اونه غربی، نزدے ده چه ددے تیل رنړا اوکړی اګرکه اور ورته اونه رسی، دا د رنړا دپاسه رنړا ده، الله تعالیٰ چه چالره اوغواړی خپلے رنړا طرفته د هغه رهنمائی اوکړی، او بیانوی الله مثالونه دپاره د خلقو او الله په هر شئ عالم دے)۔

نو په دے کښې اشاره ده دیته چه څوك فحش کارونه پریدی او شرعی حجاب اختیار کړی او خپل نظر ښکته ساتی او د خپل عورت حفاظت کوی، نو الله عز وجل ده په زړه کښې یو عجیب نور او رنړا پیدا کوی، او ده په زړه کښې یوه بله ډیوه بلوی۔

دا واقعي خبره ده ځوك چه په دې باندې تجربه اوكړي نو د الله دا خبره به بيامو مي.

١٢ - ددې بل علاج دادې چه دا دُعاء ډيره ډيره غواړه : ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ﴾ [ال عمران: ٨]

(اې زمونږ ربه ! زمونږ زړونه د هدايت نه پس مه کږوه او مونږ له د خپل طرف نه رحمت را كړه، بيشكه چه ته ډير زيات وركونكے ئې).

دا رنګه دا دعاء هم غواړه :

اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ، يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ

(اې الله ! اې د زړونو اړونكيه راړونكيه ! زمونږ زړونه په خپل طاعت باندې راواړوه ! اې د زړونو اړونكيه ! زما زړه په خپل دين باندې مضبوط كړه).

دارنګ ددې پشان نورې دعاء ګانې هم غواړه خاصكر د قبليدو په وختونو كښې، ځكه دُعاء د مؤمن وسله ده، او د دُعاء غوښتلو باوجود ځوك نه هلاكيږي۔ او په خلقو كښې د ټولو نه زيات كمزورې او عاجز هغه ځوك دې چه د دُعاء نه عاجز وي، لكه دا په يو صحيح حديث كښې راغلي دي۔

بلكه رسول الله ﷺ دې معنیٰ ته په خپل دې قول سره اشاره كړيده چه : (بيشكه په تاسو كښې د يو كس په ډډ كښې ايمان داسې زړيږي لكه ځنګه چه جامه زړيږي، نو د الله نه غواړئ چه ستاسو په زړونو كښې ايمان بيا تازه كړي)۔ (كما في الصحيحة)

نو رسول الله ﷺ مونږ ته د دُعاء حكم فرمائيلے دے هركله چه زمونږ زړونه فاسد او سخت شي او رنړا ئے زائله شي او خړ شي۔ دے وجے نه تاله پكار دي چه د دُعاء نه ستړے نشے ځكه چه ته به په دے كښې خامخا د خپل مرض شِفاء بيامو مے ان شاء الله۔

دا ټول علاجونه هله فائده وركوي هركله چه ته د خپل زړه اولنے كيفيت غواړے او هغے سره محبت كوے ! ليكن كله چه ته دغه اولنے كيفيت نه غواړے، يا دے طرفته دے شوق نه كيږي، يا ديته خپل حاجت نه محسوسوے، نو بيا تاله هيڅ شے فائده نه دركوي او نه په دغه مذكوره خبرو كښې ستا علاج شته۔

١٣ - په دے ټولو علاجونو كښې ډير غوره او قوي علاج مجاهده كول دي :

او هغه دا چه ته څه داسے وخت الله عز وجل دپاره اوباسے چه ستا زړه ئے نه غواړي او په دغه وختونو كښې ته د الله عز وجل ذكر كوے، لكه د پيشمني وخت، د سَحر مانځه نه پس او د مازيګر مانځه نه پس۔ يا دا چه د يو ورځ دوه ورځو دپاره صحرا ته اووځے، لكه ځنګه

چه به رسول الله ﷺ کله نا کله ډیرکو طرفته وتلو، لکه امام بخاریؒ په الأدب المفرد کښې پهٔ صحیح سند سره ذکرکړی دی۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾

[العنکبوت: ٦٩]

(او کوم خلق چه زمونږ په باره کښې کوشش کوی نو خامخا به مونږ هغوئ ته خپلې لارې اوښایو او یقینا الله د نیك عمله خلقو ملګرې دې)۔

مجاهده عامه ده د خیر او ښیګړې په ټولو اعمالو کښې جاری کیږی، صرف قتال پورې خاص نه ده۔

او دا داسې فائده ده چه ته به ئې ددې کتاب نه علاوه بل ځائې مونده نه کړې۔ والحمد لله علی توفیقه !

★★★★★★★

۷ - فائده

مؤمن به د الله د مکر او تدبیر نه څنګه یریږی ؟

او ددې صورت او قِسمونه به څه وی ؟

نـومـونـږ وایـو : د الله تـعـالیٰ د مکر نه په امن کیدل لویه ګناه او د کافرانو او فاجرانو عمل دے۔ ځوك چه دا کار اوکړی نو هغه تاوانی دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ [الاعراف: ۹۹]

(آیا دویٔ د الله د مـکـر نـه پـه امن دی حال دا چه د الله د مکر نه نه په امن کښې کیږی مګر تاوانیان خلق)۔

★ د الله مکر نه یریدل په څو قِسمه دی :

۱ - اول : خـوف د مـؤمـن دے د خپـلـو ګنا هونو او خطاګانو نه چه هسې نه دده رب ده لره اونه شرموی چه بد بخته به جوړ شی۔

۲ - دویـم : دا چـه د مؤمن نه دده د بدو افعالو د وجې نه عذاب روستو کړی، او ددے په وجه مـؤمـن په دهوکه کښې پریوځی او ګنا هونو سره آموخته شی، او بیا د غفلت او ناخبریٔ په حالت کښې په ده عذاب راشی۔

۳ - دریـم : دا چـه د الله د ذکـر نـه غـافـل شـی او الله هیـر کړی، نو الله تعالیٰ هم دده نه ځان راکاږی او ده لره هیر کړی، چه بیا ده ته فتنې او مصیبتونه په تادیٔ باندے راتلل شروع شی، نو ددے بنده په حق کښې د الله مکر داشو چه ده لره الله پریښودلو۔

٤ - څـلورم دا چه : الله تعالیٰ ته د هغه ګنا هونو علم وی کوم چه بنده ته خپله نه وی، دغه شـان الله تـه د بـنـده هـغـه عیبونه معلوم وی کوم چه بنده په خپل ځان کښې نه پیژنی، دے وجې نه ده ته د الله مکر دداسې ځائے نه راشی چه ده ته هیڅ شعور هم اونشی۔

۵ - پـنځم دا چه : الله په بندهٔ باندے په هغـه څه امتحان او ابتلاء اوکړی چه د هغې صبر په بنده کښې نه وی نو په دے سره په فتنه کښې پریوځی او دیته د الله مکر وائی۔

(اوګوره : الفوائد للامام ابن القیم رحمه الله ص : ۲۸۵)

٦ - شپـږم دا چـه : پـه انسان باندے نعمتونه ډیر شی او دا ئے شکر نه کوی او د ګنا هونونه

هم پرهيز نه كوي، نو دا هم مكر دے۔
رسول الله ﷺ فرمائي : ﴿كله چه تاسو اوليدلو چه الله بنده له ئے د بنده محبوب شيان وركول – په داسے حال كښے چه بنده د الله په نافرمانئ كښے بوخت دے – نو دا د الله د طرفنه استدراج دے (يعني په مزه مزه رانيول دي) بيا ئے دا آيت اولوستلو : ﴿ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى اِذَا فَرِحُوْا بِمَا اُوْتُوْا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ﴾

[الانعام: ٤٤]

(نو هركله چه دوئ هغه څه هير كړل چه دوئ ته په هغے باندے نصيحت كيدلے شو نو مونږ په دوئ باندے د هر شئ دروازے راپرانستے تردے چه دوئ په هغه څه خوشحاله شو چه دوئ ته وركړے شو نو سمدست مونږ دوئ را اونيول نو ناګهانه دوئ نااميده وو)۔
حسن بصريؒ فرمائي : چاباندے چه الله فراخي راولي او دا اونه ګنړي چه ده باندے به مكر شوے وي نو ددے سړي عقل نشته۔
په يو اثر كښے راځي چه : كله په ابليس باندے مكر اوكړے شو نو جبرئيل او ميكائيل اوژړل، نو الله عز وجل دواړو ته اوفرمائيل : ولے ژاړئ ؟ هغوئ وئيلے : اے زمونږ ربه ! مونږ هم ستا د مكر نه په امن نه يو، نو الله تعالىٰ اوفرمائيل : دغه شان جوړ شئ، زما د مكر نه مه په امن كيږئ۔
دا وجه ده چه رسول الله ﷺ به دا دُعاء ډيره غوښتله (يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ.. الحديث)۔
(د حديث الفاظ سره د ترجمے نه تير شو)۔
د الله د مكر نه تالره دا خبره هم ويروي چه ته د رسول الله ﷺ دا وينا ياده ساتے (يقينا په تاسو كښے يو كس به د اهلِ جنت د عمل پشان عمل كوي تردے چه دده او د جنت ترمينځه به صرف د يو ګز هومره فاصله پاتے شي نو په ده باندے به ليكل رامخكښے شي او د جهنميانو غونته عمل به اوكړي نو جهنم ته به ننوځي)۔ (متفق عليه)
او په هغه واقعه كښے سوچ اوكړه چه الله مونږ ته د بني اسرائيلو د يو مُلا – بلعام بن باعور – په باره كښے بيان كړے ده چه هغه باندے الله مكر اوكړو او هغه د باقي په مقابله كښے په فاني باندے راضي شو۔ دارنګ بعضے زاهدان (عابدان) د يوے ښځے وغيره معمولي شيانو په وجه نصارئ جوړ شول – والعياذ بالله !
علماء فرمائي : كله چه هدايت اړولے كيږي، استقامت د هغه په مشيئت پورے موقوف دے، عافيت غائب دے او د الله اراده معلومه نه ده او نه د چا په وس كښے ده، نو بيا په خپل

ایمان او نیکو اعمالو باندے غرور مه کوه، ځکه چه دا خالص د الله سبحانه وتعالیٰ په فضل او مهربانئ سره دی، اوکله ئے تانه اخستلے هم شی، چه بیابه ته د پښیمانتیا په کنده کښے پریوځے او پښیمانتیا به درته هیڅ فائده درنه کړی۔

(اوګوره : الزواجر عن الكبائر ۱/۸۷)

۷ - دغه شان مؤمن سړے به په خپل عمل صالح باندے هم خوف کوی، کیدے شی چه ده د هغے شروط او آداب نه وی اداء کړی او قبول شوے نه وی۔

﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴾ [المؤمنون: ٦٠]

(او مؤمنان هغه خلق دی چه څه ورکول غواړی هغه ورکوی او زړونه ئے ویریدونکی وی ددے نه چه دوئ خپل رب طرفته واپس کیدونکی دی)۔

★★★★★★★

۸ - فائده : چه ددے مخکښے فائدے سره متعلق ده

کوم خلق چه د الله د ذات، او د هغه د اسماء او صفاتو نه جاهلان دي او د هغے د حقائقو نه ناخبره دي، هغوئ غير شعوري طور سره د الله بندګانو ته الله مبغوض جوړوي او د هغه نه خلق متنفر کوي، او په هغوئ باندے د الله د محبت او طاعت لار بندوي۔ نو دوئ کمزورو مسلمانانو ته وائي : الله تعالىٰ سره هيڅ طاعت فائده نه ورکوي اګرکه هر څومره اوګد شي او بنده په هغے کښے هر څومره کوشش اوکړي او د هغے په ظاهر او باطن باندے راتګ اوکړي۔ بلکه بنده هيڅ کله د الله د مکر او تدبير نه بے غمه کيدے نشي۔ او الله فرمانبردار او متقي د محراب نه د شرابو کوټے طرفته، او د توحيد او سنت نه شرك او تهنګ تکور طرفته راکاږي، او دده زړه د خالص ايمان نه کفر طرفته اړوي۔

اودئ باره کښے دوئ په دوه څيزونو سره استدلال کوي، يو هغه صحيح آثار چه دوئ د هغے په مطلب باندے پوهه نشو، دويم په هغه باطل آثارو باندے کوم چه رسول الله ﷺ نه دي وئيلي۔ او د دوئ دا خيال دے چه ګنے همدا حقيقي توحيد دے۔ لکه دوئ د الله دا قول تلاوت کوي : ﴿لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ﴾ [انبياء: ۲۳]

(الله چه څه کوي نو د هغه نه د هغے باره کښے تپوس نشي کولے او د دوئ نه به تپوس کولے شي)۔

دارنګ دا قول د الله تعالىٰ لولي:

﴿أَفَأَمِنُوْا مَكْرَ اللهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُوْنَ﴾ [الاعراف: ۹۹]

(آيا دوئ د الله د تدبير نه بے غمه دي نو د الله د تدبير نه نه بے غمه کيږي مګر تاواني خلق)۔

دارنګ دا قول د الله تعالىٰ : ﴿وَاعْلَمُوْا أَنَّ اللهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ﴾ [انفال: ۲٤]

(پوهه شئ چه الله د سړي او د هغه د زړه ترمينځه رکاوټ واقع کيږي يعني پرده اچوي)۔

او دوئ په دليل کښے د ابليس مثال ورکوي چه دده ته دا معرفت حاصل وو او دا د ملائکو طاووس وو، او په دوئ کښے ډير عابد شخص وو، ليکن تقدير په دده باندے جنايت اوکړو، او د الله فيصلے په دده حمله اوکړه، نو دده پاك نفس نه ئے خبيث نفس جوړ کړو۔

تردے چه امام غزالي وغيره وئيلي دي چه : تاله پکار دي چه ته د الله نه داسے خوف کوے

څنګه چه د هغه زمري نه خوف کوے چه هغه پتا باندے بغير ستا د څه قصور اوګناه نه حمله کوي۔

دوئ په دے باره کښے د رسول الله ﷺ په دے ارشاد باندے استدلال کوي : ((بيشکه په تاسو کښے به يوتن د جنت والو د عمل پشان عمل کوي تردے چه دده او د هغے ترمينځه به صرف د يو ګز هومره فاصله پاتے شي چه په ده باندے به دده ليك راوړاندے شي او دے به د اور والو د عمل پشان عمل اوکړي او هغے ته به داخل شي))۔ (متفق عليه)

او د دوئ دا خبره د دوئ په يو باطله عقيده باندے بناء ده او هغه دا چه دوئ د الله په کارونو کښے د حکمت، تعليل او اسبابو نه انکار کوي۔ چه الله د حکمت او سبب د وجے نه يو کار نه کوي۔ بلکه صرف د مشئيت او ارادے د وجے نه ئے کوي چه په هغے کښے هيڅ حکمت او تعليل نه وي۔ دارنګ الله دپاره دا جائز دي چه هغه خپل اهلِ طاعت له عذاب ورکړي او خپلو نافرمانو او دشمنانو ته نعمتونه ورکړي۔

نوکله چه عمل کونکے دا خبره واوري نو نا اميده شي او د الله عز وجل نه نفرت کول شروع کړي او الله مبغوضه اوګڼړي۔

دا د جاهل دوست حالت دے چه دا د عقلمند دشمن نه هم ډير ضرَري دے، ځکه چه دده دا اراده وه چه خلقو ته د الله معرفت او خوف بيان کړي خو هغوئ ته ئے الله مبغوض جوړ کړو۔

ددے مثال دادے چه : يو سړے خپل بچي ته وائي : که ته هرڅومره ښه ليکل کوے او د ادب نه کار اخلے او د خپل استاذ ادب کوے او د هغه نافرماني نه کوے خو هغه کله تاله عذاب درکوي، اوکه ته بے ادبي کوے او هسے وخت تيروے نو هغه ستا اکرام کوي او ځانته دے نزدے کوي۔ نو په دے وخت کښے ماشوم د خپل استاذ نه کله يريږي ؟

دارنګ کله چه ته يو انسان ته وائے : زمونږ د ښار بادشاه د جيل نه غل رانيسي او وزير ترے جوړوي، او نيك عمله رانيسي او جيل ته ئے اچوي۔

نو کله چه دغه انسان ته دا خبره اوکړي نو د دغه بادشاه نه ئے په وحشت او نفرت کښے واچولو، او د هغه محبت ئے دده دزړه نه ختم کړو، او ددغه بادشاه په وعده او دهمکئ باندے ئے بے اعتماده کړو۔

حال دا چه د الله ټول کتابونه خاصکر قرآن او ټول پيغمبران ددے برعکس راغلي دي، نو که چرے ته په خپل دعوت کښے قرآني طريقه باندے روان شے نو په همدے کښے خير او

اصلاح ده۔

الله سبحانه وتعالیٰ خبر ورکړے چه دا د خلقو سره د هغوئ د کړو مطابق معامله کوی او د هغوئ د اعمالو بدله ورکوی، او محسن سړے به د الله سره نه د ظلم نه یریږی، او نه د زیاتی نه، او الله د هیڅ نیك عمله سړی عمل نه ضائع کوی، که د بنده عمل د ذرے هومره هم وی او هغه نیك وی نو الله هغه دوچند کوی او د خپل طرفنه اجر عظیم ورکوی۔

او که د بنده عمل بد وی نو د هغے مطابق یوه جزاء ورکوی، او که خپیمانه شو او توبه او استغفارئے اوکړو، یائے نیکی اوکړه او یا پرے مصائب راغلل نو دے سره هغه رژیږی هم۔

او په نیکئ باندے هم تر لسو چندو پورے ثواب ورکوی، او تر اووه سوو، او ترے شماره چندونو پورے ئے رسوی۔

او همدا الله هغه ذات دے چه د مفسدانو اصلاح ئے کړیده، د معرضینو خلقو زړونه ئے متوجه کړی دی ، گنهگارانو ته ئے د توبے توفیق ورکړیدے ، گمراهانو ته ئے هدایت کړیدے، تباه کیدونکو ته ئے نجات ورکړیدے، مجاهدینو ته ئے تعلیم ورکړیدے، حیرانتیا والو ته ئے لاره خودلے ده، غافلانو ته ئے تنبیه ورکړیده او تریدونکو ته ئے ځائے ورکړیدے۔

او کله چه الله عذاب رالیږلے نو د اهله چه په هغه باندے چا ډیره سخته سرکشی او نافرمانی کړیده۔ او بنده دوئ ته دعوت ورکړیدے چه الله طرفته رجوع او انابت اوکړی او د هغه په ربوبیت او حق باندے بار بار اقرار اوکړی۔

تردے چه د دوئ د قبولیت نه نا امیده شو، او د الله په ربوبیت او وحدانیت باندے ئے اقرار اونه کړو نو بیا الله دوئ لره د دوئ په بعضے کفر او سرکشئ باندے را اونیول، او الله د خپل طرف نه بنده ته عذر کوی او ددے اقرار کوی چه الله سبحانه وتعالیٰ په ده باندے ظلم نه دے کړے بلکه خپله بنده په ځان باندے ظلم کړیدے۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا لِأَصْحٰبِ السَّعِيرِ ﴾ [الملك: ١١]

(نو دوئ په خپلو گناهونو باندے اقرار اوکړو، نو تباهی دے وی خاوندانو د گرم اور والو دپاره)۔

او ځوك ئے چه په دُنیا کښے هلاك کړل نو د هغوئ د طرف نه ئے خبر ورکړیدے چه کله دوئ د الله عذاب محسوس کړو نو دائے اووئیلے : ﴿ قَالُوا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا طٰغِيْنَ ﴾ [القلم: ٣١]

(هائے افسوس ! واقعی چه مونږ وو سرکشه)۔

او هلاك شوی باغ والو اووئیل : ﴿ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴾ [القلم: ٢٩]

(پاکي ده رب زمونږ له بیشکه چه مونږ ظالمان وو)۔
حسن بصریؒ فرمائي : دا خلق اور ته په داسے حال کښے داخل شول چه د الله حمد د دوئ په زړونو کښے وو، دوئ د الله په مقابله کښے هیڅ دلیل او لار بیانه موندله۔
دے وجے نه الله تعالیٰ فرمائیلي دي : ﴿ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ﴾ [الانعام: ٤٥]
(پس د ظالم قوم جرړے پریکړے شوے او الله رب العالمین له حمد وثناده)۔
داجمله د حال په ځائے کښے واقع شویده یعني : د دوئ جرړے په داسے حال کښے پریکړے شوے چه د الله سبحانه وتعالیٰ په دے کار باندے ثناء وئیلے شویده، او د دوئ د جرړو پریکیدل د الله د حمد سره ملګري وو، نو دا داسے پریکول او تباه کول دي چه الله رب العزت په دے باندے ستائیلے شویدے، خپل حکمت، عدل او عذاب لره په خپل هغه ځائے کښے د کیخودلو په وجه چه هغه د هغه ځائے سره مناسب وو۔
نو څوك چه په حقیقتِ حال باندے پو هه شو نو هغه به خامخا وائي : چه عذاب صرف دے ځائے سره لائق وو، او دا ځائے صرف د عذاب سره لائق وو۔
دے وجے نه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو ترمینځه د فیصلے نه روسته او نیك عمله خلق جنت ته د تللو او بدبخته خلق جهنم ته د تللو نه روسته فرمائي : وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَ قِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ [الزمر: ٧٥]
(او فیصله اوشوه د دوئ ترمینځه په حق سره او اووئیلے شو چه ټول صفتونه د الله رب العالمین دپاره دي)۔
((اووئیلے شو)) کښے ئے فاعل حذف کړو، اشاره ده دیته چه ګویاکه ټول کائناتو : الحمد لله رب العالمین اووئیله۔ ځکه چه دوئ د الله حکمت، عدل او مهرباني اولیدله۔
او الله د اور والو په باره کښے فرمائي : ﴿ قِيْلَ ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ ﴾ [الزمر: ٧٢]
(اووئیلے شو چه د جهنم دروازو ته ورننوځئ)۔ ګویاکه ټولو کائناتو داخبره اوکړه، تردے چه د دوئ اندامونو او زمکے او آسمانونو ټولو دا خبره اوکړه۔
او الله سبحانه و تعالیٰ خبر ورکړیدے چه کله خپل دشمنان تباه کوي او خپل اولیاء او دوستانو له نجات ورکوي نو دوئ ټولو ته محض په خپل مشیئت او ارادے سره هلاکت نه شاملوي۔ او څوك چه د الله په لاره کښے مجاهده کوي نو الله د دوئ د هدایت د زیادت ضمانت اخستے دے او دا ئے نه دي وئیلي چه دوئ زه ګمراه کوم او د دوئ سعي او کوشش

بربادوم۔ دغه شان کوم متقیان خلق چه د الله د رضامندئ تالاش کونکی دي د هغوئ د هدایت د زیاتولو ضمانت ئے اخستے دے، او خبرئے ورکړے دے چه د هغه فاسقانو نه علاوه چه د الله لوظونه ماتوی بل څوك نه گمراه کوی۔او هغه څوك گمراه کوی څوك چه گمراهي اختیاروی او د هدایت په مقابله کښې ئے غوره کوی نو بیا الله دده په زړه، غوږونو او سترگو باندے مهر لگوی، دارنگ هغه د هغه چا زړه اړوی څوك چه د هغه په هدایت باندے رضا نه وی او کله چه ورته راشي نو ایمان پرے نه لري بلکه رد کوی ئے نو بیا الله ده له دا عذاب ورکوی چه دده زړه او سترگے التپه کړی، ځکه چه ده هغه شے رد کړو کوم چه ده اوپیژندلو۔

دارنگه الله ددے خبر ورکړیدے چه که هغه په هغه زړونو چه په هغے باندے ئے د گمراهئ فیصله کړیده په هغے کښې چرته خیر لیدلے، نو خامخا به ئے ورته خپل هدایت ورښودلے وے، خو دغه زړونه د الله د کرامت او نعمت دپاره نه ښائیږی نو دے وجے نه ئے گمراه کړل۔

دارنگه الله سبحانه وتعالیٰ د خلقو بهانے او عذرونه ختم کړی دی، او دلائل ئے قائم کړی دی ، او د هدایت اسبابو حاصلولو باندے ئے خلقوله قدرت ورکړیدے، او فرمائیلی ئے دی چه زه د فاسقانو او ظالمانو نه علاوه بل څوك نه گمراه کوم، او د سرکشانو نه علاوه د بل چا په زړونو باندے مهر نه لگوم، او د منافقانو نه علاوه بل څوك د دوئ د کسب په وجه په فتنه کښې نه اچوم، او هغه رَین (زنگ) چه د کافرانو خلقو زړونه ئے پټ کړی دی دا بعینه د دوئ کسب او اعمال دی۔

﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ [المطففين: ١٤]

(هیڅ کله داسے نه ده، بلکه دوئ چه څه کار کوی د هغے په وجه الله د دوئ په زړونو باندے زنگ لگولے دے)۔

او د خپلو دشمنانو (یهودو) باره کښے فرمائي : ﴿ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ ﴾ [النساء: ١٥٥]

(او دوئ وائي : زمونږ زړونه په پردو کښے دی، بلکه الله د دوئ د کفر په وجه په هغے باندے تاپه لگولے ده)۔

دارنگه الله خبر ورکړیدے چه چاته هدایت اوکړی نو بیا ئے نه گمراه کوی تردے چه هغه شے ورته بیان کړی په کوم باندے چه دوئ خپل ځان بچ کولے شی، نو دا د خپلے بدبختئ او خراب طبیعتئ د وجے نه په هدایت باندے گمراهي او په سمے لار باندے کږه لاره غوره

کړي، او د خپل نفس او شيطان اود خپل رب د دشمنئ سره ملګرے وي۔
پاتے شو هغه ((مکر او تدبير)) چه په هغے باندے الله خپل ځان موصوف کړيدے، نو دا د هغه چا جزاء ده چه څوك د هغه د اولياؤ او رسولانو سره مکر او فريب کوي، نو الله د دوئ د بد مکر او فريب بدله په خپل ښه مکر سره کوي۔
او هغه حديث چه په هغے کښے دا راغلي دي چه ((يو سړے به د جنت والو پشان عمل کوي تردے چه دده او د هغے ترمينځه صرف يو ګز پاتے شي ..)) ۔ نو په يو بل روايت کښے ورسره دا هم دي چه ((خلقو ته دده دا عملونه د جنت والو پشان ښکاري))۔
يعنى دده په نيك عمل کښے به يو پټ آفت او باطني مصيبت پروت وي۔ ولے که چرے دده په نيك عمل کښے څه تېګي او آفت نه وے نو الله به دده ايمان نه التېه کولے۔
دغه شان که چرے دا مقبول عمل صالح وے چه الله ئے خوښوي او خوشحاليږي پرے، نو دابه ئے هيڅ کله نه ضائع کولے۔
ليکن په دے کښے داسے فساد وو چه الله ته معلوم وو او بندګانو باندے پټ پاتے وو۔
او هرچه د ابليس معامله ده : نو ده کښے پټ کفر، حسد او تکبر وو چه دا ملائکو ته معلوم نه وو، صرف الله ته معلوم وو، نو کله چه دوئ ته د سجدے حکم اوشو نو د ملائکو په زړونو کښے چه کوم طاعت، انقياد او خشيت وو هغه راښکاره شو او هغوئ په تادئ سره ددے حکم تعميل اوکړو، او د ابليس په زړه کښے چه کوم کفر، حسد او تکبر وو نو هغه راښکاره شو او د سجدے کولو نه ئے انکار او تکبر اوکړو۔ نو په دے کښے د الله سبحانه د طرفنه هيڅ قِسم ظلم نشته ۔
او هرچه يريدل د اولياؤ د الله دي د مکر د الله نه، نو دا حق دي ځکه دوئ سره ويره ده چه چرته د دوئ د ګناهونو او خطاګانو په وجه الله دوئ اونه شرموي او بدبخته نشي، نو د دوئ ويره د خپلو ګناهونو نه ده، او اميد ئے د هغه د رحمت دے۔
نو بنده باندے واجب دي چه په خپل رب باندے ښه ګمان لري۔
علي ﷺ فرمائي : ((هيڅ يو کس دے ويره نه کوي مګر د خپلے ګناه نه، او اميد دے نه ساتي مګر د خپل رب نه))۔
او ددے باوجود مؤمن له مناسب دي چه د الله د مکر او تدبير نه دے نه بے غمه کيږي۔ لکه څنګه چه په مخکينئ فائده کښے بيان شو۔
او توفيق ورکونکے صرف الله دے چه د هغه نه سيوا بل رب نشته۔

۹- فائده

د عالم د گمراه کیدلو اسباب

دَ عالِم د گمراه کیدلو درے اسباب دی :

۱ - **فاسقانو** خلقو سره، یا هغه چاسره مشابهت کول چه د خپل دین پرواه نه کوی، لکه بعضے هغه عوام چه په خپلو خبرو اترو، خوراك څښناك، حرکت او سکون، ناسته پاسته کښے د الله تعالیٰ د حدودو لحاظ نه ساتی. نو عالم د دوئ سره ځان مشابه کړی او د دوئ پشان شی او د عِلم او تقویٰ د لباس نه ځان اوباسی. ځکه شرعی علم او په دے عمل کول دا یو ښائسته لباس دے چه ددے نه سیوا بل هیڅ ښائسته لباس نشته. لکه عثمان رضی الله عنه د تقویٰ د لباس معنیٰ په ښائستبه وضع رفع سره کړیده.

او عمر فاروق ﷺ فرمائی : ((علم زده کوئ او د علم دپاره سکینه او وقار زده کوئ)).

(اخلاق الراوی للخطیب : ۱/۹۳)

ابن مسعود ﷺ فرمائی : ((د قرآن حامِل دپاره پکار دی چه کله خلق اوده وی نو دے په خپله شوگیره پیژندلے شی، او کله چه خلق افطار کوی نو دے په خپله ورځے سره، او کله چه خلق خبرے کوی نو دے په خپلے خاموشئ سره، او کله چه خلق تکبر کوی نو دے په خپلے خشوع سره، او کله چه خلق خوشحالی کوی نو دے په خپل خفگان سره، او کله چه خلق خاندی نو دے په خپلے ژړا سره پیژندلے شی، او مناسب نه دی چه دا سخت، یا غافل، یا تیز طبیعته، یا چغے وهونکے وی)).

فضیل بن عیاض ؒ فرمائی : د قرآن بارونکے د اسلام د جنډے بارونکے دے، مناسب نه دی چه څوك لغو کار کوی چه دے ئے هم ورسره اوکړی، یا څوك غفلت کوی چه دے ئے هم ورسره اوکړی، یا څوك لوبے مشغلے کوی چه دے ئے هم ورسره اوکړی، ځکه چه دے به د الله تعظیم کوی. او دا هم مناسب نه دی چه دده چاته څه حاجت پیدا کیږی بلکه مناسب داده چه د خلقو دهٔ ته حاجتونه وی.

حدیث کښے دی : ((دوه خویونه دی چه په منافق کښے نه راجمع کیږی : ښائسته وضع رفع، او په دین کښے پوهه)).

(رواه الترمذی وهو فی المشکاة : ۱/ ۳٤، والحدیث صحیح)

په دے حدیث کښے دیته اشاره ده چه عالِم له پکار دی چه دا په ښائسته وضع رفع او په دین کښے په پو هه باندے متصف وی، دے دپاره چه منافقت دده نه ختم شی۔ او کله چه په ده کښے دا دوه صفتونه نه وی نو کیدے شی چه منافقت ده ته په تادئ سره سرایت اوکړی او د الله د لارے نه واوړی۔ والله المستعان۔

نو عالِم له مناسب دی چه د علماءِ آخرت په صفاتو باندے ځان متصف کړی کوم چه مونږ په فائده نمبر (۳۳) کښے ذکر کړی دی، دے دپاره چه گمراه نشی۔ والعیاذ بالله۔

سفیان بن عیینهؒ فرمائی : «کله چه زما ورځ د کم عقل د ورځے پشان وی او زما شپه د جاهل د شپے پشان وی نو بیا زه په هغه علم څه کوم چه مالیکلے دے»۔

(ابو نعیم فی الحلیة والآجری فی أخلاق العلماء، ص : ۷۲)

عالم له پکار دی چه ډیر باوقاره او خاموشه وی، نه عیب لگونکے، نه کنځل کونکے او نه په بازارونو کښے چغے وهونکے وی۔ د الله خشیت دے دده شِعار وی، او سُنت دے دده جامه وی، کفارو او فجارو سره دے د هغوئ په شکل او لباس کښے مشابهت نه کوی۔ دارنگ حسدگر، کینه گر، مخامخ او پشی شا عیب لگونکے او فاحش دے نه وی۔ او په ده باندے لازِم دی چه په نورو مؤمنانو باندے دے ښه گمان کوی او هغوئ دپاره دے خیر خواهی تالاش کوی۔

اوده همت دے د خپل ایمان او یقین په تصحیح کښے، د خپلو اعمالو په تزکیه کښے او د خپل نفس په مجاهده کښے وی۔ څکه دا علم د ډیرو خلقونه غائب شویدے، د دوئ په زړونو کښے د سره تیریږی هم نه او نه ددے چرته تالاش کوی۔

حسن بصریؒ فرمائی : ((یو سړی به چه کله علم طلب کولو نو لږ وخت به لا نه وو تیر شوے چه دا علم به دده په عاجزئ، نظر، ژبے، لاس او زهد کښے اولیدلے شو))۔

ابن عباس ﷺ د علماؤ په صفت کښے فرمائی : ((آیا تاته پته نشته چه د الله څه داسے بندگان شته دے چه دوئ بغیر د عجز او چاړا کیدلونه د الله ویرے خاموشه کړی دی، حال داچه دوئ شریفان، آزاد، فصاحت والا، عقلمند او په الله او د الله په آیتونو باندے علم لرونکی خلق دی۔ خو لیکن کله چه دوئ د الله عز وجل عظمت رایاد کړی نو زړونه ئے بند شی، ژبے ئے چاړا شی او د الله د ویرے او هیبت په وجه ئے عقلونه او اخلاق په طیش او حرکت کښے راشی۔ اوکله چه ددے حالت نه دوئ په هوش کښے شی نو د الله تعالیٰ ته د

پاکیزه اعمالو په ذریعه سبقت حاصلوی، د الله دپاره ډیر شے ډیر نه گنړی، او د هغه دپاره په کم باندے نه راضی کیږی۔ خپل نفسونه د ظالمانو او گنهګارانو نه گنړی، حال دا چه دوئ پاك او صفا نیکان وی، دارنګ خپل ځانونه د زیاتی او کوتاهی کونکو نه گنړی حال دا چه دوئ زیرکه، قوی او د الله په عبادت باندے همیش والے کونکی وی، جاهل سړے چه دوئ اووینی نو وائی : بیماران دی، حال دا چه دوئ بیماران نه دی بلکه دوئ سره ګډون کړے شویدے او خلقو سره هم یو غټ کار ګډ شویدے))۔

(رواه ابن المبارك فی الزهد، ص : ٥٢٦، والآجری فی أخلاق العلماء، ص : ٧٥)

دارنګ ده له مناسب دی چه په دین کښے جنګ جګړے نه کوی بلکه د حق تابعداری دے کوی هر چاسره چه وی، ځکه د نبی ﷺ نه ثابت دی چه هغوئ فرمائیلی دی : ((هیڅ یو قوم د هدایت نه پس چه دوئ په هغے قائم وو، نه دے ګمراه شوے مګر دوئ ته جګړے ورکړے شوی دی))۔

(رواه الآجری : ٥٩، وهو فی الشریعة له أیضاً ، والمشکاة : ٣١/١، باب الاعتصام)

دارنګه دده اخلاق دے ښائسته وی، فراخ تنده دے وی، الله عز وجل ته دے عاجزی کوی، خلقو سره د په تواضع باندے پیش کیږی، تکبر دے نه کوی اونه دے جبرجَق وی، او ځان دے ورته غټ هم نه ښکاری۔

ایوب السختیانیؒ فرمائی : ((عالم له مناسب دی چه په خپل سر باندے دے الله ته د تواضع د وجے نه اِیرے کیدی))۔ (الأجری فی أخلاق الراوی، ص : ٧١)

دارنګه د خرابو ملګرو د مجلسونو نه دے ډډه کوی، ډیره خوش طبیعتی او خنداګانے دے نه کوی، اونه دے ډیرے خبرے او لغوه کارونه کوی، او داسے نور۔

٢ - دویم : إخلاد الی الأرض :

یعنی : دُنیا طرفته میلانْ کوْل، ځکه د دُنیا محبت د هرے ګناه جرړه ده۔ عالم سړے چه کله دُنیا په آخرت باندے غوره کړی او خپل شهوات د الله د رضامندئ باندے غوره کړی نو دے د مناجات د خوند نه محرومه کیږی، او بیا درجه په درجه ښکته کیږی تردے چه د سپی یا خرهٔ پشان شی۔ والعیاذ بالله !

سفیان ثوریؒ فرمائی : ((عالِم ددے امت طبیب دے او مال ددے بیماری ده، نو کله چه طبیب خپل ځانته بیماری راکاږی نو دے به د بل چاځه علاج اوکړی))۔

ابن عبد البرؒ په (جامع بیان العلم وفضله : ١١/٢) کښے فرمائی :

((حلال خوړل او په دُنیا کښې زهد اختیارول، د عالِم په مضبوطولو او په هغه سره فائده حاصلولو کښې د غتو څیزونو نه دی))۔ بیائې دے باره کښې د علماؤ اقوال ذکر کړی۔
حلال مال څه بد څیز نه دے، بلکه بدی په دے کښې ده ، چه په خرابه طریقه حاصل کړے شی، یا ددے په حاصلولو کښې بنده د الله عز وجل نه او د هغه د حقوقو او عبادت نه غفلت اوکړی، یا په دے باندے جرص اوکړی۔ لکه رسول الله ﷺ فرمائی :
((دوه اوګی شرمخان چه په ګډو بزو باندے راخوشے کړے شی نو دابه په ډوئ کښې دومره ورانے اونه کړی څومره ورانے چه په مال او شرافت باندے د انسان حرص کولو په وجه دده په دین کښې راځی))۔ او رسول الله ﷺ فرمائی : ((د هر امت دپاره یوه فتنه وی، او زما د امت فتنه (امتحان) مال دے))۔
نو عالِم باندے واجب دی چه دے په دُنیا کښې بے رغبته وی، د خلقو په مالونو کښې طمع لرونکے نه وی، اونه جَمع کونکے وی، اونه منع کونکے وی، او نه د اقتدار او مشرئ حاصلونکے وی، ځکه په دے کښې ډیر آفتونه دی۔
په حدیث کښې دی : ((ددے آمت د اولنو خلقو نجات په زهادت او یقین سره وو، او ددے د آخر هلاکت به په بخل او امیدونو سره وی))۔ (رواه في الجامع الصغير، باسناد حسن)
۳ – دریم : د خواهش تابعداری : داهم د حق نه بندول کوی، لکه د علی رضی الله نه روایت دے چه ده اوفرمائیل : ((زه پتاسو باندے د دوه څیزونو نه یریږم : د خواهش تابعداری، او اوګده امیدونه۔ ځکه د خواهش تابعداری حق نه منع کول کوی، او اوګده امیدونه آخرت هیروی))۔ (المشكاة : ٢/٤٤٤)
بعضے حکماؤ وئیلی دی : چاچه د خپل خواهش تابعداری اوکړه، نو خپل دشمن ته ئے د هغه آرزو ورکړه ۔او دائے هم وئیلی دی چه : عقل، دوستی پریکړے شوے دوست دے، او خواهش تابعداری کړے شوے دشمن دے۔
ابن عباس ﷺ فرمائی : ((خواهش اِلٰه دے چه د الله نه سیوائے بندګی کولے شی۔ او دا آیت ئے تلاوت کړو : ﴿ اَفَرَءَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰهُ ﴾ [الجاثيه: ٢٣]
عکرمهٌ د الله تعالیٰ ددے قول په باره کښې فرمائی چه : ﴿ وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ ﴾ [الحديد: ١٤]
(خو تاسو خپل ځانونه په فتنه کښې واچول) : یعنیٰ په خواهشاتو سره ﴿ وَتَرَبَّصْتُمْ ﴾ (او تاسو انتظار اوکړو) یعنی په توبه کښې۔یو شاعر وائی :

إِنَّ الْهَوَانَ هُوَ الْهَوٰى قُلِبَ اسْمُهٗ فَإِذَا هَوَيْتَ فَقَدْ لَقِيْتَ هَوَانًا

(ذلت خو همدغه خواهش دے چه نوم ئے الټه شوے دے، نو کله چه ته خواهش کوے نو ته د ذلت سره مخامخ شوے)۔ هشام بن عبد الملك وائی :

إِذَا أَنْتَ لَمْ تَعْصَ الْهَوٰى قَادَكَ الْهَوٰى إِلٰى كُلِّ مَا فِيْهِ عَلَيْكَ مَقَالٌ

(کله چه ته د خپل خواهش خلاف اونه کړے نو خواهش به تا هر قِسم عیب جن کار طرفته راکاږی)۔ خواهش دوه قسمه دے :

۱ – یو خواهش په عقل او رائے کښے دے۔ او دا د اهلِ بدعت بیماری ده۔

۲ – دویم : د شهواتو خواهش دے۔ او دا خوندور او مزیدار څیزونه حاصلول دی۔

نو شهوت د خواهش د نتائج نه یوه نتیجه شوه۔

(أدب الدنيا والدين للماوردی، ۹)

نو عقلمند باندے واجب دی چه : په خپل ځان باندے خواهش حاکم جوړ نه کړی ګنے په کنده کښے به پریوزی – والعیاذ بالله – . او په دے درے څیزونو چه دا د عالِم د ګمراهئ اسباب دی، دلیل دا قول د الله تعالیٰ دے :

﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِیْ آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا ﴾ [الاعراف: ۱۷۵]

(او بیان کړه دوئ ته خبر د هغه کس چه مونږ ورته خپل آیتونه ورکړی وو نو دے د هغے نه اووتلو ﴾۔ یعنی : د هغے د تابعدارئ نه اووتلو، ګویا آیتونه دده دپاره د لباس پشان وو، نو دے د هغے نه خپل ځان بربنډ کړو۔

﴿ وَلٰكِنَّهٗ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ ﴾ [الاعراف: ۱۷۶]

(خو دے زمکے طرفته ورکوږ شو) یعنی : دنیا طرفته مائل شو ﴿ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ ﴾ [الاعراف: ۱۷۶]

(او د خپل خواهش پسے روان شو، نو دده مثال لکه د سپی دے چه که ته پرے حمله کوے نو هم ژبه راوباسی او که پریدے ئے نو هم ژبه راؤباسی)۔

یعنی : که ده ته وعظ او نصیحت اوکړے شی اوکه اونشی، دعوت ورته ورکړے شی او که ورنه کړے شی، که مال لری او که نه ئے لری۔

نو ددے ټولو کارونو نه ځان بچ ساته او ښه خیال کوه !! د الله نه بچاؤ او توفیق غواړو۔

۱۰ - فائده

د ذکر دَ بې اثره کیدو اسباب

په قرآن کریم او سُنتِ مطهره کښې بار بار راغلي دي چه :
شرعي اذکار په حاجتونو پوره کولو کښې ، مصيبتونو لرې کولو کښې، زړونو نرمونو کښې او د الله رب العزت په قرب او نزدیکت حاصلولو کښې ډیر زیات تاثیر لري، اودد ے د سلو (۱۰۰) نه زیاتے فائدے دي، لکه چه دا فائدے ابن القيم رحمه الله په (الوابل الصيب) کښې ذکر کړی دي۔
دد ے اذکارو اختيارولو باوجود بعضے وخت يا عامو اوقاتو کښې مقصود نه حاصليږي، نو په دے کښې څه راز دے ؟
نو زما په خيال دد ے دوه دوه سببه کيدے شي :
۱ - اول سبب : د پرهيز نشتوالے : ولے چه دے کښې پرهيز ته ضرورت دے، ځکه څوك چه دوائي استعمالوی او پرهيز نه کوی نو دوائي ورته فائده نه کوی۔
۲ - دويم سبب : په دے باندے دوام او هميش والے کول : ځکه الله تعالیٰ ته محبوب ترين عمل هغه وی کوم چه هميشه وی اګرکه لږ هم وی۔ نو کوم شخص چه په خپل اورادو (ذکر اذکار) باندے هميش والے نه کوی نو دده زړه به دے سره خراب وی، لکه يو سړے ډير خوراك اوکړی او بيا سخت اوګے شي، نو دده صحت نشي برابريدلے بلکه دده صحت به خراب وی څو پورے چه په دے باندے هميش والے اونه کړی۔ نو دغه شان زړه هم دے چه په خپل مناسب وخت کښې ورته د الله د ذکر اود قرآن کريم د تلات غذاء او خوراك ورنه کړے شي نو خرابيږي۔
۳ - دريم سبب : ذکر اذکار په ښه طريقے سره نه کول، بلکه په تادئ باندے لوستل او دد ے د معانيو د شعور نه بغير دد ے د ختمولو کوشش کول۔ والله المستعان۔
نو دا داسے کارونه دي چه دے سره شرعي ذکر اذکار هم په زړه باندے تاثير نه کوی۔

۱۱ - فائده عظیم النفع

د الله عز وجل په دین باندے د مضبوطیا وسائل

د الله په دین باندے مضبوطیا د هر هغه رشتینے مسلمان دپاره یو اساسی مقصد دے، کوم چه په سمه لار باندے په قصد او ارادے سره تلل غواړی۔
ددئ موضوع اهمیت په یو څو خبرو کښے پټ دے :

★ د عصرِ حاضر هغه اجتماعی احوال چه په هغے کښے مسلمانان ژوند تیروی، دارنګ هغه مختلفے فتنے او راپارونکے څیزونه چه د هغے په اور باندے دوئ داغلے شی، دارنګ هغه قسما قسم شهوات او شبهات چه د هغے په سبب نن دین ناشنا ګرځیدلے دے، او د همدے په وجه د مسلمانانو یو عجیب مثال جوړ شویدے : ((خپل دین نیونکے داسے دے لکه سکروټه نیونکے))۔

په دے کښے د هیڅ عقلمند سړی شك نشته چه د پخوانو خلقو په نسبت نن د مسلمان وسائلو د ثبات ته ډیر حاجت دے۔ اوددے د موجودولو دپاره زیات کوشش کول پکار دے، ځکه زمانه خرابه شویده او ملګری هم نادر شوی دی، مدد او نصرت کونکی هم کم شوی دی۔

★ د ارتداد او اوړیدو حوادث ډیریدل، چه بعضے اسلام دپاره کار کونکو کښے هم راغلی دی، چه ددے په وجه مسلمان سره خوف پیدا شی چه هسے نه دا انجام چرته دده نشی، دے وخت کښے دے د ثبات او مضوطیا وسائل دے دپاره تالاش کوی چه یوے پُر امن فضاء ته اورسیږی۔

★ د زړه سره ددے موضوع ارتباط : په دے باره کښے نبی ﷺ فرمائی :
((د انسان زړه د کټوئ نه هم زیات آوښتونکے دے کله چه هغه په خوټ کیدو کښے راشی))۔(رواه احمد : ٦/٤، والحاکم : ٢/٢٨٩، و هو فی السلسلة الصحيحة : ١٧٧٢)

او نبی کریم ﷺ د زړه دپاره یو بل مثال بیانونی فرمائی : ((زړه ته زړه په دے وجه وائی چه دا اوړی راوړی، د زړه مثال لکه د هغه وزرے دی چه د وُنے ستے ته پرته وی، بادونه ئے په مخ او څټ اړوی راوړی))۔(رواه أحمد : ٤/٨ ٤٠، وهو فی صحیح الجامع : ٢٣٦١)

نو دے حدیث د شاعر ددے قول نه مخکښے والے کړیدے چه :

وَمَا سُمِّيَ الْإِنْسَانُ إِلَّا لِأُنْسِهِ   وَلَا الْقَلْبُ إِلَّا أَنَّهُ يَتَقَلَّبُ

(انسان ته چه انسان وائی نو دده د محبت د وجے، او زړه ته زړهٔ وائی نو د آوړیدو راوړیدو په وجه)۔

نو د شهواتو او شبهاتو په هواګانو باندے ددے اوړیدونکی راوړیدونکی شئ مضبوطول ګران کار دے۔ مضبوطو وسائلو ته حاجت لری کوم چه ددے غټ والی او ګران والی سره مقاومت او مقابله اوکړی۔

وسائل الثبات

الله عز وجل په مونږ باندے دا رحمت کړیدے چه په خپل کتاب کښے او د خپل پیغمبر په ژبه باندے او د هغه په سیرت کښے ئے مونږ دپاره د ثبات ډیر وسائل بیان کړی دی، چه زه د هغے نه بعضے وسائل بیانول غواړم :

اول : قرآن کریم ته توجه کول :

قرآن کریم په دین باندے د مضبوطیا اولنئ ذریعه ده، او دا د الله مضبوطه رسئ ده، او ښکاره رنړا ده، څوك چه په دے باندے منګولے اولګوی نو الله به ئے حفاظت اوکړی، او چاچه ددے تابعداری اوکړه نو نجات به ورکړی، او چاچه دے طرفته دعوت ورکړو نو سمے لارے طرفته دده هدایت اوکړے شو۔

الله تعالیٰ ښکاره طور ددے وضاحت کړیدے چه کوم مقصد دپاره چه الله تعالیٰ قرآن کریم لږ لږ نازل کړیدے نو ددے مقصد تثبیت (مضبوطول) دی۔ لکه الله تعالیٰ د کافرانو دسوالونو د جواب په سلسله کښے فرمائی :

﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا ﴿۳۲﴾ وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴾ (الفرقان : ۳۲، ۳۳)

(او کافران وائی چه په دهٔ باندے ولے قرآن په یو ځل نه نازلیږی، دغه شان مونږ مضبوطوو په دے سره ستا زړهٔ او په واضح بیانونو دا په واضح بیانولو سره، او دوئ تاته هیڅ یو اعتراض نه راوړی مګر مونږ تاته د هغے جواب او ښائسته تفسیر راوړو)۔

بیا قرآن ولے په دین باندے د مضبوطیا بنیاد دے ؟

★ څکه دا ایمان کری او الله سره په تعلق باندے د نفس تزکیه کوی۔

★ څکه د قرآن کریم آیتونه د مؤمن په زړه باندے بنه لګی، چه ددے په وجه په ده باندے د فتنے تیز او تند بادونه نشی الوتلے، بلکه د الله په ذکر سره دده زړه مطمئن وی۔

★ بل دا چه قرآن کریم مسلمان ته هغه صحیح تصورات او قیمتونه ورکوی چه د هغے په وجه دے د ماحول مقابله کولے شی، دغه شان هغه ته ورله تیاروی چه د هغے په وجه دے په کارونو باندے فیصلے کولے شی، او په دے فیصله کښے ده ته څه پریشانی نه وی او نه د اشخاصو او واقعاتو په اختلاف سره دده په فیصله کښے اختلاف راځی۔

★ بل دا چه: قرآن کریم هغه شبهات رد کوی چه هغه د اسلام دشمنان، کافران او منافقان خلق راپورته کوی، لکه هغه ژوندی مثالونه چه په هغے باندے د اولنئ پیړئ خلقو ژوند تیر کړے وو۔ چه دلته یو څو نمونے بیانیږی:

★ د رسول الله ﷺ په نفس باندے د الله تعالیٰ ددے قول څه اثر وو؟

﴿ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴾ [الضحیٰ: ٣]

(ته خپل رب نه پریښے ئے او نه ئے درسره دشمنی کړیده)، هر کله چه مشرکانو اووئیل چه: محمد ﷺ پریخودلے شو؟

(اوګوره: صحیح مسلم بشرح النووی: ١٥٦/١٢)

★ د مؤمنانو په نفسونو باندے د الله سبحانه وتعالیٰ ددے قول څه اثر وو؟

﴿ أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ﴾ [التوبة: ٤٩]

(خبردار، په فتنه کښے دوئ اوغورزیدل)۔ هرکله چه یو منافق اووئیل:

﴿ ائْذَنْ لِّي وَلَا تَفْتِنِّي ﴾ [التوبة: ٤٩] (ماته اجازت اوکړه او په فتنه کښے مے مه غورزوه)۔

آیا دا د مضبوطیا دپاسه مضبوطیا نه ده؟ او په ایماندارو زړونو باندے ربط نه دے؟ او په شبهاتو باندے رد نه دے؟ماو باطل والا خاموش کول نه دی؟ ولے نه دی او خامخا دی۔

د تعجب خبره خو داده چه کله مؤمنان د حدیبیه نه واپس کیدل نو الله تعالیٰ دوئ سره د ډیرو غنیمتونو وعده اوفرمائیله چه دوئ به ئے حاصلوی – چه دا د خیبر غنیمتونه دی – او دا چه دوئ به هغے طرفته روانیږی، نه نور څوك، او دا چه منافقان خلق به د مؤمنانو سره موافقت کول غواړی خو مسلمانان به ورته وائی چه تاسو مونږ سره مه ځئ، اودا چه منافقان به اصرار کوی او دابه غواړی چه د الله خبرے بدلے کړی، او دا چه دوئ به مؤمنانو ته وائی: بلکه تاسو مونږ سره حسد کوئ، او دا چه الله دوئ ته په خپل دے قول سره جواب

ورکړیدے : ﴿ بَلْ كَانُوْا لَايَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴾ (سورة الفتح آيت : ١٥)
(بلکه دوئ نه پو هیږی مگر لږ شان)
او بیا دا ټولے خبرے د مؤمنانو مخے ته وخت په وخت،قدم په قدم او کلمه په کلمه موجودیږی !
دے ځائے نه مونږ کولے شو چه چا خپل ژوند د قرآن کریم سره تړلے دے او دے ته په تلاوت، حفظ، تفسیر او تدبر سره متوجه شوی دی، د همدے نه تګ کوی او همدے طرفته راتګ کوی، د دوئ او د هغه چا ترمینځه فرق اوکړو چاچه د بشر کلام خپل غټ مقصد ګرځولے او په همدے باندے ئے خپل ځان مشغوله کړیدے. افسوس چه د علم طلبګار خلق د قرآن کریم او ددے د تفسیر یوه غټه حصه ولے نه طلب کوی.

★ **دویم : د الله د شریعت او د عمل صالح التزام کول :**

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظَّالِمِيْنَ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ ﴾ [ابراهيم: ٢٧]
(مضبوطوی الله ایمان والو لره په مضبوطه خبره باندے په دُنیا او آخرت دواړو کښے او ګمراه کوی الله ظالمان خلق او الله چه څه اوغواړی کوی ئے).
قتادهؒ فرمائی : ((په دُنیا کښے دوئ په خیر او عمل صالح سره مضبوطوی، او په آخرت کښے ئے په قبر کښے مضبوطوی)). اودا تفسیر د د نورو ډیرو سلفوؒ نه هم منقول دے.
(تفسير القرآن العظيم لابن كثير : ٤/٤٢١)
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴾ (النساء : ٦٦)
(اوکه چرے دوئ هغه کار کړے وے د کوم نصیحت چه دوئ ته کولے شی نو دابه دوئ دپاره غوره او - په حق باندے - د سختے مضبوطیا باعث وے).
اودا ښکاره خبره ده، ځکه مونږ به د هغه سستو خلقو نه څه امید اوساتو چه هغوئ د نیک عملونو نه پاتے راغلی دی !
او مؤمنانو او نیک عمله خلقو ته د دوئ رب په خپله د سمے لارے هدایت کوی.
دا وجه ده چه نبی ﷺ به په نیک عملونو باندے همیش والے کولو، او هغه عمل به ورته ډیر محبوب وو کوم به چه همیشه وو اګرکه کم ولے نه وی، او د نبی ﷺ صحابوؓ به چه کله څه نیک عمل شروع کړو نو هغے باندے به ټینګ اوسیدل.
عائشے رضی الله عنها به چه څه عمل اوکړو نو هغه به ئے لازم نیولو.

او نبي ﷺ فرمائیلی دی: ((څوك چه په دولس ركعته - سُنتو - باندے همیشه والے اوكړی نو ده دپاره جنت واجب دے)).

(سنن الترمذی، ط شاکر: ۲۷۳/۲، وقال: الحدیث حسن أو صحیح، وهو فی صحیح النسائی: ۳۸۸/۱، وصحیح الترمذی: ۱۳۱/۱)

په حدیث قدسی کښے راغلی دی: ((او زما بنده په نوافلو سره ماته په رانزدے کیدلو کښے لګیا وی تردے چه زه ورسره محبت اولرم)).(البخاری مع الفتح: ۳٤۰/۱۱)

★**دریم: د انبیاءِ کرامو** علیهم السلام په قیصو کښے سوچ کول او د عمل او اقتداء دپاره هغه مطالعه کول:

په دے باندے دلیل د الله تعالیٰ دا قول دے: ﴿ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ [هود: ۱۲۰]

(د رسولانو ټول احوال مونږ تاته ستا د زړه د مضبوطولو دپاره بیانوو، او تاته په دے - سورت - کښے هم حق راغلے دے چه نصیحت او وعظ دے مؤمنانو دپاره).

دا آیتونه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے څه د خوند او مزے دپاره نه نازلیدل، بلکه دا د یو عظیم مقصد دپاره نازلیدل چه هغه د نبی ﷺ او د هغه د ملګرو زړونو مضبوطول دی.

د الله تعالیٰ دا قول هم د غور او فکر لائق دے: ﴿ قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴾

[الأنبياء: ٦٨- ٧٠]

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: ((د ابراهیم علیه السلام آخرنئ وینا چه کله اور ته غورزولے شو داوه: حسبی الله ونعم الوکیل)).

آیاته د مضبوطیا په معنو کښے یوه معنیٰ محسوسوے هر کله چه په تا باندے طغیان او عذاب راشی او ته په دے قیصه کښے سوچ کوے؟

که ته د الله سبحانه وتعالیٰ په دے قول کښے سوچ اوکړے په قیصه د موسیٰ علیه السلام کښے: ﴿ فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ قَالَ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴾

[الشعراء: ٦١، ٦٢]

(څه وخت چه دواړه لښکرو یو بل اولیدل نو د موسیٰ ملګرو اووئیل: بیشکه چه مونږ رالاندے کړے شو، وے فرمائیل: هیڅ کله نه، بیشکه چه ماسره مے رب ملګرے دے هغه به راته لار راښائی).

آیا ته د مضبوطیا په معنو کښې یوه معنیٰ محسوسوې چه د ظالمانو خلقو د پیوسته کیدونه را پیدا شویده؟ دارنګه د سختیا او تکلیف په وخت چه ته په دې قیصه کښې سوچ کوې نو مضبوطیا محسوسوې؟

دغه شان د فرعون د ساحرانو په قیصه کښې په حق باندې د مضبوطیا یو ناشنا مثال دې۔ او هغه داچه یو لوئې ظالم ایمان والو ته دهمکی ورکوی او وائی:

﴿ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ۡ وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ﴾ (طه: ۷۱)

(فرعون اووئیل: آیا تاسو په ده باندې زما د اجازت نه مخکښې ایمان راوړو، بیشکه دا خو ستاسو هغه مشر دې چه تاسو ته ئې جادو خودلې دې، زه به خامخا ستاسو لاسونه او خپې ردوبدل پریکړم او تاسو به د کجورو په تنو باندې په دار اوخیژوم او تاسو ته به خامخا پته اولګی چه په مونږ کښې څوك سخت او همیشه عذاب والا دې)۔

نو انسان چه دا قیصه واوری د مضبوطیا یوه عظیمه معنیٰ دده په نفس کښې قرارې مومی۔ ورسره داهم چه دوئ کم هم وو خو هیڅ قسم شك او تردد ئې په ایمان قبولو کښې اونه کړو او نه واپس شو بلکه دا خبره ئې فرعون ته اوکړه: ﴿ لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَاجَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِيْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ ۖ اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴾ (طه: ۷۲)

(مونږ به هیڅ کله د هغه واضح دلائلو په مقابله کښې تا غوره نه کړو کوم چه مونږ ته راغلی دی او نه د هغه الله په مقابله کښې چه مونږ ئې پیدا کړی یو، نوته چه څه فیصله کول غواړې اوئې کړه، ته خو به صرف په دې دنیا کښې فیصله کوې)۔

دغه شان په سورتِ یٰسین کښې د مؤمن قیصه، دارنګه د آل فرعون د مؤمن او د أصحاب الأخدود وغیره قیصو کښې په دین باندې د ثبات او مضبوطیا اعلیٰ نمونې موجود دی۔

څلورم: دعاء: د الله د مؤمنانو بندګانو یو صفت دادې چه دوئ الله تعالیٰ ته په دعاء سره توجه کوی او د الله نه په دین باندې د مضبوطیا سوال کوی۔

﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا ﴾ [آل عمران: ۸] (اې ربه زمونږ! زمونږ زړونه د هدایت نه پس مه اړوه)۔ ﴿ رَبَّنَا اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا ﴾ [البقرة: ۲۵۰] (اې ربه زمونږ! مونږ باندې ډیر صبر راتوئې کړې او زمونږ قدمونه مضبوط کړې)۔

او هرکله چه د ((بندګانو زړونه ټول د الله د دوو ګوتو ترمینځه لکه د یو زړه په شان وی

چه اړوی راړوی ئے څنګه ئے چه خوښه شی))

(احمد، مسلم عن ابن عمر، مسلم بشرح النووی : ١٦/٢٠٤)

دې وجې نه رسول الله ﷺ به دا دعاء ډیره غوښتله : ((یا مقلب القلوب ثبت قلبی علی دینك))۔ (اې د زړونو اړونکیه ! زما زړه په خپل دین باندې مضبوط لره)۔

(الترمذی عن أنس مرفوعا، تحفة الأحوذی : ٦/٣٤٩، وهو فی صحیح الجامع : ٧٨٦٤)

پنځم : د الله تعالیٰ ذکر :

چه دا د مضبوطیا په اسبابو کښې غټ سبب دې :

د الله تعالیٰ ددې دوو څیزونو ترمینځه په یو ځائے ذکر کولو کښې سوچ اوکړه چه فرمائی :

﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا لَقِیتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِیرًا﴾ (انفال : ٤٥)

(اې ایمان والو ! کله چه تاسو - په جهاد کښې د کافرو سره - ملاؤ شئ نو مضبوط اوسیږئ)۔ په دې آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ په جهاد کښې د مضبوطولو امدادی څیز د الله ذکر اوګرځولو۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : ((د روم او د فارس بدنونو ته اوګوره چه څنګه ئے د عینِ حاجت په وخت دوئ سره خیانت اوکړو))۔

خو افسوس دادې چه د الله ډیر ذکر کونکی ډیر کم خلق دی۔

دارنګه یوسف علیه السلام د منصب او جمال والا زنانه مخې ته په مضبوطیا باندې په څه شئ سره مدد اوغوښتلو هرکله چه ورته هغې خپل ځان طرفته دعوت ورکړو ؟ آیا هغه د ((معاذ الله)) په قلعه کښې داخل نشو چه ددې قلعې په دیوالونو باندې د شهواتو د لښکرو چپې ماتې شوې ؟ همدا د ذکر اذکار اثر وی د مؤمنانو په مضبوطولو کښې۔

شپږم : په صحیح لاره روانیدلو باندې د مسلمان حرص کول :

د مسلمان دپاره یواځنۍ صحیح لار د اهل السنت والجماعت لار ده۔ د طائفې منصورې لار، د فرقه ناجیې لاره، د صفا عقیدې او د صحیح روغ منهج او د سنت اود دلیل والو لار، او د الله د دشمنانو او باطلو والو نه د جدائی والو لار ده۔

په مضبوطیا کښې که ددې قیمت پیژندل غواړې نو په دې خبره سوچ اوکړه چه : په مخکنو او روستنو خلقو کښې ولې ډیر خلق ګمراه او حیران شو او د دوئ قدمونه په صحیح لاره مضبوط نشول او په دې باندې ئے مرګ نصیب نشو ؟

یا دې لارې طرفته د ډیر اوګد عمر تیرولو نه پس را اورسیدل چه د خپل قیمتی عُمر ډیر

اوقات ئے ضائع کړل ؟

لکه ته به په دوئ کښے یو کس بیامومے چه د بدعت او گمراهئ په منازلو کښے به د فلسفے نه علم کلام ته، او د اعتزال نه تحریف ته، او د تأویل نه تفویض او ارجاء طرفته، او دّ تصوف د یوے سلسلے نه بلے سلسلے طرفته منتقل کیږی۔

دارنگه بدعتیان خلق حیران او پریشان وی۔

او دیته هم فکر اوکړه چه علمِ کلام والا څنګه د مرګ په وخت د مضبوطیا نه محرومیږی۔ لکه سلفؒ فرمائی : ((د مرګ په وخت د ټولو نه زیات شك کونکی خلق علمِ کلام والا دی))۔

خو دیته هم فکر اوکړه چه آیا په اهل السنت والجماعت کښے چا د خپلے لارے نه رجوع کړیده، پس ددے نه چه هغه ئے اوپیژنده او په هغے روان وو ؟

هاؤ، که څوك ئے د خواهش د وجے نه یا د شبهاتو د وجے نه چه دده ضعیف عقل ته را پیښ شی پریدی، نو دا ددے وجے نه پریخودل نه دی چه ګنے ددے لارے نه علاوه بله زیاته صحیح لار ورته ښکاره شویده، اویا ورته ددغه مخکنئ لارے بطلان ښکاره شویدے۔

ددے مصداق د هرقل بادشاه هغه تپوسونه دی کوم ئے چه د ابو سفیان نه د محمد ﷺ د تابعدارو په باره کښے کړی دی۔ هرقل ابو سفیان ته اووئیل : آیا دده په ملګرو څوك مرتد کیږی چه دده په دین کښے داخلیدو نه پس هغه بد اوګنړی ؟ ابو سفیان اووئیل : نه۔ بیا هرقل اووئیل : دغه شان ایمان دے چه کله ددے تروتازګی زړونو سره خلط شی۔

مونږ د ډیرو غټو خلقو متعلق آوریدلی دی چه دوئ د بدعاتو په درجاتو کښے نقل شویدی، او دارنګه د ډیرو باره کښے مو آوریدلی دی چه هغوئ ته الله هدایت اوکړو او خپل باطل مذهب ئے پریخودلو او د اهل السنت والجماعت حق مذهب ته ئے رجوع اوکړه، او خپل باطل مذهبونه ئے بدے اوګنړل۔

خو آیا مونږ ددے برعکس هم چرته آوریدلی دی ؟

که چرے ته په دین مضبوطیا غواړے نو د مؤمنانو لاره لازم اونیسه۔

اووم : تربیت : ایمانی، علمی او رفته رفته یادلرونکے تربیت د مضبوطیا بنیادی سبب دے۔

ایمانی تربیت : چه دا د خوف، رجاء، رحمت او محبت په ذریعه سره زړه او ضمیر ژوندے کوی۔ **علمی تربیت :** چه په صحیح دلیل باندے قائم وی، کوم چه د تقلید او

قبیحے هرچاخانۍ سره منافي دے۔

ورخودونکے تربیت: چه د مجرمانو خلقو لار ورښائی او د اسلام د دشمنانو منصوبے درس کوی او عملی طور سره د واقع نه خبرول کوی، او د واقعاتو فهم او اندازه لګوی، او د بندیدو او هسے حکمونو او فیصلو کولو سره منافي وی۔

رفته رفته تربیت: چه مسلمان لره په قلار قلار روانوی او د کمالِ مراتبو ته ئے په مناسب منصوبے سره خیژوی، او د تادۍ او تیزیو نو سره منافي وی۔

د مضبوطیا ددے عُنصر معلومولو دپاره مونږ د رسول الله ﷺ سیرت ته رجوع کوو او خپلو ځانونو نه تپوس کوو چه:

★ په مکه کښے د نبی ﷺ د صحابه کرامو د سختۍ او تکلیفونو په وخت د مضبوطیا شے څه وو؟

★ څنګه بلال، خباب او آل یاسر وغیره کمزوری خلق مضبوط پاتے شول؟ دارنګه ټول صحابه کرامؓ په شعب ابی طالب وغیره کښے څنګه مضبوط پاتے شول؟

★ آیا دا کیدے شی چه د نبوت د طاقچے د زور تربیت نه بغیر د دوۍ مضبوطیا راغلے وی چه د دوۍ شخصیات ئے پاکیزه کړی وو؟

خباب بن الأرتؓ بـه را واخلو چه ددهٔ بالدارے به د اوسپنے سیخونه ګرم کړل او بیابه ئے د هغه شا بربنډه کړه او په هغے به ئے واچول نو هغه وخته پورے به دا سیخونه نه مړه کیدل تردے چه دده د ملا وازده به اوبهیده او هغه به ئے مړه کړل۔ سوال دادے چه په ده باندے څه شے باعث وو چه په دے عذاب باندے ئے صبر کولو؟

دغـه شان بلالؓ به په ګرمو شګو باندے اچولے شو۔ او سُمیّهؓ به په زنځیرونو او طوقونو کښے بنکیل کړے شوه۔

دارنګه دا سوال د مدنی عهد په آخره زمانه کښے هم متوجه کیږی چه: په حُنین کښے د نبی ﷺ سره چه کله اکثر مسلمانان خواره واره شول نو د نبی ﷺ سره څوك پاتے شول؟ آیا دا نوی مسلمانان وو او د فتح مکے مسلمانان وو کومو چه د نبوت په مدرسه کښے لا پوره تربیت نه وو مونـدلے او پـه کومو کښے چهٔ ډیر خلق د غنیمت حاصلولو دپاره وتلی وو؟ هیڅ کله نه! بلکه په دغه تینګ پاتے کیدونکو خلقو کښے اکثر هغه صحابه کرامؓ وو، کوم چه صفا او خالص مؤمنان وو، او کومو چه د رسول الله ﷺ په لاس باندے پوره طور سره تربیت حاصل کړے وو۔ که چرے دوۍ تربیت نه وے موندلے نو آیا دوۍ به په دغه وخت

کښې تېنګ پاتې شوی وي؟

اتم په خپله لاره باندې اعتماد کول :

دا يقيني خبره ده چه څومره مسلمان په خپله لار باندې زيات اعتماد لري نو دده مضبوطيا په هغې باندې ډيره وي. ددې څه بعضې وسائل دادي :

★ دا شعور قائمول چه کوم لار باندې ته روان ئې نو دا څه نوې لاره نه ده چه ستا په زمانه او پيړۍ کښې پيدا شويده، بلکه دا خو يوه پخوانۍ - شريفه پرقيدونکې - لار ده، ستانه مخکښې په دې باندې انبياء کرام، صديقين، علماء، شهداء او صالحين تللي دي. نو دې سره به ستا غربت زائله شي ، وحشت به دې په انس بدل شي، او غم به دې په خوشحالۍ او سرور بدل شي، ځکه ته به دا محسوسوې چه دا ټول ستا د لارې او منهج ورونه دي.

★ دويم : د انتخاب او چونړ کولو شعور قائمول : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ﴾ (النمل : ٥٩)

(ثناء ده الله لره او سلامتيا ده د هغه په هغه بندګانو باندې کوم چه هغه منتخب کړي دي).

﴿ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ﴾ (فاطر : ٣٢)

(بيا مونړ خپل کتاب هغه خلقو ته ورکړو کوم چه مونړ په خپلو بندګانو کښې غوره کړي دي). ﴿ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ﴾ (يوسف : ٦)

(او دغه شان غوره کوي تالره رب ستا او درښائي تاته د تعبير د خوبونو نه).

لکه څنګه چه الله تعالىٰ انبياء کرام منتخب کړي او غوره کړي دي نو دغه شان نيکانو بندګانو ته هم ددې غوره والي څه حصه ملاويږي، او دا هغه ميراث دې کوم چه دوئ د انبياء کرامو د علمونو نه وړې دې.

که چرې الله تعالىٰ تالره جماد، يا ځناور، يا ملحد کافر، يا بدعت طرفته دعوت ورکونکې، يافاسق، يا خپل اسلام ته ذعوت نه کونکې مسلمان، يا ګنړو غلطيو والا لارې طرفته دعوت کونکې پيدا کړې وې نو ستا شعور به څه وې ؟

ته چه دا شعور لرې چه الله تالره غوره کړيدې او ته ئې د اهل السنت والجماعت د داعيانو نه ګرځولې ئې نو آيا دا خبره تا په خپل منهج او لارې باندې نه مضبوطوي ؟

نهم : الله طرفته په دعوت ورکولو کښې تجربه حاصلول :

که چرې ته خپل نفس له حرکت نه ورکوې نو دا زړيږي، اوکه مزل نه کوي نو بدبويه

کيږي، او د نفس د مزل په ميدانونو کښے غټ ميدان : الله طرفته دعوت ورکول دي، چه دا د رسولانو وظيفه وه، او د عذاب نه د خلاصئ ذريعه ده، په دے کښے طاقتونه راخوټ کيږي او مهمات جمع کيږي۔ ﴿ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ﴾ [الشورىٰ: ١٥]
(دے وجے نه ته دعوت ورکوه او څنګه چه تاته حکم شويدے د هغے مطابق نيغ اوسيږه)۔
اودا د څه کمال خبره نه ده چه يو انسان دا اووائي چه : فلانے نه روسته والے کوی اونه مخکښے والے۔ څکه که چرے ته خپل نفس په طاعت باندے مشغول نه کړے نوتابه په معصيت باندے مشغول کړی، او دا خو يقيني خبره ده چه ايمان کښے زيادت او نقصان دواړه راځي۔
صحيح منهج باندے دعوت ورکول وخت ورکول، فکر ستړے کول، د بدن کوشش او د ژبے داسے چلول غواړی چه دعوت د مسلمان سرې کار او مشغله اوګرځي، چه ددے په وجه د شيطان د ګمراهئ او فتنے اچولو ارادے ختمے شي۔
دغه شان د معاندينو او باطل پرستو خلقو د رامنځته کړو رکاوټونو په مقابله کښے چه د داعي په نفس کښے د مقابلے کوم شعور پيدا کيږی نو په دے سره دده ايمان ترقي کوی او ددے ارکان مضبوطيږي۔
نو دعوت د أجر او ثواب سره سره دا د وسائلو د ثبات نه يو ه غټه وسيله ده، او د واپس کيدو او شاته راتلونه ځان ساتل دي، څکه کوم شخص چه حمله کوی نو هغه دفاع ته محتاج نه وی۔ او الله سبحانه وتعالىٰ د داعيانو ملګرے دے دوئ مضبوطوی او د دوئ قدمونه ټينګوی،لکه د طبيب چه په خپلے تجربے او معلومات سره د مرض سره په جنګ وی۔ اوچونکه دا د نورو خلقو سره په جنګ کښے وی نو دے په خپله په دے کښے د پريوتلو نه د هرچانه لرے وی۔

لسم : مضبوطونکو عناصرو ته کتل :

ددے عناصرو بعضے صفات هغه دي کوم چه مونږ ته نبي کريم ﷺ بيان کړی دی :
((په خلقو کښے داسے خلق شته دے چه د خير چابيانے وی، او د شر قلفونه وی))۔

(حسن : رواه ابن ماجه عن أنس مرفوعا : ٢٣٧، وابن أبي عاصم في كتاب السنة : ١/١٢٧، وانظر السلسلة الصحيحة : ١٣٣٢)

دارنګه د علماؤ او نيکانو او ايمان والو داعيانو قيصے او واقعات اوريدل او دوئ سره ربط او تعلق لرل په مضبوطيا باندے ډير مدد ورکوی۔ څکه په اسلامي تاريخ کښے ډيرے داسے

فتنې راغلې دي چه الله تعالیٰ په هغې کښې مسلمانان د څه سړو په وجه مضبوط کړي دي.
لکه علي بن المديني رحمه الله فرمائي : ((د ارتداد په ورځ الله تعالیٰ خپل دين دَ ابو بکر صديق ؓ په ذريعه مضبوط کړو، او د امتحان په ورځ ئې په امام احمد ؒ سره مضبوط کړو)).
(سير اعلام النبلاء : ۱۱/۱۹٦)

ابن قيم رحمه الله د خپل شيخ – شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله – د مضبوطيا په باره کښې فرمائي : ((کله به چه په مونږ باندې خوف سخت شو، او گمانونه به مو بد شو، او زمکه به رابانديې تنګه شوه، مونږ به شيخ الاسلام ؒ ته راغلو، نو د هغه ليدلو او يو څو خبرو آوريدو سره سَم به زمونږ نه دغه هر څه ختم شول، او زړونو کښې به مو قوت، يقين، اطمينان او انشراح پيدا شو. نو پاکي ده هغه ذات لره چه هغه د خپل ملاقات نه مخکښې خپلو بعضې بندګانو ته خپل جنت ښودلے دے او دوئ ته ئې په دنيا کښې د هغې دروازې پرانستلې دي، چه دوئ ته د هغې نعمتونه او خوشبويانې او هواګانې راځي چه دے سره د دوئ طاقتونه د هغې طلب کوي او هغې طرفته مسابقه کوي)).
(الوابل الصيب : ط بشير عيون، ص : ۹۷)

دے نه معلوميږي چه اسلامي اخوت د مضبوطيا دپاره يو بنيادي مصدر دے. ځکه ستا نيکان ورونه اومقتدئ او تربيت کونکي دا ستا په دے لاره کښې ستا تعاون کونکي او هغه مضبوط جماعت دے چه ته ورته راځې، چه دوئ به تا د الله په آيتونو او حکمت باندے مضبوط کړي. نو دوئ سره لازم اوسيږه او د دوئ په سورې کښې اوسيږه، او ځان د يواځې والي نه اوساته ګنے شيطانان به دے اوتختوي، ځکه شرمخ هغه ګډه بزه خوري کومه چه د رَمے نه لرے وي.

يولسم : د الله په مدد اعتماد کول او مستقبل د اسلام دپاره ګټل :

د امداد د روستو کيدو په وخت مونږ مضبوطيا ته ډير حاجت لرو دے دپاره چه قدمونه اونه خوئيږي. الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (۱۴٦) وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (۱۴۷) فَآتَاهُمُ اللهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الآخِرَةِ ﴾ (آل عمران : ۱٤٧ – ۱٤٨)

(ډير پيغمبران دي چه د هغوئ په ملګرتيا کښې ډير الله والا خلقو جنګ کړيدے نو دوئ همت اونه بيلولو د هغه تکليف په وجه چه دوئ ته د الله په لار کښې اورسيدو او نه

کمزوری شو اونه دباؤ شو، او الله صبر کونکو سره مینه کوی، او د دوئ خبره صرف دا وه چه اے ربه زمونږ! مونږ ته د خپلو گناهونو او په خپل کار کښے د اسراف مغفرت اوکړه او زمونږ قدمونه مضبوط کړه او مونږ له په کافر قوم باندے غلبه راکړه، نو الله دوئ ته د دنیا ثواب ورکړو او د آخرت ښائسته ثواب (وعده ئے ورسره اوکړه)۔

او کله چه رسول الله ﷺ اراده اوفرمائيله چه خپل هغه صحابهؓ مضبوط کړی کوم ته چه د الله د دين په باره کښے عذاب ورکولے شی نو هغوئ ته ئے خبر ورکړو چه راتلونکے دور د اسلام دے۔ هغوئ ته ئے څه اوفرمائيل؟

نو د خبابؓ په حديث کښے په صحيح البخاری کښے راغلی دی چه ورته ئے اوفرمائيل: ((الله تعالىٰ ته به اسلام پوره خور کړی تردے چه يو مسافر سرے به د صنعاء (اليمن) نه حضرموت (علاقے) ته روان وی او صرف د الله نه به ويريږی او په خپلو گډو بزو به د شرمخ نه ويريږی))۔(رواه البخاری مع الفتح: ۷/۱۶۵)

نو په نوجوانانو باندے د دوئ په تربيت اومضبوطولو کښے دا خبره پيش کول ضروری دی چه دوئ ته هغه احاديث پيش کړے شی په کومو کښے چه زيرے ورکړے شويدے چه مستقبل او آينده دور د اسلام دپاره دے۔

دولسم: د باطل حقيقت پيژندل او په هغې باندے دهوکه نه خوړل:

د الله تعالىٰ په دے قول کښے چه: ﴿لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ﴾ (آل عمران: ۱۹۶)

(دهوکه دے نه کړی آوښتل راؤښتل د کافرانو په ښارونو کښے)۔

دے کښے تسلی ده مؤمنانو ته او د دوئ مضبوطول دی۔

دارنگه په دے قول د الله تعالىٰ کښے: ﴿فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً﴾. (الرعد: ۱۷)

(هرچه زگ دے نو دا هسے بيکاره لاړ شی)۔

په دے کښے عبرت دے عقلمندو خلقو دپاره چه د باطل نه مه يريږئ او هغے ته مه تسليميږئ۔

د قرآن طريقه داده چه اهلِ باطل شرموی او د هغوئ اغراض او وسائل راښکاره کوی:

﴿وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ﴾. (الأنعام: ۵۵)

(دغه شان مونږ په وضاحت سره آيتونه بيانوو، دے دپاره چه د مجرمانو خلقو لاره ښه واضحه شی)۔

دے دپاره چه مسلمانان د غفلت په وخت اونه نيولے شی، او دے دپاره چه دوئ پوهه شی

چه د اسلام د ختمولو دپاره کومے حربے استعمالولے شی۔
مونږ ډیر داسے حرکات آوریدلی او لیدلی دی چه کمزوری شو او قدمونه ئے اوخوئیدل او مضبوطیا ئے دلاسه ورکړه، هرکله چه دوئ ته دداسے ځائے نه دشمنانو راتګ اوکړو کوم چه د دوئ په وهم اوګمان کښے هم نه وو، ځکه چه دوئ د خپلو دشمنانو نه ناخبره وو۔
★ دیارلسم : هغه اخلاق حاصلول کوم چه په مضبوطیا کښے مدد کوی :
چه ددے سَر صبر دے۔ لکه په صحیحینو کښے دی : ((هیچا ته څه ورکړه نه ده شوے چه هغه غوره او فراخه وی د صبر نه))۔
(رواه البخاری فی الزکاة، باب الاستعفاف عن المسئلة، ومسلم فی الزکاة)
او صبر د مصیبت په اول کښے مضبوط وی، اوکله چه انسان ته غیر متوقع مصیبت اورسی نو ماتے خوری او دده مضبوطیا زائله کیږی، هرکله چه صبر اونه کړی۔
د ابن الجوزی رحمه الله دا خبره قابلِ غوره ده چه : ((ما یو مشر سړے اولیدلو چه آتیاؤ ته رسیدلے وو، هغه به د جَماعت پابندی کوله، نو دده د لور یو بچے مړ شو، نو هغه اووئیلے: هیچا دپاره مناسب نه دی چه دعاګانے اوغواړی ځکه دا نه قبلیږی، بیائے اووئیلے : الله تعالیٰ خلقو سره ضد کوی، او مونږ ته هیڅ بچے نه پریدی))۔
(الثبات عند الممات د ابن الجوزی ص : ٣٤)
الله تعالیٰ دده ددے وینا نه ډیر زیات لوئے اوجدا دے۔
او کله چه مسلمانانو ته په احد غزا کښے مصیبت اورسیدو چه دوئ ددے هیڅ ګمان هم نه کولو، ځکه الله تعالیٰ دوئ سره د امدادِ وعده فرمائیلے وه، نو الله دوئ ته د شهیدانو د وینو سخت عبرت ورکړو :
﴿ أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَـٰذَا قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾.(آل عمران : ١٦٥)
(آیا کله چه تاسو ته مصیبت اورسیدلو چه ددے دوچند تاسو – کافرو ته – رسولے وو، نو تاسو اووئیل : دا د کوم طرفه راغے، ورته اووایه : دا ستاسو د نفسونو طرفنه دے)۔
د دوئ د نفسونو نه څه شے حاصل شوے وو ؟ ﴿ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ﴾ [آل عمران : ١٥٢] (تردے چه تاسو کمزوری شوئ او په کار کښے مو اختلاف شروع کړو، او نافرمانی مو اوکړه روستہ ددے نه چه تاسو ته ئے هغه شے اوخودلو کوم چه تاسو خوښوئ، پتاسو کښے ځینے

خلق هغه دی چه د دنیا اراده کوی)۔

څوارلسم: د يو نيك عمله سري وصيت:

کله چه مسلمان شخص ته څه فتنه راپيښه شی او الله دده امتحان کول اوغواړی دے دپاره چه دے خالص کړی نو دده د مضبوطيا دپاره الله تعالیٰ يو نيك عمله سړے مقرر کړی چه ده ته وعظ او نصيحت کوی او ده لره مضبوطوی، چه د هغه په کلماتو الله تعالیٰ ده له نفع ورکړی او دده قدم مضبوط کړی، او په دغه کلماتو سره ورته الله رايادوی او د هغه سره ملاقات او جنت او اور رايادوی۔

لکه ددے مختلف مثالونه د امام احمد رحمه الله په سيرت کښے موجود دی، کوم چه په خپل ازميښت او امتحان کښے الله تعالیٰ لکه د سپينو زرو غوندے اوپړقولو۔

هغه دا چه امام احمدؒ مامون (معتزلی) بادشاه ته په قيدونو کښے راوستے شو، چه د راتلو نه مخکښے ورته مامون سخته دهمکی ورکړے وه۔ تردے چه امام احمدؒ ته خپل خادم اووئيل: ((اے ابو عبد الله! ماته دا خبره گرانه محسوسيږی چه مامون داسے توره راويستلے ده چه ددے نه مخکښے ئے چرته نه ده راويستے، او هغه په خپلے هغه رشتے باندے چه د رسول الله ﷺ سره ده قسَم کوی چه که ته د هغه خبره اونه منے او قرآن ته مخلوق اونه وائے نو په دغه توره به دے ضرور قتلوی))۔(البداية والنهاية: ۱/۳۳۲)

دا وخت هوښيارو او زيرکو خلقو غنيمت اوګڼړلو او خپل امام ته ئے د تثبيت او مضبوطيا کلمات پيش کړل۔ لکه په (سير اعلام النبلاء: ۱۱/۲۳۸) کښے د ابو جعفر الأنباریؒ نه نقل دی دا وائی: ((کله چه امام احمدؒ مامون ته يوړلے شو نو ماته خبر اوکړے شو، زه په فرات (نهر) باندے راتير شوم چه راغلم څه گورم چه دا په سرائے کښے ناست وو، ماپرے سلام واچولو، وئيلے: ابو جعفره! زه په مشقت کښے پريوتم۔ ما ورته اووئيل: ته خو نن د خلقو مشرئے او خلق تاپسے اقتداء کوی، خو که قسم په الله که چرے تا ورسره د قرآن د مخلوق کيدو عقيده اومنله، نو ستا په وجه به ډير خلق هم دا عقيده قبوله کړی، اوکه تا ورسره اونه منله نو ډير خلق به هم ددے نه منع شی۔ او ددے باوجود که دغه سړے تا اووژنی، نو تابه اووژنی او مرګ به خامخا راځی۔ نو ته د الله نه اوويريږه او دا ورسره مه منه۔ دے آوريدو سره امام احمدؒ په ژړا شو۔ او ووئيلے: ما شاء الله۔ بيائے اووئيلے: ابو جعفره! ماته دا خبرے بيا اوکړه، ما ورته هغه خبرے دوباره اوکړے او هغه وئيلے: ماشاء الله. آ هـ))۔

امام احمدؒ مامون ته د بوتللو قيصه ذکر کوی وائی: ((رحبے ته لاړو او د شپے په نيمائی

حصه کښې د هغې نه لاړو، دې کښې مونږ ته يو سړے را اووتلو او عرض ئے اوکړو : پتاسو کښې احمد بن حنبل څوك دے ؟ نو ده ته زه اوخولے شوم نو هغه ماله بوتلونکی ته اووئيل : په مزه شه، بيا ئے اووئيلے : اے سړيه ! په تا څه ملامتيا نشته چه ته دلته قتل کړے شے، اوجنت ته داخل شے۔ بيائے اووئيلے : زه تا الله ته سپارم، او لاړ۔ ما د هغه باره کښے تپوس اوکړو چه دا څوك دے۔ ماته اووئيلے شو چه دا د عربو د ربيعه قبيلے يو سړے دے چه بانډے ته وړئ وړی او جابر بن عامر نوم ئے دے چه په خير سره مشهور دے))۔

(سير اعلام النبلاء : ۱۱/۲٤۱)

البدايه والنهايه کښے دی : يو بانډه چی امام احمد ته اووئيل ! اے سړيه ! ته د خلقو سره په وفد کښے تلونکے ئے نو په دوئ باندے بخل کونکے مه جوړيږه، او ته نن د خلقو مشرئے، خو خبردار دا خلق (معتزله) چه تاته د کومے خبرے دعوت درکوی هغه ورسره مه منه، ګنے دغه خلق به ئے هم ورسره اومنی، نو ته به د قيامت په ورځ د دوئ ګناهونه په خپله غاړه واخلے، اوکه ته د الله سره مينه لرے نو په خپل دے امتحان باندے صبر اوکړه، ځکه ستا او د جنت ترمينځه صرف ستا وژل حائل دی))۔

امام احمدؒ فرمائی : دده په خبره زما عزم او اراده مضبوطه شوه چه د دوئ (د خلق القرآن) دا خبره به هيڅ کله اونه منم۔

(البداية والنهاية : ۱۱/۳۳۲)

او په يو روايت کښے دی چه امام احمد اوفرمائيل : ((د کوم وخت راسے چه زه په دے امتحان کښے پريوتے يم د هغه وخت راسے ما هيڅ داسے خبره وانه وريده چه ماته د يو بانډه چی د خبرے نه زياته قوی ښکاره شوی وی چه هغه ماسره د « رحبة طوق » په علاقه کښے خبرے اوکړے – چه دا د رقے او بغداد ترمينځه د فرات په غاړه يو کلے دے))۔

بانډه چی وئيلے : اے احمد ! که تا حق اووژنی نو ته به شهيد شے، اوکه ژوندے پاتے شے، نو ستائيلے شوے به ژوندے پاتے شے۔ نو دے خبرے سره زما زړه مضبوط شو۔

(سير اعلام النبلاء : ۱۱/۲٤۱)

او امام احمدؒ د هغه ځوان د ملګرتيا باره کښے چه دده سره په دے فتنه کښے تينګ پاتے شوے وو چه دا ((محمد بن نوح)) وو، فرمائی : ما هيڅوك داسے نه دے ليدلے چه هغه د نوجوانئ او د علمی قدر باوجود، د الله په حکم ډير ولاړ وی د محمد بن نوح نه، او زما دا اميد دے چه دده آخره خاتمه به په خير سره وی۔

ده ماته يو ورځے اووئيل : اے ابو عبد الله ! د الله نه خوف اوکړه، ته زما پشان نه ئے، ته داسے سړے ئے چه خلق درپسے اقتداء کوی، تانه چه څه صادرېږی هغوئ خپل ځتهونه تاته اوګده کړی دی، د الله نه اويرېږه او د الله امر ته تينګ اوسه. نو هغه مړ شو او ما د هغه جنازه اوکړه او خخ مے کړو.

(سير اعلام النبلاء : ۱۱/۲٤۲)

او امام احمدؒ چه د جيل کومو قيديانو ته مونځ کولو هغوئ هم دده په مضبوطولو کښے حصه اخستے وه په داسے حال کښے چه دے ترلے شوے وو.

امام احمدؒ يو ځل په جيل کښے اووئيل : په جيل کښے زه تنګيږم نه، جيل او زما کور يو شان دے، اونه د تورے د وژلو نه يريږم، البته ماسره د چابك د امتحان ويره ده. دا خبره دده د جيل ځينے قيديانو واوريدله نو وے وئيل : ابو عبد الله ! هيڅ خبره نه ده يو چابك دوه چابکه وی، بيابه تاته پته نه لګی چه باقی په کوم ځائے لګيږی. دے سره امام احمدؒ لږ په طبع کښے شو.

(سير اعلام النبلاء : ۱۱/۲٤۰)

نو انسان له پکار دی چه د نيکانو خلقو په وصيت باندے حرص اوکړی او هغه دے ښه په سوچ فکر سره آوری. پکار دی چه د سفر کولو نه مخکښے هغه طلب کړی کله چه د يو مصيبت راتللو خوف وی ـ دارنګه د امتحان په دروان کښې يا د متوقع امتحان نه مخکښے. دارنګه کله چه درته يو منصب درکولے شی يا درته مال اومالداری درکړے شی نو د نيکانو خلقو د نصيحت اهتمام کوه. خپل نفس مضبوط ساته، او بل چاله هم مضبوطيا ورکوه. او الله د مؤمنانو دوست دے.

پنځلسم : د جنت په نعمتونو او د اور په عذابونو او مرګ رايادولو کښے سوچ کول :

جنت د خوشحالو کور، د غمونو ختميدلو ځائے او د مؤمنانو دَ پرا اچولو مکان دے.

نفسِ انسانی الله په دے سرشت باندے پيدا کړے دے چه قربانی او عمل او تينګيدل نه کوی مګر په يو عوض باندے چه په ده باندے ګران کارونه آسانوی، او په لاره کښے چه کوم کندوونه اومشقتونه وی هغه ورته هواروی.

نو کوم شخص چه اجر او ثواب پيژنی هغه ته د عمل مشقت آسان وی، اوده ته دا معلومات وی چه که ثابت قدم پاتے نشو نو ده نه به داسے جنتونه فوت شی چه د هغے پلن والے د آسمانونو او زمکو هومره دے. دغه شان انسانی نفس هغه شئ ته محتاج دے چه

هغه ئې د ارضي عالم نه عالم علوي ته پورته کړي.
نبي کريم ﷺ به د خپلو ملګرو په مضبوطولو کښې د جنت ذکر کولو نه کار اخستلو. لکه په يو صحيح حديث کښې راغلي دي چه: ((رسول الله ﷺ په ياسر، عمار او ام عمار باندې تير شو چه دوئ ته د الله په دين کښې عذاب ورکولې شو، نو ورته ئې اوفرمائيل: د ياسر خاندانه! صبر کوئ د ياسر خاندانه! صبر کوئ، ځکه ستاسو د وعدې ځائې جنت دې)). (رواه الحاکم: ۳۸۳/۳، وهو حديث حسن صحيح، انظر تخريجه فی فقه السيرة تحقيق الألبانی ص: ۱۰۳)
دغه شان نبي ﷺ به انصارو ته فرمائيل: ((مانه پس به خامخا تاسو باندې بل چاله ترجيح درکولې شي، نو تاسو صبر کوئ تردې چه ماسره په حوض باندې ملاؤ شئ)).
(متفق عليه)

دغه شان څوک چه په قبر، حشر، حساب، ميزان، پل صراط او د آخرت په ټولو منازلو کښې د دواړو ډلو په حال کښې سوچ کوي نو دا هم د مضبوطيا يو سبب دې.
لکه څنګه چه مرګ رايادول مسلمان د هلاکت نه ساتي، او د الله د حدودو سره ئې اودروي چه د هغې نه بيا تجاوز نه کوي ځکه کله چه ده ته دا معلومه شي چه مرګ د پيزار د تسمې نه هم نزدې دې او دده قيامت د يو څو لحظو نه پس قائميدې شي نو بيابه ده ته څنګه دده نفس دا ښائسته کړي چه د سمې لارې نه واوړي او يا په اعراض او انحراف کښې هميش دپاره اووسيږي. دا وجه ده چه نبي ﷺ فرمائي: ((تاسو د مزو ماتونکې څيز - مرګ - ډير ډير يادوئ)).
(رواه الترمذی: ۲/ ۵۰، وصححه الألبانی فی ارواء الغليل: ۱۴۵/۳)

د ثبات او مضبوطيدو ځايونه

دا ډير زيات دي چه تفصيل غواړي، خو مونږ دلته اجمالا يو څو بيانوو:

اول: په فتنو کښې مضبوط پاتې کيدل:

په زړونو کښې چه کوم آوښتل راؤښتل راځي ددې سبب فتنې وي، نو کله چه زړه ته د مزو او تکليفونو فتنې راپيښې شي نو په دې کښې مضبوط نه پاتې کيږي مگر هغه بصيرت والا چه په ايمان باندې د دوئ زړونه آباد وي۔

د فتنونه يوه فتنه مال دے: الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ عَاهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصَّالِحِيْنَ فَلَمَّا آتَاهُمْ مِّنْ فَضْلِهِ بَخِلُوْا بِهِ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ﴾.

(التوبة: ۷۵، ۷٦)

(په دوئ کښې بعضې هغه خلق دي چه الله سره ئې وعده کړيده چه که مونږ ته ئې د خپلې مهربانئ نه څه راکړل نوخامخا به صدقه کوو او د نيکانو نه به جوړيږو، نو کله چه الله دوئ ته د خپلې مهربانئ ورکړل نو بخل ئې پرې اوکړو او واوړيدل چه اعراض کونکي وو)۔

د جاه اومرتبې فتنه: الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا﴾. (الكهف: ۲۸)

(او خپل ځان د هغه خلقو سره ټينگ اوساته څوك چه بيگاه صبا خپل رب رابلي د هغه مخ غواړي او د دوئ نه دې ستا سترگې وانه وړي چه ته دنيوي ژوندون غواړې، او د هغه چا مه منه چه د هغه زړه مونږ د خپل ذکر نه غافله کړيدې او د خپل خواهش پسې روان دې او د هغه کار د حد نه تجاوز کول دي)۔

د مذکوره دواړه فتنو د خطرې باره کښې رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې:

مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِيْ غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِيْنِهِ.

(رواه الامام احمد فى المسند: ۳/٤٦٠، وهو فى صحيح الجامع: ٥٤٩٦)

يعنې په مال او شرافت باندې د انسان حرص کول دده دين لره ډير زيات خرابوي په نسبت د هغه دوه شرمخانو باندې کوم چه په گڈو بزو کښې راخوشې کړې شي۔

د ښځې فتنه: الله فرمائي: ﴿إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ﴾ (التغابن: ١٤)

(بیشکه ستاسو د بیبیانو او اولادو نه ستاسو دپاره دشمنان دی نو تاسو دوئ ته هوښیار اوسیږئ)۔

د اولاد فتنه : حدیث کښې دی : ((بچی انسان لره په بزدلئ، بخل او خفگان باندے باعث کوی))۔(رواه ابو یعلیٰ : ۲/۳۰۵، وله شاهد وهو فی صحیح الجامع : ۷۰۳۷)

د تکلیف ورکولو، سرکشئ او ظلم فتنه :

ددے بهترین مثال د الله تعالیٰ په دے قول کښې دے : ﴿ قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ النَّارِ ذَاتِ الۡوَقُوۡدِ ﴿۵﴾ اِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُوۡدٌ ﴿۶﴾ وَّهُمۡ عَلٰى مَا يَفۡعَلُوۡنَ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ شُهُوۡدٌ ﴿۷﴾ وَمَا نَقَمُوۡا مِنۡهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ يُّؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَمِيۡدِ ﴿۸﴾ الَّذِىۡ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ﴾.

(البروج : ٤ – ۹)

(هلاك شو ډوغلونو والا، چه بلیدونکی اور والا وو، کله چه دوئ د هغے خواته ناست وو او دوئ هغه کار ته حاضر وو کوم چه دوئ د مؤمنانو سره کولو، دوئ د هغوئ نه بل هیڅ شے بد نه وو گنړلے مگر داخبره چه هغوئ په غالب او ستائیلے شوی الله باندے ایمان لرلو، هغه ذات چه هغه دپاره د آسمانونو او زمکے بادشاهی ده او الله په هر څیز باندے گواه دے)۔

امام بخاریؒ د خباب رضی الله عنه نه روایت کوی چه ((مونږ رسول الله ﷺ ته شکایت اوکړو، په داسے حال کښې چه هغه د کعبے په سوری کښې په یو څادر کښې تکیه وهلے وه۔ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ستاسو نه مخکښې خلقو کښې به یو کس اونیولے شو او هغه دپاره به په زمکه کښې کنده اوکنستلے شوه او په هغے کښې به ورواچولے شو، آره به راوړلے شوه او د هغه په سر به کیخودلے شوه او دوه ټکړے به شو، او د غوښې او هډوکو ترمینځه به د اوسپنے په گومنځو گمنځولے شو خو دا کار به ده لره د دین نه نه اړولو))۔

(رواه البخاری، فتح الباری : ۱۲/۳۱۵)

★ د دجال فتنه : چه دا د ژوند په فتنو کښې غټه فتنه ده :

رسول الله ﷺ فرمائی : ((اے خلقو ! د زمکے په مخ د کله نه چه الله آدم پیدا کړیدے د دجال نه غټه بله فتنه نشته۔ اے د الله بندگانو، اے خلقو ! تاسو ټینگ اوسیږئ ځکه زه تاسو ته دده داسے صفت بیانوم چه مانه مخکښې به هیڅ یو نبی نه وی بیان کړے))۔

(رواه ابن ماجه : ۲/۱۳۵۹، انظر صحیح الجامع : ۷۸۷۵)

د فتنو په وخت د زړونو د مضبوطیا او کړیدو د مقاماتو په باره کښې نبی کریم ﷺ فرمائی : ((په زړونو باندے فتنے داسے – وخت په وخت – پیش کیږی لکه د بزکی د یوے یوے پټے

پښان، نو کوم زړه چه دے سره ګډ شی (رائے کاږی) نو په هغے کښے تور داغ اوشی، او کوم زړه چه دا (فتنه) بده اوګڼړی نو په هغے کښے سپین داغ اوشی۔ تردے چه دا دوه زړونه شی : یو سپین لکه د کاڼړی غونډے چه ترڅو پورے زمکه او آسمانونه باقی وی ده ته هیڅ فتنه ضرر نشی رسولے، او بل تور ګرد آلود زړه لکه د نسکورے کوزے غونډے، چه نه ښه کار ښه ګڼړی او نه بد کار بد ګڼړی، بلکه صرف هغه (شئ ته ښه وائی) چه دده د خواهش سره برابر وی ››۔(رواه الامام احمد : ۳۸٦/۵، ومسلم : ۱۲۸/۱، واللفظ له)

د بزکی د یوے یوے پتے پښان : یعنی دا فتنے په زړه کښے داسے تاثیر کوی لکه د بزکی (انډیری) تاثیر د اوده کیدونکی په اړخ باندے۔

مزباد : سخت سپینے والے چه توروالے ورسره ګډ شوے وی۔

دویم : په جهاد کښې ثبات او مضبوطیا :

الله عز وجل فرمائی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا ﴾. (الأنفال : ٤٥)

(اے ایمان والو ! کله چه تاسو د – کافرانو د – ډلے سره مخامخ شئ نو مضبوط اوسئ)

زمونږ په دین کښے دا کبیره ګناه ده چه یو انسان په جهاد کښے د کافرانو د ډلے نه اوتختی۔ رسول الله ﷺ خندق کنستلو او په خپله شا به ئے خاوره بار کړے وه او د مؤمنانو سره به ئے دا جمله وئیله : وثبت الأقدام ان لاقینا۔ (که مونږ د دشمن سره مخامخ شو نو زمونږ قدمونه مضبوط کړه)۔

(رواه البخاری فی کتاب الغزوات، باب غزوة الخندق، فتح الباری : ۳۹۹/۷)

دریم : په خپل منهج او لار باندے مضبوطیا :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴾. (الأحزاب : ٢٣)

(د مؤمنانونه داسے سړی شته چه د الله سره ئے چه کومه وعده کړے وه هغه ئے رشتینے کړه نو په دوئ کښے ځینو خپل حاجت پوره کړو او ځینے په انتظار کښے دی او دوئ هیڅ قِسم تبدیلی نه ده کړے)۔

څلورم : د مرګ په وخت مضبوطیا :

کافر او بدکاره خلق خو د سخت مصیبت په حالت کښے د مضبوطیا نه محروم وی، چه دوئ دا طاقت نه لری چه د مرګ په وخت دے په کلمهٔ شهادت تلفظ اوکړی۔ او دا د خاتمے د خرابیدو علامه ده، لکه یو سړے مړ کیدو، چا ورته اووئیل : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه اووایه، نو هغه

خپل سر ښي او ګس طرفته تاؤ راتاؤ کړو چه نه ئے وايم۔
او يو بل کس وو چه د مرګ په وخت ئے وئيلے : ((دا خائستـه تو کے دے، ددے بيعه ارزانه ده))۔او يو دريم کس وو چه د شطرنج د قطعو نو مونه ئے ذکر کول۔
او يو څلورم کس وو چه په ګانو بجانو او د معشوقے په ذکر باندے ئے خوش آوازی کوله۔
دا ځکه چه دے څيزونو دا خلق په دنيا کښے د الله د ذکر نه مشغوله کړی وو۔
اوکلـه داسے هـم شوی دی چه په دغه خلقو کښے د بعضو مخ هم تور شويدے، يا ترے بد بدبُوئ ختلے دے، يا د روح وتلو په وخت ئے د قبلے نه مخ آوښتے دے۔ولا حول ولا قوه الا بالله۔
پاتے شـو اهل السنت او نيك عمله خلق نو الله تعالىٰ دوئ ته د مرګ په وخت د ټينګيدو تـوفيـق ورکـوی او دوئ کـلـمـه شهـادت بـانـدے تـلـفظ کوی، اوکله د دوئ د مخ پرقيدل يا خوشبوئ يا د روح وتلو په وخت يو قِسم زيرے آوريدل ليدلے کيږی۔
لـکـه د هـغـه چا يو مثال اوګوره چه الله ورته د مرګ په وخت د ثبات او مضبوطيا توفيق ورکـړو، چـه هـغـه د ((اهـل الـحديث)) د امامانو نه يو امام دے يعنی ابو زرعه الرزایؒ، دده قيصه داسے وه :
ابو جعفر محمد بن علی ورّاق وائی :
((مـونږ په ماشهران کښے چه دا د ((رَے)) د علاقونه يو علاقه وه، ابو زرعهؒ ته حاضر شو، او د هـغـه آخری سلګئ وے، دہ سره ابو حاتمؒ، ابن وارهؒ اومنذر بن شاهانؒ وغيره ناست وو، نـو دوئ د تلقين دا حديث ذکر کړو چه ((خپلو قريب المرګ ته د لا اله الا اللّٰه تلقين کوئ) خـو دوئ د ابـو زرعـهؒ نـه حياء اوکړه چه ده ته څنګه ددے تلقين اوکړو۔ نو دوئ خپلو کښے اووئيـل : راځئ چه د تلقين حديث ذکر کړو۔ نو ابن واره اووئيل : مونږ ته حديث بيان کړے عبد الحميد بن جعفر د صالح نه، او هغه د ابن أبی ـ ـ ـ نه، اوددے نه ئے تجاوز اونه کړو، نو ابـو حـاتم اووئيل : مونږ ته حديث بيان کړے بندار، هغه ته ابو عاصمؒ، هغه ته عبد الحميد بـن جـعفر، هغه ته صالح۔ او ددے نه مخکښے تير نشو، او نور ناست ملګری خاموش پاتے شـو۔ دے آوريـدو سره ابـو زرعـهؒ د ساه ختـلو په وخت سترګے پرانستلے او وئيلے: مونږ ته بندار حـديـث بيـان کـړے، هغه ته ابو عاصم، هغه ته عبد الحميد، هغه ته صالح بن أبی عـريـب، هـغـه تـه کثيـر بـن مـره، هـغـه تـه مـعـاذ بـن جبلؓ چه دا فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : ((د چا آخره خبره چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه شوه، جنت ته به ځی))۔
او دے وئيلو سره سَم ئے روح پرواز اوکړو)) رحمه الله (سير اعلام النبلاء : ۷٦، ۸۵)

دے قِسم خلقو باره کښے الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّ الَّذِیۡنَ قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا تَتَنَزَّلُ عَلَیۡهِمُ الۡمَلٰٓئِکَةُ اَلَّا تَخَافُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا وَاَبۡشِرُوۡا بِالۡجَنَّةِ الَّتِیۡ کُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ﴾ (فصلت : ٣٠)

(بیشکه کومو خلقو چه اووئیل : رب زمونږ الله دے او بیا په دے خبره کلك پاتے شو نو په دوئ باندے ملائك نازلیږی چه مه یریږئ او مه خفه کیږئ او په هغه جنت باندے خوشحاله شئ چه تاسو سره ئے وعده کیدلے شی)۔

اللهم اجعلنا منهم، اللهم انا نسألك الثبات فی الأمر و العزیمة علی الرشد.

و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین. (انظر : رسالة وسائل الثبات)

★★★★★★★★

خائسته وعظونه او دَ حکمت خبرے

چه د عمل او دعوت الی الله دپاره پیش کولے شی :

★ ابو الدرداء رضی الله عنه فرمائی : ته هغه وخته پورے متقی کیدے نشے ترڅو چه عالم نشے، او عِلم هغه وخته پورے ډولی کیدے نشی تردے چه ته په هغے باندے عمل کونکے جوړ نشے۔

★ حسن بصریؒ فرمائی : عالِم هغه دے چه د هغه عِلم د عمل سره موافق وی، او د چا عِلم چه د عمل سره مخالف وی نو دا د یو ے خبرے آوریدونکے دے چه وائے وریدله او وے کړله۔ (الجامع : ۷/۲)

★ دارنگه فرمائی : هغه څوك چه خلقو باندے په علم سره فوقیت لری، مناسب دی چه په عمل باندے هم پرے فوقیت اولری۔

★ ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : ((د علم دپاره لوښی جوړ شئ ، او ددے ضرف راویان مه جوړیږئ ، ځکه کله څوك یو خبره زده کړی او نقل کوی ئے نه، او کله ئے نقل کړی خو یاده ئے نه کړی))۔

★ دا هم فرمائی : ((د ډیرو حدیثونو روایت کولو نوم علم نه دے، بلکه علم د الله ویرے ته وائی))۔ (الزهد : ۱۹۸) ★ امام مالك رحمه الله فرمائی : علم د ډیر روایت کولو نوم نه دے، بلکه دا یو نور (رڼا) دے چه الله ئے په زړونو کښے اچوی

★ ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : چا چه په خپل علم باندے عمل اوکړو، خلق به دده علم ته محتاج شی۔ ★ چاچه په هغه څه عمل اوکړو، کوم چه ده ته یاد وو، الله به ده ته د هغه څه علم ورکړی کوم چه ده نه دے حاصل کړے۔ (دا مرفوع هم روایت شویدے، خو دا اثر دے۔حدیث نه دے)۔ ★ سفیان ثوریؒ فرمائی : که وس دے رسی چه خپل سر هم په حدیث سره اوکرے نو دا کار اوکړه۔

★ ابو قلابهؒ فرمائی : کله چه الله تاله څه نوے علم درکړی نو ته هغه له عبادت زیات کړه، خو تاسره ددے غم وی چه دا خلقو ته بیان کړے۔

حسنؒ فرمائی : یو سړی به علم طلب کولو نو لږ وخت به لا نه وو تیر شوے چه دا به دده په عاجزئ، وضع رفع، ژبه، نظر او لاس کښے اولیدلے شو۔

ډیره نفع منه خبره په طلب د علم کښې داده چه: مخکنو د روستنو دپاره ځومره ډیر څه پریښي دي۔

او ډیره ضرري خبره داده چه: اولنو د روستنو دپاره هیڅ نه دي پریښي۔

(دا ټول د قواعد التحديث نه نقل دي)۔

★ ابن عباسؓ، مجاهدؒ، او امام مالكؒ فرمائي: ((د هرچا بعضې خبرې اخستلې شي او بعضې پریخودلې شي، سیوا د نبي ﷺ نه))۔(جزء القرائة للبخاری)

امام احمدؒ فرمائي: علم سره هیڅ یو شے برابر نه دے خو دچا نیت چه صحیح وي۔ خلقو اووئیل: دا څنګه؟ وئیلې: په دے سره د ځان نه اودبل نه د ناپوهئ ختمولو نیت اوکړي۔

(كتاب العلم للعثيمين)

عمر فاروق ؓ فرمائي: زه ددے پرواه نه کوم چه په کوم حالت کښې مے صبا کړو، آیا په هغه حالت چه زه ئے خوښوم اوکه په هغه حالت چه زه ئے بد ګنړم، ځکه ماته پته نشته چه خیر په هغه څه کښې دے کوم چه زه خوښوم، اوکه نه په هغه څه کښې دے چه زه ئے بد ګنړم۔

امام حاکمؒ په خپل مرفوع سند سره ذکر کړي دي: ((څوك چه په دے خبره خوشحالیږي چه د ټولو خلقو نه زیات قوي شي، نو په الله دے توکل اوکړي، او څوك چه په دے خبره خوشحالیږي چه د ټولو خلقونه زیات عزتمند شي نو الله نه دے خوف اوکړي، او څوك چه په دے خبره خوشحالیږي چه د ټولو خلقونه زیات مالداره شي نو هغه له پکار دي چه کوم شے د الله په لاس کښې دے په هغې دے ډیر زیات اعتماد اولري، په نسبت د هغه شئ باندے کوم چه دده په لاس کښې دے))۔

په یو صحیح حدیث کښې ابن مسعود ؓ د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل کوي: ((چاچه د خپلو ټولو غمونونه یو غم جوړ کړو چه د آخرت غم دے، نو الله به د دنیا د غمونو نه دده کفایت اوکړي، او چالره چه غمونو ګډوډ کړو چه د دنیا احوال دي، نو الله هیڅ باك نه کوي چه دے په کومه کنده کښې هلاك شو))۔

(المشكاة، كذا في التنبيه)

تنبيه الغافلين کښې دي: بعضې هوښیارانو وئیلي دي: ((د الله د اولیاؤ درے صفات دي: هرڅه کښې په الله باندے بهروسه کول، په هر څه کښې الله ته احتیاج، او په هر شئ کښې الله ته رجوع کول۔

سهل وائي : زړه په هيڅ شئ باندې نه دې ښائسته شوې چه هغه افضل او اشرف وی د علم د بنده نه په دې خبره چه الله ده سره دې چرته چه دې وی - (احياء)۔

زيد بن ثابت ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : ((د چا چه دُنيا مقصد وی، الله تعالیٰ به دده کارونه خواره واره کړی، او دده فقر به دده د دواړو سترګو ترمينځه اوګرځوی، او ده ته به صرف هغه هومره دنيا راځی کومه چه ده دپاره ليکلې شوی وی۔ او د چا چه آخرت مقصد وی، الله تعالیٰ به دده کارونه راغونډ کړی، او دده مالداری به دده په زړه کښې واچوی، او دُنيا به ورته ذليله راځی))۔

(رواه الترمذی : ٢/، وابن ماجه رقم : ٤١٠٥، الصحيحية رقم : ٩٥٠)

علامه ابن القيم رحمه الله په (الجواب الکافی) کښې فرمائی : الله طرفته مزل کونکو په دې باندې اجماع کړيده چه زړونه هغه وخته پورې خپلې آروزګانې نه ورکوی ترڅو چه خپل مولیٰ ته اورسيږی، اوخپل مَولیٰ ته نه رسيږی ترڅو چه صحيح سالم شی، او هغه وخته پورې صحيح سالم کيدې نشی ترڅو چه د خپل خواهش نه ئې خلاف نه وی کړې، چه خواهش ددې ، ددې بيماری ده او ددې شفا، ددې مخالفت دې۔

دارنګه موصوف ؒ په (المدارج : ١/١٦٥) کښې فرمائی : ((هرهغه چا چه د حق نه اعراض او انکار اوکړو نو په باطل کښې به واقع کيږی، او چا چه يواځې د الله د مخ دپاره د عمل کولو نه اعراض اوکړو، نو الله به ئې د خلقو دپاره د عمل کولو په امتحان کښې واچوی، دغه شان چا چه د الله په طاعت کښې د خپل مال خرچ کولو نه اعراض اوکړو، نو الله به دې د غيرُ الله دپاره د ذلت په حالت کښې په انفاق کولو مبتلا کړی۔ دغه شان څوك چه د الله دپاره د سترې والی نه اعراض کوی، نو الله به ئې ضرور د خلقو د خدمت په سترې والی کښې مبتلا کړی۔ اوچا چه په وحی سره د هدايت حاصلولو نه اعراض اوکړو، نو د اذهانو په جمع خرچ، د رائې ګانو په ډيرانونو او د فکرونو په خِيرو باندې به مبتلا کړې شی))۔ (دا ډيره مفيده خبره ده !)۔

بعضې عارفينو وئيلی دی : کله چه ته په خپل نفس او عمل باندې د الله دپاره راضی شې، نو پوهه شه چه هغه په دې راضی نه دې۔

ابو مدين وائی : څوك چه د الله سَم عبادت کوی نو هغه به خپلو اعمالو ته د رياء په نظر ګوری، او خپلو احوالو ته به د دعویٰ په نظر، او خپلو اقوالو ته به د افتراء په نظر۔

(کذا فی المدارج : ١/١٧٦) ډيره مزيداره خبره ده۔

کـه تـه تـولـه شپـه اوده پاتے شے او د پښيمانتيا په حالت کښے صبا کړے، دا ستا دپاره ددے نه غـوره ده چه تـه تـولـه شپـه قيام اوکړے او په داسے حال کښے صبا کړے چه خپل عمل ته غره ئے۔ (حواله سابقه : ١/١٧٧)

حسنؒ فرمائي : کنود هغه څوك دے چه مصيبتونه شماری او نعمتونه هيروی۔

ابـو حـاتـم زاهدؒ فرمائي : درے څيزونه چه کله په يو مجلس کښے وی نو د دوئ نه رحمت اړولے شی : د دُنيا ذکر، خندا او خلقو پسے خبرے کول۔ (تنبيه الغافلين)

ابـراهيـم بن ادهمؒ د غيبت کونکی د بدئ باره کښے فرمائي : اے دروغژنه! تا په خپلے دُنيا سـره پـه خپـلـو دوستـانـو باندے بخل اوکړو، او په خپلو دشمنانو باندے دے په خپـل آخرت سـره سَـخـا اوکـړه، نـو تـا چـه په څه بخل کړيدے په هغے کښے ته معذور نه ئے، اونه په هغه سَخا باندے کومه چه تا اوکړه ستائيلے شوے ئے۔ (التنبيه)

ابـن قيـم رحمه الله په (الفوائد ص : ١٦٧) کښـے فرمائي : د زړه د سختئ او د الله نه د لرے والی نـه غـټ بـل هيـڅ يـو عـذاب نشتـه چـه پـه هغے سره بنده وهلے شی۔ او د دے دپاره پيدا شـويـدے چـه سخت زړونـه ويـلی کړی، په ټولو زړونو کښے د الله نه لرے زړه هغه دے چه سخت وی، اوکله چه زړه سخت شی نو سترګه قحط زده شی۔

او د زړه سخت والے د څلـور څيـزونو په وجه وی کله چه هغه د حاجت د اندازے نه تجاوز اوکړی : (١) خوراك، (٢) خوب، (٣) خبرے (٤) او د خلقو سره ګډون۔

څـوك چـه د خپـل زړه صـفـائـي غـواړی نـو په خپل شهوت (خواهش) باندے دے الله لره غـوره کړی۔ کـوم زړونه چه څومره د خپل خواهش پورے متعلق وی هغه هومره به د الله نه په پرده کښے وی۔

★ د زړه خرابوالے په امن او غفلت سره وی، او ددے آبادی په خشيت او ذکر سره وی۔

★ څوك چه په خپل ځان مشغوله شی هغه به د بل چانه مشغول وی۔ اوڅوك چه په الله سره مشغول شو نو هغه به د خپل نفس نه مشغول شی۔

★ زيـد بن اسلم فرمائي : مخکښے زمانه کښے به داسے خبره کولے شوه چه : څوك د الله نه يَره اوکړی نو خلق به دده سره محبت اوکړی اګرکه هغوئ دا نه خوښوی۔

ابـن قيـم رحـمـه الله فـرمـائي : که چرے ستا محبت صحيح وی نو بيابه ته د هغه چانه په نفرت کښے شے څوك چه تاله په حبيب سره يادونه درکوی۔

اودائے هـم فـرمـائيلی دی چه : هغه ګناه چه دے په هغے ذليله کيږی، هغه به ده ته د هغه

طاعت نه ډیر خوښ وي په کوم باندے چه دے په هغه باندے ناز کوي۔ (الفوائد)۔
راقم الحروف وائي : زړونه لکه د شیشے غوندے دي، که چرے دا صفا وي نو تاته به ستا مخ سَم در اوښائي، اوکه نه وي نو تاته به خپل مخ کوږ او اوگد دراوښائي، نو دغه شان کله چه زړه صفا شي نو خپل رب او د هغه صفات پیژني، اوکه صفا نه وي نو بیا ترے اعراض کوي او خپل رب شاته گرزوي۔
بعضے عارفینو وئیلي دي : چا چه د الله نه غیرُ الله اوغوښتلو، نو الله به په ده باندے د قبولیت دروازه بنده کړي۔ (مرقات : ٤/٧٣)
(زه وایم : ددے نه مراد هغه غیرُ الله دے کوم چه د شهواتو سره متعلق دے، که نه وي نو دا خبره بیا صحیح نه ده)۔
ابو العالیهؒ فرمائي : دوه خبرے دي چه د هغے په باره کښے به د اولینو او آخرینو نه تپوس کولے شي : (۱) تاسو به د چا عبادت کولو ؟ (۲) او تاسو پیغمبرانو له څه جواب ورکړیدے ؟ (المدارج : ۱/٤۱)

★ تقویٰ داده : چه بنده د الله په طاعت باندے عمل اوکړي د الله د طرفنه په نور باندے چه د الله د ثواب امید لري۔ او د الله معصیت د الله په نور سره پریدي چه د الله د عذاب نه خوف کوي۔ (المدارج : ۱/۳٦٤)
اوپه دے کښے د بعضو عارفینو نه نقل دي : الله ته د عبادت نه ډیره نزدے بله هیڅ لاره نشته، او د دعوے نه سخته بله هیڅ پرده نشته، او د غره کیدو او تکبر سره هیڅ یو عمل او کوشش فائده نه ورکوي۔ اود ذلت او افتقار سره بیکارتیا ضرر نه ورکوي، یعنی د فرائضو اداء کولو نه پس۔ (٤۳)۔
★ ابو الدرداءؓ فرمائي : یو سړے هغه وخته پورے پوره طور سره نشي پوهه کیدے ترڅو چه د الله د ذات په باره کښے خلق مبغوض اونه گڼړي، او بیا خپل نفس ته واپس شي نو هغه سره د هرچانه سخت بغض کونکے وي۔
(ډیره مهمه خبره ده چه په الله او د هغه په دین باندے د ابودرداءؓ په معرفت باندے دلالت کوي)۔
★ ابو سلیمانؒ وائي : کله چه خوف د زړه نه جدا شي نوخراب شي۔
ابراهیم بن سفیانؒ وائي : کله چه په زړونو کښے خوف اووسیږي نو په هغے کښے د شهواتو چه کوم ځایونه وي هغه اوسیزي، او دُنیا ترے لرے کړي۔ (المدارج : ۱/٤۱۳)

★ خشوع : خپل زړه په عاجزئ سره د الله په مخکښې اودریدلو ، ذلت او په الله باندې راجمع کیدلو ته وائي، اوددې علامه داده چه حق ته به منقاد کیږي۔

★ جنید وائي : خشوع، علام الغیوب ته د زړونو عاجزئ ته وائي۔

فضیل ؒ وائي : خلقو به دا بده گڼله چه یو سړي باندې دده د زړه نه زیاته خشوع اولیدلې شي۔ بعضې عارفینو وئیلي دي : د ظاهري بدن حُسن دَ باطن دَ أدب عُنوان دې۔
(المدارج : ۵۲۱/۱)

شیخ الاسلام رحمه الله فرمائي : عارف دیته وائي چه د خپل ځان دپاره په بل چا باندې هیڅ حق نه وینې، او نه د خپل ځان دپاره په چا باندې غوره والې وینې، داوجه ده چه نه ملامتیا کوي او نه مطالبه کوي او نه وهل کوي۔ (مدارج : ۵۲۳/۱)

ابن عباس ﷺ فرمائي : ((ستا دپاره صرف هغه مونځ دې کوم باندې چه ته پوهه شوې))۔ (مدارج : ۵۳۵/۱)

حریري ؒ وائي : زمونږ دا کار په دوه خبرو باندې بناء دې : یو دا چه ته په خپل ځان باندې د الله لحاظ لازم اونیسې، دویم دا چه په خپل ځان باندې دې علم قائم وي۔ (مدارج : ۶۶/۲)

★ څوک چه په خِلوت کښې د الله لحاظ ساتي، الله به په خِلوت او جلوت دواړو کښې دده حرکات محفوظ اوفرمائي۔ (مدارج : ۶۶/۲)

★ یو سړي حسن بصري ؒ ته اووئیل : زمونږ فقهاء دا فلانئ خبره کوي۔ حسن ؒ اوفرمائیل : آیا تا چرته فقیه لیدلې دې ؟ فقیه خو هغه څوک دې چه په دُنیا کښې زاهد (بې رغبته)، په آخرت کښې رغبت لرونکې، په خپل دین باندې بصیرت لرونکې او د خپل رب په عبادت باندې همیش والې کونکې وي۔ (التنبیه، والشعب)

★ فضیل بن عیاض ؒ فرمائي : کله چه یو عالم په دُنیا کښې رغبت لرونکې او په هغې باندې حرص کونکې وي، نو دده سره ناسته کول د جاهل سړي جهل زیاتوي، او د بدکاره سړي بدکاري زیاتوي، اود مؤمن سړي زړه سختوي۔ (حواله سابقه)

ابن تیمیه رحمه الله فرمائي : کله چه ته په خپل زړه کښې د عمل خوند او انشراح بیانه مومې نو دغه عمل تهمتي اوگڼړه ځکه الله تعالیٰ ډیر قدردان دې۔ (مدارج : ۶۸/۲)
(ډیره قابلِ غور خبره ده)۔

★ اخلاص، الله ته په همیشه نظر کولو سره د مخلوق دَ لیدلو هیرولو ته وائي۔ اوڅوک چه خلقوته په هغه څه سره ځان ښائسته کوي کوم چه په ده کښې نه وي، نو د الله د سترگو

نه به پریوزي۔

بعضې وائي : اخلاص، د خلقو بلکه د خپل ځان لحاظ ساتلو نه ځان بچ کولو ته وائي، او صدق : د خپل ځان د مطالعه کولو نه ځان صفا کولو ته وائي، نو د مخلص دپاره هیڅ قِسم ریاء نه وي، او د صادق دپاره هیڅ قِسم خود پسندي نه وي۔ (مدارج : ۲/۹۱)

★ مکحولؒ فرمائي : کوم بنده چه څلویښتو ورځو پورې اخلاص اوکړي، نو دده د زړه نه به دده په ژبه باندې د حکمت چینې راښکاره شي۔ (مدارج : ۲/۹۲)

★ ابن سیرینؒ فرمائي : ما دَ قاضي شریح نه واوریدل چه په الله ئې قَسَم کولو چه : هیڅ یو بنده د الله دپاره هیڅ یو شے نه دے پریخے چه د هغې په پریخودلو ملامته شوے وي۔ نو د مشقت تریخوالے د فائدو او مالوفاتو پریخودلو کښې دے، ددې ورك والے هغه څوك بیامومي څوك چه دا د غیرُ الله دپاره پریدي۔ (الفوائد : ۱۸۶)

★ الله تعالیٰ ته د تهولونه زیاته نزدې وسیله ، سُنت مضبوط نیول دي او د هغې سره په ظاهر او باطن کښې اودریدل دي، او الله ته همیش محتاج اوسیدل دي، او په اقوالو او افعالو کښې یواځې د هغه رضا طلب کول دي۔ هیڅ یو بنده الله ته نه رسیږي مګر ددې درې څیزونو په ذریعه، او هیڅوك نه دے منقطع شوے مګر کله چه ددې څیزونو نه منقطع شي۔ (الفوائد : ۱۸۶)

★ د خواهش تابعداری اود اومیدونو اوګد والے د هر فساد جرړه ده، ځکه د خواهش تابعداري، په معرفت او قصد کښې د حق نه ړوندول کوي، او اوګده امیدونه آخرت هیروي او هغې دپاره د تیاریٔ نه انسان منع کوي۔ (الفوائد : ۱۷۱)

★ عیسیٰ ؑ فرمائي : مونږ د ایمان حقیقت ته هغه وخته پورې نشو رسیدے تردې چه مونږ سره دا پرواه پاتې نشي چه دُنیا چا اوخوړله۔

او فرمائي : د دُنیا خوږ والے د آخرت تریخوالے دے، او د دُنیا تریخوالے د آخرت خوږوالے دے۔

أَرىٰ رِجَالًا بِأَدْنَى الدِّيْنِ قَدْ قَنَعُوْا ۔۔۔ وَلَا أَرَاهُمْ رَضُوْا بِالْعَيْشِ بِالدُّوْنِ
فَاسْتَغْنِ بِالدِّيْنِ عَنْ دُنْيَا الْمُلُوْكِ كَمَا ۔۔۔ اسْتَغْنَى الْمُلُوْكُ بِدُنْيَاهُمْ عَنِ الدِّيْنِ

(زه څه سړي وینم چه په أدنیٰ دین باندې دوئ قناعت اوکړو، خو ما دوئ اونه لیدل چه په أدنی عیش عشرت باندې راضي شوي وي۔ نو ته په خپل دین سره د بادشاهانو د دُنیانه بې پرواه شه، څنګه چه بادشاهانو په خپلې دُنیا سره د دین نه ځان بې پرواه کړیدے)۔

او فرمائی : هغه چا دپاره خوشحالی ده چه د خپلې گناه د وجې نه اوژاړی، او د خپلې ژبې حفاظت اوکړی او خپل کور ورله ځائے ورکړی۔

(کذا فی البدایة والنهایة : ۲/۸۱، ۸۲)

فَكُلُّ كَسْرٍ فَإِنَّ اللّٰهَ يُجْبِرُهُ وَمَا لِكَسْرِ قَنَاةِ الدِّيْنِ جُبْرَانُ

(په هر ماتوالی باندے الله پټئ لګونکے دے، خو د دین د نیزے د ماتوالی هیڅ پټئ نشته)۔ (مفید الهموم : ۲۱۰)

بعضے عارفینو وئیلی دی : الله چه تاسره څه کوی په هغے راضی اوسه، ځکه الله تا نه هیڅ شے نه دے بند کړے مګر دے دپاره چه تالره ئے درکړی، او تا باندے ئے هیڅ مصیبت نه دے راوستے مګر دے دپاره چه تاله عافیت درکړی، او تا نه بیماروی مګر دے دپاره چه شِفا درکړی، او تا نه وژنی مګر دے دپاره ژوند درکړی، نو یاد ساته چه د سترګے د رَپ په اندازه هم چرته تانه راضی کیدل جدا نشی، ګنے د هغه د سترګے نه به پریوځے۔

(المدارج : ۲/۲۱٦)

ابو حمزهؒ نه د اخلاص باره کښے تپوس اوشو، نو وے فرمائیل : اخلاص دیته وائی چه بنده دا خوښ نه کړی چه په یو شئ باندے د الله عز وجل نه سیوا بل څوك دده صفت اوکړی۔

★ربیع بن خیثمؒ فرمائی : هر هغه شے چه د الله مخ پرے اراده نه کړے شی هغه به زائله کیږی۔ (شعب الایمان)

بعضے علماؤ وئیلی دی : هیڅ بنده د الله دپاره اخلاص نه دے کړے مګر دا خبره به خوښه اوګڼړی چه دے په یو داسے کنده کښے وے چه نه پیژندلے کیدے۔

فضیلؒ فرمائی : چه زه په طنبل او باجے باندے دُنیا اوخورم، دا ماته ددے نه زیاته خوښه ده چه زه ئے په دین باندے اوخورم۔

امام مالكؒ فرمائی : کمینه خلق هغه څوك دی چه په دین سره دُنیا خوری، او د کمینهؤ کمینه هغه خلق دی چه د خپل دین په خرابئ سره د بل چا دُنیا جوړوی۔ (شعب الایمان)

بعضے علماؤ فرمائیلی دی : مؤمنان په الله سره اویروئ، منافقان په بادشاه سره، او رائے کار په خلقو سره اویروئ۔(شعب الایمان)

نبی کریم ﷺ په یو صحیح حدیث کښے فرمائی : ((د هیڅ یو بنده ایمان تر هغه وخته پورے برابرید ے نشی ترڅو چه دده زړه سم نشی، او دده زړه هیڅکله نشی سمیدلے ترڅو

چه دده ژبه برابره نشي، او جنت ته به تر هغه وخته پورې نه ځي ترڅو چه دده ګاونډي دده د ضرر نه په امن شي))۔(کذا في الترغيب : ۳/۳۵۳، ۳/۵۲۶)

دارنګه فرمائي : ((هيڅ يو بنده پوره ايماندار کيدې نشي تردې چه په خوش طبعئ او جګړه دواړو کښې دروغ پريدي اګرکه دا رشتينې هم وي))۔

(رواه احمد) اوپه يو روايت کښې دي :

((بنده تر هغه وخته پورې خالص ايمان ته نشي رسيدې تردې چه مزاح او دروغ پريدي، او جګړې پريدي اګرکه په حقه هم وي))۔(کذا في الترغيب : ۳/۵۹٤)

دارنګه فرمائي : ((هيڅ يو بنده تر هغه وخته پورې د ايمان خوند نشي بياموندلې ترڅو چه دا اوپيژني چه کوم شې ده اورسيدلو دا ترې خطاء کيدونکې نه وو، او څه چه دده نه تير شو هغه ده ته رسيدونکې نه وو))۔

او په يو روايت کښې دي : ((د هر شئ دپاره يو حقيقت وي، او بنده تر هغه وخته پورې د ايمان حقيقت ته نشي رسيدلې ترڅو چه دا اوپيژني چه کوم شې ده ته اورسيدو هغه دده نه تيرونکې نه وو، او کوم شې چه دده نه تير شو هغه ده ته رسيدونکې نه وو))۔

(الصحيحة : ٥/٥٢٦، ٥٦٨)

ابو عثمان سعيد بن اسماعيل رحمه الله فرمائي :

مَــا بَــالُ دِيــنِكَ تَــرْضَــى أَنْ تُــدَنِّسَــهُ وَاِنَّ ثَــوُبَكَ مَــغْسُــوُلٌ مِــنَ الــدَّ نَـــسِ

تَــرْجُــو الــنَّجَــاةَ وَلَــمْ تَسْلُكْ مَسَالِكَهَا اِنَّ السَّــفِيْــنَةَ لَا تَــجْــرِيُ عَــلَــى الْيَبَـــسِ

(شعب) ۔حارث محاسبي وائي : علم خشيت پيدا کوي، او زهد راحت پيدا کوي، او معرفت انابت پيدا کوي ۔ (شعب)۔

عمر بن عبد العزيز رحمه الله فرمائي : چاچه خپلې خبرې د خپل عمل نه اونه ګڼړلې نو دده ګناهونه به ډير شي، او چاچه بغير دعلم نه عمل اوکړو، نو دده فساد به دده د اصلاح نه ډير وي۔ (شعب)۔

ابن سعد رحمه الله فرمائي : چاچه په علمِ روايت باندې عمل اوکړو، نو دې به علمِ درايت په ميراث کښې يوسي، اوچاچه په علمِ درايت باندې عمل اوکړو، نو دې به علمِ رعايت په ميراث کښې يوسي، او چاچه په علمِ رعايت باندې عمل اوکړو، نو حق لاې طرفته به دده هدايت اوکړې شي۔

مالك بن دينار رحمه الله فرمائي : کله چه بنده د عمل په نيت علم طلب کړي نو علم به په ده کښې

عاجزي پيدا کړي، او کله ئې چه د عمل نه علاوه د بل شئ دپاره طلب کړي نو په ده کښې تکبر زيات کړي۔

معروف کرخي وائي : کله چه الله په يو بنده باندې د خير اراده اوفرمائي نو په ده باندې د عمل دروازه راپرانيزي او د بحث ومباحثو دروازه پرې بنده کړي، او کله چه په يو بنده باندې د شر اراده اوفرمائي نو په ده باندې د عمل دروازه بنده او د بحث ومباحثو دروازه را پرانيزي۔

مالك بن دينارؒ فرمائي : ما په تورات کښې لوستلي دي چه : عالم سړے چه کله په خپل علم باندې عمل نه کوي نو دده وعظ د خلقو د زړونو نه داسې خوئيږي څنګه چه د باران ځاڅکي د مئين کاڼي نه خوئيږي۔ (الجامع : ۲/۲۸)

اودې باره کښې ابن داؤد وائي :

مَنْ غَصَّ دَاوىٰ بِشُرْبِ الْمَاءِ غُصَّتَهٗ ۔۔۔ فَكَيْفَ يَصْنَعُ مَنْ قَدْ غَصَّ بِالْمَاءِ

(د چاپه مرئ کښې چه څه اونخلي نو په اوبو سره به ئې تير کړي، خو د چا په مرئ کښې چه اوبه اونخلي نو هغه سره به څه اوکړے ؟)۔

ابو عثمان الحيريؒ وائي :

وَغَيْرُ تَقِيٍّ يَأْمُرُ النَّاسَ بِالتُّقىٰ ۔۔۔ طَبِيْبٌ يُدَاوِيْ وَالطَّبِيْبُ مَرِيْضٌ

(بے تقوىٰ سړے چه خلقو ته د تقوىٰ حکم کوي نو دا داسې طبيب دے چه د خلقو علاج کوي خو خپله بيمار دے)۔(شعب)

ابو حازمؒ فرمائي : هر هغه نعمت چه انسان الله ته نزدې نه کړي، هغه مصيبت دے۔ (حلية الأولياء : ۳/۲۳۰)

دا هم فرمائي : هر هغه عمل چه ته د هغې د وجې نه مرګ بد ګڼړې نو هغه پريده، بيا تاته داخبره څه ضرر نه رسوي چه ته کله مرې۔(حلية : ۳/۲۳۹)

دا هم فرمائي : په دُنيا کښې هيڅ يو داسې شے نشته چه تا خوشحاله کړي مګر هغې پورې داسې يو شے نختې وي چه هغه تا خفه کوي۔ (حلية : ۲/۲۳۹)

دا هم فرمائي : چا چه دُنيا اوپيژندله نو په فراخئ به خوشحاله نشي او په مصيبت به خفګان نهٔ کوي۔ (حلية : ۳/۲۳۹)

دا هم فرمائي : د دُنيا سره بد محبت دادې چه ته حرام حاصل کړې يا تا د داسې شئ نه منع کړي چه هغه الله خوښوي۔ (حلية : ۳/۲٤٤)

دارنګ فرمائي : ته هغه وخته پورې عالم کيدې نشې ترڅو چه په تا کښې درې خويونه جمع نشي : څوك چه ستانه پورته دي په هغې ظلم اونه کړې، او څوك چه تانه ښکته دي هغوئ سپك اونه ګنړې، اوپه خپل علم باندې دُنيا حاصله نه کړې. (حلية : ۳/۲٤۳)

ربيعه بن عبد الرحمنؒ فرمائي : د زهادت سر دادې چه اشياء په حلاله طريقه راجمع کول او په خپل ځائے کښې کيخودل دي. (حلية : ۳/۲۹)

★ ايوب سختيانيؒ فرمائي : بنده هغه وخته پورې سردار کيدې نشي ترڅو چه په ده کښې دوه خويونه جمع نشي : د هغه څه نه نا اميدي کوم چه د خلقو په لاسونو کښې دې، او د هغه څه نه ځان نا خبره کول کوم چه د دوئ نه صادرېږي. (۳/٥). ډير عجيب دې.

محمد بن الحنفيهؒ فرمائي : چاته چه خپل نفس ګران وي نو ده سره به د دُنيا هيڅ قدر نه وي. (حلية :۳/۱۷٦)

دارنګه فرمائي : الله تعالىٰ جنت ستاسو د نفسونو قيمت ګرځولے دے نو ددې نه سيوا په بل شئ ئې مه خرڅوئ.

امام شافعيؒ فرمائي : وخت توره ده چه يابه ئې ته پريکوې اوکه نه وي نو تابه پريکوي، اوکه خپل نفس دې په حق کښې مشغول نه کړو نو تابه په باطل باندې مشغول کړي. (مدارج : ۱۲۹)

حسن بصريؒ فرمائي : د بنده نه د الله د اعراض کولو يوه علامه داده چه دده مشغولتيا په هغه څه کښې اوګرځوي کوم چه بے فائدے وي چه دا د الله د طرفنه شرمول وي. (الجامع في طلب العلم الشريف : ۱/۱٦٤)

امام شافعيؒ فرمائي : زياتي دُنيا طلب کول يو داسې عذاب دے چه الله په دے سره اهلِ توحيد مبتلا کړي دي. (حواله سابقه : ۱/۱٦٤)

دارنګه فرمائي : علم نه حاصليږي مګر کله چه په ذلت باندې صبر اوکړے شي. (الجامع : ۱/۱٦۳)

★ ايوب سختيانيؒ فرمائي : نيت خالص کول په عمل کونکو باندې د اعمالو جمع کولونه ډير ګران دي. (الجامع : ۱/۱٥٦)

★ سفيان ثوريؒ فرمائي : سلفوؒ به د عمل دپاره نيت زده کولو لکه څنګه چه تاسو عمل زده کوئ.

★ ابن عباس ﷺ فرمائي : علم باندې احاطه کول ګران دي، خو تاسو ددے نه ښه ښه

راخلئ۔

(الجامع: ۱/۱٦٦، وجامع بيان العلم: ۱/۱۰٥)

بعضے علماؤ فرمائيلي دي: د ټولونه افضل هغه څوك دے چه شهوت دده دين خراب نه کړي، او شبهه دده يقين خراب نه کړي۔

(أدب الدنيا والدين، ص: ۷۹)

★ حماد بن زيد ؒ فرمائي: زه هغه چاته تعجب ورے يم چه د خوراکونونه ددے د ضرر په وجه پرهيز کوي، او د گناهونونه ددے د آفتونو د وجے نه پرهيز نه کوي۔(حواله سابقه)۔

بعضے علماء فرمائي: گناهونو والا د زړونو بيماران دي۔

فضيل بن عياض ؒ ته اووئيلے شو: په ټولو شيانو کښے د تعجب والا شے کوم يو دے؟ وے فرمائيل: هغه زړه چه الله ئے اوپيژندلو او بيا ئے نافرماني کوي۔

بعضے علماء فرمائي: گنهگار په خپل طاعت باندے ناز کوي او خپل غټ غټ گناهونه هيروي۔(أدب الدنيا والدين، ص: ۷۹)

★ ابن عباس ﷺ فرمائي: خواهش يو اِله دے چه ددے عبادت کولے شي۔

بعضے وائي: د خواهش خبره مثل بيماری ده او ددے نافرماني دوائي ده۔

(حواله سابقه، ص: ۱۷)

★ علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي: زه پتاسو د دوه څيزونونه يريږم: د خواهش تابعداري او اوگده اميدونه، د خواهش تابعداري د حق نه منع کوي، او اوگده اميدونه آخرت هيروي۔(دا په حديث کښے هم راغلي دي، لکه په مشكوة: ۲/٤٤٤)

★ يو بانډه چي وائي: خواهش بعينه ذلت دے۔يو شاعر وائي:

اِنَّ الْهَوَانَ هُوَ الْهَوٰى قُلِبَ اسْمُهٗ ۞ فَاِذَا هَوَيْتَ فَقَدْ اَتَيْتَ هَوَانَا

(ذلت د خواهش نوم دے چه ددے نوم الټه شويدے، نو کله چه ته څه خواهش اوکړے نوددے معنیٰ داده چه تا ذلت ته راتگ اوکړو)۔

بعضے هوښياران وائي: په عزتونو کښے غټ عزت دادے چه د خواهش د غلبے نه انسان منع شي۔ ★ عياض وائي: کله چه پتا دوه کارونه سخت شي نو په دے کښے چه کوم تاته ډير خوښ وي هغه پريده، او چه کوم درته درونډ وي هغه واخله۔

(أدب الدنيا والدين، ص: ۲۱)

۱۲ - فائده

د زړونو ژوند

اودا ډیره مهمه فائده ده: ځکه د چا زړه چه مړ شی نو دده قیامت قائم شو او عذاب ئے حاضر شو، او تاوان ئے زیات شو، او دے به دَ خپل جسمانی ژوند نه څه نفع هم وانخلی، ځکه چه په دے کښے خو ځناور او انسان دواړه شریك دی، خو انسان دده نه د زړه په ژوند باندے جدا دے۔

لهذا حقیقی حیات او نغد او نیتے والا نعمت همدا دے، او هم ددے په وجه انسان د قرآن نه فائده حاصلولے شی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لِيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا ﴾ [یٰس: ۷۰]

(دے دپاره چه هغه څوك اویروی چه ژوندے دے)۔ او په همدے باندے د ایمان خوند هم موقوف دے، او په همدے باندے د انسانانو خپلو کښے په یو بل مرتبے اوچتیږی۔ څوك چه ددے ژوند مزه اوڅکی نو ترمرګه پورے به ددے په طلب او زیاتوالی کښے لګیا وی۔ او څوك چه ددے د حاصلولو نه ډیه کونکے دے نو د هغے د طلب کولو نه غافل دے۔

نو تاله پکار دی چه ددے اسباب تیار کړے، ځکه الله تعالیٰ د هر مطلوب حاصلولو دپاره اسباب مقرر کړی دی چه په هغے سره حاصلیږی۔

نو د حقیقی ژوند اسباب – چه په دے باندے اخروی ژوند موقوف دے – مونږ د هغے نه بعضے ذکر کوو:

۱ – **اول سبب قرآن**: ځکه دا د زړونو ژوند دپاره او په هغے کښے د روح تازه کولو دپاره رالیږلے شویدے، اودا داسے دے لکه د اوچے زمکے دپاره باران۔ چه اوچه زمکه په باران او زړونه په قرآن ژوندی کیږی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا كَذَلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴾ [الاعراف: ۵۸]

(او پاکیزه زمکه، ددے د رب په اذن سره ددے شینکی راتو کیږی، اوکومه زمکه چه بنوره وی نو د هغے زرغونه نه وی مګر اوچ، دغه شان مونږ په وضاحت سره آیتونه بیانوو د هغه قوم دپاره چه شکر کوی)۔

نو دا د زړونو مثال دے چه په قرآن سره نفع بیامومي یائے نه مومي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ ﴾ [الانفال: ٤٢]

(او ژوندے شي هغه څوك چه ژوندے شي په دلیل سره)۔ یعني ددے په تلاوت، تفسیر، تدبر، او علم او عمل سره ژوندے شي۔

اودا ډیر مهم سبب دے۔ نو تاله پکار دي چه د قرآن کریم تلاوت، تفسیر او تدبر لازم اونیسے۔

۲ - دویم سبب : د الله عز وجل ډیر ذکر کول :

ځکه دے سره زړونه ډیر زیات ژوندي کیږي، نبي کریم ﷺ فرمائي : ((د هغه سړي مثال چه خپل رب یادوي او د هغه سړي چه نه ئے یادوي، د ژوندي او مړي پشان دے))۔

(رواه البخاري) نو ذکر د زړه ژوندون دے۔

او د ذکر بے شماره فائدے دي، چه مونږ به ئے ان شاء الله په دے رساله کښے ذکر کړو۔

نو ددے صحیح حدیث نه په وضاحت سره معلومه شوه چه د الله ذکر ژوند دے، او ذکر کونکے ژوندے دے او د ذکر نه غافل مړے دے۔او واقع هم ددے گواهي ورکوي۔

او شرعي ذکر د زړونو دپاره د ژوند او نورانیت سبب دے۔ الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَٰٓئِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَٰتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴾ [الاحزاب: ٤١،٤٣]

(اے ایمان والو ! د الله ډیر زیات ذکر کوئ ، الله هغه ذات دے چه هغه او د هغه ملائك پتاسو رحمتونه رالیږي دے دپاره چه تاسو د تیرونه رنړا طرفته اوباسي او الله په مؤمنانو باندے ډیر زیات رحم کونکے دے)۔

نو د ذکر په وجه مؤمن د تیرونه نورِ قلبي او ظاهري رنړا طرفته اوځي۔ او دا نور او حیات خپلو کښے لازم ملزوم دي، بلکه کله چه دا دواړه راجمع شي نو بنده کامل شي او په خپل زړهٔ سره خپل پالونکي، پیدا کونکي او مَولیٰ طرفته الوځي۔

دا وجه ده چه الله دا دواړه په خپل دے قول کښے ذکر کړي دي : ﴿ أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ﴾ [الانعام: ١٢٢]

(آیا هغه څوك چه مړ وي او هغه مونږ راژوندے کړو او د هغه دپاره داسے رنړا ورکړو چه د هغے په وجه په خلقو کښے ژوند تیروي، آیا دده مثال د هغه چا غوندے دے څوك چه په گنړو تیرو کښے چه د هغے نه وتونکے نه دے)۔

قرآن کريم په ډيرو آيتونو کښې د مثلِ ناري او مائي ترمينځه جَمع والے راولی، لکه په سورتِ بقره، رعد او نور کښې دا جَمع والے راغلے دے۔ دے کښې ديته اشاره وی چه اور او اوبه دواړه د ژوند او رنړا سببونه دی۔ دغه شان قرآن کريم زړه ژوندے او روښانه کوی، او دا د الله ډير لوئے ذکر دے، او د هغه د ذکرنه اعراض کول د ژوند د تنګيدو سبب دے چه دا د زړه مرګ دے۔

۳ - دريم سبب : د الله په لار کښې جهاد کول :

دا هم د مسلمانانو دپاره ښکاره ژوند او د زړه حيات دے، کله چه په خپلو دينی شروطو سره اوکړے شی۔

٤ - څلورم سبب : د رسول الله ﷺ تابعداری :

په هرهغه څه کښې چه هغه ورته دعوت ورکوی۔ څکه هر هغه عقائد، اعمال، اخلاق او د منکراتو او خرافاتونه بچ کيدل چه رسول الله ﷺ ورته دعوت ورکوی نو دا يو عظيمه زندګی ده۔ نو تاله پکار دی چه د سُنتو تابعدار جوړ شے او د تقليد او د مخالفت السنه نه ځان اوساتے، څکه دا يو تيارهٔ فتنه ده۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ وَاعْلَمُوْا أَنَّ اللهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ وَأَنَّهٗ إِلَيْهِ تُحْشَرُوْن ﴾ [الانفال: ٢٤]

(اے ايمان والو : د الله او د هغه د رسول (ﷺ) خبره منئ هرکله چه تاسو هغه شئ ته راغواړی کوم چه ستاسو د ژوند سبب دے، او پوهه شئ چه بيشکه الله د انسان او د هغه د زړهٔ ترمينځه رکاوټ واقع کيږی او دا چه تاسو به هغه طرفته ورګرځئ)۔

نو ددے آيت نه صراحت سره معلومه شوه چه کوم شئ ته رسول الله ﷺ دعوت ورکوی نو همدا يو عجيب روحانی قلبی ژوندون دے۔ او چاچه ددے نه اعراض اوکړو نو الله عز وجل دده زړه وژنی او اړوی ئے، والعياذ بالله !

٥ - پنځم سبب : د وعظ او نصيحت مجالس :

څکه دے سره هم زړونه نرميږی او ژوندی کيږی۔

امام مالك په موطأ (۱/۷۳۵) کښے نقل کړی دی چه : ده ته دا خبره نقل کړے شويده چه لقمان حکيم خپل ځوئے ته نصيحت اوکړو۔ ورته ئے اوفرمائيل : ځويه ! علماؤ سره کينه او د هغوئ مخے ته خپلے ګوډے غوړوه، څکه الله تعالیٰ د حکمت په رنړا سره زړونه داسے ژوندی کوی څنګه چه په شيبو شيبو باراناٴ سره زمکه ژوندئ کوی۔

★ د عمر فاروق ﷺ په اثر کښې راغلي دي: ((که چرې سجده او د علم مجلسونه نه وې چه په هغې کښې مزيدارې مزيدارې خبرې منتخب کولې شي نو مابه خامخا مرګ خوښ کړې وې)).

٦ - شپږم سبب: هغه دے کوم چه علامه ابن القيم رحمه الله په (طريق الهجرتين) او (المدارج: ٢٦٤/٣) کښې ذکر کړيدے چه: د سَحر د سُنتونه پس څلويښت کرته دا الفاظ لوستل: (يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ) د زړه د ژوند دپاره سبب دے، لکه چه په دے باندے تجربه شويده، ځکه دا وخت ډير مهم دے. خو ابن قيم رحمه الله د حديث نه ددے دعاء څه سند نه دے پيش کړے. په کنز العمال کښې ما دا دعاء اوليدله خو په هغې کښې ورسره دغه وخت نه دے مقرر شوے.

٧ - اووم سبب: چه دا د ټولونه لوئے سبب دے:

صحيح ايمان، عمل صالح او د الله معرفت، عبادت او محبت حاصلول:

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾ [النحل: ٩٧]

(چا چه نيك عمل اوکړو نارينه وي که زنانه په دے شرط چه مؤمن وي نو خامخا به مونږ دے په پاکيزه ژوند باندے ژوندے اوساتو).

د حياتِ طيبه نه مراد د زړه ژوند، نعمت او په ايمان بالله باندے ددهٔ خوشحالي او محبت او هغه ته انابت او په هغه باندے توکل کول دي. ځکه ددے قسم ژوندون نه غوره ژوند بل نشته، اونه ددے نعمت نه بهتر بل نعمت شته سيوا د جنت د نعمت نه. اوکله چه د زړه ژوند مزيدار ژوند دے نو د اندامونو ژوند به ددے تابع وي، ځکه زړه ددے مالك دے. دا وجه ده چه الله تعالىٰ د هغه چا دپاره تنګ ژوند مقرر کړيدے څوك چه د هغه د ذکر نه اعراض کوي، چه دا د حياتِ طيبه الټه صورت دے.

اودا ژوند په درے واړو کورونو کښې وي: دُنيا، برزخ او آخرت کښې.

لکه څنګه چه تنګ ژوندون هم په دے درے واړو کورونو کښې دے.

(انظر المدارج: ٢٥٩/٣)

نو تاباندے لازم دي چه د خپل ايمان او عمل اصلاح اوکړے، کيدے شي چه ته ددے ژوند نه پوره حصه حاصله کړے او په لويه کاميابئ باندے کامياب شے.

٨ - اوددے ژوند د لوازمو نه: شرعي علم زده کول دي: لکه الله تعالىٰ فرمائي:

﴿ أَوَ مَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ ﴾ [الانعام: ١٢٢]

(آیا هغه څوك چه مړ وی او هغه مونږ ژوندے کړو)۔ یعنی په ایمان، علم او هدایت سره۔

معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی : علم د ناپوهئ نه د زړونو ژوند دے ۔۔۔ الحدیث.

(رواه الطبرانی وابن عبد البر وهو فی حیاة الصحابة : ٣)

١٠ – او د همدے ژوندون تقاضا : گناهونه پریخودل دی :

ځکه گناهونه زړونه وژنی۔ لکه عبد الله بن المبارکؒ فرمائی :

رَأَيْتُ الذُّنُوبَ تُمِيتُ الْقُلُوبَ ۔۔۔ وَقَدْ يُورِثُ الذُّلَّ إِدْمَانُهَا

وَتَرْكُ الذُّنُوبِ حَيَاةُ الْقُلُوبِ ۔۔۔ وَخَيْرٌ لِنَفْسِكَ عِصْيَانُهَا

وَهَلْ أَفْسَدَ الدِّينَ إِلَّا الْمُلُوكُ ۔۔۔ وَأَحْبَارُ سُوءٍ وَرُهْبَانُهَا

وَبَاعُوا النُّفُوسَ وَلَمْ يَرْبَحُوا ۔۔۔ وَلَمْ يَغْلُ فِي الْبَيْعِ أَثْمَانُهَا

فَقَدْ رَتَعَ الْقَوْمُ فِي جِيفَةٍ ۔۔۔ يَبِينُ لِذِي اللُّبِّ خُسْرَانُهَا

(ماگناهونه اولیدل چه زړونه وژنی، او په دے همیشه والے کول د ذلت سبب جوړیږی، او گناهونه پریخودل د زړونو د ژوند سبب دے، نو ستا د نفس دپاره ددے نافرمانی کول غوره دی۔ آیا د بادشاهانو، علماءِ سُوء او پیرانو نه سیوا گنے بل چا هم دین خراب کړیدے ؟ دے خلقو خپل نفسونه خرڅ کړل او گټه ئے اونه کړه، او په سودا کښے ددے قیمت گران نشو۔ ځکه دے خلقو په مُرداره کښے څر کړیدے، چه هر عقل مند ته ددے تاوان ښکاره دے)۔

بلکه هغه رَین، ختم او مهر کوم چه په زړونو باندے راځی نو ددے سبب گناهونه او غفلت دے اودا ښکاره مرگ دے۔

١١ – ابن مسعود ﷺ فرمائی : ((آیا تاسو پوهیږئ چه هغه مړ زړے څوك دے چه د هغه په باره کښے وئیلی شوی دی :

لَيْسَ مَنْ مَاتَ فَاسْتَرَاحَ بِمَيِّتٍ ۔۔۔ إِنَّمَا الْمَيِّتُ مَيِّتُ الْأَحْيَاءِ

(هغه څوك مړ نه دے چه مړشو او په قلار شو، مړے خو هغه دے څه د ژوند مړے وی)۔

خلقو عرض اوکړو : دا څوك دے ؟ وے فرمائیل : چه معروف ورته معروف نه ښکاری او منکر ورته منکر نه ښکاری))۔

او عام طور سره خلق د بدنی مرگ نه یریږی خو د زړونو د مرگ نه نه یریږی، بلکه په دے هیڅ باك نه کوی۔

او کوم خلق چه ددے پاکیزه ژوند دپاره کوشش کوی همدا خلق هوښیار، زیرکه، پاکیزه

نفسونو والا، ذلت نه انکار کونکی او د اوچت همت والا خلق دی۔ الله تعالیٰ دے مونږ هم داسے کړی !

۱۲ - دولسم سبب : دا چه انسان د حرامو او مشتبه څیزونو خوړلو نه ځان اوساتی : ځکه دا ډیر تاثیر لری، او ددے برعکس زړه مړ کوی، لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ أَوَ مَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا ﴾

[الانعام: ۱۲۲]

دا آیتِ کریمه د مُردارو او د هغه حیواناتو ذکر کولو نه پس راغلے دے چه د الله نوم پرے نه وی اخستلے شوے۔ چه په دے کښے ښکاره اشاره ده دیته چه ددے پریخودل د حیات او نور سبب دے۔

په یو حدیث کښے دی : ((خبردار ! په بدن کښے یوه ټکړه ده کله چه هغه روغه وی نو ټول بدن روغ وی، او هغه زړه دے))۔

دائے د حرامو او شبهاتو ذکر کولو نه پس ذکر کړیده۔ ځکه چه ددے حدیث په اول کښے داسے جمله ده : ((حلال هم ښکاره دی او حرام هم ښکاره دی او ددے دواړو ترمینځه مشتبه څیزونه دی، نو چا چه د مشتبه څیزونو نه ځان اوساتلو نو هغه د خپل دین او عزت حفاظت اوکړو ..... الحدیث))۔

★★★★★★★

۱۳ - فائده او بشارت

هغه دا چه ما فکر اوکړو چه ددې فاني کور نه سفر کول ډیر ګران دی، او د مرګ سَکرات او تکلیفونه ډیر سخت دی اودا به ضرور واقع کیږي. نو آیا دَ مؤمن دپاره څه خیر شته دې؟ نو ماته ډیر بشارتونه واضح شو او هغه دا چه: مؤمن سړے د خپل رب عز وجل او خپل مالك او پیدا کونکی او هغه چا سره ملاقات کوی چه هغه ورته د هرڅه نه زیات محبوب دے، او هغه د هر عزتمند او شریف څیز نه زیات عزتمند او کریم دے، او د هغه په ملاقات کښې ټوله خوشحالي او هغه کرامت دے چه ددے په وجه به بنده خپل اهل او دنیوی خواهشات هیر کړی، نو بیا غم او وحشت ولے کیږی ؟

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَوْمُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ وَلَئِنْ مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللهِ تُحْشَرُوْنَ ﴾ [ال عمران: ۱۵۷،۱۵۸]

(اوکه تاسو د الله په باره کښې قتل کړے شوئ یا په خپل مرګ مړه شوئ نو خامخا د الله دطرفه مغفرت او رحمت د هغه څه نه غوره دے کوم چه تاسو جمع کوئ، اوکه تاسو مړه یا قتل کړے شوئ نو خامخا به الله طرفته ورګرځئ).

نو په دے دواړو آیتونو کښے د مؤمن دپاره ګنړ زیری دی او هغه دا چه: که چرے دا د الله په لار کښے قتل او شهید کړے شی، یا په خپل مرګ باندے مړشی نو دده د ګناهونو دپاره د الله د طرفنه مغفرت او رحمتِ کامله د ټولے دُنیا او مافیها نه غوره ده، ځکه وژل کیدل او مړ کیدل ګناهونه رژوی، اودا دواړه د الله د مغفرت اسباب دی ځکه انسان هلته فقیر او عاجز او الله ته محتاج دے او الله د خپلو بندګانونه په کمزورو او بے وسو باندے رحم کوی. اودا هم کمزورے او بے وسه دے چه دده په لاس کښے هیڅ شے نشته، اونه ددے طاقت لری چه څه اوکړی، بلکه دا په ټولو مخلوقاتو کښے خپل خالق ته ډیر زیات محتاج دے، نو دے سره به په ده باندے د الله رحمت او مغفرت اوشی.

اوپه دویم آیت کښے عظیم بشارت دے، او هغه دا چه د مؤمن سړی حشر به الله طرفته کیږی او هغه سره به ملاویږی. نو مؤمن ولے غم کوی او د مرګ یا قتل نه ولے ویریږی هرکله چه د مرګ نه پس دده ملاقات د خپل مَولیٰ سره کیږی. کله چه مؤمن د خپل اهلِ وعیال او بنځے نه په مرګ سره جُدا شی، نو دا د خپل هغه عظیم او لوئے عزتمند

محبوب سره ملاویږي د کوم په طلب او رضامندئ کښې چه دے ټول عُمر پاتے شوے دے، او د هغه په ذکر او عبادت کښې مشغول پاتے شویدے۔ نو کله چه د هغه سره ملاقات اوکړي نو ده خپل مقصود او اُمید حاصل کړو، او په خپل مولیٰ باندے خوشحالي او نیك بختیا ئے حاصله کړه۔ والله العظیم! چه دا یو داسے سرور او خوشحالي ده چه هیڅ یو شے ددے سره برابریدلے نشي۔

دا وجه ده چه ابو بکر صدیق ﷺ به فرمائیل: ((اے الله زما د خوشحالئ ورځ هغه اوګرځوے په کومه ورځ چه زه تاسره ملاقات کوم))۔

ابن مسعود (ﷺ) فرمائي: ((د الله د ملاقات نه سیوا د بنده راحت نشي راتلے))۔

(أخرجه أحمد في الزهد)

په یو صحیح حدیث کښې د عائشے رضی الله عنها نه نقل دي چه دا فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے: ((څوك چه د الله ملاقات خوښوي الله دده ملاقات خوښوي۔ عائشے؆ عرض اوکړو: په مونږ کښې هریو کس مرګ بدګڼړي! (نو آیا دا د الله ملاقات بدګڼړل دي؟) رسول الله ﷺ اوفرمائیل: نه، دا مطلب نه دے۔ بلکه مؤمن ته چه کله مرګ حاضر شي نو د الله په رضامندئ او کرامت سره ورته زیرے ورکولے شي، چه ده ته څه مخامخ راتلونکي دي د هغے نه علاوه ده ته بل هیڅ شے زیات محبوب نه وي، دے وجے نه دے د الله ملاقات خوښ اوګڼړي او الله هم دده ملاقات خوښ اوګڼړي۔ او کافر ته چه کله مرګ حاضر شي نو ده ته د الله په عذاب او سزاء باندے زیرے ورکړے شي، نو دے بیا مخامخ راتلونکي حالتونه ټول بد ګڼړي، نو د الله ملاقات بدے اوګڼړي او الله هم دده ملاقات بد اوګڼړي))۔ (المشكاة: ۱/۱۳۹)

نو دا حدیث شریف په دے دلالت کوي چه مؤمن د خپل مرګ په وخت د الله سبحانه وتعالیٰ سره مخامخ کیږي۔ نو دا ډیر لوئے بشارت دے!

دارنګه د مؤمن سرې روح د نورو مؤمنانو د ارواحو سره ملاقات کوي کوم چه دده خپلوان او دوستان وغیره وي۔

بلال ﷺ چه کله وفات کیده نو بي بي ئے خفه وه نو ده ورته اووئیل: ((صباله به مونږ خپلو دوستانو محمد (ﷺ) او د هغه صحابو؆ سره ملاقات کوو))۔

ابن عباس ﷺ عائشے رضی الله عنها ته اووئیل: ((ته خو رشتینے لیږلے شوي شخص ته ور روانه ئے یعنی محمد (ﷺ) او ابو بکر صدیق ﷺ ته))۔ په یو حدیث کښې راغلي دي: ((د

مؤمن روح چه کله پورته اوخیژولے شی نو د نورو مؤمنانو روحونه دده سره په رحمت او زیرے سره داسے مخامخ شی، لکه څنګه چه په دُنیا کښے غائب سره مخامخ کیږی۔ بیا دوئ ورته رامخامخ شی او تپوسونه ترے کوی، ورته وائی : فلانے څنګه وو او د هغه څه حالت وو ؟ نو هغه وائی : هغه ما په خیر او په ښه لاره باندے پریخودلو، نو هغوئ وائی : اے زمونږ ربه ! تا ورته ددغه سمے لارے هدایت کړیدے نو هغه وخته پورے ئے پرے مضبوط لرے تردے چه ته ترے روح واخلے۔ اوکه هغوئ ترے د یو انسان باره کښے تپوس اوکړی چه هغه مړ شوے وی نو بیا هغه وائی : هغه خو مړ شویدے۔ نو هغوئ وائی : انا لله وانا الیه راجعون، قسَم دے چه هغه زمونږ د عمل نه سیوا بل عمل کړیدے، نو هغه زمونږ د لارے نه علاوه په بله لاره بوتلل شویدے، دا خپلے مورِ هاوئیے ته بوتللے شویدے چه ډیره بده مور ده او ډیره خرابه تربیت کونکے ده))۔

(أخرجه ابن حبان : ٤٠١٤، والحاكم : ١٣٠٢، والنسائي : ١٨٣٢، واسناده صحيح)

په مشکوٰة (١/١٤٢) کښے د ابو هریره ﷺ نه د رسول الله ﷺ دا ارشاد روایت دے چه : ((کله مؤمن ته مرګ حاضر شی نو ده ته د رحمت ملائك د ریښمو یوه سپینه کپړه راوړی او ورته وائی : اے روحه ! په داسے حال کښے راوزه چه ته د الله نه خوشحاله او هغه ستانه خوشحاله دے، راحت او خوشبویانو طرفته او داسے رب طرفته راوزه چه غصه نه دے، نو دا روح د مشکو د مزیدارے خوشبوئ پشان اووځی تردے چه ملائك ئے یو بل له ورکوی، تردے چه د آسمان دروازو ته ئے راوړی، نو دوئ وائی : دا څومره مزیداره خوشبوئ ده چه تاسو ته د زمکے نه راغله، نو دوئ هغه د مؤمنانو روحونو ته راوړی نو دوئ په ده باندے داسے خوشحاله شی څنګه چه پتاسو کښے یو غائب مسافر ته خوشحالیږی چه هغه ورته راشی۔ نو دوئ د هغه نه تپوس کوی چه فلانی څه اوکړل، فلانی څه اوکړل، نو دوئ وائی : دا پریدئ څکه چه دا د دُنیا په غم کښے وو، نو دا وائی : هغه مړ شوے دے، آیا تاسو ته نه دے راغلے ؟ نو هغوئ وائی : هغه خپلے مور هاویه ته بوتللے شویدے .... الحديث))۔

امام نسائیؒ په دے باندے باب قائم کړیدے : باب دے په بیان د هغه کرامت او عزت کښے چه د هغے سره مؤمن د ساه ختلو په وخت مخامخ کیږی۔

په یو مرسل حدیث کښے دی : ((د مؤمن مثال لکه د هغه ماشوم دے چه د مور په خیټه کښے وی کله چه د هغے د خیټے نه راوځی نو په خپلو راوتلو ژاړی، خو چه کله سینه اووینی او پیئ رودل شروع کړی نو بیا خپل ځائے ته واپس کیدل نه خوښوی۔ دغه شان

مؤمن دے چه د مرگ نه جزع فزع کوی، خو چه کله خپل رب ته لاړ شی نو بیا دانه خوښوی چه دُنیا ته واپس شی، لکه څنګه چه ماشوم نه خوښوی چه د خپلے مور خیټے نه واپس شی))۔

(أخرجه ابن ابی الدنیا، وهو فی شرح الصدور، ص : ۱۸)

ددے تائید دے صحیح حدیث سره کیږی چه : ((هر مؤمن دپاره د الله سره خیر دے، دا وجه ده چه د شهید نه سیوا بل هیڅوك دُنیا ته د واپسئ تمنی نه کوی))۔ (رواه النسائی وغیره)

په یو صحیح حدیث کښے د براء بن عازب ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ ارشاد فرمائیلی دے : ((کله چه مؤمن بنده د دُنیانه په وتو او آخرت ته په تلو کښے وی نو ده ته سپین مخی ملائك د آسمان نه راکوزیږی، ته به وائے چه د هغوئ مخونه نور دے، چه هغوئ سره د جنت کفنونه او خوشبوئ وی، هغه راشی او دده سرته دده نظر لګیدو په اندازه اودریږی، بیا ورته ملك الموت راشی او دده د سر سره نزدے کینی او وائی : اے مطمئن نفسه ! د الله مغفرت او رضامندئ ته را اوځه، نو دا روح داسے بهیدلو سره اوځی څنګه چه څاڅکے د مشك نه بهیږی، بیا هغوئ دا په دغه کفن اوخوشبوئ کښے تاؤ کړی، او هر یو ملائك دا خوښ ګنړی چه دا پورته یوسی، او په هر آسمان کښے چه کوم مقرب ملائك دی هغوئ دا روح رخصتوی تردے چه اووم آسمان ته یوړلے شی، نو الله تعالیٰ فرمائی : زما د بنده کتاب په عِلّیّین کښے اولیکئ۔ بیا ورته په بدن کښے روح را واپس کړے شی او دده نه تپوس کیږی او دا جواب ورکوی۔ رب زما الله دے، دین زما اسلام دے او نبی زما محمد ﷺ دے۔ بیا ورسره عمل صالح د یو ښائسته مخ والا سړی په شکل ملګرے وی))۔

(مختصرا، احمد، ابو داود، بیهقی)

په دے حدیث کښے ډیر زیات زیری دی۔ یو دا چه د مؤمن سړی نه لکه د بهترین مشکو پشان خوشبوئ روانه وی۔

ابن ابی شیبه د ابو هریره ﷺ نه روایت کوی چه دا فرمائی : ((د مؤمن سړی روح هغه وخته پورے نه قبض کیږی ترڅو چه ده ته زیرے ور اونه ښودلے شی، اوکله چه روح ئے قبض شی نو آواز کوی چه په کور کښے هیڅ وړوکے یا غټ څناور نه وی مګر هغه دده آواز آوری سیوا د انسانانو او پیریانونه۔ هغه آواز ئے داوی چه : ما ارحم الراحمین طرفته په تادئ بوځئ، نو کله چه په خپل کټ باندے واچولے شی نو وائی : تاسو ما څنګه ډیر په قلاره بوځئ، اوکله چه په لحد کښے وا چولے شی نو کینولے شی او د جنت ځائے او الله چه

کـوم نـعـمتونه ده له تیار کړي دي هغه ورته اوخودلے شي، او دده قبر د راحت، خوشبوئ او مشـکونه ډك کړے شي نو وائي : اے ربه ! ما مخکښې بوځه۔ نو ده ته وئیلے شي : ستا څه ورونه او خویندے دي چه تا پورے لانه دي پیوسته شوي، نو اوس ته خوشحاله اوسه))۔

نو دا بل بشارت او زیرے دے۔

د صحیح بخاري په حدیث کښې راغلي دي : ((مړے به خپله مُستراح (په راحت کښې) وي یابه مستراح منه (ده نه خلق په راحت کښې) وي ۔ عرض اوشو : یا رسول الله ! مستریح او مستراح مِنه نه څه مراد دي ؟ وے فرمائیل : مؤمن سړے د دُنیا د سترې والي او تکلیف نه د الله رحمت طرفته راحت بیامومي، او فاجر سړي نه بندګان، وُنے، ځناور او ښارونه په راحت کښې شي))۔(المشکاة : ۱/۱۴۳)

نو مؤمن سړے ان شاء الله ددے مصیبتونو او ستومانتیا نه په قبر کښې خلاص وي۔

اللهم اجعلنا کذلك۔

او ډیر مزیدار بشارت د الله تعالیٰ په دے قول کښې دے : ﴿ فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴾ [الواقعه: ۸۸،۹۱]

(نوکه چرے دا مړے د مقربینو نه وي نو ده دپاره راحت، ښائسته رزق او د نعمتونو جنت دے، او که چرے دا د ښي اړخ والونه وي نو ده دپاره د ښي اړخ والونه د کیدو په وجه سلامتیا ده)۔

دا خبره الله انسان ته د مرګ حاضریدلونه روسته کړیده لکه فرمائي : ﴿ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴾ [الواقعه: ۸۳]

(نو ولے نه کله چه روح مرئ ته اورسي او تاسو په دغه وخت ګورئ او مونږ ده ته ستاسو نه ډیر نزدے یو خو تاسو ئے نه وینئ – یعني ملائك)۔

ابن ابي حاتم د قتادهؒ نه روایت کوي چه : رَوح او رَیحان سره به مؤمن د مرګ په وخت ملاقات کوي۔

بکر بن عبیدؒ او مجاهدؒ فرمائي : د مؤمن سړي روح د جنت په ریښمو کښې ویستلے شي۔

اودے وخت کښې یو بل زیرے هم وي او هغه د الله او ملائکو سلام وي په مؤمن باندے۔

لکه بیهقي او حاکم د محمد بن کعب القرظيؒ نه روایت کوي چه : کله د مؤمن سړي ساه خیژي نو ملك الموت ورته راشي او وائي : اے د الله دوسته ! پتا دے سلام وي، الله پتا

سلام وائي. بیا ئے دا آیتِ کریمه اولوستله :

﴿ اَلَّذِیۡنَ تَتَوَفّٰهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ طَیِّبِیۡنَ یَقُوۡلُوۡنَ سَلٰمٌ عَلَیۡكُمُ ﴾ [النحل: ٣٢]

(هغه خلق چه ملائك ترې په داسې حال کښې روح اخلي چه دوئ پاکیزه وي ورته وائي : په تاسو دې سلام وي).

او یو بل زیرې هم د الله تعالیٰ په دې قول کښې ذکر دې : ﴿ اِنَّ الَّذِیۡنَ قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا تَتَنَزَّلُ عَلَیۡهِمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا وَاَبۡشِرُوۡا بِالۡجَنَّةِ الَّتِیۡ كُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ﴾ [حم سجده: ٣٠]

(هغه خلق چه وائي : رب زمونږ الله دې او بیا په دې باندې مضبوط پاتې شول، په دوئ باندې (د مرګ په وخت) ملائك نازلیږي چه مه ویریږئ او مه غمژن کیږئ او په هغه جنت باندې خوشحاله شئ چه تاسو سره ئے وعده کولے شي).

زید بن اسلم وائي : د مرګ په وخت او په قبر او حشر کښې ورته زیرې ورکوي. او همدا تفسیر، علامه ابن کثیرؒ هم غوره کړیدې او فرمائیلي ئے دي چه په واقع کښې هم همداسې ده.

مجاهدؒ وائي : د مرګ په وخت ورته زیرې ورکوي.

د عبد الله بن عمرو ﷺ په اثر کښې راځي : ((ملائك د مؤمن سړي روح خپل رب ته راوړي نو ملائك ددې نه مخکښې سجده اوکړي او بیا وائي : اے زمونږ ربه ! دا ستا فلانے بنده دې چه مونږ ترې روح قبض کړو او ته دده په حال ښه پوهه ئے نو الله فرمائي : ده ته د سجدې کولو حکم اوکړئ، نو دغه روح سجده اوکړي، بیا میکائیل را اوغوښتے شي او ورته اوویلے شي چه دا روح د نورو مؤمنانو د روحونو سره یو ځائے کړه .... الحدیث)).

(أخرجه الطبراني في الكبير مطولا، كما في شرح الصدور صـ: ٣٣)

په یو صحیح حدیث کښې دي : ((د مؤمن روح یو مارغه وي چه د جنت په ونو کښې خړیږي کوم ځائے چه غواړي)).

(ابن ماجه وغيره، المشكاة : ١/١٤٤)

نو دا ډیر مزیدار زیري او بشارتونه دي.

دې وجې نه اے مؤمنه ! په تا هیڅ غم او خفګان نشته، خو پتا باندې لازم دي چه د خپل رب په طاعت او د خپل نبي په سُنت باندې ټینګ پاتې شې او د مرګ دپاره زاد او توښه تیاره کړه او غفلت مه اختیاروه، او مه د دُنیا د مصیبتونو نه بے صبره کیږه، ځکه دا زائله کیدونکے سورے دے یا د اوړي وریځ ده چه ډیره زر ختمیږي یا آرزوګانے دي یا خوب دے چه سړے ئے ویني، او آخرت اصلي کور او د همیشه اوسیدو ځائے دے.

۱۴ - فائده

بنده به څنګه په جنت کښې د الله د ګاونډي کيدو اهل اوګرځي؟

نو رسول الله ﷺ دے دپاره راغلے دے چه مونږ د دُنيا د تنګسيا نه د آخرت وسعت طرفته اوباسي، او د غير الله د عبادت نه مو د الله عبادت ته، او د نفسونو د تِيرونه د يقين او سُنت رنړا طرفته اوباسي، دے دپاره چه مونږ د الله سبحانه وتعالیٰ د مجاورت او ګاونډي کيدو اهل شو۔ دے وجے نه د رحمت دے نبي (ﷺ) ته پوره منقاد کيدل او کامل اذعان والا کيدل ضروري دي۔

د نبي ﷺ دا طريقه وه چه اول به ئے خلقو ته د ايمان دلائل او د الله عز وجل کتاب لوستلو، او بيابه ئے د قرآن حقائق ورته خودل، بيابه ئے د الله بندګان د کتاب الله تعليم او حکمت طرفته رسول، بيابه رفته رفته حکمت حاصلولو سره د انسان تزکيه او پاکيزګي حاصله شي او دار الکرامه کښے د الله د ګاونډي کيدو اهل اوګرځي، لکه چه امام راغبؒ فرمائيلي دي۔دے وجے نه حکمت آوريدل او په دے باندے نطق کول اوددے مطالعه کول او په دے باندے علما او عملا متصف کيدل او ديته دعوت ورکول او ددے په مجالسو کښے کيناستل پکار دي۔

او حکمت هرهغه خبره ده چه تاته وعظ اوکړي، يا دے د يو منکر نه منع کړي، يا دے د يو عزت کار ته دعوت کړي۔ لکه دا خبره ابن دريدؒ کړيده (معالم التنزيل)۔

نو په دے ترتيب سره د الله عز وجل مجاورت حاصليږي۔ يعني د الله آيتونه لوستل، د هغے زده کول، حکمت ته په هغے کښے رسيدل او په هغے سره د نفس تزکيه کول۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ [البقرة: ۱۲۹]

(اے ربه زمونږ! په دوئ کښے يو داسے رسول راوليږے چه د دوئ د جنس نه وي چه په دوئ باندے ستا آيتونه لولوي او دوئ ته دَ کتاب او سُنت تعليم ورکوي او دوئ پاك کړي، واقعي چه ته غالب او حکمتونو والا ئے)۔

﴿ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴾

[البقرة: ۱٦۹]

(چاته ئے چه خوښه شي حکمت ورکوي او چاته چه حکمت ورکړے شي نو هغه ته ډیر خیر ورکړے شو او نصیحت نه اخلي مګر د عقل خاوندان)۔

نو قرآن کریم دیته اشاره کوي چه حکمت د غوره والي، تزکیئے او پاکیزګئ سبب دے۔

۱۵ - بهترینه فائده

مانه یو ځل تپوس اوشو چه آیا په دنیا کښې خوك - د نبي ﷺ د زمانے نه پس - دا پیژندلے شي چه دا یقینا د جنت والونه دے، ځکه په نبي ﷺ به وحي نازلیدله او اوس نه نازلیږي ؟

نو ما وئیلے : هاؤ، دا په صفاتو او په هغه خبرو سره پیژندلے شي کوم چه په کتاب او سنت کښې ذکر شوي دي۔

تعالیٰ فرمائي : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِیْنَ هُمْ فِیْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴿۲﴾ وَالَّذِیْنَ هُمْ عَنِ اللغوِ مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾ وَالَّذِیْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ﴾.. الآیات [مومنون: ۱]

(یقینا مؤمنان کامیاب دي چه دوئ په خپلو مونځونو کښې خشوع کونکي دي او د بیهوده خبرونه مخ اړونکي دي او زکوه ورکونکي دي)۔

﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ الَّذِیْنَ یَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾ [مومنون: ۱۰،۱۱]

(همدا خلق هغه وارثان دي چه فردوس به په میراث کښې وړي چه دوئ به په هغې کښې همیشه دپاره وي)۔

دارنګه هغه څوك چه د خپل رب شکر کوي او د بلوغ او څلویښتو کالونه پس ئے ډیره بندګي کوي۔ ﴿ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِیْنَ سَنَةً قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِیْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِیْٓ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَعَلٰى وَالِدَیَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِیْ فِیْ ذُرِّیَّتِیْ اِنِّیْ تُبْتُ اِلَیْكَ وَاِنِّیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَیِّاٰتِهِمْ فِیْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِیْ كَانُوْا یُوْعَدُوْنَ ﴾ [الاحقاف: ۱٦]

(تردے چه خپل ځوانئ ته اورسي او څلویښتو کالو ته اورسي نو وائي : اے ربه ! ماله توفیق راکړه چه زه ستا د هغه نعمت شکر اوکړم کوم چه تا په ما باندے او زما په مور پلار باندے کړیدے او نیك عمل اوکړم چه ته پرے راضي شے، او ته زما اولاد نیك عمله کړے

بیشکه ما تاته توبه ویستلې ده او زه د مسلمانانو نه یم، دا هغه خلق دي چه مونږ د دوئ نه د دوئ ښائسته عملونه قبلوو او د دوئ د گناهونونه درگذر کوو، دوئ به په جنت والو کښې وي دا هغه رشتینې وعده ده کومه چه دوئ سره کولې شوه)۔

امام ترمذیؒ او بیهقیؒ په شعب الایمان کښې د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کوي دا فرمائي چه: ((رسول الله ﷺ په څه ناستو سړو باندې اودریده او وې فرمائیل: آیا زه تاسو ته ستاسو د بدترو نه بهترین اونه ښایم ؟ راوي وائي: خلق خاموش شو، رسول الله ﷺ دا خبره درې ځله اوکړه۔ نو یو سړي اووئیل: ولې نه یا رسول الله ! مونږ ته زمونږ د بدو ترو نه بهترین خلق جدا را اوښایه۔ وې فرمائیل: پتاسو کښې بهترین هغه څوك دي چه د هغه د خیر امید کیدې شي او د شر نه ئې خلق په امن وي۔ او پتاسو کښې بدترین هغه څوك دي چه د خیر طمع ترې کیږي او د شر نه ئې څوك په امن نه وي))۔

(دا صحیح حدیث دې)۔

نو اې د الله بنده ! دا صفت خپلول غواړي۔

ابن ماجه د اسماء بنت یزیدؓ نه روایت کوي چه دې د رسول الله ﷺ نه واوریدل: ((آیا زه تاسو ته پتاسو کښې بهترین اونه ښایم ؟ خلقو عرض اوکړو: ولې نه یا رسول الله ! وې فرمائیل: پتاسو کښې غوره هغه څوك دي چه کله هغوئ اولیدلې شي نو الله رایادیږي))۔

(مشکوة: ۲/۴۲۵، ددې حدیث اسناد صحیح دې)

اودا هله کیدې شي کله چه انسان د الله په دوستئ او د هغه په ذکر او محبت او هغه طرفته په دعوت باندې متصف شي۔

امام احمدؒ او بیهقیؒ په شعب الایمان (۷/۴۹٤) کښې په حسن اسناد سره د عبد الرحمن بن غنم او اسماء بنت یزید – رضی الله عنهما – نه روایت کوي چه نبي ﷺ اوفرمائیل: ((د الله غوره بندگان هغه دي چه کله اولیدلې شي نو الله رایادیږي، او د الله بدترین بندگان چغلي کونکي، دوستانو کښې جدائي راوستونکي او د الله نیکان بندگان په مشقت او تکلیف کښې اچونکي دي))۔

یعني: پاکدامن او نیکان خلق په مشقت او بهتان سره تالاش کوي۔

امام احمدؒ او دارميؒ د ابو بکره ﷺ نه روایت کوي دا فرمائي چه ((یو سړي رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو: یا رسول الله ! په خلقو کښې بهتر څوك دې ؟ وې فرمائیل: د چا چه عمر اوگد وي او عمل ئې ښه وي۔ هغه سړي بیا عرض اوکړو: په خلقو کښې څوك خراب سړې

دے؟ وے فرمائیل: د چاچه عُمر اوګد وی او عمل ئے خراب وی))۔
(دا حدیث صحیح دے)۔
امام ترمذیؒ د أنس ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی: نبی ﷺ ارشاد فرمائیلے دے: ((کله چه الله خپل بنده ته د خیر اراده اوفرمائی نو هغه استعمال کړی۔ عرض اوشو: څنګه ئے استعمال کړی یا رسول الله! وے فرمائیل: د مرګ نه مخکښے مخکښے ورله د نیك عمل توفیق ورکړی))۔ (واسناده صحیح)
امام مسلمؒ په خپل صحیح کښے د صهیب ﷺ نه روایت کوی چه ده اوفرمائیل: ((د مؤمن معامله څه ناشنا ده، دده ټول کارونه دده دپاره غوره وی، او دا دَ مؤمن نه علاوه د بل هیچا دپاره نه وی، که چرے ده ته خوشحالی اورسی نو شکر اوکړی نو دا ده دپاره غوره ده، او که تکلیف ورته اورسی صبر کوی نو دا ورله غوره ده))۔
او امام مسلمؒ په خپل صحیح کښے د ابو هریره ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے: ((الله چه کله د یو بنده سره محبت اوکړی نو جبرئیل را اوغواړی او ورته اوفرمائی: زه فلانی سړی سره محبت کوم نو ته هم ورسره محبت اوکړه، نو جبرئیل هم ورسره محبت شروع کړی، بیاپه آسمان کښے آواز اوکړی او وائی: الله د فلانی سړی سره محبت کوی نو تاسو هم ورسره محبت اوکړئ، نو آسمان والا ورسره محبت شروع کړی، بیا په زمکه کښے ده دپاره قبولیت کیخودلے شی۔ اوکله چه یو بنده سره بغض شروع کړی نو جبرئیل را اوغواړی او ورته اووائی: زه فلانی سړی سره بغض کوم ته هم ورسره بغض کوه، نو جبرئیل هم ورسره بغض شروع کړی او بیا په آسمان والو کښے آواز اوکړی: الله تعالیٰ د فلانی سړی سره بغض کوی نو تاسو هم ورسره بغض اوکړئ، نو هغوئ هم ورسره بغض شروع کړی، او بیا په زمکه کښے ده دپاره بغض کیخودلے شی))۔
نو که چرے تاسره مؤمنان مینه کوی او ستا مدح کوی نو ته خوشحاله شه ځکه الله هم تاسره مینه کوی او د الله شکر اوکړه۔ اوکه هغوئ درسره بغض کوی او ستا بدی بیانوی نو ته صرف خپل ځان ملامته کړه او الله عز وجل ته توبه اوباسه۔ نو دا ګویاکه تله ده چه په دے سره ته د الله په نیز خپل نفس پیژندلے شی۔
ابن ماجه په صحیح سند سره د ابن عباس ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: ((جنت والا هغه څوك دے چه الله دده د ښه صفت نه چه خلق ئے ورله کوی: دده غوږونه ډك کړی وی، او دائے آوری۔ او اور والا هغه څوك دے چه الله دده د هغه بد

صفت نه چه خلق ئې دده کوی غوږونه ډك کړې وی او دا ئې آوری ».
(الصحیحة : ٤/ ٣٢٠)

او ابن ماجه په صحیح سند سره د ابن مسعود ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی : « یو سړی نبی ﷺ ته عرض اوکړو : یا رسول الله ! ماته به څه پته لګی چه زه نیك یم که بد ؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : کله چه ته د خپلو ګاونډیانو نه واورې چه ته ښه کار کوې نو واقعی چه ته نیك ئې، او کله چه ته د دوئ نه واورې چه ته بد کار کوې نو واقعی چه ته بد ئې ».
نو دا ستا د خپل نفس پیژندلو بله تله ده.
امام مسلمؒ په خپل صحیح کښې د عیاض بن حمار ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « جنتیان درې قسمه خلق دی : (۱) هغه اقتدار والا چه انصاف دار، صدقه کونکې او توفیق ورکړې شوې وی، (۲) او هغه سړې چه رحمدله او د خپلوان او هر مسلمان دپاره نرم زړې وی (۳) او هغه پاکدامن چه بال بچ داره او سوال نه ځان ساتونکې وی. او اور والا پنځه کسان دی : هغه کمزورې چه عقل ئې نه وی، هغه خلق چه دوئ په تاسو کښې تابع دی نه اهل غواړی نه مال. او هغه خائن چه د هغه طمع پټه نه وی اګرکه وړه وی خو خیانت په کښې وی. او هغه سړې چه صبا بیګاه تاسره ستا د اهل او مال باره کښې دهوکه کوی او بخل او دروغ ذکر کوی. او هغه بد خویه چه ډیر زیات پوچ ګویه وی ».

امام احمدؒ (٤/ ٤٠٦) د حارثه بن وهب الخزاعی ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دې : « آیا زه تاسو ته د جنت والو باره کښې خبر درنه کړم ؟ هر هغه کمزورې چه خلق ئې هم کمزورې ګڼړی، که چرې دا په الله قسم اوکړی نو خامخا به ورله قسم پوره کړی. آیا زه تاسو ته د اور والا باره کښې خبر درنه کړم ؟ هر هغه سخت ژبانوَر، غټ پټ پړسیدلې او متکبر سړې ».
جعظری : جمع کونکې اومنع کونکې، یا سخت او پړسیدلې.
په یو بل روایت کښې دی « هر سرکشه، ژبانوَر او متکبره سړې ». (٤/ ٤٠٦).
امام حاکمؒ (١/ ٦١) د ابن عمر ﷺ نه روایت کوی دا فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دې : « آیا زه تاسوته جنت والا در اونه ښایم ؟ کمزوری اوبې وسه خلق. او اور والا هر جمع کونکې منع کونکې او متکبر سړې ». (الصحیحة : ٢/ ٦٤١)
او په یو بل روایت کښې دی : « آیا زه تاسوته جنت والا اونه ښایم ؟ هغه کمزوری خلق چه

خلق پرې ظلمونه کوی۔ آيا زه تاسو ته اور والا اونه بنايم ؟ هر سخت او جمع کونکے منع کونکے سړے »۔ (الصحيحة : ٢/١٤١٦)

عبد الله بن مسعود فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : « آيا زه تاسو ته هغه خوك اونه بنايم چه هغه په اور حرام وی او اور په هغه حرام وی ؟ نرم او آسان او نرم خويه سړے »۔ (رواه احمد والترمذی، وقال : حديث حسن)

★★★★★★★

۱۶ - جدائی راوستونکے فائده

نفسونه درے قسمه دی

۱ - عالی، شریف، ناطق او عزتمند نفس
۲ - حیوانی عصبی نفس چه د هغے په طبیعت کښے تکبر او پورته والے وی.
۳ - شهوانی بهیمی نفس

نو د اول نفس اراده او محبت د معارفو او فضائلو ګټلو طرفته آوښتونکی وی، او په اوچتو کارونو کښے کوشش کونکے وی، او اوچت همت لرونکے وی.

بیا ددے نفس هم یو څو قسمونه دی :
۱ - ځینے هغه وی چه د هغے اراده او محبت د شرعی علم په طلب کښے وی.
۲ - ځینے هغه وی چه د هغے اراده بعضے عباداتو طرفته متوجه وی.
۳ - ځینے هغه وی چه په هغے باندے د دعوت الی الله او حق بیانئ محبت غالب وی.
۴ - ځینے هغه وی چه د هغے اراده د انجام په ښه کیدو او په قبر او حشر کښے د الله د عذاب نه د نجات په فکر کښے وی.

۵ - او په دے کښے اعلیٰ قسم هغه دے چه د هغے اراده او محبت خپل رب، خالق مالك طرفته متوجه وی. نو دا همیشه د هغه د قرب او نزدیکت، د هغه د رضا په کوشش کښے، او الله دپاره د خپل زړه د اصلاح او صفایئ په طلب کښے وی. ځکه چه دا د رب د استواء، محبت او هغه باندے د ایمان لرلو ځائے دے، نو دا د دغه ځائے په پاکوالی او روښان والی کښے سخت کوشش کونکے وی.

او دا د خپل اعلیٰ محبوب په حاصلولو کښے پوره پریشانه وی، دده قرارے او سکون نه راځی مګر د هغه په ذکر، د هغه د کتاب په تلاوت، په عبادت سره د عاجزئ، په دعاء سره د تضرع او د هغه د دروازے په درشل باندے په تندی کیخودلو سره. نو دده زړه د خپل خالق او پیدا کونکی د محبت نه ډك وی او د هغه د جمال په روښانتیا او د هغه د عظمت په جلال باندے روښانه وی: ﴿ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّاشَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ

تَمۡسَسۡهُ نَارٌ نُوۡرٌ عَلٰی نُوۡرٍ يَهۡدِی اللّٰهُ لِنُوۡرِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ وَيَضۡرِبُ اللّٰهُ الۡاَمۡثَالَ لِلنَّاسِ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴾ [النور: ۳۵]

(د هغه د رڼا مثال (په زړهٔ د مؤمن کښې) د هغه طاقچې پشان دے چه په هغې کښې ډيوه وی، او ډيوه په شيشه کښې وی او شيشه هم داسے وی ته به وائے چه دا پړقيدونکے ستورے دے چه د برکتناکې زيتون وُنے په تيلو سره بليږی چه نه مشرق طرفته ده او نه مغرب طرفته، نزدے ده چه د هغې تيل (د ډيرے صفايئ د وجے نه) رڼا اوکړی اګرکه اور ورته اونه رسی، رڼا دپاسه رڼا ده، الله خپلے رڼا طرفته چاله چه اوغواړی هدايت کوی، او الله خلقو دپاره مثالونه بيانوی دے دپاره چه دوئ پند او نصيحت واخلی)۔

نو سوچ اوکړه چه آيا ته ددے نفس مصداق ئے ؟

که ته ددے نفس مصداق ئے نو د خپل رب شکر اوکړه، اوکه نه ئے نو بيا ستا عقل څه شو او هغه ايمان چرته لاړ چه ته د هغې دعویٰ کوے، او ستا هغه علم څه شو چه ته په هغې فخر کوے ؟ ددے نفس يوه علامه داده چه دابه د الله سره خِلوت کول خوښوی، او د خلقو سره به – د دينی يا دنيوی ضرورت نه علاوه – اختلاط نه خوښوی۔

بله علامه داده چه: دابه خپل اوقات نه ضائع کوی، بلکه هميشه دپاره به په عمل صالح کښې وی، د يو نه به اوځی او په بل کښې به داخليږی، او په هغه عمل به راضی نه وی کوم چه د الله عز وجل دپاره کوی بلکه دابه خوښوی چه دده دپاره د غره هومره زړه وے ، اوداسے سترګے وے چه د نهرونو غوندے اوښکے ترے روانے وے، او د الله په عبادت کښے ئے د غرونو هومره طاقت وے، او د انبياء کرامو عليهم السلام او د الله د خاصو بندګانو نه علاوه نور ټول خلق دده په نيز مبغوض وی ځکه چه دوئ د الله په حق کښے کوتاهی کونکی دی، او دا د خپل نفس سره هم سخت بغض لرونکے وی او هميشه دپاره هغه په دے وجه ملامته کوی چه د الله په ذات کښے کوتاهی کونکے وی۔

بله علامه ئے داده چه: دا په خپل نفس باندے بدګمان او په بل باندے ښه ګمان کوی، او ددے باوجود د الله د رحمت، احسان او مهربانئ نه نه نا اميده کيږی ولے چه هغه ډير زيات مهربان او رحم کونکے دے۔

بله علامه ئے داده: چه دا هغه علمونه خوښوی کوم چه الله رب العزت ته نزدے کول کوی، او د زړه د علمونو او د نفس دَتزکيه اهتمام کوی، او د هر هغه شئ نه ځان ساتی چه هغه ئے د الله عز وجل نه اړوی لکه موبائلونه، کمپيوټرے ، دُنيوی [illegible]رونه او بے فائدے

ملاقاتونه، ځکه دا په الله عز وجل او د هغه په ذکر او د هغه په کتاب باندے مشغول وی۔
نو مسلمانه ورور ه آیا ته داسے ئے ؟
نو که داسے ئے نو ته په عظیم نعمت کښے ئې او ستا نفس مطمئن دے۔ او که نه ئے نو بیا ته ولے د خپل نفس په اصلاح او تزکیه کښے او خپل مالك ته په واپس کیدو کښے سستی کوے ؟

۲ – دویم نفس حیوانی عصبی دے : نو ددے محبت دَ اقتدار حاصلولو، خلقو باندے په خبرو، مال، خدمت او شهرت کښے ځان اوچت گنړلو او بندگان سپك گنړلو او فساد خورولو طرفته متوجه وی۔
ددے یو علامه داده : چه دا حق له دیکه ورکوی او هغے ته غاړه نه ږدی، خلق سپك گنړی او تواضع په کښے نه وی، د خپل ځان مدح کوی او که دده په حقوقو کښے څه کوتاهی اوکړے شی نو غصه کیږی، او د خلقو د حقوقو وهلو نه ځان نه ساتی او نه هغه اداء کوی۔
اوددے طبیعت : غیبت، بهتان، مسلمانان سپك گنړل، سرکشی، بدخوئی، د الله مخلوق نه معاف کول، هغوئ باندے رحمت نه کول، سخت زړتیا، تکبر، لوئی ،ځان اوچت گنړل او فساد خورول وی۔ ﴿ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴾ [قصص: ۸۳]
(د آخرت دا کور مونږ هغه خلقو له ورکوو څوك چه د په زمکه کښے نه لوئی غواړی او نه فساد او ښه انجام به د پرهیزگارو خلقو وی)۔
نو که چرے ددے نفس کمزوری نه وے نو ده به لکه د فرعون پشان دا ټول بد صفتونه راښکاره کړی وے، لیکن دا عاجز دے نو ځکه ئے دا بدخویونه پټ اوساتل۔
اودا هغه نفسونه دی کوم چه د الله عز وجل سره دشمنی کوی او دا د جهنم اور سره ډیر لائق دی، د جهنم اور هم دداسے سخت زړونو ویلی کولو دپاره پیدا شویدے : ﴿ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴾ [الحاقة: ۳٤]
(ده به د مسکین په خوراك باندے تیزی نه ورکوله) ، یعنی د سخت زړتیا د وجے نه۔
او ممکنه نه ده چه ایمان دده په زړه کښے داخل شی ﴿ اِنَّهٗ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴾ [الحاقة: ۳۳]
(ده به په لوئے الله باندے ایمان نه لرلو)۔
په حدیث کښے دی : « هغه څوك به جنت ته نه داخلیږی د چا په زړه کښے چه د ذرے

هومره تکبر وي، او هغه څوك به اورته نه داخليږي د چا په زړه کښې چه د ذرې هومره ايمان وي »۔ (مسلم)۔ نو ددې نفسونو شر ډير دې او خيرئې کم يا نشت درجه کښې دې، اودا نفس امّاره بالسوء (په بدئ باندې حکم کونکې نفس) دې۔

که ته هم – الله دې نه کړي – په دې نفسونو والو کښې داخل ئې نو الله ته توبه کړه او ددې په علاج کښې تادي اوکړه او دا د خپلې سرکشئ نه را واړوه، او د خپل رب په بندګئ باندې ئې منقاد کړه۔ اوکه داسې نفسونو والو کښې ته داخل نه ئې نو بيا د الله عز وجل شکر کوه۔

۳ – او هرچه شهواني نفس دې: نو ددې محبت خوندونو، نکاحونو، خوراك څښاك او لباسونو طرفته متوجه وي۔ بلکه خپل غټ مقصد ئې خيټه، عورت وغيره وي۔

نو کله چه ورته ددې نه څه حاصل شي نو داسې خوشحاله وي ته به وائې چه ټولې مزئې ئې حاصلې کړې، اوکله چه په دې کښې څه شے ترې نه فوت شي نو غصه او ملامتيا ويونکې وي۔

دې قسم خلقو باره کښې نبي کريم ﷺ فرمائي: « زما په امت کښې به څه خلق پيدا شي چه قِسما قِسم خوراکونه به خوري، او مختلف مشروبات به څکي، او رنګ رنګ جوړې به آغوندي او په وُينکو به خبرې کوي، دا خلق زما په امت کښې بدترين خلق دي»۔

(ذكره في الصحيحة: ٤/٥١٢)

په كنز العمال رقم (٣١١٨٦) کښې دي: « په خلقو به داسې زمانه راشي چه د دوئ همت به د دوئ خيټې وي، او د دوئ شرافت به سازو سامان وي، او قِبله (يعني د توجه ځائې) به ئې ښځې وي، او دين به ئې روپئ او اشرفئ وي، همدا بدترين خلق دې چه د الله سره د دوئ هيڅ برخه نشته »۔(أخرجه السلمي عن علي ﷺ)

نو د بعضې خلقو خواهش په خوب کښې وي، او د بعضو خواهش په باغونو او پارکونو کښې په چکر لګولو کښې وي، او د ځينو خلقو همت د يارانو او دوستانو سره په ناسته پاسته کښې وي، چه د دوئ نه د سترګې د رَپ هومره وخت دپاره هم صبر نشي کولې، او بعضې خلق په خپله ښځه او وينزه باندې مشغول وي، او د ځينو خلقو ټول همت خورو څکو وي۔ او دې ټولو هغه شے اونه څکلو کوم چه په دُنيا کښې د ټولو نه خوږ او خوندوَر دې۔

لکه مالك بن دينارؒ فرمائي: د دُنيا مفلسان دُنيانه اووتل او په دې کښې چه کوم خوند وو هغه ئې اونه څکلو۔ چا اووئيل: هغه څه شے دې؟ وئيلې: د الله عز وجل معرفت او

پیژندنه۔ (تحفة العلماء : ۱)

ددې خبرو دا مطلب نه دې چه ګنې هر قِسم خواهش به د نفس نه اوباسې، بلکه دا خو د بنده دپاره ممکنه نه ده، لیکن مناسب ده چه د خواهش اصلاح اوکړې شی او هغه په خپل مناسب ځایونو کښې استعمال کړې شی، دارنګ د خپل ځان د خواهش غلام کولو نه ساتل پکار دی۔

نبی ﷺ به په خپل امت باندې د همدې شئ نه ویریدلو۔

امام احمد (۱۹۲۷۳) د ابو برزه أسلمی رضی الله عنه نه روایت کوی « بیشکه زه چه پتاسو باندې د کومو څیزونو نه ویریږم په هغې کښې یو د مالدارئ خواهشات دی چه ستاسو په خیټو او عورتونو کښې وی، او بل ګمراه کونکی خواهشات »۔

(واسناده صحیح، وهو فی المجمع : ۱/۱۸۸)

دا یاد لرل پکار دی چه مونږ انسانان د حیواناتو نه په دې باندې ممتاز او جدا یو چه خپل خواهشات دفع کوو، نو کله چه مونږ په دې کښې بیباکی اوکړو او څه چه مو خوښه شی هغه کوو، نو بیا زمونږ او ددې حیواناتو ترمینځه هیڅ فرق نشته۔ او هرهغه خواهش چه ستا دین او عزت خرابوی یا درنه وخت ضائع کوی، یا دې اخلاق خرابوی، نو د هغې نه ځان ساته، اوکه دا کارونه ئې نه کول نو بیا د هغې حاصلول ستا دپاره جائز دی۔

★★★★★★★

۱۷ - فائده

د صفاتو په اعتبار سره د نفسونو اقسام

۱ – ملکیه
۲ – سبعیه
۳ – حیوانیه بهیمیه
٤ – قبائح ښائسته کونکے
٥ – امّاره بالسوء (د ګناه حکم کونکے)
٦ – لوّامه (ملامته کونکے)۔
۷ – مُطمئنه
۸ – زکیّه
۹ – مجادله
۱۰ – محسره
۱۱ – محاسبه
۱۲ – مخادعه
۱۳ – ظالمه جاهله

★ خو ددے ټولو رجع درے نفسونو ته کیږی :
اماره بالسوء، لوامه، مطمئنه

۱ - اماره بالسوء : هغه نفس دے چه هر قبیح او خراب شے ښائسته کوی او سستیا او بیکارتیا، بیهوده ګی، فحش ګوئی او نور بد اخلاق خوښوی۔

ددے طبیعت دادے : چه راحت، سکون او بے فائدے کارونو کښے لګیدل خوښوی، بے حیائی غوره کوی او د الله تعالیٰ په بندګانو باندے پورته والے غواړی او د الله عز وجل د ذکر نه غفلت اختیاروی۔

ددے علاج دادے : چه د خواهشاتو نه پریکړے شی هغه داسے چه :
۱ – د فتنو ځایونه پریدی او هغے نه ځان اوساتی، ځکه په دے کښے نفس دا طاقت نه لری

چه د خپلو خواهشاتو نه جدا شي۔
۲ – د بدو ملګرو او شرير نفسونو والو خلقونه ځان ساتل، او د نيکانو خلقو ملګرتيا اختيارول، ځکه چه دا د خواهشاتو اود نفسِ امّاره په علاج کښې ډير زيات تاثير کونکے دے، دا وجه ده چه په دے باره کښې ډير زيات نصوص راغلي دي ۔
۳ – خپل نفس ته دا تعليم ورکول چه په مزه مزه تدريجي طور سره د خواهشاتو نه صبر اوکړي، ځکه چه په يو ځل نفس دا طاقت نه لري چه د خپلو خواهشاتو نه جدائي اختيار کړي۔
دا وجه ده چه نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي : « څوك چه د صبر کولو کوشش کوي نو الله به ده له د صبر کولو توفيق ورکړي، او څوك چه ځان بے پرواه کوي الله به دے بے پرواه کړي، او څوك چه د خير طلب کوي هغه ته به ورکړے شي، او څوك چه د شرنه ځان ساتي هغه به ترے اوساتلے شي، او صبر په صبر کولو او عِلم په زده کولو حاصليږي »۔
(الصحيحة : ۱/۶۰۵، رقم : ۳۴۲)
په دے حديث کښې د «يتصبر» معنیٰ داده چه څوك خپل نفس ته لږ لږ د صبر تکليف ورکوي نو الله به ده لره صابر جوړ کړي۔ او دا وعده ده۔
٤ – نفسِ امّاره له په جنت او په هغه خواهشاتو باندے وعده ورکول پکار دي کوم چه الله د متقينو دپاره په جنت کښې تيار کړي دي، کيدے شي چه دا فکر اوکړي او خپلے سمے لارے ته را واپس شي۔
۵ – په دے کښې فکر اوکړه چه چا د خواهش او شهواتو تابعداري کړيده، هغوئ څنګه په دُنيا او آخرت کښې ذليل اوهلاك شو، الله تعالیٰ خلق دے دپاره نه دي پيدا کړي چه خواهشاتو پسے روان شي، بلکه دے دپاره ئے پيدا کړي دي چه د زمکے او آسمان د رب بندګي اوکړي او د خواهشاتو نه منع شي، نو کله چه نفس د طغيان او سرکشئ نه انکار اوکړي نو بيا :
٦ – مناسب ده چه دا په يو شرعي، علمي او ايماني مسئله کښې مشغول کړه، کيدے شي چه په دے سره د خپلے سرکشئ نه منع شي۔ که دے سره هم اونشي نو بيا :
۸ – هغے له په روژو او کم خورئ سره سزا ورکړه، دے سره به ان شاء الله منقاد شي۔
ددے يو بل علاج دادے چه : په مرګ او د مرګ نه پس په قبر، حشر او حساب کښې فکر اوکړے شي، ځکه دا خبره شريف نفسونوته ډيره زياته فائده ورکوي۔
۲ – **نفس لوّامه** : هغه نفس دے چه خپل ځان د قبيح يا عبث کار کولو يا وخت ضائع

کولو نه پس ملامته کوی۔
حسن بصریؒ فرمائی : دا د مؤمن نفس دے چه خپل خاوند ملامته کوی چه دا فلانے کار دے ولے کولو، دا خبره دے ولے اوکړه ؟ دا فلانے څیز دے ولے اوخوړلو ؟ دے فلانی ځائے ته ولے لاړےَ راغلے ؟
اودا ښه نفس دے۔ دا وجه ده چه الله عز وجل په ذے باندے قسَم فرمائیلے دے : ﴿ وَلَآ أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ﴾ [القيامة: ٢]
(او قسَم خورم په داسے نفس باندے چه ځان ملامته کونکے دے)۔
او ددے علاج دادے : چه د اعمالو په جزاء باندے قوی یقین اوکړے شی، ځکه چه دا کله یقین اوکړی چه عمل که د ذرّے هومره هم وی خو ددے جزاء به ملاویږی که ښه وی نو ښه جزاء اوکه بد وی نو بده جزاء به وی۔ دے سره به ان شاء الله دا دَ ګناهونو نه منع شی۔ اودا دے ګنړی چه ګناهونه د مار، لړم، اژدها او کیمیاوی بمونو پشان دی بلکه ددے نه هم زیات خطرناك دی، نو کله ئے چه دا یقین جوړ شی نو دابه خامخا الله تعالیٰ طرفته راګرځی او د ګناهونونه به دَ الله په توفیق سره سخت اجتناب کوی۔
بل علاج ئے دادے چه دا یقین اوکړی چه دے سره به په هر څه باندے حساب کیږی، په خوراك، څښاك، خبرو اترو، کار او کردار هرڅه باندے حساب کیږی، او د الله حساب خو بیا سخت هم دے۔ چاسره چه په حساب کښے مناقشه او سختی اوکړے شوه نو هغه تباه شو۔
نو دا نفس به دے سره ان شاء الله په ډیر لږ وخت کښے «نفسِ مطمئنه» جوړ شی۔
۳ - **او نفسِ مطمئنه** : هغه نفس دے چه الله باندے په یقین او د هغه په ملاقات باندے ئے خپله سینه یَخه کړے وی، او د هغه ذکر او محبت، اسماء او صفاتو باندے مطئمن وی، دارنګه د الله عز وجل په طاعت باندے ئے اطمینان حاصل کړے وی، او خپل تول اوقات ئے دَ هغه په عبادت باندے آباد کړے وی، نه په پیشمنی کښے نه په صبا کښے، او نه په ورځ او شپه کښے دَ هغه دَ ذکر نه غفلت کوی۔ دارنګه د فساد نه ځان بچ کوی او دُنیوی ژوند دَ آخرت په مقابله کښے نه غوره کوی، او دَ الله د ذکر او د هغه د قرب نه علاوه په بل هیڅ شی باندے نه مطمئن کیږی : ﴿ أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴾ [الرعد: ٢٨]
(خبردار د الله په ذکر باندے زړونو ته اطمینان رسی)۔
﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللهِ ﴾ [الرعد: ٢٨]
(هغه خلق چه ایمان لری او زړونه ئے د الله په ذکر باندے مطمئن کیږی)۔

دا وجه ده چه الله تعالیٰ به دے نفس ته د مرګ اوحساب په ورځ فرمائی : ﴿ يَـٰٓأَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِيٓ اِلٰى رَبِّكِ ﴾ [الفجر: ٢٧]

(اے مطمئن نفسَ ! خپل رب ته واپس شه)۔

نـو د رب تـخـصيص ئے ځکه اوکړو چه دغه نفس د هغه پوره اهتمام کړيدے او هغه ته ئے نزديکت حاصل کړيدے او هغه سره ئے محبت کړيدے او د هغه ذکر او عبادت ئے کړيدے۔

بيائے په هـغـه نيـکـانـو کښے چه د الله سبحانه وتعالیٰ اولياء او دوستان دی داخل کړو، او بيائے خپل جنت ته چه دار الکرامت دے داخل کړو۔

عـلـماء فـرمـائـی : نـفـسِ مـطـمـئـنـه هـغه مؤمن نفس دے کوم چه حق طرفته اطمينان حاصلونکے او د يقين يَخ والی ته په دے شان رسيدلے وی چه هيڅ قِسم شك ورسره ګډون نـه وے کړے او نه په حق کښے چرته دے سره د ذرہ د پريشانئ ګرمائش خلط شوے وی۔اودا هـغـه نـصـيـحـت قبلونکے او خبره يادونکے نفس دے چه دَ هغه انسان په خلاف باندے وی کوم چه د نصيحت په نه قبلولو موصوف دے کوم به چه د قيامت په ورځ دا آواز کوی :

﴿ يٰلَيْتَنِىْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِىْ ﴾ [الفجر: ٢٤]

(هائے افسوس ! ما د خپلے دے ژندګئ دپاره څه مخکښے ليږلی وے)۔

نـو دا يـو داسـے تيـارے کـونـکـے نـفـس دے چـه د خپلے هميشه ژندګئ دپاره نيك اعمال، اخلاق او طاعات مخکښے ليږی، او ددے دپاره پوره کوشش کوی، په خلاف د نفسِ امّاره، چه د هغے کوشش د دُنيا دپاره ډير وو۔

او هر نفس خپل رب ته دَ رسيدلو نه مخکښے په اضطراب او پريشانئ کښے وی، خو کله چه ورته اورسی نو مطمئن کيږی۔

اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْأَلُكَ نَفْساً مُطْمَئِنَّةً تُؤْمِنُ بِلِقَائِكَ وَتَرْضٰى بِقَضَائِكَ وَتَقْنَعُ بِعَطَائِكَ ۔

(اے الله ! زه تـانـه داسـے مطمئن نفس غواړم چه ستا د ملاقات په ورځ يقين لری او ستا په فيصله راضی وی او ستا په ورکړه قناعت کوی)۔

(رواه الطبرانی عن ابی أمامة رضی الله عنه مرفوعاً - روح المعانی)

ددے عـلاج او دوائـی : هـمـيـشـه ذکر کـول او د الله پـه کتاب کښے فکر کول او د کائناتو په رازونـو او هـغه څه کښے سوچ او فکر کول کوم چه الله په دے کائناتو کښے جاری کړی دی۔ دارنـګـه د عبادت او طـاعـت هـمـيـش والے او د ذکر مجالسو ته حاضری او د الله په لار کښے جهاد کول، او خپل نفس د خواهشاتو نه منع کول دی۔

۱۸ - فائده

د عزتمند او بے عزته بنده بیان

د ډیرو خلقو دا خیال دے چه په چا باندے دُنیوی نعمتونه فراخه شوی وی او نفسی خواهشات ورته ډیر حاصل وی لکه: کور، ګاډے، مالونه، د بدن صحت، ډیر اولاد وغیره: نو الله په ده نعمت کړے وی او دا یو داسے بنده وی چه الله دده نه راضی وی۔ بلکه ددے دهوکه خوړلی دا ګمان وی چه الله چه ده ته دا نعمتونه ورکړی دی نو دا په دے وجه چه دا ئے اهل او مستحق دے، او دا غوره او بهتر شخص دے، اوکه چرے دده نه الله راضی نه وے نو دا نعمتونه به ئے ورته نه ورکولے۔ بلکه بعضے ددے نه هم مخکښے لاړ شی او وائی:

﴿وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰی رَبِّیْٓ اِنَّ لِیْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰی﴾ [حم السجده: ٥٠]

(که چرے زه خپل رب ته واپس شوم نوخامخا (هلته به هم) د هغه سره زما ښه حالت وی)۔ ﴿وَلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰی رَبِّیْ لَاَجِدَنَّ خَیْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا﴾ [الکهف: ٣٦]

(که چرے زه خپل رب ته واپس شم نو خامخا به د انجام په اعتبار زه ددینه غوره بیامومم)۔

او یو خبیث (قارون) وئیلی وو: ﴿اِنَّمَآ اُوْتِیْتُهٗ عَلٰی عِلْمٍ﴾ [الزمر: ٤٩]

(بیشکه دا (خزانے) ماته په دے وجه راکړے شوی دی چه الله ته پته ده چه زه ددے مستحق یم)۔

یعنی الله ته علم دے چه زه ددے لائق یم، او هغه په دے باندے مانه راضی دے، لکه چه دا تفسیر ابن زید ؒ کړیدے او حافظِ ابن کثیر ؒ دا راجح کړیدے۔

او الله تعالیٰ د یو مغرور انسان نه اِخبار ورکوی فرمائی: ﴿فَاَمَّا الْاِنْسَانُ اِذَا مَا ابْتَلٰهُ رَبُّهٗ فَاَکْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ فَیَقُوْلُ رَبِّیْٓ اَکْرَمَنِ﴾ [الفجر: ١٥]

(او هرچه انسان دے نو کله چه دده رب په ده باندے امتحان اوکړی او عزت او نعمتونه ورکړی نو دا وائی: زما رب زما عزت اوکړو)۔

ددے بنده مطلب دانه دے چه ګنے د الله په نعمتونو شکر کوی، بلکه ده خپله دُنیا خپل نصب العین ګرځولے ده، او عزت په همدے دُنیا کښے ګنړی، او دا خیال لری چه چاله الله

دُنیوی نعمتونه ورکړی نو همدا کس د الله په نیز عزتمند دے نه نور خلق۔
او کوم کس باندے چه الله تنگی او د مال او عیال کمی راولی نو د خلقو په نیز همدا سپك او بے عزته انسان دے، تردے چه دوئ دا گمان کوی چه دا شخص د الله په نیز هم بے عزته دے ځکه ئے خو په ده باندے فراخی نه ده راوستے نو که چرے دے د الله د دوستانو نه وے نو الله به ضرور په ده فراخی راوستے وے۔
حال دا چه داسے نه ده، بلکه الله تعالیٰ دُنیا خپل خوښ او ناخوښ دواړو بندگانو ته ورکوی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴾ [الاسراء: ۲۰]
(دوئ او هغوئ ټولو ته مونږ ستا د رب د ورکړے نه ورکړه کوو، او ستا د رب ورکړه د چانه بنده نه ده)۔
بلکه د الله ډیر انبیاء کرام - علیهم السلام او اولیاء د دُنیا د خوندونو نه محروم وو، او په مختلفو مصیبتونو کښے اول انبیاء کرام علیهم السلام او بیا وریسے چه څوك څومره غوره وی هغه مبتلا وو۔ او نبی ﷺ فرمائی: « زما امت مرحوم امت دے، په دے باندے به په آخرت کښے عذاب نه وی، د دوئ عذاب په دُنیا کښے فتنے، زلزلے او امتحانات دی »۔
(کما فی الصحیحة: ۲/ ٦٨٤)

بلکه حقیقت دا دے چه عزتمند بنده د الله په نیز هغه څوك دے چه الله ورته د ایمان توفیق ورکړے وی، او هغه ئے د قرآن او سنت امدادی گرځولے وی، او د خپل عبادت توفیق ئے ورکړے وی۔ نو همدا عزتمند بنده دے۔ نو کله چه تاته ستا رب دَ خپل عبادت، دَ هغه د کتاب د تلاوت، د هغه د ذکر، محبت، او د هغه د اسماء او صفاتو سره ترمرگه پورے د محبت توفیق درکړو، نو ته عزتمند بنده ئے۔
تاله پکار دی چه دا د عزت او کرامت معیار اوگرځوے۔
اوکله چه تاته الله د ایمان توفیق درنه کړی اونه درته د هغے د خوند اومزے، اونه د هغه د کتاب، اونه د هغه د عبادت توفیق درکړی، بلکه تانه عُمر ضائع کړی او تا په خپله نافرمانئ او کفر کښے مصروف کړی، یا دے د کتاب او سنت نه د خلقو په منع کولو کښے یا د بعضے خلقو په تقلید کښے، یا دے په عبثیاتو او خرافاتو کښے مصروف کړی، او یادے د دُنیا په جمع کولو او په هغے باندے په حرص او لالچ کولو او دَ حرامو او حلالو په خیال نه ساتلو کښے مصروف کړی اوداسے نور، نو بیا ته واقعی سپك او ذلیل او دَ الله په نیز بے

عـزته ئې، ولې که د الله په نيز ته څه شے وې يا د هغه سره ستا معمولي قدر هم وې نو په دې ځـيـزونـو کښې بـه ئې نـه استـعمالولې. نو فورا الله ته توبه کړه او هغه طرفته رغبت شروع کړه، دې دپاره چه ددې بے عزتئ او سپك والي نه دې خلاص کړي.

﴿ وَاَمَّآ اِذَا مَا ابْتَلٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَهَانَنِ ﴾ [الفجر: ١٦]

(اوکله چه په ده امتحان اوکړي او دده رزق تنګ کړي نو بيا وائي: زما رب زه ذليل کړم، هيڅ کله داسے نه ده).

يـعـنـي: عـزت او بے عـزتـي پـه مـال او دُنيا سره نه ده بلکه دا دواړه په طاعت او نافرمانئ پورې اړه لـري، نوکه چرې تاته د اولني حالت توفيق درکړے شو نو ته کامياب ئې. اوکه په دويـم حـالت سره ستا رسوائي اوشوه نو بيا ته واقعي د الله په نيز سپك او بے عزته ئې اګرکه تـه پـه خپـلـه دُنيـا او طاقتونو باندې هر څومره خوشحاله ئې. نو همدا د عزت او بے عزتئ مـعـيـار دې، نـو پـه دې سـره هـميشه دپاره خپل حالات، اوقات او کلمات تله چه آيا دا د الله تعالىٰ په طاعت کښې تيريږي اوکه د هغه په نافرمانئ کښې ؟

دا وجـه ده چـه سـلـف صـالحينو - رضي الله عنهم - نه به چه کله د جَمعے مونځ يا تهجد فوت شول نو هغوئ به افسوس او خفګان کولو او وئيلې به ئې: دا کار ما سره صرف په دې وجه اوشو چه ما غفلت يا شهوت يا څه ګناه کړيده ؟ نو **فکر** اوکړه اے لوستونکيه !

- ★ آيا واقعي ته د الله رشتينے عبادت کوې ؟.
- ★ آيا ته د اِحسان درجے ته رسيدلے ئې ؟
- ★ آيا ته د الله په لار کښې جهاد کونکے ئې ؟
- ★ آيا ته د الله د ويرې نه د شپے ژړيدونکے ئې ؟
- ★ آيا تا د خپل زړه سخت والے ويلې کړيدے ؟
- ★ آيا تا کښې د ايمان خويونه او شعبے ټولے شته دئے ؟
- ★ آياته الله طرفته دعوت ورکونکے ئې ؟

که ته داسے نه ئې نو بيا ولې دا غفلت او سستيا کوې ؟ او ته ولې نه رابيدريږې ؟

اوکله چه مرګ راشي نو آيا هغه به تاته انتظار کوي او وخته به درکوي ؟

هيڅ کله نه !

او تاته خپل نفس عزتمند ښکاري حال دا چه ته د الله په نيز سپك ئې. ته په خپل نفس ښه ګـمـان کـوې حـال دا چـه دا خبيـث دې ! ته خپل ځان عقل مند ګڼړے حال دا چه دا د عقل نه

خلاص دے !

نو ته د خپل سپك والى د علاج منتړ څه چه سيکنړ ته هم مه روسته کوه، راشه الله ته توبه کړه او هغه ته په اخلاص او صدق، فقر او حاجت سره رغبت اوکړه، کيدے شى چه الله تا ددې لوئے مصيبت نه خلاص کړى۔ خلق اورسيدل او ته په خپل کور کښې پاتے شوے ! خلق لاړل او ته په کور کښې اودۀ ئے ! هسے نه چه تا باند دشمن حمله اوکړى، بيخکنى دے اوکړى، کور دے لوټ کړى او اهل وعيال دے قيدى کړى۔

(دا مضمون د سورتِ فجر نه اخستے شويدے)۔



۱۹ - فائده

د عبادت د اعلیٰ او مزیدار قِسم بیان

بلکه ددے نه افضل بل عبادت نشته، او ټول عبادتونه ددے نه بغیر ضائع او بیکاره دی۔ اودا هغه عبادت دے چه دیته سابقین خلق مخکښے والے کوی او ددے په وجه په متقیانو کښے د مرتبو په لحاظ فرق دے، اوددے په حاصلولو کښے عاشقان او محبت کونکی خپل ځان فانی کوی، او عقل مند خلق په کښے خپل روحونه خرچ کوی۔

او هغه دے د رحمٰن (جل جلاله) **محبت**، او هغه طرفته شوق کول :

اوزه دلته په دے کښے یو څو مهمے فائدے ذکر کوم، کیدے شی چه الله رب العزت ماته او ټولو مسلمانانو ته په هغے سره نفع راکړی۔

اوله فائده : د محبت مراتب : او دا لس دی :

۱ - اوله : العلاقه : دیته علاقه ځکه وائی چه زړه دَ محبوب سره تعلق لری۔

۲ - دویمه : الاراده : یعنی خپل زړه محبوب طرفته مائل کول او هغه طلب کول۔

۳ - دریمه : الصبابه : یعنی محبوب ته زړه راړول په دے شان چه ددے خاوند ددے مالك نه وی، صبابت پُوخت میلان او پوره طور سره زړه راوړیدلو ته وائی۔

٤ - څلورمه : الغرام : یعنی د زړه هغه محبت چه د زړه نه هیڅ کله نه جدا کیږی بلکه داسے ورسره نښتے وی لکه قرضه وړے چه قرض داری پورے نښتے وی۔

٥ - پنځم : الوداد : اودا خالص محبت او د هغے مغز دے، او د الله په نومونو کښے د «ودود» معنیٰ حبیب ده، یا دا چه د خپلو بندګانو سره محبت کونکے دے۔

٦ - شپږم : الشغف : اودا د زړه شغاف (یعنی داخل او باطن) ته د محبت رسیدلو نوم دے۔ اودارنګه دا د هغه محبت نوم دے چه په زړه باندے ئے غلبه حاصله کړے وی، یا دا هغه محبت دے چه د زړه دپاسه نرئ پردے ته رسیدلے وی۔

۷ - اووم : العشق : اودا هغه د حد نه زیات محبت دے چه ددے خاوند په خطره کښے وی، عشقه یو زیړ بوټے دے چه د ونے پاڼړو او ښانګونه را تاؤ شوے وی نو عاشق هم دے سره مشابه دے، یا دا په محبت کښے د حد نه تجاوز کولو ته وائی، دا وجه ده چه په دے سره الله

تعالیٰ نه موصوف کیږي، اونه د الله په محبت کښې په دې سره بنده موصوف کیږي.

۸ – آتم: تَتَیُّمْ: یعني تعبد او تذلل، نو متیم هغه چاته وائي چه په خپل محبت کښې داسې یواځې وي څنګه چه یتیم د خپل پلار نه جدا وي، او په دې دواړو کښې هر یو مات زړې او ذلیل وي، ددې یو مات زړې کیدل د یتیم والي د وجې نه وي او ددې بل د انفراد او ذلت د وجې نه.

۹ – نهم: تعبد: دا د تَتَیُّمْ نه پورته مرتبه ده، ځکه عبد (بنده) هغه چاته وائي چه محبوب دده د غلامیٔ مالك وي او ده ته د خپل نفس نه هیڅ شے پاتې نه وي، بلکه دا هر څه ئې ظاهرا او باطنا د محبوب دپاره مملوك وي. اودا واقعي عبودیت دې، ځوك چه دا کامل کړي نو هغه ددې مرتبه پوره کړه.

او هرکله چه دا مرتبه رسول الله ﷺ پوره کړه نو الله تعالیٰ په اشرف مقاماتو کښې دده صفت په دې سره اوکړو: ﴿ سُبْحَانَ الَّذِیٓ أَسْرٰی بِعَبْدِهٖ ﴾ [الاسراء: ۱]

(پاکي ده هغه ذات لره چه خپل بنده ئې د شپې په څه حصه کښې بوتلو). ﴿ وَإِنْ کُنتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰی عَبْدِنَا ﴾ [بقرة: ۲۳]

(اوکه چرې تاسو په شك کښې يئ د هغه کتاب نه کوم چه مونږ په خپل بنده باندې نازل کړیدې). ﴿ وَأَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللهِ یَدْعُوْهُ ﴾ [الجن: ۱۹]

(اوکله چه د الله بنده پاڅیده چه الله ته ئې دعوت ورکولو).

او په حدیث د شفاعت کښې دي: « تاسو محمد (ﷺ) ته لاړ شئ دا یو داسې بنده دې چه الله ورته مخکنی او روستنی ټول ګناهونه معاف کړي دي».

د عبادت حقیقي مفهوم دادې: پوره محبت سره پوره ذلت او د محبوب خضوع یوځائې کول.

۱۰ – لسم: الخله: دا یو داسې مرتبه ده چه دوه دوستان په دې کښې شریك دي: ابراهیم او محمد صلی الله علیهما وسلم. لکه نبي کریم ﷺ فرمائي: « بیشکه الله تعالیٰ زه خلیل (دوست) جوړ کړې یم څنګه ئې چه ابراهیم خلیل جوړ کړې وو». (رواه الحاکم: ۲/۵۵۰)

خلت هغه مرتبې ته وائي چه د محبت کونکي روح او زړه ته داخل شوې وي تردې چه په دې کښې د محبوب نه علاوه د بل هیچا دپاره څه ځائې پاتې نشي. او دا – والله اعلم – هغه راز دې چه ددې په وجه ابراهیم خلیل الرحمٰن ته حکم اوشو چه خپل ځوئې ذبح کړه چه د زړه میوه او د ځیګر ټکړه ده، ځکه کله چه ابراهیم علیه السلام ځوئې اوغوښتلو او ورته

ورکړې شو، نو هغه پورې دده زړه اونښتلو، حال دا چه خلت يو داسې منصب دے چه شرکت او تقسيم نه قبلوي، دے وجې نه خليل په خليل باندې غيرت اوکړو.

★ دويمه فائده : د محبت تعريف :

ظاهره داده چه محبت د امورو وجدانيه ؤ نه دے څه خاص تعريف ئے نشته، بلکه ځوك چه دا بيامومي نو پيژني ئے، او چاچه څکلے نه وي نو په تعريفونو او الفاظو سره به ئے څه اوپيژني، محبت بس محبت ته وائي نو!

په لغت کښې د محبت **معنے** دادي : صفا والے، سپين والے، پورته والے، ښکاره والے، لازم والے، ټينګ والے، مغز، حفظ او ساتل.

خو دا پنځه څيزونه د محبت د لوازمو نه دي.

عارفينو د محبت داسې تعريف کړے :

۱ – خپل محبوب په ټولو دوستانو غوره کول.

۲ – يا : د محبوب د رضامندئ سره د زړه موافق کيدل.

۳ – يا : د خدمت کولو سره سره د احترام د پريښودلو نه ويريدل .

٤ – يا : طاعت له غاړه ورکول او د مخالفت نه بيزاره کيدل.

٥ – يا : خپل طرفه ډيرڅه کم ګڼړل او د محبوب د طرفه لږ څه ډير ګڼړل.

٦ – يا : داچه ته محبوب ته خپل هرڅه ورکړې، چه هيڅ شے درته پاتے نشي.

۷ – يا : داچه ته د خپل زړه نه د محبوب نه سيوا هر څه محو کړے.

۸ – يا : داچه ته هميشه دپاره خپل ځان د هغه په رضامندئ کښې ملامته کوے، او ته د خپل نفس نه هغه دپاره نه په څه عمل راضي ئے اونه په څه حال باندے.

۹ – يا : يو شئ ته ستا پوره طور سره ميلان کول او بيا هغه له په خپل نفس، روح او مال باندے ترجيح ورکول او بيا پټ او ښکاره د هغه سره موافقت کول، او بيا د هغه په محبت کښې خپل ځان کوتاه ګڼړل.

۱۰ – يا : دا يو اور دے په زړه کښې چه دَ محبوب د مراد نه سيوا هر څه ويلي کوي.

۱۱ – يا : په محبوب باندے د اعتراض کولونه پوره کوشش سره بچ کيدل.

۱۲ – يا : محبت ديته وائي چه په محبوب باندے بل هيڅوك غوره نه کړے شي، او د هغه نه علاوه ستا د کارونو بل ځوك واکدار جوړ نه کړے شي.

۱۳ – يا : د محبوب د عبوديت او غلامئ لاندے داخليدل، او د هغه نه سيوا د نورو خلقو

د غلامئ نه آزادیدل۔

١٤ – یا : د محبوب په تالاش کښې د زړه سفر کول، او همیشه دپاره د هغه په ذکر باندې ژبه خوزول۔

١٥ – یا : محبت دادې چه ته خپل تول ځان په هغه سره مشغول کړې او هغه دپاره ئې خرچ کړې۔

١٦ – جنید وائی : محبت کونکے د خپل نفس نه غافل وی، د خپل رب د ذکر سره ئې تعلق وی، د هغه د حقونو په اداء کولو باندې ولاړ وی، هغه ته په زړه سره کتونکے وی، دده زړه د هغه د هیبت انوارو سیزلے وی، د هغه د محبت د ګلاس نه دده څکل صفا وی او الله تعالیٰ ورته د غیب د پردونه ښکاره شوې وی (یعنی په زړه سره ئې وینی چه دا د احسان مرتبه ده)، نو که خبرې کوی نو په الله سره ئې کوی، او که خوله خوزوی نو د الله د طرفنه، اوکه حرکت کوی نو د الله په امر سره، اوکه سکون اختیاروی نو په الله سره، نو دا په الله باندې، د الله دپاره د الله سره وی۔

دا خبره جنید هغه وخت اوکړه کله چه دده نه په مکه کښې شیوخو تپوس اوکړو او د محبت باره کښې مباحث اوشو، نو هغوئ ورته اووئیل : تا رشتینې اووئیل، په دې باندې نور زیادت نه کیږی۔ او دا تعریف ابن قیم رحمه الله غوره کړیدې۔

١٧ – یا: محبت محبوب ته دزړه میلان دې۔

١٨ – یا : هغه طرفته د زړه سکون حاصلول۔

١٩ – یا : د هغه په معرفت کښې پوره طاقت صرف کول، او د هغه په رضا مندئ کښې پوره کوشش کول۔

٢٠ – یا : دا یو وُنه ده چه په زړه کښې راتو کیږی چه د مراقبې او د محبوب د رضا د ترجیح په اوبو سره خړوبه کیږی۔

٢١ – یا : دحدودو لحاظ ساتلو ته محبت وائی، نو هغه څوك رشتینے نه دې چاچه د محبت دعوىٰ اوکړه او د هغه حدود ئې ضائع کړل۔

صحیح خبره داده : چه محبت د امورو وجدانیه ؤ نه دې، دا یواځې په الفاظو سره نه پیژندلے کیږی، الفاظ خو د معنیٰ نه تعبیر وی او دا کله د معنیٰ نه ادنیٰ وی او معنیٰ لویه او غټه وی، لکه د الله رب العزت اسماء او صفات، یا لکه د هغه د کتاب اسماء، یا لکه په دُنیا کښې د جنت د نعمتونو قِسمونه او نومونه، یا لکه محبت شو۔

اوکله لفظ د معنیٰ نه لوئې وی، لکه جزء لا یتجزیٰ ته خلق جو هر فرد وائی۔ اوکله لفظ د معنیٰ سره موافق او د هغې وضاحت کونکې وی، سوچ اوکړه۔

نو محبت زما په نیز – والله اعلم – د زړۀ اُنس دې د الله سبحانه سره، او هغه ته میلان کول دی، او همیشه د هغه ذکر کول او د هغه په عبادت کښې مصروف کیدل دی، هغه ته نزدیکت دې، تقویٰ همیشه اختیارول، په زړه کښې ایمان مضبوطول، تعظیم، هیبت سره د هغه لحاظ ساتل، د هغه د اوامرو تعمیل کول او د هغه د منع کړو څیزونو نه منع کیدل، د هغه د اولیاؤ سره ذ هغه دپاره محبت کول، د هغه د دشمنانو سره د هغه دپاره دشمنی کول، د هغه د قابلِ عزت څیزونو د ماتیدو په وخت غصه کیدل، یواځې والی کښې هغه طرفته رغبت کول، د هر هغه چانه نفرت کول چه هغه ته نزدیکت نه حاصلوی، په تازګئ او غړندوالی دواړو حالتونو کښې دهغه عبادت کول، هغه نه رضا کیدل، د هغه دپاره ورکړه او خرچه کول، هغه دپاره ملاقات کول، د هغه په لار کښې جهاد کول، د هغه باره کښې د خلقو د ملامتیا نه نه ویریدل، د هغه ملاقات ته شوق کول، د هغه په ذکر باندې خوند اخستل، اول دَ هغه په دینی نعمتونو او بیا په دُنیوی نعمتونو باندې شکر کول، هر هغه څیز سره محبت کول چه الله ورسره محبت کوی، او هر هغه څیز سره بغض لرل چه الله ورسره بغض لری، هغه سره په خِلوت او جلوت دواړو حالتونو کښې د ادب سلوك كول، هر وخت خپل زړه په هغه سره مشغولول، هر حالت کښې هغه سره موافقت کول، د هغه ذکر ته سکون حاصلول، هغه طرفته انابت کول، هغه نه ویریدل، او هغه ته تواضع او عاجزی کول۔

نو دا واقعی چه رشتینې محبت دې۔

یاد لره چه حالت جدا شې وی او حدود او تعریفونه جدا شې وی، داسې نه چه څوك د یو شئ حد او تعریف اوپیژنی نو هغه دې په دې باندې موصوف هم وی، اودا دې ئې حالت اوګرځی، بلکه ډیر مؤمنان خلق داسې شته چه دا تعریفونه نه پیژنی، حال دا چه محبت د دوئ په زړونو کښې د غرونونه هم ډیر لوئې وی۔ او ډیر داسې خلق هم شته چه حدود او تعریفات ئې یاد کړی وی خو د محبت د نوم نه علاوه بل هیڅ شې ورته حاصل نه وی۔ خو دا کلمات کله په مقصود کښې مدد کوی او زړونه ئې یاد ساتی۔ والله المستعان۔

دريمه فائده : محبت پيدا کونکی اسباب :

اودا ډير زيات دی :

١ – اول : د قرآن کريم تلاوت کول او د هغے په معانيو کښے تدبر کول او په هغے باندے ځان پوهه کول، او څه شے چه د هغے نه مراد وی هغه حاصلول.
اودا يو ژور، آسان او ډير مفيد سبب دے، بلکه قرآن کريم يو رسئ ده چه الله عز وجل ته رسيدلے ده. لکه رسول الله ﷺ په يو صحيح حديث کښے فرمائی : « دا قرآن يو رسئ ده چه يو طرف ئے د الله په لاس کښے دے او بل طرف ئے ستاسو په لاسونو کښے ».

٢ – فرضو نه پس الله تعالیٰ ته د نوافلو په ذريعه ځان نزدے کول، ځکه دا بنده د محبت نه پس د محبوبيت درجے ته رسوی، لکه په حديث د بخاری کښے راځی « هيڅ يو بنده ماته نزديکت نه دے حاصل کړے چه هغه د هغه شئ پشان وی کوم چه ما په ده باندے فرض کړی دی ، او زما باندے لګيا وی ماته د نوافلو په ذريعه ځان رانزدے کوی تردے چه زه ئے خپل محبوب جوړ کړم . . الحديث ».

٣ – په هرحالت کښے په خپله ژبه، زړهٔ، عمل او حال سره د الله رب العزت هميشه ذکر کول، نو څومره حصه چه ده ته ددے ذکر نه حاصله وی هغومره حصه به ددے محبت نه ده ته حاصله وی.

٤ – د الله د رضامندئ او محبوب څيزونه په خپلو خواهشاتو اومحبوبو څيزونو باندے غوره کول، اګرکه د محبت ځايونو ته ختل ګران وی، او پورته تلل ورته مشکل وی. والله المستعان.

٥ – په خپل زړه سره د هغه په اسماء او صفاتو او د هغے په مشاهده او معرفت کښے سوچ او فکر کول او هغه د هغے په باغيچو کښے اړول راوړل، نو څوک چه الله تعالیٰ د هغه په اسماء او صفاتو او افعالو سره اوپيژنی، نو خامخا به الله پيژنی.

دا وجه ده : کوم خلق چه د الله د صفاتو نه منکر دی (لکه معتزله) يا په هغے کښے تاويل کونکی دی (لکه ماتريده اشاعره) نو دا د الله اود بندګانو د زړونو ترمينځه قطاع الطريق (ډاکوان) دی.

٦ – د الله د خير ښيګړے او د هغه د ظاهری او باطنی نعمتونو مشاهده کول، ځکه دا هم د الله محبت ته دعوت ورکوی.

٧ – يو عجيب سبب دادے : چه پوره طور سره د الله مخکښے په زړه سره عاجزی او تضرع

کول، چه ددې نه تعبیر صرف په الفاظو او عباراتو سره کیدې شي۔

۸ – د الله سره یـواځې والـې کـول خاصکر د نزولِ الهی په وخت، د هغه سره د مناجات او د هغـه د کتـاب د تـلاوت او په هغه باندې د زړه وقف کولو دپاره، دارنګ د هغه مخکښې د عبودیت آداب اختیارول او بیا دا حالت په استغفار او توبې سره خپلول۔

۹ – رشتینې مـحبینـو سره نـاستـه کـول او د هغوئ د خبرونـه خوږې خوږې خبرې را غونډول څنګه چه خوږې خوږې میوې راغونډولې شي، او هغه وخته پورې خبرې مه کوه چـه څـه فـائده په کښې نه وي او تاته پته اولګي چه دې سره ستا حالت نور هم ښه کیږي او بل چاته پرې نفع رسي۔

۱۰ – د هر هغه سبب نه ډډه کول چه د زړه او د الله تعالیٰ ترمینځه رکاوټ واقع دیږي۔ نـو ددې لسو اسبابو په وجه مُحِبّان خلق د محبت منازلو ته اورسیدل او خپل محـبوب ته ورداخل شو۔ اوددې بنیاد په دوه خبرو باندې دې:

(۱) خپل روح دې کار دپاره تیارول۔

(۲) او د بصیرت سترګه پرانستل۔

دا امام ابن القیمؒ ذکر کړي دي، او مونږ ددې سره دا نور اسباب هم بیانوو هغه دا چه:

۱۱ – د الله عز وجل محبت په اتباع سُنت سره زیاتیږي او مضبوطیږي، لکه په دې قول د الله تعالیٰ کښې: ﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ﴾... الآية

[ال عمران: ۳۱]

(ورتـه اووایـه: کـه چرې تـاسـو د الله سره محبت کول غواړئ نو زما تابعداری کوئ الله به درسره محبت اوکړي اوګناهونه به درته معاف کړي)۔

نـوکله چه ته په خپلو افعالو، اقوالو او احوالو کښې د سُنت اتباع کوې نو ته د الله دوست او مـحبوب ئې، او په دې کښې شك نشته چه د حبیب زړه د خپل مخبوب د محبت نه ډك وي، اودا واضح خبره ده۔

۱۲ – پـه صـحیح حدیث قدسی کښې راغلي چه الله فرمائي: « زمـا محبت د هغه خلقو دپاره واجب دې کـوم خلق چه زما باره کښې د یو بل سره محبت کوي، او هغه خلقو دپاره چـه زمـا بـاره کښې یو بل سره کیني پاځي، او هغه خلقو دپاره چه زما باره کښې یو بل سره ملاقات کوي، او هغه خلقو دپاره چه زما باره کښې یو بل باندې خرچه کوي »۔

(رواه ابن حبان: ۵/۲۳۳، وابن حِبّان: ۵۷۵)

ددے حدیث اولنئ جملے دادی چه ابو ادریس خولانیؒ فرمائی : « زهٔ د دمشق جامع مسجد ته داخل شوم نو څه گورم چه یو ځوان هلك دے چه دواړو مخامخ غاښونو کښے ئے کشاده گی ده، خلق د هغه نه راتاؤ شوی وو، کله به چه دوئ په څه خبره کښے مختلف شو نو دغه ځوان ته به ئے یوړله او په هغے کښے به ئے د هغه رائے واخستله، ما د هغه باره کښے تپوس اوکړو، نو خلقو اووئیل : دا معاذ بن جبلؓ دے. کله چه صبا شو نو زه وختی راغلم نو ما دے بیاموندلو چه مانه مخکښے وختی راغلے وو، او په مانځه ولاړ وو، نو ما هغه ته انتظار اوکړو تردے چه مونځ نه فارغ شو، زه ورته د مخے نه راغلم اوسلام مے پرے اوکړو، او ورته مے اووئیل : قسم په الله ! چه زه تاسره د الله دپاره محبت کوم. نو هغه اووئیلے : آیا د الله دپاره ! ما وئیلے : د الله دپاره. بیا ئے اووئیل : آیا د الله دپاره ! ما اووئیل : د الله دپاره. نو هغه زما د څادر یو طرف اونیولو او ځانته ئے راخکلم او وے فرمائیل : خوشحاله شه ! ځکه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیلی ئے دی « الله تبارك وتعالیٰ فرمائی ـــ » بیا ئے دغه مخکنے حدیث ذکر کړو.

نو په حدیث کښے دا الفاظ چه « زما محبت واجب دے » ددے معنیٰ داده چه الله تعالیٰ د هغه چا سره خامخا محبت کوی څوك چه د مؤمن سره محبت کوی.

او دا معنیٰ هم کیدے شی چه : زما محبت به خامخا د هغه چا زړه ته داخلیږی څوك چه د الله دپاره د مؤمن سره محبت کوی.

چه ددے دواړو معنو ترمینځه تلازم دے، سوچ اوکړه !

١٣ - دارنگه د الله دپاره محبت کول او د الله دپاره بغض ساتل د بنده په زړه کښے د الله محبت پیدا کوی.

لکه په مسند احمد (٣/٤٣٠) کښے د عمرو بن الجموح ﷺ نه روایت دے چه ده د نبی ﷺ نه واوریدل : « بنده د خالص ایمان حق هغه وخته پورے نشی اداء کولے ترڅو چه د الله دپاره محبت اولری، د الله دپاره بغض اولری، نو کله چه د الله تبارك وتعالیٰ دپاره محبت اولری، او د الله تبارك وتعالیٰ دپاره بغض اولری نو دے خامخا د الله د دوستئ مستحق شو، او بیشکه زما په بندگانو کښے زما اولیاء او زما په مخلوق کښے زما دوستان هغه دی چه زما په ذکر باندے یادولے شی او زه د هغوئ په یادولو باندے یادیږم ».

(ددے حدیث سند حسن دے او حدیث صحیح دے).

سنن ابی داود (٣٥٢٧) او ابن حبان (٥٧٣) وغیره کښے د عمر بن الخطاب ﷺ نه روایت دے دا

فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې : « بيشکه د الله په بندګانو کښې څه خلق دي چه نه انبياء دي اونه شهيدان دي خو انبياء او شهيدان به ورته د الله سره د دوئ د مرتبې د وجې نه د قيامت په ورځ پسخيږي. صحابو﷢ عرض اوکړو : يا رسول الله ! مونږ ته د دوئ خبر راکړه دا څوك دي ؟ وې فرمائيل : دا داسې خلق دې چه يو بل سره د الله دپاره مينه لري چه نه خپلو کښې رشته دار دي اونه ئې يو بل سره څه مالي ورکړه راکړه شته، قسم په الله چه د دوئ مخونه روښانه دي او دوئ په رڼړا باندې دي، کله چه خلق يريږي نو دوئ به نه يريږي او کله چه خلق غمژن کيږي نو دوئ به نه غمژن کيږي، اودا آيت ئې اولوستلو :

﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ [يونس: ٦٢]

(خبردار ! د الله اولياء هغه خلق دي چه نه به په دوئ څه ويره وي اونه به غمژن کيږي).

په دې مضمون باندې ډير احاديث راغلي دي .

۱٤ – څوارلسم سبب : د الله عز وجل کتاب په غمژن اوښائسته آواز سره لوستل : ځکه دې سره د انسان خپل رب ته شوق پيدا کيږي او د انسان زړه خپل خالق طرفته حُدي خواني کوي. لکه رسول الله ﷺ فرمائي : « قرآن خپلو آوازونو سره ښائسته کړئ ځکه ښائسته آواز په قرآن کښې حُسن زياتوي ».

(رواه المنذرى فى الترغيب وسنده صحيح)

۱۵ – پنځلسم سبب : دا چه په فقر، فاقه او افلاس کښې د الله د داعي قبولتيا اوکړي، يعنې ډير زيات اعمال صالحه اوکړي، او خپل ځان باندې دا ګمان کوي چه دا ددې نه خالي دې، ګوياکه هيڅ عمل ئې نه دې کړې، نو خپل رب ته به په خالص فقر او فاقې سره اورسيږي، او په دې کښې هيڅ شك نشته چه محبت په دې طريقه زياتيږي او په دې اجابت سره سيوا کيږي.

دا هغه طريقه ده چه په دې سره محبت ډير راخکلې کيږي، په خلاف د هغه چانه چه هغه څه عمل اوکړي او په خپل رب باندې په هغې سره ناز کوي، ځکه چه داسې سړې د الله عز وجل د سترګو نه پريوزي.

۱٦ – شپاړسم داچه : هر هغه عمل چه الله تعالیٰ د هغې باره کښې فرمائيلي وي : چه دا الله خوښوي يا ددې خاوند خوښوي، نو دې سره د الله محبت پيدا کيږي، ځکه الله تعالیٰ چه کله د يو بنده سره محبت اوکړي نو د هغه په زړه کښې خپل محبت پيدا کړي. نو الله تعالیٰ د محسنينو سره محبت ساتي، متقين خوښوي، توابين خوښوي، پاکي

غوښتونکې خوښوي، مؤمنانو سره محبت کوي، مجاهدينو سره محبت کوي، هغه متقي بنده سره محبت کوي چه ګمنامې او د زړه مالدار وي، پاکدامن سره مينه کوي، فتنه کښې غورزيدلې او بيا توبه ويستونکې سره محبت کوي، ذکر کونکو وغيره سره محبت کوي۔

نو په چاکښې چه دا صفات موجود وي نو دا د الله تعالیٰ محبوب دے، او دده په زړه کښې د الله عز وجل محبت دے۔

۱۷ – په حديث کښې دي: « څوك چه په دے خبره خوشحاليږي چه الله او رسول د هغه سره محبت اوکړي، نو هغه له پکار دي چه په مُصحف (قرآن شريف) کښې تلاوت کوي»

(رواه في الصحيحة: ٥/٤٥٢)

۱۸ – په يو حديث کښې دي: « تاسو دا کاز ولے کوئ؟ (يعني د نبي ﷺ د اوداسه اوبه په خپل ځانونو ولے راکاږئ) صحابو عرض اوکړو: د الله او رسول ﷺ سره د محبت د وجے نه۔ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: څوك چه په دے خبره خوشحاليږي چه الله او رسول (ﷺ) سره محبت اوکړي، او يا الله او رسول د هغه سره محبت اوکړي نو کله چه خبرے کوي رشتيا دے وائي، اوکله چه ورسره امانت کيخودلے شي نو اداء کوي دے، او څوك ئے چه ګاونډي وي د هغه سره دے احسان کوي »۔

(رواه البيهقي في الشعب وهو في المشكاة: ٢/٤٢٤، واسناده حسن ان شاء الله، لأنه روى بطريقين أحدهما في المجمع: ٨/٢٧، والثانية: في الشعب كما في حياة الصحابة: ٢/٣٢٥، ٣٢٦)

۱۹ – نولسم: دعاء ده، دے سره هم محبتِ الهي پيدا کيږي۔ خاصکر په دے الفاظو باندے دعاء کول:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَالْعَمَلَ الَّذِيْ يُبَلِّغُنِيْ حُبَّكَ، اللّٰهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ اِلَيَّ مِنْ نَفْسِيْ وَأَهْلِيْ وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ (رواه الترمذي)

(اے الله! زه تا نه ستا محبت غواړم او د هغه چا محبت چه تاسره محبت کوي او هغه عمل چه ما ستا محبت ته اورسوي، اے الله! خپل محبت ماته زما د نفس، اهل وعيال او د يخو اوبو نه هم زيات محبوب جوړ کړه)۔

او رسول الله ﷺ به دا دعاء هم فرمائيله:

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يَنْفَعُنِيْ حُبُّهٗ عِنْدَكَ، اللّٰهُمَّ مَا رَزَقْتَنِيْ مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِيْ فِيْمَا تُحِبُّ، وَمَا زَوَيْتَ عَنِّيْ مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغًا فِيْمَا تُحِبُّ. (رواه الترمذي)

(اے الله ماته خپل محبت رانصیب کړه او د هغه چا محبت چه د هغه محبت ستا سره ماله نفع راکړي، اے الله ! کوم محبوبات چه تا ماله راکړي هغه ستا په خپلو محبوباتو کښے د قوت ذریعه جوړه کړے، او کوم زما محبوب څیزونه چه تا مانه راخکلی دی، هغه په هغه څه کښے اولګولے چه هغه تهٔ خوښوے)۔

نو شرعي دعاګانے د الله د محبت په پیدا کولو کښے ډیر اهم کردار اداء کوی۔ والله المستعان ـــــ نو دا ټول نولس (١٩) اسباب شو۔

خلورمه فائده : د محبت د دواعی (اسبابو) بیان :

دواعی (محبت ته دعوت ورکونکو څیزونونه) نه مراد : د محبوب کمالی صفات او د محبت کونکی ددے پیژندل او اراده کول۔

نو یاد لره چه انسان علم، بهادری، قوت، حُسن، څان سره یا بل چا سره احسان کولو سره محبت کوی۔ دغه شان باقي کیدونکی څیز سره محبت کوی نه فاني سره، دارنګه عظیم سره محبت کوی نه حقیر سره۔ او انسان په همدے باندے پیدا کړے شویدے۔ نو دے اشیاؤ سره دده مینه فطری ده۔

نو کله چه انسان یو عالم اووینی نو د هغه د علم په وجه ورسره دده محبت وی، اګرکه د هغه نسب غیر مشهور وی، یائے مال کم وی۔ او هر علم چه وی د انسان خوښ وی، دنیوی علم وی یا دینی۔

دغه شان انسان قوی او بهادر سړی سره محبت کوی، او هر حُسن اوجمال سره محبت کوی، برابره خبره ده چه هغه په انسان کښے وی اوکه په حیوان یا کانړی بوټی وغیره کښے وی۔

دارنګه چاچه ده سره احسان اوکړو نو بیا ورسره د انسان ډیر زیات محبت وی۔ اوکله چه واوری چه په یو علاقه کښے یو سړے دے او خلقو سره احسان کوی نو دده ورسره د دغه څائے نه محبت وی اګرکه هغه ئے لیدلے هم نه وی۔

دغه شان د انسان دا طبیعت دے چه هغه شیان خوښوی چه پائیدار وی او بقاء او عظمت لري، لکه دا معلومه خبره ده۔

نو دا ټول صفات په کامل طور سره په الله رب الغزت کښے موجود دی۔ بلکه دا صفات په مخلوق کښے د الله رب العزت د طرف نه راغلي دی، او الله ددے مالك او واکدار او خالق دے، نو آیا دا صفات به په کامل طور سره په الله رب العزت کښے نه وی ؟ نو :

۱ – الله سبحانه وتعالىٰ علیم او خبیر دے، په زمکه او آسمان کښے د هغه نه هیڅ شے نه پټیږی، اونه پرے هغه شے پټ پاتے کیږی کوم چه په سینو کښے وی، په کائناتو کښے چه کوم ذرات دی هغه ټول پیژنی، تردے چه د سمندرونو څاڅکی هم پیژنی۔ ﴿ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾

[یونس: ٦١]

(اونه پټیږی ستا د رب نه د ذرے په اندازه څه شے نه په زمکه کښے اونه په آسمان کښے، اونه ددے نه وړوکے اونه غټ مگر هغه په واضح کتاب کښے دے)۔

﴿ وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾ [الانعام: ٥٩]

(او خاص د هغه سره د غیبو چابیانے دی چه د هغه نه سیوا په هغے باندے بل هیڅوك نه پوهیږی، او هغه پوهیږی په هغه څه چه په اوچه او لمده کښے دی او هیڅ یو پاڼړه نه راغورزیږی مگر هغه ئے پیژنی، اونه اوچ اونه لامده مگر په ښکاره کتاب دی)۔

د الله د علم په باره کښے آیتونه او دلائل معلوم دی۔

د بندګانو د علمونو نسبت د الله د علم په مقابله کښے داسے دے لکه د یو څاڅکی نسبت سمندرو او دریابونو ته۔

یالکه د آسمانونو، زمکے، غرونو او سمو په مقابله کښے یوه ذره۔

نو آیا دا مناسب نه ده چه په دے عظیم علم باندے د هغه سره انسان محبت اوکړی ؟

بلکه که ته د هغه په علم او په تا باندے د هغه په احاطه باندے او ستا د خبرو په آوریدو باندے او ستا د عمل په لیدلو باندے سوچ اوکړے نو خامخا به ته د هغه نه حیاء اوکړے او محبت به ورسره اوساتے !

۲ – دارنګه قوت هم ټول د الله تعالىٰ دے، او الله په هر شئ باندے قادر دے، د هغه نه هیڅ شے نه فوت کیږی، او نه د هغه د قدرت نه څه شے اوځی، بلکه هغه په اولینو او آخرینو باندے قادر دے، او د آسمانونو او زمکے والو باندے ډیر زیات قدرت لرونکے او ددے ټولو رب او مالك دے۔

نو انسان له مناسب دی چه د هغه د حملے اونیوکے نه خوف اوکړی چه ددے هیڅ مثال نشته۔

۳ – دارنګه حُسن اوجمال هم د الله سبحانه وتعالىٰ انتهائی زیات دے، او ښائست لره

خوښوي هم، بلکه هر حُسن اوجمال د هغه د طرفه دے، نو دا ښائسته ؤ نه ښائسته او د ډولی ؤ نه ډولی دے، او هغه نور دے : ﴿ اَللهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ [نور: ۳۵]

(الله د آسمانو او زمکو نور دے)۔

﴿ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا ﴾ [الزمر: ٦٩]

(او زمکه به د خپل رب په رنړا سره اوپړقيږي)۔

اورسول الله ﷺ فرمائي : « د هغه پرده رنړا ده، که چرے لرے ئے کړے نو د هغه د مخ پلوشے به هر هغه شے اوسيزی کوم ته چه د هغه په مخلوق کښے د هغه نظر رسيږي »۔

ابن مسعود ﷜ فرمائي : « ستاسو د رب سره نه شپه شته او نه ورځ، د آسمانونو او زمکے رنړا د هغه د مخ د رنړا نه ده »۔

اوجنتيان خلق چه کله الله اووينی نو دوئ به د جنت هر نعمت د هغه د ليدلو په مقابله کښے هير کړي، اودا ورځ به خوښوي۔ نو حُسن او جمال ټول په الله رب العزت کښے دے، او د مخلوق حُسن سوالی دے او د الله حُسن اوجمال حقيقی دے، نو څوك چه د حُسن او جمال سره محبت کوی او د خپل رب عز وجل سره محبت نه کوی نو دا حقيقی جمال نه پيژنی۔

آيا ته نه ګورے چه څوك د الله رب العزت سره محبت اوکړي ، نو د هغه روح او زړه په سخته خوشحالئ او سرور کښے وی، سره ددے نه چه هغه ئے حقيقةً نه دے ليدلے، نو څه دے خيال دے چه کله ئے د خپل سر په سترګو او خپل زړه او په خپلو ټولو اندامونو سره اووينی نو آيا چا ددے څه تصور کړيدے ؟

لوستونکيه روره ! په دے ډول او ښائست کښے سوچ اوکړه ! کيدے شي چه الله تاته د خپل محبت نه څه حصه درکړي، او په پوره کاميابئ سره کامياب شے۔

٤ - دارنګه تاسره د الله داسے احسانات دي چه ته د هغے د شمار نه عاجز ئے۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللهِ لَا تُحْصُوْهَا ﴾ [ابراهيم: ٣٤]

(اوکه چرے تاسو د الله نعمتونه شمارل شروع کړئ نوسرته به ئے اونه رسوئ)۔

او الله فرمائي : ﴿ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْئَرُوْنَ ﴾ [النحل: ٥٣]

(او تاسو باندے چه کوم نعمت دے نو دا د الله د طرفه دے خو بيا چه کله تاسو ته تکليف اورسی نو تاسو هغه ته زاری کوئ)۔

او الله فرمائي : ﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ ﴾ [فاطر: ۳]

(اے خلقو ! په خپلو ځانونو باندے د الله نعمت رایاد کړئ)۔
نو ستا په لاس او نفس کښے چه څه دی دارنګه ددے چه کوم منافع دی نو دا ټول د الله سبحانه د طرفنه دی۔ دُنیوی نعمت دے که دینی او روحانی، ظاهر دے که باطن دا ټول په غیر د څه شك نه د الله د طرفنه دی۔
نو که ته عقل مند ئے نو د الله سره محبت اولره، ځکه که چرے تاته څوك د دُنیا څه مال درکړی نو ته هغه سره په خپل ټول زړه سره محبت کوے، سره ددے چه ورکونکے فقیر دے او مجازی نعمت ورکونکے دے، حقیقی منعم خو صرف الله تعالیٰ دے۔
نو اوس چه ته د الله سره محبت نه کوے نو ستا عقل او ایمان چرته لاړو ؟ آیا ته بیخوده ئے او لیونے ئے ؟
۵ – دارنګه الله تعالیٰ د ټولو خلقو سره احسان کونکے دے، ځکه خلقو سره چه څه دی نو دا ټول د الله د طرفنه دی، او همدے ته په دے حدیث کښے اشاره شویده :
اَللّٰهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِیْ مِنْ نِّعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ، فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ ۔(اے الله ! په ما یا ستا په مخلوق کښے په بل چاباندے چه څه نعمت د صبا په وخت کښے اوشو نو دا خالص ستا د طرفه دے، ته یواځے ئے هیڅ شریك نه لرے، نو تالره حمد او شکر دے)۔ چه دا د صبا په دعاء ګانو کښے وئیلے کیږی۔
نو تاته چه څوك هم په نعمت کښے ښکاری، د صحت نعمت وی یا د مال، د علم وی یا د جمال، د بهادرئ او قوت نعمت وی یا د ملك او د عطیے نعمت وی، نو دا ټول د الله رب العزت د طرفه دی، نو آیا ددے ذات سره ډیر زیات محبت پکار نه دے ؟
٦ – او هرچه د الله بقاء او عظمت دے : نو دا خو هر چاته معلوم دے ځکه په دے دُنیا چه څه شے هم دے هغه به ختمیږی او فانی کیږی، او د الله عزتمند ذات به باقی پاتے وی۔
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهُ ﴾ [القصص: ۸۸]
(هرشے ختمیدونکے دے سیوا د مخ د الله نه)۔
او دا هغه عالم او قادر ذات دے چه هیڅ قِسم تغیر او تبدیل په کښے نه راځی۔ او د هغه نه سیوا په هر څه کښے تغیر او تبدیل راځی۔ حواس او عقلونه د هغه د عظمت ادراك نشی کولے۔
بِشر وائی : که خلق د الله په عظمت کښے فکر اوکړی نو هیڅکله به ئے نافرمانی اونه کړی۔ د الله عظمت دادے چه د هغه کرسی آسمانونو او زمکے ته فراخه ده، او آسمانونه به

د هغه په ښې لاس سره راتاؤ شوي وي، او ټوله زمکه به د هغه په موټي کښې وي، او الله زمکه او آسمانونه د زائله کيدونه ټينګ کړي دي، که چرې د خپل ځائے نه دا زائل شو نو هيڅوك به ئے را ټينګ نه کړي۔

نو دا محبت ته دعوت ورکونکي څيزونه چه کله د بنده په علم کښې مضبوط شي او بنده پوره حِس او شعور او زيرکتيا والا وي، نو دا به ضرور د الله عز وجل سره دومره ډير محبت کوي چه د هغه نه به صبر نشي کولے۔

خو ډير خلق ددے دعوت ورکونکو څيزونونه ناخبره دي او کله چه دوئ ته تنبيه ورکړے شي نو سستي او د غفلت خوب نه پريدي، نو څوك چه د غفلت په خوب اوده وي او سست او غافل وي نو دا به هغه شے څنګه حاصل کړي چه انتهائي عزتمند او غوره وي ؟

نو دا مرتبه اوچت همت، بيدار حِس، روښانه بصيرت، پخه اراده، ژوندے زړه، عاجزئ سره دعاء او سخت کوشش غواړي چه ددے نه پس به تاته دروازه کهلاويږي۔

که نه وي نو زمونږ په شان خلق ددے ژورو حقائقو، غالبو رازونو او حقيقي نعمتونو نه څه خبر دي ؟

اَللّٰهُـمَّ اِنِّـیٓ اَسْاَلُكَ بِاسْمِكَ الْاَعْظَمِ اَنْ تَرْزُقَنِیْ حُبًّا مُفْرِطًا تَرْضٰی بِهٖ عَنِّیْ، وَیَلْتَذُّ بِهٖ قَلْبِیْ وَیُفْرَحُ بِهٖ، وَیَقْوِیْ بِهٖ اَمْرِیْ، وَتَحْیَا بِهٖ عِبَادَتِیْ، آمین !

پنځمه فائده : د محبت مثال په زړه کښې د ونې دے چه ددے څيلے د محبوب دپاره ذلت دے، اوددے تنه د محبوب معرفت دے، اوددے څانګې د هغه خشيت دے، او ددے پاڼې د هغه نه حياء ده، او ددے ميوه د هغه طاعت دے، او ددے هغه ماده چه دا خړوبه کوي د هغه ذکر دے۔ نو کله چه محبت په دے کښې ديو څيز نه خالي شي نو دا به ناقص محبت وي۔

ياد لره : بنده چه الله تعالىٰ سره محبت کوي نو دا د الله د طرفه د دوه محبتونو ترمينځه وي، څکه الله تعالىٰ اول بنده سره محبت اوکړي او هغه د خپل محبت لائق جوړ کړي، بيا چه کله بنده خپل رب سره محبت شروع کړي، نو دوباره الله ده سره محبت کوي چه دا دده د محبت بدله وي۔ او دا د الله تعالىٰ عادت وي په ټولو اعمالو د انسان کښې، چه الله ده له توفيق ورکوي او چه کله بنده عمل کوي نو بيا ورته اجر او ثواب هم ورکوي او د هغه د عمل قدر کوي۔ نو ګوره څومره عزتمند، جليل القدر او غيرتي ذات دے۔ ډير لوئے حق بادشاه او رب العالمين دے !!

او الله د خپل ځان صفت په دے سره کړيدے چه دا خپل مؤمنانو بندګانو سره محبت

کوي، دارنګ خپل ځانته ئې (الودود) يعني محبت کونکے وئيلے دے چه د خپلو مؤمنانو بندګانو سره مينه محبت کوي.
اللهم اجعلني اهلا لحبك يا مولای.

شپږمه فائده : د محبت منافي او ختمونکي څيزونه :

ياد لرل پکار دي چه دا ممکنه نه ده چه په زړه کښې د اعلیٰ محبوب محبت - چه الله دے - او د شکلونو محبت او عشق هيڅ کله نه جمع کيږي، دا داسے ضدي شيان دي چه هيڅ کله نه يوځائے کيږي، بلکه دا ضروري ده چه يو به اوباسي، نو د چا محبت چه ټول د الله تعالیٰ سره وي - چه د هغه محبت سعادت دے او د هغه نه سيوا د بل څه محبت باطل او په خپل خاوند باندے وبال دے - نو د الله دا محبت ده لره د هغه نه سيوا د بل چا د محبت نه اړوي، اوکه د هغه سره محبت هم کوي نو صرف د الله دپاره به ئې کوي.

نو رشتينے محبت د محبوب د يو والي تقاضا کوي، چه دده او د بل چا ترمينځه دے دا محبت شريك نه وي، ځکه کله چه په مخلوق کښې يو محبوب ددے نه انکار کوي او په دے سره په غيرت کښې راځي چه بل څوك دده سره دده د محبوب په محبت کښې شريك کړي، دے دغه کس لره په دے وجه مبغوض ګڼړي او خپل ځان ته ئې نه رانزدے کوي، بلکه د هغه د محبت په دعوىٰ کښې ئې دروغژن ګڼړي، نو څه دے خيال دے چه هغه اعلیٰ محبوب - الله عز وجل - چه د هغه نه سيوا د بل چاسره محبت کول هم مناسب نه دي او هم هغه ددے اهل او لائق دے آيا هغه به په دے سره غيرت نه کوي او د هغه سره بل څوك په محبت کښې شريکولو سره به دا کس مبغوض نه ګڼړي ؟

دا وجه ده چه الله عز وجل هغه څوك نه بخښي چه دده سره په دے محبت کښې بل څوك شريك کړي. د مشرکانو اکثر شرك د همدے لارے نه دے.

نو عاقل له پکار دي چه د خپل نفس دپاره په دے دواړو محبتونو کښې يو محبت غوره کړي، ځکه دا دواړه په زړه کښې نه راجمع کيږي، او دا معلومه خبره ده چه د بنده دپاره هيڅ سعادت، کاميابي، نعمت، خوشحالي، تازګي او سکون نشته مګر د الله سبحانه وتعالیٰ په محبت کښې، او په واقع کښې هم داسے ده.

او هرچه د غيرُ الله سره محبت دے نو دا عذاب او وبال دے، دا وجه ده چه څوك د الله د محبت نه اعراض اوکړي نو الله ئې د ښځو، د ګيرے هلکانو، يا رانو دوستانو يا هغه څوك چه د دوئ نه حقير وي د دوئ په محبت کښې ګرفتار کړي.

دے وجے نه د کلمے طیبے روح او راز دادے : چه الله عز وجل په محبت، اجلال او تعظیم، خوف او رجاء، توکل او انابت، رغبت او رهبت سره یواځے اوګنړلے شی، نو د هغه نه سیوا دے د بل چاسره محبت نه کوی، د هغه نه سیوا دے په بل چا توکل نه کوی، نه دِ هغه ته رغبت کوی، نه دے د هغه نه ویره کوی، نه دے هغه ته سجده کوی، نه دے هغه ته رجوع کوی، نه دے د هغه په نوم نذر او منخته کوی، اونه دے د هغه په نوم قسَم کوی۔ او چه امداد غواړی نو صرف د الله نه دے غواړی، او چه پناهی طلب کوی نو صرف د الله نه دے طلب کوی، اودا ټولے خبرے صرف په یوه خبره کښے راجمع دی او هغه دا چه : هیڅ قِسم عبادت دے نه کیږی مګر د هغه۔

نو دا د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ د شهادت حقیقت دے، او همدا هغه شے دے چه ددے په وجه اور په ده حرامیږی او دے په اور حرامیږی۔

بیا بعضے خلق داسے وی چه په قلب او قالب، ظاهر او باطن دواړو سره ئے دا ګواهی وی۔

او بعضے هغه وی چه دا شهادت ئے مړ وی، او بعضے هغه دی چه دا شهادت ئے اوده دے، کله چه رابیدار کړے شی نو رابیداریږی، او بعضے هغه څوك دی چه شهادت ئے ډډه لګولے وی، او بعضے هغه دی چه شهادت ئے پاڅیدو ته نزدے وی، او دا په زړه کښے داسے وی لکه روح په بدن کښے۔

نو روحونو کښے هم قسمونه دی : ځینے روح مړ وی، ځینے روح بیمار وی، ځینے روح ژوند ته نزدے وی، ځینے روح داسے وی چه صحیح او د بدن په مصالحو باندے قائم وی۔

په یو حدیث کښے راغلی دی : « ما ته یوه داسے کلمه معلومه ده چه بنده ئے د مرګ په وخت نه وائی مګر دده روح به د هغے دپاره روح بیاموم‍ی »۔

(رواه أحمد : ١/٣٧، وابن ماجه رقم : ٣٧٩٥، وهو في الحلية : ٢/٢٩٦)

نو د روح ژوند ددے کلمے د روح په وجه دے، لکه څنګه چه د بدن ژوند د روح د ژوند په وجه دے۔ نو عاقل له پکار دی چه په خپل زړه او روح کښے ددے کلمے د ژوندئ کولو کوشش اوکړی دے دپاره چه جنت ماویٰ ته د داخلیدو نه مخکښے په دے دُنیا کښے د الله د ملاقات شوق، په هغه باندے د خوشحالیدو او راضی کیدو جنت ته داخل شی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ [النحل: ٩٧]

(څوك چه نیك عمل اوکړی نارینه وی که زنانه خو چه مؤمن وی نو مونږ به ورله پاکیزه

ژوند ورکړو)۔

او فرمائی: ﴿فَمَنْ يُرِدِ اللهُ أَنْ يَّهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ﴾ [الانعام: ۱۲۵]

(چاته چه الله هدایت کول اوغواړی نو د هغه سینه اسلام ته پرانیزی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۶۲﴾ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمَاتِ اللهِ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۴﴾

(خبردار! بیشکه د الله دوستانو باندے به هیڅ خوف نه وی او نه به دوئ غمژن شی، اودا هغه خلق دے چه ایمان لری او پرهیزګاری اختیاروی، دوئ دپاره په دُنیوی ژوند کښے زیرے دے او په آخرت کښے هم، د الله د خبرو دپاره هیڅ قِسم تبدیلی نشته، همدا لویه کامیابی ده)۔

نو د مخلص مؤمن ژوند د ټولو خلقو د ژوند نه زیات مزیدار او ښه حالت والا وی، دده سینه د هرچانه زیاته پرانستے او زړه ئے د هرچانه زیات خوشحاله وی۔ او دا د نیتے والا راتلونکی جنت نه وړاندے نغد جنت دے۔

په حدیث کښے دی: «کله چه تاسو د جنت په باغیچو تیریږئ نو څرکوئ»۔

نو یاد ساته چه د الله عز وجل د محبت نه چرته غافل نشے ګنے په دُنیا او آخرت کښے به آفسوسونه کوے، او ته چه کوم شے هم ضائع کړے نو د هغے عوض او بدل شته دے خو که الله دے ضائع کړو نو ددے هیڅ یو شے ددے بدل او عوض نشی جوړیدے۔

په یو اثر کښے راغلی دی: «اے د آدم ځویه! ته ما د عبادت دپاره پیدا کړے ئے نو لوبے مه کوه، او ما ستا د رزق ذمه اخستے ده نو ځان مه ستړے کوه، اے د آدم ځویه! ته ما تالاش کړه نو مابه بیامومے، که چرے زه دے بیاموندلم نو هر شے دے بیاموندلو، اوکه زه درنه فوت شوم نو هر شے درنه فوت شو، او زه خو تاته د هر یو شئ نه زیات محبوب یم»۔

(تفسیر ابن کثیر: ٤/ سورت الذاریات)

مقصد دا چه د الله محبت د بل چا د محبت سره نه پاتیږی اونه ورسره جمع کیږی۔

دا وجه ده چه څوك د الله سبحانه وتعالیٰ سره محبت اوکړی او بیا خپل نظر د ښځو، بے ګیرے هلکانو، یا د شکلونو او صورتونو، یا د ونو، نهرونو او باغونو په ښائست کښے اولګوی، نو د الله سبحانه محبت دده د زړه نه خارجیږی چه بیابه حیران او پریشان وی، لکه چاته چه په دے میدان کښے مهارت دے د هغوئ په تجربے سره دا خبره ثابت شویده۔

اوومه فائده: د رشتینې محبت د آثارو نه یو اثر دادې چه دده زړه به همیشه دپاره الله تعالیٰ ته سفر کونکې وي اګرکه په ظاهر کښې مشغول وي، اوکله چه دده حرکات او اندامونه په سکون کښې شي نو د زړه کارونه به دده جَمع شي، بلکه خپل محبوب ته به دده مزل قوي شي۔ اودا اثر په څلورو ځایونو کښې راښکاره کیږي:

اول: کله چه اوده کیږي او دده حواس او اندامونه د مشغولیت نه فارغ شي، نو دا نه اوده کیږي مګر په ذکر د خپل محبوب سره۔

دویم: کله چه د خوب نه رابیدار شي نو اولنې شے چه دده زړه ته را وړاندې کیږي هغه دده د محبوب ذکر دے، ځکه کله چه دے د خپل محبوب نه په خوب سره جدا شو نو بیا چه کله ده ته روح دوباره واپس شي نو د محبوب ذکر ورته واپس شي نو زړه ئې په هغه سره ډک شي، نوکه څه کارئې د څه عارض د وجې نه مشغوله کړي نو هغه پوره کړي خو د محبوب محبت ئې دننه په زړه کښې وي، هغه ورسره داسې نښتې وي څنګه چه قرض دارے د قرضه وړي سره نښتې وي، که خپل څه حاجت یا اودس دپاره پاڅیږي نو د مولیٰ او محبوب محبت ئې په زړه کښې وي۔

دریم: کله چه مانځه ته اودریږي: ځکه چه دا د احوالو کسوټې او د اعمالو تله ده، په دے سره د سړي ایمان تللے شي او حال او مقام ئې متعین کولے شي، او الله ته دده د نزدیکت اندازه په دے سره لګولے شي، ځکه چه دا د مناجات او قربت ځائے دے چه په دے کښې د بنده او د خپل رب ترمینځه هیڅ واسطه نه وي، همدا هغه شے دے چه په دے سره دده سترګې یخیږي، زړه ئې خوند اخلي او ژوند ئې مزیدار کیږي په دے شرط چه رشتینے محبت کونکے وي، او د محبت کونکي په نیز د خپل محبوب سره د یوائې کیدو، هغه سره د مناجات کولو او د هغه مخکښې د اودریدونه چه هغه ورته متوجه وي ددے نه علاوه بل هیڅ شے خوندور او مزیدار نه وي۔

اوددے نه مخکښې دا د اغیارو د تکلیف برداشت کولو، خلقو سره د تعلق لرلو او هغوئ سره د مشغولیدلو په وجه په عذاب کښې وي۔ خو کله چه مانځه ته پاسي نو د غیرُ الله نه الله طرفته اوتختي، او د هغه په ذکر باندې مطمئن شي او د هغه مخې ته په اودریدو باندې قرارے بیامومي، ځکه دا په جیل کښې وو، خو کله چه مانځه کښې داخل شو نو په راحت کښې شو، لکه رسول الله ﷺ بلال ﷛ ته فرمائي: «بلاله! مونږ په مانځه سره په راحت کښې کړه»۔

بعضے سلفؒ فرمائي : هغه څوك كامل ايمان والا نه دے چه تر هغه وخته پورے په غم او خفگان كښے نه وي تر څو چه مونځ حاضر شوے نه وي چه دے سره دده غم او خفگان ختم شي.

نو مونځ د محبانو د سترگو يخوالے، د دوئ د روحونو خوشحالي، د زړونو خوند او د نفسونو تازگي ده. كله چه په مانځه كښے داخل شي نو غواړي چه همداسے په كښے وے، څنگه چه د بيكاره سړي غم په دے كښے وي چه اوس به كله د مانځه نه فارغيږو تردے چه زر زر ئے پوره كړي. نو ددے محبانو دمانځه يو حالت وي او د تونگو وهونكو بل حالت وي. دوئ الله ته د دغه خلقو ددے بد عمل شكايت كوي هركله چه دا محبان دغه بيكاره خلقو پسے اقتداء اوكړي، لكه څنگه چه غافل او معرض سړے د لړ شان مونځ اوگدولو شكايت كوي.

خلاصه : داچه مونځ واحده ذريعه ده چه د بنده ايمان او محبت په دے سره تللے كيږي، ځكه دا د عدل هغه تله ده چه ددے وزن هيڅ كله نه كړيږي، نو آيا ته ددے صفت والا ئے ؟

څلورم ځائے : د سختو او ويرو په وخت : ځكه زړه په دے ځائے كښے نه يادوي مگر هغه شے چه ده ته ډير زيات محبوب وي، او دے نه تختي مگر هغه چاته چه دده په نيز د ټولو نه غټ محبوب وي، داوجه ده چه عربو به د جنگونو په وخت د خپل محبوب په ياد ساتلو باندے فخر كولو، لكه حماسي شاعر وائي :

ذَكَرْتُكَ وَالْخَطِّيُّ يَخْطُرُ بَيْنَنَا وَقَدْ نَهِلَتْ مِنَّا الْمُثَقَّفَةُ السُّمْرُ

(ماتهٔ په داسے حال كښے راياد كړے چه زمونږ ترمينځه خطي نيزو حركت كولو او نيغو كړے شوو گندم گونو نيزو زمونږ نه سكل كړي وو).

حديث كښے راغلي، الله تعالىٰ فرمائي : « زما پوره بنده هغه دے چه ما په داسے حال كښے يادوي چه دا د خپل دشمن سره مخامخ كيدونكے دے ». (ترمذي رقم : ۳۸۳۳)

په دے حديث كښے كلام شته خو معنىٰ ئے صحيح ده.

په دے كښے راز دادے (والله اعلم) چه د سختيو په وخت چونكه زړه د محبوب ترين څيز د فوت كيدو په وجه يريږي نو ددے د وجے نه خپل ژوند خوښوي، نو كله چه ددے د فوت كيدونه خوف كوي نو دده زړه ته د هغه محبوب شئ ذكر په جلتئ سره راځي كوم چه دده د ژوند د فوت كيدو په وجه فوت كيږي، داوجه ده چه د مرگ په وخت په انسان باندے هغه شے پيش كولے شي كوم سره چه ده محبت لرلو او ډير به ئے يادولو، او كله داسے اوشي

چه دده روح اوځي او هغه په دے شيئ باندے خله خوزوي۔
نو څوك چه په خپل ژوند كښے په الله او د هغه په ذكر باندے مشغول وي نو د مرگ په وخت به ورته ضرور دا راځي۔
او څوك چه په دُنيا كښے د هغه نه په غفلت كښے وي نو په دے تنگ ساعت كښے به څنگه دے ته د هغې ذكر حاصل شي ؟ والله المستعان۔
نو كه چرے ته د هغه چانه ئے چه هغه خپل رب يادوي او په دے څلورو ځايونو كښے ورسره محبت لري، نو دا ستا د محبت د صحيح كيدو نښه ده، اوكه نه وي نو بيا دا محبت تالاش كړه ځكه چه ته صرف د محبت دعوىٰ لرونكے ئے۔

اتمه فائده : د محبت اقسام :

۱ – د شهوت محبت : لكه د خپلے ښځے او وينځے سره د سړي محبت۔
۲ – د شفقت محبت : لكه د پلار محبت خپل ځوئے سره او يا لكه د مشرانو محبت د كشرانو سره۔
۳ – د ملگرتيا او دوستانے محبت : لكه په سفر وغيره كښې د ملگرو يو بل سره محبت۔
٤ – ديني محبت : لكه مؤمنانو د يو بل سره محبت۔
نو اولنی درے محبتونو ته محبتِ طبعي وائي، نو دا د مخلوق ترمينځه جائز دی، مگر هله چه دا د الله د ذكر نه انسان غافل نه كړي۔
او څلورم محبت واجب دے۔
٥ – د هغه شيئ سره محبت ساتل كوم سره چه الله محبت ساتي، دا هم واجب دے۔
٦ – د الله عز وجل محبت، او دا هغه محبت دے چه د عبوديت، ذلت، خضوع او مطلقِ طاعت سره لازم دے، نو دا د الله عزوجل نه سيوا بل چاسره لرل جائز نه دی، اوڅوك چه دا قِسم محبت د الله نه سيوا بل چاسره اوكړي نو دا مشرك دے۔
۷ – دے وجے نه د الله سره سره بل چاسره محبت كول دا شركي محبت دے، او هر هغه چا چه د الله د محبت سره سره د بل چاسره محبت اوكړو، نه د الله دپاره، اونه د الله د وجے نه، اونه د الله باره كښے، نو دا دے شخص دغه كس لره د الله نه سيوا شريك جوړ كړو، او دا د مشركانو د خپلو معبودانو سره محبت دے، دارنگه د مقلدينو محبت دے د خپلو امامانو سره، ځكه دوئ د ائمه ؤ طاعتِ مطلقه (يعني بلا قيد وشرط طاعت) كوي۔
نو حقيقي مسلمان له پكار دي چه رب العالمين دپاره خپل محبت خالص كړي دے دپاره

چه دده توحید او ایمان کامل شي، اوکه چرې دا کارئے اونه کړو، نو په ښکاره تاوان کښې به پریوزي۔ دابه ځان د مؤمنانو نه گڼړي حال دا چه په حقیقت کښې به د هغه چانه وي چه د الله سره ولي او شریك گڼړي، نو دے سره به د مشرکانو په صف کښې اودریږي۔ ددے مثال لکه اکثر هغه قبر پرست خلق چه د اسلام دعویٰ هم کوي، او د قبرونو او مزاراتو عبادت هم کوي، دوئ د اسلام سره سره د قبرونو والو سره داسے محبت کوي څنگه محبت چه د الله سره کیږي، بلکه ددینه هم زیات محبت ورسره کوي، اودا واضح خبره ده۔

یا لکه د اهلِ تقلید محبت د خپل امام سره، یا لکه د پارټئ والو محبت شو د خپلو مشرانو سره، یا لکه د مریدانو محبت شو د خپلو پیرانو سره، یا لکه د بعضو طالبانو محبت شو د خپلو استاذانو سره چه دوئ د انبیاؤ په شان گڼړي، بلکه په محبت او تعظیم کښے ئے د دوئ دپاسه گڼړي، لکه دا کار په صوفیاؤ کښے ډیر دے، دارنگه په متاخرینو او متعصبینو تنظیمونو او پارټیو والو کښے ډیر دے۔

کیدے شي چه دا خبره په عقل مندو خلقو باندے پټه نه وي، پاتے شو غبي او غافل شخص نو دا غریب د ایمان د حقائقو نه څه خبر دے، ده سره بیا زمونږ خبره نشته۔ والله المستعان۔

نهمه فائده : د محبت درجات :

اوله درجه : داسے محبت چه وسوسے قطع کړي، ځکه محبت او وسوسے دواړه د یو بل ضد څیزونه دي، وسوسے صرف په هغه زړه کښے راځي کوم چه د خپل محبوب د ذکر نه خالي وي، حال دا چه د محبت کونکي زړه د الله په حضور کښے مستغرق وي، دارنگه وسوسے صرف اهلِ غفلت او د الله نه اعراض کونکو خلقو ته راځي۔

محبت کونکے د خپل محبوب په خدمت کولو سره خوند اخلي چه ددے په وجه ده ته هغه ستړي والے نه راځي کوم ستړي والے چه د محبت په دروان کښے هغه څوك بیامومي څوك چه دمحبت\نه خالي وي۔ ځکه د محبوب خدمت سره زړه نه ستړے کیږي بلکه په شوق سره ئے کوي، او دا خبره په تجربه او مشاهده کښے راغلے ده۔

دارنگه محبت کونکے د محبت په مزه کښے هغه څه مومي چه دده نه مصیبتونه هیروي، او هغه ورته داسے تکلیف نه ورکوي څنگه چه هغه چاته ورکوي چه هغه کښے دا محبت نه وي۔ تردے چه گویا دده دویم طبیعت جوړ شوے دے، چه دا د عامو خلقو طبیعت نه دے، بلکه دا لاځه کوے ډیر داسے محبت کونکي شته چه د محبوب د طرفنه

ده ته کوم تکلیف رسیږی هغه ورته د هغه خوند نه هم زیات وی کوم خوند چه د محبت نه خالی سړے د خپلو خواهشاتو په پوره کولو باندے حاصلوی۔

او دا محبت د نعمتونو په کتلو سره راتوکیږی، او د سُنتو په اتباع سره قوی کیږی، او د الله رب العزت د ټولو احکامو په هغه تعمیل سره زیاتیږی، په کوم کښے چه د فقر او فاقے او د حق اداء کولو نه د عاجز کیدو اعتراف وی۔

دویمه درجه : داسے محبت دے چه الله لره په غیر باندے په غوره کولو راپاروی، او ژبه د هغه په ذکر باندے خوزی، او زړه د هغه په حضور پورے نښتے وی، او دا داسے محبت دے چه د الله د صفاتو په مطالعه کولو سره ظاهریږی، دارنګه د الله په آیتونو کښے په نظر کولو اوپه مقاماتو حاصلولو سره راښکاره کیږی۔ او الله لره په غیر باندے د ترجیح ورکولو معنیٰ داده چه دا محبت چونکه کامل او قوی وی نو ځکه دا محبت کونکے غواړی چه د الله نه سیوا د الله دپاره بل څوک پریدی، او الله د غیرُ الله دپاره نه پریدی، بلکه هغه لره په غیر باندے ترجیح ورکوی، او غیر لره په هغه ترجیح نه ورکوی او د هغه ذکر ډیر کوی، ځکه دا عادت دے چه څوك د یو شیٔ سره ډیره مینه لری نو د هغه ذکر ډیر کوی، او د خپل زړه تعلق د هغه د حضور سره ساتی، ځکه چه هغه دده په زړه باندے ډیره زیاته غلبه کړی وی تردے چه ګویا دے غیر لره د سره وینی هم نه۔

اودا محبت د الله رب العزت د صفاتو نه پیدا کیږی۔

نو دا کارونه د الله عز وجل محبت زیاتوی، دغه شان په کائناتو کښے چه کوم نعمتونه د الله رب العزت دی او څه پیدا کیږی د هغے کتلو سره هم دا زیاتیږی، ولے چه دا د هغه د صفتونو او علم وحکمت په کمال باندے دلالت کوی، چه دے سره د مؤمن ایمان اود محبت کونکی محبت زیاتیږی۔

دغه شان د مقاماتو په حاصلولو کښے ریاضت کول، ځکه د چا د احسان او ایمان وغیره په مقاماتو کښے ریاضت وی، نو دده محبت به قویٰ وی، ځکه الله تعالیٰ ده سره پوره محبت کوی، او کله چه د یو بنده سره محبت اوکړی نو بیا د بنده په زړه کښے د هغه سره محبت پیدا کړی۔

دریمه درجه : داسے محبت دے چه عبارت د هغے د بیان نه عاجز دے، اودا د الله د طرفنه داسے وهبی محبت دے کوم چه د الله د خواصو بندګانو په زړونو کښے وی۔ والله اعلم۔

لسمه فائده : محبت باره کښ د سلفو اقوال :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ ﴾ [المائدة: ٥٤]

(دوئ د الله سره محبت کوی او الله د دوئ سره محبت کوی)۔

او الله فرمائی : ﴿ قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ ﴾.. الآية [التوبة: ٢٤]

(ورته اووایه : که چرے ستاسو پلاران او ځامن او بيبيانے او)

﴿ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا ﴾ [التوبة: ٢٤]

(دا ټول تاسو ته د الله او د هغه د رسول او د هغه په لار کښے د جهاد کولو نه زیات محبوب وی نو انتظار اوکړئ تردے چه الله خپله فیصله اوفرمائی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ﴾ [البقرة: ١٦٥]

(او هغه خلق چه ایمان والا دی دوئ د الله سره سخته مینه کونکی دی)۔

په حدیث کښے دی « درے څیزونه چه په چا کښے وی نو ددے په وجه به د ایمان خوند بیامومی : یو دا چه الله او د هغه رسول (ﷺ) ورته د هرچانه زیات محبوب وی . . . الحدیث»۔

په یو بل حدیث کښے دی « د الله سره محبت لرئ ځکه چه هغه تاسو ته خپل نعمتونه درکوی، او ماسره د الله د محبت د وجے نه محبت اوساتئ »۔

(دے حدیث ته امام ترمذیؒ حسن وئیلے دے، خو بعضو ورته ضعیف وئیلے دے)۔

او نبی کریم ﷺ مصعب بن عمیرؓ ته اوکتل نو وے فرمائیل : « اوګورئ دے سړی ته چه الله دده زړه روښانه کړیدے، دا ما د خپل مور پلار ترمینځه لیدلے دے چه هغه دواړو به ده ته خوراك څښاك ورکولو، خو نن د الله او د هغه د رسول محبت هغه شئ ته را بللے دے کوم چه تاسو ګورئ »۔

په یو حدیث کښے دی « سړے به د هغه چاسره - په قیامت کښے - ملګرے وی د چاسره چه محبت لری »۔

دا خبره ئے د بانډه چی ددے خبرے نه پس اوکړه چه : « زه د الله او رسول سره مینه لرم»۔

ابو بکر صدیق ﷛ فرمائی : « څوك چه د الله د خالص محبت نه څه حصه اوڅکی نو دا به ئے د دُنیا د تالاش کولو نه مشغوله کړی او د ټولو انسانانو نه به اوتروی »۔

حسنؒ فرمائی : « چا چه خپل رب اوپیژندلو محبت به ورسره لری، او چا چه دُنیا اوپیژندله نو په دے کښے به زُهد اختیار کړی، او مؤمن لهو (بیکاره) کارونه نه کوی چه

غافل شي، او کله چه فکر کوی نو غمژن کیږی»۔
ابو سلیمانؒ وائی : د الله په مخلوق کښې څه داسې خلق هم شته چه جنت او د هغې نعمتونه ئې هم د الله نه نه مشغولوی، نو په دُنیا به دوئ د هغه نه څنګه مشغوله شي۔
هرم بن حیانؒ فرمائی : مؤمن چه کله الله اوپیژنی نو محبت ورسره شروع کړی، او کله چه ورسره محبت اوکړی نو ورته متوجه شي، او کله چه د متوجه کیدو په خوند پوهه شي نو بیا دُنیا ته د خواهش په نظر نه ګوری، او آخرت ته د انقطاع په نظر نه ګوری، او دا ئې په دُنیا کښې آفسوس والا جوړوی او په آخرت کښې ئې راحت والا جوړوی۔
یحیی بن معاذؒ فرمائی : د اوری د دانې هومره محبت ماته د اویا (۷۰) کالو هغه عبادت نه غوره دې چه بغیر د محبت نه وی۔
نقل شوی دی چه داؤد علیه السلام ته وحی اوشوه : اې داؤده ! ما په زړونو باندې دا حرام کړی دی چه هغې ته زما او زما دَ غیر د بل چا محبت ورداخل شي۔
سحنونؒ فرمائی : محبانو د دُنیا او آخرت شرافت حاصل کړو۔ نبی ﷺ فرمائیلی دی: «سړې به د هغه چاسره وی چاسره چه محبت لرئ » نو دوئ به په دُنیا او آخرت کښې د الله سره وی۔
ذو النونؒ فرمائی : د هر شئ دپاره عقوبت وی او د عارف عقوبت دادې چه د الله د ذکر نه منقطع (بند) شي۔
ابو سلیمانؒ فرمائی : عارف ته په بستره باندې هغه څه پرانستې کیږی،کوم چه ورته د مانځه په حالت نه پرانستې کیږی۔
یحیی بن معاذؒ فرمائی : عارف د دُنیا نه اوځی او ده د دوه څیزونو نه خپل حاجت نه وی پوره کړې : په خپل ځان ژړا، او خپل رب طرفته شوق۔
بعضې وائی : عارف هغه وخته پورې عارف کیدې نشي تردې چه که ته ده د سلیمان علیه السلام بادشاهی هم ورکړې شي نو د الله نه ئې د سترګې د رَپ هومره هم غافل نکړی۔
بعضې وائی : عارف د الله سره مانوس شو نو د غیر الله نه نفرت کوی، الله ته محتاج وی نو هغه د خپل مخلوق نه بې پرواه کړې وی، الله ته ذلیله شوې وی نو هغه دې په خپل مخلوق کښې عزتمند کړې وی۔
ابن القیم رحمه الله فرمائی : هرچه الله ته رغبت دې او د هغه د مخ اراده کول دی او د هغه ملاقات طرفته شوق کول دی : نو دا د بنده سرمایه او دده د ټولو معاملو پړې دې، او دده د

پاکیزه ژوند قِوام او دده د سعادت، فلاح او نعمتونو جرړه او د سترګو یخوالے دے، او په همدے سره ده ته حکم شویدے، او په همدے سره رسولان رالیږلے شوی او کتابونه نازل شوی دی، او د زړه دپاره هیڅ قسم صلاح او روغوالے نه راځی مګر په دے سره چه دده رغبت صرف الله عز وجل طرفته وی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴾ [الشرح: ۷،۸]

(کله چه ته فارغ شے نو ځان سترے کړه او خپل رب طرفته رغبت لرله)۔

رغبت لرونکی درے قسمه خلق دی:

(۱) په الله کښے رغبت لرونکے، (۲) د الله په نعمتونو کښے رغبت لرونکے، (۳) او د الله نه رغبت (اعراض) کونکے۔

نو محبت کونکے په هغه کښے رغبت لرونکے دے، او عمل کونکے د الله په نعمتونو کښے رغبت لرونکے دے، او ځوك چه د آخرت په مقابله کښے په دُنیا باندے خوشحاله وی، هغه د الله نه رغبت (اعراض) کونکے دے۔ او دچا رغبت چه په الله کښے جوړ شی نو الله به ئے د هر غم نه اوساتی، او د ټولو کارونو واکدار به ئے جوړ شی، او د ټولو آفتونو نه به ئے داسے اوساتی، څنګه چه ماشوم ساتلے شی، او دده نه به هغه شرونه دفع کړی چه دائے د خپل ځان نه د دفع کولو طاقت نه لری۔

او چا چه الله لره په غیرُالله باندے غوره کړو نو الله به ده لره په بل چا باندےِ غوره والے ورکړی۔ او ځوك چه د الله شی نو الله به دده شی، او چا چه الله اوپیژندلو نو د هغه نه سیوا به بل هیڅ شے ده ته محبوب نه وی، او د هغه نه سیوا به دده په بل هیڅ شئ کښے رغبت پاتے نشی، مګر په هغه شئ کښے چه هغه ئے الله ته نزدے کوی او په دے سفر کښے ورسره مدد کوی۔

د محبت د علامونه یو علامه: هیبت دے، نو څومره چه معرفت زیاتیږی نو هیبت او د هغه نه خشیت زیاتیږی۔ الله تعالی فرمائی: ﴿ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ﴾ [فاطر: ۲۸]

(بیشکه چه د الله نه د هغه په بندګانو کښے صرف علماء ویریږی)۔

یعنی هغه خلق چه الله پیژنی۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی: ﴿ أَنَا أَعْرَفُكُمْ بِاللّٰهِ وَأَشَدُّكُمْ لَهُ خَشْيَةً ﴾

(زه په تاسو ټولو کښے د هرچانه الله زیات پیژنم، او په تاسو کښے زه د هغه نه زیات ویریدونکے یم)۔

او چاچه الله اوپيژندلو نو دده ژوند صفا او زندګی ئے پاکيزه شوه او ده نه به هر شے ويريږی، او دده نه به د مخلوق خوف ختم شي او دے به په الله سره انس حاصل کړی او د خلقو نه به وحشي شي، او دا معرفت به په ده کښې د الله نه حياء پيدا کړی، او د هغه تعظيم او اجلال، مراقبه او محبت، توکل او انابت، د هغه نه راضي کيدل او د هغه حکم ته تسليميدل پيدا کړی۔

(الاحياء للغزالی، محبة الله عز وجل لابن القيم)

يولسمه فائده : د محبت متعلقات :

يعنی شوق، غيرت او رضا، چه دا ټول د محبت سره متعلق څيزونه دی۔

په يو صحيح حديث کښې راغلي دی چه نبی کريم ﷺ به داسے دعاء فرمائيله :

وَأَسْئَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ اِلٰى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ اِلٰى لِقَائِكَ۔

(او زه تانه ستا مخ ته د کتلو خوند او ستا ملاقات طرفته شوق غواړم)۔

په يو اثر کښې راغلي دی « زما ملاقات ته د کاملو نيکانو شوق اوګد شو او زه د دوئ ملاقات ته د دوئ نه هم زيات شوق کونکے يم »۔

دا خبره په تورات کښې راغلے ده، لکه (الاحياء : ۹۱/۵) کښې دی۔

او په تورات کښې دا هم دی « چاچه زه تالاش کړم مابه بيامومی، او چاچه مانه علاوه بل څوك تالاش کړو نو مابه بيانه مومی »۔

د داؤد عليه السلام په اخبارو کښې دی « زما د زمکے والو ته دا خبره اورسوه چه زه د هغه چا محبوب يم څوك چه ماسره محبت لری، او زه د هغه چا هم مجلس يم څوك چه ماسره مجلس کوی، او زه د هغه چا سره انس کونکے يم، څوك چه زما په ذکر سره انس کوی، د هغه چا ملګرے يم څوك چه ماسره ملګرتيا کوی، هغه څوك غوره کونکے يم څوك چه ما غوره کوی، د هغه چا خبره منونکے يم څوك چه زما اطاعت کوی۔ هيڅ بنده ماسره محبت نه دے کړے چه ماته د هغه د زړه نه دا يقيني طور سره معلوم شي، مګر هغه ما د خپل ځان دپاره قبول کړے دے، او هغه سره مے داسے محبت کړيدے چه هيڅوك زما په مخلوق کښې د هغه نه نشي مخکښې کيدے۔ چاچه په حق سره زه تالاش کړم نو مابه بيامومی، او چاچه زما غير تالاش کړو، مابه اونه مومی۔ نو اے زمکے والو ! تاسو چه ددے په کوم غرور باندے ولاړ يئ، هغه وارتوئ، او زما کرامت، ملګرتيا او مجالست طرفته راشئ، او په ماسره انس حاصل کړئ زه به تاسو سره انس اوکړم او ستاسو محبت طرفته

به تادی اوکړم الخ۔

او د داؤد ﷺ په اخبارو کښې دا هم دی « زما هغه بندګانو ته اووایه کوم چه زما محبت طرفته متوجه دی : تاسو ته څه تکلیف دے چه ما د خپل مخلوق نه پرده کړیده او د خپل ځان او ستاسو ترمینځه مے پرده اوچته کړیده دے دپاره چه تاسو ماته د خپلو زړونو په سترګه اوګورئ ؟ او تاسو ته څه تکلیف دے چه ما تاسو نه دُنیا راغونډه کړے خو خپل دین مے تاسو ته فراخه کړیدے ؟ او تاسو ته د خلقو د خفګان څه تکلیف دے هرکله چه تاسو زما رضا تالاش کړئ ؟ »۔

او په دے کښې دا هم دی « الله داؤد ته وحی اوفرمائیله : ستا دا خیال دے چه ته ګنې زما سره محبت لرے، نو که چرے ته ماسره محبت کوے نو د دُنیا محبت د خپل زړه نه اوباسه، ځکه زما او ددے محبت دواړه سره نه جمع کیږی۔

او الله ده ته دا وحی فرمائیلے وه : « اے داود ! که چرے تدبیر کونکو ته زما د طرفنه علم وے چه زما څنګه انتظار دے دوئ دپاره او زما څنګه نرمی ده دوئ سره او څنګه شوق مے دے پریخودلو د ګناهونو د دوئ ته، نو دوئ به خامخا ماته د شوق د وجے نه مړه شوی وے او زما د محبت د وجے نه به ئے جوړونه ټکړے ټکړے شوی وے، اے داؤد ! بنده په هغه وخت کښې ماته ډیر زیات محتاج وی کله چه مانه بے پرواهی اوکړی، او زه ډیر رحم کونکے په هغه وخت کښې یم کله چه بنده ماته شا کړی، او زما په نیز ډیر عزتمند هغه وخت وی کله چه دا ماته رجوع اوکړی »۔ (الاحیاء: ۵ ۹۳)

ددے آثارو بیانولو اجازت ددے حدیث نه اخستے شوے دے چه « د بنی اسرئیلونه واقعات بیانوئ په دے کښے څه حرج نشته »۔

بیا شوق دوه قسمه دے :

یو شوق دے جنت طرفته او هغه څه چه په دے کښې دی لکه همیشه نعمتونه، د الله رضامندی، کرم، انعام فضل او احسان۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَفِىْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴾ [المطففين: ۲۶]

(او په همدے - نعمتونو - کښې دے رغبت کونکی رغبت اوکړی)۔

او همدا ښکاره کامیابی او نجات دے د تاوان او دردناك عذاب نه۔

ددے شوق باره کښې ډیر بے شماره آیتونه او احادیث دی۔

دویم : د الله عز وجل لیدلو طرفته شوق، د هغه ملاقات طرفته شوق، بلا واسطه د هغه

په مناجات سره خوند اخستل، او د هغه هغه عزتمند مخ ته کتل چه په ټولو نعمتونو کښې اعلیٰ ترين نعمت اود زړونو دَ تروتازګئ سبب دے، چه ددے نه غټ بل هيڅ يو خوند مطلقا نشته، او څوك چه د الله ملاقات خوښوی الله د هغه ملاقات خوښوی۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْ لِقَاءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖ أَحَدًا﴾ [الكهف: ۱۱۰]

(نو څوك چه د خپل رب سره د ملاقات اميد لری هغه دے نيك عمل اوكړی او د خپل رب په عبادت كښې دے بل هيڅوك شريك نه جوړوی)۔

او الله فرمائی : ﴿ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللهِ حَتّٰى إِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يَا حَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ﴾ [الانعام: ۳۱]

(واقعی چه هغه خلق تاوانی شو چا چه د الله ملاقات دروغ اوګنړلو تردے چه كله دوئ ته ناګهانه قيامت راشی نو وائی به : هائے افسوس په هغه څه چه مونږ په هغے كښې كوتاهی كړيده)۔

نو دے قِسم آيتونو كښې فكر اوكړه ته به په كښې د شوق قدر او مرتبه اوپيژنے ! او په شوق كښې دريم قِسم نشته۔

او كوم قِسم چه صاحب المنازل ذكر كړيدے نو په خارج كښې د هغے هيڅ وجود نشته۔

څكه مؤمن سړے يا جنت طرفته شوق كوی، يا د الله تعالیٰ ليدلو طرفته شوق كوی، او د هغه رضامندئ طرفته او د هغه مخ ته كتلو طرفته۔ اللهم اجعلنا منهم يارب !

★ او هرچه **غيرت** دے نو دا هم د الله په صفاتو كښې يو صفت دے او د بندګانو هم صفت دے، نو الله تعالیٰ هله غيرت كوی كله چه بنده هغه څه ته راتګ اوكړی كوم چه الله حرام په ده باندے حرام كړے وی، دارنګه هغه وخت هم غيرت كوی كله چه د هغه په خبرو باندے هغه څوك پوهولے شی كوم چه ددے اهل نه وی، يا دده ذكر د هغه په زړه باندے راشی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ﴾ [اسراء: ۴۵]

(اوكله چه ته قرآن لولے نو مونږ ستا او د هغه خلقو ترمينځه پرده اچوو كوم چه ايمان نه لری)۔ يعنی : ددے خبرے د غيرت د وجے نه چه د الله په خبره دے هغه څوك پوهه شی كوم چه ددے اهل نه وی۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا ﴾ [الكهف: ۲۸]

(او د هغه چا اطاعت مه کوه د چا زړه چه مونږ د خپل ذکرنه غافل ساتلے دے)۔
نو په دے کښے اشاره ده دیته چه الله عز وجل په خپل ذکر باندے غیرت کوی چه دا دے په هغه زړه باندے تیر شی کوم چه ددے لائق نه وی، دارنګه په دے باندے هم غیرت کوی چه د هغهٔ مؤمن بنده دے د هغه نه علاوه د بل چا غلام شی۔
★ هرچه د مؤمن **غیرت** دے : نو دا د مؤمن سړی سخت حرص دے په خپل محبوب باندے ددے نه چه دا دے بل څوك حاصل كړی یا ددے په حاصلولو کښے دے ورسره شريك شی۔ دارنګه مؤمن په خپل زړه باندے غیرت کوی او د هغے د پراګنده کیدو نه د هغے په جمع کیدو باندے غیرت کوی، او د هغے د اعراض نهٔد هغے په توجه باندے او د هغه د بدو صفاتو نه د هغه په ښه صفاتو باندے غیرت کوی۔
خو دا غیرت دَ پاکیزه او شریف نفس خاصیت دے، سپك او رذیل نفس کښے دا نه وی۔ او څومره چه د انسان نفس شریف کیږی د هغے په اندازه په ده کښے دا غیرت پیدا کیږی۔
دارنګه : مؤمن په دے خبره هم غیرت کوی چه خپل اقوال، اعمال، احوال، اوقات، انفاس یا ددے نه څه حصه دے د الله سبحانه وتعالیٰ نه سیوا بل چا دپاره اوګرځوی۔ دارنګه په دے هم غیرت کوی چه څوك دے د الله په حرام کړو څیزونو کښے یو شے مات کړی، چه په دے دا غصه کیږی او کله وهلو ټکولو ته هم خبره رسیږی، دغه شان چا چه د الله په حقوقو کښے د سپکاوی نه کار اخلی نو مؤمن سړے په دے باندے غصه کیږی۔
او دا غیرت په نبی اکرم ﷺ کښے په اعلیٰ درجه کښے وو۔
او دا په دے خبره دلالت کوی چه بنده د خپل رب سره محبت لری او د هغه معرفت لری۔
د محبت د متعلقاتو نه یو : انس بالله هم دے، چه ددے بیان په راتلونکے فائده کښے راځی۔
دغه شان رضا هم ده چه ددے تفصیل هم راځی۔



۲۰ - فائده

آیا ته د الله رب العزت سره اُنس کول پیژنې؟

اوتا ددې خوند پیژندلې دې؟ او ددې اسباب پیژنې؟

نو زه وایم: دا داسې شې دې چه په دې دور کښې ډیر کم دې، د الله د خلص بندګانو نه سیوا ئې بل څوك نه پیژني.

د الله اُنس په دوه څیزونو حاصلیږي:

۱ - په غمژن آواز سره د قرآن تلاوت ته غوږ کیخودل:

۲ - په طاعت سره حاصلیږي، ځکه هر مطیع اُنس والا او ګنهګار وحشت والا دې. وئیلې شوي دي چه: کله تا ګناهونه وحشي کړي نو پریده ئې کله ئې چه غواړې او اُنس حاصل کړه.

۳ - الله ته نزدیکت حاصلول اُنس، محبت او هیبت پیدا کوي. مونږ د قرب او نزدیکت اسباب روسته ذکر کوو، ان شاء الله.

٤ - دارنګه اُنس په ذکر: تسبیح، تهلیل وغیره سره هم حاصلیږي، چه دا ډیر عجیب سبب دې، دغه شان دا اُنس په سَماعِ قرآني سره حاصلیږي، نه په هغه سَماعِ شیطاني سره کومه چه صوفیه ؤ په خپلو کتابونو کښې ذکر کړیده.

۵ - دارنګه د خلقو د خبرو آوریدلو سره په اشاراتو سره یا په لیدلو د یو داسې شئ سره حاصلیږي چه د هغې لیدل تا الره الله طرفته متوجه کړي، اوکله اشاره د یو معقول شئ نه وي اوکله په نورو حواسو سره وي.

٦ - دارنګه د الله د اسماء حسنیٰ د معانیو پیژندلو سره هم حاصلیږي لکه د: اَلْجَمِیْلُ، اَلْوَدُوْدُ، اَلْبَرُّ، اَللَّطِیْفُ، اَلْحَلِیْمُ، اَلرَّحِیْمُ، وغیره نومونو سره اوپه دې کښې په سیر کښې کولو سره.

۷ - دارنګه د سلفِ صالحینو" اُنس ته اوګوره چه دوئ دردونه اوتکلیفونه هم محسوس نه کړل ــــ لکه امام بخاري" تعلیقا او امام ابوداودؒ مسندا نقل کړي دي چه: یو صحابي لره یو مشرك په درې غشو سره اوویشتلو، هغه زخمي شو او وینه ترې روانه شوه، او هغه

په مانځه ولاړ وو، نو مونځ ئې پوره کړو، او د پوره کولو نه پس ئې خپل ملګری ته اووئيل : که چرې د چوکيدارئ ويره نه وې نو مابه خپل مونځ نه وې قطع کړې، زه په سورتِ کهف کښې مشغول وو، دې سورت د الله سره زما داسې اُنس جوړ کړو چه زه په غشو باندې هم پو هه نشوم۔

ابـو الحجاج المزیؒ د (تحفة الأشراف) پـه مـقـدمه کښې د عروه رحمه الله په سيرت کښې ذکر کـړی دی چـه يـو ځـل دده خپـه زخـمي شوه نو طبيبان ددې پريکولو ته محتاج شو، خودا طاقت ئې نه وو چه خپه پريکړی خو مانځه ته اودريده، خپه ئې ترې غوڅه کړه او هغه پرې پو هه نشو۔

دا داسې خبره ده چـه زمـونـږ غوندې خلق ددې په تصديق کولو کښې هم تردد کوی ځکه چه دوئ ددې نـه هيـڅ شې نـه دې څـکلې، او خلق چه په څه نه پو هيږی نو د هغې دشمنان وی۔ نو اې د الله بنده ! فکر اوکړه چه ستا اُنس او مـحبت د خپلو ملګرو يا ښځې او بال بچ يا پېئ مـخـو سره ډيـر دې اوکـه د رحمٰن او رحيم ذات سره، چه د هغه اُنس او مـحبت زړونه خـوشـحـالـوی، انسـان تـه يـواځې والې مـحبوب جوړوی او خلقو سره خلط او ګډون ورتـه مبغوض جوړوی ؟ دخپـل تاوان باره کښې سوچ اوکړه۔

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴾ [المنافقون: ۹]

(اې ايـمـان والو ! تاسو لره دې ستاسو مالونه او اولاد د الله د ذکر نه غافله نه کړی، او چاچه دا کار اوکړو نو همدا خلق تاوانيان دی)۔

دې آيت کښې فکر اوکړه او ځان د مرجئه ډلې نه مه جوړوه۔

بـعـضې علماء فرمائی : بنده کله په اُنس اومـحبت کښې دومره درجې ته اورسی چه که په توره هم اووهلې شی نو نه پو هيږی پرې۔ (آکام المرجان : ص : ۲٤۸)

اُنس د طاعـت او مـحبت ثـمره او نتيجه ده، ځکه هر مطيع مستانس دې، او هر عاصی مستـوحـش دې، لـکـه وئيلی شوی دی چه : که تالره ګناهونو په وحشت کښې واچولو نو کله چه دې خوښه شی دا پريده او اُنس حاصل کړه۔

اُنس د ټولو قربتونو او ثوابونو روح دې۔ اُنس پـه هـغـه ذکر سره زياتيږی کوم دپاره چه خوند او مزه وی، دارنګه د الله عز وجل د آيتونو په آوريدلو سره زياتيږی۔

۲۱ - قیمتي فائده

عاقل لره په کار دي چه د زړونو د علم او ددے په اصلاح کښې سخت کوشش اوکړي، ځکه اصل شے زړه دے، کله چه دا صحیح شي، ټول جسد صحیح کیږي، او کله چه دا خراب شي نو ټول جسد خرابیږي۔ (حدیث)۔

په دے زمانه کښے د زړونو علم ډیر زیات کم شوے دے او ددے اهتمام کونکي هم کم دي۔

نو عقلمند له پکار دي چه دا اوپیژني چه **زړونه** په درے قسمه دي :

۱ – د مؤمنانو زړونه

۲ – د کافرانو زړونه

۳ – د ګنهګارانو زړونه

اوس ته سوچ اوکړه چه ستا زړه په کوم یو کښے داخل دے ؟ په اول قِسم کښے که په دویم او دریم کښے ؟ ځکه د زړونو څه صفات دي چه په هغے سره پیژندلے شي، نو ته د مؤمنانو د زړونو دصفاتو کوشش اوکړه، او د کافرانو او نافرمانو د زړونو نه الله طرفته اوتخته۔

نو د مؤمن زړه کښے یو چراغ او رڼا وي چه پرقیږي۔

قرآن کریم کښے داخبره ډیره زیاته راغلے ده۔ او په دے باره کښے ئے کافي شافي بیان فرمائیلے دے۔

۱ – اول : سلامتیا : چه د مؤمن زړه د شهواتو او شبهاتو، حسد، کینه، شرك او تکِّۍ وغیره نه بچ پاتے وي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴾ [الشعراء: ۸۹]

(مګر هغه څوك چه الله ته په روغ زړه سره راغي)۔

﴿ اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴾ [الصافات: ۸٤]

(کله چه هغه خپل رب ته په داسے زړه سره راغے چه انابت کونکے وو)۔

۲ – دویم : الله ته انابت کول : یعني په تضرع او دعاء سره خپل زړهٔ مائل کول۔ دارنګه انابت د زړه نرمۍ ته هم وائي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ ﴾ [ق: ۳۳]

(څوك چه د رحمٰن ذات نه په غیبو ویریږي او په داسے زړه سره راشي چه انابت کونکے وي)۔ ﴿ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ﴾ [الروم: ۳۱]

(په داسې حال کښې چه انابت کونکي ئې هغه ته)۔ ﴿ وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ﴾ [الروم: ۳۳]

(او کله چه خلقو ته څه ضرر اورسي نو دوئ خپل رب په داسې حال کښې رابلي چه انابت کونکي وي هغه ته)۔

۳ - دريم : د مؤمن زړه به په ايمان سره مطمئن وي :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ ﴾ [البقرة: ٢٤]

(ليکن چه زما د زړه تسلي اوشي)۔

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ ﴾ [النحل: ١٠٦]

(مګر هغه څوك چه په هغه زبردستي اوشوه خو زړه ئې په ايمان سره جَمع دے)۔ او فرمائي : ﴿ وَتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُنَا ﴾ [مائده: ۱۱۳]

(اودے دپاره چه زمونږ زړونه مطمئن شي)۔

٤ - څلورم : دده زړه د ايمان په وجه هدايت يافته دے : ﴿ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴾ [التغابن: ١١]

(او څوك چه په الله ايمان اولري نو الله به دده زړه ته هدايت اوكړي او الله په هر څه عالم دے)۔

٥ - پنځم : الله دده په زړهٔ ربط (مضبوطيا) راولي۔ الله فرمائي : ﴿ اِنْ كَادَتْ لَتُبْدِيْ بِهٖ لَوْلَآ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا ﴾ [القصص: ١٠]

(نزدے وه - مور د موسىٰ - چه دا خبره ئې رابنکاره کړے وے که چرے مونږ ددے زړه مضبوط کړے نه وے)۔

او الله فرمائي : ﴿ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ ﴾ [الانفال: ١١]

(او دے دپاره چه ستاسو زړونه مضبوط کړي)۔

٦ - شپږم : د الله عز وجل په ذکر سره اطمينان حاصلول :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴾ [الرعد: ٢٨]

(خبردار ! د الله په ذکر سره زړونو ته اطمينان ملاويږي)۔

نو دچا زړه چه د الله په ذکر سره اطمينان نه حاصلوي نو دده زړه د منافق زړه دے، ولے چه دوئ د الله ذکر لږ شان کوي۔

او فرمائي : ﴿ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ﴾ [التوبة: ٦٧]

(دوئ الله هير کړو نو الله دوئ هير کړل)۔
۷ – اووم : د مؤمن زړۀ د الله عز وجل نه ويريږي، او د دے علامه داده چه دے به د الله د شعائرو تعظيم او احترام کوي۔ الله فرمائي :﴿وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴾
[الحج: ۳۲]
(او څوك چه د الله د دين د علاماتو قدر او احترام کوي نو واقعي چه دا د زړونو د اخلاص نه – پيدا شوے شے – دے)۔
۸ – آتم : د مؤمن په زړه باندے سکينه نازليږي چه دے سره دده ايمان زياتيږي۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ هُوَالَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ﴾ [الفتح: ٤]
(الله هغه ذات دے چه د مؤمنانو په زړونو باندے ئے سکينه – آرام – نازل کړو دے دپاره چه د دوئ ايمان د – اولني – ايمان سره نور هم زيات شي)۔
۹ – نهم : د مؤمن په زړه کښے رأفت او رحمت نازليږي ۔ الله فرمائي : ﴿ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ﴾ [الحديد: ۲۷]
(او مونږ د هغه کسانو په زړونو کښے چه دده تابع وو رأفت او رحمت واچولو)۔
۱۰ – نهم : د مؤمنانو زړونو خپلو کښے جوړښت والا وي۔ الله فرمائي : ﴿ وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ﴾ [الانفال: ٦٣]
(نو الله ستاسو د زړونو ترمينځه جوړښت پيدا کړو)۔
او په حديث کښے دي : « مؤمن د محبت ځائے دے »۔
بل حديث کښے دي : « آيا زه ددے مالك يم چه ستا د زړه نه الله رحمت لرے کړيدے – چه زه ئے درته بيرته واپس کړم »۔
۱۱ – يولسم : الله تعالىٰ د مؤمنانو زړونه په مختلفو آزمائشونو باندے خالص کوي او پاکوي ئے۔ الله فرمائي : ﴿ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ [ال عمران: ١٥٤]
(او دے دپاره چه خالص کړي هغه څه چه ستاسو په زړونو کښے دي)۔
۱۲ – دولسم : د مؤمن زړۀ د شهواتو نه پاك وي۔ الله فرمائي :
﴿ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ﴾ [الاحزاب: ٥٣]
(دا ستاسو او د دوئ د زړونو دپاره ډير پاکونکے دے)۔
او فرمائي : ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ﴾ [المائده: ٤١]
(دا هغه خلق دي چه الله دا نه ده غوښتلے چه د دوئ زړونه پاك کړي)۔

۱۳ – د مؤمن زړهٔ د ایمان سره سخت محبت ساتي، ایمان دده په زړه کښې مزیّن وي او د دینه د سترګې د رَپ په اندازه هم صبر نشي کولې، د ایمان په مقابله کښې هر شے پریدی او قربانوی ئے۔ الله فرمائی : ﴿ وَلٰـكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ﴾ [الحجرات: ۷]

(لیکن الله تاسو ته ایمان محبوب جوړ کړے او ستاسو په زړونو کښې ئے ښولی کړیدے او تاسو ته ئے کفر، فسوق او نافرمانی بدے ښکاره کړیده)۔

۱٤ – او ایمان د دوئ په زړونو کښې داخل شویدے۔ الله فرمائی : ﴿ وَ لَـمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ [الحجرات: ۱٤]

(او تر اوسه پورے ستاسو زړونو ته لا ایمان نه دے داخل شوے)۔

۱۵ – او دده زړه د الله د ذکر په وجه په ((وجل)) کښې راځی، او وجل دیته وائی چه د چا د سلطان او غلبے، عقوبت او یا لیدلو په وجه د هغه زړهٔ اودرزیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴾ [الانفال: ۲]

(مؤمنان خو هغه خلق دی چه کله د الله ذکر کیږی نو زړونه ئے درزیږی او کله چه په دوئ باندے د الله آیتونه لوستے کیږی نو ایمان ئے زیاتوی او خاص په خپل رب باندے دوئ توکل کوی)۔

۱٦ – او الله په خپل رحمت سره د مؤمنانو زړونه د فتنو په موقعه او د عذابونو د نازلیدو په وخت مضبوطوی۔ الله فرمائی :

﴿ وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا ﴾ [الکهف: ۱٤]

(او مونږ د دوئ – اصحابِ کهف – په زړونو باندے مضبوطیا راوسته کله چه دوئ پاسیدل)۔

﴿ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ ﴾ [الانفال: ۱۱]

(اودے دپاره چه ستاسو زړونه مضبوط کړی)۔

او الله فرمائی : ﴿ لَوْلَآ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [القصص: ۱۰]

(نزدے وه مور د موسیٰ چه دا خبره ئے ښکاره کړے وے که چرے مونږ ددے زړه مضبوط کړے نه وے)۔

۱۷ – او دده زړه مُخبِت وی۔ او اخبات سخت انابت، سکینے او خشوع سره د زړهٔ نرمیدلو

ته وائي. او دا صفت به ته په ډيرو کمو خلقو کښې بيامومې خاصکر په دې زمانه کښې. او خپل ځان ته هم رجوع اوکړه چه تا کښې شته که نه؟ الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا إِلَى رَبِّهِمْ ﴾ [هود: ۲۳]

(بيشکه هغه خلق چه ايمان لري او نيك عملونه کوي او خپل رب ته ئې عاجزي کړيده).

او الله فرمائي : ﴿ فَيُؤْمِنُوا بِهِ فَتُخْبِتَ لَهُ قُلُوبُهُمْ ﴾ [الحج: ٥٤]

(چه دوئ به په دې ايمان اولري او زړونه به ئې ورته نرم شي).

او الله فرمائي : ﴿ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴾ [الحج: ٣٤]

(او زيرې ورکړه عاجزي کونکو ته).

(او همدا هغه خلق دي چه کله د الله ذکر کيږي نو زړونه ئې درزيږي). ﴿ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴾ [الحج: ٣٥]

لکه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائيلي دي.

۱۸ – او دده زړه يريږي او درزيږي ددينه چه چرته عملونه ئې قبول شوي نه وي سره ددې چه ډير ډير نيك عملونه هم کوي. الله فرمائي : ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ﴾ [مؤمنون: ٦٠]

(او – مؤمنان – هغه خلق دي چه څه ورکوي هغه په داسې حال کښې ورکوي چه زړونه ئې ددينه ويريدونکي وي چه دوئ به خپل رب ته واپس کيدونکي وي، دا خلق په نيکئ کښې د يوبل نه مخکښې کيدونکي دي او هم دوئ ديته مخکښې کيدونکي دي).

عائشه رضی الله عنها فرمائي : « يا رسول الله ! آيا دا هغه خلق دي چه غلا کوي، زنا کوي او شراب څښکي (او يريږي)؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : نه، اې د صديق لورې ! بلکه دا هغه خلق دي چه روژې نيسي، مونځونه کوي، صدقې ورکوي او ددينه ويريږي چه دابه د دوئ نه قبول نشي ». نو آيا ته په خپلو اعمالو باندې فخر کوې؟ اوکه سپك ئې ګڼړې؟ او د رب العالمين دپاره ئې معمولي ګڼړې؟

۱۹ – او دده زړه د الله ذکر ته نرميږي کله چه د هغه د کتاب تلاوت واوري. الله فرمائي :

﴿ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ﴾

[الزمر: ۲۳]

(بيا د دوئ څرمنې او زړونه د الله ذکر ته نرميږي، دا د الله هدايت دې چه په دې سره چاته چه اوغواړي هدايت کوي، او چالره چه الله ګمراه کړي نو هغه دپاره هيڅ لار ښود نشته).

نو دے آیت کښے ئے د زړۀ نرمیدو ته هدایت او سختیدو ته گمراهي اوؤئیله۔
۲۰ – او الله تعالیٰ دده په زړۀ باندے امتحان کوی او دا د کفر او فساد نه خلاصوی، او په دے وجه ئے صفا کوی چه دا د الله او د هغه د رسول ﷺ ادب کونکے وی۔ الله فرمائی :
﴿اُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰی﴾ [الحجرات: ۳]
(همدا هغه خلق دے چه الله د دوئ زړونه تقویٰ دپاره آزمائیلی دی)۔ یعنی : هغه خلق چه الله او رسول ﷺ سره د ادب معامله کوی نو الله د دوئ سره داسے کار کوی۔
۲۱ – او دده زړۀ خشوع کوی او د الله ذکر او د هغه کتاب ته انابت کوی، او ددے په وجه عاجزی کوی۔
الله فرمائی : ﴿ اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِکْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ﴾ [الحدید: ۱٦]
(آیا ایمان والو دپاره دا خبره نزدے نه ده راغلے چه د دوئ زړونه دے د الله د ذکر دپاره او کوم حق چه نازل شویدے د هغے دپاره نرم شی)۔
او دا د امیدونو په کوتاه کولو، د وعظ په خبرو آوریدلو او د رب په عظمت سره پیدا کیږی، لکه چه دیته په دغه آیتِ کریمه کښے اشاره ده۔
۲۲ – او د دوئ په زړونو کښے د الله د دشمنانو دپاره سخته دشمنی وی، دے وجے نه الله د دوئ په زړونو کښے ایمان مضبوط کړیدے۔ الله فرمائی :
﴿ اُولٰٓئِکَ کَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَاَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ﴾ [المجادلة: ۲۲]
(ددے خلقو په زړونو کښے الله ایمان لیکلے دے او دوئ ئے د خپل طرفه روح سره مضبوط کړیدی)۔
نو دا د مؤمنانو خلقو د زړونو هغه صفات دی کوم چه د الله په کتاب کښے ذکر دی۔
★ او هرچه په **احادیثو** کښے دی : نو په دے کښے خو ډیر زیات څیزونه دی خو د تبصرے دپاره یو څو ذکر کیږی۔
۱ – یو دا چه : دا شاکر وی، لکه حدیث کښے دی « بهتر مال، ذکر کونکے ژبه او شکر کونکے زړۀ دے »۔ رواه الترمذی
۲ – د حذیفه رضی الله عنه په حدیث کښے دی « زړونه څلور دی : یو هغه زړۀ دے چه په هغے کښے چراغ بَل وی »۔ ابن ابی شیبة
۳ – د زړۀ خبره یاد ساتل : حدیث کښے دی « سترګه په هغه شئ یخیدونکے ده کوم چه زړۀ یاد ساتی، او هغه څوك کامیاب شو چا چه خپل زړۀ یاد لرونکے جوړ کړو »۔

احمد : ۱٤۷/٥

٤ – د مؤمن زړهٔ د مسجد پورے نښتے وی. رسول الله ﷺ فرمائی : « اووه کسان دی چه الله به دوئ په خپل سُوری کښے اووسوی، یو هغه سړے دے چه زړهٔ ئے جومات پورے نښتے وی ». بخاری

٥ – او دده زړهٔ الله ته تسلیم وی : حدیث کښے دی « یو سړی اووئیل : یا رسول الله اسلام څه ته وائی ؟ وے فرمائیل : چه ستا زړهٔ الله عز وجل ته منقاد شی، او نور مسلمانان ستا د ژبے او لاس نه بچ وی ». احمد : ٤/١١٤

٦ – د فتنو نه انکار کول : څکه د مؤمن زړهٔ فتنے دیکه کوی او بد ئے گنړی الحمد لله.
حدیث کښے دی « په زړونو باندے فتنے پیش کولے شی، نو کوم زړهٔ چه دا بدے اوگنړی نو په هغے کښے سپین داغ اوشی، او کوم زړهٔ سره چه دا فتنے گډے شی نو په هغے کښے تور داغ اوشی ـــ الحدیث ». مسلم

٧ – او مؤمن به مخموم زړهٔ والا وی، یعنی هغه زړهٔ چه پرهیزگاره، پاکیزه وی، چه نه په کښے گناه وی، نه خیانت، نه تیګی او نه حسد وی ».
(مشکوة : ٢/٤٤٥)، ابن ماجه : ٢/ زهد)

٨ – په زړهٔ سره جهاد کول : لکه حدیث کښے دی « او چا چه په زړهٔ سره جهاد اوکړو نو دا هم مؤمن او منقاد دے ».

٩ – د هر مؤمن په زړهٔ کښے د الله واعظ (منع کونکے څیز) وی چه د گناهونو نه ئے منع کوی. نو د چا په زړهٔ کښے چه دا منع کونکے نه وی نو دا مؤمن نه دے.
(احمد : ٤/١٨٣، مشکاة : ١/٣١)

١٠ – د مؤمن زړهٔ به چاسره حسد نه کوی.
حدیث کښے دی « د هیڅ یو بنده په زړهٔ کښے ایمان او حسد دواړه نشی جمع کیدے ».
(نسائی جهاد : ٨).

١١ – خوف او رجاء د مؤمن په زړهٔ کښے وی، لکه حدیث کښے دی « دا دواړه د هیڅ یو بنده په زړهٔ کښے په دے وخت کښے (یعنی د مرگ په وخت) نه راجمع کیږی مگر الله به دده ته دده امید ورکړی او د څه نه چه خوف کوی هغے نه به ورله امن ورکړی ».(ابن ماجه، ترمذی)

١٢ – د مسلمان په زړهٔ کښے بخل او ایمان نه جمع کیږی.(احمد : ٢/٢٥٦)

١٣ – حدیث کښے دی « اے خویه ! که چرے ته کولے شے چه په داسے حال کښے صبا کړے

چه ستا په زړهٔ کښې هيڅا ته څه خِيرې نه وي نو دا کار اوکړه، او دا کار زما د سنت نه دے، اوڅوك چه زما سنت خوښ اوګنړي نو دده ما سره محبت دے، او دچا چه ماسره محبت وي نوما سره به په جنت کښې وي »۔ ترمذی۔

۱٤ – اخلاص : حديث کښې دی « چاچه د زړهٔ د اخلاصه د لا اله الا الله ګواهی اوکړه نو الله به دے په اور حرام کړی »۔ بخاری۔

۱۵ – رشتيا وئيل : حديث کښې دی « چاچه د الله نه په رشتينے زړهٔ سره شهادت اوغوښتلو نو الله به ئے د شهيدانو مرتبو ته اورسوی اګرکه په خپله بستره باندے مړ شی»۔ مسلم۔

۱٦ – په درے کارونو کښې کوتاهی نه کول : حديث کښې دی : « درے څيزونه دی چه د مسلمان سړی زړه په هغے کښې بخل نه کوی : الله تعالیٰ دپاره خالص عمل کول۔ مسلمانانو دپاره خير خواهی غوښتل۔ او د مسلمانانو جماعت لازم نيول »۔ الحديث۔

(رواه الشافعي، المشكاة : ۱/۳۵).

۱۷ – د نبی کريم ﷺ د اهلِ بيتو سره محبت کول :

حديث کښې دی : « قسَم په الله چه د هيڅ سړی زړهٔ ته ايمان نشی داخليدے تردے چه تاسو – اهلِ بيتو – سره د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ دپاره محبت اونه کړی »۔

(رواه احمد : ٤/١٦٥).

۱۸ – حديث کښې دی : « هغه څوك کامياب شو چاچه ايمان دپاره خپل زړهٔ خالص کړو اوخپل زړهٔ ئے روغ اوساتلو »۔ (رواه احمد : ٥/١٤٧).

۱۹ – رحمت : حديث کښې دی : « دا رحمت دے، او الله تعالیٰ په خپلو بندګانو کښې په هغه چا رحم کوی څوك چه په بل چا باندے رحم کوی »۔

(رواه البخاري وأحمد : ٣/٢٠٤).

۲۰ – قلبی ژوندون : اودا په علم او حکمت سره معلوميږی۔

موطأ امام مالكؒ (٧٣٦) کښې دی : لقمان حکيمؒ خپل ځوئے ته اوفرمائيل : ځويه ! علماؤ سره کينه اوتعلق ورسره ساته، ځکه الله عز وجل د حکمت په رنړا سره زړونه داسے ژوندی کوی څنګه چه اوچه زمکه په تيز باران سره ژوندئ کوی ۔

دا کومه خبره چه ده ذکر کړه ديته د ايمان دپاره استعداد وائی، يا داسے اووايه چه د ايمان دپاره اهليت د زمکے پشان دے چه غوايان هغه واړوی اوبيا په هغے کښې کرونده کيږی۔ يا

لکه شیشه چه اول صفا کړے شي نو بیا درته خپل مخ درښائی. یا لکه لوښے چه صفا کړے شي او بیا سیده اوبه ته کیخودے شي، ورنه بیا په کښے هیڅ هم نه جَمع کیږی.
که دے درے مثالونو کښے تا سوچ اوکړو نو ددے لاندے به ته عجیب اسرار بیامومے.
اودا **استعداد** دوه قسمه دے :
١ - د الله عز وجل د طرفه استعداد.
٢ - د بنده د طرفه استعداد.
نو ربط، سکینه، امتحان او تمحیص (خالص) کول د الله تعالیٰ د طرفه دی، او ددے نه علاوه په نورو څیزونو باندے ته مکلف ئے.
حدیث کښے دی : « بیشکه الله ستاسو شکلونو او مالونو ته نه گوری، بلکه ستاسو زړونو او عملونو ته گوری ».



۲۲ - فائده

فکر وکړه ! ته مؤمن ئې که منافق ؟

که چرې تهٔ مؤمن ئې نو د الله عز وجل حمد او ثناء اووايه او د هغه شکر اوکړه، دې دپاره چه په دې کښې نوره اضافه هم اوکړې. اوکه منافق ئې - لکه همدا غالبه ده - نو بيا علاج او توبې طرفته تادي اوکړه، ګنې بيا خپل ځان نجات موندونکې مه ګڼړه.

★ د خپل ايمان پيژندلو علامات :

ته به خپل ايمان څنګه پيژنې ؟ نو دا په يو څو خبرو سره :

۱ - اول : دا چه که چرې تهٔ د ګناه تريخوالې او د نيکئ خوند محسوسوې نو بيا تهٔ مؤمن ئې. او دې احساس کښې خلق د ايمان د قوت او ضعف په وجه مختلف دي. لکه دا خبره په حديث کښې راغلې ده.

ابو رزين العقيلي ﷺ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو : « ماته به څنګه پته لګی چه زه مؤمن يم؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : په دې امت کښې - يا ئې داسې اوفرمائيل : زما په امت کښې - هيڅ يو بنده نشته چه نيکي اوکړي، او دا ورته معلومه وی چه دا نيکي ده، او الله تعالیٰ په دې باندې ده ته د خير بدله ورکوی، او هيڅ ګناه نه کوی چه دا ورته پته وی چه دا ګناه ده، او بيا د الله عز وجل نه ددې نه استغفار اوغواړي او ده ته دا علم وی چه ددې ګناه بخښونکې صرف همدا الله دې، مګر دا سړې به مؤمن وی ». أحمد.

په يو بل حديث کښې دی : « کله چه تاله ستا نيکي خوشحاله کړي او تاله ستا ګناه خفه کړي نو پوهه شه چه تهٔ مؤمن ئې ». (احمد، مشکاة).

۲ - دويم : دا چه دې دا اوپيژنې چه الله تعالیٰ په پټه او ښکاره دواړو کښې ددهٔ رب دې. يعنې په خِلوت کښې په الله تعالیٰ باندې جرأت اونه کړي.

لکه حديث کښې دی : « صحابه کرامو عرض اوکړو : يا رسول الله ! مونږ چه کله تاسره يُو نو يو شان حال مو وی، خو کله چه تانه جدا شو نو بيا په يو بل حال کښې يُو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو د خپل رب سره څنګه يئ ؟ هغوئ عرض ئې اوکړو : الله تعالیٰ زمونږ رب دې په پټ او ښکاره دواړو کښې. رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دا منافقت نهٔ دې ».

(مسند بزار، تفسیر ابن کثیر : ٤/٣٩٧، حیاة الصحابة : ٣/٣٩).

٣ – دریم : دا چه په پټ او ښکاره دواړو حالتونو کښې ښائسته مونځ کوی :

حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی : « بنده چه کله د خلقو مخامخ مونځ کوی نو هم ښه مونځ کوی او کله چه ځانله مونځ کوی نو هم ښه مونځ کوی، نو الله تعالیٰ فرمائی : دا زما رشتینې بنده دے ».(ابن ماجه، مشکاة : ٢/٤٥٥۔ او دا صحیح حدیث دے).

٤ – څلورم : دا چه که د منافقت نه ویریدلو نو دا مؤمن دے، اوکه نه ویریدلو بیانهٔ دے.

امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې فرمائی : « باب دے په بیان ددے کښې چه مؤمن به ددے نه خوف کوی چه هسے نه دده عمل برباد شی او دهٔ ته پته هم نه وی. حسن بصریؒ فرمائی : د عمل د بربادیدلو نه خوف نه کوی مگر مؤمن سړے، او ددے نه نهٔ په امن کښې کیږی مگر منافق سړے ».

٥ – پنځم : که الله تعالیٰ ورته دا دوه څیزونه ورکړی وی نو خوشحاله دے شی :

١ – یو په دین کښې پوهه.

٢ – دویم : ښائسته وضع رفع.

لکه امام ترمذیؒ د ابو هریره ؓ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : « دوه خصلتونه دی چه په منافق کښې نه راجمع کیږی : ښائسته وضع رفع، او په دین کښې پوهه ».

دا حدیث حسن دے. او د ښائسته وضع رفع نه مراد سکینه او وقار دے. لکه عمر رضی الله عنه فرمائی : « علم زده کوئ او د علم دپاره سکینه او وقار هم زده کوئ، او د هغه چا دپاره تواضع کوئ چاته چه تاسو زده کړه کوئ او هغه چا دپاره هم چه تاسو ترے تعلیم حاصلوئ ». (الخطیب فی اخلاق الراوی : ١/٩٥).

٦ – شپږم : دا چه د ایمان په شعبو کښې سوچ اوکړه چه آیا هغه ټولے یا بعضے په تا کښې موجودے دی اوکه نه ؟

دغه شان د منافقانو صفات لکه دروغ، وعده خلافی، خیانت، د الله کم ذکر کول، ریاء، سستی وغیره په تا کښې موجود دی که نه ؟ ځکه په همدے څیزونو سره به تهٔ خپل ځان اوپیژنے چه دا مؤمن دے اوکه نهٔ ؟

٧ – خاصکر کله چه ستا زړهٔ د الله عز وجل د ذکر او یاد نه خالی وو، نو پوهه شه چه دا زړه د منافقت نه ډك دے. ځکه د منافقانو په خصوصی صفاتو کښې یو صفت، د الله نه

غفلت کول دي۔ لکه الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ اِسۡتَحۡوَذَ عَلَیۡهِمُ الشَّیۡطٰنُ فَاَنۡسٰهُمۡ ذِکۡرَ اللّٰهِ اُولٰٓئِکَ حِزۡبُ الشَّیۡطٰنِ اَلَاۤ اِنَّ حِزۡبَ الشَّیۡطٰنِ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴾

[المجادلة: ۱۹]

(شیطان په دوئ باندې غلبه حاصله کړیده نو د دوئ نه ئې د الله ذکر هیر کړیدې، همدا خلق د شیطان ډله ده، خبردار! د شیطان ډله هم دوئ تاوانیان دي)۔

د الله تعالیٰ شانِ کریمي ددې نه لرې دې چه کوم زړهٔ د الله ذکر کونکې وي او د الله د محبت نه ډك کوي چه هغه دې په منافقت یا کفر یا ریاء کارئ کښې اخته کړي۔ ځکه الله عز وجل په ده باندې غیرت کوي۔ نو د الله سبحانه وتعالیٰ ذکر د مؤمن او منافق ترمینځه معیار او کسوټې دې۔ چه په دې سره یو د بل نه جدا کیږي۔ والله المستعان۔

بیا د الله ذکر په زړهٔ، ژبې، لاسونو خپو، حال او عمل تولو سره کیږي، لکه چه ددې بیان به په خپل ځائې کښې راشي ان شاء الله۔

۸ – او کله چه په تا کښې د دروغو صفت وي نو پوهه شه چه په تا کښې د منافقت تخم راټوکیدلې دې او ددې ستې په تا کښې مضبوطې شوي دي، ځکه د منافقت بنیاد دروغ دي، نو څوك چه د دروغو نه ځان نه ساتي او پرهیز ترې نه کوي نو منافقت به په هغه کښې داخلیږي۔ او دا د منافقانو دپاره ښکاره علامه ده۔ والله المعین۔

۹ – دغه شان کله چه ستا زړهٔ د الله عز وجل نه واؤښتو نو دا د منافقت ابتداء ده۔ نو تاله پکار دي چه ددې نه خوف اوکړې۔ لکه ددې بیان عنقریب را روان دې۔



۲۳ - فائده

په دين کښې د امامت او مشرئ حاصلولو اسباب

په دين کښې امامت په بنده باندې د الله عز وجل د لويو انعاماتو نه يو انعام دے، او دا داسې انعام دے چه الله تعالىٰ انبياء کرامو – عليهم السلام – او بيا نيکانو بندګانو او ربّانيينو علماؤ ته ورکړے۔ او دا يو داسې نعمت دے چه د ايمان نه روستو ددے د مقابلې بل هيڅ يو نعمت نشته۔ او دا نعمت صرف د الله تعالىٰ محبوب ترينو بندګانو ته ورکولے شي۔ لکه حديث کښې دي : « او دين نه ورکوی مګر صرف هغه چاته څوك چه ورته محبوب وی »۔

او الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً ﴾ [سجده: ٢٤]

(اومونږ د دوئ نه امامان جوړ کړل)۔ او فرمائى : ﴿ قَالَ : اِنِّیْ جَاعِلُکَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ﴾ [البقرة: ١٢٤]

(الله اوفرمائيل : زه تا خلقو دپاره امام جوړؤم)

او دا نعمت نه حاصليږی مګر په مهمو اسبابو باندے۔

او هغه تقوىٰ ده۔ او خلقو سره تواضع ده، او د خلقو او دنيا ترمينځه بے رغبتی ده، او د خلقو او نفس ترمينځه مجاهده ده۔

او دا د راسخينو صفات دی، لکه په تفسير خازن کښې دی۔

۱ – دغه شان صبر او يقين دے، چه په دے دواړو سره په دين کښې امامت او مشری ملاويږی، لکه الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ﴾ [سجده: ٢٤]

(او مونږ د دوئ نه امامان جوړ کړی وو چه زمونږ په حکم سره به ئے خلقو ته لار ښودنه کوله هرکله چه دوئ صبر اوکړو او دوئ زمونږ په آيتونو باندے يقين لرلو)۔

۲ – دارنګ ايمان او عمل صالح۔ الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ ﴾ [نور: ٥٥]

(الله تعالىٰ په تاسو کښې د ايمان او نيك عمل والو سره وعده کړيده چه دوئ ته به خامخا

په زمکه کښې خلافت ورکوم)۔
د خلافت نه مراد: اسلامي حکومت او ټول ديني منصبونه دي لکه اِفتاء، تدريس، امامت وغيره۔ او د همدې اسبابو نه دعوت الى الله هم دے، ځکه داعي سړے په دين کښې امام او مشر وي۔
۳ – او د امامت د بقاء دپاره سبب، عبادت او الله سره شرك نه كول دي۔ لکه الله فرمائي:
﴿ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْئًا ﴾ [النور: ٥٥]
(دوئ خاص زما بندګي کوي ماسره هيڅوك نه شريکوي)۔
دغه شان په مذکوره اسبابو کښې ترقي کول دا هم د بقاء امامت سبب دے۔
٤ – او هرچه د ددے د **زوال اسباب دي**: نو هغه ګناه، غفلت، شکر نه کول، ظلمونه کول دي۔ الله فرمائي: ﴿قَالَ لَايَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِيْنَ ﴾ [البقرة: ١٢٤]
(الله اوفرمائيل: زما وعده – د خلافت – ظالمانو ته نه رسيږي)۔
نو ظلم سره حاصل شوے نعمت ختميږي، دغه شان ګناهونه هم نعمتونه ختموي، لکه چه دا خبره په «الجواب الكافي» کښې تفصيلي طور سره ذکر شويده هلته ئې اوګوره۔
او د همدے اسبابو نه يو دا هم دے چه انسان ته اوس کوم ديني امامت حاصل دے دا سپك اوګنړي او ددے په مقابله کښې دُنيا او اهلِ دنيا غټ اوګنړي۔ والله المستعان۔
(دا خلاصه ده د هغه مُحاضرے چه ما علماؤ ته په تربوي دوره کښې په جامعه اثريه کښې کړے وه۔ دے سره ما د تقوىٰ فوائد هم ذکر کړي دي۔ چه هغه اوس په را روانه فائده کښې ذکر کيږي۔



۲۴ - فائده

دا واضحه خبره ده چه انسان نه کامل کیږي مګر په ښو صفاتو سره، چه دا صرف په علم، مجاهده او د نیکانو خلقو په صحبت سره حاصلیدے شي۔ او دا صحبت په دوه قسمه دے: یو دا چه د نیکانو خلقو سره ملګرتیا کول۔ دویم: د هغوئ سیرت او حالات مطالعه کول۔ لکه سیر اعلام النبلاء، حلیة او صفوة الصفوة۔ چه دا انسان مطالعه کړي نو داسے ده لکه هغوئ سره ملګرے دے۔

۲۵ - د تقویٰ فوائد

څوك چه په خپلو ټولو کارونو کښے د الله عز وجل تقویٰ اختیار کړي نو داسے فوائد به ورته ورکړے شي چه دده په زړهٔ به هم تیر شوی نه وی اونه به ئے کله چرته لیدلی وی۔ او دا ډیر زیات دی، د هغے نه یو یو د دُنیا او مافیها سره برابر دی نو بیا د ټولو به څه حال وی۔ لهذا تاله پکار دی چه د خپل رب تقویٰ لازم اونیسے۔

او دا د الله تعالیٰ په ټولو کتابونو د الله وصیت دے خپلو ټولو بندګانو ته۔ او «تقویٰ» الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے د (۲٦۰) ځلو نه زیات ذکر کړیده۔

د تقویٰ فوائد دادی:

۱ - هدایت: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة: ۲]

(دا کتاب هدایت دے دپاره د متقینو)۔ نو د الله تعالیٰ په کتاب باندے هدایت نه مومی مګر متقیان خلق۔

او هدایت د الله تعالیٰ د نعمتونو نه یو عظیم نعمت دے په انسان باندے، او دا داسے نعمت دے چه دے سره بل هیڅ یو نعمت مقابله نشی کولے۔ او د هدایت معنیٰ ده: د الله عز وجل حکم اداء کول او د هغے پیژندل او په خپل مناسب وخت کښے اداء کول، او اهم فالأهم مخکښے کول او په احسان سره د هغے اداء کول۔ او دے هدایت ته هر انسان محتاج دے تردے چه انبیاء علیهم السلام هم۔

۲ - متقیانو سره الله تعالیٰ محبت لری: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾

[التوبة: ٤]

٣ – الله دوئ سره ملګرے وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّ اللهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴾ [النحل: ١٢٨]

﴿ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ [التوبة: ٣٦]

(پو هه شه چه الله د متقیانو ملګرے دے)۔

٤ – د اعمالو قبلیدل صرف په تقویٰ سره دی : ﴿ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴾ [المائدة: ٢٧]

((اول وویل) چه الله صرف د تقویٰ والو نذرانے قبلوی)

عامر رحمه الله د وفات کیدو په وخت اوژړل۔ چاته ورته اووئیل : ولے ژاړے ؟ وے فرمائیل : زه د الله تعالیٰ نه آورم چه فرمائی : ﴿ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴾ [المائدة : ٢٧]

(الله خو صرف د متقیانو عملونه قبلوی)۔

٥ – د هرے تنګسیا نه نجات : ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ﴾ [الطلاق: ٢]

(څوك چه د الله نه اوویریږی نو هغه دپاره به (د دنیا او آخرت د سختیو نه) لاره اوباسی)۔

رسول الله ﷺ فرمائی : « ماته یو داسے آیت معلوم دے که چرے خلقو هغه اونیولو نو هغه به ئے کافی شی، بیا ئے دغه آیت اولوستلو »۔

٦ – ټول کارونه به ورته آسان کړی۔ ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ﴾ [الطلاق: ٤]

(او کوم کس چه د الله نه یریږی الله تعالیٰ دَ هغهٔ معاملات آسانوی)

٧ – ګناهونه به ئے اوبخښی او اجر به ئے زیات کړی : ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ﴾ [طلاق: ٥]

٨ – تقوٰی د علمِ شرعی سبب دے : ﴿ وَاتَّقُوا اللهَ وَيُعَلِّمُكُمُ ﴾ [البقرة: ٢٨٢]

بعضے مفسرینو فرمائیلی دی : څوك چه د الله تقوٰی اختیار کړی، علم به ورته ورکړی۔

په یو اثر کښے راځی : « چاچه په هغه خبره عمل اوکړو کومه ئے چه زده وه، الله تعالیٰ به د هغه څه علم ورکړی کوم چه ده ته نه وی معلوم »۔

٩ – تقویٰ د عقل مندو خلقو کار دے : ﴿ فَاتَّقُوا اللهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ الَّذِينَ آمَنُوا قَدْ أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴾ [الطلاق: ١٠]

تقوٰی سره د انسان په عقل او فهم کښے زیادت راځی، دا وجه ده چه هغه څوك به تهٔ به په ټولو خلقو کښے زیات عقلمند وینے څوك چه د الله تعالیٰ نه ډیر زیات ویریدونکے وی۔ الله فرمائی : ﴿ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ [یونس: ١٠٠]

او هغه د کفر او شرك په پليتئ کښې هغه خلق ملوث کوی چه د عقل نه بے برخے وی

۱۰ – تقویٰ اصلی او حقیقی نیکی ده۔ ﴿ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ﴾ [البقرة: ۱۸۹]

۱۱ – وَالآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى.[النساء :۷۷]

۱۲ – تقویٰ د نیکیو د توفیق سبب دے : ﴿ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ﴾ [الليل: ۵،۷]

۱۳ – متقی به د قیامت په ورځ د ټولو خلقو دپاسه وی ﴿ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ [البقرة: ۲۱۲]

۱۴ – جنت ته به صرف متقیان خلق ځی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴾ [مريم: ۶۳]

او الله فرمائی : ﴿ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾ [ال عمران: ۱۵]

او فرمائی : ﴿ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ﴾ [محمد: ۱۵]

۱۵ – ایمان او تقوٰ ی د برکتونو د راپرانستو سبب دے۔

﴿ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ﴾ [الاعراف: ۹۶]

۱۶ – تقویٰ د شیطان د وسوسو د زر ختمیدو سبب دے :

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴾ [الاعراف: ۲۰۱]

۱۷ – د اور نه نجات د تقویٰ په وجه دے :

﴿ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴾ [مريم: ۷۲]

۱۸ – تقویٰ د بصیرت سبب دے چه په دے سره د حق او باطل تمیز کیږی۔

﴿وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَا اَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوْا خَيْرًا ﴾ [النحل: ۳۰]

۱۹ – تقویٰ د قیامت د سختیو او مصیبتونو نه د نجات سبب دے : ﴿ وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ [الزمر: ۶۱]

۲۰ – صبر او تقویٰ د کافرانو د مکر مخے ته ډهال دے :

﴿ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ﴾ [ال عمران: ۱۲۰]

۲۱ – صبر او تقویٰ د الله د غیبی نصرت سبب دے :

﴿ بَلٰٓى اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴾ [ال عمران: ۱۲۵]

٢٢ – صبر او تقویٰ د پاخهٔ کارونه دی : ﴿ وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَإِنَّ ذٰلِکَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ ﴾ [ال عمران: ١٨٦]

٢٣ – تقویٰ د « فرقان » سبب دے چه دا یو قلبی رڼړا ، فتح او فراست دے : ﴿ إِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ﴾ [الانفال: ٢٩]

٢٤ – تقویٰ د ټولو اعمالو غایه او غرض دے : ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [البقرة: ٢١]

او فرمائی : ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [البقرة: ١٨٣]

او فرمائی : ﴿ وَاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [البقرة: ٦٣]

او فرمائی : ﴿ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَّا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [البقرة: ١٧٠]

او فرمائی : ﴿ كَذٰلِکَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ آيَاتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴾ [البقرة: ١٨٧]

٢٥ – ټولوا انبیاء کرامو علیهم السلام تقویٰ طرفته دعوت ورکړیدے : ﴿ أَلَا تَتَّقُوْنَ ﴾۔

٢٦ – الله تعالیٰ د متقیانو خلقو اجر نه ضائع کوی۔

﴿ إِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [یوسف: ٩٠]

٢٧ – کامیابی صرف په تقویٰ سره ده :

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولٰٓئِکَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴾ [النور: ٥٢]

٢٨ – د الله رحمت متقیانو دپاره لیکلے شویدے :

﴿ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكَاةَ ﴾... الآية [الاعراف: ١٥٦]

او فرمائی : ﴿ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ [انعام: ١٥٥]

او فرمائی : ﴿ وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ أَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ [یس: ٤٥]

٢٩ – څوك چه تقویٰ نه اختیاروی د بدترین مخلوق نه دے :

﴿ الَّذِيْنَ عَاهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِیْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴾ [الانفال: ٥٦]

٣٠ – د الله د کائناتی او قرآنی نشاناتو او آیتونو نه صرف متقیان خلق فائده اخلی : ﴿ إِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ [ال عمران: ١٩٠]

او فرمائی : ﴿ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴾ [البقرة: ٢]

٣١ – د دنیوی عذاب نه نجات د تقویٰ په وجه دے : ﴿ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴾ [حم سجده: ١٨]

٣٢ – تقویٰ مراد ته د رسیدو سبب دے : ﴿ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ [آل عمران: ٣٠]

۳۳ – تقویٰ د الله عز وجل شکر کول دی: ﴿فَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ [آل عمران: ۱۲۳]

۳٤ – تقویٰ تولو امتونو ته د الله تعالیٰ وصیت دے: ﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللهَ وَإِنْ تَكْفُرُوْا﴾.. [النساء: ۱۳۱]

ـ دلته ئے د تقویٰ په مقابله کښے کفر ذکر کړیدے۔

۳۵ – د تقویٰ د اهتمام د وجے نه په تقویٰ باندے مدد واجب دے۔

﴿وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى﴾ [مائده: ۲]

۳٦ – تقویٰ د ایمان د شروطو نه یو شرط دے: ﴿وَاتَّقُوا اللهَ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ [مائده: ۵۷]

نو تقویٰ د کمی او زیاتی په اند ازه به د ایمان کمے او زیاتے وی۔

۳۷ – تقویٰ د قیامت په ورځ د زلزلو نه د نجات ذریعه ده:

﴿يٰأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ﴾ [الحج: ۱]

۳۸ – هر چاته د تقویٰ حکم د هغه د وس او طاقت مناسب دے:

﴿فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ [التغابن: ۱٦]

دینه دتقویٰ انتهائی تاکید معلومیږی۔

۳۹ – تقویٰ غوره توښه ده:

﴿وَتَزَوَّدُوْا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى وَاتَّقُوْنِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ﴾ [البقرة: ۱۹۷]

٤۰ – ډیر متقی سړے به د اور نه خامخا بچ کیږی:

﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهُ يَتَزَكّٰى﴾ [اللیل: ۱۷]

٤۱ – د الله په نزد کرامت او عزت صرف په تقویٰ سره دے: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقٰكُمْ﴾ [الحجرات: ۱۳]

٤۲ – تقویٰ د الله د شعائرو د تعظیم سبب دے:

﴿وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ [الحج: ۳۲]

٤۳ – تقویٰ لوئے شرافت دے چه بنده په هغے باندے موصوف کیږی: ﴿وَكَانَ تَقِيًّا﴾ [مریم: ۱۳]

٤٤ – تقویٰ بنده د گناهونو نه ساتی او متقی انسان عقلمند وی: ﴿قَالَتْ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا﴾ [مریم: ۱۸]

٤۵ – د قرآن زیرے صرف متقیانو خلقو ته دے: ﴿لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا﴾ [مریم: ۹۷]

٤٦ – الله تعالیٰ به کله هم متقیانو سره د فاجرانو غوندے معامله اونه فرمائی: ﴿ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ ﴾ [ص: ٢٨]

٤٧ – متقیانو دپاره ښائسته انجام دے: ﴿ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴾ [ص: ٤٩]

٤٨ – په قیامت کښے د متقیانو نه سیوا به د بل هیڅا دوستان نه وی: ﴿ اَلْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴾ [زخرف: ٦٧]

٤٩ – الله تعالیٰ د متقیانو دوست، امدادی او محبت کونکے دے: ﴿ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ ﴾ [الجاثیه: ١٩]

٥٠ – قرآن نه پند او نصیحت صرف متقیان اخلی: ﴿وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ [الحاقة: ٤٨]

٥١ – الله تعالیٰ ته د تقویٰ نه سیوا بل هیڅ شے نه رسی:

﴿ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ﴾ [الحج: ٣٧]

٥٢ – د الله اولیاء به صرف متقیان خلق وی: ﴿ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُوْنَ ﴾ [الانفال: ٣٤]

﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴾ [یونس: ٦٢]

٥٣ – متقیان خلق د الله د عذابونو نه عبرت اخستونکی دی: ﴿ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ [البقرة: ٦٦]

٥٤ – متقیانو خلقو له خوشحالی ده او هم دوئ به د الله شاهی میلمانهٔ وی: ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴾ [مریم: ٨٥]

٥٥ – د تقویٰ لباس بهترین لباس دے: ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ﴾ [الاعراف: ٢٦]

خلاصه دا چه: د دنیا او آخرت منافع، عزت او شرافت په تقویٰ کښے دے، سرداری، کمال او جمال ټول په تقویٰ کښے دی۔ د هر شئ انجام خرابیدل دی سیوا د تقویٰ نه، چه دد ے انجام د رب العالمین سره ملاقات دے۔

نو څوك چه خپل نجات، عزت، شرافت او سرداری غواړی، نو هغه له پکار دی چه تقویٰ اختیار کړی۔ تقویٰ داسے کمالی شے دے چه دا کوتاه سرے اوچتوی، او اوچت سرے نور شریف کوی، او پریوتی نسب والا پورته کوی، فقیر عزتمند کوئ او انسان له دومره تعظیم او درجه ورکوی چه د ملائکو نه ئے هم عظیم او شریف جوړوی۔

څوك چه غواړی چه چاسره حسد اوکړی یا غواړی چه د غتو خلقو نه مخکښے شی نو هغه له پکار دی چه تقویٰ اختیار کړی۔

اللهم انی أسألك بوجهك التقویٰ، اللهم انی أسألك الهدی والتقی والعفاف والغنیٰ۔

٢٦ - فائده

د تقویٰ مراتب پنځه دی

١ - اوله مرتبه: داده چه د کفر او شرك نه ځان اوساتی.
اودا د اسلام مقام دے، او دا تقویٰ هر مسلمان له ضروری ده.
٢ - دویمه مرتبه: داده چه د ګناهونو او حرامو څیزونو نه ځان بچ کړی، او دا د توبے مقام دے، او دا هم په هر مسلمان باندے واجب ده.
٣ - دریمه مرتبه: داده چه د شبهاتو نه ځان اوساتی، او دا د وَرَع مقام دے، او دا د خواصو بندګانو مقام دے.
٤ - څلورمه مرتبه: داده چه د کثرتِ مباحاتو نه ډډه اوکړی، اودا دَ زهد مقام دے.
٥ - پنځمه مرتبه: داده چه په عامو اوقاتو کښے هم په زړه کښے د غیر الله د حضور نه ځان بچ کړی، اودا د مشاهدے او احسان مقام دے. اودا یو داسے ګران مقام دے چه دیته صرف عقلمند، اوچتو همتونو والا، پاکیزه زړونو والا او بصیرت او روښانه زړونو والا خلق رسیدلے شی.



۲۷ - فائده

په تقوىٰ باندې باعث کونکې څيزونه ډير دي

۱ - د اخروي عذاب خوف
۲ - د دُنيوي عذاب خوف
۳ - د اخروي ثواب اميد
٤ - د دُنيوي ثواب اميد
٥ - د حساب خوف
٦ - د الله عز وجل کتلو نه تاته حياء کول۔ اودا ډير عجيب مؤثر دے۔
۷ - د الله په نعمتونو او احساناتو باندے د هغه په طاعت سره شکر کول، چه دا خالصه تقوىٰ ده۔
۸ - شرعي علم، يعني د کتاب او سنت علم، چه دا انسان د الله عز وجل تقوىٰ طرفته راکاږي۔

د بعضے سلفوؒ نه نقل دی : مونږ غير الله دپاره علم طلب کړے وو، خو علم مونږ الله تعالىٰ طرفته راخکلو۔(آداب الراوی والسامع للخطيب)

۹ - د الله تعالىٰ د عظمت او لويئ تعظيم او احترام کول، ځکه چه د چا سره چه د الله جلال او تعظيم وی نو دا به ده لره د گناهونو نه طاعت طرفته راکاږی۔
۱۰ - رشتينے محبت : ځکه د محبت نتيجه او ميوه طاعت او تقوىٰ ده۔ او رشتينے محبت کونکے ضرور د خپل محبوب طاعت کوی او د هغه د نافرمانئ نه هميشه دپاره ځان بچ کوی، گنے بيا دا رشتينے محبت کونکے نه دے۔

که تهٔ په دے لسو (۱۰) خبرو کښے سوچ اوکړے نو د الله په فضل او توفيق سره به دے دَ خپل مولىٰ تقوىٰ طرفته راکاږی۔والله المستعان، وعليه التکلان .

(تفسير التسهيل : ۱/۳٦)



۲۸ - فائده

زړه خوشحالونکې نسخه

د الله تعالیٰ ذکر چه کله په خشوع، غم او ژړا سره وی نو دا زړهٔ لره ډیر زیات خوشحالوی، تردې چه د ډیرې خوشحالئ نه آلوځی۔ نو دې سره دا ضروری ده چه د الله په خوف او اِجلال سره ددې سرکشی کنټرول کړې شی، ګنې بیابه سرکشه، کبرجن او زیاتې کونکې جوړ شی۔ دا وجه ده چه الله سبحانه وتعالیٰ د خپل ذکر سره خوف هم ملګرې کړې دې لکه فرمائی : ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً وَّدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغَافِلِيْنَ ﴾ [الاعراف: ۲۰۵]

(خپل رب په زړه کښې په عاجزئ او ویرې سره د جهری وینا نه ښکته صبا او بیګاه یادوه او د غافلانو نه مه جوړیږه)۔

نو که ذکر سره خوف ملګرې نشی نو بیا فائده نه کوی بلکه زړهٔ د خوشحالئ نه سرکشی اختیاروی۔

او په دې خبره باندې صرف هغه څوك پوهیږی چا چه په دې باندې تجربه کړې وی۔ ما په دې باندې تجربه کړیده نو ځکه خپله تجربه لیکم۔ ډیر کرته ذکر ما سخت خوشحاله کړی نو بیا زه ډیرې خبرې کوم او ډیر مزاح کوم نو دې سره زما زړهٔ خراب شی۔ بیا زه په دې باندې پوهه شم۔ والحمد لله۔

علامه ابن القیم رحمه الله په « الوابل الصیب » کښې دې نکتې ته اشاره کړیده۔



۲۹ - فائده جليله

چه ددے قدر صرف هغه څوك پیژندلے شي چاچه دا څکلے وي، څکه چاچه د کهجورے خوند نه وي څکلے یا ئے د خپلے نامردئ په وجه د جماع خوند نه وي څکلے نو دے د کهجورو او د نکاح او جماع خوند څرنته محسوسولے شي ؟

هغه داچه : دلته دوه خبرے دي :

(۱) توحيد او (۲) ايمان، يا عقيده او ايمان :

نو عقيده د عقد القلب (زړهٔ تړلو) نه ماخوذ ده، نو تصديق کول په دے خبره چه الله تعالیٰ د ټول عالم رب، اِله او معبود دے، او د هغه په لاس کښے د هرشئ خزانه او پوره تصرف دے، او هغه ډیر لوئے عظیم خالق دے، او الله چه څه اوغواړی هغه کیږی او څه چه اونه غواړی هغه نه کیږی، دارنګه په دے خبره تصدیق کول چه رسولان حق دی، ملائك حق دی، جنت او جهنم حق دی، او الله تعالیٰ د خپلو بندګانو د هدایت دپاره چه کوم کتابونه نازل کړی هغه حق دی، اود قیامت په راتلو کښے هیڅ شك نشته. نو دا اسلامی عقیده ده او په دے سره انسان مسلمان ګرځی، او په اور کښے د همیشه نه پاتے کیدو مستحق ګرځی خو هر کله چه د الله سره څه قِسم شرك اونه کړی.

اودا عقیده غالبا نه متغیره کیږی، لکه حدیث کښے راځی : « شیطان ددے نه نا امیده شویدے چه په جزیرة العرب کښے دے مونځ ګذار دده عبادت اوکړی، خو دے د دوئ ترمینځه د فساد اچولو په کوشش کښے دے ».

او فرمائی : « شیطان ددے نه نا امیده شویدے چه ستاسو په دے ښارونو کښے دده عبادت اوکړے شی، لیکن ستاسو د عملونو نه په هغه خبرو کښے دده طاعت کیږی کوم چه تاسو وړے ګڼړئ نو دے په دے خوشحالیږی ».

نو په دے احادیثو کښے دیته اشاره ده چه موحد د خپل توحید نه روسته د الله سره شرك نه کوی.

ډیر خلق دا ګمان کوی چه کله دا عقیده انسان ته حاصله شی نو بس دا دَ ایمان اعلیٰ درجاتو ته اورسیدهٔ، او خپل ځان ته موحّد وائی او په دے باندے فخر کوی، او دے مسکین ته معلومه نه ده چه ایمان یو نایاب شے دے، دیته رسیدل ډیر ګران کار دے، مګر کله چه د

انسان سره د الله عز وجل رحمت شاملِ حال شي۔

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ﴾ [یونس: ۱۰۰]

(هيڅ يو انسان دپاره دا ممكن نه ده چه دا ذے ايمان راوړی مگر كله چه د الله غوښه شی، او پليتي په هغه چا وراچوی کوم خلق چه د عقل نه كار نه اخلی)۔

نو ايمان نوم دے ددے چه د انسان زړۀ د الله عز وجل د عظمت، د هغه د محبت، جلال، جمال، او د هغه د مخ د رنړا، او د هغه د اسماء او صفاتو او د هغه د محبت نه ډك شی۔ دارنگه دده زړۀ الله طرفته انابت كونكے جوړ شی، د هغه په مخكښے عاجزی او انكسار كونكے او هغه طرفته ميلان كونكے جوړ شی، د هغه د دَر په درشله باندے د زړۀ سجده كيدی، هغه ته خشوع، خضوع او خشيت كونكے جوړ شی، د هغه د سخت حساب نه خوف كونكے جوړ شی، او خاص په هم هغه باندے توكل كونكے جوړ شی۔

﴿وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾ [ال عمران: ۱۷۵]

(او صرف مانه خوف كوئ كه مؤمنان ئے)

﴿وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾

(او خاص په الله باندے ځان سپارئ كه مؤمنان ئے)۔

نو خوف او توكل د ايمان د لوازمونه دی۔ د غه شان د هغه د ذكر په وخت د زړۀ ويره، د هغه طاعت طرفته تادی كول او ددے پشان نور ښائسته صفات دا ټول د ايمان سره لازم دی۔

نو دے كيفيت ته ايمان وئيلے كيږی۔ او دا په اعمالِ صالحهٔ سره زياتيږی۔ او اعمال دے كيفيت لره پائيدار او صفا جوړوی۔ څكه خو مونږ ته ددے حكم شويدے۔

او كله چه يو عمل ددے كيفيت د پيدا كولو نه خالي شی نو د الله تعالیٰ په نيز هغے له هيڅ اعتبار نشته۔

لكه يو انسان بغير د خشوع نه مونځ اوكړی نو ده ته ددے كيفيت نه هيڅ شے حاصل نه شو، لهذا دده مونځ به په ده باندے وبال وی - والعياذ بالله - او دغه شان نور اعمال هم واخله۔

او په دے كيفيت كښے بندگان خپلو كښے ډير زيات فرق او تفاوت لری۔ نو هر هغه علم او عمل چه په ايمان كښے قوت زيات نه كړی نو دا عيبجن دے، او هر هغه ايمان چه په عمل باندے انسان باعث نه كړی نو دا عيبجن دے۔ (الفوائد ص: ۱۴۷)

د شرک او توحید مثال:

زه دلته یو مثال ذکر کوم کیدے شي چه الله عز وجل د هغې په وجه په تا باندے د خپل معرفت دروازه پرانیزي:

هغه دا چه د خلقو ترمینځه یو داسے عظیمه ملغلره واچول شوه چه ډیره ښائسته ده، هیڅوك د هغې د واقعي ښائست بیان نشي کولے۔ او ددغه ښائسته ملغلرے خواته یو پلیته سوټه ده چه هیڅ قدر او قیمت نه لري، بلکه د هغې نه لرے والے اختیارول د عقل تقاضا ده۔ نو ددے متعلق د خلقو څلور قسمه دي:

۱ – ځینے خلق نه دغه ملغلره طلب کوي اونه دغه سوټه، بلکه دے په نجاساتو او تیارو کنبے ډوب پروت دے۔

۲ – ځینے هغه دي چه ملغلره او سوټه ئے اولیدله او دا گمان ئے هم راغے چه دا ملغلره ده نو هغه ئے طلب کړه۔ خو کله کله دده د نیت د خباثت او د قوتِ شامه د خرابیدو په وجه صرف دغه سوټه طلب کوي۔

۳ – ځینے هغه دي چه ملغلره ئے د لرے نه اولیده خو نظرئے کمزورے دے او غوږونه ئے هم پوره طور سره کار نه کوي، نو ده ته د دغه ملغلرے ډول او ښائست پوره طور سره نه ښکاري نو ځکه ئے نه طلب کوي بلکه حیران گرځي۔

٤ – او ځینے هغه څوك دي چه دغه سوټه ئے اوپیژنده او هغه ئے پریخوده او بغض او نفرت او لرے والے ئے ترے اختیار کړو۔ او دغه ملغلره ئے اولیدله او هغې پسے اولگیده او هغې سره ئے محبت شروع کړو او هغې طرفته ئے شوق ډیر زیات شو او هغې طرفته ئے ور منډے کړے ----- نو دا د توحید او شرك مثال دے۔

اول قِسم دهري کافر دے۔ دویم قِسم مشرك دے، دریم قِسم منافق دے۔ او څلورم قِسم مُوحد مؤمن دے۔

او سوټه د غیر الله عبادت دے۔ او ملغلره د الله عز وجل محبت او د هغه توحید دے۔

بیا د دغه ملغلرے په وجود او وحدت باندے عقیده لرل د توحیدِ ربوبیت مثال دے۔ او په عمل او کوشش سره د هغې طلب کول د توحیدِ الوهیت مثال دے۔ او د هغې د ښائست او کمال معرفت د توحید الأسماء والصفات مثال دے۔ او هغې طرفته شوق او رغبت کول او هغې سره محبت ساتل د ایمان مثال دے۔

او مؤمنان د ملغلرے په پیژندلو او د هغې په طلب کولو او دهغې حاصلولو طرفته په

شوق کولو او هغې دپاره په قربانۍ کښې او هغې لره په ټولو مرادونو او خواهشاتو باندې غوره کولو کښې مختلف دي۔

نو دا مثال تاته دا دربنائي چه ایمان زیاتیږي او کمیږي، تردې چه د بعضې خلقو ایمان لکه د غرونو هومره وي، او د بعضې خلقو ایمان د وړوکي غره هومره وي، او د بعضو ایمان د کور هومره وي، او د بعضو د وړیښې، اوري او ذرې هومره وي۔ نو الله عز وجل خو ډیر زیات اعلیٰ، عزتمند او د ټولو جواهرو او قیمتي کانړو څه چه د ټولو مخلوقاتو نه ډیر زیات لوئې دې، بلکه د الله سبحانه وتعالیٰ په مقابله کښې ددې څیزونو هیڅ نسبت هم نشته۔ لیکن مثالونه د پوهې دپاره بیانولې شي۔ نو په دې مثال کښې سوچ اوکړه تاته به ددې لاندې د الله په توفیق سره ډیر علم او معرفت حاصل شي۔

او دا کیفیت بدلیږي او کمیږي زیاتیږي، لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا ﴾ [الانفال: ۲]

(اوکله چه په مؤمنانو باندې د الله آیتونه لوستې کیږي نو هغه د دوئ ایمان زیاتوي)۔

نو دلته د ایمان د زیادت نه همدا کیفیت مراد دې، نۀ دا چه معتقدات (عقیدې) زیاتیږي۔

او دا خبره ډیر بدعتیان نۀ پیژني، دې وجې نه اعتراضونه کوي۔

ابو الدرداء – رضي الله عنه – فرمائي : « د ایمان مثال لکه د قمیص غوندې دې، کله ئې تۀ آغوندې او کله ئې اوباسې، کله ئې اوباسې او کله ئې آغوندې»۔

(كتاب الايمان لابن أبي شيبة)

عبد الله بن رواحه ﷺ خپلو ملګروته اوفرمائیل : « راځئ چه لږ ساعت دپاره په خپل رب باندې ایمان اولرو»۔ یعنې ایمان زیات کړو۔ (حياة الصحابة : ۳)

عمر بن الخطاب ﷺ به ابو موسیٰ ﷺ ته (چه دده ډیر خوږ آواز وو) فرمائیل : « مونږ ته په الله سره نصیحت اوکړه (الله راته رایاد کړه) نو هغه به قرآن اولوستلو او ملګرو به واوریده »۔

حبیب بن عمیر ﷺ ته چا اووئیل : د ایمان زیادت او نقصان نه څه مراد دې ؟ وې فرمائیل : « کله چه مونږ الله سبحانه وتعالیٰ رایاد کړو نو دا د ایمان زیادت دې، او کله چه مونږ غفلت اوکړو او الله هیر کړو نو دا ئې نقصان دې »۔(كتاب الايمان لابن تيميةؒ)

په حدیث کښې دي : « په زړونو کښې هیڅ یو زړۀ داسې نشته چه هغه دپاره به داسې وریځ نه وي لکه د سپوږمۍ وریځ، سپوږمۍ روښانه وي چه ناګهانه پرې وریځ را دپاسه شي نو

هغه تیارۀ شي، اوکله چه ترې لرې شي نو رڼړا اوکړي »۔الصحيحة رقم : ۲۲٦۸۔
ابن عمر – رضی الله عنه – فرمائی : « زړۀ د هغه کتوئ نه هم زیات بدلیدونکے دے چه د هغے جوشیدل سخت شي »۔(حياة الصحابة : ۳)
نو دا دلیلونه په دے خبره دلالت کوی چه ایمان د دغه مذکوره کیفیت نوم دے یعنی د الله سبحانه وتعالیٰ عظمت، د هغه محبت، هغه طرفته انابت، د هغه نه خوف او خشیَت کول۔اودا کیفیت ډیر بدلیږی را بدلیږی۔
دا وجه ده چه د رسول الله ﷺ صحابو ؓ به دا کیفیت محسوسولو، او کله به چه لږ شان بدل شو په خپل ځانونو به د منافقت نه ویریدل۔ ځکه منافقت هم دادے چه زړۀ د الله نه غافله شي، د هغه نه اعراض اوکړي، هغه باندے څه باك نه کوی ۔ او د صحابه کرامو ؓ د منافقت نه د ویرے معنیٰ دانه وه چه گنے هغوئ دا شك کولو چه آیا دوئ به په الله او د هغه رسول ﷺ او په ورځ د آخرت باندے ایمان وی اوکه نه ؟ ځکه دا خبره خو هر انسان ته خپله معلومیږی۔ لیکن هغوئ به د منافقت نه ویریدل، کله به چه د هغوئ زړونو ته څه سستی یا لږ شان غفلت اورسیده نو خپلو ځانونو ته به ئے منافقان وئیل۔
لکه په صحیح حدیث کښے دی چه « ابو بکر ؓ د حنظله ؓ سره مخامخ شو، حنظلهؓ اووئیل : حنظله خو منافق شویدے۔ ابو بکر صدیق ؓ ترے وجه اوتپوسله۔ نو هغه اووئیل : مونږ چه کله د رسول الله ﷺ سره یُو، هغه مونږ ته د جنت او اور تذکره کوی، نو زمونږ کیفیت داسے وی گویا مونږ دا هرڅه مخامخ وینو، او کله چه مونږ د هغه د مجلس نه پاڅیږو، او د خپلو بیبیانو او بال بچ او زمکو سره اختلاط اوکړو، نو مونږ نه ډیرے هغه خبرے هیرے شي کومے چه مونږ ته رسول الله ﷺ کوی۔ ابو بکر صدیق ؓ اوفرمائیل : مونږ هم دا کیفیت بیامومو۔ لاړل او د رسول الله ﷺ نه ئے تپوس اوکړو۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « که چرے تاسو په هغه حالت باندے کوم چه زما په مجلس کښے ستاسو وی، باقی پاتے شئ، نو ملائك به تاسو سره ستاسو په بسترو او ستاسو په لارو کښے ملاقات اوکړی۔ خو حنظله ! یو ساعت دا، او یو ساعت دا۔ دا خبره ئے درے ځله اوفرمائیله »۔
(مسلم، المشكاة : ۱/۱۹۷)

نو دے حدیث کښے ترغیب دے چه دا کیفیت همیشه لرل پکار دی، او څوك چه ددے طاقت نه لری نو هغه له پکار دی چه کله الله رایادوی او کله د خپل بال بچ وغیره سره اختلاط کوی۔

ابـن ابـى مليكهؒ فرمائى : « مـا ديـرش صحـابـه كرامؓ اوليدل چه ټول به په خپل ځانونو باندې د منافقت نه ويريدل ». بخارى.

دې خبرې ته په دې حديث كښې هم اشاره شويده چه هغه په دې لفظ سره روايت شويدې : « ګانې په زړهٔ كښې داسې منافقت راتوكوى څنګه چه اوبه فصل راتوكوى ».

(مشكوة). ددې حديث په سند كښې ضعف شته خو مونږ ئې د مثال په طور ذكر كوو، او هغـه دا چـه ګـانې په زړهٔ كښې كفر نه راتوكوى بلكه منافقت راتوكوى يعنى د الله تعالىٰ نه زړهٔ غـافـل كـوى او په غير الله سره ئې مشغولوى، او د الله نه په غير باندې په ګناه سره پرې خوند حاصلوى.

په حديث كښې دى : « څوك چه د الله ډير ذكر نه كوى هغه منافق دې ». (ترغيب).

الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ﴾ [الحشر: ۱۹]

(او هغه خلقو پشان مه كيږئ چه هغوئ الله هير كړو نو الله د هغوئ نه خپل ځانونه هير كړل، همدا خلق نافرمان دى ».

نو زړهٔ سره د الله هيرول لوئې فسق دې.

په حديث كښې دى : « زنا كار سړې په داسې حال كښې زنا نكوى چه دا مؤمن وى ».

(بخارى ومسلم)

ددې حديث مـعـنىٰ دا نهٔ ده چه ګنې دې په دې كار كافر شو، بلكه ددې نه مراد دادې چه د ايمان دا نورانى كيفيت دده نه په زنا، غلا او لوټ مار وغيره سره ختميږى.

دا وجـه ده چـه مـحـقـقـيـنـو علماؤ وئيلى دى چه ددې حديث معنىٰ داده چه : ددې زنا كار وغيره سړى د ايـمـان نـورانـيـت ختميږى. لكه دا خبره امام بخارىؒ په خپل صحيح كښې ذكر كړيده. او دا دلالت كوى په دې خبره چه ددې قِسم احاديثو په معنىٰ باندې د محدثينوؒ كامل معرفت دې، ولې چه دوئ ددې تجربه كړيده.

اودې **كيفيت** لره څينې څيزونه خرابوى او څينې شيان ئې مضبوطوى.

★ **ددې مفسدات ډير دى :**

۱ – يـو د هغې نـه بـد اخلاقى ده : او دې سره ايمان خرابيږى، او ښائسته اخلاق ايمان لره پوره كوى.

رسول الله ﷺ فـرمائى : « بـد اخـلاقـى ايـمـان داسې خـرابـوى لكه څنګه چه مصبر ګبين

خرابوي». (مشکوة: ۲/۴۳۴)
او فرمائي: «دَ ټولو مؤمنانو نه په ایمان کښې هغه څوك ډیر کامل دے چه په دوئ کښې ښائسته اخلاقو والا وي، او د خپل کور والو سره زیات نرم وي».
په دے مضمون کښے ډیر احادیث راغلی دي. ددے وجه داده چه بد اخلاقي زړۀ راتنګوي او کشادګئ ته ئے نه پریږدي، نو څه وخت چه په زړۀ کښے انقباض (تنګ والے) پیدا شي نو بیا په دے کښے دا ایماني کیفیت نه پاتے کیږي، او کله چه سړے نرمو اخلاقو والا وي نو دده زړۀ فراخه وي نو بیا په هغے کښے دا پاکیزه کیفیت برقرار وي. د چا زړۀ چه غواړي، تجربه دے اوکړي.
۲ – تکبر او خود پسندي: دا دواړه هم زړۀ ډیر سخت خرابوي. دَ ایمان خشوع او تکبر دواړه په زړۀ کښے نه جمع کیږي.
نبي کریم ﷺ دے خبرے ته په خپل دے قول سره اشاره فرمائیلے ده: «جنت ته به هغه څوك داخل نشي د چا په زړه کښے چه د ذرّے هومره کبر وي، او اور ته به هغه څوك داخل نشي د چا په زړۀ کښے چه د ذرّے هومره ایمان وي». مسلم.
نو جنت ته نه داخلیدل ئے کبر سره اوتړل، او اور ته نۀ داخلیدل ئے د ایمان سره اوتړل.
۳ – ډیر مزاح (خوش طبیعتي) کول.
٤ – ډیرے خبرے کول.
۵ – خلقو سره بے ضرورته اختلاط کول.
٦ – ښځو سره اختلاط او خبرے کول.
۷ – ډیر خوراك کول.
۸ – ډیر خوب کول.
۹ – د الله سبحانه وتعالیٰ نه غفلت کول.
۱۰ – ځینے سختے بیماریانے.
۱۱ – فتنے او آزمائشونه.
۱۲ – جنګ جګړے او بحثونه کول.
۱۳ – فتوان او شکلونو سره محبت کول.
۱٤ – ډیر اخبارونه کتل او د خبرونو آوریدلو شوقي کول.
۱۵ – په دے ټولو کښے خطرناك شے: بدعت دے.

١٦ - تول گناهونه.
١٧ - سستي.
١٨ - دَ ملاقاتیانو کثرت.
١٩ - خپل تول وخت د سَحر نه ماسخوتنه پورے د دُنیا په راجمع کولو کښے لگول.
٢٠ - ملگرو او همزولو سره چکرے وهل او سیالونه کول.
٢١ - دُکانونو باندے د لگیدلو فتهوانو او بورډونو باندے بار بار نظر اچول.
٢٢ - گانے بجانے او موسیقی آوریدل.
٢٣ - لغو خبرے او کارونه کول.

دا وجه ده چه په صحیح حدیث کښے دی: « د سړی ښائسته اسلام دادے چه کوم کارونه ده سره مناسب نه وی هغه پریدی ».(ترمذی). او دا قِسم حدیثونه د جوامع الکلم نه دی.
قرآن کریم کښے د لغو او لهو نه منع ډیره واقع شویده، دارنگه د هر هغه شئ نه چه تا د الله دَ ذکر نه غافله کوی.

٢٤ - بلکه مؤمن سړے چه د خپل مذکوره ایمانی کیفیت لحاظ اونه ساتی، نو هغه کمزورے کیږی او د هغے رنړا، بلیدل او صفاوالے خړیږی.
اودا مذکوره کیفیت او ددے رنړا د الله په کتاب آوریدو باندے چه په ښائسته آواز سره وی روښانه کیږی. یا په خشوع سره ددے په تلاوت باندے، دارنگه په نورو هغه شلو اسبابو باندے چه مونږ مخکښے ذکر کړل.
بعضے صوفیاؤ به دا خړوالے په « شعرونو آوریدو » سره ختمولو. خو دے خلقو لار غلطه کړیده. البته کله د زهد، ورع او تقویٰ والا شعرونه په ښائسته آواز سره آوریدل فائده کوی. خو ددے دا مطلب نه دے چه سړے به دیته کار وائی او ډیر ډیر به ئے لولی، ځکه دا کار دَ زړهٔ په پټ منافقت باندے دلالت کوی، ولے چه زړهٔ چه کله خراب شی نو غیر مناسب شیانو سره محبت ساتی. چه ددے دوائی او علاج قرآن دے.



۳۰ - فائده : د ایمان فوائد

کله چه د بنده ایمان کامل شي او ددے نورانیت، تازګی او خوند محسوس کړي، نو دے وخت کښے به د خپل ایمان دپاره څه ناشنا فائدے او عجیب منافع اووینی او ځان به داسے اوګنړي ګویا دا په اعلیٰ جنتِ فردوس کښے دے۔

او دے فوائدو ته قرآن کریم او احادیثِ نبویه ؤ اشاره کړیده :

۱ - هدایت : نو بعضے د هغه فوائدو نه هدایت دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ ﴾ [البقرة: ۲]

﴿ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيْمَانِهِمْ ﴾ [یونس: ۹]

﴿ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰهُمْ تَقْوٰهُمْ ﴾ [محمد: ۱۷]

﴿ فَإِنْ آمَنُوْا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ﴾ [البقرة: ۱۳۷]

۲ - په ایمان سره اهلِ ایمان وسیله نیسی : ﴿ رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْإِيْمَانِ أَنْ آمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴾ [ال عمران: ۱۹۳]

۳ - د ایمان او علم خاوندان به د قیامت په ورځ ګواهی ورکوی : ﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللهِ ﴾... الآية [الروم: ۵۶]

٤ - دعوت به هم ایمان طرفته وی : ﴿ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى الْإِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ﴾ [مؤمن: ۱۰]

۵ - ایمان د زړونو زینت او محبوب شے دے :

﴿ وَلٰكِنَّ اللهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ [الحجرات: ۷]

٦ - ایمان، د الله د طرفنه په خپلو بندګانو باندے احسان دے :

﴿ بَلِ اللهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدٰكُمْ لِلْإِيْمَانِ ﴾ [الحجرات: ۱۷]

۷ - ایمان والا دپاره دعاګانے غوښتلے کیږی : ﴿ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْإِيْمَانِ ﴾ [الحشر: ۱۰]

۸ - د ایمان برکت سره اولاد خپلو پلرونو سره ملګری کیږی : ﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ﴾ [الطور: ۲۱]

۹ - ایمان، د کفارو په دهمکئ ورکولو سره هم زیاتیږی : ﴿ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيْمَانًا ﴾ [ال عمران: ۱۷۳]

١٠ – د آخرت اجر صرف ایمان والو دپاره دے : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا﴾ – الى قوله – ﴿فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ ﴾ [مائده: ٦٩]

١١ – ایمان په ټولو نیکیو کښې عظیمه نیکی ده : ﴿ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ .. الآية ﴾ [البقرة: ١٧٧]

١٢ – ایمان د انسان په صفاتو کښې عظیم صفت دے : ﴿ آمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ [البقرة: ٢٨٥] ﴿ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [صفت: ١١١]

١٣ – په ایمان کښې عظیم خیر دے : ﴿ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴾ [ال عمران: ١١٠]

١٤ – د ایمان په وجه غم او خفګان ختمیږی :
﴿ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ [الانعام: ٤٨]

١٥ – جوماتونه جوړول صرف ایمان والو ته فائده ورکوی : ﴿ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ﴾ [التوبة: ١٨]

١٦ – ایمان د ټولو اعمالو نه بهتر عمل دے : ﴿ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ لَايَسْتَوُوْنَ عِنْدَ اللهِ ﴾ [التوبة: ١٩]

١٧ – ښائسته بدله صرف ایمان والو دپاره ده : ﴿ وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَنِ الْحُسْنٰى ﴾ [الكهف: ٨٨]

١٨ – جنت صرف ایمان والو دپاره دے :
﴿وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ﴾ [المؤمن: ٤٠] ﴿ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا ﴾ [البقرة: ٢٥]

١٩ – کامیابی د ایمان والو په برخه ده : ﴿قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ [المومنون: ١]

٢٠ – عذاب نه نجات د مؤمنانو په حصه کښې دے : ﴿ مَا يَفْعَلُ اللهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ﴾ [النساء: ١٤٧] ﴿ ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا ﴾ [يونس: ١٠٣]

٢١ – ایمان د دعاء د قبلیدو ذریعه ده : ﴿ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا ﴾ [ال عمران: ١٦]

٢٢ – ایمان د الله د محبت سبب دے : ﴿ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا أَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ﴾ [البقرة: ١٦٥]

٢٣ – په امتحان کښې صرف ایمان والا کامیابیږی : ﴿ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ ﴾ [البقرة: ٢٤٩]

٢٤ – د الله ولایت صرف ایمان سره حاصلیږی : ﴿ اَللهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ﴾ [البقرة: ٢٥٧] ﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللهِ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴾

[يونس: ٦١، ٦٢] ﴿ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [ال عمران: ٦٨]

۲۵ – د الله رحمت مؤمنانو دپاره دے :

﴿ فَأَمَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ ﴾ [النساء: ١٧٥]

۲۶ – د الله مغفرت صرف مؤمنانو دپاره دے :

﴿ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ ﴾ [المائده: ٩]

۲۷ – مؤمن د الله دوست او محبوب دے :

﴿ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ ﴾ [المائده: ٥٤]

۲۸ – د الله د عذاب نه په امن کيدل په ايمان سره دی :

﴿ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْا إِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ﴾ [الانعام: ٨٢]

۲۹ – په دُنيا او آخرت کښے د پاکيزه رزقونو مستحق صرف د ايمان خاوندان دی : ﴿ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ [الاعراف: ٣٢]

۳۰ – د آسمان او زمکے د برکتونو فراخي د ايمان په وجه دی : ﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرٰى آمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ ﴾ [الاعراف: ٩٦]

۳۱ – د مؤمنانو مضبوطولو دپاره ملائك نازليږی : ﴿ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ [الانفال: ١٢]

۳۲ – رسول الله ﷺ صرف د مؤمنانو دپاره رحمت دے : ﴿ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ ﴾ [التوبة: ٦١]

قرآن کريم د مؤمنانو ايمان زياتوی :

﴿ فَأَمَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ إِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ﴾ [التوبة: ١٢٤]

۳٤ – د مؤمنانو دپاره د خپل رب سره ښه ورتلل دی :

﴿ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالَ الْكَافِرُوْنَ إِنَّ هٰذَا لَسَاحِرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ [يونس: ٢]

۳۵ – د مؤمنانو زړونه د الله تعالیٰ په ذکر سره مطمئن کيږی :

﴿ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴾ [الرعد: ٢٨]

۳٦ – د ايمان والو دپاره خوشحالي ده :

﴿ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴾ [الرعد: ٢٩]

۳۷ – په دُنيا او آخرت کښے مضبوطوالے د ايمان والو په حصه کښے دے :

﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ﴾ [ابراهيم: ٢٧]

۳۸ – مؤمنانو باندے د شيطان هيڅ غلبه نشی کيدے :

﴿إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ﴾ [النحل: ۹۹]

۳۹ – د جنتِ فردوس میلمستیا د ایمان والو دپاره ده:

﴿إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا﴾ [الكهف: ۱۰۷]

۴۰ – ایمان والو سره د خلقو محبت وی:

﴿إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا﴾ [مریم: ۹۶]

۴۱ – د ایمان والو نه الله دفاع کوی: ﴿إِنَّ اللهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ [الحج: ۳۸]

۴۲ – مغفرت او ښائسته رزق د ایمان والو دپاره دے:

﴿فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ﴾ [الحج: ۵۰]

۴۳ – په دینی کارونو کښے مشری د ایمان والو دپاره ده:

﴿وَعَدَ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ﴾ [النور: ۵۵]

۴۴ – ګناهونه رژول او نیکانو کښے داخلول د ایمان والو دپاره دی:

﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ﴾ [العنكبوت: ۷] ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ﴾ [العنكبوت: ۹]

۴۵ – د الله رحمتونه او د ملائکو دعاګانے د ایمان والو دپاره دی: ﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۴۲﴾ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهُ﴾ [الاحزاب: ۴۱]

۴۶ – الله تعالیٰ به ایمان والا او فسادیان خلق سره برابر نه کړی: ﴿اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ﴾ [ص: ۲۸] ﴿اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ﴾ [الجاثيه: ۲۱]

۴۷ – ملائك د مؤمنانو دپاره استغفار غواړی: ﴿وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ [المومن: ۷]

۴۸ – د الله امداد د ایمان والو سره دے: ﴿اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ﴾ [مؤمن: ۵۱] ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ [الروم: ۴۷]

۴۹ – ایمان د قیامت نه د ویرے او خوف باعث دے: ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا﴾ [الشورىٰ: ۱۸]

۵۰ – الله تعالیٰ د ایمان والو دعاګانے قبلوی:

﴿وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ [الشورىٰ: ۲۶]

۵۱ – په قیامت کښے به صرف ایمانی اخوت باقی وی: ﴿اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ﴾ [الزخرف: ۶۷]

۵۲ – د زړونو او حالتونو اصلاح د ایمان والو دپاره ده : ﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ ﴾ [محمد: ۲]

۵۳ – الله تعالیٰ د ایمان والو ملګرے او امدادی دے : ﴿ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ [محمد: ۱۱]

۵۴ – په الله او د هغه په رسولانو – علیهم السلام – ایمان لرل د صدیقیت درجه ده : ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ﴾ [الحديد: ۱۹]

۵۵ – د الله دوچنده رحمت او عظیم نور د ایمان په سبب دے : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ ﴾ [الحديد: ۲۸]

﴿ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ ﴾ [الحديد: ۱۲]

۵۶ – رفعت د ایمان والو دپاره دے : ﴿ يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ﴾ [المجادلة: ۱۱]

۵۷ – د الله تعالیٰ تائید د ایمان والو دپاره دے : ﴿ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ [الصف: ۱٤]

۵۸ – ایمان هغه عظیم تجارت دے چه دے سره انسان د دردناك عذاب نه نجات مومی : ﴿ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ .... الآية ﴾ [الصف: ۱۱]

۵۹ – عقل مند خلق صرف ایمان والا دی : ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ [الطلاق: ۱۰]

٦۰ – د تیارو نه رڼا طرفته ویستل د ایمان په وجه وی : ﴿ لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ﴾ [الطلاق: ۱۱]

٦۱ – ایمان والا به د شرمندګئ او رسوایئ نه خلاص وی : ﴿ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ﴾ [التحريم: ۸]

٦۲ – ایمان والو دپاره نهٔ ختمیدونکے اجر دے : ﴿ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴾ [الانشقاق: ۲۵]

٦۳ – ایمان د کنډو وهلو نوم دے : ﴿ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴾ [البلد: ۱۷]

٦٤ – د تاوان نه نجات صرف په ایمان سره دے : ﴿ وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴾ [العصر: ۱]

٦۵ – رسول الله ﷺ به ایمان طرفته خلق بلل : ﴿ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ ﴾ [الحديد: ۸]

٦٦ – د ایمان خاوند د ټولو مخلوقاتو نه غوره دے : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴾ [البينة:۷] ﴿ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾ [ال عمران: ۱۱۰]

٦٧ - ايمان والو مضبوطے کړئ ته لاس اچولے دے :
﴿ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ﴾ [البقرة: ٢٥٦]
٦٨ - رسول الله ﷺ صرف د ايمان والو ته آورول کوی :
﴿ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴾ [النمل: ٨١]
يعنی د رسول الله ﷺ دعوت صرف په دوئ کښے اثر کوی۔
٦٩ - ايمان د زړهٔ هدايت دے : ﴿ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ﴾ [التغابن: ١١]
٧٠ - ايمان والا به د عمل د کمی زياتی نه نهٔ يريږی :
﴿ فَمَنْ يُّؤْمِنْ بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴾ [الجن: ١٣]
٧١ - ايمان د رُشد او هدايت او د دُعاګانو د قبليدو ذريعه ده :
﴿ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴾ [البقرة: ١٨٦]
٧٢ - ايمان سره زړهٔ انتهائی عاجزی اختياروی :
﴿ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ﴾ [الحج: ٥٤]
٧٣ - رسول الله ﷺ ايمان والو ته هرکلے وائی :
﴿ وَإِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴾ [الانعام: ٥٤]
٧٤ - د الله د آيتونو نه صرف ايمان والا فائده پورته کوی :
﴿ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴾ [النحل: ٧٩]
٧٥ - د ايمان والو په زړونو کښے الله اطمينان اچوی :
﴿ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [الفتح: ٤]
٧٦ - حياتِ طيبه (پاکيزه ژوند) په ايمان سره حاصليږی :
﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ﴾ [النحل: ٩٧]
٧٧ - ايمان والا به د ظلم او زياتی نه نه يريږی :
﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴾ [طه: ١١٢]
٧٨ - د ايمان والو د عمل بے قدری به کله هم اونشی :
﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴾ [الانبياء: ٩٤]
٧٩ - ايمان والو دپاره عالی شان درجات دی :
﴿ وَمَنْ يَّأْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴾ [طه: ٧٥]
٨٠ - ايمان والو دپاره نوح او ابراهيم - عليهما السلام - دعاګانے غوښتلی دی : ﴿ رَبِّ

اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا ﴾ [نوح: ۲۸]

۸۱ – د ایمان والو ایمان د امتحان په وخت زیاتیږي: ﴿ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّا اِيْمَانًا وَّ تَسْلِيْمًا ﴾ [الاحزاب:]

۸۲ – اوچت والے او پورته والے د مؤمنانو په برخه دے:

﴿ وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ ﴾ [ال عمران: ۱۳۸]

۸۳ – په ایمان والو باندے الله تعالیٰ د رسول الله ﷺ په رالیږلو باندے احسان فرمائیلے دے: ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا ﴾ [ال عمران: ۱٦٤]

۸٤ – الله تعالیٰ د مؤمنانو اجر نهٔ ضائع کوي: ﴿ وَأَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [۱۷۱]

۸۵ – په ایمان والو باندے الله تعالیٰ کافرو له غلبه نه ده ورکړے:

﴿ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴾ [النساء: ۱٤۱]

۸٦ – په مؤمنانو به ښه آزمایښت (او انعام) کیږي: ﴿ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ﴾ [الانفال: ۱۷]

۸۷ – الله تعالیٰ د مؤمنانو خاص ملګرے دے: ﴿ وَأَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [الانفال: ۱۹]

۸۸ – د ایمان والو سینو ته شفاء ملاویږي: ﴿ وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾ [التوبة: ۱٤]

۸۹ – الله تعالیٰ د ایمان والونه ځان ومال اخستے دے:

﴿ إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ ﴾ [التوبة: ۱۱۱]

۹۰ – د ایمان والو دپاره نبي ﷺ ته د نرمۍ او عاجزۍ حکم شویدے:

﴿ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [الشعراء: ۲۱۵]

۹۱ – ایمان والا به د غم نه خلاص وي: ﴿ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [الانبياء: ۸۸]

۹۲ – ایمان والو دپاره د زړهٔ مضبوطیا ورکړے کیږي: ﴿ وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ﴾ [الكهف: ۱٤]

۹۳ – ایمان والو باندے الله تعالیٰ خصوصي مهربانۍ کوي:

﴿ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴾ [الاحزاب: ٤۳]

۹٤ – ایمان والو دپاره د الله د لوئ فضل زیرے دے:

﴿ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِأَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴾ [الاحزاب: ٤۷]

۹۵ – ایمان والو له الله تعالیٰ د توبے توفیق ورکوي:

﴿ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ﴾ [الاحزاب: ۷۳]

٩٦ – ایمان والو دپاره رسول اللهﷺ ته حکم شوے چه بخښنه ورله اوغواړی :

﴿ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ﴾ [محمد: ١٩]

٩٧ – ایمان والو ته د دوئ د ایمان په اندازه نصیحت فائده ورکوی :

﴿ وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [الذاريات: ٥٥]

٩٨ – عزت ایمان والو دپاره دے :

﴿ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ [المنافقون: ٨]

٩٩ – د ایمان په وجه د مؤمنانو په زړونو کښے د الله محبت نور هم زیاتیږی :

﴿ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا أَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ﴾ [البقرة: ١٦٥]

داد ایمان بعضے فوائد دی کوم چه ښکاره طور سره په قرآن کریم کښے ذکر شوی دی۔

او د غور او فکر کولو سره دومره فوائد دی چه د هغے شمار هم نشی کیدلے۔ چه په دے باندے د دُنیا او آخرت ژوند ولاړ دے، او هیچا دپاره دا ممکن نه ده چه څه کامیابی حاصله کړی مګر صرف په ایمان سره۔

الله تعالیٰ دے مونږ ته ددینه پوره برخه رانصیب کړی او ترمرګه پورے دے په دے باندے د استقامت توفیق راکړی۔ (آمین) !!



٣١ - مهمه فائده

د حُسنِ خاتمې اسباب او علامات

د آخرې خاتمې د ښه کيدو اهتمام کول او په ايمان باندې ددې د راتللو اهتمام کول د هر څه نه زيات مهم او د ټولو نه زيات غوره عمل دې. دا د نيکانو خلقو عمل او د متقينو خوئې دې. رسول الله ﷺ دې طرفته راهنمائي فرمائيلې ده. لکه فرمائي: اِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ. يعنې د انسان په اعمالو کښې آخرني عمل له اعتبار دې.

او فرمائي: « يو سړې به د جنتيانو عمل کوي تردې چه دده او د هغې ترمينځه صرف د يو گتر هومره فاصله پاتې شي، نو په دهٔ باندې تقدير رامخې ته شي او د اور والو عمل شروع کړي او هغې ته داخل شي ». والعياذ بالله!

نو عاقل له مناسب دي چه ددې ډير زيات اهتمام اوکړي.

مونږ دلته بعضې اعمال ذکر کوو، کوم چه حُسنِ خاتمې دپاره سبب جوړيږي. ځکه الله تعالىٰ د هر څه دپاره اسباب مقرر کړي دي.

اسباب د حُسن خاتمې:

١ - د اوداسه نه د فارغيدو والا دعاء وئيل: او هغه داده:

ابو سعيد خدري ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې: « څوك چه اودس اوکړي او بيا: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ اِلَيْكَ - دعاء اووائي، نو دا به په يو کاغذ کښې اوليکلې شي او بيا به په هغې باندې يوه ټاپه اولگي چه دا به قيامته پورې نه ماتيږي ».

او په يو روايت کښې دي: « الله تعالىٰ به په دې باندې يو ټاپه اولگوي، بيا به د عرش نه لاندې يو ځائې ته پورته کړې شي او قيامته پورې به دا نه ماتيږي ».

(النسائي في عمل اليوم والليلة ص (٤٣) الصحيحة: ٤٣٨/٥، رقم: ٢٣٣٣، واسناده على شرط مسلم)

نو دې حديث کښې لوئې بشارت دې په دې خبره چه دا قبوله شوې دعاء ده. دويم دا چه انسان ته به د قيامت په ورځ په دې سره خامخا اجر ملاويږي. نو ددې سره دا خبره لازمه ده چه دا سړې به په ايمان باندې مري. والحمد لله.

۲ – د آذان نه د فارغیدو دعاء لوستل :
اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَّهُ.

نبی کریم ﷺ فرمائی : « چاچه دا دعاء د آذان نه پس اولوستله نو ده دپاره زما شفاعت حلال شو »۔ د (حلت) معنیٰ ده : واجب او نازل شو۔ (مرعاة : ۳/ ۳٦٤)

او دا هم ممکنه ده چه (حلت) په معنیٰ د حلال سره شی، ځکه چه بعضے خلقو دپاره شفاعت حرام وی خو چه کله دا دعاء اولولی نو ده دپاره د نبی کریم ﷺ دا مخصوص شفاعت حلال شی۔

علماء فرمائی : په دے کښے د حُسنِ خاتمے بشارت پروت دے۔ (حاشية مشكاة : ١/ ٦٥)

۳ – مؤذن له جواب ورکول، د آذان نه پس په نبی کریم ﷺ درود لوستل، او بیا مذکوره دعاء د وسیلے لوستل۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : « چاچه زما دپاره وسیله اوغوښتله نو ده باندے زما شفاعت حلال شو »۔(مسلم، مشكاة : ١/ ٦٤) نو دے کښے هم د حُسنِ خاتمے زیرے او بشارت دے۔

٤ – دا دُعاء لوستل :
اَللّٰهُمَّ أَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الْأُمُورِ كُلِّهَا وَأَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْآخِرَةِ۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : « څوك چه دا دعاء غواړی نو د مصیبت رسیدو نه مخکښے به مړ شی »۔

(احمد، الفتح الرباني : ١٢/ ٢٨٣، الطبراني، وقال الهيثمي : رجال أحمد أحد أسانيد الطبراني ثقات، وذكره صاحب كنز العمال رقم : ٣٠٩٦٢٤، و ٣٧٥١، و ٥١٠٩، ٢/ ١٧٨، وقال : رواه أحمد : ٤/ ١٨١، وأبو نعيم وابن حبان رقم : ٢٤٢٤، و ٢٤٢٥، ورواه الطبراني في الكبير : ٢/ ٣٣، رقم : ١١٩٧، و ١١٩٨، باسناد صحيح)

نو مسلمان له پکار دی چه ددے دعاء اهتمام او کړی او همیشه ئے لولی۔ لکه دے دوام ته د دغه حدیث په دے لفظ کښے هم اشاره شویده : « د چاچه دا دعاء وی »۔

٥ – دا دعاء لوستل : ابو سعید خدری او ابو هریره – رضی الله عنهما – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

« څوك چه : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ (د الله نه سیوا بل هیڅ لائق د عبادت نشته او الله ډیر لوئے دے) اولولی، نو الله تعالیٰ دده تصدیق کوی او فرمائی لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنَا وَأَنَا أَكْبَرُ : (ما نه سیوا بل هیڅ لائق د عبادت نشته او زه لوئ یم) ۔ او کله چه : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيكَ

لَهُ اولولی۔ نو الله تعالیٰ فرمائی : لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنَا وَحْدِیْ لَا شَرِيْكَ لِیْ۔ او کله چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ اولولی۔ نو الله فرمائی : لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنَا لِیَ الْمُلْكُ وَلِیَ الْحَمْدُ۔ او کله چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اولولی۔ نو الله فرمائی : لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنَا لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِیْ۔

او نبی ﷺ فرمائی : « چاچه دا دعاء په خپل مرض کښې اولوستله او بیا مړ شو نو اور به ورته اونه رسی »۔ (الترمذی، ابن ماجه، مشکاة : ۱/۲۰۱)

نو ددې صحیح حدیث نه معلومیږی چه د بیمارئ نه مخکښې او په بیمارئ کښې ددې ذکرونو لوستل د حُسنِ خاتمې سبب دې او اور نه د نجات ذریعه ده۔

۶ – ابو سعید الخدری ﷛ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې : « څوك چه رضيت بالله ربا، وبالاسلام دينا، و بمحمد رسولا ، اولولی نو ده دپاره جنت واجب شو »۔

(ابوداود رقم ۱۵۲۹، وأخرج أحمد نحوه : ۳/۱٤، وهو فی الصحيحة : ۱/۵۸۹، رقم : ۳۳٤، بدون قيد ۔ او په المجلد السادس د الصحيحة رقم : ۲٦۸٦ کښې ئې په دې الفاظو ذکر کړيدې : « څوك چه د صبا په وخت : رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا ، اولولی نو زه ددې ذمه واری اخلم چه زه به دده لاس نیسم او جنت ته به ئې داخلوم »۔

(طبرانی باسناد حسن وهو فی المجمع ۱۰/۱۱٦)

په دې حدیث کښې هم د حُسن خاتمې لوئې بشارت پروت دې۔

اودا حدیث امام ترمذی (۲/۳٤۰۰) او احمد (٤) په دې الفاظو ذکر کړيدې : « د ثوبان ؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائی : کوم مسلمان چه د بیگاه او صبا په وخت درې ځله :رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا ، اولولی نو الله تعالیٰ باندې دا حقه (لازمه) ده چه دې به د قیامت په ورځ راضی کوی »۔

(وصححه الحاكم : ۱/۵۱۸، وقال الهيثمی فی المجمع : ۱۰/۱۱٦) : رجال أحمد و الطبرانی ثقات۔ وقال البوصيری : اسناده صحيح ووافق الذهبی الحاكم. ولكن ضعفه الألبانی بلفظ التثليث، وكذا قيد المساء ضعيف. وانظر عمل اليوم والليلة رقم : ٦۸)

۷ – سید الاستغفار په یقین سره لوستل او په دې باندې همیش والې کول :

امام بخاری ؒ د شداد بن اوس ﷛ نه روایت کوی چه نبی ﷺ فرمائی : « چاچه سید الاستغفار د ورځې اولوستلو په داسې حال کښې چه په دې باندې یقین لرونکې وی او په دغه ورځ د بیگاه کولو نه مخکښې مړ شو، نو دا جنتی دې۔ او چاچه په یقین سره د شپې

اولوستلو او د صبا کولو نه مخکښې مړ شو نو دا جنتي دے»۔

(المشکاة : ۱/۲۰٤)

سید الاستغفار دادے :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ لَكَ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ

نو دا استغفار جنت ته د داخلیدو سبب دے۔ او په دے کښې تصریح ده په حُسنِ خاتمے باندے خو چه څوك ئے همیشه لولي او یقین پرے کوي۔ والحمد لله۔

۸ – دخوب دعاء لوستل :

اَللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ نَفْسِیْ اِلَیْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِیْ اِلَیْكَ وَفَوَّضْتُ اَمْرِیْ اِلَیْكَ وَاَلْجَأْتُ ظَهْرِیْ اِلَیْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً اِلَیْكَ، لَا مَلْجَأً وَلَا مَنْجَأً مِنْكَ اِلَّا اِلَیْكَ ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِیْ اَنْزَلْتَ وَبِنَبِیِّكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ۔

رسول الله ﷺ فرمائي : « چا چه دا دعاء اوویلـه او بیا په دغه شپه مړ شو نو په فطرت باندے به مړ شي »۔

او په یو روایت کښې دي : « که چرے ته په دغه شپه مړ شوے نو په فطرت به مړ شے، او که صبا دے کړو نو خیر ته به اورسیږے »۔

(بخاری، مسلم، المشکاة : ۱/۲۰۹)

دا دعاء به د اودس کولو نه پس او په ښی اړخ باندے د څملاستلو نه روسته اولولی۔

۹ – په دے دعاء باندے همیشه والے کول :

﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۸﴾ رَبَّنَا اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴾ [ال عمران: ۹]

لکه قرآن کریم دیته اشاره کړیده او دا ئے د راسخینو علماؤ د صفاتو نه ګرځولے ده، چه هغوئ ته دا پته ده چه زړونه د الله د دوه ګوتو ترمینځه دي۔

۱۰ – هغه دعاء لوستل کومه به چه نبي کریم ﷺ لوستله :

اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰی طَاعَتِكَ، اَللّٰهُمَّ مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قُلُوْبَنَا عَلٰی دِیْنِكَ

او په دے حدیث کښې دي چه د خلقو زړونه د الله تعالیٰ د دوه ګوتو ترمینځه دي۔

رسول الله ﷺ به دا دعاء ډیره لوستله، نو صحابوؓ عرض اوکړو : یا رسول الله ! تاسو په مونږ باندے یریږئ ؟ وے فرمائیل : هاؤ۔ (ترمذی، ابن ماجه. المشکاة : ۱/۲۲، ۱/۲۱) او مسلم دا د عبد

الله بن عمروؓ نه روایت کړیدے)۔
۱۱ – مجلس نه د پاسیدو دعاء لوستلو باندے همیش والے کول :
عائشه رضی الله عنها فرمائی : « رسول الله ﷺ به چه کله څه مجلس اوکړو یا به ئے مونځ اوکړو، نو څه کلماتو باندے به ئے خوله اوخوزوله۔ ما ترے د دغه کلماتو باره کښے تپوس اوکړو۔ نو وے فرمائیل : که چرے د خیر خبرے ئے کړے وی نو دا کلمات به قیامته پورے په هغے باندے مهر شی، او که د شر خبرے ئے کړے وی نو دا به ورله کفاره شی۔ (هغه کلمات دادی) : سُبۡحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ اَسۡتَغۡفِرُكَ وَاَتُوۡبُ اِلَيۡكَ ۔
نو په دے صحیح حدیث کښے اشاره ده دیته چه دا کلمات نه ضائع کیږی بلکه قیامته پورے به باقی پاتے وی، نو دے سره دا خبره ضروری ده چه ددے کلماتو ویونکے به د ایمان په حالت کښے مری، ان شاء الله۔
۱۲ – د الله تعالیٰ د مکر او تدبیر نه خوف کول : او ددے نه ویریدل چه هسے نه الله تعالیٰ دده د ګناهونو او په الله باندے د جُرأت کولو، او په دے عظیم نعمت باندے د شکر نه کولو په وجه ترے چرے ایمان واخلی۔ خو دے حد ته به دا ویره نه رسوی چه په الله باندے ئے بد ګمانی پیدا شی، ځکه چه الله تعالیٰ د نیك عملو خلقو نیك عمل چرے هم نه ضائع کوی، هغه ارحم الراحمین دے، ډیرو ګناهونو نه درګذر کوی۔ البته په خپلو ګناهونو او اخلاقو باندے به بدګمانی کوی، او ددے نه دے خوف کوی چه هسے نه دا د ایمان اخستلو سبب چرته جوړ شی۔
الله تعالی فرمائی : ﴿ اَفَاَمِنُوۡا مَكۡرَ اللّٰهِ فَلَا يَاۡمَنُ مَكۡرَ اللّٰهِ اِلَّا الۡقَوۡمُ الۡخَاسِرُوۡنَ ﴾ [الاعراف: ۹۹]
(آیا دویٔ د الله د تدبیر نه بے غمه دی نو د الله د تدبیر نه خو نه بے غمه کیږی مګر پوره تاوانیان خلق)۔
نو څوك چه د الله د مکر نه بے غمه وی نو دا تاوانی انسان دے۔ ددے نه دا معلومه شوه چه څوك د الله عز وجل د مکر نه ویریږی نو دا تاوانی نه دے۔
دا وجه چه د ابو الدرداء ؓ په اثر کښے راغلی دی چه ده اوفرمائیل : « هیڅوك د خپل ایمان نه بے غمه شوے نه دے مګر هغه ترے اخستے شویدے »۔
(ابن عساكر وهو في موسوعة آثار الصحابة : ۳/ ۳۱۰)
نو تاله مناسب دی چه تهٔ د خرابے خاتمے نه ویریدونکے اوسے۔
ابن قیم رحمه الله فرمائی : د خاتمے د خرابیدو ویرے د متقیانو ملاګانے ماتے کړی دی۔

(الجواب الكافي)

د سلفو خوف په څو قِسمه وو، يو د هغې نه د خرابې خاتمې نه ويريدل وو۔

اَللّٰهُمَّ أَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا يَارَبِّ بِمَنِّكَ وَفَضْلِكَ.

۱٤ – د بدعاتو نه ځان بچ ساتل ځکه چه دا د انسان دپاره د سوء خاتمې سبب جوړېږي – والعياذ بالله – او ددې بدعاتو عقوبت دادې چه ددې په وجه د انسان نه ايمان اخستې کيږي۔

۱۵ – دُنيا ته ميلان نه کول، او د هغې ډول او ښائست سره سخته مينه نه کول، ځکه چه دا انسان خرابوي۔

علامه قزويني په (مفيد الهموم ومبيد الغموم ص ۱۷۳) کښې فرمائي :

« پوهه شه چه د سوء خاتمې نه ويره پکار ده۔ دې د صديقينو ځيګرونه ټوټې ټوټې کړي دي۔ ځکه مرګ يو لوئې اثر دې او دُنيا پريخودل لوئې درد دې، او ددې دَ مانوس څيزونو نه منقطع کيدل سخت کار دې، او د هر نيك او بد سړي مخې ته ګران کنډوونه دي، چه په دې وخت کښې د ايمان د تللو خطره ده۔ او ددې دپاره ډير اسباب دي۔ ليکن ډير قابلِ خوف او ګران په کښې دوه څيزونه دي : يو بدعت دې چه په زړهٔ کښې ئې جرړې خخې کړې وي او د انسان سينه ئې نيولې وي، دده دا عقيده وي چه ګنې دا حق دې حال دا چه هغه باطل وي۔ نو کله چه د مرګ په وخت دې بدعت والا ته حقيقتِ حال معلوم شي او پرده لرې کړې شي، نو دهٔ ته دا ښکاره شي چه کومه عقيده دهٔ لرله هغه باطله وه، او کوم څيز چه دهٔ پريخې وو هغه حق وو، نو په دهٔ باندې دَ ايمان د زائله کيدو خطره ده۔

دويم : دا چه دده ايمان کمزورې وي، او په زړهٔ باندې ئې د دُنيا محبت غالب وي، او د الله او رسول محبت ئې په زړه کښې کمزورې وي، نو کله چه اووينې چه دې د ټولو خواهشاتو نه منع کړې شو او د ټولو خوندونو او مزونو نه په زوره بند کړې شو، او بيا داسې کور ته هم روان کړې شو چه په هغې کښې دده هيڅ رغبت نشته، او داسې څه به اوګڼي چه هيڅ کله ئې نه دي ځکلي، نو دې وخت کښې دا هرڅه دې بد ګڼري، مرګ بد اوګڼري او د الله او رسول امر بد اوګڼري، دُنيا پريخودل او مرګ بد اوګڼري، نو دې وخت کښې دده نه د ايمان اخستلو خطره وي۔ نو د کمزوري ايمان والا به څه حال وي اې اشعري ؟ الخ »۔ والعياذ بالله

او دې خبرې ته نبي کريم ﷺ اشاره فرمائيلې ده چه : « څوك د الله ملاقات خوښ ګڼري الله تعالىٰ د هغه ملاقات خوښ ګڼري، او څوك چه د الله ملاقات بدګڼري، الله تعالىٰ د هغه

ملاقات بد ګڼري»۔ رواه البخاري ومسلم
او مرګ خو د الله د ملاقات نه مخکښې وي۔ ليکن فاجر او بدکاره سړي ته د الله د عذاب زيرے ورکولے شي، نو دے خپل مخے ته راتلونکي هرڅه بد ګڼري۔ او مؤمن چونکه په هغه څيزونو پوهه وي کوم چه دده مخے ته را روان وي او ده ته د الله د رضامندئ زيري هم ورکولے شي، دے وجے نه دے راتلونکي حالات ښه ګڼري نو الله هم دده ملاقات ښه ګڼري، لکه چه دا په مذکوره حديث کښې ثابته شوه۔
۱۶ – امام ابن دقيق العيدؒ فرمائي: د يتيم مال خوړل د خرابے خاتمے دپاره تجربه شوے نسخه ده، والعياذ بالله۔ (الزواجر دَ ابن حجر الهيتمي: ۱)
۱۷ – د حُسن خاتمے د مفيدو اسبابو نه د الله عز وجل سره سخت محبت ساتل دي۔
۱۸ – مؤمنانو سره نرمي کول او دوئ سره محبت ساتل او په دوئ رحمت کول۔
۱۹ – کافرانو سره دشمني ساتل او د دوئ نه نفرت کول او دوئ سره سخت بغض لرل۔
۲۰ – د الله په لار کښې جهاد کول۔
۲۱ – د الله په باره کښې د ملامتګر د ملامتيا نه نه ويريدل۔
په دے ټولو باندے دليل دا قول د الله تعالىٰ دے:
﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ [المائده: ٥٤]
نو په دے کښې اشاره ده دیته چه په چاکښې دا مذکوره صفات وي نو دابه هيڅ کله د الله د دين نه مرتد کيږي، بلکه د الله سبحانه وتعالىٰ سره به د ايمان په حالت کښې ملاقات کوي۔ ځکه چه مرتدينو دا صفات پريښودل نو د الله عز وجل د دين نه مرتد شول، والعياذ بالله۔ او الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ﴾ [البقرة: ۲۱۷] ﴿ وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَنْ دِينِهِ .. الآية ﴾ [البقرة: ۲۱۷]
نو په دے کښې اشاره ده دیته چه جهاد پريخودل د ډيرو خلقو د مرتد کيدو سبب دے۔ الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ﴾ [البقرة: ۲٥٦]
۲۲ – بل سبب د صحيح مسلم په حديث کښې ذکر دے: عائشه رضى الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: «د آدم عليه السلام په اولاد کښې هر يو انسان په درے سوه شپيتو

جوړونو باندې پیدا کړې شوې دې، نو چاچه الله اکبر اووئیلو، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ ئې اووئیله، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ئې اووئیله، سُبْحَانَ اللّٰهِ ئې وویله، اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ ئې اووئیله، د خلقو د لارې نه ئې کاڼړې یا ازغې یا هډوکې لرې کړو، امر بالمعروف ئې اوکړو، یائې نهی عن المنکر اوکړو د درې سوه شپیتو د شمارې هومره، نو دا کس به په دغه ورځې په داسې حال کښې روان وی چه خپل ځان به ئې د اوره بچ کړې وی »۔ په یو بل حدیث کښې دی: «ددې هر څه نه دوه رکعته د چاشت په وخت کول کافی کیږی »۔

نو چاچه دا کارونه د دغه شمیرې هومره اوکړل، نوکه چرې دا په دغه ورځ مړ شو نو دابه جنتی وی۔ (المشكاة: ١/١٦٨)

۲۳ – سبب: عباده بن صامت ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «پنځه مونځونه دی چه الله تعالیٰ فرض کړی دی، چاچه ددې اودس په ښه طریقه اوکړو، او په خپل وخت ئې اداء کړل، او ددې رکوع او خشوع ئې پوره طور سره اوکړه، نو دده دپاره د الله په ذمه دا وعده ده چه جنت ته به ئې بوځی ... الحدیث»۔ (احمد، ابوداود، مشكاة)

نو په دې کښې هم حُسنِ خاتمې ته اشاره ده۔

او ددې ټولو نه زیات صریح سبب هغه دې کوم چه په مشكاة باب المساجد (١/٧٠) کښې د دارمی او ترمذی په حواله نقل شوې دې۔ «اې محمد! تاته پته شته، ملأ اعلیٰ په څه کښې بحث مباحثه کوی؟ ما وئیلې: آو۔ په کفاراتو کښې بحث کوی۔ او کفارات داچه مسجدونو کښې د فرض مونځونو نه پس ایساریدل او جومات ته پیدل قدمونه اخستل، او د مشقت باوجود پوره اودس کول، نو چاچه دا کارونه اوکړل دابه په خیر سره ژوند تیر کړی او په خیر سره به مړ شی »۔

۲٤ – سبب: ډیره ډیره صدقه ورکول:

حدیث کښې دی: «بیشکه صدقه د رب غصه ختموی او بد مرګ د انسان نه دفع کوی»۔ (رواه الترمذي، وحسنه، وضعفه الشيخ في الضعيفة رقم: ٦٦٥، وارواء الغليل ٣/٣٩٠) ولكن له شواهد في مجمع الزوائد ٣/١١٥، والصحيحة ١٩٠٨، وصحيح الجامع الصغير: ٣٧٩٧) او دیته د الله تعالیٰ په دې قول کښې اشاره شوې ده:

﴿ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ﴾ [الليل: ٥،٦] فتفكر!

۲٥ – بیهقی په شعب الایمان کښې د اسماء بنت یزید رضی الله عنها نه روایت کوی چه دا فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « چاچه پټې شا د خپل ورور نه غیبت ختم کړو، نو

په الله باندې حقه ده چه دابه د اوره آزادوي »۔

او په يو روايت كښې داسې دي : «په الله باندې حق دي چه د قيامت په ورځ دده نه د جهنم اور لرې كړي، بيائې دا آيت تلاوت كړو : ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [روم: ٤٧]

(انظر المشكاة ٢/٤٢٤، والحديث صحيح)

نو په دې كښې هم حُسنِ خاتمې ته اشاره ده۔

٢٦ – او ددې ټولو اسبابو نه لوئې سبب د الله په كتاب باندې منګولې لګول په علم، عمل، سوچ او تلاوت كښې، په دې شان چه ددې عظيم كتاب نه خپل مخ هيڅ طرف ته وانه ړوي، ولې چه دا د زړونو او بدنونو شِفاء او د ټولو آفاتو او مصيبونو او دردونو علاج دې۔ نبي كريم ﷺ فرمائي : «ما په تاسو كښې دوه ځيزونه پريخودل تر څو چه تاسو دا دواړه ټينګ اونيسئ نو هيڅ كله به ګمراه نشئ : يو د الله كتاب، او بل زما عترت (اهلِ بيت)»۔

(رواه مسلم ٢/٢٧٩، واللفظ للترمذي وغيره)

(انظر الصحيحة ٤/٣٥٥، رقم ١٧٦١)

او په مؤطا كښې په دې الفاظو دې : «ما په تاسو كښې دوه ځيزونه پريخودل ترڅو چه تاسو دا ټينګ اونيسئ ګمراه به نشئ : يو د الله كتاب او بل زما سنت »۔

(ذكره صاحب المشكاة وهو حديث صحيح ١/٣١)

او ديته قرآن كريم كښې هم اشاره شويده :

﴿ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴾ [طه: ١٢٣]

(كه چرې تاسو ته زما د طرفه هدايت راغې، نو څوك چه زما د هدايت تابع شو نو نه به ګمراه شي (په دنيا كښې) اونه به بدبخته شي (په آخرت كښې)۔

عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائي : چاچه د الله كتاب زده كړو او بيا په دې كښې چه څه دي د هغې تابعداري ئې اوكړه، نو نه به دا په دنيا كښې ګمراه شي اونه به په آخرت كښې بدبخته شي۔ (ذكره في المشكاة ١/٣١)

٢٧ – سنت نبويه باندې منګولې لګول هم د حُسن خاتمې سبب دې : لكه د مخكنو نصوصو نه معلومه شوه۔ سنت ټينګ نيول د نجات سبب دې۔

امام مالك رحمه الله فرمائي : د سنت مثال لكه د نوح عليه السلام د كشتئ دې، څوك چه په دې كښې سور شو نجات ئې بياموند، او څوك چه ددې نه پاتې شو، هلاك شو۔(الوجيز : ص ١٢٧)۔

٢٨ – بل سبب هغه حديث دې كوم چه په مشكاة (١/٢٧٠) كښې د دارمي او ترمذي په

حواله تیر شو چه: «کفارات دا چه مسجدونو کښې د فرض مونځونو نه پس ایساریدل او جوماتو ته پیدل قدمونه اخستل، او د مشقت باوجود پوره اودس کول، نو چا چه دا کارونه اوکړل دابه په خیر سره ژوند تیر کړی او په خیر سره به مړ شی، اود ګناه نه به داسې (پاك) شی لکه په کومه ورځ چه مور زیګولے وو»۔

نو په دې مذکوره اعمالو باندې د حُسنِ خاتمې بشارت ذکر دې چه دا د استقامت اسباب دی۔

۲۹ - امام سیوطی په شرح الصدور (ص: ۱۱) کښې وائی: بعضې علماؤ وئیلی دی چه د آخرې خاتمې د خرابیدو اسباب دادی: مونځ کښې سستی کول، شراب څکل، د مور پلار نافرمانی کول، مسلمانانو له تکلیف ورکول۔

په حدیث کښې دی: «چالره چه دا خبره خوشحالوی چه بد مرګ دده نه دفع شی نو هغه له پکار دی چه صله رحمی پالی»۔ (الترغیب والترهیب: ۳/۳۳۵)



۲ - د حُسن خاتمې علامات

الله تعالیٰ دې ئې مونږ ته را نصیب کړي۔
نو دا الحمد لله ډیر زیات دي۔ ځینې شیخ البانی رحمه الله په (احکام الجنائز ص ۳٤) کښې ذکر کړي دي۔ هغه مونږ دلته ذکر کوو، او هغهٔ نه چه څه پاتې دي هغه هم ذکر کوو۔ ان شاء الله۔
الله تعالیٰ څه واضح علامات مقرر کړي دي چه د هغې په ذریعه حُسنِ خاتمه معلومیدې شي۔ الله تعالیٰ دې ئې مونږ ته را نصیب کړي۔ نو څوك چه ددې علاماتو نه په یوه علامه باندې مړ شو، نو دا به د هغه دپاره زیرې وي، او څه مزیدار زیرې دې !!

۱ - اول : مرګ په وخت کلمه شهادت وئیل :

په دې کښې ډیر احادیث دي۔ یو حدیث کښې دي (د چا چه آخره خبره : لا اله الا الله شوه، جنت ته به داخلیږي)۔ (حاکم وغیره بسند حسن)
او نبی ﷺ فرمائي : (ماته یوه داسې خبره معلومه ده چه هغه د مرګ په وخت یو بنده اووائي نو خامخا به هغې سره د هغه رنګ روښانه شي او هغهٔ نه به مصیبت لرې کړي)۔
بیا ددې کلمې تفسیر عمر ﷺ کړې دې چه دا : لا اله الا الله ده۔
(ملخصا، احمد ۱۳۸٤، ابن حبان، حاکم : ۱/۳۵۰)

۲ - د تندي په خوله باندې مرګ :

بریده رضی الله عنه په خراسان کښې وو، د خپل یو ورور چه بیمار وو تپوس له ورغې، هغهٔ ئې اولیدهٔ چه د مرګ په حالت کښې دې او د هغهٔ تندې خوله وو۔ نو بریدهؓ اووئیل : الله اکبر، ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي چه فرمائیل ئې : «مؤمن د تندي په خوله باندې مري)۔ (احمد ۵/۳۵۷، نسائي، ترمذی : ۱، ابن ماجه ۱/٤٤۳، ابن حبان، حاکم ۱/۳٦۱، مشکاة وغیره) دا معنیٰ په دې حدیث کښې ظاهره ده۔
او چا چه وئیلي دي چه دا د سختۍ نه کنایه ده، یا قیامته پورې په عبادت کښې د کوشش کولو نه کنایه ده : نو دا لرې خبره ده، چه د حدیث د ظاهر او د صحابي چه راوي ددې حدیث دې د هغه د علم نه خلاف ده۔

۳ - د جُمعې په شپه یا ورځ مړ کیدل :

خو دا - د مخکښې پشان - په مسلمان پورې خاص دې۔

عبد الله بن عمرو ﷛ نه روایت دې۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : «کوم مسلمان چه د جُمعې په ورځ یا د جُمعې په شپه مړ شی نو خامخا به ئې الله تعالیٰ د قبر د عذاب نه اوساتی»۔

(احمد ۲/۶۵۸، ۶۶۴۶، مشکاة ۱/۱۲۱۔ دا صحیح حدیث دې)

٤ - په میدان جهاد کښې شهید کیدل :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ فَرِحِيْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ... الآية﴾ [ال عمران: ۱۶۹، ۱۷۰]

(او گمان مه کوه په هغه کسانو باندې چه د الله په لاره کښې اووژلې شي چه دوئ مړهٔ دی، بلکه دوئ د خپل رب سره ژوندی دی، رزق ورکولې شی، خوشحاله دی په هغه څه باندې چه الله دوئ له د خپل فضل نه ورکړی دی، او خوشحالیږی په هغه خلقو باندې چه دوئ پورې لا پیوسته شوی نهٔ دی)۔

حدیث کښې دی «شهید دپاره د الله په نیز شپږ خویونه دی : د وینې د اولې قطرې سره هغه ته بخښنه کیږی، په جنت کښې خپله ټکاونړه وینی، د قبر د عذاب نه ورته پناه ورکولې شی، د غټ گبرا هټ نه به په امن وی، د ایمان په جوړه باندې ښائسته کولې شی، حُورِ عین (غټو سترگو والا ښائسته ښځو) سره ئې نکاح کولې شی، او د اویا رشته دارو په باره کښې دده سفارش قبلولې شی»۔

(ترمذی، ابن ماجه، احمد ٤/۱۳۱. ددې سند صحیح دې)

یو صحابی عرض اوکړو : یارسول الله ! څه وجه ده چه قبر کښې مومنانو باندې آزمائش راځی او شهید باندې نهٔ راځی ؟ وې فرمائیل : دده په سر باندې د تورې پرقا دده د امتحان دپاره کافی ده)۔ (نسائی : ۱/۲۸۹)

٥ - څوك چه الله نه په رشتیا سره دا شهادت غواړی نو هغهٔ دپاره ددې امید کیدې شی، اگرکه په خپله بستره باندې مړ شی :

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : «څوك چه د الله نه په رشتیا سره شهادت غواړی، الله تعالیٰ به ئې د شهیدانو مرتبو ته اورسوی اگرکه په خپله بستره مړ شی)۔(مسلم :۲، بیهقی ۹/۱۶۹، مستدرك کښې ددې شاهد شته دې۔ ۲/۷۷)

٦ - څوك چه د الله په لاره کښې مړ شی :

برابره خبره ده چه اوښ ورله څټ مات کړی، یا ئې مار لړم وغیره اوچیچی، یاپه خپله

بستره بانـدې مړ شي، په هريو مرگ بانديې چه مړ شي نو دا شهيد دې، او دده دپاره جنت دې۔لکه دا حديث په (ابوداود ۳۹۱/۱، حاکم ۷۸/۲، بيهقي ۱٦٦/۹) کښې موجود دې۔

۷ - په طاعون بانـدې مړ کيدل شهادت دې :

نبي ﷺ فرمائي : « طاعون د هر مسلمان دپاره شهادت دې »۔(بخاري، مسلم)

۸ - د خيټې درد نه مړ کيدل :

حديث کښې دي « چالـه لره چه خيټه اووژني هغه شهيد دې »۔ « او څوك چه د خيټې په درد کښې مړ شي هغه شهيد دې »۔مسلم۔

يو بل حديث کښې دي : « څوك چه د خيټې درد نه مړ شي، هغه له به په قبر کښې عذاب نه وي)۔(نسائي، ۲۸۹/۱، ترمذي، ابن حبان، احمد ۲٦۲/٤۔ دا دَ اوګد حديث يوه ټکړه ده)۔

۹ - چا باندې چه ديوال وغيره را پريوزي.

۱۰ - چالره چه اوبه يوسي. (اوبه ئې ډوب کړي) :

ابـو هـريـره رضـي الله عنه نه روايت دې، نبي ﷺ فـرمائي : « شهيـدان پـنـځه دي : طاعون وهلې، د خيټې درد نه مړ، اوبو کښې ډوب شوې، ديوال نه را پريوتې، او په جهاد کښې شهيد شوې »۔ (مسلم، ترمذي، احمد : ۳۲۵/۲)

۱۱ - په ماشوم باندې د زنانه مړينه :

حديث کښې دي : « د مسـلمان قتـل کيدل شهادت دې، طاعون شهادت دې، او ماشوم چه زنانـه لـره اووژني شهـادت دې۔ مـاشوم به څپله دا مور د خپل نوم په غوټئ سره جنت ته راکاږي »۔(احمد : ۲۰۱/٤، دارمي ۲۰۸/۲)

۱۲ - په اور بانديې سوې شهيد دې :

۱۳ - ذات الجنب بيمارئ باندې مړ شهيد دې :

او ذات الـجـنـب يوه داسې بيماري ده چه په دې کښې پښتيو کښې پړسوب پيدا شي او تبه ورسره وي۔

حديث کښې دي « او ذات الجنب والا شهيد دې، او په اور سوې شهيد دې ـ۔۔ الحديث »۔

(موطأ امام مالك ۲۳۲/۱، ابوداود، نسائي، احمد ٤٤٦/٥)

۱٤ - نرى مرض باندې مرګ شهادت دې :

حديث کښې دي : « نرئ مرض بانديې مړ کيدل شهادت دې »۔

(مجمع الزوائد ۳۱۷/۲، ۳۰۱/٥)۔ او دا صحيح حديث دې۔

۱۵ - څوك چه د خپل مال په حفاظت كښې مړ شو، شهيد دے

حديث كښې دي (څوك چه د خپل مال په حفاظت كښې مړ شو)۔ په يو بل روايت كښې دي (چانه چه په ناحقه مال اخستل كيدۀ او جنګ ئے ورسره اوكړو او قتل كړے شو نو دا شهيد دے)۔ (بخاري، مسلم، ابوداود، وغيره)۔

۱۶ - د خپل ځان په دفاع كښې مړ كيدل شهادت دے:

۱۷ - د خپل اهل او عيال نه په دفاع كښې مړ كيدل :

حديث كښې دي « څوك چه د خپل مال په دفاع كښې مړ شو، شهيد دے، او څوك چه د خپل اهل په دفاع كښې مړ شو، شهيد دے، او څوك چه د خپل دين په دفاع كښې مړ شو شهيد دے، او څوك چه د خپلے وينے په دفاع كښې مړ شو شهيد دے »۔

(ابوداود، ترمذي، احمد وغيره)

او حديث كښې دي « څوك چه د خپل وهلى حق په دفاع كښې مړ شو نو دا شهيد دے)۔ (نسائي : ۲/۱۷۳)۔ نو دا عام دے۔

۱۸ - په جهاد كښې سرحدات ساتل :

حديث كښې دي (د هر مړي عملونه بنديږي، سوا د هغه چانه چه د الله په لاره كښې د سرحداتو په حفاظت كښې ئے ځان تړلے وي، دده عمل تر قيامته پورے زياتيږي، او د قبر د عذاب نه په امن وي)۔ (ابوداود ۱/۳۹۱، ترمذي، حاكم ۲/۱٤٤، احمد ٦/۲۰)

او حديث كښې دي (يو شوا روز د دشمن په مخ كښې مورچه زن كيدل د يوے مياشتے د روژو او تهجدو نه غوره دي، اوكه دا په دے حالت كښې مړ شو نو دده دا عمل به دغسے جاري وي، او ده ته به دده رزق ورجاري شي، او په امتحان كښې اچونكى نه به په امن وي)۔

(مسلم، نسائي، وغيره)

۱۹ - په نيك عمل باندے مړ كيدل :

دا د ښائسته خاتمے علامه ده۔

حذيفه ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چاچه لا اله الا الله د الله د مخ طلب كولو دپاره اووئيله اوپه دے باندے دده د عملونو خاتمه اوشوه، نو جنت ته به داخليږي، اوچاچه د الله د مخ طلب كولو دپاره يوه ورځ روژه اونيوله اوپه دے باندے دده د عملونو خاتمه اوشوه، نو جنت ته به داخليږي »۔ (احمد ٥/۳۹۱) دا صحيح حديث دے۔

دا علامات شيخ الباني رحمه الله ذكر كړي دي، ما مختصر را نقل كړل۔ اوس مونږ دے نه

علاوه نور هم ذکر کوو:

۲۰ - يو صحيح حديث کښې دي چه نبي ﷺ اوفرمائيل: « د طاعون نه تختيدونکے داسے دے لکه د ميدانِ جهاد نه تختيدونکے، او چا چه په طاعون کښې صبر اوکړو، نو هغه دپاره به د شهيد اجر وي ». (احمد ۱۲٦/٥ ـ ديته الباني په الصحيحة ۲۸۲/۳، کښې صحيح وئيلے دے).

۲۱ - د غرهٔ وغيره نه رارغښتل شهادت دے

۲۲ - درنده چه چا لره اوخوري شهيد دے:

ابن مسعود ﷺ فرمائي (څوك چه د غرونو د څوکو نه را اورغړي، يائے درندګان اوخوري، ياپه سمندرونو کښې ډوب شي، نو دا د الله په نيز شهيد دے).

(عبد الرزاق ۲۲۹/٥، الطبراني في الكبير ۳٤٥/۹، باسناد حسن)

اودا داسے خبره ده چه په رائے سره نهٔ وئيلے کيږي. نو دا په حکم د مرفوع حديث کښې دے. او ددے درے واړو کسانو شهادت څه بعيده خبره نهٔ ده، ځکه په دے کښې - د مذکوره نورو کسانو غونته - ډير زيات مشقت دے. (فتح المالك ٤/۳۲۸)

۲۳ - چا باندے چه په سمندر کښې سر اوګرزي او قے ورشي نو دده دپاره د شهيد اجر دے: (ابوداود رقم ۳٤۹۳، بيهقي ٤/۳٥ ـ ددے سند حسن دے).

۲٤ - رښتينے امانتدار تاجر به د قيامت په ورځ شهيدانو سره وي.

(حاکم ۷/۲، ترمذي، ابن ماجه ـ والحديث حسن لغيره).

۲٥ - څوك چه د مسلمانانو ښهرونو ته طعام ورليږي، نو هغهٔ دپاره د شهيد ثواب دے.

(رواه الديلمي والسهمي. والحديث حسن، کما في تعليق أبواب السعادة ص ۷۸)

۲٦ - عروهؒ نه روايت دے چه په مِنیٰ کښې د ابو سفيان بن حارث ﷺ سر نائي اوخرئيلو او د هغه په سر کښې دانے وے، هغه ئے ورله وينے کړے او هغه د هغے نه وفات شو، نو خلقو به وئيلے چه دا شهيد دے. اودا صحيح موقوف حديث دے.

(الحاکم ۲۸٦/۳، انظر أبواب السعادة في أسباب الشهادة للسيوطي تحقيق منير)

دے باره کښې نور ضعيف احاديث راغلي چه هغه مونږ په الدين الخالص (۷ جلد) کښې ذکر کړي دي.

نو دا ټول د حُسن خاتمے اسباب دي. الله تعالیٰ دے مونږ له په هغے مرګ راکړي. آمين!

۞۞۞۞۞۞۞۞۞

۳۲ - فائده : اقوال زرین

دَ علم او حکمت خبرے

روايت دے چه الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته وحی اوکړه چه : خپل ځان ته نصیحت اوکړه ! که چرے تا نصیحت قبول کړو نوبیا خلقو ته نصیحت کوه، اوکه نه نو بیا مانه حیاء اوکړه۔ (أدب الدنيا والدين ص ۲۲)

ابو الأسود الدئلي رحمه الله وائی :

يَا أَيُّهَا الرَّجُلُ الْمُعَلِّمُ غَيْرَهُ ... هَلَّا لِنَفْسِكَ كَانَ ذَا التَّعْلِيْمُ
تَصِفُ الدَّوَاءَ لِذِي السَّقَامِ وَذِي الضَّنٰى ... كَيْمَا يَصِحَّ بِهِ وَأَنْتَ سَقِيْمُ
إِبْدَأْ بِنَفْسِكَ فَانْهَهَا عَنْ غَيِّهَا ... فَإِذَا انْتَهَتْ عَنْهُ فَأَنْتَ حَكِيْمُ
فَهُنَاكَ تُعْذَرُ إِنْ وَعَظْتَ وَيُقْتَدٰى ... بِالْقَوْلِ مِنْكَ وَيُقْبَلُ التَّعْلِيْمُ
لَا تَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَأْتِيَ مِثْلَهُ ... عَارٌ عَلَيْكَ إِذَا فَعَلْتَ عَظِيْمُ

(ترجمه : اے هغه سړیه چه بل چاته تعلیم ورکونکے ئے ! دا تعلیم دے خپل ځان له ولے نه ورکوے ؟ ته بیمارانو او کمزورو ته دوائی وربنائے دے دپاره چه هغوئ روغ شی حال دا چه ته خپله بیمار ئے۔ پکار ده چه اول شروع د خپل ځان نه اوکړے او دا د خپلے سرکشئ نه منع کړے نو کله چه دا ددے نه منع شو نو ته حکیم ئے۔ نو اوس که ته وعظ نصیحت کوے نو ته به معذوره ګنړلے شے او ستا تعلیم به قبلیږی او ستا د خبرے اقتداء به کولے شی۔ هغه خویونو نه خلق مه منع کوه چه هغے ته خپله راتګ کوے، دا خو لوئے شرم دے که دا کار اوکړے۔(حاشية الترغيب : ۱/، أدب الدنيا ص ۲۲)

عیسیٰ علیه السلام فرمائی : د دنیا طلبګار داسے دے لکه د سمندر اوبه څکونکے، څومره ئے چه زیاتے څکی هغومره تګے کیږی۔ (البداية : ۸۲/۱)

★ یو راهب عبد الواحد بن زید رحمه الله ته اووئیل : که تهٔ غواړے چه علمِ یقین اوپیژنے نو د خپل ځان او د خواهشاتو ترمینځه د وسپنے دیوال اووهه۔ (الحلية : ۱۵۵/٦)

★ صالح المری رحمه الله فرمائی : د ژړا ګنړ اسباب دی۔ یو په ګناهونو کښے فکر کول۔ که زړونو ددے قبول والے اوکړو نو ښه ده، اوکه نه وی نو بیا دا د قیامت موقف او د هغے سختیو او

تکليفونو ته نقل کړه، که قبول والے ئے اوکړو نو ښه ده، ګنے بیا په هغے باندے د اور په طبقو کښے آوښتل را وښتل پیش کړه۔ (الحلية: ٦/١٦٧)

★ عیسیٰ علیه السلام فرمائی: رشتیا درته وایم چه: ځوك جنتِ فردوس غواړی نو د وُربشو روټئ او په غوجل کښے د سپو سره اودهٔ کیدل هم ډیر څه دی۔ (البداية: ١/٨٣)

★ دارنګه فرمائی: شیطان د دنیا سره دے، د هغه فکر د مال سره دے، د هغهٔ ښائسته والے د خواهش سره دے، او د هغه تسلط د خوندونو او مزو سره دے۔ (حواله سابقه)

★ دارنګه فرمائی: لکه څنګه چه بادشاهانو تاسو ته حکمت پریښے دے نو دغه شان تاسو هغوئ ته دنیا هم پریدئ۔

★ دارنګه فرمائی: اے د حوارینو ډلے! خپلے خزانے په آسمان کښے جوړے کړئ ځکه د انسان زړهٔ هلته وی چرته چه ددهٔ خزانه وی۔ (البداية: ١/٨٢)

★ حسن بصریؒ فرمائی: فقیه دیته وائی چه په عبادت کښے کوشش کوی، په دنیا کښے بے رغبته وی، او د رسول الله ﷺ په سنت باندے مضبوط ولاړ وی۔

★ ابو حاتمؒ فرمائی: عالم هغه وخته پورے عالم کیدے نشی تر څو چه په دهٔ کښے درے خویونه نه وی: خپل ځان نه ښکته خلق سپك نه ګڼړی، او د خپل ځان نه پورته خلقو سره حسَد نه کوی، او په خپل علم باندے دنیا نهٔ اخلی۔(دواء القلوب ص: ١٩٣)

★ طاووسؒ فرمائی: په دنیا کښے بے رغبته کیدل زړهٔ او بدن له راحت ورکوی۔ او په دنیا کښے رغبت کول غم او خفګان زیاتوی۔

دا په مرفوع او مرسل روایت کښے هم روایت شوی دی۔ (الزهد للامام احمد ص ١٦)

★ حدیث کښے دی: (کله چه تهٔ الله اووینے چه د ګناهونو باوجود بنده له د بنده محبوب څیزونه ورکوی نو دا استدراج دے۔ بیائے د الله تعالیٰ دا قول تلاوت کړو۔

﴿ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ [الانعام: ٤٤]

(الزهد ص: ٧)

★ ابو الجوزاءؒ نه نقل دی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «آیا زهٔ تاسو د جنت او اور والا اونهٔ ښایم؟ جنت والا هغه کسان دی چه د هغوئ غوږونه د ښو صفتونو آوریدو نه ډك وی۔ او اور والا هغه څوك دی چه د هغوئ غوږونه د بدو آوریدو نه ډك وی»۔

(مرسل صحیح، الزهد ص: ١٩)۔ دابه روسته هم راشی۔

★ عبد الله بن شداد رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «څوك چه وړیٔ آغوندی، ګډه

بزه را لشی، په خرۀ باندې سورلی کوی، او دَ ښکته سرې یا دغلام دعوت قبلوی، نو د تکبر نه هیڅ شې په دۀ نه لیکلې کیږی»۔

(الزهد ص : ۲۰، الترمذی مختصرا : ۲)

★ حدیث کښې دی : (اے عائشې ! د وړو وړو گناهونو نه ځان ساته، ولې چه د الله د طرفنه ددې حساب کونکې شته دې)۔ (الزهد ص : ۲۱)

★ المدارج کښې دی : د الله سره د خلقو نه بغیر ملگرې شه اود خلقو سره د نفس نه بغیر ملگرې شه۔ (جامعې کلمې دی)۔ (۲/۳۲٦)

او په هغې کښې دی : څلور خیزونه دی چه ذلت ورسره سخت عشق لری : دروغژن، چغلخور، بخیل او زورور۔ (۲/۳۲۷)

★ سعید بن جبیرؒ فرمائی : الله باندې توکل کول ایمان راجمع کونکې دې۔ (الزهد ص : ۲٦)

★ ابو مسلم خولانیؒ فرمائی : په دنیا کښې زهد او بې رغبتی دیته نۀ وائی چه حلال حرام اوگنړلې شی او مال ضائع کړې شی، بلکه بې رغبتی دیته وائی چه تۀ په هغه څه باندې کوم چه د الله په لاس کښې دی زیات اعتماد اوکړې د هغه څه نه کوم چه ستا په لاس کښې دی۔ او کله چه تاته څه مصیبت اورسی نو تۀ د هغې د اجر اوثواب ډیر امید اولرې او دا آرمان کوې چه دا په تا باندې همیشه دپاره وې۔ (الزهد ص ۲۵)

★ ابی بن کعب ﷺ فرمائی : چا چه په داسې حال کښې صبا کړو چه غټ فکرئې د الله نه علاوه بل شې وو، نو ددۀ د الله سره هیڅ تعلق نشته۔ (الزهد ص : ۴۲)

★ قتادهؒ فرمائی : نیك عمل انسان لره اوچتوی کله چه اوخوېږی، اوکله چه پریوزی نو متکأئې مومی۔ (الزهد ص : ۴۴)

★ په صحیح حدیث کښې دی (اې د آدم ځویه ! زما عبادت له وخت ورکړه، زۀ به ستا سینه د مالدارئ نه ډکه کړم او فقر به دې ختم کړم، اوکه دا کار دې اونه کړو نو لاس به دې د کار نه ډك کړم او فقر به دې ختم نه کړم۔ (الزهد ص : ۴٦)

★ شمیطؒ فرمائی : دا روپئ او اشرفئ د منافقانو واگی دی چه ددې په ذریعه دوئ بدو طرفته راخکلې شی۔ (الزهد ص : ۴۷)

★ حسن بصریؒ فرمائی : قسم په الله ! چا باندې چه الله عز وجل فراخی راولی او دا ددې نه نۀ یریږی چه ماسره به مکر شوې وی، نو ددې کس علم کم او عقل ئې کمزورې دې۔ او چانه چه دُنیا بنده شوه او هغۀ دا گمان اونه کړو چه په دې کښې دده خیر دې، نو ددۀ علم کم

او عقل ئې كمزورې دې۔(الزهد ص : ٤٨)

★ سليمان عليه السلام فرمائي : مونږ نرم او سخت ژوند وازمائيلو، نو مونږ ته پته اولګيده چه ددې ادنیٰ حصه كفايت كوي۔(الزهد ص : ٥١)

دارنګه فرمائي : مونږ له هغه شې راكړې شو كوم چه خلقو له وركړې شوې دې، او هغه شې هم راكړې شو، كوم چه خلقو له نه دې وركړې شوې او مونږ له د هغه څيزونو علم راكړې شو كوم چه خلق پيژني او د هغه څيزونو هم چه هغه خلق نه پيژني، نو مونږ د درې خبرو نه زيات بهترين هيڅ شې اونه موندلو : په رضا او غصه كښې صبر كول، په فقر او مالدارئ كښې درميانه روي كول، او پټ او ښكاره د الله نه يره كول۔(الزهد ص : ٥١)

★ ابو العاليهؒ فرمائي : ماته د نبي كريم ﷺ ملګرو وئيلي دي : اې ابو العاليه ! د غيرُ الله دپاره هيڅ عمل مه كوه، ګنې الله تعالیٰ به دې هغه چاته اوسپاري چا دپاره چه دې عمل كړې دې۔

★ لقمانؒ خپل ځوئې ته اووئيل : اې ځويه ! د الله طاعت نه تجارت جوړ كړه، د پنګې نه بغير به تاته ګټې راځي۔

دارنګه فرمائي : اې ځويه ! الله نه يريږه او خلقو ته دا مه وربنايه چه ګنې ته د الله عز وجل نه يريږې دې دپاره چه هغوئ په دې باندې ستا عزت اوكړي حال دا چه ستا زړۀ بدكاره دې۔ (الزهد ص : ٦٤)

دارنګه خپل ځوئې ته ئې اووئيل : زۀ هيڅ كله په خاموشئ باندې نه يم خپيمانه شوې، كه خبرې د سپينو زرو وي، نو خاموشي د سرو زرو ده۔

دارنګه تپوس ترې اوشو : خلقو كښې بدترين څوك دې ؟ وئيلې : هغه څوك چه دا باك نه كوي چه خلق به ئې په بدئ باندې اوويني۔

★ مالك بن دينارؒ فرمائي : ستا دپاره په دې كښې خير نشته چه ته علم كوې تر څو چه ته عمل اونه كړې۔ وائي : ددې مثال داسې دې لكه يو سړې لرګي راجمع كړي او د هغې نه ګيډې اوتړي بيا هغه بارول غواړي خو د هغې نه عاجز شي او هغې سره نور هم يو ځائې كړي۔ (الزهد ص : ٦)

★ وهيب مكيؒ فرمائي : تورات يا بعضې كتابونو كښې ليكلي دي : اې د آدم ځويه ! ته چه كله غصه شې نو ما يادوه، زۀ چه كله غصه شوم نو تا به يادوم، نو څوك چه زۀ تباه كول غواړم په هغوئ كښې به تا نۀ تباه كوم، اوكله چه تا باندې ظلم اوشي نو د خپل ځان د

نصرت په ځائے باندے زما په نصرت باندے چه تاسره ئے کوم راضي شه۔

★ محمد بن کعب القرظی ؒ فرمائی: نوح علیه السلام به چه کله خوراك کولو نو فرمائیل به ئے: الحمد لله، اوکله به ئے چه څکاك کولو نو فرمائیل به ئے: الحمد لله، اوکله به ئے چه جامه اغوستله نو فرمائیل به ئے: الحمد لله۔ اوکله به چه سوریدلو نو فرمائیل به ئے: الحمد لله۔ نو ځکه ورته الله شکر گذار بنده اووئیلو۔ (الزهد ص: ٦٦)

★ بدائع الفوائد او بدائع التفسیر کښې دی: بعضے عارفینو فرمائیلی دی: که چرے یو بنده الله ته دومره دومره کاله توجه اوکړی، خو بیا د هغه نه یوه لحظه واوړی نو څه چه دۀ نه فوت شو هغه د هغه څه نه زیات دی کوم چه دۀ ته حاصل شوی دی۔

★ عون بن عبد الله ؒ فرمائی: تاسو نه مخکنو خلقو به دنیا دپاره هغه څه گرزول کوم به چه د آخرت نه زیاتی شو۔ او نن تاسو د خپل آخرت دپاره هغه څه گرزوئ کوم چه ستاسو د دنیا نه زیاتی شی۔ (الحلیة: ٤/٢٤٢)

★ عروة ؒ فرمائی: حکمت کښې ئے لیکلی دی چه: اے ځویه! ستا تندے دے فراخه وی او ستا خبره دے خوږه وی، نو تۀ به خلقو ته ددے نه زیات محبوب شے چه هغوئ له څه ورکړے۔ (روضة العقلاء ص: ٧٥)

★ عبد الله بن حبیق ؒ فرمائی: پخوا به وئیل کیدۀ چه: شریف سړی سره خوش طبیعتی مه کوه گنے کینه به ئے درسره پیدا شی، او رذیل سره خوش طبیعتی مه کوه گنے زړوَر به شی درباندے۔ (الروضة ص: ٧٧)

★ آکام المرجان ص ٢٤٤، کښې دی: بعضو با عمله علماؤ ذکر کړی دی چه: الله تعالیٰ په یو آیت کښې دوه حکمونه فرض کړی او خلق د هغے نه غافل دی۔ تپوس اوشو۔ هغه څه دی؟ وئیلے: الله رب الجلیل فرمائی: ﴿ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ﴾ [فاطر: ٦] (بیشکه چه شیطان ستاسو دشمن دے نو په دشمنئ ئے اونیسئ)۔

نو دا د الله سبحانه وتعالیٰ د طرف نه مونږ ته حکم دے چه شیطان په دشمنئ اونیسو۔ تپوس اوشو، مونږ به ئے څنګه خپل دشمن جوړ کړو او هغه نه به خلاص شو؟ وئیلے: پوهه شه چه الله تعالیٰ د هر مؤمن دپاره **اووه قلعے** پیدا کړی دی:

(۱) اوله قلعه: د سرو زرو ده او هغه د الله معرفت دے۔

(۲) ددے نه گیر چاپیره د سپینو زرو قلعه ده او هغه په الله ایمان دے۔

(۳) اوددے نه گیر چاپیره د وسپنے قلعه ده او هغه په الله توکل دے۔

(٤) او ددے نه ګیر چاپیره د کانړي قلعه ده او هغه شکر او د الله نه راضي کیدل دي۔
(٥) او ددے نه ګیر چاپیره د کودونړي (تیکرکي) قلعه ده او هغه د نیکئ حکم او د بدئ نه منع او ددے اهتمام کول دي۔
(٦) او ددے نه ګیر چاپیره د زمرودو قلعه ده، او هغه صدق او الله تعالیٰ دپاره اخلاص دے۔
(٧) او ددے نه ګیر چاپیره د لمدو ملغلرو قلعه ده، او هغه د نفس أدب دے۔
نو مؤمن ددے ټولو قلعو په مینځ کښے دے۔ او ابلیس ددے نه اخوا دے او لکه د سپي غونته غاپي۔ مؤمن په دے هیڅ باك نه کوي، ځکه مؤمن په دغه قلعو کښے خپل ځان مضبوط کړے دے۔ نو مناسب دي چه په خپلو ټولو احوالو کښے ادب النفس پرے نه ګدی او په خپل هیڅ عمل کښے ددے په باره کښے سستي اونه کړي الخ۔
(دا ډیر مفید کلام دے)۔

★ میمون بن مهرانؒ فرمائي : د درے څیزونو په وجه خپل نفس په آزمایش کښے مه اچوه۔ هغه دا چه : په بادشاه باندے مۀ ورداخلیږه اګرکه تۀ وائے چه زۀ به ورته د الله د طاعت حکم اوکړم۔ او په پردئ ښځه باندے مه ورداخلیږه اګرکه تۀ وائے چه زۀ ورته د الله کتاب ښایم۔ او خپل غوږ بدعتي ته مه ګده، ځکه هغه اثر تۀ نه پیژنے کوم چه ستا په زړۀ باندے د هغه د وجے نه کیږي۔ (الحلية : ٤/٨٥)

★ میمون بن مهرانؒ فرمائي : انسان هغه وخته پورے په متقیانو کښے نه حسابیږي تر څو چه خپل نفس سره د خپل شریك نه هم زیات حساب اونه کړي، تردے چه دۀ ته پته اولګي چه ددۀ خوراك د کوم ځائے نه دے، څکاك ئے د کوم ځائے نه دے، لباس ئے د کوم ځائے نه دے ؟ آیا د حلالو نه دے اوکه د حرامو نه ؟ (الحلية : ٤/٨٩) دا ډیر مفید کلام دے۔

امام شعبيؒ فرمائي :

إِذَا أَنْتَ لَمْ تَعْشِقْ وَلَمْ تَدْرِ مَا الْهَوٰى   فَأَنْتَ وَعِيْرٌ بِالْفَلَاةِ سَوَاءُ

(کله چه تۀ عشق نه کوے او دا هم نۀ پیژنے چه محبت څه شے دے ؟ نو تۀ او صحرائي خر سره برابر ئے)۔ (الحلية : ٤/٣٢٨)

★ زیاد بن جریر الأسلميؒ فرمائي : هغه قوم فقهاء نشول چه هغوئ تقویٰ ته اونه رسیدل۔ (الحلية : ٤/١٩٧)

★ مالك بن دینارؒ فرمائي : په عمل باندے خوف دادے چه د عمل نه به دا زیات قبول نشي۔ (الحلية : ١/٢٧٧)

★ میمون بن مهران حسن بصریؒ ته اوفرمائیل : ماته نصیحت اوکړه، نو هغهٔ دا آیت اولوستلو : ﴿اَفَرَءَيْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِيْنَ ثُمَّ جَآءَهُمْ مَّا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ﴾ [الشعراء: ٢٠٥، ٢٠٧]۔

(آیا تا په دے باندے سوچ کړے چه که مونږ دوئ له څو کاله فائدے ورکړو بیا دوئ ته هغه شے راشی چه دوئ سره ئے وعده کیدے شوه نو دفع به نه کړی د دوئ نه هغے شے چه دوئ له فائدے ورکولے شوے)۔

نو میمونؒ وئیلے : تا نصیحت اوکړو او پوره نصیحت دے اوکړو۔

★ ابن قیم رحمه الله فرمائی : دا په زهد کښے پوره بلیغ آیت دے۔

(فتح البیان للصدیق حسن خانؒ)

★ اوزاعیؒ فرمائی : منافق خبرے ډیرے کوی او عمل کم۔ او مؤمن خبرے کمے کوی او عمل ډیر۔ (الحلیة : ٦/١٤٢)

او فرمائی : د محمد ﷺ صحابهؓ او د هغوئ تابعینؒ په پنځو خبرو ولاړ وو : جماعت ټینګ نیول، اتباعِ سُنت، جوماتونه آبادول، د قرآن کریم تلاوت او د الله په لاره کښے جهاد۔

دارنګه فرمائی : اے ابو سعیده ! مونږ خو به خوش طبیعتی او خندا کوله، خو اوس چه کله خلق زمونږ اقتداء کوی نو زما په خیال مونږ له مُسکا هم مناسب نهٔ ده۔ (همدغه حواله)۔

★ د زړهٔ سختی یو داسے مصیبت دے چه ددے خاوند په دے نه پوهیږی، اوما د زړهٔ د سختئ پشان هیڅ یو مصیبت نه دے لیدلے چه د هغے نه د هغے خاوند غافل وی۔

(ابو محمد)

★ ما فکر اوکړو، نو د زړونو په نرمونکو څیزونو کښے مے دوه څیزونه ډیر ښهٔ بیاموندل (١) تدبرِ قرآن (٢) غمونه۔ لکه د مسکینانو او یتیمانو لیدل۔ (ابو محمد)۔

★ د انسان زړهٔ خرابونکی دوه څیزونه دی۔ شهوت، او د میلمنو کثرت۔ (ابو محمد)

★ علی ﷺ فرمائی : ما د مرګ نه علاوه بل هیڅ یو حق شے نهٔ دے لیدلے چه د باطل سره مشابه وی، او ما د دنیا نه علاوه هیڅ یو باطل شے نهٔ دے لیدلے چه د حق سره مشابه وی۔ (حاشیة صید الخاطر ص : ٢٥)

★ څه عجیبه معامله دے ده، چه ته په یوه خبره یقین لرے او بیائے هیروے، فی الحال ضرر په یو شئ کښے موجود دے او بیا هم په هغے کښے ورننوځے۔ او د خلقو نه یریږے او الله ددے زیات لائق دے چه هغه نه یره اوکړے۔ (صید الخاطر ص : ٢٥)

★ په کوم شئ باندے چه ستا گمان دے په هغے باندے نفس له غلبه ورکړه، او په کوم شئ باندے چه ستا یقین دے په هغے باندے ورله غلبه مه ورکوه۔ (حواله سابقه)

★ څوك چه د دنيا په انجامونو کښے فکر اوکړی نو بيداری حاصلوی، او څوك چه د لارے د اوگدوالی يقين لری هغه سفر له تيارے کوی۔ (حواله سابقه)

★ د بندولو او قابو کولو زيات لائق دوه څيزونه دی : ژبه او سترگه۔ او څوك چه فتنے ته نزدے کيږی، سلامتيا به ترے لرے کيږی۔ او څوك چه د صبر دعویٰ کوی نو خپل نفس ته به اوسپارلے شی۔ او غټه عذاب دا دے چه عذاب والا په عذاب باندے نه پو هيږی۔ او د همدے نه دے دا چه انسان په هغه شئ باندے خوشحاله شی چه هغه عذاب وی لکه په حرام مال باندے خوشحالی او په گناهونو باندے قدرت۔ (صيد ص : ۲۸)

★ ابن جوزیؒ فرمائی : چهٔ زهٔ يواځے خپل ځانله نفع ورکړم دا ماته ددے نه غوره ده چه بل چاته نفع ورکړم او ځان ته ضرر۔ (صيد ص : ۲۸) مفيده خبره ده۔

★ د هوښيارانو وينا ده : چاچه خپله جامه پاکه کړه غم به ئے کم شی۔ او د چا خوشبوئے چه زياته شی، عقل به ئے زيات شی۔ (صيد : ۱۳۱)

★ څوك د يخنئ او گرمئ نه ډير زيات ځان ساتی نو دهٔ حکمت التيه کړو۔ الله تعالیٰ يخنی د ډيرو فائدو دپاره پيدا کړے ده۔ دغه شان گرمئ کښے هم ډيرے فائدے دی۔ نو کله چه انسان ددے په بچاؤ کښے مبالغه کوی نو دے حکمت التيه کوی۔ قابلِ فکر خبره !

(صيد ص : ۱۳۲)

★ د خس او خشاك په ځائے کښے اوده کيدل، سره د سلامتيا د زړهٔ نه، دا دَ بادشاهانو د تکيه گانو نه ډيره خوندور دی۔ (صيد ص : ۲۰۷)

وَلَمْ أَرَ فِيْ عُيُوْبِ النَّاسِ عَيْبًا كَنَقْصِ الْقَادِرِيْنَ عَلَى التَّمَامِ

(ما د خلقو په عيبونو کښے ددے عيب پشان بل هيڅ يو عيب نه دے ليدلے چه څوك په پوره کولو باندے قادر وی او بيا هم نيمگړتيا پريدی)۔

★ سفيان ثوریؒ به ځان سره په سفر کښے فالوده او وريت کړے پسهٔ وړلو او وئيل به ئے : څناور ته چه گياه ښه اچوے نو کار کوی۔ (صيد ص : ۹۵)

★ عروهٔ فرمائی : په حکمت کښے ئے ليکلی دی چه : نرمی د حکمت سر دے۔ دارنگه ليکلی ئے دی : اے ځويه ! ستا خبره دے خوږه وی، ستا تندے دے فراخه وی، تهٔ به خلقو ته ددے نه زيات محبوب جوړ شے چه هغوئ ته څه ورکړے۔ (الزهد ص : ٦٥، وقد تقدم)

★ نوح علیه السلام فرمائی: اے ځویه! قبر ته په داسے حال کښے مه داخلیږه چه ستا په زړهٔ کښے د ذرے هومره الله سره شرك وی، ځکه څوك چه الله سره د شرك په حالت کښے ملاؤ شی نو د هغهٔ به هیڅ دلیل نهٔ وی۔ او اے ځویه! قبر ته په داسے حالت کښے مه داخلیږه چه ستا په زړهٔ کښے د ذرے هومره تکبر وی۔ ځکه کبر د الله څادر دے، او څوك چه الله سره د هغهٔ په څادر کښے جګړه کوی هغه ورته غصه کیږی۔ او اے ځویه! قبر ته په داسے حالت کښے مه داخلیږه چه ستا په زړهٔ کښے د ذرے هومره نا امیدی وی، ځکه د الله د رحمت نه صرف ګمراه سړے نا امیده کیږی۔(الزهد ص: ٦٧)

★ وهبؒ فرمائی: الله تبارك وتعالی بنی اسرائیلو ته په ځینو خبرو کښے فرمائیلی دی: کله چه زما اطاعت کیږی نو زهٔ راضی کیږم، اوکله چه زهٔ راضی شم نو برکت کوم، او زما د برکت انتهاء نشته۔ او کله چه زما نافرمانی کیږی غصه کیږم، اوکله چه زهٔ غصه شم لعنت کوم او زما لعنت اووم پُشت ته رسیږی۔(الزهد ص: ٦٩)

دارنګه فرمائی: الله تبارك وتعالی فرمائی: کله چه بنده په ما باندے توکل اوکړی نو که زمکه او آسمانونه هغهٔ ته چلونه جوړ کړی نو خامخا به ورله زهٔ د خلاصی ځائے پیدا کړم۔ (الزهد ص: ٦٩)

★ عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمائی: علم زده کوئ او د علم دپاره سکینه او بردباری زده کوئ۔ او په یو روایت کښے دی: او څوك چه تاسو نه زده کړه کوی هغوئ ته عاجزی کوئ او هغه چاته هم عاجزی کوئ چانه چه تاسو څه زده کړه کوئ، او جابره (زورور) علماء مه جوړیږئ ګنے ستاسو علم به ناپوهئ ته نه تینګیږی۔

(الجامع لاخلاق الراوی وآداب السامع: ۹۳/۱۔ او دا مرفوع هم روایت شوے دے، کما فی المجمع ۱۲۹/۱)

★ حبیب بن حجر قیسیؒ فرمائی: پخوا به دا وئیلے شو چه: هغه ایمان څه ډیر ښائسته دے چه هغے له علم ښائسته کړی، او هغه علم څه ښائسته دے چه هغے له عمل ښائسته کړی، او هغه عمل څه ښائسته دے چه هغے له نرمی ښائسته کړی، او هیڅ یو شے بل شئ سره نهٔ دے یوځائے شوے چه هغه د صبر پشان وی چه علم سره وی۔(حواله سابقه: ۹٤/۱)

★ ثوریؒ فرمائی: حدیث په خپلو نفسونو سره ښائسته کړئ او خپل ځانونه په حدیث سره مهٔ ښائسته کوئ۔

(جامع بیان العلم وفضله: ۱۲٦/۱، او حواله بالا)

★ سفیان بن عیینهؒ فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو نه لویه تله ده، په هغوئ باندے به

ځیزونه تللي کیږي، د هغوئ په اخلاقو، سیرت او وضع رفع باندے۔ نو څه چه ددے سره موافق شي هغه حق دے او څه چه ددے نه خلاف شي نو دا باطل دے۔

(الجامع لاخلاق الراوی وآداب السامع : ۱/۷۹)

★ ابن سیرینؒ فرمائي : صحابه کرامو ؓ به وضع قطع داسے زده کوله لکه څنګه چه تاسو علم زده کوئ۔ او ابن سیرینؒ یو سړے اولیږلو نو هغه اوکتل چه د قاسمؒ هدی او حالت څنګه دے ؟ (حواله سابقه)

★ عبد الله بن مبارکؒ فرمائي : ماته مخلد بن حسینؒ اوفرمائیل : مونږ ډیر ادب ته د ډیر حدیث نه زیات محتاج یو۔

★ ابو زکریا عنبریؒ فرمائي : علم بغیر د ادب نه داسے دے لکه اور بغیر د لرګو نه، او ادب بغیر د علم نه داسے دے لکه روح بغیر د جسم نه۔

★ سفیان ثوریؒ فرمائي : زما په نیز د حدیث نه ډیر قابلِ خوف شے بل نشته دے، او ددے نه بهتر هم بل شے نشته دے خو د هغه چا دپاره چه هغه په دے سره د الله اراده لري۔

(جامع بیان العلم : ۱/۱۱۱، الجامع لاخلاق الراوی)

★ حماد بن سلمهٔ فرمائي : چا چه د الله نه علاوه د بل مقصد دپاره حدیث طلب کړو نو په دۀ باندے مکر اوکړے شو۔(حواله بالا)

او په مرفوع حدیث کښے دي : د علماؤ همت رعایت وی او د بیوقوفانو (همت) روایت وی۔(مذکوره دواړه حوالے)۔

★ علي ﷺ فرمائي : اے د علم بارو ونکو ! په دے باندے عمل کوئ ځکه عالم هغه چاته وائي چه هغه په خپل علم باندے عمل کوی، او د هغهٔ عمل د هغهٔ د علم سره موافق وی، او عنقریب به داسے خلق پیدا شي چه علم به باروی خو د مریو نه به ئے نه تیریږی، د هغوئ باطن به د ظاهر خلاف وی، او د هغوئ عمل به د هغوئ د علم خلاف وی، حَلقو کښے به ناست وی او ځینے به په ځینو نورو باندے فخر کوی، تردے چه په دوئ کښے به یو کس خپل ملګری ته په دے وجه غصه وی چه تهٔ ولے دده نه علاوه بل چاسره کینے او دا پریدے۔ دا هغه خلق دی چه د دوئ عملونه به د دوئ په مجلسونو کښے الله عز وجل ته نه ختږی۔

(جامع ابن عبد البر: ۲/۷۔ الجامع لأخلاق الراوی : ۱/۹۰)

دا عجیب حدیث دے، ګویا علي ﷺ زمونږ ددے زمانے د خلقو حالت بیانوی۔

★ سفیان بن عیینهؒ نه محمد بن خزیمهؒ تپوس اوکړو : کمزورے څوك دے ؟ هغه وئیلے :

هغه څوك چه خپل ځان د طاقت او قوت نه د ورځے شل یا پنځوس ځله بیزاره کوی۔
(کتاب التذکرة ص: ٤١٨، دا خبره ئے په هغه حدیث کښے کړے ده چه په هغے کښے جنت وائی : ماته کمزوری داخلیږی)۔

★ ستا ورور هغه دے چه هغه تاته ستا عیبونه اوښائی، او د ګناه نه دے ویروی۔ څومره چه تهٔ د الله نه یره کوے، په هغه اندازه به خلق تانه یریږی۔ او څومره چه تهٔ الله سره مینه لرے، هغومره به خلق تا سره مینه لری۔ او څومره چه تهٔ په الله باندے مشغوله ئے، خلق به ستا په کارونو باندے مشغوله وی۔

(ایقاظ الهمم العالیة، محمد السلمان ص: ٦١)



٣٣ - فائده

د آخرت د علماؤ علامات

علماء دوه قسمه دي : (١) د دنيا علماء، (٢) او د آخرت علماء۔
نو د آخرت د علماؤ ځينې علامات دادي :
١ - دُنيا او جاه او مرتبې ته ميلان نۀ کول :
د داؤد عليه السلام په اخبارو کښې راځي چه د الله نه نقل کوي۔ کله چه عالم خپل شهوت زما په محبت باندې غوره کړي نو ادنیٰ هغه کار چه زۀ ئې هغۀ سره کوم دا دې چه هغه زۀ د خپل خوږ مناجات نه محرومه کړم۔
(دغسې په ابن كثير ٣/١٧٤، كې هم دي)
٢ - چه د هغۀ قول د هغه د فعل خلاف نۀ وي :
لکه مخکښې تير شو چه : اول ځانته نصيحت اوکړه، که چرې هغه قبول کړو نو بنه ده، ګنې مانه حياء اوکړه۔
٣ - چه هغه، د هغه علم حاصلولو اهتمام کوي کوم چه په آخرت کښې پکار راځي اوکوم چه طاعاتو طرفته رغبت ورکونکې وي۔ او د هغه علمونو نه ډډه کوي چه د هغې نفع کمه وي او په هغې کښې جنګ او جدال او قيل وقال ډير وي۔
ضحاکؒ فرمائي : ما صحابهؓ او تابعينؒ موندلي دي په داسې حال کښې چه هغوئ به ورع (تقویٰ) زده کوله، او دوئ اوس نۀ زده کوي مګر علمِ کلام۔
٤ - بل دا چه هغه به په خوراك، څکاك، لباس، کور او سازو سامان کښې خوش عيشئ طرفته ميلان نۀ کوي، بلکه په دې څيزونو کښې به درميانه روي غوره کوي۔ او څومره چه په دې کښې کمې کوي، الله سره به ئې قرب او نزديکت زياتيږي۔
٥ - بل دا چه د بادشاهانو نه به لرې وي، هغوئ باندې به هيڅ کله نه ورداخليږي، څکه دا د شرونو چابي ده، او د آخرت د علماؤ خاصيت احتياط کول دي۔
سعيد بن المسيبؒ فرمائي : کله چه تاسو يو عالم اووينئ چه اميرانو له ورځي نو د هغۀ نه ځان اوساتئ ځکه چه دا غل دې۔

او وئیلے کیږی چه: علماء چه کله علم والا وی نو عمل کوی، اوکله چه عمل کوی نو مشغوله وی، اوکله چه مشغوله شی نو ورك شی، اوکله چه ورك شی نو تالاش کولے شی، اوکله چه تالاش کولے شی نو تختی۔

(احیاء: ۱۱۷/۱، الحامع عن الثوری: ۸/۲)

٦ - شپږم دا چه: په فتویٰ کښے به جلتی کونکے نهٔ وی بلکه ایساریدونکے به وی۔

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: علم درے څیزونه دی۔ (۱) گویا کتاب (۲) قائم سنت (۳) او لَا اَدْرِیْ (زهٔ نه پو هیږم)۔

بعضے وائی: کله چه علم ډیر شی، خبرے کمے شی۔ او کله چه خبرے ډیرے شی نو علم کم شی۔

۷ - اووم دا چه: د هغهٔ زیات اهتمام به وی علمِ باطن او د زړهٔ په لحاظ ساتلو اود آخرت د لارے پیژندلو او په هغے باندے روانیدلو سره وی۔ دارنگه ددے د انکشاف رشتینے امید به لری او ددے دپاره به مجاهده او مراقبه کوی۔ ځکه مجاهده انسان مشاهدے ته رسوی۔ او د زړونو د علم چه کوم باریکات دی نو په هغے سره د حکمت چینے د زړهٔ نه راخوټ کیږی۔ هر چه کتابونه او تعلیم دے نو یوازے دا دے باره کښے کفایت نهٔ کوی۔ بلکه حکمت په انسان باندے په مجاهدے او مراقبے او د ظاهری او باطنی اعمالو کولو او په خلوت کښے د الله سره د زړهٔ په حضور او صفا فکر سره کیناستلو سره کیږی، او د الله نه علاوه چه څه څیزونه دی د هغے نه په کټ کیدلو سره کیږی چه دا د الهام چابی ده۔

۸ - اتم دا چه: دابه د یقین په مضبوطولو باندے سخت اهتمام کونکے وی، ولے چه یقین دَ دین سرمایه ده۔ او لږ یقین د ډیر عمل نه بهتر دے۔

لقمانؑ فرمائی: اے ځویه! عمل کول ممکن نهٔ دی مگر په یقین سره او انسان عمل نهٔ کوی مگر په اندازه د یقین خپل باندے، او عمل کونکے هیڅ کله کوتاهی نه ښکاره کوی تر څو چه د هغهٔ یقین کم شوے نهٔ وی۔

او د یقین نه مراد د شك ختمیدل دی او یا په زړهٔ باندے د کار په دے شان غلبه کول دی چه په هغے باندے ددغه کار نه علاوه بل شے نه تیریږی۔

★ بیا **یقین** چه په څه کښے جاری کیږی هغه ګڼر څیزونه دی:

۱ - توحید: او هغه دا چه هر څه د مسبب الأسباب د طرف نه وینی۔ ددے ثمره داده چه څیزونو ته د انسان غصه ختموی او په هغے باندے شکر کوی او بد اخلاقی ئے ختمیږی،

ځکه چه دے هر څه د الله تعالیٰ د طرفنه ګڼړی۔

٢ – الله چه د رزق کومه ذمه واری اخستے ده هغے باندے د انسان اعتماد راځی۔ او ددے ثمره داده چه انسان به حرص نهٔ کوی اونهٔ به په هغه څه خفه کیږی چه دده نه فوت شی، او په طلب کښے به ښائست پیدا کوی، او ددے پشان نور ښه اخلاق شو۔

٣ – په ثواب او عقاب باندے یقین لرل : چه څوك د ذرے هومره نیك عمل اوکړی هغه به اووینی او چه څوك د ذرے هومره بد عمل اوکړی هغه به اووینی۔ او دهٔ ته به ګناهونه د زهرو پشان ښکاری او طاعات به ورته د روټئ پشان۔ ددے یقین ثمره داده چه انسان به په حرکاتو او سکناتو او خطراتو (وسوسو) کښے رشتینے مراقبه کوی او په تقویٰ کښے به مبالغه او د هر قِسم ګناهونو نه احتراز کوی۔

٤ – دا یقین جوړول چه الله تعالیٰ ستا په هر حال باندے خبر دے او ستا د زړهٔ هره خبره او وسوسه پیژنی۔ ددے یقین ثمره داده چه انسان به په خپله تنهایئ او په خپلو ټولو احوالو کښے ادب اختیارونکے وی او داسے به وی لکه د یو عظیم بادشاه مخے ته ناست دے او هغهٔ ورته ګوری۔ دارنګه ددے ثمره داده چه دا په انسان کښے حیاء، خوف، انکسار، ذلت، عاجزی، خضوع او ګڼړ ښائسته اخلاق پیدا کوی۔

او دا اخلاق مختلف اوچت طاعات پیدا کوی۔ نو یقین مثال لکه د تاداؤ دے۔ دا دَ وُنے پشان دے او اخلاق لکه د څانګو پشان دی، او کوم طاعات چه د اخلاقو نه صادر دی هغه د میوو پشان دی۔ (احیاء : ١/١٢٧)

٩ – نهم دا چه : دابه غمژن، مات زړے، سر ښکته کونکے او خاموش وی۔ د خشوع او خشیت اثر به ددهٔ په هیئت او لباس، حرکت او سکون، خبرو او خاموشئ باندے راښکاره کیږی۔۔۔دَ بعضو وینا ده چه : الله تعالیٰ یو بنده ته هیڅ جامه نهٔ ده اغوستے چه هغه د خشوع او وقار نه ښائسته وی۔

او پاتے شو په خبرو کښے وښکی فراخول، خندا کول، تیزی کول او ډیر اخوا دیخوا خوزیدل نو دا دَ آثارو د تکبر نه دی۔ او د الله د عذاب نه په امن کیدلو او غفلت نه دی۔ د عمر رضی الله عنه قول مخکښے تیر شو چه : علم زده کوئ او د علم دپاره سکینه او وقار هم زده کوئ۔

عبد الأعلی یمنیؒ فرمائی : چاته چه داسے علم ورکړے شی چه هغه دهٔ لره نه ژړوی نو دا ددے لائق دے چه دهٔ ته به داسے علم نهٔ وی ورکړے شوے چه دهٔ ته نفع ورکړی۔ ځکه چه الله

عز وجل د علماؤ صفت کړے دے فرمائي :
﴿ إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَى عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴾ [اسراء: ١٠٧، ١٠٨]

(اخلاق العلماء ص : ٦٨، الحلية)

(يعني : کوم خلقو ته چه علم ورکړے شوے دے کله چه په دوئ باندے د الله آيتونه لوستے کيږی نو ژاړی او خشوع ئے زياتيږی)۔
مطر الوراقؒ د الله تعالیٰ ددے قول په باره کښے فرمائي : ﴿ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ﴾ [البقرة: ٢٦٩]

(چاله چه حکمت ورکړے شو نو يقيناً چه هغه له ډير خير ورکړے شو)۔ فرمائي چه مونږ ته را رسيدلی دی چه حکمت د الله تعالیٰ نه ويره او هغهٔ باندے علم لرل دی۔

(اخلاق العلماء ص : ٦٩)

مسروقؒ فرمائي : د انسان دا عمل بس دے چه د الله نه اوويريږی، او د انسان دا جهالت بس دے چه خپل علم ته غاوره شی۔

(پورتنئ حواله ص : ٧٠)

يحيی بن أبی کثيرؒ فرمائي : عالم هغه څوك دے چه د الله نه اوويريږی او د الله نه ويره کول پرهيزګاریٔ ته وائي۔ (ص : ٧٠)



۳۴ - فائده

خائسته نصيحتونه

★ ايوب رحمه الله فرمائي : عالم له پكار دي چه الله ته د عاجزئ د وجې نه په خپل سر باندې اِيرې واچوي۔ (ابن بطة وأخلاق العلماء ص : ۷۱)

★ سفيان بن عيينة رحمه الله فرمائي : كله چه زما ورځ د بيوقوفه سړي ورځ شي، او زما شپه د جاهل سړي شپه شي نو بيا زهٔ په هغه علم څه كوم چه ما ليكلے دے۔

(الحلية، اخلاق العلماء ص : ۷۲)

علي بن ابي طالب رضي الله عنه فرمائي : آيا زهٔ تاسو ته د رشتينې فقيه خبر در نكړم ؟ هغه څوك دے چه خلق د الله د رحمت نه نااميده نه كړي، او دَ الله په نافرمانيو كښې خلقو له اجازت ورنه كړي، او دوئ د الله د مكر نه بيغمه نه كړي، او قرآن بل چاته پرېے نه ګدي، او په هغه عبادت كښې هيڅ خير نشته چه په هغې كښې تفقه (ځان پو هول) نهٔ وي، او په هغه تفقه كښې هيڅ خير نشته چه په هغې كښې تفهم نهٔ وي، او په هغه قرائت كښې هيڅ خير نشته چه په هغې كښې تدبر نهٔ وي۔ (اخلاق العلماء ص : ۷۲)

★ ابو درداء رضي الله عنه فرمائي : كله چه زهٔ حساب ته اودرولے شم نو ماسره د هر څه نه زيات فكر ددې خبرے دے چه ماته اوويلے شي : يقينا چه تا علم كړے دے، خو په دے خپل علم دے څومره عمل كړے دے ؟ (جامع ابن عبد البر : ۲/۲)

★ په يو صحيح حديث كښې دي : د قيامت په ورځ به د بنده قدمونه د ځائے نه اونهٔ خوزي تر څو چه د هغه نه د پنځو څيزونو باره كښې تپوس اونشي : د ځوانئ باره كښې چه دا دے په څه كښې زړه كړے ده، د عُمر په باره كښې چه دا دے په څه كښې لګولے دے، د مال په باره كښې چه دا دے د كوم ځائے نه ګټلے او په څه كښې خرچ كړے دے، او د علم په باره كښې چه په دے باندے دے څومره عمل كړے دے ؟

(أصحاب السنن، وهو فى الجامع ۳/۲، عن ابن مسعود)

دا داسے حديث دے چه ژوندي زړونه خوزوي۔

★ شداد بن اوس رضي الله عنه فرمائي : په دے امت باندے د تولو نه زيات چه په كوم شئ باندے زهٔ

یریږم هغه : ریاء او شهوتِ خفیه دے۔

سفیانؒ فرمائی : شهوتِ خفیه دادے چه انسان دا خوښه اوګڼړی چه په نیکئ دے ددهٔ صفت اوکړے شی۔ (پورتنئ حواله : ۳/۲)

★ یو بل حدیث کښے دی (هغه چاله خوشحالی ده چه په خپل علم عمل اوکړی، د خپل مال نه خرچ اوکړی او خپلے زیاتی خبرے بندے کړی)۔ (الجامع ۲/٤)

★ بعضے علماؤ وئیلی دی : حکمت وائی : اے انسانه ! که تهٔ ما تالاش کوے نو مابه په دوه جملو کښے بیاموے : تاته چه کوم خیر معلوم دے په هغے عمل کوه، او هغه شر پریده کوم چه تاته معلوم دے۔

★ عیسیٰ علیه السلام فرمائی : اے بنی اسرائیلو ! ړوند سړی ته د نمر رنړا څه فائده ورکوی چه خپله ئے نهٔ وینی، او عالم سړی ته د علم ډیروالے څه فائده ورکوی کله چه پرے عمل نهٔ کوی۔

★ ابراهیم بن ادهمؒ ته یو سړی اووئیل : الله عز وجل فرمائیلی دی : ﴿ادْعُوْنِیْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ [مؤمن: ٦٠]

(مانه دعاء غواړئ زهٔ به ئے قبلوم)۔

نو څه وجه ده چه مونږ دعاګانے غواړو او قبلیږی نهٔ ؟

اُبراهیمؒ اوفرمائیل : د پنځو څیزونو د وجے نه۔ هغه سړی وئیلے: هغه کوم کوم دی ؟

اُبراهیمؒ ورته اووئیل :

۱ – تاسو الله پیژندلے دے خو د هغهٔ حق مو نه دے اداء کړے۔

۲ – تاسو قرآن لوستلے دے خو په هغے کښے چه څه دی په هغے مو عمل نه دے کړے۔

۳ – تاسو د رسول الله ﷺ د محبت دعوے کوئ خو دَ هغهٔ سنت مو پریښے دے۔

٤ – تاسو وائے مونږ په ابلیس باندے لعنت وایو، حال دا چه د هغهٔ خبره منئ۔

٥ – تاسو خپل عیبونه پریښی دی او د خلقو عیبونو پسے لګیدلی ئے۔(پورتنئ حواله ۲/٥)

★ سفیانؒ فرمائی : وهب بن منبهٔ مکحولؒ ته اولیکل : بیشکه چه تهٔ یو داسے سړے ئے چه په ظاهر کښے تا د اسلام دَ علم شرافت حاصل کړے دے، خو په اسلام کښے چه کوم پټ (د زړونو) علم دے په هغے سره د الله په دربار کښے محبت او قرب تالاش کړه، او یاد ساته چه په دے دوه محبتونو کښے به یو محبت تا عنقریب د بل نه منع کړی۔

(الجامع : ۲/٥)۔ عجیب کلام دے۔ په دے کښے د مداهنت نه منع ده۔

★ عمر ﷺ كعب الأحبارؒ ته اوفرمائيل: د علماؤ د زړونو نه علم څۀ شے اوباسی ؟ پس ددے نه چه هغوئ دا ياد كړے او حفظ كړے دے۔ هغۀ وئيلے: طمع او خلقو ته خپل حاجتونه وړاندے كول ئے ختموی۔(۶/۲)

★ ابئ بن كعب ﷺ فرمائی: علم زده كوئ او عمل پرے كوئ او ددے دپاره ئے مه زده كوئ چه ځان پرے ښائسته كړئ ځكه عنقريب كه تاسو څه موده پاتے شوئ نو خلق به په په علم باندے داسے ځان ښائسته كوی څنګه چه سړے په جامه باندے ځان ښائسته كوی۔

★ انس ﷺ فرمائی: د علماؤ غم د رعايت سره وی او د بيوقوفانو غم د روايت سره وی۔ (۶/۲)

★ منصورؒ فرمائی: ادب دا نۀ دے چه غريب او ناشنا خبرے روايت كړے شی، او د ابو نواس او حبيب شعرونه روايت كړے شی۔ بلكه اديب هغه څوك دے چه هغه تفضل، ځوانمردئ او پاكدامنئ والا وی۔ (۷/۲)

★ ابن عائشةؒ دا شعر وئيلے دے:

إِذَا قَسَا الْقَلْبُ لَمْ تَنْفَعْهُ مَوْعِظَةٌ　　كَالْأَرْضِ إِنْ سَبَخَتْ لَمْ يُحْيِهَا الْمَطَرُ

وَالْقَطْرُ تَحْيَا بِهِ الْأَرْضُ الَّتِيْ قُطِحَتْ　　وَالْقَلْبُ فِيْهِ إِذَا مَا لَانَ مُزْدَجَرُ

(كله چه زړۀ سخت شی نو هيڅ وعظ ورته فائده نه وركوی، لكه زمكه چه ښوره شی نو باران ئے نشی را ژوندئ كولے۔ باران باندے خو صرف هغه زمكه ژوندئ كيږی چه هغه وُچِه شوے وی۔ او زړۀ چه كله نرم شی نو بيا د هرے بدئ نه بنديږی۔

★ مالك بن دينارؒ فرمائی: هيڅ يو بنده ته څه عذاب نۀ دے وركړے شوے چه هغه د زړۀ د سختئ نه غټ وی۔ (الجامع ۲: ۸)

★ سوارؒ به فرمائيل: د زړۀ نه خبرے زړۀ درزوی، او د ژبے خبرے په زړۀ باندے د اعراض په حالت كښے تيريږی۔

★ زياد بن ابی سفيانؒ فرمائی: كله چه خبرے د زړۀ نه را اوځی نو په زړۀ كښے واقع كيږی، او كله چه د خولے نه راؤځی نو د غوږونو نه نۀ تيريږی۔ (پورتنئ حواله)۔

★ سلمان ﷺ فرمائی: نزدے ده چه علم را ښكاره شی او عمل خزانه كړے شی، خلق ژبو سره صله رحمی كوی او زړونو سره بايكاټ كوی، نو كله چه دوئ دا كار اوكړی، الله تعالیٰ به د دوئ په زړونو او غوږونو او سترګو باندے مهر اولګوی۔

دا حديث مرفوع هم روايت شوے دے۔ (۸/۲)

★ خلقو کښې به مروّت پاتې وی، نو کله چه دنیا راشي نو يو بل به په تورو باندې اووهي لکه د سپو پشان چه په يو بل باندې حمله نۀ کوی مګر کله چه غوړ هډوکې اووينی۔ نو دنیا د بغض سبب دے۔ (ماته دا تجربه شوې ده)۔

★ يو ځل ما اووئيل : چاسره چه ستا تعلق دے، د هغۀ د ذلت او عزت په اندازه به ستا دپاره عزت او ذلت وی۔

نو څوك چه د الله سره تعلق لری، هغۀ ته به پوره اعلیٰ کمال حاصليږی، او څوك چه داسې شئ سره تعلق لری چه الله ذليل کړے دے لکه دُنيا، نو هغۀ ته به ددې په اندازه ذلت ملاويږی۔۔۔۔دا ډيره د سوچ خبره ده !

★ وهب بن منبهٌ فرمائی : عيسیٰ ؑ فرمائيلی دی : کله چه الله تا دَ مصيبتونو والو په لاره باندې بوځی نو پوهه شه چه هغۀ تۀ د انبياء او صالحينو په لاره بوتلے۔ او کله چه تا د فراخئ والو په لاره بوځی نو پوهه شه چه تۀ ئې د دغه خلقو (انبياؤ او صالحينو) نه علاوه په بله لاره روان کړے او دَ هغوئ د لارې نه ئې پاتې کړے۔(الزهد ص : ۷۱)

★ ابو غالبؒ فرمائی : مونږ ته را رسيدلې ده چه د عيسیٰ ؑ په وصيت کښې دا خبره ليکلې شوې وه : اے د حوارينو ډلے! ګناهونو والو سره په بغض ساتلو سره الله ته ځان محبوب کړئ، او دوئ سره د کينې ساتلو په ذريعه د هغۀ نزديکت حاصل کړئ، او دوئ په خفه کولو سره د الله رضا حاصله کړئ۔ حوارينو اووئيل : الله ته اوګوره ! مونږ به چاسره کينو ؟ وئيلې : هغه چاسره کينئ چه د هغۀ خبرې ستاسو په اعمالو کښې اضافه کوی او هغه چاسره چه د هغۀ ليدل تاسو ته الله رايادوی، او د هغۀ عمل تاسو په دنيا کښې بې رغبته جوړوی۔

★ عيسیٰ ؑ فرمائی : هغه چاله خوشحالی ده چه خپله ژبه ئې بنده اوساتله، کور کښې کيناستۀ او په خپله ګناه باندې ئې اوژړل۔ (الزهد ص : ۷۲)

دا په مرفوع حديث کښې هم روايت شوې ديته په نزدې الفاظو۔

★ ابو ثمامه صايدیؒ فرمائی : حوارينو عيسیٰ ؑ ته عرض اوکړو : الله ته اخلاص کونکے څوك دے ؟ وئيلې : هغه څوك چه د الله عز وجل دپاره عمل کوی او دا خبره نه خوښوی چه خلق دې په دې باندې ددۀ صفت اوکړی۔ هغوئ عرض اوکړو : الله دپاره خير خواهی لټونکے څوك دے ؟ وې فرمائيل : هغه څوك چه د الله په حق باندې شروع کوی او د الله حق د خلقو په حق باندې غوره کړی، اوکله چه ورته دوه کارونه را پيښ شی يو دَ دنيا

او بل د آخرت، نو د آخرت په کار شروع کوی او د دنیا د کار دپاره روسته ځان اوزګاروی۔
(الزهد ص : ۷۳)

★ عیسیٰ علیه السلام فرمائی : بهترین عبادت الله عز وجل ته تواضع کول دی۔ (۷٤)۔
دارنګه فرمائی : تاسو خپلے خزانے په آسمان کښے جوړے کړئ ځکه د انسان زړهٔ د هغهٔ د خزانے سره وی۔ (۷٤/۱)

★ یو حکیم وائی : پنځه څیزونه په پنځو څیزونو کښے دی : دلیل په قرآن کښے دے۔ عزت په قناعت کښے دے۔ ذلت په ګناه کښے دے۔ هیبت په قیام اللیل کښے دے۔ مالداری په طمع پریخودلو کښے ده۔

★ عبد الله بن مبارک نه تپوس اوشو : که چرے تا ته الله وحی (الهام) اوکړی چه تهٔ به سمدست وفات کیږے، نو تهٔ به څه کار کوے ؟ هغه وئیلے : زهٔ به پاسم او علم به طلب کوم تردے چه ماله مرګ راشی۔

★ سفیان بن عیینهٔ فرمائی : څوک چه د یو نیک سړی سره مینه لری نو دے د الله تبارک وتعالیٰ سره مینه لری۔
په یو صحیح مرفوع حدیث کښے هم داسے مضمون نقل شوے دے۔

★ مالک بن دینار فرمائی : که چرے تهٔ د نیکانو سره کانړی نقل کړے دا ددے نه غوره ده چه د بدکارو سره حلویٰ اوخورے۔
(روضة العقلاء ص : ۱۰۰)

★ د انسان دین هغه وخته پورے نه پوره کیږی تر څو چه دده عقل پوره نشی۔

★ نبی ﷺ فرمائی : الله تعالیٰ ښائسته اخلاق خوښوی او پریوتی اخلاق ناخوښه ګڼړی۔

★ یو شاعر وئیلی دی :

یَزِینُ الْفَتیٰ فِی النَّاسِ صِحَّةُ عَقْلِهِ ... وَإِنْ کَانَ مَحْظُوراً عَلَیْهِ مَکَاسِبُهٗ
یَشِیْنُ الْفَتیٰ فِی النَّاسِ قِلَّةُ عَقْلِهِ ... وَإِنْ کَرُمَتْ أَعْرَاقُهٗ وَمَنَاسِبُهٗ
یَعِیْشُ الْفَتیٰ فِی النَّاسِ بِالْعَقْلِ إِنَّهٗ ... عَلَی الْعَقْلِ یَجْرِیْ عِلْمُهٗ وَتَجَارِبُهٗ
وَأَفْضَلُ قَسْمِ اللّٰهِ لِلْمَرْءِ عَقْلُهٗ ... فَلَیْسَ مِنَ الْأَشْیَاءِ شَیْءٌ یُقَارِبُهٗ
إِذَا أَکْمَلَ الرَّحْمٰنُ لِلْمَرْءِ عَقْلَهٗ ... فَقَدْ کَمُلَتْ أَخْلَاقُهٗ وَمَآرِبُهٗ

(ترجمه : صحیح عقل ځوان لره په خلقو کښے ښائسته کوی، اګرکه په ده باندے دده کسبونه بند کړے شوی وی۔ او بل طرفته د عقل کم والے په خلقو کښے ځوان عیبجن

کوی اګرکه دده رګونه او نسبونه عزتمند وی. ځوان په خلقو کښې په عقل سره ژوند تیروی، او صرف د همدې عقل په وجه دده علم او تجربې روانې وی. د الله په تقسیم کښې د سړی دپاره بهترین شے دده عقل دے چه ددې سره هیڅ یو شے نه برابریږی. کله چه رحمٰن ذات د انسان عقل پوره کړی نو بیشکه دده اخلاق او حاجتونه پوره شو).

(أدب الدنيا والدين، ص ٣)

★ عبد الله بن مبارکؒ ته اوویل شو : سړی ته چه څه شے ورکولے شی په هغې کښې غوره شے کوم یو دے ؟ هغه وئیلے : فطری عقل. عرض اوکړے شو، که دا نۀ وی ؟ وئیلے : اوګده خاموشی. وئیلے : که دا هم نۀ وی ؟ هغه اوفرمائیل : په تادئ باندے مرګ.

★ ابن عامرؒ وائی : ما عطاءؒ ته اوویل : هغه کوم غوره شے دے چه بنده ته ورکولے شی ؟ وے فرمائیل : د الله د طرفنه په خبره پوهیدل.

★ انسان باندے لازم دی چه د خپلے رائے مددګار شی او د خپل خواهش روسته کونکے شی. اوکله چه په دۀ باندے دوه کارونه مشتبه شی نو هغه کار نه دے ډه اوکړی چه هغه ددۀ خواهش ته زیات نزدے وی، ځکه چه د خواهش نه په ډه کیدو کښې د باطن اصلاح ده او په عقل سره زړونه جوړیږی.

(روضة العقلاء ص : ١٦ - ١٩)

★ معاویه ﷺ د عربو یو داسے سړی ته اوویل چه ډیر عمرئے لرلو : د تهولو نه ښائسته شے چه تا لیدلے دے هغه راته اوښایه. هغه وئیلے : داسے عقل چه ځوانمردئ سره وی او د الله ویره او د آخرت طلب ورسره ملګرے وی.

★ معاویه بن قرهؒ فرمائی : خلق مونځونه کوی، روژے نیسی، حجونه کوی، خو د قیامت په ورځ به دوئ ته صرف د دوئ د عقلونو په اندازه جزاء ورکولے شی. (روضة العقلاء).

حسن بصریؒ فرمائی : اوږده تنهائی فکر لره ډیر برابروی او اوږد فکر د جنت د لارے رهنما دے. (مفتاح دار السعادة : ١/٢٢٧).

★ وهبؒ فرمائی : د هیڅ انسان فکر نۀ دے اوږد شوے مګر پوهه شوے دے، او هیڅ یو انسان نۀ دے پوهه شوے مګر عمل ئے شروع کړے دے.

★ عمر بن عبد العزیزؒ فرمائی : د الله په نعمتونو کښې فکر کول بهتر عبادت دے.

★ بشرؒ فرمائی : که چرے خلق د الله په عظمت کښې فکر اوکړی نو هیڅ کله به ئے نافرمانی اونه کړی.

★ ابنْ عباس ﷺ فرمائی: سوچ او فکر سره دوه درمیانه رکعته کول د ټولې شپې د قیام نه غوره دی چه بغیر د حضورِ قلبی نه وی.

★ ابو سلیمانؒ فرمائی: دنیا کښې فکر کول د آخرت نه پرده ده او د ولایت والو دپاره عذاب دے، او په آخرت کښې فکر کول حکمت پیدا کوی او زړونه روښانه کوی.

★ حسنؒ فرمائی: اهلِ علمو همیشه راسے په ذکر سره په فکر باندے او په فکر سره په ذکر باندے عبادت کړے دے او د زړونو نه بهٔ ئے د حکمت خبرے غوښتلے تردے چه هغه په حکمت باندے گویا شو.

★ ابن مبارکؒ فرمائی:

رَأَيْتُ الذُّنُوبَ تُمِيتُ الْقُلُوبَ وَقَدْ يُورِثُ الذُّلَّ إِدْمَانُهَا
وَتَرْكُ الذُّنُوبِ حَيَاةُ الْقُلُوبِ وَخَيْرٌ لِنَفْسِكَ عِصْيَانُهَا
وَهَلْ أَفْسَدَ الدِّينَ إِلَّا الْمُلُوكُ وَأَحْبَارُ سُوْءٍ وَرُهْبَانُهَا

(ماگنا هونه اولیدل چه زړونه وژنی، او په دے همیشه والے کول د ذلت سبب جوړیږی، او گنا هونه پریخوډل د زړونو د ژوند سبب دے، نو ستا د نفس دپاره ددے نافرمانی کول غوره دی. آیا د بادشاهانو، علماءِ سُوء او پیرانو نه سیوا گنے بل چا هم دین خراب کړیدے ؟).

په کتاب الزهد ص (٦٩) کښې دی:

★ وهبؒ فرمائی: الله تبارك وتعالی بنی اسرائیلو ته په ځینو خبرو کښې فرمائیلی دی: کله چه زما اطاعت کیږی نو زهٔ راضی کیږم، اوکله چه زهٔ راضی شم نو برکت کوم، او زما د برکت انتهاء نشته. او کله چه زما نافرمانی کیږی غصه کیږم، اوکله چه زهٔ غصه شم لعنت کوم او زما لعنت اووم پُشت ته رسیږی.(الزهد ص : ٦٩).

★ حسنؒ نه مرفوعا نقل دی: قسَم په الله ! الله تعالیٰ خپل محبوب له عذاب نهٔ ورکوی لیکن کله په دنیا کښې پرے آزمائش راولی.(حواله سابقه).

إِذَا كُنْتَ فِي نِعْمَةٍ فَارْعَهَا فَإِنَّ الذُّنُوبَ تُزِيلُ النِّعَمْ
وَحُطْهَا بِطَاعَةِ رَبِّ الْعِبَادِ فَرَبُّ الْعِبَادِ سَرِيعُ النِّقَمْ

(کله چه تهٔ په څه نعمت کښې ئے نو د هغے لحاظ ساته، ولے چه گنا هونه نعمتونه ختموی. او د الله تعالیٰ په طاعت سره ددے حفاظت کوه، ځکه چه د بندگانو رب زر عذاب ورکونکے دے. (الجواب الکافی)

★ سفیان بن عیینهٔؒ فرمائی: علماؤ به یو بل ته دا کلمات لیکل: چاچه دخپل باطن

اصلاح اوکړه الله به دده ظاهر جوړ کړي، او چاچه د الله او د خپل مینځ معامله درست کړه، الله به دده او د خلقو ترمینځه معامله درست کړي، او چاچه د خپل آخرت دپاره عمل اوکړو، الله به دده د دنیوي کارونو دپاره کافي شي۔

(اخرجه محمد بن أبي الدنيا في كتاب الاخلاص كتاب الايمان لابن تيمية ص : ۱۱)

★ وهب بن منبهؒ فرمائي : د ټولو حکماؤ (هوښیارانو) په دې باندې اتفاق دې چه د حکمتونو سَر خاموشي ده۔

(ذكره ابن ابى الدنيا فى الصمت ص : ٦١٩، وابن رجب فى جامع العلوم ١/٣٤٠)

★ یو عقلمند وائي : مؤمن په مصیبت باندې صبر کوي، خو په عافیت باندې صرف صدیق صبر کوي۔

★ عدي بن حاتم ﷺ فرمائي : غیبت د رذیلانو خلقو چراګاه ده۔

★ ابو عاصم النبیلؒ فرمائي : په خلقو کښې هغه شے ذکر کول چه هغوئ ئې بدې ګڼړي دا صرف رذیله خلق کوي چه د دوئ دین نهٔ وي۔(الأداب الشرعية : ١/٨، ٩)

★ ابن جوزيؒ فرمائي : پوره سړے دادے چه په عافیت او جوړښت باندې صبر اوکړي۔

(حواله سابقه : ١/٨)

★ ابو الحسن طاهر بن مفرز اندلسيؒ فرمائي : په دین کښې عُمده خبرې زمونږ په نیز ځلور خبرې دي چه د رسول الله ﷺ خبرې دي : د شبهاتو نه ځان ساته او زهد اختیار کړه، او هغه شے پریده چه تاسره مناسب نهٔ وي، او عمل په نیت سره کوه۔

(جامع العلوم والحكم : ١/١٥)

★ عیسیٰ علیه السلام فرمائي : احسان دادے چه تهٔ هغه چا سره احسان اوکړې چه هغه تاسره بدي کوي۔ (الزهد ص : ٧٤)

★ یوې ښځې عیسیٰ علیه السلام ته اووئیل : څومره مزیداره ده هغه سینه چه تاله ئې پئ درکړي دي، او څومره مزیداره ده هغه خیټه چه تهٔ ئې بار کړې ئې۔ هغهٔ اوفرمائیل : څومره مزیدار دې هغه څوك چه د الله کتاب ئې اولوستلو او دې کښې چه څه دي د هغې تابعداري ئې اوکړه۔ (الزهد ص : ٧٥)

★ الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته وحي اوکړه چه : په ټولو اعمالو کښې محبوب ترین او پاکیزه عمل الله تعالیٰ ته مسکینانو سره محبت ساتل او په هغوئ رحم کول دي۔

(الزهد ص : ٧٥)

★ عیسیٰ علیه السلام فرمائی : اے د حوارینو جماعته ! په تاسو کښے څوك ددے طاقت لری چه د سمندر د چپو دپاسه کور جوړ کړی۔
دارنګه فرمائی : دنیا نه ځان اوساتئ او دا د قرارئ ځائے مۀ جوړوئ۔
دارنګه فرمائی : په رشتیا درته وایم چه د غنمو روټئ خوړل او خوړے اوبه څکل او په خس و خشاك ځائے باندے د سپو سره څملاستل د هغه چا دپاره ډیر دی چه هغه د جنتِ فردوس میراث وړی۔ (الزهد ص : ۷٦)
★ یحییٰ فرمائی : ډیر علم په انسان کښے کبر پیدا کوی کله چه پرے عمل نۀ کوی۔
(الزهد ص : ۷٦)
★ عیسیٰ علیه السلام فرمائی : زمانه په درے ورځو باندے گردش کوی : تیر شوے پرون چه تا په هغے باندے نصیحت حاصل کړو، او نن ورځ چه تاته ئے په دے کښے زیات نصیحت اوکړو، او صبا چه تاته پته نشته چه تاله به په هغے کښے څه وی۔
★ دارنګه فرمائی : چا چه علم حاصل کړو، او عمل ئے اوکړو، او بل ته ئے تعلیم ورکړو، نو دا کس د آسمان په بادشاهئ کښے غټ سړے یادیږی۔ (الزهد ص : ۷۷)
دارنګه دوئ ته اووئیلے شو : بنده به څنګه په حقه سره متقی جوړ شی ؟ وے فرمائیل : په معمولی شئ سره، هغه دا چه : د زړۀ نه به د الله سره رشتینے محبت اوکړے، او څومره چه دِ وس وی د هغے په اندازه به هغۀ دپاره عمل کوے، او په خپل جنس - انسانانو - باندے به رحم کوے، اوکوم شے چه د ځان په باره کښے نه خوښوے نو هغه د بل چا سره مه کوه، نو تۀ د الله نه رشتینے یریدونکے ئے۔ (الزهد ص : ۷۸)
★ خضر علیه السلام چه کله موسیٰ علیه السلام سره ملاؤ شو نو ورته ئے اوفرمائیل : اے موسی ځوئے د عمرانَ ! د جګړے نه لاس اوباسه، او بے حاجته چرته مه ځه، او د تعجب نه بغیر مۀ خانده، او کور راتینګ کړه او په خپله گناه باندے ژاړه۔ (الزهد ص : ۷۹)
★ الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته اوفرمائیل : په دنیا کښے د بے رغبتئ نه سیوا ماته بندګانو په بل شئ باندے ځان نۀ دے بنائسته کړے۔ (الزهد ص : ۸۳)
★ موسیٰ علیه السلام اووئیل : اے ربه ! ما باندے یو داسے محکم آیت نازل کړه چه په هغے سره زۀ ستا په بندګانو کښے اوګرځم۔ نو الله تعالیٰ ورته وحی اوکړه چه لاړ شه، کوم شے چه تۀ خوښوے چه زما بندګان په هغے سره تاته راشی نو تۀ هم هغوئ ته ورشه۔ (الزهد ص : ۸۵)۔
★ ابو الجلد فرمائی : موسیٰ علیه السلام عرض اوکړو : اے الله ! زۀ ستا شکر څنګه کولے شم

حال داچه د ټولو نه ووړوکے نعمت چه تا ماته راکړے دے زما ټول عمل د هغے سره نشي برابریدے۔ الله تعالیٰ اوفرمائیل : اوس دے زما شکر اوکړو اے موسیٰ! (الزهد ص : ۸۵)

★ سفیان بن عیینهؒ فرمائی : یحییٰ او عیسیٰ علیهما السلام دواړه به یو کلی ته راغلل نو عیسیٰ علیه السلام به د هغے د شریرو خلقو باره کښې تپوس کولو او یحییٰ علیه السلام به د هغے د ښو خلقو باره کښې تپوس کولو۔ نو عیسیٰ علیه السلام ته به وئیل کیدۀ چه تۀ شریرو خلقو ته ولے راځے ؟ نو هغه به فرمائیل : زۀ طبیب یم چه د مریضانو علاج کوم۔ (الزهد ص : ۷۸)

★ کعبؒ فرمائی : الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته وحی اوکړه چه تۀ خلقو ته د خیر تعلیم ورکوه او خیر زده کوه، ځکه چه زۀ د خیر زده کونکو او د خیر ښودونکو قبرونه روښانه کومه، دے دپاره چه دوئ خپل ځایونه یواځے اونه ګنړی۔ (ص : ۸٦)۔

★ قتادهؒ وائی چه موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل : اے ربه ! په زمکه کښې دے کوم شے کم اینبے دے ؟ وے فرمائیل : عدل (انصاف) ما په زمکه کښې کم اینبے دے۔ (ص : ۸٦)۔

★ ((ماشاء الله)) کلمه حاجتونه رانزدے کوی او دعاګانے قبلوی۔ (ص : ۸٦)۔

★ موسیٰ علیه السلام د هجرت په دوران کښې اووئیل : اے ربه ! ماته نصیحت اوکړه ! وے فرمائیل : ماسره هیڅ شے مۀ برابروه، بلکه ما په هر شئ غوره کوه ځکه چه زۀ په هغه چا نۀ رحم کوم اونۀ ئے پاکوم چه هغه داسے نۀ وی۔ (ص : ۸۷)۔

★ داؤد علیه السلام فرمائی : اے الله ! زۀ ستا شکر څنګه کولے شم حال داچه شکر هم ستا د طرفنه نعمت دے۔ الله تعالیٰ اوفرمائیل : اوس دے زۀ پوره اوپیژندم۔ (الزهد ص : ۸۹)

دارنګه فرمائی : اے الله ! د هغه چا څه بدله ده چه هغه صرف ستا دپاره غمژن له تسلی ورکړه ! وے فرمائیل : د هغۀ بدله داده چه هغۀ ته به زۀ د تقویٰ لباس واغوندوم۔ (ص : ۸۹)۔

★ خالد بن ثابت ربعیؒ فرمائی : دَ زبُور شروع په دے الفاظو سره شوے وه چه : د حکمت سَرچشمه د الله ویره ده۔ (ص : ۹۲)۔

★ موسیٰ علیه السلام فرمائی : اے ربه ! زۀ به تا چرته لټوم ؟ وے فرمائیل : هغه چاسره چه هغوئ زړۀ ماتی دی، ځکه چه زۀ هره ورځ هغوئ ته دوه لاسه نزدے کیږم، اوکه چرے دا نۀ وے نو هغوئ به نریدلی وے۔ (ص : ۹۵)۔

★ هشام دستوائیؒ فرمائی : د عیسیٰ بن مریم علیه السلام په حکمت کښې داوو چه : تاسو دُنیا دپاره عمل کوئ او تاسو له په دے کښې بغیر د عمل نه رزق درکولے شی، او دَ آخرت دپاره

عمل نۀ کوئ او په هغې کښې به تاسو له رزق نشي درکولے مګر په عمل سره.

بيائے اوفرمائيل : هغه خوك به څنګه د عِلم والو نه حساب شي چه هغۀ ته د هغۀ د آخرت په نسبت د هغۀ دنيا غوره ښکاري، او هغه په دنيا کښې ډيره زياته مينه لري. هغه خوك به څنګه د عِلم والو نه حساب شي چه د هغۀ مزل آخرت طرفته دے او هغه دُنيا ته مخ کونکے دے او کوم شے چه ورته ضرر ورکوی هغه ورته د هغه شئ نه زيات مزيدار دے کوم چه ورته نفع ورکوی.

هغه خوك به څنګه د اهلِ علمو نه حساب شي چه هغۀ الله د درستئ باوجود تهمتی کړو!.... هغه خوك به څنګه د اهلِ علمو نه وی چا چه ددے دپاره جبرے طلب کړی چه خلقو ته ئے بيان کړی او دے دپاره ئے طلب نه کړی چه خپله پرے عمل اوکړی؟ (ص : ۹۶).

★ ابو ذر ﷺ فرمائی : ماته مے خپل خوږ دوست د اوو (۷) خبرو وصيت کړے دے، هغه داچه : زۀ به هغه چاته ګورم څوك چه مانه لاندے دے او هغه چاته به نه ګورم چه هغه مانه پورته دے، او مسکينانو سره به محبت ساتم او هغوئ ته به نزدے کيږم، او حق به وايم اګرکه تريخ ولے نۀ وی، او هيچانه به هيڅ شے نۀ غواړم، او صله رحمی به پالم اګرکه مانه اعراض کولے شی، او د الله په باره کښې به د ملامتګر د ملامتيا نه نۀ يريږم، او لا حول ولا قوة الا بالله به ډير ډير وايم. (الزهد ص : ۹۷)

★ ابن عمر ﷺ فرمائی : الله ته د ټولو نه زيات غوره خلق غرباء دی. خلقو وئيل : غرباء څوك دی؟ وے فرمائيل : هغه خلق چه د خپل دين سره تختی، دوئ به د قيامت په ورځ عيسىٰ ؑ ته ورټوليږی. (ص : ۹۸).

★ د داؤد ؑ يوه دعاء دا وه : پاکی ده هغه ذات لره چه په ورکړے سره شکر را ويستونکے دے او په مصيبت سره دعاء راويستونکے دے. (ص : ۹۸).

★ اوزاعیؒ فرمائی : الله تعالىٰ اوفرمائيل : اے داؤده! آيا زۀ تاته دوه داسے کارونه نۀ ښايم چه کله هغه تۀ اوکړے نو د خلقو مخونه به څانته راواړوے او په هغې سره به زما رضا ته را اورسيږے؟ هغه وئيلے : ولے نه اے ربه! وے فرمائيل : زما او خپل څانی معامله په پرهيزګارئ سره محفوظ کړه، او خلقو سره د هغوئ د اخلاقو مطابق ګډون کوه. (ص : ۹۹).

★ وهبؒ فرمائی : الله تعالىٰ اوفرمائيل : زمکے او آسمانونو دا طاقت اونه لرلو چه ما بار کړی او ددے نه تنګ شو چه ما څائے کړی، خو ماله دَ هغه مؤمن زړۀ څائے کړو چه

پرهيزګاره او نرم وي. (الزهد ص: ۱۰۳)

★ وليد بن عمروؒ فرمائي: ماته دا خبره را راسيدلې ده چه تورات کښې ئې ليکلي وو: د آدم ځويه! خپل لاسونه دې خوزوه زۀ به درته د رزق دروازه پرانيزم، او د کومو کارونو حکم چه مې درته کړې دې په هغې کښې زما اطاعت کوه، نو زۀ څه ډير ښۀ پوهه يم په هغه څه باندې چه تا جوړوي !! (الزهد ص: ۱۰۷)

★ وهبؒ فرمائي: تورات کښې ليکلي وو: چاچه مالدارته عاجزي اوکړه، د هغۀ د دين دوه حصې لاړې. (الزهد ص: ۱۰۸)

★ ربيع بن خيثمؒ فرمائي: پوهه حاصله کړه او بيا يو طرفته شه. (الزهد ص: ۱۰۸)

★ عمار بن ياسر رضی اللہ عنہ فرمائي: موسىٰ علیہ السلام اوفرمائيل: اې ربه! دا راته اووايه چه تاته په خلقو کښې محبوب ترين څوك دې؟ وې فرمائيل: ولې؟ هغه وئيلې: دې دپاره چه زۀ ستا د محبت د وجې نه ورسره محبت اوساتم. وې فرمائيل: هغه بنده چه د زمکې په آخر سر کښې دې چه څوك ئې نه پيژني، که مصيبت ورته اورسي مينه ورسره لري، اوکه ازغې ئې خپه کښې لاړ شي نو مينه ورسره لري. صرف زما دپاره ورسره مينه لري. نو دا په ټول مخلوق کښې ماته زيات محبوب دې. بيا موسىٰ علیہ السلام عرض اوکړو، اې ربه! تا څه خلق پيدا کړي دي چه اورته ئې داخلوې او عذاب ورکوې؟ وې فرمائيل: دا ټول زما مخلوق دې. بيائې ورته اوفرمائيل: څه فصل اوکره، هغۀ اوکرلو، وې فرمائيل: خړويه ئې کړه. نو هغۀ خړويه کړو. بيائې ورته اوفرمائيل: ددې نګراني کوه. نو الله چه څومره غوښتله هغۀ ددې نګراني کوله. نو هغه ئې اوريبلو او پورته ئې کړو. وې فرمائيل: اې موسىٰ! ستا فصل څه شو؟ وئيلې: ما د هغې نه هيڅ شې نه دې پريښې مګر هغه چه په هغې کښې هيڅ خير نشته. الله تعالىٰ اوفرمائيل: دغه شان زۀ هم عذاب نه ورکوم مګر هغه چاته چه هغۀ کښې هيڅ خير نۀ وي. (الزهد س: ۱۱۱)

★ داؤد علیہ السلام به وئيل: اې ربه! ما داسې مُصحح مۀ جوړوه چه په فتنه کښې غورزيدلې وي، ګنې په خپل ژوند کښې به کبر اوکړم او ستا د نعمت ناشکري به اوکړم. (الزهد ص: ۱۱۱)

★ عيسىٰ علیہ السلام فرمائي: اې د دنيا بندګانو! د صدقې کولو په ځائې تاسو په هغه چا رحم اوکړئ په چاچه تاسو ظلم کوئ. (الزهد ص: ۱۱۵)

دارنګه فرمائي: هغه چا دپاره خوشحالي ده چه هغۀ ته الله تعالىٰ خپل کتاب اوخودلو او بيا زورور مړ نشو. (الزهد ص: ۱۱۶)

★ دارنګه فرمائي : د دُنیا محبت د ګناهونو جرړه ده، او زنانه د شیطان رسۍ دي، او شراب د هرے بدئ چابي ده۔(الزهد ص : ۱۱۷)

دارنګه فرمائي : د دُنیا محبت د هرے ګناه جرړه ده، او په مال کښے ډیر مصیبتونه دي۔ خلقو عرض اوکړو، د مال مصیبت څه دے ؟ وے فرمائیل : ددے خاوند د فخر او تکبر نه بچ نشي پاتے کیدے۔ هغوئ وئیلے : که ددے نه بچ پاتے شي نو بیا ؟ وے فرمائیل : ددے اصلاح به ئے د الله عز وجل د ذکر نه مشغوله کړي۔

★ دارنګه فرمائي : رښتیا درته وایم چه : د آسمان کنارے د مالدارو نه خالي دي، او خامخا د ستنے په ستومی (سوری) کښے د اوښ داخلیدل ډیر آسان دي ددے نه چه مالدار سړے جنت ته لاړ شي۔ (الزهد ص : ۱۱۷)

★ دارنګه قاریانو ته ئے اوفرمائیل : اے د زمکے مالګے ! تاسو مه خرابیږئ ځکه کله چه یو شے خراب شي نو مالګه ئے جوړوي، او کله چه مالګه خرابه شي نو هیڅ شے ئے نشي جوړولے۔(الزهد ص : ۱۱۸)

دارنګه فرمائي : اے د حواریـنو ډلے ! خنزیر ته ملغلرے مه اچوئ ځکه هغه په دے څه کوي، او هغه چاته د حکمت خبرے مه کوئ چه اراده ئے نه لري، ځکه حکمت د ملغلرو نه زیات بنائسته دے، او څوک چه ددے اراده نه لري هغه د خنزیر نه زیات شري دے۔

(الزهد ص : ۱۱۸)

دارنګه فرمائي : زۀ خو صرف دے دپاره تاسو ته بیان کوم چه تاسو پوهه شئ۔ او دے دپاره درته بیان نه کوم چه تاسو تعجب اوکړئ۔ (الزهد ص : ۱۱۹)

دارنګه فرمائي : د دُنیا خوږیدل د آخرت تریخیدل دي، او په دنیا کښے د دنیا تریخیدل په آخرت کښے خوږیدل دي، او د الله بندګان ډیرے مزے کونکي نۀ وي۔ رښتیا درته وایم چه : پتاسو کښے د عمل په لحاظ بدترین هغه عالم دے چه دُنیا سره مینه لري او هغے له په خپل عمل باندے ترجیح (غوره والے) ورکوي۔ (الزهد ص : ۱۱۹)

★ ابن عباس رضي الله عنه فرمائي : عرض اوکړے شو، یا رسول الله ! زمونږ مجلسي ملګرو کښے کوم یو غوره دے ؟ وے فرمائیل : دَ چا لیدنه چه تاسو ته الله رایاد کړي، او د هغۀ خبرے ستاسو په عِلم کښے زیادت پیدا کړي، او د هغۀ عمل تاسو ته آخرت رایاد کړي۔

(ابو یعلیٰ، المجمع ۱۰/۲۲۶، المطالب العالیة رقم : ۲۷۷۲، ۳۳۳۳، دا صحیح حدیث دے)

★ عیسیٰ علیه السلام فرمائي : شیطان د دنیا سره دے او ددۀ مکر د مال سره دے او ددۀ تزیین

(بد عمل ښائسته ښکاره کول) د خواهش سره دے او ددهٔ قدرت د خوندونو او مزو سره دے۔(الزهد ص : ۱۲۰، البداية والنهاية : ۱)

دارنګه فرمائی : د خپل ځانونو په تباه کولو دُنیا مه طلب کوئ بلکه خپل ځانونه د هغه شئ په پريخودلو طلب کړئ کوم چه په دے کښے دی۔(الزهد ص : ۱۲۰)

★ لقمانؒ فرمائی : د پلار وهل بچی لره داسے دی لکه فصل له اوبهٔ۔ (الزهد ص : ۱۲۳)

★ وهب بن منبهؒ فرمائی : مونږ ته دا خبره را رسيدلے ده چه الله تبارك وتعالی فرمائی : کله چه بنده زما په طاعت کښے وی نو زهٔ ورله د مال د جهت نه کافی يم، زهٔ ورته ورکړه کوم مخکښے ددے نه چه مانه سوال اوکړی، او حاجتونه ئے پوره کوم مخکښے ددے نه چه مانه ئے اوغواړی، او هغه شے ماته ډير ښه معلوم دے چه هغهٔ دهٔ ته فائده ورکوی۔

(الزهد ص : ۱۲۱)

★ دارنګه فرمائی : يو راهب يو سړی ته اووئيل : زما دا خيال نهٔ وو چه يو کس دے د جنت او جهنم باره کښے آوريدلی وی او په دهٔ دے يو ساعت داسے هم راځی چه په هغے کښے دے مونځ نه کوی۔ نو هغه سړی اووئيل : زهٔ په خپل مانځه کښے دومره ژاړم چه زما د اوښکو نه شينکی را اوخيژی۔ وے فرمائيل : که تهٔ خاندے په داسے حال کښے چه تهٔ الله ته د خپلے ګناه اقرار کونکے ئے، دا ستا دپاره ددے نه غوره ده چه تهٔ اوژاړے په داسے حال کښے چه تهٔ په خپل عمل باندے نازيدونکے ئے، ځکه د ناز کونکی عمل ددهٔ نه بَره نهٔ خيژی۔ هغه سړی اووئيل : ماته نصيحت اوکړه ! وئيلے : زهٔ درته په دُنيا کښے د بے رغبتئ وصيت کوم او دا چه اهلِ دنيا سره جګړے مه کوه، او د اسے شه لکه د شاتو مچئ چه که هغه خوراك کوی نو پاك شے خوری، اوکه ارتوی نو پاك شے ارتوی، اوکه په يو لرګی کينی نو هغهٔ له ضرر نه ورکوی اونهٔ ئے ماتوی۔ او زهٔ تاته وصيت کوم چه الله عز وجل دپاره خير خواهی کوه، لکه څنګه چه سپے د خپل کور والو دپاره خير خواهی کوی، ځکه هغوئ دا اوګے هم ساتی او شړی ئے هم، خو هغه ددے هر څه باوجود د هغوئ د حفاظت او خير خواهئ نه انکار نهٔ کوی۔ (الزهد ص : ۱۲۲)

★ عقيل بن مدركؒ فرمائی : الله تعالیٰ د بنی اسرائيلو يو پيغمبر ته وحی اوکړه چه : خپل قوم ته دے اووايه چه زما د دشمنانو طعام نهٔ خوری، اونهٔ زما د دشمنانو پشان څکاك کوی، او نهٔ دے زما د دشمنانو د شکل پشان شکل اختياروی، ګنے دوئ به هم زما دشمنان جوړ شی، لکه څنګه چه هغوئ زما دشمنان دی۔ (الزهد ص : ۱۲۸)

★ مالك بن دينارؒ فرمائي : د بني اسرائيلو يو عالم وو چه د هغهٔ كور ته به سړي او ښځې د وعـظ او نـصيحت دپاره راتلل او هغهٔ به ورته نصيحت كولو۔ د هغهٔ يو ځوئے وو چه زنانه به ئے چيړلے، نو هغهٔ ورته اووئيل : ځويه ! دا كار پريده، دے كار نه لاس واخله ! نو دغه عالم د كټ نـه راپـريـوا تـهٔ او دماغ ئے را اووتل، او ښځے ئے زين اوكړو، او ځامن ئے په لښكر كښے اووژلے شول۔ نو الله تعالىٰ د دوئ پيغمبر ته وحي اوكړه چه دغه عالم ته اووايه چه زهٔ به ستا د شا نـه هيـڅ كله صدّيق (ډير رشتينے) را اونهٔ باسم۔ تا صرف زما دپاره دومره غصه اوكړه چه : پريده ځويه پريده ! (الزهد ص : ۱۲۹)

★ لـقـمـانؒ خپل ځوئے ته اوفرمائيل : اے ځويه ! دنيا ژور سمندر دے ډير خلق په دے كښے ډوب شـول، نـو تـهٔ پـه دے كښے د الله عز وجل تقوىٰ كشتئ جوړه كړه، او ددے ډكون په الله بانـدے ايـمـان اوگـرزوه، او ددے رسئ په الله باندے توكل اوگرزوه، كيدے شي چه تهٔ نجات بيامومے گنے زهٔ تا نجات موندونكے نهٔ وينم۔ (الزهد ص : ۱۲۹)

دارنـگـه فـرمـائـي : مـا غـټ كانړے او وُسپنه بار كړي دي، خو دَ بد گاونډي نه مے هيڅ شے زيات دروند نهٔ دے ليدلے۔ (الزهد ص : ۱۳۰)

دارنـگـه فـرمـائـي : خپل ځان د خپل مولىٰ نه د هغه چا پشان اوگڼړه چه د هغهٔ تاته هيڅ حاجـت نشتـه، او ستا د هغهٔ نه چاره نشتـه۔ اے ځويه ! د هغه چا پشان جوړ شه چه هغه د خلقو نه صفت نه طلب كوي او د خلقو بدي ليكي، چه ځان ئے په مشقت كښے اچولے وي حال دا چه خلق ددهٔ نه په راحت كښے وي۔ (الزهد ص : ۱۳۰)

دارنـگـه هغهٔ ته اووئيل شو : ستا حكمت څه دے ؟ وے فرمائيل : دَ څه شئ ذمه داري چه مـا دپاره اخستے شوے ده زهٔ د هغے باره كښے تپوس نه كوم، او څه شے چه ماسره مناسب نهٔ وي زهٔ د هغے تكلف نه كوم۔

★ ربيـع بـن أنـسؒ فـرمائي : په حكمت كښے دادي چه : نيك عمل خپل خاوند لره پورته كوي كله چه اوخوېږي۔ (ص : ۱۳۱)

★ ابـو حبيـبؒ فـرمـائي : ما په حكمت كښے لوستلي دي : سائل ته غوږ كيده ترديے چه د هغه خبره پوره شي بيا هغهٔ ته په نرمئ سره جواب وركړه، او د يتيم دپاره د شفقت كونكي پـلار پشان جوړ شه، او د مظلوم دپاره امداد جوړ شه، كيدے شي چه تهٔ په زمكه كښے د الله خليفه (نائب) جوړ شے۔ (الزهد ص : ۱۳۱)

★ لقمانؒ فرمائي : خاموشي حكمت دے خو ددے اختيارونكي لږ خلق دي۔ (۱۳۲)۔

★ عروةؒ فرمائی : حکمت کښې لیکلی دی چه : خیانتګر سره خیانت مه کوه، بس د هغهٔ خیانت هغهٔ له کافی دے ـــــ عجیب قابلِ غور خبره ده !

★ یزید بن میسرةؒ فرمائی : الله تعالیٰ فرمائی : اے هغه ځوانه چه خپل شهوت زما دپاره پریدے او خپله ځوانی زما دَ وجے نه زړوے ! ته زما په نیز زما د ځینو ملائکو پشان ئے۔ (١٣٢)۔

★ قتادةؒ فرمائی : تورات کښے لیکلی دی : اے د آدم ځویه ! ته ما په ژبه یادے او ما هیرے، ته زما طرفته دعوت ورکوے او خپله مانه تختے، روزی زهٔ درکوم او عبادت مانه سیوا د بل چا کوے۔(ص : ١٣٢)۔

★ لقمانؒ فرمائی : اے ځویه ! علماؤ سره کینه او خپلے ګوډے هغوئ ته ماتوه، ځکه چه الله تبارك تعالیٰ د حکمت په رڼرا سره زړونه داسے ژوندی کوی لکه څنګه چه شیبے شیبے باران زمکه ژوندئ کوی۔ (١٣٣)۔

★ ابو بکر صدیق ﷺ فرمائی : ژاړئ اوکه ژړا نهٔ درځی نو ژغروني شئ۔(الزهد ص : ١٣٥)۔

دارنګه فرمائی : آرمان دے چه زهٔ دَ مؤمن په اړخ کښے یو ویښتهٔ وے۔

★ اسلمؒ فرمائی : ما ابو بکر صدیق ﷺ اولیدلو چه خپله ژبه ئے رانیولے وه او، وئیل ئے : دے زهٔ د هلاکت کندو ته راوستے یم۔ (الزهد ص : ١٣٦)

دارنګه فرمائی : هیڅ ښکار نهٔ دے شوے اونهٔ څه وُنه پریکړے شوے ده مګر په دے وجه چه دے تسبیح ضائع کړے ده۔(ص : ١٣٦)

★ قاسمؒ فرمائی : ځینے خلق داسے هم شته چه ته د هغوئ عیبونه نهٔ ذکر کوے (ص : ١٣٩)

★ ابو السفرؒ فرمائی : ابو بکر – ﷺ – بیمار شو، نو ورته اووئیلے شو چه : آیا مونږ تاله طبیب نهٔ راغواړو؟ وئیلے : هغهٔ زهٔ کتلے یم۔ خلقو وئیلے : څه ئے درته اووئیل : وئیلے : وے فرمائیل : زهٔ چه څه اوغواړم هغه کوم۔ (یعنی الله رب العزت)۔ (ص : ١٤٠)

★ ابو بکر صدیق ﷺ به دا شعر ډیر لوستلو :

لَا تَـزَالُ تَـنْـعَـى مَيِّتًـا حَتّٰـى تَـكُـوْنَـهُ وَقَـدْ يَـرْجُـو الْفَتَـى الـرَّجَـاءَ يَمُوتُ دُوْنَـهُ

(تهٔ همیشه ئے چه دَ مړی دَ مرګ خبر ورکوے تردے چه تهٔ خپله مړ شے۔ او کله ځوان سړے د یو شئ امید ساتی خو د هغے نه مخکښے مړ شی)۔

★ امام شافعی رحمه الله په خپل مرض الموت کښے دا شعرونه جوړ کړل :

وَلَـمَّـا قَسَـى قَلْبِيْ وَضَـاقَـتْ مَذَاهِبِيْ ❁ جَـعَـلْـتُ الـرَّجَـاءَ مِنِّيْ لِعَفْـوِكَ سُلَّـمـا

فَإِنْ تَعْفُ عَنِّي تَعْفُ عَنْ ذِي إِسَائَةٍ • ظَلُومٍ غَشُومٍ قَاسِي الْقَلْبِ مُجْرِمَا
وَإِنْ تَنْتَقِمْ مِنِّي فَلَسْتُ بِآيِسٍ • وَلَوْ دَخَلَتْ رُوحِي بِجُرْمِي جَهَنَّمَا
تَعَاظَمَنِي ذَنْبِي فَلَمَّا قَرَنْتُهُ • بِعَفْوِكَ رَبِّي كَانَ عَفْوُكَ أَعْظَمَا
فَمَا زِلْتُ ذَا عَفْوٍ عَنِ الذَّنْبِ لَمْ تَزَلْ • تَجُودُ وَتَعْفُو مِنَّةً وَتَكَرُّمَا
فَلَوْلَاكَ لَمْ يَصْمُدْ لِإِبْلِيسَ عَابِدٌ • فَكَيْفَ وَقَدْ أَغْوَىٰ صَفِيَّكَ آدَمَا
فَلِلَّهِ دَرُّ الْعَارِفِ النَّدْبِ إِنَّهُ • تَفِيضُ لِفَرْطِ الْوَجْدِ أَجْفَانُهُ دَمَا
يُقِيمُ إِذَا مَا اللَّيْلُ مَدَّ ظَلَامَهُ • عَلَى نَفْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْخَوْفِ مَأْتَمَا
فَصِيحاً إِذَا مَا كَانَ فِي ذِكْرِ رَبِّهِ • وَفِي مَا سِوَاهُ فِي الْوَرَىٰ كَانَ أَعْجَمَا
وَيَذْكُرُ أَيَّامًا مَضَتْ مِنْ شَبَابِهِ • أَخَا الشُّهْدِ وَالنَّجْوَىٰ إِذَا اللَّيْلُ أَظْلَمَا
فَصَارَ قَرِينَ الْهَمِّ طُولَ نَهَارِهِ • وَمَا كَانَ فِيهَا بِالْجَهَالَةِ أَجْرَمَا
يَقُولُ: حَبِيبِي ! أَنْتَ سُؤْلِي وَبُغْيَتِي • كَفَىٰ بِكَ لِلرَّاجِينَ سُؤْلًا وَمَغْنَمَا
أَلَسْتَ الَّذِي غَذَيْتَنِي وَهَدَيْتَنِي ! • وَلَا زِلْتَ مَنَّانًا عَلَيَّ وَمُنْعِمَا
عَسَى مَنْ لَهُ الْإِحْسَانُ يَغْفِرُ زَلَّتِي • وَيَسْتُرُ أَوْزَارِي وَمَا قَدْ تَقَدَّمَا

★ او هر كله چه زما زړۀ سخت شو او لارے مے تنګے شوے، نو ماستا د عفوے اميد نه پارسنګ جوړ کړو ★ نو كه تۀ ماته معافي اوكړے نو يو بدكار ته به معافي اوكړے، چه ظلم او زياتے كونكے سخت زړے او مجرم دے ★ اوكه تۀ مانه بدله واخلې نو بيا هم زۀ نااميده نۀ يم، اګركه زما روح زما دَ جسم سره جهنم ته هم داخل شي ★ ماته مے خپله ګناه لويه ښكاره شوه خو كله چه ما ستا د عفوے سره ددے موازنه اوكړه، نو اے ربه ! ستا عفوه ددے نه ډيره لويه وه۔ ★ ځكه تۀ هميشه ئے چه ګنهګار ته معافي كوے، او هميشه ئے چه سَخا كوے او عفوه د خپل فضل او احسان د وجے نه كوے۔ ★ كه چرے تۀ نۀ وے نو ابليس ته به هيڅ يو عابد نۀ وے ټينګ شوے، دا لاڅه كوے هغۀ خو ستا غوره شوے شخص آدم عليه السلام هم اوخويولو ★ نو ډير زيات خير دِ وي د هغه عارف دپاره چه نرم زړے دے، بيشكه د سخت محبت د وجے نه ددۀ د سترګو كاكئ وينه بهيوي ★ كله چه د شپے تيارۀ را خوره شي نو په خپل ځان باندے دَ سختے ويرے د وجے نه ماتم جوړ كړي۔ ★ كله چه د خپل رب په ذكر كښے وي نو فصيح (او جراره) وي او ددے نه علاوه په نورو خبرو كښے په خلقو كښے چاړا وي۔ ★ د خپلے ځوانئ تيرے شوے شپے ورځے رايادوي، اوكله چه شپه تيارۀ شي نو د مشا هدے او سرګوشئ والا وي۔ ★ په شپه كښے د جهالت د وجے نه مجرم نۀ وي، نو ځكه

د خپلې ورځې په اوږدو کښې د غم ملګرې وي. ★ وائي: اے زما خوږ دوسته! تهٔ زما غوښتلې شے او مقصد ئې، دَ امید لرونکو دپاره تهٔ غوښتلې شے او غنیمت بس ئې. ★ آیا تهٔ هغه ذات نه ئې چه تا ماله خوراك راکړے او هدایت دے راته کړے! او تهٔ همیشه دپاره په ما باندې احسان او انعام کونکے وې. ★ کیدے شي هغه ذات چه هغه د احسان مالك دے زما ګناه اوبخښي او زما بوجونه او هغه ګناهونه پټ اوساتي کوم چه مخکښې تیر شوی دی).

ډیر مفید بیتونه دی چه دَ امام شافعي رحمه الله په عارف بالله کیدو باندې دلالت کوي.

★ حسنؒ فرمائي: الله تعالیٰ ته چه کوم بنده په تادئ باندې ورځي، الله هغه د هغه بنده پشان نهٔ جوړوي کوم چه د هغهٔ نه روستو کیږي.(الزهد ص: ۱۴۲)

★ عمر رضي الله عنه د یو سړي نه واوریدل چه وئیلې: اے الله! ما دَ لږو خلقو نه جوړ کړې! نو عمر رضي الله عنه اوفرمائیل: لږ خلق څوك دي؟ وئیلې: ما د الله نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې: ﴿وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ﴾ [السباء: ۱۳] (زما په بندګانو کښې ډیر کم خلق شکر ګذار دی). ﴿وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ [هود: ۴۰] (او دَ هغهٔ په ملګرتیا ډیرو لږو کسانو ایمان راوړو). نو عمر رضي الله عنه اوفرمائیل: هر سړے د عُمر نه ښهٔ پوهیږي. (الزهد ص: ۱۴۲)

★ حدیث کښې دی: دا دَ یقین کمزوري ده: چه تهٔ د الله په خفه کولو سره خلق خوشحاله کړې، او دَ الله په رزق باندې دَ دوئ صفتونه کوې.(المدارج: ۲/، منزلة التوکل)

★ عمر رضي الله عنه د الله تعالیٰ دَدې وینا په باره کښې فرمائي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا﴾ [حم سجده: ۳۰] (بیشکه هغه خلق چه وائي زمونږ رب الله دے او بیا تینګ ولاړ دی). فرمائي: د الله په طاعت باندې تینګ ولاړ دی، بیا دَ هغې نه لکه د ګیدړانو پشان اخوا دیخوا کیږي نهٔ.(الزهد ص: ۱۴۴)

★ دارنګه فرمائي: که چرې درې څیزونه نهٔ وې نو مابه مرګ خوښ کړې وې: (۱) که چرې ما خپل تندے الله تعالیٰ ته نهٔ ایخودلے (۲) او زهٔ په داسې مجلسونو کښې نهٔ کیناستے چه په هغې کښې خوږې خبرې داسې چُونړ کولې شي څنګه چه په دے کښې خوږې میوې چُونړ کولې شي (۳) او دا چه که زهٔ د الله په لاره کښې (جهاد) له نهٔ تلے. (نو مابه مرګ خوښ ګڼړلے وې).(الزهد ص: ۱۴۶)

★ دارنګه فرمائي: ښهٔ پوهه شئ چه طمع فقر دے او د خلقو نه نا امیدي مالداري ده، اوکله چه سړے د یو شئ نه ناامیده شي نو د هغې نه بے پرواه شي. (الزهد ص: ۱۴۷)

او فرمائي: صفت کول ذبح کول دي۔
اوفرمائي: صفت کول د عابدانو غنیمت دے۔ (الزهد ص: ۱٤۷)
دارنګه ابو موسیٰ اشعري ﷺ ته فرمائي: خپل رب طرفته زمونږ شوق پیدا کړه، نو هغهٔ به قرآن لوستل شروع کړل۔(الزهد ص: ۱٤۸)
★ او عمر ﷺ به په خپله وظیفه کښې په یو آیت باندے ورتیر شو، نو هغه به ورله ساه خپه کړه، نو خلق به هغهٔ له څو ورځو پورے تپوس له ورتلل، د هغوئ به دا خیال وو چه دا مریض دے۔ (الزهد ص: ۱٤۹)
★ دارنګه عمر ﷺ فرمائي: خپلو ځانونو سره حساب کوئ مخکښې ددے نه چه تاسو سره حساب اوکړے شي، او خپل ځانونه تلئ مخکښې ددے نه چه تاسو اووتللے شئ، ځکه صبا له په تاسو کښې د حساب په اعتبار سره ډیر سپك والے دادے چه تاسو ځان سره حساب اوکړئ۔ او خپل ځانونه لوئے پیشئ دپاره ښائسته کړئ په کومه ورځ چه به تاسو پیش کولے شئ چه ستاسو نه به هیڅوك پټیدلے نشي۔ (ز: ۱٤۹)۔
★ دارنګه فرمائي: تاسو باندے لازم دي چه د الله ذکر اوکړئ ځکه چه دا شِفاء ده، او د خلقو د تذکرو نه ځانونه اوساتئ ځکه چه دا بیماري ده۔ (ز: ۱۵۱)۔
★ دارنګه فرمائي: که چرے زهٔ د ورځے اوده شم نو بیا خوبه خپل رعیت ضائع کړم، اوکه د شپے اوده شم نو خپل ځان به ضائع کړم۔ نو ددے دواړو څیزونو سره به زهٔ څنګه خوب اوکړم؟ (ز: ۱۵۲)۔
★ دارنګه فرمائي: دَ سړي دپاره دا اسراف کافي دے چه څه وخت ئے زړهٔ ته اوشي خوراك کوي۔ (ز: ۱۵۲)۔
★ دارنګه فرمائي: دین، د شپے په آخر کښې طن طن کولو ته نهٔ وائي، بلکه دین احتیاط او پرهیزګارئ ته وائي۔ (۱۵۵)۔
★ ابو درداء ﷺ فرمائي: یو سړے پوره فقیه کیدے نشي تر څو چه د الله په باره کښې خلق بدے اونهٔ ګنړي، او بیا خپل ځان ته رجوع اوکړي نو ځان سره ئے ډیر بغض پیدا شي۔
(الأسماء والصفات للبیهقي ص: ۲۸۳، والزهد: ٦۷).
★ یو سړي عمر ﷺ ته اوویل: زما قوم زهٔ مخکښې کړم او ما هغوئ ته مونځ اوکړو، نو هغوئ ماته حکم اوکړو چه زهٔ دوئ ته بیان اوکړم، نو ما داکار اوکړو، نو عمر ﷺ ورته وفرمایل: مونځ ورته کوه خو بیان ورته مه کوه۔ هغه سړے عمر ﷺ ته درے ځله راغے، نو

عمر ﷺ ورته اوفرمائيل : بيان ورته مه كوه ځكه زهٔ پتا يريږم چه تهٔ به خپل ځان اوچت اوګنړې نو الله به دې ښكته وارتوی۔ (الزهد ص : ١٥٢)

★ حميد بن نعيمٌ فرمائي : عمر او عثمان –رضي الله عنهما– يو طعام ته اوبللے شول نو كله چه دواړه اووتل، عثمان ﷺ عمر ﷺ ته اوفرمائيل : مونږ دے خوراك ته حاضر شو خو مونږ دا آرمان كوو چه ديته نهٔ وے حاضر شوی، هغهٔ وئيلے : ولے ؟ عثمان ﷺ اوفرمائيل : ځكه ما سره فكر دے چه دا به د فخر په طور جوړ كړے شوے وی۔(ز : ١٥٧)۔

★ عثمان ﷺ فرمائي : كه چرے ستاسو زړونه پاك شی نو تاسو به د الله عز وجل د كتاب نه ماړهٔ نشئ۔ (ز : ١٥٩)۔

★ دارنګه فرمائي : كه چرے زهٔ د جنت او جهنم ترمينځه يم، ماته معلومه نهٔ وی چه په دے دواړو كښے به كوم يو طرفته ماته حكم كيږی، نو مابه دا غوره ګنړلے وے چه زهٔ اِيره وے مخكښے ددے نه چه ماته پته اولګی چه په دے دواړو كښے كوم يو طرفته زهٔ ورګرځم۔

(ز : ١٦٠)۔

★ علي ﷺ فرمائي : علم زده كړئ تاسو به په دے باندے اوپيژندلے شئ، په دے باندے عمل اوكړئ نو تاسو به ددے د اهل نه جوړ شئ، ځكه يوه داسے زمانه را روانه ده چه په هغے كښے به په لسو برخو كښے نهه برخے خلق د حق نه انكار كوی، په دے زمانه كښے به صرف د فتنو نه غافل او پاكو زړونو والا خلق نجات بياموмی، چه دا خلق د هدايت امامان او د علم چراغونه دی۔ (ز : ١٦٢)۔

★ دارنګه فرمائي : زهٔ چه ډير زيات ستاسو باندے د كوم شئ نه يريږم، هغه دوه څيزونه دی : اوږدهٔ اميدونه، او د خواهش تابعداری۔ هر چه اوږدهٔ اميدونه دی نو دا د انسان نه آخرت هيروی، او هرچه د خواهش تابعداری ده نو دا دَ حق نه بندول كوی۔ خبردار ! دنيا شا راړونكے روانه ده، او آخرت رامخامخ كيدونكے دے، او په دے دواړو كښے د هر يو دپاره ځامن شته دے، نو تاسو د آخرت د ځامنو نه شئ، او د دنيا د ځامنو نه مه جوړيږئ، ځكه نن ورځ عمل شته خو حساب نشته، او صبا له به حساب وی خو عمل به نهٔ وی۔

(الزهد : ١٦٣)۔

★ علي ﷺ ته فالوده راوړے شوه او د هغهٔ مخے ته كيخودے شوه، نو وے فرمائيل : يقينا ستا خوشبوئے مزيداره، رنګ دے ښائسته او خوند دے خوږ دے، ليكن زهٔ بد ګنړم چه خپل ځان د هغه شئ سره عادت كړم، كوم سره چه عادت نه دے۔ (ز : ١٦٥)۔

★ علي ﷺ د يوې روپۍ كهجورې واخستې او هغه ئې په يو څادر كښې ځان سره بار كړې، عرض ورته اوكړې شو : دابه مونږ درسره واخلو اے امير المؤمنين ! وې فرمائيل : بال بچ والا ددې ډير حقدار دے چه خپله بار اوچت كړي.(ز: ١٦٦).

★ ابو درداء ﷺ فرمائي : په خلقو كښې چه ته څه وينې په هغې كښې په هر شئ پسې خپل نظر مهٔ وړپسې كوه ځكه څوك چه هر هغه شئ پسې كوم چه په خلقو كښې ويني، خپل نظر وړپسې كوي نو ددهٔ غم اوږديږي او غصې ته ئې شِفا نهٔ ملاويږي. او څوك چه د الله نعمت صرف په خوراك څكاك كښې پيژني نو ددهٔ عمل كم شو او عذاب ئې حاضر شو. او څوك چه د دُنيا نه بے پرواه نهٔ وي نو ددهٔ دنيا نشته. (ز: ١٦٦).

★ دارنګه فرمائي : تهٔ پوره طور سره فقيه نشې جوړيدے تر څو چه د قرآن دپاره ګنړې معنې اونهٔ وينې او تر څو چه تهٔ د الله په باره كښې خلقو سره بغض اونهٔ كړې. الخ. (ز : ١٦٧). دا خبره مخكښې هم تيره شوې ده.

★ دارنګه فرمائي : د خپلې خوشحالۍ په موقع د الله نه دعاء غواړه كيدے شي چه د تكليف په وخت درله دعاء قبوله كړي.(ز: ١٦٧).

★ ابو درداء ﷺ سلمه بن مخلدؓ ته اوليكل، أما بعد : بنده چه كله د الله په طاعت باندې عمل كوي، الله ورسره محبت لري. او كله چه ورسره الله محبت اوساتي نو خپل مخلوق ته ئې محبوب ښكاره كړي. او كله چه په ګناه عمل كوي، الله ورسره بغض اولري، اوكله چه ورسره الله بغض اولري نو خپل مخلوق ته ئې مبغوض ښكاره كړي.

★ أم درداء – رضي الله عنها – نه تپوس اوشو : د ابو درداءؓ غوره عمل كوم يو وو ؟ هغې وئيلې : فكر او عبرت حاصلول.

★ دارنګه ابو درداء ﷺ فرمائي : د سړي كور څه ډيره ښه عبادت خانه ده، په دې كښې خپل نظر او ژبه بنده ساتي، او تاسو د بازارونو نه ځان اوساتئ ځكه دا په غفلت او لغوه كارونو كښې اچول كوي.

★ دارنګه فرمائي : هغه خلق چه د هغوئ ژبې د الله په ذكر باندې لمدې دي، په دوئ كښې به هر يو كس جنت ته په خندا خندا داخليږي. (الزهد ص : ١٦٨)

★ دارنګه فرمائي : زده كونكے او ښودونكے دواړه په اجر كښې برابر دي، او ددې دواړو نه سيوا په بل چا كښې خير نشته.(ز: ١٦٩).

او په يو روايت كښې دي : باقي ښكته خلق دې چه هيڅ خير په كښې نشته. (١٧٠).

★ دارنګه فرمائي : که چرے درے څیزونه نهٔ وے نو خلق به جوړ وے : (١) بخل چه د هغے اطاعت کیږي (٢) خواهش چه دَ هغے پیروي کیږي (٣) او دَ هر سړي په خپله رائے باندے فخر کول۔ (ز ص: ١٦٩)۔

★ سالم بن أبي الجعدؒ فرمائي : ابو درداء ﷺ تـه اووئیلے شو چه ابو سعد بن منبه سل غلامان آزاد کړي دي، نو هغه اوفرمائیل : سل غلامان آزادول د یو سړي دَ مال نه خو ډیر شے دے، خو که ستا خوښه وي نو زهٔ به درته ددے نه غوره شے اوښایم۔ داسے ایمان چه شپه او ورځ د انسان سره لازم وي، او دا چه ستا ژبه دے د الله عز وجل په ذکر باندے لمده وي۔

(ز: ١٧٠)۔

★ دارنګه ابو درداء ﷺ فرمائي : ډیر فکر چه ما سره د کومے خبرے دے، هغه دادے چه کله زهٔ د خپل رب تبارك وتعالیٰ سره ملاؤ شم او ماته اووائي : تهٔ خو عالم وے نو تا په خپل علم څومره عمل کړے دے ؟

★ او فرمائي : چه زهٔ سل ځله الله اکبر اووایم، دا ماته ددے نه غوره ده چه سل اشرفۍ صدقه کړم۔

★ او فرمائي : عِلم طلب کړئ که طلب کولے ئے نشئ نو عِلم والو سره محبت ساتئ۔ که چرے دوئ سره محبت هم نشئ ساتلے نو بیا ورسره بغض مهٔ کوئ۔ (ز: ١٧٠)۔

★ او فرمائي : درے څیزونه دي چه خلق ئے بد ګڼري خو زهٔ ئے ښه ګڼرم : فقر، بیماري، او مرګ۔(ز: ١٧١)۔

★ او فرمائي : څه ډیر ښه دے خوب د هوښیارانو خلقو او کوژه د دوئ، څنګه دوئ دَ کم عقلو خلقو بے خوبي او روژے تاواني ګڼري۔ او دَ تقویٰ او یقین والا سړي یوه ذرّه هم دَ دهوکه مارو خلقو دَ غرونو هومره عبادت نه غټه، غوره او درنه ده۔(ز: ١٧١)۔

★ او یو ځل ام درداءؓ د وړو ختمیدو شکایت اوکړو، نو ابو درداءؓ اوفرمائیل : زمونږ مخے ته یو سخت کنډو دے چه سپك بوج والا به په دے کښے د درونډ بوج والا نه غوره وي۔

(ز: ١٧١)۔

★ دارنګه فرمائي : ستا دا ګناه هم تاله کافي ده چه تهٔ همیشه جنګ کونکے ئے، او ستا دا ظلم هم بس دے چه تهٔ همیشه جګړے کونکے ئے، او ستا دا دروغ هم کافي دي چه تهٔ همیشه بیان کونکے ئے، سیوا د هغه بیان نه چه د الله عز وجل د ذات په باره کښے وي۔

(ز: ١٧٢)۔

★ ام درداءؓ فرمائي : يو ځل ابودرداء ﷺ په غصه باندے کور ته راغے، ما وئيلے : څه شئ غصه کړے ئے ؟ وئيلے : قسم په الله ! زۀ په خلقو کښے د محمد ﷺ دَ دين نه بل شے نۀ مومم سيوا ددے نه چه دوئ په جمع مونځ کوي۔(١٧٢)۔

★ او فرمائي : زۀ د جاهليت په زمانه کښے تاجر ووم نو کله چه اسلام راغے نو ما د تجارت او عبادت ترمينځه د جمع والي کوشش اوکړو خو هغه دواړه راجمع نشو، نو ما تجارت پريښودلو۔ (ز : ١٧٢)۔

★ دارنګه فرمائي : يو ساعت فکر کول دَ ټولے شپے د قيام (عبادت) نه غوره دے۔(ز : ١٧٣)

★ او فرمائي : په مؤمن کښے هيڅ يوه ټکړه نشته چه الله ته د هغۀ د ژبے نه زياته غوره وي، د همدے په وجه به دا جنت ته ځي۔ او په کافر کښے هيڅ يوه ټکړه داسے نشته چه الله ته د هغۀ د ژبے نه زياته ناخوښه وي، او په همدے به اور ته ځي۔

★ او فرمائي : کله چه تاته څه داسے کار راپيښ شي چه ستا وَس پرے نه کيږي نو بيا صبر کوه او دَ الله عز وجل د طرفنه د فراخئ انتظار کوه۔

★ ام درداءؓ فرمائي : يو ځل ابودرداءؓ ټوله شپه شوګيره کړه، مونځ ئے کولو او ژړا ژړا کښے ئے دا دعاء کوله : اَللّٰهُمَّ اَحْسَنْتَ خَلْقِيْ فَأَحْسِنْ خُلُقِيْ (اے الله ! تا زما پيدائش ښائسته کړيدے نو زما اخلاق هم ښائسته کړه)۔ تردے چه صبا ئے کړو۔ ما عرض اوکړو : اے ابودرداء ! بيګاه ستا ټوله دعاء صرف دَ ښائسته اخلاقو په باره کښے وه ؟ وے فرمائيل : اے ام درداء ! مسلمان بنده خپل ښه اخلاق کوي تردے چه ددۀ ښۀ اخلاق دے جنت ته بوځي، او بد اخلاقي کوي تردے چه دائے اور ته بوځي۔ (ز : ١٧٤)۔

★ او فرمائيل به ئے : ماته مے هيڅ يو ورور څه هديه نۀ ده راليږلے چه هغه دَ سلام نه ماته ډيره خوښه وي، او نۀ دَ هغۀ د طرفنه ماته څه خبر را رسيدلے دے چه هغه ماته دَ هغۀ د مرګ نه زيات تعجب کښے غورزونکے وي۔ (ز : ١٧٤)۔

★ اوفرمائي : کوم سړے چه جومات ته په دے اراده لاړ شي چه هلته به خير زده کړم يا به ئے بل ته اوښايم، نو خامخا الله تعالىٰ هغۀ دپاره د مجاهد اجر ليکلي او چه را واپس کيږي نو غنيمت حاصلونکے به وي۔ (ز : ١٧٤)۔

★ ابن مسعود ﷺ فرمائي : ياد ساتئ ! په آخره زمانه کښے ښائسته وضع قطع (اخلاق) د بعضے عمل نه بهتر دي۔

(رواه البخاري في الأدب المفرد باسناد صحيح، فتح الباري : ١٠/٤١٩)

★ حدیث کښې دی : خاوند سره بنائسته جماع کول دَ ایمان نه دی۔ (فتح الباری : ۱۰/۳۷۳)

★ ابودرداء ﷺ فرمائی : د نفاق د خشوع نه په الله پورے پناه غواړئ۔ عرض اوشو، د نفاق خشوع څه ده؟ وے فرمائیل : چه بدن خشوع کونکے وی او زړهٔ خشوع کونکے نهٔ وی۔ او دَ حذیفه ﷺ په روایت کښې دی : او زړهٔ بدکارے وی۔ (ز : ۱۷٦)۔

★ جُبیر بن نفیرؒ فرمائی : کله چه قبرص (علاقه) فتح شوه او خلق ئے تس نس شو نو یو بل ته په ژړا شو، نو ما ابو درداء ﷺ یواځے ناست اولیدلو چه ژړل ئے۔ عرض مے اوکړو، اے ابودرداء! تهٔ ولے په داسے ورځ کښې ژاړے په کومه کښې چه الله اسلام او مسلمانانو له عزت ورکړو؟ وے فرمائیل : تعجب دے پتا اے جبیره! بندګان چه کله د الله حکم پریدی نو په هغهٔ باندے څومره سپك دی؟ دا یو زورور او غالب امت وو، بادشاهی د دوئ وه، خو کله چه دوئ د الله عز وجل حکم پریخودلو نو د دوئ حالت داسے شو چه اوس ئے تهٔ وینے!

★ دارنګه فرمائی : هغه چا دپاره یو ځل تباهی ده چه نه پوهیږی، او هغه چا دپاره اووه ځله تباهی ده چه پوهیږی او عمل نه کوی۔

★ دارنګه فرمائی : نیکی نهٔ زړیږی او ګناه نه هیریږی، او جزاء ورکونکے ذات نهٔ اوده کیږی، نو تهٔ هغه شان جوړ شه څنګه چه دے خوښه وی۔ لکه څنګه چه کوے هغه شان به بدله درکیدے شی۔

★ او فرمائی : انسان دے ددے نه اویریږی چه د مؤمنانو زړونه به ورسره بغض اوساتی او دهٔ ته به پته نهٔ وی۔ (ز : ۱۷٦)۔

★ ابو درداء ﷺ فرمائی : څوك چه د مرګ تذکره ډیره کوی نو ددهٔ حسد او ظلم کمیږی۔

★ او فرمائی : که ستاسو خوښه وی نو زهٔ به درته اوښایم چه د الله په بندګانو کښې څوك الله ته ډیر محبوب دی؟ هغه کسان چه الله خپلو بندګانو ته محبوب جوړوی، په زمکه باندے د خیر خواهئ عملونه کوی۔ اوکه ستاسو خوښه وی نو زهٔ به درته قسَم اوخورم چه د الله په بندګانو کښې الله ته تولو نه زیات محبوب بندګان دَ نمر او سپوږمئ شپونکیان دی۔

★ او فرمائی : زهٔ پتاسو باندے دَ عالم د خوئیدلو او په قرآن سره د منافق دَ جګړے کولو نه یریږم۔ قرآن خو داسے حق دے چه په دے باندے مناره ده لکه د لارے دَ منارے پشان، او څوك چه د دنیا نه بے پرواه نهٔ وی نو ددهٔ دنیا نشته۔ (الزهد ص : ۱۷۷)

★ اوفرمائی : درے څیزونه د انسان د تولو کارونو د واګی حیثیت لری : د خپل مصیبت

شکایت مه کوه، او د خپل درد بیان مۀ کوه، او په خپله ژبه د خپل ځان تزکیه مه کوه۔

★ سعید بن مسیبؒ فرمائی : دَ ماسخوتن مونځ نه اودۀ کیدل ماته ددے نه ډیر خوښ دی چه ددے نه پس بے فائدے خبرے اوکړم۔(ز : ۱۷۸)

★ زبیر ﷜ فرمائی : څوك چه غواړی چه د هغۀ دپاره دے یو پټ نیك عمل وی نو هغه دے دا کار اوکړی۔(ز : ۱۷۹)۔ او دا یو مرفوع صحیح حدیث هم دے۔

★ ابو درداء ﷜ فرمائی : څه وجه ده مالره چه زۀ ستاسو علماء وینم چه روان دی، او ستاسو جاهلان وینم چه عِلم نۀ زده کوی۔ علم دَ پورته کیدو نه مخکښے زده کړئ ځکه چه دَ علم پورته کیدل دَ علماؤ ختمیدل دی۔

څه وجه ده مالره چه زۀ تاسو وینم چه په هغۀ شئ باندے حرص کوئ چه د هغے ذمه واری تاسو دپاره اخستل شوے ده، او هغه شے ضائع کوئ چه تاسو ته سپارل شوے دے۔ خامخا ماته ستاسو شریره خلق ډیر ښه معلوم دی چه دومره به لا دَ اسونو نگران ته اسونه هم نۀ وی معلوم۔ دا هغه کسان دی چه مونځونو ته روستو روستو را روان وی، او قرآن کریم دَ بکواس په طور آوری۔ (۱۰۸)۔

★ ابو رجاء عطاردیؒ فرمائی : ما ابن عباس – رضی الله عنهما – اولیدلو چه دَ هغۀ دَ دواړو سترگو لاندے د اوښکو دَ وجے نه دَ زړے تسمے په شان اثر وو۔

★ محمد بن منکدرؒ فرمائی : که چرے تا عبد الله بن زبیر – رضی الله عنهما – د مانځه په حالت کښے لیدلے وے، نو تا به وئیلے چه دا وُنه ده چه هواگانے ئے اخوا دیخوا اړوی، او دَ منجنیق (مچوغنے) کانړی به اخوا دیخوا لگیدل، خو هغۀ به نۀ کتل۔ (۱۸۱)۔

★ ابو ذر ﷜ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : قسَم دے په هغه ذات چه د هغۀ په لاس کښے زما ساه ده ! که چرے تاسو ته هغه څه معلوم وے کوم چه ماته معلوم دی نو خامخا به مو کم خاندلی وے او ډیر به مو ژړلی وے او بسترو به نۀ وے پورته کړی، اونۀ به مو د ښځو نه خوندونه اخستی وے، اونه به مو په خوراك ځان موړ کړے وے، بلکه دشتو صحراونو ته به وتلی وے او الله ته به مو فریاد کولے۔

نو ابوذر ﷜ به چه کله دا حدیث بیانولو فرمائیل به ئے : آرمان دے چه زۀ یوه وُنه وے چه پریکړے شوے وے۔

(ددے اسناد ضعیف دے، په دے کښے د شهر بن حوشب سره یو بل مجهول راوی هم دے، اگرکه د شهر حدیث صحیح دے۔ ۱۸۲)۔

★ ابو ذر ﷺ فرمائی: آرمان دے چه زۀ وُنه وے چه پریکړے شوے وے او آرمان دے چه زۀ هډو پیدا نۀ وے۔ (۱۸۲)۔

★ دارنګه فرمائی: د نیکئ سره دومره دُعاء کفایت کوی څومره چه د خوراك سره مالګه کفایت کوی۔ (۱۸۲)۔

★ ابو ذر ﷺ فرمائی: نبی ﷺ اوفرمائیل: ماته یو داسے آیت معلوم دے چه که چرے خلقو هغه را اونیولو نو دابه ورله کافی شی: ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ [الطلاق: ۲،۳]

(څوك چه د الله نه یریږی نو الله به هغهٔ دپاره د خلاصئ ذریعه جوړوی او د هغه ځائے نه به ورله رزق ورکوی چه ددهٔ وهم او ګمان به هم نۀ وی)۔

نو نبی ﷺ همیشه وو چه دا آیت ئے لوستلو او تکرارولو ئے۔ (۱۸۳)۔

★ ابو ذر ﷺ فرمائی: تهٔ خلق نهٔ ګورے څومره ډیر دی، خو په دوئ کښے دَ متقی او توبه ویستونکے نه سیوا په بل هیڅ یو کښے خیر نشته۔ (ز: ۱۸۳)۔

★ او فرمائی: چاچه شهرت والا جامے واغوستے یا شهرت والا سورلئ باندے سور شو، نو الله عز وجل به ترے مخ واړوی ترڅو چه په دے حالت کښے وی۔ اګرکه د الله په نیز عزتمند هم وی۔

(ددے په سند کښے لیث او شهر راویان دی، چه په دوئ کښے خبرے اترے شته۔ ۱۸٤)۔

★ او فرمائی: اے خلقو! زهٔ ستاسو خیر خواه یم، او زهٔ پتاسو شفقت کونکے یم، دَ قبرونو دَ وحشت دَ وجے نه د شپے په تیارهٔ کښے مونځ کوئ۔ او دَ حشر دَ ورځے دَ ګرمئ دپاره په دنیا کښے روژے نیسئ۔ او دَ سختے ورځے دَ خوف د وجے نه صدقے کوئ۔(ز: ۱۸۵)۔

★ عمران بن حصین ﷺ فرمائی: آرمان دے چه زهٔ اِیره وے چه هواګانو آلوزولے وے۔ (۱۸٦)۔

★ عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله تعالیٰ ته محبوب ترین خلق غرباء دی۔ تپوس اوشو، غرباء څوك دی؟ وے فرمائیل: هغه خلق چه هغوئ خپل دین سره تختی، الله تعالیٰ به دوئ د قیامت په ورځ د عیسیٰ بن مریم علیهما السلام سره راپورته کوی۔(ددے سند صحیح دے۔ ۱۸۷)۔

★ سلمان ﷺ جریر ﷺ ته اوفرمائیل: الله ته تواضع کوه ځکه څوك چه الله دپاره په دنیا کښے تواضع کوی، الله ئے د قیامت په ورځ اوچتوی۔ (۱۸۸)۔

★ ابن مسعود ﷺ فرمائي : زۀ په يو سړي باندے گمان کوم چه هغۀ نه زده کړے علم هير شو، دَ وجے دَ گناه نه چه هغه کوي۔ (۱۹۶)۔

★ او فرمائي : څوك چه د علم اراده لري نو قرآن دے را پورته کړي ځکه چه په دے کښے دَ اولينو او آخرينو علم پروت دے۔ (۱۹۶)۔

★ او فرمائي : آرمان دے چه زۀ دَ خرۀ د خاشنو نه پيدا وے او صرف دے طرفته منسوب وے اوداسے وئيل کيدۀ چه : عبد الله ځوئے دَ خاشنۀ، خو چه ماته پته وے چه الله تبارك وتعالىٰ ماته يو ه گناه بخښلے ده۔ (۱۹۶)۔

دے نه اندازه اولگوئ چه عبد الله بن مسعود ﷺ د الله څومره معرفت او قدر پيژندلو !

★ دارنگه فرمائي : دَ دنيا صفائي لاړه او خيرے ئے پاتے دے، نو د مسلمان دپاره نن ورځ مرګ کيدل جنت دے۔ (ز : ۱۹۶)۔

★ منصورؒ فرمائي : ابن مسعود ﷺ به چه مانځه ته اودريدۀ نو داسے به معلوميدۀ لکه غورزولے جامه۔(۱۹۶)۔

★ اوفرمائي : د الله نه يره کول پوره علم دے، او په الله باندے دهوکه کيدل پوره جهالت دے۔ (ز : ۱۹۷)۔

★ اوفرمائي : هغه چا دپاره هلاکت دے چه نۀ پو هيږي اوکه الله غوښتلے نو پو هه کړے به ئے وے۔ او دَ هغه چا دپاره اووه ځله هلاکت دے چه پو هيږي او عمل نۀ کوي۔ (۱۹۸)۔

★ او فرمائي : په سنت کښے درميانه روي کول، په بدعت کښے د کوشش کولو نه غوره دي۔ (۱۹۸)۔

★ اوفرمائي : چاته چه مونځ د نيکئ حکم نۀ کوي او د بدئ نه ئے نۀ منع کوي، نو په دے سره به نور هم دَ الله نه لرے شي۔

★ اوفرمائي : زۀ د هغه سړي سره بغض کوم چه اوزگار ئے وينم، چه نۀ د دنيا کار کوي او نۀ د آخرت کار۔ (۱۹۹)۔

★ او ابن مسعود ﷺ په هغه خلقو باندے تير شو چه هغوئ بَنئ (بَتئ) کښے پُوکی کول نو را پريوتلو۔ (ز : ۲۰۰) (يعنىٰ : د آخرت اور ورته راياد شو)۔

★ عبد الله بن مسعود ﷺ يو سړے اوليدلو چه په جنازه کښے روان وو اوخندلے، ورته ئے اوفرمائيل : تۀ په جنازه کښے خاندے زۀ به درسره هيڅ کله خبرے اونه کړم۔ (۲۰۱)۔

★ او، فرمائي : بيشکه دا زړونه لوښي دي نو تاسو دا په قرآن باندے مشغوله کړئ او

ددے نه سيوائے په بل شئ مۀ مشغوله کوئ۔(۲۰۱)۔

★ او، فرمائي : حاملِ قرآن له پکار دی چه په خپله شپه باندے پيژندلے شی کله چه خلق اوده وی، او په خپله ورځ باندے پيژندلے شی کله چه خلق کوژه وی، او په غم سره کله چه خلق خوشحاله وی او په خپله ژړا سره، کله چه خلق خاندی، او په خپلے خاموشئ سره، کله چه خلق بيهوده خبرے کوی، او په خپلے خشوع سره، کله چه خلق تکبر کوی۔ او حاملِ قرآن له مناسب دی چه ژړيدونکے، غمژن، روغ زړۀ والا او عاجزه وی۔ او حاملِ قرآن له پکار نۀ دی چه سخت زړے، غافل، خنديدونکے، شور زوګ کونکے او تيزی کونکے وی۔(الزهد : ۲۰۲)

★ او، فرمائي : قسَم دے په هغه ذات چه د هغۀ نه سيوا بل هيڅوك د عبادت لائق نشته، په مخ د زمکه باندے هيڅ داسے شے نشته چه هغه د ژبے نه زيات د بندولو لائق وی۔ (۲۰۲)۔

★ او، فرمائي : مصيبتونه په خبرو پورے تړلی دی۔

★ اوفرمائي : هرے خوشحالئ سره خفګان دے، او هيڅ يو کور د خوشحالئ نه نۀ دے ډک شوے مګر هغه د اوښکو نه ډك شوے دے۔ (۲۰۳)۔

★ اوفرمائي : قسَم په الله ! که چرے ستاسو جسمونه روغ شی او زړونه مو بيمار وی، نو خامخا به تاسو په الله باندے دَ ګونګټانو نه هم زيات سپك شئ۔ (۲۰۳)۔

★ او فرمائي : قسَم په الله ! پتاسو کښے هيڅ يوَ کس نشته مګر خپل رب به هغۀ له داسے يوائے کړی، لکه څنګه چه پتاسو کښے څوك د څوارلسمے شپے سپوږمئ سره يوائے شی، نو ورته وائی به : اے د آدم ځويه ! تۀ څه شئ په دهوکه کښے غورزولے ؟ اوتا د پيغمبرانو څنګه قبول والے کړے ؟ اوکوم علم چه دے زده وو په هغے دے څومره عمل کړے؟ (۲۰٤)۔

★ حديث کښے دی : (چاچه دَ خلقو په خفګان سره د الله رضا تالاش کړه، الله تعالیٰ به ئے د خلقو دَ مشقت نه کافی شی، اوچاچه دَ الله په خفګان سره د خلقو رضا تالاش کړه، الله تعالیٰ به ئے خلقو ته اوسپاری)۔

دا مرفوع هم روايت شوے او د عائشے رضی الله عنها قول هم دے۔(ز : ۲۰۵)۔

او دا صحيح حديث دے۔

★ عائشے رضی الله عنها به فرمائيل : آرمان دے چه زۀ هيڅ شے نۀ وے، آرمان دے چه زۀ

هلته پیدا نهٔ وي، آرمان دے چه زهٔ ونه وے چه پریکړے شوے وے، آرمان دے چه زهٔ دَ وُنے یوه پانړه وے- (۲۰۵)-

★ او فرمائي : بیشکه تاسو چه غوره عبادت کوئ نو هغه تواضع ده- (۲۰۷)-

★ علي بن حسینؒ فرمائي : چاچه خندا اوکړه نو دَ علم اثر به اوشیندی- (۲۰۸)-

★ او دوئ به چه کله سائل له صدقه ورکوله نو اول به ئے خکل کړو او بیابه ئے ورکړله- (۲۰۸)-

★ منصور بن زازانؒ فرمائي : غم او خفگان نیکئ زیاتوی، او گناه او تکبر بدئ زیاتوی- (۲۰۹)-

★ سفیان بن عیینهؒ فرمائي : عالم هغه نهٔ دے چه خیر او شر دواړه جدا جدا پیژني، بلکه عالم هغه څوک دے چه خیر اوپیژني نو تابعداری ئے اوکړي، او شر اوپیژني نو ځان ترے اوساتي- (ز: ۲۱۰)

★ یزید بن تمیمؒ فرمائي : چالره چه قرآن او مرگ اونه یَرولو، نو که غرونو خپلو کښے یو بل له په ډغرو ورشي نو هم نهٔ یریږي-(ز: ۲۱۰)

★ ابن ابي زکریا فرمائي : ما دَ نیغ والي نه مخکښے شل کاله د خپلے ژبے علاج اوکړو- (او په سیر اعلام النبلاء کښے اویا کله دی)-(ز: ۲۱۱)

★ ابو واقد لیثيؒ فرمائي : مونږ پرله پسے عملونه اوکړل خو مونږ هیڅ داسے عمل بیانهٔ موندلو چه هغه په دنیا کښے دے رغبتئ نه زیات آخرت تالاش کولو ته رسونکے وی- (ز: ۲۱٤)

★ د فضیل بن عیاضؒ بزے دَ بعضے امیرانو څه شے خوړلے وو، نو هغهٔ ددے نه پس د هغے پئ اونه سکل- (۲۱٤)

★ سفیان بن عیینهؒ یو حدیث بیان کړو چه په هغے کښے د اور تذکره وه، نو دے سره علي بن فضیلؒ داسے چغه کړه چه دَ هغے په وجه بیهوشه شو او کاغذ ترے پریوتلو- سفیانؒ ورته اوکتل، وئیلے : که ماته پته وے چه تهٔ دلته ناست ئے نو مابه دا حدیث نهٔ بیانولے- نو الله ته معلومه ده چه څو مره وخت پس هغه په خود کښے راغے- (۲۱۵)

★ امام اوزاعيؒ فرمائي : په خلقو به داسے زمانه راشي چه په هغے کښے به د تولو نه کم دا څیزونه وی : (۱) غمخور ورور، (۲) د حلالو روپئ (۳) او په سنت باندے عمل کول- (۲۱۵)-ډیر عجیب کلام دے چه نن ددے مصداق موجود دے-

★ په بعض آثارو کښې دي : زهٔ ډیر زیات سَخا کونکے یم، څوك دے چه مانه زیات سَخا او بخشش کونکے وي ؟ زهٔ د شپے د خپلو بندګانو حفاظت کوم د دوئ په بسترو باندے او دوئ په غټو غټو ګناهونو باندے زما مقابله کوي۔

★ په بعضے آثارو کښې راغلي : د آدم ځویه ! زما خیر تاته نازلیدونکے دے، او ستا شر ماته راختونکے دے، زهٔ تاته د نعمتونو په ذریعه څومره خپل ځان محبوب ښکاره کوم حال دا چه زهٔ تانه بے پرواه یم، او تهٔ په ګناهونو باندے څومره ځان مبغوض ښکاره کوے حال دا چه تهٔ ماته محتاج ئے، او همیشه عزتمند ملائك ماته ستا د طرفنه بد عمل راخیژوي۔ (طريق الهجرتين : ٣١٦)

★ د الله دَ **محبت** سببونه دوه دي :

١ – احسان ته کتل۔

٢ – او د الله په اسماؤ او دَ هغه د جلال او جمال په صفاتو کښې فکر کول۔ کله چه دا دواړه جمع شي نو بيا دَ محبت نه صرف هغه زړهٔ پاتے کيږي چه هغه سخت خبيث وي۔ (طريق : ٣١٨)۔ ★ بعضے عارفين وائي : چا چه الله ته شوق اوکړو، الله به دهٔ ته هر شے شوق کونکے جوړ کړي۔ (طريق : ٣٣٦)

شوق دَ زړهٔ هغه سفر ته وائي چه محبوب طرفته ئے کوي۔

★ پخوانو نیکانو به وئیلے : کله چه تاسو نیکي اوکړئ نو هیره ئے کړئ، او کله چه درسره احسان اوشي نو مهٔ ئے هیروئ۔ (طريق : ٣٦٥)

★ ابن قيم رحمه الله فرمائي : دَ چا سترګه چه په الله سبحانه باندے يخه شي نو په دهٔ باندے هره سترګه يخيږي، او هر وحشت والا ورسره بلديږي، او هر خبيث دهٔ لره مزيدار ګنړي، او هر غمژن پرے خوشحاليږي، او هر يريدونکے پرے په امن کيږي۔ (طريق الهجرتين : ٦)

انسان باندے هر وخت دوه هجرته واجب دی

۱ – الله طرفته هجرت کول په طلب، محبت، عبودیت، توکل، انابت، غاړه ایښودلو، تفویض، خوف، رجاء، هغهٔ ته توجه کولو او رشتینې پناه وړلو او په هره لحظه کښې هغه ته افتقار ښکاره کولو سره۔

۲ – او بل د هغهٔ رسول ﷺ ته هجرت کول دی په خپلو ټولو ظاهری او باطنی حرکاتو او سکناتو سره، په دے شان چه هغه د هغه شریعت سره موافق شی چه هغه د الله تعالیٰ د محبت او رضامندئ تفصیل دے۔ او ددینه علاوه چه بل هر یو ژوند دے، نو هغه د نفس برخه ده، دَ آخرت تو ښه نهٔ ده۔

★ جنید بن محمدؒ فرمائی: لارے ټولے بندے دی سیوا د هغه چا د لارے نه چه د نبی ﷺ په نقشِ قدم باند روان شو۔ (طریق الهجرتین: ۷)

★ انسان د متصرف مالك په صورت کښے آزمائش کړے شوے مملوك دے:

﴿ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ﴾ [یونس: ١٤]

(بیا مونږ تاسو په زمکه باندے خلیفه ګان جوړ کړئ دے دپاره چه مونږ اوګورو چه تاسو څنګه عمل کوئ)۔ (طریق: ١٢).

★ بعضے سلفؒ فرمائی: کله چه ابلیس د خپلو لښکرو سره یوځائے شی نو په بل هیڅ یو شئ باندے دومره نهٔ خوشحالیږی څومره چه په درے څیزونو باندے خوشحالیږی:

۱ – هغه مؤمن باندے چه بل مؤمن قتل کړی۔

۲ – هغه سړی باندے چه کافر مړ شی۔

۳ – هغه سړی باندے چه د هغهٔ زړهٔ کښے د فقر ویره وی۔ (طریق: ۳۳)

★ ابو حفصؒ فرمائی: بهترین هغه شے چه بنده پرے الله ته رسیږی: په ټولو حالاتو کښے همیشه دپاره هغهٔ ته فقر ښکاره کول، او تمامو احوالو کښے سنت راټینګول، او دَ حلالے ذریعے نه روزی تالاش کول دی۔ (طریق: ٤٨)

وَإِذَا أَتَتْكَ مُصِيبَةٌ فَاصْبِرْ لَهَا ... صَبْرَ الْكَرِيمِ فَإِنَّهُ بِكَ أَرْحَمُ

وَإِذَا شَكَوْتَ إِلَى ابْنِ آدَمَ إِنَّمَا ... تَشْكُو الرَّحِيمَ إِلَى الَّذِي لَا يَرْحَمُ

(طریق: ٦٥)

★ عمرو بن العاص ﷺ فرمائي : درے څيزونو نه زۀ انتهائي تعجب كوم : (۱) انسان د تقدير نه تختي حال دا چه دا ورسره مخامخ كيږي (۲) د خپل ورور په سترګه كښې خزله مومي نو هغه عيبږنه ګڼري، او په خپل سترګه كښې ئے د كهجورے د تنے هومره وي نو هغه عيبږنه نه ګڼري۔ (۳) په خپله سورلۍ كښې ئے تورپونه (مستي) وي نو هغه د خپل طاقته پورے سَموي، او په خپل نفس كښې ئے مستي وي نو هغه نۀ سموي۔(طريق : ۸۲)۔

وَوَضْعُ النَّدىٰ فِيْ مَوْضِعِ السَّيْفِ بِالْعُلٰى مُضِرٌّ كَوَضْعِ السَّيْفِ فِيْ مَوْضِعِ النَّدىٰ

(د توري په ځائے كښې سَخا كيخودل اوچتو مرتبو ته داسے ضرر وركوي لكه د سَخا په ځائے كښې چه توره كيخودل مضر دي)۔(طريق : ۹۷)

★ علي ﷺ فرمائي : څوك چه دَ غلبے نه بغير عزت غواړي او دَ قبيلے نه بغير ډيروالے او دَ مال نه بغير مالداري غواړي، نو هغه دے د ګناه د ذلت نه د طاعت عزت ته رانقل شي۔

(طريق : ۱۰۹)

★ جنت والا هغه خلق دي چه د هغوئ غوږونه د خلقو د ثناء نه ډك دي چه دوئ ئے كوي، او اور والا هغه خلق دي چه ددوئ غوږونه د خلقو د بد وئيلو نه ډك دي۔

(طريق : ۱۱٤) او دا صحيح حديث دے۔



۳۵ - عظیمه فائده

عبادت نهٔ پوره کیږی مگر په ذلت باندے الله رب العزت ته، او الله تعالیٰ د خپل بنده نه دا خوښه گنړی چه الله ته د ذلت اوعاجزئ مقام پوره کړی۔ ★ بیا **ذلت** په یو څو قِسمه دے :
۱ - کامل ترین قِسم په کښے هغه ذلت دے چه محبت کونکے ئے دَ خپل محبوب دپاره کوی۔ ۲ - دویم : د غلام ذلت خپل آقا دپاره۔
۳ - دریم : دَ مُجرم ذلت دَ انعام کونکی مخامخ او د هغه کس مخامخ چه هغهٔ دهٔ سره احسان کونکے او ددهٔ مالك دے۔
٤ - څلورم : دَ هغه کس ذلت چه هغه د خپلو ټولو مصلحتونو او حاجتونو نه عاجزه وی، دَ هغه چا مخامخ چه هغه په ده باندے قادر وی او هغه ددهٔ په لاس کښے او ددهٔ د امر لاندے وی ----- ددے لاندے بیا دوه قسمه دی :
۱ - ددے دپاره ذلت او عاجزی چه هغه ددهٔ دپاره د نفع څیزونه مهیأ کړی۔
۲ - ددے دپاره ذلت چه هغه ددهٔ نه همیشه دپاره ضررونه لرے کړی۔ چه په دے کښے د مصیبتونو او د فقر او مرض ذلیل کیدل هم داخل دی۔
نو دا پنځه قِسمه ذلت دے۔ کله چه بنده دا په حق سره اداء کړی او په مناسبه طریقه ددے شهود اوکړی او د خپل رب مخامخ په دے ذلتونو او عاجزیو سره اودریږی، او دَ هر طرفنه د خپل ذلت او عاجزئ گواهی ورکونکے او د خپل رب د عزت او عظمت او جلال شهادت ورکونکے وی، نو د داسے کس لږ عملونه هم دَ بل چا د ډیرو عملونو قائم مقام گرځی۔

فَلِلْكَثَافَةِ اَقْوَامٌ لَهَا خُلِقُوا وَلِلْمَحَبَّةِ أَكْبَادٌ وَأَجْفَانٌ

(طریق الهجرتین : ٢٣٤)



۳٦ - فائده

زهد (بې رغبتي) په څلور قِسمه دے

۱ - واجب زهد : اودا دَ حرامو نه زهد دے۔
۲ - مستحب زهد : او دا په څه کښې چه زهد کیږی د هغې په اعتبار سره په مختلفو مراتبو دے۔ او دا په مکروه څیزونو او په قِسما قِسم مباحو خواهشاتو کښې زهد (بے رغبتی) کول دی۔
۳ - د هغه چا زهد چه هغوئ الله ته په مزل کولو کښې داخل شوی وی۔
دا په دوه قِسمه دے :
اول قسم : په توله دنیا کښې زهد (بے رغبتی) کول دی، او ددے دا مطلب نۀ دے چه ګنې دنیا به د خپل لاس نه اویاسے، بلکه مطلب دا چه د زړۀ نه به ئے بیخی لرے کوے۔
لکه یو روایت کښې دی چه : په دنیا کښې زهد دیته نۀ وائی چه حلال، حرام اوګرځے شی او مال ضائع کړے شی، بلکه په دنیا کښې زهد دادے چه د الله په لاس کښې چه څه دی په هغے باندے تۀ د هغه څه په نسبت ډیر اعتماد کونکے ئے کوم چه ستا په لاس کښې دی، او داچه کله تاته مصیبت اورسی نو تۀ د هغے په ثواب کښې زیات رغبت لرے اودا آرمان کوے چه دا په تا باندے پاتے شی۔
او دا زهد په درے څیزونو سره حاصلیږی :
۱ - د بنده په دے علم سره چه دا دنیا ختمیدونکے سورے یا راتلونکے خیال دے۔ او دیته قرآن کریم په ګڼړو آیتونو کښې اشاره فرمائیلے ده۔
۲ - د بنده په دے علم سره چه ددے دنیا نه اخوا یو کور دے چه هغه دَ ډیر قدر او ډیرے خطرے والا او دَ همیشه پاتے کیدو کور دے، او داچه د هغے نسبت دنیا ته داسے دے لکه څنګه چه نُبی ﷺ فرمائیلی دی : ((دَ آخرت په مقابله کښې دنیا داسے ده لکه پتاسو کښې یو کس خپله ګوته سمندر ته ښکته کړی نو اودے ګوری چه څومره اوبه ورپورے دی))۔
۳ - د بنده دا پیژندنه چه په دنیا کښې دده زهد په دۀ باندے هیڅ داسے شے نۀ بندوی کوم چه دده دپاره لیکلے شوے دے، او دده حرص په هغے باندے دده لاس ته هیڅ داسے شے نشی

راوړے چه هغه دهٔ له نهٔ وی مقرر شوے۔
نو دا څيزونه زهد آسانوی۔

دویم قسم : په خپل نفس کښے دے زهد کول، او دا په ټولو قسمونو کښے سخت او ګران قسم دے۔ دا په دوه قسمه دے :

۱ – وسیله او ابتداء : او هغه دا چه تهٔ دا نفس مړ کړے چه ستا په نیز ددے هیڅ قدر پاتے نشی، پس نهٔ تهٔ ددے دپاره غصه کیږے او نهٔ ددے دپاره راضی کیږے، اونهٔ ددے دپاره بدله اخلے، بلکه دا ستا په نیز ډیر سپك شے وی۔

او دا ددے نفس بعینه ژوند دے، او هم ددے کنډو نه به دا نفس د مقربینو په مراتبو باندے ورښکاره کیږی، او دَ بقاء میدان ته به بیدار اوسیږی، او خپل روح به د محنتونو د جیلونو او د خواهشاتو د قیدخانو نه را خلاص کړی، او د خپل رب او معبود سره به ئے تعلق جوړ شی۔ نو څومره خوندور به وی!

۲ – انتهاء او کمال : او هغه دا چه دا دَ خپل محبوب دپاره ټول خرچ کړی په دے طور چه ددے نه هیڅ شے پاتے نشی۔ نو دا ددهٔ په نیز د هغه کس دَ زهد پشان شی چه هغه په یو داسے خسیس شئ کښے محبت لری چه هغه ددهٔ نه ددهٔ محبوب غواړی۔

(طریق الهجرتین ص : ۲۵۳، ۳۵۵).

★ او توکل نه پوره کیږی مګر په دوه اصلونو باندے : دَ زړهٔ علم او عمل۔ هر چه ددے علم دے نو هغه دَ خپل وکیل په کفایت باندے دده یقین دے، او څه ئے چه هغهٔ ته سپارلی دی په هغے باندے پوره قیام دے۔ چه بل څوك دده په ځائے نهٔ قائموی۔ او هرچه ددهٔ عمل دے : نو هغه خپل وکیل ته سکون او آرام حاصلول دی، او هغهٔ ته خپل ټول کارونه سپارل او غاړه کیخودل او د هغهٔ په تصرف باندے راضی کیدل دی دپاسه د هغه رضا نه چه د خپل ځان په تصرف کښے دهٔ ته حاصله ده۔(طریق : ۲۵۷)



۳۷ - فائده

د ګناهونو نه صبر کول

او ددې دپاره ګڼر اسباب دی :

۱ – ددې په قباحت او رذالت باندې د بنده علم راتلل، ځکه الله چه ددې نه منع کړې ده نو ددې دپاره چه خپل بندګان د دنیا نه داسې اوساتی لکه څنګه چه شفقت کونکې پلار خپل بچې د دنیا نه ساتی۔

۲ – د الله رب العزت نه حیاء کول۔

۳ – د الله کوم نعمتونه او احسانات چه په تا باندې شوی دی د هغې لحاظ ساتل، ځکه چه ګناهونه نعمتونه ختموی۔

٤ – د الله خوف او خشیت، چه د بنده علم او یقین راشی د هغۀ په وعدو او عذابونو باندې۔ ﴿ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ﴾ [فاطر: ۲۸] (بیشکه د الله په بندګانو کښې د الله نه صرف علماء یریږی)۔

۵ – د الله محبت، چه دَ اجلال او تعظیم سره یو ځائې وی۔

٦ – عزتِ نفس او رذیلو خلقو سره ددې د شرکت کولو نه انکار کول۔

۷ – د ګناه په بد انجام باندې قوی علم راتلل او بیا د ګناهونو ضررونه رایادول۔

۸ – امیدونه لنډول او ددې په زر انتقال باندې علم راتلل۔

۹ – د فضول خوراك څكاك، لباس، خوب او د خلقو سره د فضول ملاقاتونو نه ډډه کول۔

۱۰ – په زړۀ کښې دَ ایمان وُنې مضبوطیا او کلکیدل۔

او دا اسباب د طاعت دپاره هم دی چه دَ طاعت په بنائسته انجامونو کښې د فکر کولو سره ملګرې شی۔(طریق الهجرتین ص : ۲۷۰)۔

★ محبت : په زړۀ کښې دَ داسې تعظیم راتلل دی چه دَ محبوب نه سیوا بل چا دپاره منقاد کیدل منع کړی۔ او دا دَ محبت د آثارو نه یو اثر دې۔(طریق : ۲۹۵)

په دې کښې په هغۀ مقلدینو باندې رد دې چه هغوئ د رسول الله ﷺ د محبت دعوې خو کوی لیکن د هغۀ نه سیوا بل چاته انقیاد کوی۔

۳۸ - فائده

محبت په څلور قسمه دے

۱ - طبعي محبت : لکه خوراك سره دَ اوږی محبت.

۲ - د رحمت او شفقت محبت : لکه د پلار محبت د خپل بچی سره.

۳ - دَ الفت او أنس محبت : لکه محبت دَ ورونو او په سفر یا په علم کښې د شریکو ملګرو محبت.

دا درے واړه هغه محبتونه دی چه خپل مینځ کښې ئے خلق یو بل سره کوی، او په دوئ کښې ددے موجودیدل د الله په محبت کښې شرك کول نۀ ګنړلے کیږی. دا وجه ده چه رسول الله ﷺ به دَ حلوئ، خپلو بیبیانو او ملګرو سره محبت ساتلو.

٤ - هغه محبت چه الله پورے خاص دے : چه دا دَ عبادت محبت دے چه ددے سره ذلت، خضوع، تعظیم او کمالِ طاعت او په بل چا باندے د هغۀ غوره کول لازم دی. نو دا محبت د الله نه سیوا بل چاسره کول بالکل جائز نۀ دی. او دا هغه محبت دے چه په دے کښې مشرکانو دَ خپلو معبودانو او دَ الله ترمینځه شرکت پیدا کړے وو.(طریق : ۲۹٦)

★ بعضے وائی : محبت، په بل چا باندے د محبوب غوره کولو ته وائی. (طریق : ۲۹۷)

او خلقو له د ایثار (ترجیح ورکولو) کمال دادے چه تۀ دوئ له داسے ترجیح ورکړے چه ستا وخت خراب نه کړی او نۀ ستا حالت خراب کړی، او نۀ ستا دین هضم کړی، اونۀ پتا باندے لاره بنده کړی، او نۀ تاته راتلونکے منع کړی، ځکه په دے ځیزونو کښې هر یو شے داسے دے چه ستا خپل نفس لره په دوئ باندے ترجیح ورکول اولیٰ دی.

بیا ابن قیمؒ مسئله د ایثار بالقرب ذکر کړے ده. (یعنی په ثوابونو کښې په ځان باندے بل چاله ترجیح ورکول).

او دَ **ایثار اسباب** دادی :

۱ - غوره اخلاقو سره محبت ساتل.

۲ - د رذیلو اخلاقو نه جدائی.

۳ - د حقوقو تعظیم کول. (طریق : ۳۰۰)

او کوم ایثار چه دَ خالق سره تعلق لري، هغه ددے نه ډیر زیات لوئے دے۔ او هغه دا چه د هغهٔ رضا د بل هر چا په رضا باندے غوره کړے شی، او خوف او رجاء، محبت او ذلت ټول هغهٔ دپاره اوکړے شی، نهٔ بل چا دپاره، دارنګه سوال، طلب او لوګے په هغهٔ باندے پیش کړے شی، دَ هغهٔ نه سیوا په بل چا باندے پیش نه کړے شی۔

ددے ایثار او غوره والی علامه داده :

۱ – هغه کارونه کول چه الله ئے خوښ ګڼړی په داسے حال کښے چه نفس ئے بد ګڼړی۔

۲ – هغه کارونه پریخودل چه الله ئے بد ګڼړی په داسے حال کښے چه نفس ورسره مینه ساتی او خوښوی ئے۔

نو په دے دوه کارونو سره د ایثار مقام صحیح کیږی۔

او دا په دریے کارونو سره آسانیږی :

۱ – چه طبیعت ئے نرم او منقاد وی، وچ او شډل نهٔ وی۔ بلکه په سهولت سره هغهٔ سره منقاد کیږی۔

۲ – د ایمان قوت او د یقین مضبوطیا۔

۳ – د صبر او ثبات قوت۔

او دا ایثار بنده په ډیرے تیزئ سره الله عز وجل ته ورخیژوی۔ او په دنیا او آخرت کښے ددے ثمره د هیڅ یو عمل د ثمرے سره مشابه نهٔ ده۔ (طریق : (طریق : ۳۰۱)

★ امام مالك – رحمه الله – د الله تعالیٰ ددے قول : ﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ ﴾ [ال عمران: ۳۱] په باره کښے فرمائی : څوك چه دَ الله طاعت خوښ ګڼړی الله به دهٔ لره خوښ اوګڼړی او خپل مخلوق ته به ئے ورمحبوب کړی۔ (طریق : ۳۰۳)

★ او بعضے وائی : محبت، د محبوب موافقت دے په هغه څه کښے چه هغه خفګان او نفع او ضرر رسوی۔ لکه یو شاعر وائی :

وَأَهَنْتَنِيْ فَأَهَنْتُ نَفْسِيْ صَاغِرًا ۔ مَا مَنْ يَّهُوْنُ عَلَيْكَ مِمَّنْ أُكْرَمُ

(تا زما سپکاوے اوکړو نو ما ذلیل ګڼړلو سره د خپل نفس سپکاوے اوکړو، او هغه څوك چه پتا باندے سپك دے دا د هغه چانه نهٔ دے چه زهٔ ئے عزت کوم)۔

★ او بعضے وائی : محبت، د محبوب مخے ته اودریدل دی په داسے حال کښے چه تهٔ ناست ئے، او دَ بسترے جدا کیدل دی په داسے حال کښے چه تهٔ په هغے کښے ئے، او ستا خاموشی ده په داسے حال کښے چه تهٔ ګرېدونکے ئے، او دَ محبوب څیز او دَ وطن جدائی ده

په داسې حال کښې چه ته په دغه وطن کښې اوسیدونکے ئې۔
شیخ ابن قیمؒ فرمائي : او دا هم د محبت د آثارو نه یو اثر دے۔
او ددے محبت کسوټے او معیار په ځلورو ځایونو کښې کتلے شي:
۱ – دَ اودهٔ کیدو او اوزګاریدو په وخت۔
۲ – خوب نه بیداریدو په وخت، اګرکه ظاهرئے مشغول وي لیکن زړهٔ ئے ډک وي۔
۳ – مانځه کښےٓ د داخلیدوٓ په وخت، ځکه چه دا د ټولو احوالو کسوټے او دَ ایمان تله ده۔
په دے بانده د سړي ایمان تللے کیږي او ددهٔ حال او مقام او الله ته د نزدے کیدو اندازه ئے معلومیږي۔
بیا فرمائي : د بنده د اٖیمان او الله سره دَ محبت وزن نشي معلومیدے مګر د مانځه پشان تلے باندے چه دا پوره برابره تله ده۔
بیا دَ مرګ حاضریدو په وخت چه دَ چا کوم حالت وي د هغے تذکره ئے کړیده چه ځینے د دنیا سازو سامان یادوي او کم خلق داسے دي چه په دے وخت کښے الله رایادوي۔(طریق : ۳۰۷).
★ او د عوامو محبت دَ احسان او ښیګړے په کتلو سره راتوکیږي او دَ سُنتو په تابعدارئ باندے مضبوطیږي او په انتهائي پوره قبول والي سره زیاتیږي۔
او دا خدمت مزیدار جوړوي او مصیبتونه هیروي او وسوسے قطع کوي، او دا د دوئ په لاره کښے د ایمان قابلِ اعتماد شے دے۔(طریق : ۳۱۵).
★ څومره چه محبت قوي وي هغومره طاعت مزیدار وي او خدمت پوره وي، نو بنده دے خپل ایمان او محبت په دے تله باندے اوتلي۔ (طریق : ۳۲۱)
★ محبت کونکي له پکار دي چه د الله عز وجل په طاعت او عبادت کښے د تکلف نه کار واخلي، دے دپاره چه روسته ددے نه خوند پورته کړي۔
ابو یزید فرمائي : ما خپل نفس الله تعالیٰ ته په داسے حال کښے اوچلولو چه هغه ژړل، نو ما همیشه دپاره دا چلولو چلولو تردے چه هغے ته د خندا په حالت کښے ورغے۔
(طریق : ۳۲۱)



۳۹ - فائده

مخلوق ذاتي طور سره فقير او الله ذاتي طور سره غني او بے پرواه ذات دے :

فلاسفه وائي : مخلوق ممکن دے، او متکلمين وائي : حادث دے۔ خو حقه داده چه : امکان او حدوث يوبل سره لازم دي، او دا دواړه د فقر علامات او و رسره لازم دي، او په دے کښے نيك او بد دواړه شريك دي۔ دويم د انبياء کرامو او پيغمبرانو او نيکانو فقر دے۔ او دا دَ دوه شريفو علمونو نتيجه ده :

۱ - خپل رب لره د بنده پيژندل۔

۲ - خپل ځان لره د بنده پيژندل۔

نو څوك چه خپل رب په پوره قدرت او محيط علم او کامل عزت سره اوپيژني، او خپل ځان په عاجزئ، ناپوهئ او ذلت سره اوپيژني نو دا به په دهٔ کښے هغه اختياري فقر او احتياج پيدا کړي په کوم کښے چه ددهٔ صلاح او سعادت او مالداري ده۔ (طريق : ۳۰۸)

٤۰ - فائده

د بنده کمال او صلاح د بنده نه د دوه وجو نه پاتے کيږي

۱ - يا خوئے طبيعت وُچ او سخت وي چه حق او هغه شئ ته چه په هغے کښے دده کمال او کاميابي ده، منقاد کيږي نهٔ۔

۲ - او يا نرم او سليس او منقاد وي ليکن ثابت قدم نهٔ وي، بلکه آوړوي راوړي۔ نو کله چه بنده ته، حق ته انقياد او په دے باندے ثابت قدمي ورکړے شوه، نو خوشحاله دے شي ځکه چه دهٔ ته د هر خير خوشخبري ورکړے شوه۔ (طريق : ۱٦۳)



٤١- فائده

کله چه الله تعالیٰ بنده په آزمائشونو او محنتونو کښې مبتلا کړي:

نو که دے ئے الله ته، هغۀ طرفته عاجزئ ته او د هغۀ مخے ته ذلت او تویے او د هغۀ په دَروازه باندے پریوتو ته را واپس کړو، نو مصیبت به ددۀ نه په داسے حالت کښې لرے شي چه دۀ ته به ئے ډیر لوئے او غوره عوض ورکړے وي. اوکه ددۀ زړۀ ئے د الله نه اوترولو او خلقو ته ئے واپس کړو او د الله د ذکر او یاد نه ئے غافله کړو او هغۀ ته د عاجزئ نه ئے غافله ئے کړو. نو دا ددۀ د بدبختئ او ددے خبرے علامه ده چه الله په دۀ باندے د شر اراده کړے ده. نو کله چه ددۀ نه مصیبت لرے شي نو ددۀ طبیعت دۀ لره تکبر او غرور او د انعام کونکي هیرولو ته واپس کړي. نو مصیبت ددۀ په حق کښې عقوبت او عذاب جوړ شي. والله المستعان.

(طریق: ١٦٤).

٤٢ - فائده : انابت الی الله

انابت، الله ته رجوع کولو او هغۀ ته دَ زړۀ د دواعي او راخکونکو څیزونو واپس کیدو ته وائي. او دا محبت او خشیت لره متضمن دي.

بیا **انابت** په څو قِسمه دے:

۱ - یو هغه انابت کونکے دے چه دَ گناهونو او مخالفتونو نه الله ته رجوع کوي. او ددے انابت د راوتو بنیاد، عذابونه کتل دي. او په دے باندے باعث علم، خشیت او بیداری ده.

۲ - بل هغه څوك دے چه په قِسما قِسم عباداتو او قرباتو کښې په داخلیدو سره الله ته انابت (رجوع) کونکے وي.

او ددے انابت بنیاد: امید او وعده او ثواب او د الله د طرفنه د کرامت کتل دي.

۳ - او بل هغه څوك دے چه الله ته په زارئ، دعاء، هغۀ ته په افتقار او رغبت او د هغۀ نه په خپلو ټولو حاجتونو غوښتلو سره انابت کونکے وي. او ددے انابت بنیاد: د فضل او مهربانئ او دَ غِنیٰ او کرم او قدرت مشاهده کول دي.

٤ - او بل د مجبورتیا انابت دے چه په اختیار سره نهٔ وی. لکه د هغه کسانو حال چه الله تعالیٰ د هغویٔ په حق کښې فرمائیلی دی: ﴿ وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ ﴾ [اسراء: ٦٧] (او کله په سمندر کښې تاسو ته ضرر اورسی نو د الله نه سیوا تول هغه معبودان چه تاسو ورته رامدد شه وائے ورك شی).

او دا انابت هیڅ فائده نهٔ ورکوی، ځکه دا دَ طبیعت سره د آموخته شیٔ دپاره دے، الله دپاره نهٔ دے. او د انابت په ټولو قِسمونو کښې اعلیٰ ترین قِسم دَ روح انابت دے چه ټول په ټول هغهٔ ته د سخت خالص محبت د وجے نه وی. او په همدے انابت سره د دویٔ اندامونه انابت کوی، ولے چه دا دَ روح رعیت دے. نو زړهٔ په محبت، تضرع، ذلت او انکسار سره انابت کوی، او عقل د محبوب په اوامرو او نواهیو سره په متأثر کیدو او تسلیمیدو او صرف هغه حاکم جوړولو نهٔ بل چا لره حاکم جوړولو سره انابت کوی. او نفس په انقیاد او د نفسانی عوائدو او بدو اخلاقو او خرابدو ارادو نه په را وتلو سره انابت کوی، او د خپل هغه تدبیر نه اوځی کوم چه د خپل ځان دپاره کوی. او جسم په اعمالو او په پوره طور سره خپلو واجباتو او سننو اداء کولو سره انابت کوی.

نو ددے انابت کوونکی هیڅ یو جوړ او رګ پاتے نشی مګر د هغے دپاره یو خاص انابت وی. لهذا همدا رشتینے منیب دے. (اوګوره: الطریق: ۱۷۳)



٤٣ - فائده

استقامت ته رسونکے لاره

ذکر د هغه لارے چه په ټولو احوالو، اقوالو او اعمالو کښې استقامت طرفته رسول کوی او دا دوه څیزونه دی :

١ - **اول** : د خپلو خواطر (په زړهٔ کښې د راتلونکو وسوسو) څوکیداری کول او د هغې دَ مهمل پریخودلو او هغې د پرانستلو نه یریدل، ځکه اصل فساد ټول ددے د اړخه راځي، ولے چه دا د شیطان تخم دے او نفس د زړهٔ په زمکه کښې دے، نو کله چه ددے تخم مضبوط شي نو شیطان ددے سره په بار بار خړوبه کولو معاهده کوی تردے چه دا ارادے اوګرځی بیا عزمونه اوګرځی تردے چه اعمال په نتیجه کښې پیدا کړی۔ او په دے کښې شك نشته چه خواطر دفع کول د عزائمو دفع کولو نه زیات آسان دی۔

دَ خواطرو (وسوسو) دفع کولو ګنړ اسباب دی :

١ - مضبوط علم په دے خبره چه الله رب العزت خبر دے، هغه تا او ستا زړهٔ ته ګوری او ستا په تفصیلی خواطرو (زړه کښې راتلونکو خبرو) باندے خبر دے، ددے علم سره به د الله رب العزت نه ستا حیاء پیدا شي۔

٢ - ستا دا خبره لرے ګنړل چه هغه دا قِسم خواطر په خپل هغه کور کښې اووینی چه هغه ئے د خپل معرفت او محبت دپاره پیدا کړے دے۔

٣ - د هغهٔ نه ستا دا ویره چه تهٔ به په دے خواطرو سره د هغهٔ د سترګو نه اوغورزیږے۔

٤ - ستا دا خبره غوره کول چه د هغهٔ نه سیوا دے بل څوك ستا په زړهٔ کښې اونه اوسیږی۔

٥ - ستا دا ویره چه ستا په زړهٔ کښې داسے شریر خواطر پیدا شي چه هغې سره په زړهٔ کښې موجود په الله باندے ایمان او د هغهٔ محبت اوخوړلے شي او هغه ټول لاړ شي او تاته پته هم نهٔ وی۔ والعیاذ بالله۔

٦ - چه تهٔ دا اوپیژنے چه دا خواطر او وسوسے د هغه دانے پشان دی چه د مارغهٔ د ښکار کولو دپاره هغهٔ ته اچولے شي، نو یاد ساته چه هر یوه وسوسه یوه داسے دانه ده چه ستا د

ښکار کولو دپاره په يو جال کښې اچولې شويده او تاته پته نشته۔
۷ – چه تاته دا پته اولګی چه دا خواطر او د ايمان او دَ محبت او انابت خواطر بالکل سره نهٔ جَمع کيږی، بلکه دا په هر طور سره خپل مينځ کښې اضداد دی، او دا په هيڅ يو زړهٔ کښې نهٔ دی جَمع شوی مګر په دے کښې هريو د خپل ملګری په ځائے راغلے او هغه ئے اوخکلے او خپله د هغے په ځائے کښې اوسيدلے دے۔ نو بيا په خپل زړهٔ باندے دِ څه ګمان دے حال دا چه د نفس او شيطان خواطر په هغے کښې د ايمان، معرفتِ او محبت په خواطرو باندے غالب شوی دی، که چرے د زړهٔ دپاره ژوند وی نو خامخا به ددے په درد باندے پو هيږی۔
۸ – چه دا معلومه کړی چه دا خواطر د کم عقلو ميدان او د جاهلانو آرزوګانے دی، چه د خپل خاوند دپاره د خپيمانتيا او شرمندګئ نه سيوا هيڅ ميوه نهٔ ورکوی۔ نو کله چه په زړهٔ باندے غالب شی، په هغے کښې وسوسے پيدا کړی او د خپلے بادشاهئ او قوت نه ئے معزوله کړی۔
او ايمانی خواطر دَ هر خير بنياد دے، ځکه دَ زړهٔ په زمکه کښې چه کله د ايمان، محبت، خشيت او معرفت خواطر اوکرلے شی او ددے خاوند ددے بار بار خبر اخلی، نو ددے په وجه هر ښهٔ کار پيدا کيږی او زړهٔ ئے د نيکيو نه ډکيږی او اندامونه ئے په طاعاتو کښې استعماليږی۔
★ ياد ساته چه خواطر دفع کول په دوه شرطونو باندے مفيد دی:
۱ – يو دا چه په دے با ندے نهٔ واجب پريدی اونهٔ سنت۔
۲ – دويمِ دا چه : ددے په ځائے د ايمان او محبت خواطر کيدی، که دا نهٔ وی نو يواځے ددے دفع کول مقصود نهٔ دی۔(طريق : ۱۷۵).
۲ – **دويم شے** : د الله ملاقات دپاره رشتينے تيارے کول۔ او دا د بنده ډير نفع مَن او د استقامت په حاصلولو کښې ډير رسونکے شے دے، ځکه څوك چه د الله ملاقات له ځان تيار کړی نو د هغهٔ زړهٔ د دنيا او ما فيها نه پريکړے شی او خواهشات ئے مړهٔ شی او زړهٔ ئے الله ته ډير عاجزی کونکے جوړ شی او همت ئے په الله او دَ هغهٔ په محبت او د هغهٔ په رضامندئ غوره کولو باندے متوجه شی او يو نوے همت په کښې پيدا شی او نور علوم ورته حاصل شی او يو ځل بيا په بل پيدائش سره پيدا شی، چه ددهٔ د زړهٔ نسبت په دے کښې آخرت طرفته داسے وی لکه دده د جسم نسبت چه واخلے دے دنيا ته پس ددے نه چه

دے د مور په خیټه کښې وو، نو هر کله چه دده دمور خیټه دده د جسم دپاره ددے کور نه پرده وه، نو دغه شان دده نفس او خواهش هم دَ آخرت د کور نه دده د زړهٔ دپاره پرده ده، نو ښکاره طور سره دده د نفس نه آخرت طرفته دده د زړهٔ راوتل داسے دی لکه ښکاره طور سره دنیا ته دده د جسم راوتل۔

او همدا مقصد د هغه خبرے هم دے کومه چه د عیسیٰ ﷺ نه ذکر کیږی چه هغهٔ اوفرمائیل : اے بنی اسرائیلو ! تاسو د آسمانونو بادشاهئ ته نشئ داخلیدے تر دے چه تاسو دوه ځله پیدا شئ۔

ډیر خلق دی چه دا پیدائش نهٔ پیژنی نو څنګه به ئے تالاش کړی ؟

مقصد دا چه د الله د ملاقات دپاره رشتینے تیارے کول د ټولو نیکو اعمالو، مقاماتو لکه بیداری، توبه، انابت، محبت، رجاء، تفویض او د زړونو د باقی اعمالو او الله طرفته د مزل کونکو خلقو چابی ده ۔ او ددے خبرے چابی، رشتینے تیارے او د الله ملاقات دپاره تیار اوسیدل دی۔(طریق الهجرتین ص : ۱۷٦).



٤٤ - فائده شریفه

خلق دوه قسمه دی : (۱) اوچت (۲) او پریوتی

اوچت خلق هغه دی چه خپل رب طرفته ئے لاره اوپیژندله او په هغے باندے روان شو چه هغهٔ ته د رسیدو قصد کونکے دے۔ همدا سړے په خپل رب باندے عزت مند دے۔
او پریوتی هغه خلق دی چه خپل رب ته ئے لاره بیانه مونده او نهٔ په هغے روان شو، نو دا هغه رذیل انسان دے چه الله تعالیٰ ددهٔ په باره کښے فرمائی : ﴿ وَمَنْ يُهِنِ اللّٰهُ فَمَالَهُ مِنْ مُّكْرِمٍ﴾ [حج: ۱۸] (او چاله چه الله سپك كړی نو هغهٔ دپاره هیڅ عزت ورکونکے نشته)۔
او الله ته لاره صرف یوه ده، ډیرے نهٔ دی، لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَاتَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ﴾[الانعام: ۱۵۳] (او بیشکه دا زما نیغه لاره ده نو په دے روان شئ او په نورو لارو مهٔ روانیږئ ګنے د الله د لارے نه به مو تس نس کړی)۔
بیا لاره خو یوه ده لیکن د یو والی باوجود د الله تعالیٰ د رضامندئ د ځیزونو دپاره راجمع کونکے ده۔ او دا د الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے فضل او مهربانی ده چه په عباداتو کښے ئے تنوع (ګڼر قسمونه) پیدا کړی دی د وجے د اختلاف د استعدادونو او صلاحیتونو نه، که چرے دا ئے یو پیدا کړے وے نو یو یو کس به په دے باندے روان وے۔
کله چه دے دا اوپیژندل، نو اوس په بعضے خلقو باندے علم غالب وی، او په بعضو باندے مونځ، روژه، جهاد او دعوت وغیره غالب وی۔ او حقیقی بنده هغه دے چه هغه الله ته ددے لارو نه په هر میدان باندے - کوم چه هغه ته رسیدونکے دے - روان وی، نو دے د الله د حکم انتظار کوی برابره خبره ده چه دے یو ځائے کوی اوکه جدا کوی ئے۔ الخ۔(طریق : ۱۷۹)۔
نو دا هغه رسیدونکے دے چه د الله د محبت او معرفت خوند ئے څکلے دے۔



٤٥ - فائده

الله تعالیٰ او آخرت ته د تلونکي بلکه خپل مقصد ته د هر يو تلونکي مزل نه پوره کيږي مگر په دوه قوتونو سره :

١ - قوتِ علمي۔

٢ - قوتِ عملي۔

نو په قوتِ علمي سره دَ تگ ځايونه او دَ لارے منازلويني او بيا د هغے قصد کوی او په هغے کښے روان وی اود هلاکت د اسبابو نه ځان ساتي دارنگه دَ هغه لارو نه ځان ساتي چه د رسونکے لارے نه بل طرفته تلي وی۔ نو ددۀ علمي قوت د يوے داسے رنړا پشان دے چه دۀ په لاس کښے نيولي وی او په دے سره په يوه سخته تيارۀ شپه کښے روان وي چه په دے سره د هلاکت ځايونه هم ويني او په لاره کښے د رهنمايئ دپاره لگيدلي بوځلي هم ويني، نو دَ هغے نه نۀ ورك کيږي بلکه رنړا ورله دوه کاره کوی (١) يو خو ورته دَ لارے نخے وربنائي (٢) بل ورته د هغے هلاکتونه۔

★ او په عملي قوت سره روان وی بلکه مزل همدے عملي قوت ته وائي، ځکه مزل دَ مسافر عمل ته وائي دغه شان هغه څوك چه هغه خپل رب ته روان وی کله چه لاره اودَ هغے نښے اوويني، دارنگه د هغے هلاکتونه او د منزلِ مقصود نه اخوا ديخوا تلونکے لارے اوويني، نو دۀ ته نيمائي کاميابي او سعادت حاصليږي۔

او نيمائي حصه ورته پاتے شوه، او هغه دا چه په خپل څټ باندے امسا کيدی او دَ سفر کولو په اراده پينځے راپورته کړی او لاره وهل شروع کړی، نو کله چه يو پړاؤ اووهي نو بل دپاره ځان تيار کړی او په دے طريقه روان وی۔ او هر کله چه دَ مزل د سترړي والي نه ددۀ نفس په سکون کښے شي، نو دے نفس ته د رسيدو دَ قرب او ملاقات او دَ منزلِ مقصود رانزدے کيدو او دَ ښه عيش او عشرت وعده ورکوی، نو ددے په وجه په هغے کښے خوشحالي او تازه گي او همت پيدا کيږي او هغه وائي : اے نفس! خوشحاله شه ځکه چه منزلِ مقصود رانزدے شو، او هغے ته دے هغه دوستان هم ذکر کړی کوم چه د هغے مخے ته دی او هغه دشمنان هم، کوم چه د هغے نه روسته دی دارنگه لار وهل او هلاکتونه دے ورته ذکر کړی او هغے ته دے اووائي چه دا لږ ساعت صبر دے، ځکه دنيا ټوله لکه د يو

ساعت پشان ده دَ آخرت په نسبت باندے۔

او کله چه نفس کښے وحشت پیدا شي نو خبر دے شي چه دا وحشت همیشه نهٔ وي بلکه په لاره کښے دَ راپیش کیدونکو څیزونو نه دے او نزدے ده چه خیمے به ورته راښکاره شي او مبارکي ورکونکي به ئے مخے ته را اووځي نو بیابه دے وائي : آرمان دے چه زما قوم نه پته وے چه په څه شئ ماته الله مغفرت اوکړو او زهٔ ئے د عزتمندو خلقو نه جوړ کړم۔ دارنګه د خپل طبیعت نه چه څه کثافت او د نفس په مزل کښے تاخیر موندهٔ کوي نو د هغے نه دے هم په وحشت کښے کیمے ری نهٔ، ځکه دا په مجاهدے سره زر ختمیږي۔ ((او کوم خلق چه زمونږ په باره کښے مجاهده کوي نو خامخا به مونږ هغوئ ته خپلے لارے اوښایو او بیشکه چه الله خامخا د نیك عمله خلقو ملګرے دے)۔ (طريق : ۱۸۳)

نو بعضے خلق داسے وي چه علمی قوت ئے وي چه په دے سره ورته د لارے منازل او هلاکتونه ښکاره کیږي او په دواړو قوتونو کښے ددهٔ دا قوت ډیر غالب وي، خو بل طرفته په عملي قوت کښے ضعیف وي، هلاکتونه او تباهئویني خو د هغے نه نهٔ بچ کیږي، نو دا د عمل حاضریدو نه مخکښے فقیه وي خو چه کله عمل حاضر شي نو بیا د جاهلانو سره په پاتے راتلو کښے شریك وي او د هغوئ نه په علم کښے جدا وي۔ او دا په اکثر هغه نفسونو باندے غالب حالت دے کوم چه په علم کښے مشغول وي۔

او بعضے داسے وي چه دَ هغهٔ عملي قوت غالب وي او دا په مسلسل مزل او تیاریٔ کښے وي، لیکن د هغهٔ بصر او بصیرت په عقائدو او ایمانیاتو کښے روند وي۔ او دا د اکثرو تصوف او سلوك والو حالت دے۔ او هغه څوك چه الله ئے بچ کول غواړي هغه بچ کیدونکے دے۔ (طريق : ۱۸٤)

زهٔ وایم : دیته د الله تعالیٰ په دے قول کښے اشاره ده : ﴿ أُولِي ٱلْأَيْدِي وَٱلْأَبْصَارِ ﴾ [ص: ٤٥] (خاوندان د لاسونو او نظرونو دی)۔ نو أیدي، قوتِ عملی ته اشاره ده او أبصار قوتِ علمي ته۔

او زهٔ ددے مثال د هغه وُنے سره ورکوم چه د هغے یوه دروازه وي او په هغے کښے هر قِسم ګلان او مختلفے خوشحالئ موجود وي، نو عملي قوت والا ئے د شرافت د وجے نه تالاش کوي لیکن دروازه نهٔ ویني، نو دا د باغ نه ګیر چاپیره ګرځي او په سخت مشقت او تالاش کښے وي خو باغ ته د داخلیدو خوند اونهٔ مومي۔

★ او هرچه علمي قوت والا دے : - چه هغهٔ شرك، تقلید او دَ رحمٰن ذات د دشمنانو سره

دوستي ارتولي وي - نو هغهٔ ته دروازه کهلاوه ښکاري ليکن د خپل مزل د کمزورئ په وجه په ادنیٰ او معمولي څيزونو کښې مشغول دے او، وائي چه زر دے چه مونږ به باغ ته داخل شو، نو کله داسے اوشي چه دروازه ترے بنده شي او دے بهر پاتے شي۔ او کامياب هغه څوك دے چه مزل ئے تيز کړو تردے چه دروازے ته ننوځي او هلته هغه نعمتونه اووينی چه نهٔ سترګو ليدلي، نهٔ په غوږ باندے تير شوی او نهٔ د يو انسان په زړهٔ کښے د هغے خيال راغلے۔ او دَ ګناه نه آوښتل او د نيکئ طاقت ورکول خو صرف په الله سره کيدے شي۔

٤٦ - فائده نافعه : درے قسمه خلق

بنده چه کله په دے کور کښے قدم ايښے دے نو دے په دے کښے خپل رب ته سفر کونکے دے او ورځے شپے ددهٔ د سفر مراحل (پړاوونه) دی او ددهٔ د سفر موده دَ دهٔ هغه عمر دے کوم چه ددهٔ دپاره ليکل شوے دے۔

نو دے هميشه دا عمر پړاؤ په پړاؤ قطع کوی تردے چه سفر ختم شي۔ نو هوښيار هغه زيرکه انسان دے چه هر پړاؤ د خپلو سترګو مخامخ کيدی او روغ رمټ حالت کښے د هغے د قطع کولو اهتمام اوکړی۔ اوکله چه يوه مرحله قطع کړی نو بله په خپل نظر کښے اونيسي او په هغهٔ باندے موده اوږديږی نهٔ چه زړهٔ ئے سخت شي او اميد ئے اوږد شي او په نن صبا اوتول متال کښے ايسار شي، بلکه د هغهٔ عمر د هغهٔ سره د دغه يوے مرحلے وعده کوی، نو د هغے په قطع کولو کښے کوشش کوی په بهتر هغه عمل سره کوم چه ددهٔ نه کيږی، ځکه کله چه ددهٔ دا يقين راشي چه دا ډير زر تيريږی نو په دهٔ باندے عمل آسانيږی اوتوښے حاصلولو ته ددهٔ نفس آماده کيږی، نو دده داکار هميشه دپاره وی تردے چه دے د خپل عمر مراحل ټول را اونغاړی نو د خپل کوشش صفت کوی او په خپل تيار کړی شئ باندے تر او تازه وی، نن خو دے فقير او محتاج دے ليکن کله چه د آخرت د ورځے صبا را اوخيژی نو دغه وخت به د خپل مزل صفت کوی په داسے حال کښے چه ددهٔ کاميابی به ښکاره شوے وی۔

★ بيا ددے مراحلو په قطع کولو کښے خلق ذوه قسمه دی :

١ - يو قِسم هغه دی چه هغوئ دا مراحل دار الشقاء طرفته قطع کړل، کله چه دوئ يوه مرحله قطع کړی نو دَ بدبختئ دغه کور طرفته ورنزدے شي او د خپل رب او د دار

الکرامت نه لرے شی۔
او دا هغه کفار دی چه دا مراحل په داسے حال کښے قطع کوی چه خپل رب ته غصه وی، د هغهٔ رښرا مره کول غواړی، د هغهٔ د اولیاؤ سره دشمنی کوی او دَ شیطانانو سره ملګرے وی۔ ﴿ اَلَمۡ تَرَ اَنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا الشَّیٰطِیۡنَ عَلَی الۡکٰفِرِیۡنَ تَؤُزُّهُمۡ اَزًّا ﴾ [مریم : ۸۳]
۲ ــ دویم قِسم : هغه خلق دی چه دا مراحل په داسے حال کښے قطع کوی چه الله ته او د هغهٔ د کرامت او عزت کور طرفته مزل کونکی دی۔
او دا درے قِسمه دی : (۱) خپل ځان باندے ظلم کونکی۔ (۲) درمیانه (۳) او دَ الله په توفیق سره تولو نیکیو ته سبقت کونکی۔
او دا ټول د مزل تیاری کونکی او الله ته په واپس کیدو باندے یقین لرونکی دی۔ لیکن په تیاریٔ او توښے اختیارولو کښے فرق لری، دارنګه دَ مزل په تند والی او په قلار والی کښے فرق لری۔
نو « ظالم » (په خپل ځان باندے ظلم کونکے) په توښه کښے کوتاهی کونکے دے، دومره توښه په قدر او وصف کښے نهٔ اخلی چه منزلِ مقصود ته ئے اورسوی، او دے سره سره دے په توښه کښے هغه شے اخلی چه په خپله لاره کښے په هغے سره تکلیف مومی۔
او « مقتصد » (درمیانه) شخص دومره توښه ځان سره اخلی چه اَیله پرے اورسی او ددے سره دَ ګټهور تجارت ګیډی نهٔ تړی، خو هغه شے هم په توښه کښے نهٔ اخلی چه ضرر ورته ورکوی، نو دے سالم او غانم دے لیکن ددهٔ نه اوچت او ګټهور تجارتونه فوت شو۔
او « سابق » (ټولو نیکیو ته وړاندے کیدونکے) شخص، ددهٔ همت د ګټهو په حاصلولو کښے او د تجارت په ګیډیو (بوجونو) تړلو کښے وی۔ ځکه ددهٔ ته پته ده چه څومره ګټه به ددهٔ ته حاصلیږی، تردے چه دے خپلے جامے او سامانونه خرڅوی ځکه ددهٔ ته علم دے چه ددهٔ تجارت به دهٔ له دوچنده ګټے اوکړی۔
نو اوس مونږ د تجارتونو ددے درے وارو قِسمونو څه احوال ذکر کوو، دے دپاره چه بنده ته پته اولګی چه دے په کومو تاجرانو کښے حساب دے ؟
★ هر چه **ظالم** (د نفس سره ظلم کونکے) دے :
نو کله چه دے د خپلے ورځے او شپے استقبال کوی نو په داسے حال کښے ددے استقبال کوی چه ددهٔ د خوا هشات او حظوظ ددهٔ زړهٔ ته سبقت کوی، ددهٔ اندامونه ددے په تالاش کښے حرکت کوی، نو کله چه ددے سره ددهٔ د رب حقوق په مقابله کښے راشی، نو کله یو

شان وي اوکله بل شان. نو کله په رخصت باندې عمل کوي اوکله په عزيمت باندې. اوکله په ګناه او حق پريخودلو باندې اِقدام کوي، هغه ورته معمولي ښکاري اوډ توبې اوخکلو په نيت دا کار کوي.

نو دا دَ هغه چا حال دې چه هغهٔ په خپل ځان ظلم کړې، خو دې سره سره د توحيد او په الله او د هغهٔ په رسول او د آخرت په ورځ د ايمان لرلو او په ثواب او عقاب باندې د تصديق کولو حفاظت هم کوي.

نو ددې کس مرحله په ګټه او تاوان باندې وهلې شي او په دې دواړو کښې چه کوم حالت غالب وي نو دې د هغې دې، او ددهٔ اعمال به د قيامت په ورځ تللې شي، نو يا خو به ئې نيکئ درنې شي او يا بدئ. او خاص د الله نه مدد غوښتلې کيږي.

او مونږ هم په دې قِسم کښې يو. و استغفر الله العظيم.

★ او هرچه **مقتصدين** (درميانه) خلق دي: نو هغوئ د دغه مرحلې وظيفه او حق اداء کړې دې، نهٔ ئې په هغې زيادت کړې او نهٔ ئې د هغې نه کمې کړې. نو په دوئ کښې چه څوك کله د خپلې ورځې د مرحلې (پړاؤ) استقبال کوي نو په پوره پاکيزګئ او دَ ارکانو، واجباتو او شرائطو سره په پوره مانځه باندې ئې استقبال کوي. بيا د هغې نه چه اوګرځي نو خپل مباح کارونه اوګذران او خپل تول هغه تصرفات کوي چه الله په هغې باندې حکم کړې او اجازت ئې ورکړې دې، او د خپل رب حق په هغې کښې اداء کوي، خو نفلي عباداتو او ذکرونو او توجه ته فارغ نهٔ دې. نو کله چه بل فرض مونځ حاضر شي نو هغې ته په همدې طريقه جلتې کوي او تر شپې پورې ئې دغسې حالت وي. بيا صبا پورې اودهٔ وي او بيا د مانځه نه پس خپل خوراك څكاك او کار ته پاسيږي. او کله چه روژه راشي نو د هغې حق پوره کوي. دغه شان حج او زکات هم واخله. دارنګه د خلقو سره معامله هم داسې کوي چه په هغې کښې انصاف کوي، نهٔ په هغوئ ظلم کوي او نهٔ هغوئ ته خپل حق پريدي.

★ او هرچه **سابقين بالخيرات** دي:

يعني هغه خلق چه هغوئ هرې نيکئ ته سبقت کونکي دي.

نو دا په دوه قِسمه دي: (۱) ابرار (نيکان) (۲) مقربون (الله ته ډير نزدې).

او دا درې اقسام يعني مقتصدين، ابرار او مقربين، دا اهل اليمين (ښي لاس والا) دي. او هرچه په خپل ځان باندې ظلم کونکې دې نو دا مطلقا د هغوئ نه نهٔ دې، اګرکه ددهٔ انجام هغوئ طرفته ورګرځي. دارنګه دهٔ ته مطلقا مؤمن هم نهٔ وئيلې کيږي اګرکه ددهٔ انجام او

عاقبت دوئ ته دے، کله چه ددهٔ نه حق (بدله) واخستے شی۔
او د خلقو دا قِسمونه په سورتِ فاطر (۳۳) آیت کښے ذکر دی : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ﴾ [فاطر: ۲۲] (بیا مونږ کتاب په خپلو بندګانو کښے هغه چاته ورکړو چه مونږ غوره کړی دی، نو په دوئ کښے بعضے په خپل ځان باندے ظلم کونکی دی او بعضے درمیانه او بعضے په کښے د الله په توفیق سره تولو نیکیو ته وړاندے کیدونکی دی)۔
په دے آیت کښے دوه مشهور تفسیرونه دی۔
نو ابرارو دَ خپل سفر مراحل دَ الله دَ امر په اقامت او دَ هغه دَ مخالفت او نافرمانئ په پریخودلو باندے د زړهٔ په ترلو سره قطع کړل۔
د دوئ همتونه د نیکو اعمالو پابندی کول او د بدو اعمالو نه ځان ساتل دی۔ په دوئ کښے چه یو کس د خوبه را ویښ شی نو اودس او مونځ ته پاسیدل ئے د تولو نه اول په زړهٔ کښے راشی په هغه طریقه چه الله ورته حکم کړے دے، نو کله چه د وخت فرض اداء کړی نو بیاپه ذکر او تلاوت کښے مشغوله وی تردے چه نمر راؤ خیژی، بیا د څاښت مونځ کوی، بیا خپلو کارونو پسے ځی۔ اوکله چه د ماسپخین مونځ حاضر شی نو زر اودس ته متوجه شی او اولنی صف ته ځان رسوی، او په کامل حضور، خشوع او مراقبے سره خپله فریضه اداء کوی۔
د مانځه نه په داسے حالت کښے راګرځی چه هغه ددهٔ په زړهٔ، بدن او تولو احوالو باندے داسے اثر کړے وی چه هغه ددهٔ په مخ، ژبه او اندامونو باندے ښکاره کیږی او د هغے ثمره په زړهٔ کښے مومنی چه هغه آخرت ته انابت کول، د دهوکے د کور نه ډډه کول، په دنیا باندے حرص نهٔ کول دی۔ مونځ دهٔ لره دے حیایئ او خلافِ شرع کارونو نه منع کړے وی، او د الله ملاقات ئے ورته محبوب جوړ کړے وی او د هر هغه شئ نه ئے ورله نفرت پیدا کړے وی چه دے دَ الله عز وجل نه قطع کوی۔
ددهٔ مونځ ددهٔ نعمت او د سترګو یخوالے وی، ددهٔ ژوند مزیدار کیږی نهٔ مګر په مانځه سره۔
او ددے سره سره دوئ په دے کښے د سننو حفاظت کونکی وی، د هغے نه په هیڅ شئ کښے ځومره چه کیدے شی نقصان نهٔ راولی۔ نو دوئ د پوره اودس، د اول وخت، د امام ښی طرفته یا شاته د اولنی صف قصد کوی۔ د مانځه نه پس تول مشروع ذکرونه کوی چه هغه په کتاب او سنت کښے معلوم دی۔ دا د دوئ عادت وی۔ او دوئ د صبا بیګاه ذکرونه

هم کوی په دے کښے په هیڅ شئ کښے نقصان نۀ راولی۔
دارنګه د اودۀ کیدو په وخته هم هغه وخته پورے ذکر کوی چه خوب ورته راشی، نو دا خوب ددۀ هم عبادت او خپل رب ته د زیات نزدے کیدو ذریعه جوړه شی، اوکله چه رابیدار شی نو خپل اولنی حالت ته واپس شی۔
ددے هر څه باوجود دا دَ حقوق العباد اهتمام کوی، لکه بیمار پښتنه، جنازے پسے تلل، دعوت قبلول او خلقو سره په جاه و مال او بدن سره مدد کول۔ او د هغوئ ملاقات او خبر ګیری کوی او د خپل اهل او عیال د حقوق خیال ساتی۔ نو دا د عبودیت په منازل کښے نقل کیدونکے وی څنګه ئے چه په هغے کښے د الله امر نقل کوی۔ نو کله چه ددۀ نه د الله د حقونو نه په یو حق کښے کوتاهی واقع شی نو په تادئ باندے دَ عذر او توبے استغفار او ددے د محوه کیدو او په نیك عمل سره چه ددے اثر ختم کړی ددے د علاج اهتمام کوی۔
نو دا همیشه دپاره دده وظیفه وی۔
★ او هرچه **سابقین مقربین** دی :
نو مونږ د الله تعالیٰ نه بخښنه غواړو چه دَ دوئ حالت خو بیانوو لیکن په دے سره مونږ ځپله متصف نۀ یو، بلکه مونږ دا حالت دَ سره بوئے کړے هم نۀ دے، خو د یو قوم سره محبت ساتل انسان لره د هغوئ په حالت باندے په خبرولو باعث کوی، او زمونږ نفسونه د دے خلقو سره پیوسته کیدو نه منقطع دی۔ لیکن د دوئ د حالت په پیژندنه کښے ګڼړے فائدے دی :
۱ - چه مسکین او ددے حالت نه پاتے کیدونکے شخص همیشه دپاره په خپل ځان باندے عیب لګونکے او ددے بدی ویونکے شی۔
۲ - چه همیشه دپاره د خپل رب په مخ کښے مات زړے او هغۀ ته زاری کونکے وی، دَ سابقینو درجاتو ته ګوری او حال دا چه دے د پاتے کیدونکو په ډله کښے وی۔
۳ - کیدے شی چه یو ورځ ددۀ همت ده لره د دغه قوم لمنے نیولو طرفته پورته کړی اګرکه د لرے نه ولے نۀ وی۔
٤ - بله دا چه الله ته زاری اوکړی چه هغه ئے دغه قوم سره یوځائے کړی نو دَ قبولیت ساعت سره به برابرے اوخوری، او الله خو شفقت کونکے مهربانه ذات دے۔
٥ - بله دا چه دا علم د ایمان نه روسته د تولو علمونو نه زیات شریف دے، دا صرف د شریفو نفسونو سره مناسب دے، سپکو نفسونو سره مناسب نۀ دے۔

نو کله چه خپل ځان اووینی چه دے علم ته شوق لری او دا خوښوی نو بیا دے په خیر سره خوشحاله شی ځکه دا اوس ددے دپاره اهل گرځی او خپل نفس ته دے اووائی اے نفسه! تاته خو نیمائی نیك بختیا حاصله شویده نو په دویم نیمائی حصه باندے حرص اوکره، ځکه چه سعادت په دے کښے دے چه په دے څیز دے علم او عمل راشی۔ تا خو نیمائی مزل وهلے دے نو باقی نیمائی ولے نهٔ وهے چه کامیاب شے۔

٦ – بله دا چه علم د جهل نه غوره دے۔

٧ – دارنگه کله چه ددے علم سره ددۀ غم پیدا شی او تالاش کول ئے شروع کری نو کیدے شی چه دا د خپل استعداد مطابق حاصل کری اگرکه د یوے لحظے او رپ هومره ولے نهٔ وی او اگرکه خپل ځان سره دے طرفته پاسیدلو کښے خبرے ولے نهٔ کوی۔

٨ – دارنگه کیدے شی چه ددۀ په ژبه باندے هغه خبره جاری شی چه ددۀ په قصد سره یا بغیر د قصد نه بل څوك نفع واخلی، او الله خو د ذرے هومره شے هم نهٔ ضائع کوی۔

خلاصه دا چه : دا علم د فائدے نه خالی نه دے۔

نو تاله پکار دی چه ددے نه دے څوك بند نهٔ کری او داسے سری ته د سره غور مهٔ گده اومهٔ د هغهٔ په خبره دهوکه کیږه۔ ځکه د علم او حال ترمینځه فرق دے۔ ولے چه ډیر علماء داسے دی چه هغوئ سره د اسماء او صفاتو علم وی لیکن د هغوئ نفسونه دَ هغے د تشبه نه خالی وی۔ نو دَ صحت او په دے باندے دَ علم حاصلولو ترمینځه او د مالدارئ او په دے باندے دَ علم حاصلولو ترمینځه فرق دے۔

نو اوس راشه د هغوئ صفتونه واوره :

خلاصه دا چه : دا «مقربین» داسے خلق دے چه د دوئ زړونه د الله د معرفت نه ډك دی او د هغهٔ په محبت، خشیت، اجلال او مراقبه (لحاظ ساتلو) باندے آباد دی، محبت د دوئ په جوړونو کښے ننوتے دے، په دوئ کښے هیڅ یو جوړ یا رگ داسے پاتے شوے نهٔ دے چه محبت ورته داخل شوے نهٔ وی۔ د هغهٔ محبت د دوئ نه د بل چا تذکره هیره کړے ده، او هغهٔ سره د دوئ انس او مینے دوئ لره د بل چانه وحشی جوړ کری دی۔ د هغهٔ د محبت نه سیوا د بل چا محبت، او د هغهٔ د ذکر نه سیوا د بل چا ذکر دوئ نه پیژنی۔ دارنگه د هغهٔ نه په خوف او رجاء، او هغهٔ ته په رغبت کولو، او هغهٔ نه په یریدلو، هغه باندے توکل او هغهٔ طرفته انابت او سکون کولو او د هغهٔ مخامخ زارئ او انکسار دوئ لره د بل چا د تعلق نه بند کری دی۔

کله چه په دوئ کښې یو کس خپل اړخ په خپله بستره کیدی نو ساه ګانے ئے خپل الله او مولیٰ ته اوخیژی، او د هغهٔ غم ئے په زړهٔ کښې راجمع شی، د هغه اوچت نمونه او صفتونه رایادونکے وی او په دے کښې د هغهٔ مشاهده کونکے وی، په زړهٔ باندے ئے د هغے انوارات راښکاره شوے وی نو زړهٔ ئے د هغهٔ په معرفت او محبت باندے رنګ شوے وی۔

نو بدن ئے په خپله بستره باندے شپه تیروی چه د خپلے بسترے نه په ډډه کیږی او په زړهٔ سره ئے خپل مولیٰ او حبیب ته پناه وړی وی نو هغهٔ هم ورله پناه ورکړے وی، او خپل مخامخ ئے په سجده باندے ځانته پریستلے وی، چه د هر طرف نه خشوع کونکے، ذلیله او مات زړے وی۔ نو څومره ډیره مزیداره او شریفه سجده ده ! دارنګه د الله په عظمت او د هغهٔ په افعالو وغیره کښې فکر او سوچ کونکے وی۔ او ددے نه ځان ساتی چه ددهٔ په زړهٔ کښې دے دَ هغهٔ نه سیوا بل څوك اووسیږی او یا دے د هغهٔ نه سیوا په بل چا باندے خاطر جمع شی۔

نو کله چه دا زړهٔ د خپل خوبه رابیدار شی نو په خپل محبت، همت او شوق سره الله تعالیٰ طرفته خیژی، هغهٔ طرفته شوق کونکے او هغهٔ لره تالاش کونکے وی او هغهٔ ته د احتیاج په حالت کښې وی۔ نو ددهٔ حال د هغه محبت کونکی د حال پشان وی چه د خپل هغه محبوب نه غائب شوے وی چه د هغهٔ نه بغیر ددهٔ ګذاره نه کیږی، او هغهٔ ته ددهٔ ضرورت د هغه ضرورت نه هم زیات وی کوم چه دے خپل نفس او خوراك څکاك ته لری۔ نو کله چه اودهٔ شی نو د هغهٔ نه غائب شی، اوکله چه رابیدار شی نو هغهٔ ته په سخت شوق او لیواله کیدو او پریشان کن محبت سره را واپس شی۔ لکه یو محبت کونکے وائی :

وَآخِرُ شَیْءٍ أَنْتَ فِیْ کُلِّ هَجْعَةٍ   وَأَوَّلُ شَیْءٍ أَنْتَ عِنْدَ هُبُوْبِیْ

(زهٔ چه کله هم اودهٔ کیږم نو تهٔ د ټولو نه آخرنے شے ئے، او کله چه را پاسیږم نو تهٔ د ټولو نه اول شے ئے)۔

تعجب دے په هغه زړهٔ باندے چه ددے خبرے تصدیق نهٔ کوی او نهٔ ددے دپاره جوګه وی۔

★ **فصل** : کله چه را بیدار شی او د ټولو نه مخکښې د دهٔ زړهٔ ته دا حالت راغلے وی، بیا خپل رب یادوی او د هغهٔ نه مدد غواړی چه چرته دے خپل نفس ته د سترګے د رپ په اندازه هم اونه سپارلے شی۔ نو د ټولو نه مخکښې چه کوم شئ باندے دے شروع کوی هغه : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ) وی۔ (ثناء ده هغه ذات لره چه مونږه ئے د مرګ نه پس را ژوندی کړو او هم هغهٔ طرفته ورګرځیدل دی)۔

ددې په معنیٰ باندې سوچ کونکې وي او په ځان باندې د الله نعمت را یادونکې وي چه دې ئې د خپل هغه خوب نه را پاسولو چه هغه د مرګ ورور دې۔
ددهٔ نه ئې هلاکونکې او هغه ضرري څیزونه دفع کړل کوم چه د الله نه علاوه څوك نهٔ پیژني۔ نو کله چه ددې تصور اوکړي او الحمد لله اووائي نو دا دَ هغه حمد او ثناء نه بهتر وي کوم حمد چه د الله نه غافل سړې کوي۔
بیا وائي : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ
بیا دعاء غواړي او عاجزي کوي، بیا اودس ته پاسیږي د زړهٔ په حضور او توجه سره، بیا چه کوم مونځ ورله الله لیکلې وي هغه اوکړي، د داسې محبت کونکي د مانځه پشان چه هغه د خپل محبوب دپاره خیر خواه، او د هغهٔ مخامخ زاري کونکې وي۔ نهٔ د هغه کس د مانځه پشان چه هغه په هغې باندې ناز کونکې وي، دا ورته د خپل محبوب په دهٔ باندې د لویو نعمتونو نه ښکاري چه دا ئې اودرولې دې او بل څوك ئې اودهٔ کړې دې، دده ملاقات ئې طلب کړو او بل ئې اوشړلو، دا ئې اهل جوړ کړو او بل ئې محرومه کړو۔ نو په دې باندې ددهٔ محبت نور هم زیاتیږي۔ او دا ګڼړي چه ددهٔ د سترګو یخوالې او د زړهٔ ژوند او د روح جنت او خوند اوخوشحالي ټوله په دې مانځه کښې ده، دې دا آرزو کوي چه شپه اوږده شي او د صبا راختو په وجه غمژن کیږي لکه څنګه چه هغه محبت کونکې آرزو لري چه هغه د خپل محبوب په وصال باندې کامیاب شوې وي۔ نو دا داسې وي لکه چه وئیلې شوي دي :
يَـــوَدُّ اَنَّ ظَلَامَ الـــلَّيْـــلِ دَامَ لَـــــهٗ وَزِيْـــدَ فِيْـــهِ سَـــوَادُ الْـــقَـــلْـــبِ وَالْبَـــصَـــرِ
(دا آرزو لري چه د شپې تیارهٔ ورله همیشه وې او په دې کښې د زړهٔ او د سترګې تور والې زیات شوې وې)۔
نو دې په دې کښې خپل مولیٰ غالب او مهربانه ذات ته چاپلوسي کوي او هغهٔ سره سرګوشي کوي، هر یو آیت له خپله حصه عبادت ورکوي، نو د مینې اومحبت او د اسماء او صفاتو آیتونه ددهٔ روح او زړهٔ هغه ته راکاږي۔ دارنګه هغه آیتونه چه په هغې کښې هغهٔ خپلو بندګانو ته په خپلو نعمتونو او احساناتو سره ځان وربښودلې دې۔
او دَ امید او رحمت آیتونه ددهٔ دپاره مزل مزیدار جوړوي، او دَ خوف، عدل، انتقام او معرضینو باندې د غضب نازلیدو آیتونه دهٔ لره پریشانه جوړوي، چه هغوئ د هغهٔ سره بل څوك برابروي او بل چاته میلان کوي۔ نو په دهٔ باندې دا راجمع کوي او دې ددې نه منع

کوی چه ددۀ زړۀ د هغۀ نه اوتړیږی۔
خلاصه دا چه : دے هر آیت له خپله برخه عبودیت ورکوی چه دا په محض تلاوت او تصدیق باندے زیاتی عبودیت دے دارنګه په نفسِ فهم د هغے باندے زیاتی دے۔ دارنګه په دۀ کښے یو بل حالت پیدا کیږی چه که بنده دا محسوس کړی نو دۀ ته به پته اولګی چه دۀ مخکښے لوبے کولے۔ لکه وئیلے کیږی :

وَكُنْتُ أُرٰى اَنْ قَدْ تَنَاهٰى بِیَ الْهَوٰی إِلٰى غَايَةٍ مَا بَعْدَهَا لِیْ مَذْهَبٌ
فَلَمَّا تَلَاقَیْنَا وَعَايَنْتُ حُسْنَهَا تَيَقَّنْتُ أَنِّیْ إِنَّمَا كُنْتُ أَلْعَبُ

(زما دا خیال وو چه عشق زۀ داسے آخر سرته رسولے یم چه ددے نه پس زما دپاره هیڅ تګ نشته، خو کله چه مونږ سره ملاؤ شو او د هغے حُسن ما اولیدلو نو زما یقین راغے چه مخکښے خو ما لوبے کولے)۔
هائے افسوس ! څنګه زمانه تیریږی او عمر ختمیږی او زړۀ په پرده کښے دے چه ددے هیڅ بوئے پرے ورنۀ رغے، د دنیا نه داسے اوواتۀ څنګه چه ورته داخل شوے وو او په دے کښے چه کوم مزیدار شے وو هغه ئے اونۀ څکلو، بلکه دَ څناورو غونته ژوند ئے په کښې تیر کړو او دَ مفلسانو غونته ترے منتقل شو۔
نو الله نه مدد غوښتلے کیږی او هم هغۀ ته زۀ د خپل نفس او ددے خلقو نه شکایت کوم۔
فصل : نو کله چه هغه مونځ اوکړی کوم چه ورله الله لیکلے دے نو بیا سر مات کړے د خپل رب مخامخ په هیبت او اجلال کښے کینی او هغۀ نه د هغه چا د استغفار پشان استغفار غواړی چه د هغۀ یقین وی چه تباه کیدونکے دے که چرے دۀ ته مغفرت اونه شو او رحم پرے اونه کړے شو۔ نو کله چه استغفار پوره کړی، نو کۀ د شپے څه برخه پاتے وی نو بیا په خپل ښی اړخ ډیره اولګوی، خپل نفس له آرام ورکوی او هغۀ له د صبا د مانځه د فریضے په اداء کولو باندے قوت ورکوی۔
نو په کوشش او همت سره د هغے استقبال کوی او هغے دپاره تر او تازه وی ګویاکه دے تول شپه اودۀ وو او هیڅ عمل ئے نه دے کړے نو اوس دے غواړی چه څه ددۀ نه فوت شوی دی د هغے تدارك د سهار په مانځه کښے اوکړی، نو سنت اوکړی او د سنتو او د فرضو ترمینځه الله ته زاری کوی، ځکه چه ددے وخت دپاره څوك ئے چه پیژنی ډیر عجیب شان دے، او په دے کښے یا حیی یا قیوم لا اله الا أنت ډیر ډیر وائی۔ ځکه په دے مقام کښے ددے ذکر دپاره د زړۀ په ژوند کښے عجیب تأثیر دے لکه په دے باندے ابن قیم رحمه الله تجربه

کړیده۔

بیا اول صف ته د هغې ښې اړخ ته یا د امام شاته اودریږي او امام ته چه څومره کیدے ورنزدے شي، ځکه په دے کښے راز دے، او کله چه د مانځه نه فارغ شي نو ټول په ټول د الله ذکر ته رامخامخ شي او هغۀ ته په هغه شرعي ذکرونو سره توجه اوکړي چه هغه د ورځے په اول کښے لوستے کیږي او دا هیڅ کله نۀ پریدي، بیا ددے نه علاوه نور ذکرونه هم کوي او قرآن لولي تردے چه نمر را اوخیژي، نو که زړۀ ئے غواړي دوه رکعته اوکړي اوکه نه وي نو بغیر دَ مانځه نه پاسي لکه څنګه چه د نبي کریم ﷺ دا عادت وو۔

بیا روان شي او خپل رب ته تضرع او عاجزي کونکے وي او هغۀ نه سوال کوي چه هغه ددۀ ذمه واخلي او باقي په توله ورځ کښے د هغۀ په رضامندئ کښے دا استعمال کړي، نو دا هیڅ یو شے نۀ کوي مګر کله چه ورته د هغۀ رضا را ښکاره شي اګرکه دغه شے د طبعي او عادي افعالو نه ولے نۀ وي۔ دے په نیت سره ددے نه عبادت جوړوي او ددے په کولو سره دَ رب په رضامندئ باندے استعانت حاصلوي۔

او دا صرف دَ الله د هغه خواصو بندګانو کار دے چه هغوئ د عاداتو نه عبادات جوړوي۔ نو ددے کس او د هغه کس ترمینځه ډیر فرق دے چه هغۀ ته دَ الله تعالیٰ داسے اوامر متوجه شي چه د هغے کول ضروري وي، نو دے په هغے کښے خپل مقصد او غرض تالاش کوي او بیا هغه ددے د وجے نه سرته رسوي، او د الله حکم د خپل مقصد پوره کولو دپاره لاره او ذریعه جوړه کړي۔ نو ددے کس د عباداتو نه عادات جوړیږي۔ او د اولني کس عادات هم عبادات وي۔

بیا چه کله د ماسپخین فرض مونځ وخت شي نو هغے ته په تادئ باندے راځي، هغه پوره طور سره اداء کوي، په هغے کښے د خپل معبود خیر خواه وي، لکه څنګه چه رشتینے محبت کونکے د خپل هغه محبوب سره په محبت کښے خیر خواه وي چه د هغۀ نه ئے غوښتلے وي چه یو کار ورله اوکړي، نو دے ستومانه کیږي نۀ بلکه د خپل پوره طاقته پورے ددے په ښائسته کولو او اصلاح او پوره کولو کښے کوشش کوي، دے دپاره چه د خپل محبوب قبولیت ورته حاصل شي چه په دے سره د هغۀ رضامندي او نزدیکت حاصل کړي۔ نو آیا بنده د خپل رب او مولیٰ او معبود نه حیاء نۀ کوي چه ددۀ په عمل کښے داسے نۀ وي ! حال دا چه دا د خلقو په محبوبانو کښے وینې چه محبت کونکے د دوئ په کارونو کښے څنګه کوشش کوي چه په ښے او کاملے طریقے سره ئے واقع کړي، نو آیا کم

از کم ددې پشان معامله د الله سره نهٔ کوی ؟
څوك چه خپل ځان اوپيژنی او خپل عمل اوپيژنی نو د الله نه به حياء اوکړی چه هغهٔ ته په خپل دې عمل سره مخامخ شی او يا دا د خپل رب دپاره خوښ اوګنړی، حال دا چه دهٔ ته پته ده چه که دهٔ په انسانانو کښې د يو محبوب دپاره عمل کولے نو خامخا به ئې په دې کښې خپله پوره خير خواهی کولے او حتی الوسع به ئې چه څومره ښائسته کولے شوے ښائسته کړے به ئې وے۔
لنډه دا چه : دا د بنده په خپلو ټولو اعمالو کښې د خپل رب سره حالت دے۔ دهٔ ته معلومه ده چه ددې دې مقام له پوره حق نشی ورکولے، نو ځکه دَ هر عمل نه پس دے د الله نه استغفار غواړی۔ نبی کريم ﷺ به د هر فرض مانځه نه پس درې ځله استغفار غوښتلو۔ او الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وَبِالۡاَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُوۡنَ ﴾ [الزاريات: ۱۸] (او پيشمنی مال دوئ بخښنه غواړی)۔
نو د هر عمل نه پس استغفار مشروع دے۔ په دې مضمون باندې ډير آيتونه او حديثونه راغلی دی ------ نو ددې مقام والا توبې او استغفار ته ډير زيات محتاج دے، لکه مخکښې بيان شو، نو دے هميشه دپاره استغفار کوی۔ او څومره چه ددهٔ طاعات ډيريږی هغومره ئې توبه او استغفار زياتيږی۔
فصل : بنيادی خبره په دې باره کښې داده چه په ظاهر او باطن دواړو کښې د الله رب العزت کامل عبوديت او بندګی اوکړے شی۔ چه ددهٔ د نفس او جسم ټول حرکات دا د الله په خوښو کارونو کښې وی۔ او د بنده د عبوديت کمال په دې کښې دے چه د خپل رب سره د هغهٔ په محبوباتو کښې موافق شی او د هغې په کولو کښې پوره کوشش صرف کړی، او په بد ګنړلو د هغه څيزونو کښې هغه سره موافق شی کوم چه هغه بد ګنړی او ددې په پريخودلو کښې خپل پوره کوشش صرف کړی۔
او دا حالت د نفسِ مطمئنه دپاره کيدے شی، نهٔ د نفسِ اماره او نفسِ لوامه دپاره۔
نو دا دَ اِرادې او د عمل دواړو د طرفنه کمال دے۔ او هرچه د علم او معرفت د طرفنه کمال دے، نو هغه دا چه د هغهٔ بصيرت د الله تعالىٰ د اسماء او صفاتو او افعالو په معرفت کښې کهلاؤ وی، او ددهٔ دپاره خاصه مشاهده وی چه دا مطابقه وی د هغه څه چه رسول الله ﷺ په هغې باندې راتګ کړے دے، او ورسره ددهٔ دپاره ردونه هم وی په هغه خلقو باندې چه ددې مخالفت کوی، لکه منکلمين او مبتدعين۔

نو دے په سکون سره مراحل قطع کوی او ددۀ نه سیوا بل څوك سفر کوی او مزل کوی او صرف لړه شان مسافه وهی۔
ددے خلقو بل صفت دادے چه : د دوئ د نفسونو نه هغه تدبیر او اختیار اوځی کوم چه دَ الله تعالی د تدبیر او اختیار سره مخالف وی، بلکه دوئ الله سبحانه و تعالیٰ ته ټول تدبیر سپارلے وی، نو د دوئ تدبیر د الله د تدبیر سره ټیل نۀ کوی او نۀ ئے اختیار د هغۀ د اختیار سره مزاحمت کوی، ځکه د دوئ دا یقین وی چه دا یو داسے غالب او زورور بادشاه دے چه د ټولو مخلوقاتو تندی نیونکے دے او د ټول عالم تدبیر کونکے او چلونکے دے، او دے سره دوئ دا یقین هم لری چه هغه په خپلو ټولو کارونو کښے حکیم دے چه ددۀ کارونه د حکمت او مصلحت او رحمت نه نۀ خالی کیږی، نو دوئ هغۀ سره د هغۀ د بادشاهئ په تدبیر کښے او د خپلو بندګانو په کارونو کښے خپل ځانونه نۀ داخلوی په دے سره چه : که چرته داسے شوے وے نو داسے به شوی وو، اونه په شاید او نۀ په کیدے شی اونۀ په آرمان دے وغیره الفاظو باندے۔ بلکه دَ دوئ په زړونو کښے د دوئ رب ډیر زیات جلیل القدر او عظیم الشان دے ددے نه چه په هغۀ باندے دے اعتراض اوکړے شی او یا دِے دوئ د هغۀ تدبیر بدے اوګنړی او یا دے د هغے نه سیوا د بل څه آرمان اوکړی۔ او دوئ په هغۀ او د هغۀ په اسماء او صفاتو باندے ډیر ښۀ پوهه دی ددے نه چه دوئ هغه په خپل تدبیر کښے تهمتی کړی یا د هغۀ نه سیوا د بل څۀ آرمان اوکړی او یا په هغۀ باندے ددے ګمان اوکړی چه ګنے هغۀ د خپل عدل او حکمت په تقاضا کښے نقصان راوستے دے، بلکه دوئ د زړۀ په سترګو باندے د هر شئ پیدا کونکی او جوړونکی ذات ته ګوری۔
بیا دوئ د ایمان ټولے شعبے او څانګے جمع کړی دی، لکه صبر، توکل، خوف، احسان، خشیت، اخلاص وغیره، کومے چه مونږه په (الدین الخالص ١/٣٧٤) او ددے کتاب په دویم جلد کښے ذکر کړی دی۔ نو په دے کارونو سره دوئ دَ مقربینو درجے ته رسیدلی دی۔
اے الله ! اے ارحم الراحمین ! مونږ په خپل خاص رحمت سره د دوئ نه جوړ کړه۔

٤٥ - عظيمه فائده : د الله معرفت

د هغه چا دپاره چه قدرئے پيژني

پو هه شه : چه الله عـز وجل په دنيا کښې په دنيوی سترګو نۀ ښکاری، او د قيامت په ورځ به ئے مؤمنان وينی۔ د الله تعالىٰ دَ ديدار سره هيڅ يو نعمت برابر نۀ دے !
ليـکن په بندګانو باندے د الله تـعالىٰ دے عام او شامل رحمت ته ګوره چه هغۀ ډير زيات دلائـل او عـجيب براهين په خپل وجود باندے قائم کړی دی، او په دے خبره باندے چه هغه بالـکـل حـق ذات دے او د هـغـۀ وجـود حق او سچ دے، او د غيرُالله وجود فانی کيدونکے او ختميدونکے دے۔ خو ډير کم خلق دے دلائلو ته توجه کوی او ډير کم په دے کښے فکر کوی او پـند اخلی۔ ځکه چه په زړونو باندے زنګ غالب شوے دے او ګناهونو پرے ګيره اچولے ده۔

او دا داسے دلائل دی چه يقين مضبوطوی، ايمان روښانه کوی او حيران ته لاره ښائی۔
او دا دلائل ما په يو ځائے باندے چرته په کوم کتاب کښے نۀ دی ليدلی، ليکن الله عز وجل ماته په خپل فضل او کرم باندے را نصيب کړی دی۔

۱ - نو اولنے دليل دادے چه : الله تـعالىٰ خپـل مـخلوق په فطرت باندے پيدا کړے دے۔ او د فـطرت مـعـنیٰ داده چه الله تعالىٰ په بندګانو کښے د الله د پيژندګلئ او د هغۀ په وجـود بـانـدے د اقـرار کـولـو او هـغـۀ ته دَ انابت کولو دپاره استعداد اچولے دے، او دوئ ئے د هغۀ د پيژندلو قابل جوړ کړی دی۔
رسول الله ﷺ فرمائی :« هـر پيدا کيدونکے بچے په -اسلامی - فطرت باندے پيدا کيږی، نـو بيـا ددۀ مـور پـلار دۀ لـره يهـودی جـوړ کړی يا ئے نصرانی او يا ئے مجوسی جوړ کړی »۔ الحديث۔

په دے حـديث کښے د فـطـرت نـه مراد دا چه الله مخلوقاتو لره په داسے هيئت او استعداد باندے پيدا کړی دی چه خپل خالق پيژنی او د دين د قبلولو جوګه او په هدايت باندے قادر او د حـق قبـلـولو دپاره تيار او دَ ښۀ او بد کار ترمينځه په فرق کولو باندے پيدا کړی دی۔ نو کـه چرے دوئ په دے بـانـدے پـريـخـودلے شی او دَ مور پلار وغيره د طرفنه ورته څه آفت

رانشي نو دوئ په دے (استعداد) باندے ټینګ پاتے کیږی او ددے نه نۀ جدا کیږی او بل هغه شے پرے نۀ غوره کوی د کوم حسن چه په نفسونو کښے ثابت او د عقلمندو خلقو په نیز څرګند دے۔

★ علامه قرطبیؒ په المفهم کښے فرمائی : لکه څنګه چه الله تعالیٰ د خلقو غوږونه د مسموعاتو د آوریدو دپاره قابل پیدا کړی دی او سترګے ئے ورله د مرئیاتو دپاره قابلے پیدا کړی دی۔(اوګوره : المرعاة : ۱/۱۷۶)

امام راغبؒ په المفردات کښے فرمائی : د الله تعالیٰ دا قول چه ﴿ فِطْرَتَ اللهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ﴾ [الروم: ۳۰] (دَ الله تعالی هغه فطرت چه خلق ئے پرے پیدا کړی دی) : دا اشاره ده د الله تعالیٰ د طرف نه هغه معرفت ته کوم چه الله د دوئ په ختهه او سرشت کښے ایخے دے، دارنګه د الله د فطرت نه مراد هغه شے دے چه الله په انسان کښے ایښے دے یعنی د ایمان په پیژندلو باندے قوت، او همدے ته اشاره ده په دے قول د الله تعالیٰ کښے : ﴿ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللهُ ﴾[الزخرف: ۸۷] (که چرے تۀ د دوئ (کافرو) نه تپوس اوکړے چه دوئ چا پیدا کړی دی نو خامخا به اووائی الله)۔

★ په حدیث کښے دی : « ما خپل بندګان – صحیح دین ته – میلان کونکی پیدا کړل نو شیطانان ورته راغلل او د خپل دین نه ئے واړول »۔ (مسلم)۔

نو الله سبحانه وتعالیٰ خبر ورکړو چه هغۀ خپل بندګان په هغه فطرت او سرشت باندے پیدا کړی دی چه هغه متضمن دے کمالِ محبت او خضوع د هغۀ لره، دارنګه هغۀ ته د ذلیل کیدو او یواځے د هغۀ پوره اطاعت کولو لره نۀ د بل چا۔(بدائع التفسیر : ۳/۳۹۲)

نو دَ فطرت دلیلونه ډیر زیات دی چه انسان لره په داسے ذات باندے اقرار کولو ته مجبوره کوی چه هغه فاعل مختار، خالقِ جبار او قهار دے، هغه ذات چه هغه دپاره پوره علم او قدرت او حکمت او د جلال او جمال صفات دی۔

★ او دَ فطرت د دلیل علامه : داده که چرے تۀ هغه ماشوم نه تپوس اوکړے چه هغۀ لا اوسه پورے هیڅ شے نۀ وی زده کړے چه : تۀ چا پیدا کړے ؟ نو هغه وائی : الله۔

بیا ورته اووایه : الله چرته دے ؟

هغۀ وائی : په آسمان کښے۔ بیا ورته اووایه : آیا ستا رب لوئے او عظیم دے ؟ نو هغه جواب ورکوی : هاؤ۔ بیا ورته اووایه : زمکه او آسمانونه چا پیدا کړی ؟ هغه به جواب درکړی : الله۔

دغـه شان که چرې تهٔ هغه کونړ انسان نه تپوس اوکړې چه هغهٔ هيڅ شے نهٔ وی آوريدلے، تردې چه لفظِ (الله) ئے هم نهٔ وی آوريدلے : تهٔ چا پيدا کړې ؟ هغه به الله ته په اشارې سره جواب ورکړی او پورته آسمان طرفته به اشاره اوکړی۔

دا وجه ده چه اکثر خلق چه د هغوئ فطرت ددې نه نهٔ وی بدل شوې په خپل خالق باندې اقرار کونکی دی، سيوا د يو څو کسانو نه چه هغه ډير لږ دی چه د هغوئ فطرت مړ شوې او بدل شوې دې۔ بلکه هغوئ هم د عالم په خالق باندې قائل دی، ليکن په بل نوم باندې۔ او کـله نا کـٰله د هغوئ په فطرت کښې هم راځی چه د عالم يو محرك، خالق او صانع شته دې۔ ليکن په دوئ باندې خواهشاتو غلبه کړې او خپل ځانونو باندې ئے د ګناهونو په وجه فطرتونه خراب کړی دی۔

نوکه چرې دوئ فکر او سوچ اوکړی او خپلو ځانونو ته رجوع اوکړی نو خامخا به د زمکے او آسمان په رب او د مخلوقاتو په پيدا کونکی باندې اقرار اوکړی۔ تردې چه کميونسټ خلق دَ خپل دې مذهب د مؤسس عبادت کوی او دَ هغه خبيثے جثے ته عاجزی کوی لعنه الله۔

★ سليمان الأشقر – رحمه الله – فرمائی : قرآن کريم د الله په وجود باندې اوږدهٔ دلائل نهٔ دی ذکر کړی، ولے چه قرآن دا ثابتوی چه فطرتِ سليمه او هغه نفسونه چه هغه دَ شرك په ګندګيو باندې ګنده شوی نهٔ وی، په غير د دليل نه په هغهٔ باندې اقرار کوی۔ بلکه د الله تعالیٰ توحيد يو فطری او بديهی شے دې۔ ﴿ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا فِطْرَتَ اللّٰهِ﴾ [الروم: ۳۰] الآية۔

(پس خپل مخ دين ته برابر کړه په داسے حال کښے چه کلك ولاړ ئے (په توحيد) چه د الله فطرت دې)۔

اوکه چرې اِنسی او جِنی شيطانان نهٔ وے نو دا فطرت به خراب شوې نهٔ وے۔ دے وجے نه د انسان فطرت، سليم نهٔ جوړيږی مګر الله تعالیٰ ته په التجاء او په هغهٔ پورې د شيطانانو د شر نه په پناهئ سره۔

ډير کرته داسے اوشی چه غټ غټ مصيبتونه را اولګی او دا فطرت واړوی، ځکه چه دا مصيبتونه په انسانانو باندې نازل شی او ددې د ختمولو دپاره هيڅ يو سبب بيانهٔ مومی نو انابت اوکړی او الله عز وجل ته خامخا رجوع اوکړی۔ ﴿ اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ ﴾ [النمل: ٦٢] (څوك دې هغه ذات چه هغه د پريشان حالی دعاء قبلوی کله چه هغهٔ لره را

اوبلی)۔

لکه په یو جهاز کښې ډیر خلق سوارهٔ وو، او هغه بره په فضاء کښې خراب شو، او د هغوئ په نیز د دعاء او الله ته د التجاء نه علاوه بل هیڅ شے پاتے نشو، او د دوئ نه الحاد اوبے دینی ختمه شوه۔

دغه شان دا فطرت د حق په آوریدو او د الله کتاب ته په غوږ کیخودو سره روښانه کیږی۔ دا وجه ده چه دَ حق دشمنان کافران او بدعتیان همیشه دپاره ددے کوشش کوی چه عوام خلق قرآن ته غوږ کینه دی۔ چه فطرت ئے سَم نشی۔ نو دا څیزونه د فطرت د روښانه کولو دپاره دی، دے کښے سوچ اوکړه ولے چه دا مهمه خبره ده۔

۲ - دویم دلیل : عقل سلیم دے۔ عقولِ سلیمه (د جهل او وَهم نه پاك عقلونه) هم تول ددے گواهی ورکوی چه الله عز وجل حق ذات دے۔ دا وجه ده چه تهٔ به عقلمند خلق مسلمانان بیاموے چه د عظیم خالق په وجود باندے به اقرار کونکی وی لکه انبیاء اومرسلین علیهم الصلاة والسلام، او لکه ربانیین علماء، اهلِ تقوىٰ او صالحین۔ بلکه په تولو ډلو کښے به تهٔ هوښیار او عقلمند خلق مومے چه هغوئ به د خالق په وجود باندے اقرار کونکی وی۔ او دَ خالق د وجود نه صرف یوے وړوکے شان ډلے انکار کړیدے چه د هغوئ په عقلونو باندے خواهشاتو غلبه کړے او شیطانانو دوئ لره خویولی دی، او خپل فکر او د بصیرت رنړا ته ئے نهٔ دی پریښی، ځکه شیطانان د خلقو او دَ تدبر او فکر ترمینځه پرده واقع کیږی۔

لکه په مسند احمد (۳۵۳/۲) کښے دی چه : که چرته شیطانان نهٔ وے نو خلقو به دَ آسمان په لویه بادشاهئ کښے عجائب لیدلے۔

او دَ حدیث الفاظ دادی چه کله په نبی کریم ﷺ باندے معراج اوکړے شو نو هغوئ اوفرمائیل: «کله چه زهٔ دے نزدے آسمان ته راکوز شوم نو ما د خپل ځان نه ښکته اوکتل، څه گورم چه گرد او غبار او آوازونه دی، نو ما وئیلے : جبرئیله! دا څه دی ؟ وئیلے : دا شیطانان دی چه دَ انسانانو په سترگو باندے گرځی راگرځی، چه هسے نه دوئ د آسمانونو اوزمکے په بادشاهئ کښے چرته سوچ اوکړی۔ اوکه چرے دا نهٔ وے نو دوئ به عجائب لیدلے وے »۔---- ددے په سند کښے علی بن زید راوی دے، خو نور نصوص په دے معنیٰ کښے ددے تائید کوی۔

٥ که چرے انسان د خپل عقل او بصیرت سره پریښودے شی او دنیا او خواهشات او

غلط فکرونه پرے غلبه اونه کړی، نو خامخا به د خپل قوی، حکیم او علیم خالق په وجود باندے اقرار اوکړی او ددے نه علاوه به ددهٔ په زړهٔ باندے بل هیڅ شے تیر نشی۔ او عقل په دے باندے اقرار کوی چه دا ممکنه نهٔ ده چه یو مصنوع دے بلا صانع او یو مخلوق دے بلا خالق او یو فعل دے بلا فاعل موجود شی۔ څکه که چرے تهٔ هوښیارو خلقو ته اووائے چه: دلته یو ښار دے چه ډیر زیات ښائسته جوړ شوے دے، په دے کښے هر شے په خپلو مناسبو ځایونو کښے کیخودے شوے دے او په دے کښے خوراك څكاك تيار شوے او دسترخوانونه په کښے لګیدلی او هر قِسم رنګینے پکښے موجودے دی، خو ددے آبادونکے او جوړونکے او پخونکے نشته۔ نو دوئ به تاته د کم عقلئ، ناپوهئ او بکواس نسبت اوکړی۔ ولے چه عقل ددے ګواهی ورکوی چه ممکنه نهٔ ده چه دا څیزونه دے د فاعلِ مختار نه بغیر موجود شی۔

دا وجه ده چه یو هوښیار بانده چی وائی: پَچه په اوښ باندے دلالت کوی او دَ قدمونو نښے په تلونکی باندے دلالت کوی، نو آسمان چه غټو غټو ستورو والا دے او زمکه چه د فراخه لارو والا ده او سمندر چه د چَپُو والا دے، دا ټول به په آوریدونکی او لیدونکی ذات باندے ولے دلالت نهٔ کوی ؟

○ د **امام ابو حنیفه** رحمه الله نه نقل کوی چه څه زندیقانو د هغهٔ نه د الله د وجود په باره کښے تپوس اوکړو ؟ نو ورته ئے اوفرمائیل: ما پریدئ زهٔ په یوه خبره کښے سوچ کوم چه د هغے خبر ماته راکړے شوے دے، خلقو ماته دا ذکر کړی دی چه په سمندر کښے د بوجونو نه ډکه یوه کشتئ ده، په هغے کښے قِسما قِسم تجارتی سامانونه دی او په هغے کښے هیڅوك نشته چه د هغے حفاظت اوکړی او نهٔ ئے څوك چلونکے شته۔ او دا ددے هرڅه باوجود ځی راځی او خپله روانه وی او غټے غټے چپے شلوی تردے چه د هغے نه خلاصه شی او چرته ئے چه خوښه شی روانه وی په غیر ددے نه چه هغه څوك اوچلوی! زندیقانو اووئیل: دا یو داسے خبره ده چه هیڅ عقلمند ئے نهٔ منی۔

ورته ئے اوفرمائیل: تعجب دے پتاسو!، آیا ددے ښکته او پورته عالَم او کوم محکم څیزونه چه په دے کښے موجود دی آیا ددے دپاره به څه صانع او پیدا کونکے نهٔ وی ؟ نو دغه خلق لاجوابه شول او حق ته ئے رجوع اوکړه او د هغهٔ په لاس ئے اسلام قبول کړو۔

○ هارون رشید دَ **امام مالک** رحمه الله نه د الله د وجود په باره کښے تپوس اوکړو ؟ نو هغهٔ ورته په دلیل کښے دَ ژبو، آوازونو او نغماتو اختلاف ذکر کړو، سره ددے چه مرئ یوه ده۔

○ **امام شافعی** رحمه الله نه د صانع د وجود په باره کښې تپوس اوشو ؟ نو وې فرمائيل : دَ شاتوت پاڼې ته اوګوره، خوند ئې يو دې چينجې ئې اوخوري نو د هغې نه ريښم راوځي۔ شاتو مچۍ ئې اوخوري نو ګبين ترې راوځي۔ ګډه او غوائې اوخوري پچې او سُوتې ترې جوړيږي، هوسۍ ئې اوخوري نو مشک ترې راوځي۔ حال دا چه شے يو دے۔

○ **امام احمد** – رحمه الله – فرمائي : يوه مضبوطه مئينه قلعه ده، نۀ ئې دروازه شته اونه په کښې څه سورے، ښکاره طرف ئې لکه د سپينو زرو دے، دننه طرف ئې لکه د سرو زرو دے، دا دغسې وي چه ناګهانه د هغې ديوال اوچوي او د هغې نه آوريدونکې او ليدونکې حيوان را اوځي چه ښائسته شکل او نمکين آواز لري۔ (يعنی هګۍ)۔

○ ابن المعتز – رحمه الله – فرمائي :

فَوَاعَجَبًا كَيْفَ يُعْصَى الإِلٰهُ ۔۔۔ أَمْ كَيْفَ يَجْحَدُهُ الْجَاحِدُ

وَفِيْ كُلِّ شَيْءٍ لَهُ آيَةٌ ۔۔۔ تَدُلُّ عَلٰى أَنَّهُ وَاحِدُ

(عجيبه خبره ده ! د الله نافرمانی ولې اوکړې شي، او يو انکار کونکې د هغۀ نه څه انکار اوکړي ؟ حال دا چه په هر شئ کښې د هغۀ دپاره نښه ده چه د هغۀ په توحيد باندې دلالت کوي)۔

○ **ابن کثير** – رحمه الله – فرمائي : څوک چه په دې آسمانونو کښې غور او فکر اوکړي ددې په اوچتوالی، فراخۍ او کوم واړۀ اوغټ رڼړا کونکې سيارات او ثوابت (تلونکې او ولاړ) ستورې چه په دې کښې دي، او ددې مشاهده اوکړي چه دا فلکِ عظيم سره د شپې او ورځې څنګه ګردش کوي، او ددې خپل خپل خاص مزلونه هم شته۔ دارنګه سمندرونو ته اوګوره چه د هر طرف نه ئې زمکه راګيره کړې ده، غرونو ته اوګوره چه د زمکې د قرارئ دپاره اودرولې شوي، بيا په دې کښې اوسيدونکو ته اوګوره چه د دوئ شکلونه او رنګونه څنګه مختلف دي۔ لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُوْدٌ وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ﴾ [الفاطر: ۲۷] (او د غرونو نه سرې او سپينې تکړې دي چه رنګونه ئې بدل بدل دي او تک تور (هم) دي او د خلقو او ځناورو او چارپايانو نه چه د دوئ رنګونه (هم) دغسې مختلف دي)۔

دغه شان نهرونه اوګوره چه د يوې علاقې نه بلې علاقې ته د منافعو دپاره بهيدونکې دي، دارنګه نباتات اوګوره چه خوندونه ، بويونه، شکلونه او رنګونه ئې مختلف دي، سره ددې چه اوبۀ او طبيعت ئې يو دے۔ نو څوک چه په دې کښې سوچ اوکړي هغه به د صانع په

وجود او د هغهٔ په عظیم قدرت، حکمت، او په مخلوق باندې د رحمت، لطف او احسان او ښیګړې باندې دلیل بیامومي۔ لا اله الا غیره ولا رب سواه. (ابن کثیر: ۱/۹۱)

دا او دې پشان نور دلائل به مونږ ان شاء الله روسته ذکر کړو، دې باندې سوچ کول پکار دي او دا اوږد بحث نهٔ دی ګنړل پکار، ولې چه دا د زړهٔ په روښانه کولو کښې ډیر مهم رول اداء کوي۔ دا وجه ده چه قرآن کریم دا ډیر زیات ذکر کړې دې۔ و الله المستعان۔

○ ناشنا خبره ده چه خلق په دې باندې یقین لري چه یو ښاریه ممکنه نهٔ ده چه د جوړونکي نه بغیر خپله جوړه شي او یا خپل ځان جوړ کړي، او دا یقین لري چه د کانړي دپاره یو کس پکار دې چه د لاندې نه ئې بره خېژوي۔ لیکن په دوئ کښې داسې خلق هم شته چه هغوئ دا جائز ګنړي چه دا ټول کائنات دې د پیدا کونکي نه بغیر موجود شي؟ او بغیر د پیدا کونکي نه دې پیدا شي۔

سره ددې چه کائنات پیدا کول خو عظیم خِلقت دې۔ ﴿ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ [المؤمن: ۵۷] (خامخا د زمکې او آسمانونو پیدائش د خلقو د پیدائش نه لوئې دې خو اکثر خلق نهٔ پو هیږي)۔

که چرې په دوئ کښې ادنیٰ علم او عقل وې نو دوئ به انکار نهٔ کولې۔ لیکن د منکرینو مخې ته چه کله په علمي طریقې سره د هغوئ عقل ته دا خبره ور اورسیږي نو بیا یا اقرار کوي او یا مکابره (ضد) او عناد کوي۔

دې دلیل او قانون ته د الله تعالیٰ دا قول اشاره کوي: ﴿ اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴾ [الطور: ۳۵] (آیا دوئ د هیڅ شئ نه پیدا نهٔ دي او که دوئ خپله پیدا کونکي دي؟)۔

او دا یو داسې دلیل دې چه عقلاء خلق دې منلو ته مجبوره کوي چه د کائناتو دپاره یو خالق معبود شته دې۔ او په دې آیت کښې ډیر بلاغت پروت دې، چه عاقل سړې ئې واوري نو د هغهٔ نفس خوزوي او په حرکت کښې ئې راولي۔

لکه د جبیر بن مطعم ﷺ نه روایت دې چه کله دهٔ د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه هغوئ د ماښام په مانځه کښې سورتِ طور لوستلو، اوکله چه دغې آیت ته اورسیدلو نو جبیر ﷺ وائي: نزدې وه چه زما زړهٔ والوزوي۔

○ **ابو سلیمان** خطابي رحمه الله فرمائي: ددې آیت د اوریدو په وخت په جبیر ﷺ باندې اثر ځکه اوشو چه دهٔ دَ آیت معنیٰ ښایسته طریقې سره واخستله او کوم مضبوط حجت چه په دې کښې پروت وو هغه ئې اوپیژندلو، نو دائې په خپل باریك طبیعت سره موندهٔ

کړو او ددے معنیٰ ئے په خپل پاکیزه فهم باندے د خپلے بیمارئ دپاره دوائی جوړه کړه۔
امام خطابی ؒ د : ﴿ اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ ﴾ [طور: ۳۵] معنیٰ داسے کوی : چه ګنے دوئ بلا خالقه موجود شو حال دا چه دا ممکنه نهٔ ده۔ ځکه تعلق دَ خلق د خالق سره ضروری دے نو دے دپاره یو خالق پکار دے، نو هر کله چه دوئ د اِلهِ خالق نه انکار اوکړو او دا ممکنه نهٔ وه چه دوئ بلا خالقه پیدا شی ﴿ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴾ (نو آیا دوئ پیدا کونکی دی) د خپلو ځانونو دپاره، حال دا چه دا ډیره فاسده او سختته باطله خبره ده، ځکه د څه شئ چه وجود نهٔ وی، هغه په قدرت اوخلق باندے موصوف کول څنګه جائز کیدے شی ؟ او د هغهٔ فِعل څنګه موجودیدے شی ؟ اوکله چه دا دواړه وجے باطلے شوے نو په دوئ باندے دلیل قائم شو چه د دوئ یو خالق شته چه دوئ له په هغهٔ باندے ایمان راوړل ضروری دی۔
بیا فرمائی : ﴿ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ ﴾ [طور: ۳۶] (اوکه دوئ آسمانونه اوزمکه پیدا کړے ده، بلکه دوئ یقین نه کوی)۔ اودا داسے شے دے چه ددے دعویٰ دوئ په هیڅ وجه نشی لرلے نو دوئ بند شو او دلیل په دوئ باندے قائم شو۔
نو څوک چه دا ضد او عناد کوی او، وائی چه : ما خپل ځان پیدا کړے نو آیا دے دا طاقت لری چه اووائی : ما زمکه او آسمانونه پیدا کړی ؟ نو هر کله چه عدم نهٔ اسمان پیدا کولے شی اونهٔ زمکه دارنګه کله چه آسمان اوزمکے خپل ځانونه نهٔ دی پیدا کړی، نو ددے تولو دپاره یو پیدا کونکے ضروری دے، او هغه الله سبحانه وتعالیٰ دے۔
نو عقلِ سلیم د الله رب العزت په خالقیت باندے اقرار کوی او هیڅ کله ددے نه انکار نه کوی۔ او بعضے خلق چه په شك او پریشانئ کښے پریوتی دی نو دا دَ غفلت او د زړونو د زنګ په وجه پریوتی دی او په دے وجه چه د دوئ د ضد او عناد په وجه الله دوئ لره ګمراه کول غواړی۔ ﴿ قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوبِكُمْ ﴾ الآية [ابراهيم: ۱۰] (دوئ ته د دوئ پیغمبرانو اووئیل : آیا په الله کښے شك کیدے شی ؟ نا شنا پیدا کونکے د آسمانونو او زمکے دے، تاسو له دے دپاره دعوت درکوی چه ګناهونه درته اوبخښی)۔
○ نو حاصل دا چه د الله رب العزت د خالقیت او صانعیت خبره فطری او عقلی معامله ده، په دے باندے تول کائنات ګواهی ورکوی، لکه چه دا به روسته راشی ان شاء الله۔
او کله چه د انسان عقل پوره شی نو خپل رب اوپیژنی، او کله ئے چه عقل خراب شی نو ایمان ئے خراب شی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوْتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَايَعْقِلُوْنَ ﴾ [یونس: ۱۰۰]

(او هيڅ يو نفس له نشي کيدے چه ايمان راوړي مګر د الله په توفيق سره، او اچوي ګندګي په هغه کسانو باندے چه د عقل نه کار نهٔ اخلي)۔

﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ [انفال: ۲۲] (د الله په نيز د ټولو نه زيات بدتر ځناور هغه کاڼړهٔ چاړاګان (خلق) دي چه د هغوئ د عقل نه کار نهٔ اخلي)۔

۳ - دريم دليل : د عجيبو دلائلو نه :

يو دليل دادے چه هلاك شوي او عذاب شوي قومونه ټول قوي او بادشاهئ او مال والا وو، او بدني قوت او سرمايه داره خلق وو، او د هغوئ مخالفين انبياء کرام او مؤمنان کمزوري او مسکينان وو، حال دا چه دوئ د عذاب نه خلاص شول او اولني هلاك شول۔

عقل خو ددے تقاضا کوي چه کمزورے دے هلاك شي او قوي دے نجات بيامومي، حال دا چه بشري تاريخ ددے الټه خبره اوليدله، نو دا کار چا اوکړو ؟ او کوم يو طاقت دے چه د کافرانو په تباهئ او د مؤمنانو په نجات کښے سبب جوړ شو ؟ دا قوت او طاقت د مادے او طبيعت نشي کيدے، بلکه طبيعت - چه عقل هم نهٔ لري - د کمزورو هلاکولو تقاضا کوي، نهٔ د زورورو۔ نه ! بلکه دا طاقت چه دا کارونه ئے اوکړل دا د عزيز او حکيم ذات طاقت وو۔

٤ - څلورم دليل : دارنګه د جديد علومو نه ثابته شوے ده چه عذاب صرف په هغه زمکو باندے راغلے چه په هغے کښے به انسانان اوسيدل، يوائے په صحراګانو او بيابانونو باندے نهٔ دے راغلے۔ نو دے نه دا معلوميږي چه يو علم او حکمت والا قوت او طاقت دا کار کړے او هغه د الله عز وجل حکمت او قوت دے۔

قرآن کريم ديته په خپل دے قول سره اشاره کړے : ﴿ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴾ (ق : ۳۷)

(بيشکه په دے کښے خامخا د هغه چا دپاره پند او نصيحت دے چه هغه دپاره زړهٔ وي يا غوږ کيدي او دے حاضر وي)۔

يعني د اقوامِ مکذبه ؤ په هلاکولو کښے عبرت دے۔

(زاد المسير او روحاني المعاني)

o يحيىٰ بن معاذ - رحمه الله - فرمائي : زړونه په دوه قسمه دي :

۱ - يو هغه زړهٔ دے چه د دنيا د کارونو نه ډك دے تردے چه کله د آخرت ذکر راشي نو بيا

ورته پته نهٔ وی چه څه اوکړی.

۲ - بل هغه زړهٔ دے چه د آخرت د هيبتونو نه ډك دے. اوكله چه د دنيا د كارونو نه څه كار راشی نو بيا ورته پته نهٔ وی چه څه اوکړی. (قرطبی)

مقصد دا چه د اقوامِ مكذبهٔ هلاكت د الله تعالیٰ په وجود باندے د ټولو نه زيات لوئے دليل دے، ولے چه هغوئ د خپل قوت، مال او جمال سره هلاك شول، په خلاف د مؤمنانو نه چه هغوئ د خپلے كمزورئ باوجود د الله د عذاب نه نجات بيا موندهٔ. د نوح عليه السلام او د هغهٔ د قوم تاريخ اوګوره، دارنګه د هود عليه السلام او د قوم ئے او د صالح عليه السلام او د قوم ئے تر زمونږ ددے زمانے پورے. څكه الله عز وجل مونږ ته په خپلو بندګانو كښے چه هميشه راسے كوم نښے تير شوی دی هغه راښائی، خو چه څوك د سوچ او عقل نه كار اخلی. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى﴾ [طه: ۱۳۲] (او - ښهٔ - انجام د پرهيزګارو دپاره دے).

۵ - **پنځم دليل** : دغه دليل ته نزدے بل ډير باريك دليل دے چه په دے هغه څوك خبريدلے شی چاله چه الله تعالیٰ په خپل دين او كتاب كښے پوهه وركړے وی.

او هغه د بنده نيكئ او بدئ دی. څكه څه وخت چه انسان د الله تعالیٰ نافرمانی اوكړی په دهٔ باندے مصيبتونه، ذلت، سپكاوے او په زړهٔ او بدن كښے كمزوری، په مخ او سپيږمه كښے تور والے، او د خلقو په زړونو كښے بغض نازليږی. او څوك چه د الله تعالیٰ اطاعت كوی په خپل زړهٔ كښے رڼړا، راحت اوسكون، او د خلقو په سترګو كښے عزت او هيبت، او په مخ او پوزه كښے رڼړا وينی. او هر سړی ته پته ده چه كوم خلق د الله تعالیٰ اطاعت كوی هغوئ د ټولو خلقو نه غټ عزتمند او شرافت او قدر والا وی.

او نافرمانه خلق ذليل وی د دوئ دپاره د خلقو په زړونو كښے هيڅ محبت نهٔ وی. نو ددے نه معلوميږی چه الله تعالی په خپلو بندګانو كښے دا قِسم تصرف كوی، اوكه چرے دا نهٔ وے نو د الله نافرمانی كونكی خلق به د ټولو نه زيات نيك بختنه وے، څكه د دنيا سازو سامان ټول دوئ سره دے، حال دا چه خبره الټه ده.

○ او همدے خبرے ته امام ابن القيم رحمه الله په مدارج السالكين (۱/۴۲۱) كښے اشاره كړے. فرمائی: فصل دے په مشاهدو د خلقو كښے په ګناهونو كښے. نو ديارلس مشهدونه ئے ذكر كړی دی، بعضے د هغے نه زيادت د ايمان دے په نافرمانئ د خلقو كښے.

او هغه دا سے چه رسولانو - عليهم السلام - خبر وركړے چه الله عز وجل فلانی څيز سره محبت كوی او فلانے شے بدے ګنړی، په دے يو باندے ثواب وركوی او په دے بل باندے

عذاب. نو کله چه بنده ته هغه شے حاصل شی د کوم خبر چه پیغمبرانو - علیهم السلام - ورکړے نو د هغوئ په خبره باندے د بنده ایمان زیاتیږی او قوی کیږی او دا پیژنی چه ددهٔ یو رب شته چه دا کار کوی لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ [النحل: ٩٧]

(چا چه نیك عمل اوکړو، نارینه وی که زنانه نو خامخا به مونږ هغه له پاکیزه ژوند ورکړو).

او فرمائی : ﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَإِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا ﴾[طه : ١٢٤]

(او څوك چه زما دَ ذکر نه مخ واړوی نو هغهٔ دپاره به تنگ ژوند وی).

او فرمائی : ﴿ لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ﴾ [الزمر: ١٠]

(د هغه کسانو دپاره چه په دے دنیا کښے ئے نیکی کړے ښه بدله - یا ښهٔ ژوند - دے).

او فرمائی : ﴿ وَإِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ ﴾ [الطور: ٢٧]

(او بیشکه د ظالمانو خلقو دپاره ددے نه علاوه عذاب دے).

نو انسان ته هیڅ کله بد حالت نهٔ دے رسیدلے مگر ددهٔ د گناه په وجه، او دَ ډیرو گناهونو نه خو الله دغسے معافی کوی. او الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَمَآ أَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴾ [الشوریٰ: ٣٠] (اوکوم مصیبت چه هم تاسو ته رسی نو هغه ستاسو د گناهونو په وجه او ډیر معاف کوی هم).

نو کوم یو نقصان، مصیبت او شر چه په دنیا او آخرت کښے وی نو د هغے سبب گناهونه او د ربّ د اوامرو مخالفت دے، په عالَم کښے هیڅ یو شر نشته مگر گناهونه د هغے اسباب دی.

په زړونو، بدنونو او مالونو کښے د نیکیو او بدیو آثار په عالَم کښے مشهور دی، چه عقل سلیم والا ددے نه انکار نکوی بلکه مؤمن او کافر، نیك او بد ټول ئے پیژنی. نو په خپل ځان او بل چا کښے د بنده دا معلومول او په دے کښے سوچ کول او دا مطالعه کول ددهٔ ایمان په هغه ثواب او عقاب باندے مضبوطوی کوم باندے چه پیغمبرانو - علیهم السلام - راتگ کړے دے.

لکه بعضے سلف وائی : کله چه مانه گناه اوشی او زهٔ د هغے زر تدارك اونهٔ کړم نو زهٔ د هغے دَ بد اثر انتظار کوم، نو کله چه ماته اورسی نو زما آواز داوی : أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ. او دا د ایمان د شواهدو او دلیلونو نه وی.

اوكله چه دا دروازه بنده ته پرانستے شي نو هغه د اقوامِ عالَم د تاريخ نه فائده بيامومي، بلكه د خپلے زمانے د خلقو په ماجرئ باندے نفعمن كيږي او په دے وخت كښے د الله تعالىٰ ددے قول معنىٰ پيژني چه : ﴿ أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ ﴾ [الرعد: ۳۲] (آيا هغه څوك چه په هر نفس باندے ولاړ دے)۔ او دا قول د الله تعالىٰ : ﴿ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ﴾ [ال عمران: ۱۸] (انصاف باندے ولاړ)۔

نو دا هر څه د الله رب العزت د عدل نه دي چه په خپل مخلوق كښے ئے نافذ كړے دے۔ او كله چه تهٔ پوره طور سره اوپيژنے نو تهٔ به د زړونو طبيب شے چه هغه ددے په مرض او علاج باندے پوهيږي۔ نو بيا به الله تعالىٰ ستا په ذريعه تاته او خلقو ته نفع وركړي۔ (ملخصا)۔نو اے هغه سړيه ! چه ددے نه انكار كوي، ستا عقل او پوهه څه شوه ؟ ستا دماغ چرته لاړ ؟ آيا تهٔ نه ګورے چه هره ورځ د الله تعالىٰ په نافرمانه خلقو باندے قِسما قِسم مصيبتونه، غمونه او خفګانو نه نازليږي ؟۔

آيا تهٔ هغه څه ته نهٔ ګورے كوم چه د هغهٔ متقينو بندګانو ته وركولے كيږي، يعني قِسما قِسم نيكئ، رحمت او په زړونو كښے راحت ؟ و الله المستعان۔

۶ - شپږم دليل : او دا دليل صرف هغه خلقِ پيژني چه الله عز وجل طرفته دعوت وركونكي او په خپل دعوت كښے صبر كونكي وي۔ او هغه دا چه الله سبحانه وتعالىٰ د هر هغه چا سره مدد كوي څوك چه د حق سره مدد كوي او يا هغے طرفته دعوت كوي او خپل دعوت ميوه دار ګرځوي، او الله آخر باطل ختموي او نيست نابود كوي ئے، او اهلِ حقو ته عزت وركوي او اهلِ باطل ذليله كوي۔

لكه الله تعالىٰ په سورت رعد كښے فرمائي :

﴿ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْمَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ﴾ [الرعد: ۱۷]

٥ نو په دے مثال كښے سوچ اوكړه تهٔ به ئے داسے موندهٔ كړے څنګه چه الله تعالىٰ بيان كړے دے۔ څكه مونږ ته پته ده چه پيغمبرانو - عليهم السلام - دپاره انجام وو او هر هغه چا چه الله تعالىٰ ته ئے دعوت وركړے په هر زمان او مكان كښے چه وي، نو الله تعالىٰ هغهٔ سره نصرت كړے او هغه ئے عزتمند كړے، او كوم حق طرفته چه هغهٔ دعوت وركړے، هغه ئے باقي پريښے، او باطل پرست ئے تباه كړي يائے د هغوئ باطل ختم كړے دے۔

حديث كښې دي : « او دغـه شان پيغمبران دي چه په هغوئ باندے اول آزمائش كيږي بيا د هغوئ دپاره آخري انجام وي »۔ (بخاري : ۱/٤)

او مـونـږ هم ددے بعضے نمونے ليدلي او په تجربه كښې مو راغلي دي چه د هغے بيان اوږد دے۔ الله تـعـالـىٰ تپوقے او مسخرے كونكي تباه او ذليله كړي، او چاچه هغهٔ طرفته دعوت وركولو هغوئ سره ئے مدد كړے او هغوئ ئے عزتمن كړي دي۔

○ او كيـدے شـي چه تا هم هغه څوك ليدلي وي چه هغه د قرآن نه يا د سُنت نه خلق منع كوي او يا د قرآن اوحديث والو پورے تپوقے كوي، د هغوئ انجام څنگه شو ؟ او په دنيا كښې هـغـوئ څـنـگـه قِسما قِسم عذابونه او شرمندگئ څكلي دي ؟ سره ددے چه دَ دوئ بيان او فصاحت او شماره ډيره زياته وه۔ ﴿ فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ [هود: ٤٩]

او دا هـغـه شے دے چـه په دے باندے ما شخصي تجربه كړے ده او دا هر هغه څوك پيژني چـه د چا دپاره ادنىٰ عـقـل او عـلـم او دعوت او صبر وي۔ او الله عز وجل نه مدد غوښتلے كيږي۔

او هـمـدا هغه ذات دے چه وائي : ﴿ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ﴾ [الانبياء: ١٨] (بـلـكـه مـونـږ حق پـه بـاطـل بـانـدے ولـو نو هغـه ئے دفع كړي نو ناگهانـه دا ختميدونكے وي)۔

او فـرمائي : ﴿ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴾[سبا: ٤٩] (ورتـه اووايه حق راغے او باطل نهٔ اول پيدائش كولے شي او نه دوباره)۔

واقـعـي چـه زمـونـږ خـالـق او مـعبود رشتيا وئيلي دي همداسے ده۔ كه چرے د الله تعالىٰ قـدرت او حـكـمت نهٔ وے نو د اهلِ تقوىٰ دپاره به انجام نهٔ وے او نهٔ به د حق دپاره غلبه وے، نـو كـلـه چـه پـه اولـه كښې د كمزورئ باوجود غالبه شي، نو دا په ناشنا قدرت باندے دلالت كوي چه هغه د الله عز وجل قدرت دے۔ و الله ولي التوفيق۔

۷ - اووم دليل : او دا نـاشـنـا دلـيـل دے چـه ډير خـلـق ترے ناخبره دي، او هغه د پيريانو وجـود دے۔ څـكـه د دوئ وجود ښكاره دلالت كوي په دے خبره چه ډير داسے شيان شته چه هغـه مـوجـود دي خـو پـه ستر گو نهٔ ښكاري۔ او په اتفاق د عقلاؤ د يو شئ د وجود دپاره د هغـهٔ ليـدل شرط نـهٔ دي، بلكه د هغهٔ د وجود دپاره د هغهٔ خبرے يا كار يا هغهٔ لره د بعضے خلقو ليدل يا د هغهٔ څه نښے نښانے وغيره كافي دي۔

نـو جِـنـات داسے مخلوق دے چه د هغے دپاره عجيب قوت دے او هغوئ دپاره ډير سرعت

دے۔ هغه د انسان په بدن کښے داخليدے شي او کله په سترګو باندے هم ښکاري کله چه د انسان يا حيوان صورت اختيار کړي۔ ما خپله د جناتو ټك ټوك آوريدلے دے۔ او ډير خلق دي چه په سترګو ئے ليدلي دي۔

او د تعجب خبره داده چه بعضے جاهلان خلق د جناتو د وجود نه انکار کوي۔ مونږ وايو : که چرے تۀ د جناتو تالاش اوکړے نو هغه به مونده کړے او اوبه ئے وينے۔ هغه دا چه تۀ هغه چاته لاړ شه چه د جناتو په مرض ناجوړه خلق دموي نو تۀ به عجائب اووينے۔

او کله چه تۀ غواړے چه پيريان اووينے نو يو څو کاره اوکړه :

١ – اول دا چه : داسے ځائے ته لاړ شه چه هلته پيريان ډير وي يا هغه په پيريانو مشهور وي نو کيدے شي چه هلته ئے اووينے يائے خبرے واورے۔

٢ – دويم : هغه چاته ورشه چه هغه د هغه خلقو علاج کوي چه په هغوئ کښے پيريان ننوتي وي، نو کيدے شي چه عجائب اووينے، نو په چا کښے چه پيرے ننوتے وي د هغه په ژبه باندے کله پيرے خبرے کوي په داسے ژبه او لغت باندے چه پيري ننوتي شخص ته هم معلومه نۀ وي، نو هله به ستا ددے په وجود باندے يقين راشي۔

٣ – او بعضے دَم ګري داسے دي چه پيريان ئے خبره مني او هغه ئے خلقو ته په خپل ورغوي کښے ورښائي، او دا کار اګر که ظلم دے ليکن که تۀ ورشے نو دا به اووينے۔

٤ – د پيريانو تابع کولو دپاره څه دعاګانے شته دے چه هغه زۀ دلته نۀ ليکم، دے دپاره چه په هغے باندے څوك عمل اونه کړي، ځکه چه پيريان تابع کول يا خو په کفري الفاظو سره وي، نو دا خو کفر دے، او يا په شرعي اذکارو سره وي، ليکن بيا هم د هغوئ تابع کول ظلم دے ----- نو دَ پيريانو موجوديدل د الله تعالیٰ په وجود باندے دليل دے، هغه ذات چه زمکه او آسمانونه ئے پيدا کړي او هغه ښکاره حق دے۔ او وجود د هغۀ حقيقي دے۔ په خلاف د وجود مخلوق نه چه هغه فاني او ختميدونکے وجود دے۔ ځکه کله چه تۀ د پيريانو په وجود باندے عالِم شوے نو تاته به پته اولګي چه الله هم موجود دے، نو لکه څنګه چه پيريان موجود دي او په سترګو نۀ ښکاري، دغه شان الله عز وجل هم موجود دے او په دنيا کښے په سترګو نۀ ښکاري۔ ليکن دَ پيريانو وجود په دنيا کښے دے، او دَ الله تعالیٰ وجود دَ اوچتو آسمانونو دپاسه دے، او د هغۀ علم هر شئ لره راګيرونکے دے، په هغۀ باندے هيڅ شے پټ نۀ پاتے کيږي۔

٨ - **او بعضے** د هغه دلائلو نه چه هغه د الله تعالیٰ د وجود نه هر قِسم شك او شبهه

ختموی : (۱) قرآن کریم دے۔ (۲) د رسول الله ﷺ دعوت او د هغوئ عجیب او غریب معجزات دی چه هغه په تواتر سره ثابت دی۔ (۳) او عقلی دلائل او هغه براهین دی چه په سترګو باندے د هغے مشاهده کیږی۔

او دے درے واړو دلائلو ته قرآن کریم اشاره کړے ده : ﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ ﴾ [الحديد: ۸] - بالحجج والبراهين - ﴿ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾ هُوَالَّذِىْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [الحديد: ۹]

نو په دے آياتِ کريمه ؤ کښے فکر اوکړه، ته به په کښے شِفاء بيامو مے، او دا چه کله انسان په دے مذکوره درے واړو دليلونو کښے سوچ اوکړی نو ايمان بالله ته خامخا مجبوريږی۔

﴿ وَمَا لَكُمْ ﴾ يعنی : ددے مضبوطو دلائلو د وجود نه پس په ايمان بالله نۀ راوړو کښے ستاسو هيڅ عذر نشته، خو ددے قدر هغه څوك پيژنی چه سوچ په کښے اوکړی۔

۸ - نو قرآن کريم د الله تعالىٰ په وجود باندے او د هغۀ په حکمت او محيط علم باندے دَ دوو عظيمو وجهو نه دلالت کوی۔

۱ - اول : دا عظيم کلام د يو امّی نه راوتل۔

۲ - دويم : ددے اعجاز (خلقو لره ددے پشان کلام راوړلو نه عاجز کول) او دَ اولنو او آخرنو په علومو باندے مشتمل کيدل---- اوس ددے په ګنړو وجو سره ددے تفصيل واوره:

نو دا ياد ساته چه قرآن کريم د الله تعالىٰ له خوا نه محمد رسول الله ﷺ راوړے او هغه خالص امی وی، نۀ ئے چرته په مدرسه کښے سبق وئيلے وو او نۀ په مکتب کښے، بلکه په پخوانو عربو کښے مدرسے او مکتبونه نۀ وو، هغوئ خو دَ اوښانو او ګډو بزو والا خلق وو، خو الله تعالىٰ ورله هوښيارتيا، ذکاوت او فطری فصاحت او بلاغت ورکړے وو۔ او رسول الله ﷺ په داسے حال کښے پيدا شو چه والد ئے وفات شوے وو او نبی ﷺ د خپل ملك نه ځلوېښتو کالو پورے چرته تعليم دپاره نۀ دے وتلے۔ او بيا ئے داسے عظيم کتاب راوړو چه انسانان او پيريان ئے ددے پشان کتاب راوړلو نه عاجزه کړل۔ يواځے دا دليل هم د سوچ والو دپاره کافی دے۔

۲ - دويم دا چه : عربو د نبی کريم ﷺ سره سخته دشمنی اعلان کړے وه، څومره به چه ممکنه وه ضرر به ئے ورکولو، او هغوئ د فصاحت او بلاغت خاوندان وو، او په دے کښے مشهور وو۔ نو قرآن کريم دوئ له چينج او د مقابلے دعوت ورکړو چه ددے د معنىٰ يا

صرف د لفظ پشان کلام راوړي، خو دَ ډير کوشش او جد وجهد باوجود هغوئ ددے طاقت اونه لرلو۔ بلکه د نبی کريم ﷺ نه ئے مطالبه اوکړه چه دا وحی پريدی او ددے په بدله کښے به ورله مالونه، ښځے، مُلك او جاه ورکړی۔ نو دا د هغوئ په عجز او بے وسئ باندے دليل دے، ګنے هغهٔ له به ئے په دے ځيزونو کښے ترغيب نهٔ ورکولے۔

بلکه په دوئ کښے اکثر څه چه تولو خلقو د قرآن کريم په عظمت او په دے خبره اقرار کړے وو چه دا قرآن دِ بشر کلام نهٔ دے۔

وليد به وئيلے : واقعی چه ددے قرآن دپاره يو ناشنا خوند دے او ددے دپاره تازه ګی ده، ددے لاندے طرفته غونچکونه دی او پورته طرف ئے ميوه دار دے، او دا اوچتيږی او په دے باندے بل شے نشی اوچتيدے۔

۵ نو که چرے دا د خالقِ جبار ذات کلام نهٔ وے نو عرب مشرکانو يا يهوديانو او نصاراؤ او مرتدينو به ددے پشان کلام جوړولو سره دا رد کړے وے۔ بلکه د خلقو عادت دادے چه څوك د يو شئ دعوىٰ اوکړی او د هغے صفت کوی او، وائی چه کوم شے ما پيش کړے دے د هغے مقابله څوك نشی کولے، نو دوئ د هغهٔ مقابله کوی او ددغه کلام پشان بلکه ددے نه په غوره کلام باندے راتګ کوی، که هغه نظم وی که نثر، کتابت وی اوکه خطبه اوکه سجع وی، هر قِسم کلام چه وی۔

امرئ القيس رامخکښے شو او يوه قصيده ئے جوړه کړه، نو طرفه (شاعر) راغے او د هغے پشان قصيده ئے اووئيله، بيا لبيد راغے او د هغے پشان قصيده ئے اووئيله، نو دا اووه قصيدے وے چه د کعبے شريفے په دروازه باندے زوړندے وے۔

او د قرآن کريم پشان کلام هيڅ يو کس نهٔ دے راوړے بلکه ديته نزدے کلام ئے هم نهٔ دے پيش کړے۔ دا دليل ډير علم ته حاجت لری۔

۳ – دريم : هغه ناشنا اسلوب چه عرب ورسره نابلده وو۔

٤ – څلورم : د قيصو، احکامو او مخکنو اديانو نه خبر ورکول، په دے شان چه دا د الله تعالىٰ د مخکنو کتابونو تصديق کونکے دے، په غير ددے نه چه دِ يو انسان نه ئے زده کړی۔

٥ – پنځم : د راتلونکی وخت خبرونه ورکول او بيا دغسے د هغے واقع کيدل۔ لکه دا قول د الله تعالىٰ : ﴿ سَيَقُولُ السُّفَهَآءُ ﴾ [البقرة: ١٤٢] (زر دے چه بيوقوفان به اووائی)۔ او لکه دا قول د الله تعالىٰ : ﴿ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴾ [روم: ١] (روميان مغلوبه شو)۔ او لکه دا قول د الله تعالىٰ

: ﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا﴾ [مومن: ٥١] (خامخا مونږ د خپلو پیغمبرانو مدد کوو). چه بیا ئے د خپل پیغمبر ﷺ مدد اوکړو. دارنګه دے نه علاوه نور خبرونه شو چه هغه په قرآن کښے ډیر زیات ذکر شوی دی.

٦ – شپږم : اعلیٰ درجه بلاغت.

٧ – اووم : معنو ته داسے جامه ور آغوستل چه د هر سورت د اسلوب سره په هر ځائے کښے مناسب دی.

٨ – هره کلمه په خپل ځائے کیخودل.

٩ – وعدے پوره کول.

١٠ – د خلقو د زړونو نه خبر ورکول. لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَ تَخْشَى النَّاسَ وَاللهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰه﴾ [الاحزاب: ٣٧] (او تهٔ د خلقو نه یریږے او الله ډیر لائق دے چه هغهٔ نه تهٔ یره اوکړے). او لکه فرمائی : ﴿وَيَقُولُونَ فِيٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللهُ بِمَا نَقُوْلُ﴾ [المحادلة: ٨] (او دوئ ځان سره وائی چه الله مونږ له زمونږ په خبرو ولے عذاب نه راکوی). او لکه فرمائی : ﴿يُخْفُوْنَ فِيٓ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَايُبْدُوْنَ لَكَ﴾ [ال عمران: ١٥٤] (دوئ په خپلو زړونو کښے هغه څه پټ ساتی کوم چه تاته نهٔ ښکاره کوی). او فرمائی : ﴿وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ﴾ [ال عمران: ١١٨] (او څه چه د دوئ سینے پټوی هغه ددے نه لوئے دی).

١١ – قرآن کریم د ټولو علمونو دپاره جامع دے، لکه حلال، حرام، سیاستِ مدنیه، تدبیرِ منزل، آداب، عقائد، ایمانیات او شخصی احکام.

لنډه دا چه : د دنیا او آخرت ټول علوم او اصول او فروع په دے کښے پراتهٔ دی، ولے چه دا یو برکتی کتاب دے. الله په دے کښے هر شے په تفصیل سره ذکر کړے، بلکه په دے کښے ټول نوی علوم لکه سائنس وغیره هم شته دے.

١٢ – په دے کښے هغه بلیغ حکمتونه دی چه عادةً دا دومره ډیر او شریف علوم د یو انسان نه نشی صادریدے پاتے لا پیرے.

١٣ – قرآن کریم کښے چه څه دی د هغے په ظاهر او باطن کښے تناسب راتلل په غیر د اختلاف نه.

١٤ – ناشنا لفظ چه د ټولو عربی او غیر عربی معروفو ژبو نه مخالف دے.

١٥ – هغه کثرتِ معنیٰ چه د مخلوق نه ممکنه نهٔ ده.

١٦ – په قرآن کښے دَ ظاهری او باطنی مرضونو شِفاء.

۱۷ – انسان ددې نه نۀ ستړے کیږی۔ او ددے نه علاوه که بل کتاب دومره اولوستے شی نو خامخا انسان ستړے ستومانه کیږی۔ او زمونږ خپله تجربه ده چه قرآن زړۀ، سینه او دماغ مضبوطوی۔ مونږ دا دَ سهار آتو (۸) بجو نه تر درے نیمو (۳۰:۳) بجو پورے په رمضان کښے درس کوو، خو کمزوری نۀ محسوسوو، بلکه د ماسپخین نه پس زړۀ ډیر قوی وی۔

۱۸ – ډیر وئیلو سره نۀ زړیږی۔

۱۹ – علماء ددے نه نۀ مړیږی۔

۲۰ – ددے علوم نۀ ختمیږی۔

۲۱ – ددے بار بار لوستلو نه د مؤمن زړۀ نۀ تنګیږی۔

۲۲ – او په دے خبره دلیل چه دا د الله کلام دے، دادے چه یوه موضوع الله تعالیٰ په خپلو ځایونو او موقعو کښے په داسے شان تکراروی چه عام خلق ددے طاقت نۀ لری۔

۲۳ – عجیب هغه شے چه قرآن کریم ذکر کړے دے، دادے چه الله تعالیٰ خپله ددے ګواهی ورکړے ده، لکه فرمائی: ﴿ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴾ [النساء: ١٦٦] (او پوره دے الله ګواه)۔ او فرمائی: ﴿ لٰـكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَا أَنْزَلَ إِلَيْكَ أَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴾۔ (لیکن الله ګواهی کوی په هغه کتاب چه تاته ئے نازل کړے ،دائے په خپل علم سره نازل کړے او ملائك هم ګواهی کوی او کافی دے الله ګواهی ورکونکے)۔

د الله تعالیٰ ګواهی دوه قِسمه ده۔ (۱) یو دَ بیان شهادت۔ او دا ئے په قرآن کښے کړے دے۔ (۲) او بل د نصرت، تائید، او د هغۀ په لاس باندے د ډیرو زیاتو معجزو راښکاره کول او د هغۀ د دشمنانو د هلاکولو شهادت۔

او الله تعالیٰ دا شهادت پوره کړے دے چه خپل پیغمبر له ئے په ټولو کافرانو باندے غلبه ورکړه او د هغۀ دین ئے په ټولو ادیانو غالب کړو، او د هغۀ کتاب ئے په ټولو کتابونو غالب کړو۔ خو چه څوك زړۀ لری او توجه سره غوږ کیدی۔(بدائع التفسیر ، سورتِ انعام)۔

۲٤ – الله تعالیٰ د خپل کتاب د حفاظت وعده کړے ده، نو تراوسه پورے ئے ددۓ حفاظت کړے او ترقیامته پورے به ئے دغسے محفوظ وی ان شاء الله تعالیٰ۔ په خلاف د باقی کتابونو نه چه هغه غیر محفوظ وو، نو ددے کتاب حفاظت د الله تعالیٰ په وجود او د هغۀ په علم او قدرت باندے دلیل دے۔

۲۵ – د قرآن کریم د آیتونو ناشنا والے دادے چه دا دَ هر زمان او مکان او هر قِسم خلقو

سره عرب وي که عجم، مناسب دے. په خلاف د باقي کتابونو نه چه هغه داسے نهٔ وو.
(ددے بعضے وجهو دپاره تفسير قرطبی ۱/۷۲، معارف القرآن ۱/۱٤٥، وغيره اوګوره)

د پخوا عربو دپاره يوه سليقه وه چه په هغې سره به ئے اعجاز او فصاحت او بلاغت او د معنىٰ کثرت او رذالت پيژندلو. نو هغوئ به قرآن ته سخت حيران وو او ددے نه به ئے تعجب کولو، ولے چه هغوئ د اعجاز خوند نهٔ وو څکلے، مګر هغه چا چه په هغهٔ باندے الله رحم کړے وو.

خلاصه دا چه : قرآن کريم د الله تعالىٰ د واضحو نښو او ښکاره دلائلو او قطعي دليلونو نه دے. ښکاره دلالت کوي په دے خبره چه الله تعالىٰ د ټول عالم رب او د زمکے او آسمانونو خالق دے. اودا چه هغه خلق دغسے بيکاره نهٔ دي پيدا کړي بلکه سبا له به ورسره حساب کوي او دوئ ئے د يو عظيم کار دپاره پيدا کړي چه هغه د الله تعالىٰ عبادت او معرفت او محبت او تعظيم دے. دارنګه د هغهٔ اوامر په ځائے راوړل او د هغهٔ د منع کړو څيزونو نه ځان ساتل، د هغهٔ د محبوب سره محبت ساتل او د هغهٔ د مبغوض سره بغض ساتل. و الله المستعان.

۹ - نهم دليل : معجزات د رسول الله ﷺ :

څکه دا په دوه غټو خبرو باندے دلالت کوي :

۱ - اول : په عظمت، علم او قدرت د الله عز وجل باندے.

۲ - دويم : په اثبات د رسالت د رسول الله ﷺ باندے.

او د رسول الله ﷺ معجزات او خوارق (ناشنا کارونه) ډير زيات دي چه زرو معجزو ته رسيږي بلکه د بعضو په نيز دريے زره معجزو ته رسي.

نو که چرے د الله عز وجل علم او قدرت نهٔ وے نو هيڅ يوه معجزه به نهٔ وے او هر سړي به دا طاقت لرلے چه د رسول الله ﷺ پشان کار اوکړي. او هر کله چه هيڅ يو کس، انسان وي که پيرے دا طاقت نهٔ لري چه د رسول الله ﷺ پشان شے راوړي، سره ددے چه دوئ هم د رسول الله ﷺ پشان انسانان دي، بلکه کيدے شي چه په دنيوي امورو او ظاهري علومو کښے د هغهٔ نه ښه پوهه وي. لکه خپله رسول الله ﷺ فرمائي : (تاسو د خپلے دنيا په کارونو باندے ښهٔ پوهه ئے).

نو معلوميږي چه يواځے الله تعالىٰ دا کار کوي او د نبي اکرم ﷺ په لاس مبارك باندے معجزے راښکاره کوي، دے دپاره چه د رسولانو راليږلو نه پس په الله باندے د خلقو هيڅ

حجت او دليل پاتې نشي۔

د رسول الله ﷺ ټول دعوت ايمان طرفته وو، بلکه د هغوئ معجزات او احاديث او حکمونه ټول ايمان طرفته رهنمائي کوي خو چه څوك په کښې سوچ اوکړي۔ رسول الله ﷺ فرمائي : (ماته جامع کلمات راکړې شوي دي او زما دپاره اوږدې خبرې په لنډو ټکو کښې راګير شوي دي)۔

او د قرآن کريم د نزول او د احاديثو نه پس د هيچا دپاره په کفر کولو کښې عذر نۀ دې پاتې شوې۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَأَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ﴾ [ال عمران: ۱۰۱] (او څنګه به تاسو کفر اوکړئ حال دا چه په تاسو باندې د الله آيتونه لوستلې شي او پتاسو کښې د هغۀ رسول (هم) موجود دې)۔

يعني قرآن او رسول دواړه موجود دي نو دا خبره ستاسو د شان نه لرې ده چه تاسو ددې نه پس کفر اختيار کړئ، ولې چه قرآن کريم د الله تعالىٰ د واضحو دلائلو نه دې او رسول هم د الله تعالىٰ د ښکاره علاماتو نه دې۔

نو څوك چه د رسول الله ﷺ په معجزاتو کښې تدبر اوکړي، نو علمِ يقيني به ئې پيدا شي چه الله عز وجل ښکاره حق دې، الله هغه راليږلې او د هغۀ تائيد، نصرت او اعانت ئې کړې دې۔

نو د رسول الله ﷺ هغه معجزات چه تواتر ته رسيدلي دي، هغې نه بعضې دادي :

- خوراك ډيريدل۔
- د راتلونکو زمانو د غيبو خبرونو خبر ورکول چه داسې به کيږي، نو هغه همدغسې واقع شول څنګه ئې چه خبر ورکړې وو۔ دغه شان د مخکنو انبياء کرامو او د هغوئ د امتونو نه خبر ورکول۔
- سپوږمئ څودل ۔
- د کمزورئ او ضعف باوجود په دشمنانو باندې غالب کيدل۔
- د ګوتو مبارکو د مينځ نه ئې اوبۀ بهيدل۔
- د ونو سجده کول۔
- هغۀ سره د کاڼرو خبرې کول۔
- د څناورو سجده کول۔
- هغۀ طرفته د ونو راتلل۔

○ د خپل امت د مملکت نه خبر ورکول او دا چه دوئ تول په تهوله ځوك نشي ختمولے.
○ او دا چه روم اوفارس به ختم شي.
○ دارنګه د قيامت د علاماتو نه ئے خبر ورکړے او هغه د خبر مطابق واقع شول.
دارنګه نور معجزات شول چه هغه په احاديثو کښے ذکر شوی دی.
او الله تعالیٰ په نبی کريم ﷺ سره د بيماريانو علاج کړے دے او مات اندامونه ئے په هغوئ سره رَغـلوی، کـورونـه ئے په هغوئ سره جوړ کړی او په زړونو کښے چه څه دی - په وحی سره - د هـغے خبر ئے ورکړے. د کهجورے يوے تنے د ماشوم د ژړا پشان اوژړل تردے چه د هغے ژړا صحابـه کرامو - رضی الله عنهم - هم واوريدهٔ. او صحابوؓ به د خوراك تسبيح آوريدله په داسے حال چه هغه به خوړل کيدهٔ. دارنګه فورا د نبی کريم ﷺ دعاء قبليدل.
د نبی کريم ﷺ مـعـجزات ډير زيات دی. که څوك دا کتل غواړی نو دَ عبد العزيز محمد سلمان کتاب (معجزات النبی ﷺ) دے اوګوری.
مـعـجزاتو کتلو سره په الله او د هغهٔ رسول ﷺ باندے ايمان پيدا کيږی او وخت په وخت زياتيږی. دا وجـه ده د عـلـماؤ تـفصيلی ايمان د هغه عوامو د ايمان نه زيات قوی دے چه هـغـوئ پـه دے خبرو نهٔ پو هيږی او يا ددے اهتمام نهٔ کوی ! سوچ اوکړه څکه دا ډيره مهمه خبره ده که ددے قدر تهٔ پيژنے !

۱۰ - لسم دليل : عقلی او کَونی دلائل :

ددے د افـرادو او انـواعـو تـعـداد هـم زيات او فـائـده ئے ډيره ده، او دا د شمار نه بهر دی، خو روسته مونږ ددے نه څه برخه ذکر کوو :

۱۱ - يولسم دليل : دعاګانے قبليدل :

او دا دليـل صـرف مـنيبين خلق پيژنی او ددے مرتبه صرف خشوع والا زړونه معلوموی، او هـغـه دا چـه انسـان فـکر اوکړی چه آيا دهٔ د الله نه دعاء غوښتلے ده د يو مصيبت په وخت چـه دهٔ ته رسيدلے دے يا دَ نفع حاصلولو په وخت چه دهٔ ته حاصله نه وی او بيا ورته حاصله شی ؟ ---- نو که دا ورته حاصل شوے وی - او د اخو هر هغه چاته حاصل شوے دے چه په هغهٔ کښے ادنیٰ شعور هم وی - نو دهٔ له پيژندل پکار دی چه کوم ذات چه دهٔ له دعاء قبوله کړه او مـصـيبت ئے تـرے لـرے کړو يا ئے ورته فائده اورسوله، دا عزيز او حکيم ذات دے چه دعـاګـانے قبـلـوی او مـصـيبتـونـه لرے کوی. که چرے الله د خپلو تهولو بندګانو دعاګانے نهٔ قبلولے نو دوئ به خامخا په تباهئ کښے پراته وے او ليوانو به خوړلی وے.

دیے خبرے تہ قرآن کریم په ګنړو ځایونو کښے اشاره فرمائیلے ده : ﴿ اَمَّنۡ یُّجِیۡبُ الۡمُضۡطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَیَکۡشِفُ السُّوۡٓءَ وَیَجۡعَلُکُمۡ خُلَفَآءَ الۡاَرۡضِ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ قَلِیۡلًا مَّاتَذَکَّرُوۡنَ ﴾ [النمل: ٦٢] (اوکه نه هغه ذات چه هغه د پریشان حالی دعاء قبلوی کله ئے چه را اوبلی او تکلیف لرے کوی او تاسو د زمکے جانشین جوړوی، آیا د الله سره بل معبود شته، خو ډیر کم نصیحت اخلئ)۔

اے مؤمنه ! دا دلیل رایاد کړه ! ته به ددے لاندے شفاء او دوائی بیامومے۔

نو چه د الله رحمت نه وی نو د پریشان حالی سړی دعاء څوك قبلوی ؟ او د هغهٔ تکلیف څوك لرے کوی، هر کله چه هغهٔ ته د الله نعمت اونه رسیږی ؟ آیا دا ګنیے بے وفائی نه ده چه هغهٔ ستا دعاګانے قبلوی او تانه مصیبتونه لرے کوی او تهٔ په عام اوقاتو کښے د هغهٔ نه غافل ئے، دا دومره دلیلونه تاته څه فائده نهٔ رسوی ؟

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَآتَاکُمۡ مِّنۡ کُلِّ مَا سَاَلۡتُمُوۡهُ وَاِنۡ تَعُدُّوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ لَا تُحۡصُوۡهَا اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَظَلُوۡمٌ کَفَّارٌ ﴾ [ابراهیم: ٣٤] (او تاسو چه څه سوال کړے هغه ئے درله درکړے دے او که تاسو د الله نعمت شمارئ نو په خپله شماره کښے به ئے راګیر نهٔ کړئ، واقعی چه انسان ډیر زیات ظلم کونکے او ډیر زیات ناشکره دے)۔

الله خو تاله هر هغه شے درکړے چه هغے ته تهٔ محتاج ئے، چه ددے نه پس صرف اقرار او شکر پاتے دے او یا ظلم او ناشکری۔

اے الله ! زهٔ ستا د ټولو نعمتونو اقرار کوم، وارهٔ وی که غټ، او ستا په نعمتونو ستا شکر کوم او ستا په احساناتو ستا ثناء وایم۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ یَسۡئَلُهٗ مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ کُلَّ یَوۡمٍ هُوَ فِیۡ شَاۡنٍ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ﴾ [الرحمٰن: ٢٩، ٣٠] (سوال کوی د هغهٔ نه هغه څوك چه په آسمانونو کښے دی او هغه څوك چه په زمکه دی، هره ورځ هغه په یو کار کښے وی، نو کوم یو د نعمتونو د خپل تاسو دروغژن کوئ) --- نو الله سبحانه وتعالیٰ هره ورځ د خپلو بندګانو په کارونو کښے وی او د هغوئ د حاجتونو په پوره کولو کښے وی، حال دا چه هغوئ په خپلو غفلتونو او لوبو کښے ناخبره پراتهٔ وی۔

سوچ اوکړه ! تا د الله نه څومره دعاګانے غوښتلی دی چه هغهٔ درله قبولے کړی دی ؟

اے مؤمنه ! آیا تاسره مناسب نهٔ دی چه په دے جلیل القدر عظیم الشان ذات باندے ایمان راوړے ؟ چه هغه حنان او منان، دعاګانے قبلونکے او معجزات اودرونکے ذات دے ؟ ولے نهٔ ! قسم په الله چه په مونږ باندے دا واجب دی او مونږ سره مناسب دی چه مونږ په هغهٔ ایمان

اولرو، د هغهٔ عبادت اوکړو، د هغهٔ شکر اوکړو، هغه ته تضرع او عاجزی اوکړو، هغه سره محبت اولرلو او د هغهٔ اطاعت اوکړو. ډیر کرته ما د الله عز وجل نه دعاء غوښتلے ده نو ماچه څنګه غوښتل هغه شان ئے راله قبوله کړے ده. والحمد لله!

۱۲ - دولسم دلیل : الله تعالیٰ په خپله زمکه باندے خپل معزز کور کعبه شریفه جوړه کړے ده.

دا **بیت الله شریف** د الله عز وجل په وجود باندے د ګنړو وجهو نه دلالت کوی.

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَّهُدًى لِّلْعَالَمِيْنَ فِيْهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ اِبْرَاهِيْمَ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ﴾ [ال عمران: ۹۶،۹۷]

(بیشکه اولنے کور چه د خلقو دپاره مقرر شوے دے هغه مبارك کور دے چه هغه په مکه کښے دے او د خلقو د هدایت دپاره دے، په دے کښے ډیرے واضحه نښے دی، د ابراهیم - علیه السلام - ځائے دے او څوك چه دیته داخل شو هغه په امن شو).

۱ - الله تعالیٰ د خلقو په زړونو کښے هغے ته شوق اچولے دے، سره ددے چه په دے کښے مشقت زیات دے، مال په کښے ډیر خرچ کیږی. که چرے یو بل کور د سرو او سپینو زرو نه جوړ شی نو دَ بندګانو په زړونو کښے بهٔ هغے طرفته شوق نهٔ وی څنګه چه دے کور ته د خلقو شوق او رغبت وی. حال دا چه دا کور د کاڼړو او ختے نه جوړ دے. ﴿ فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِىْ اِلَيْهِمْ ﴾ [ابراهيم: ۳۷] (نو تهٔ د خلقو زړونه داسے جوړ کړه چه دوئ ته شوق لری).

۲ - بله دا چه هلته هر قِسم میوے او رنګا رنګ نعمتونه ملاویږی. ځکه د ابراهیم علیه السلام دعاء ده : ﴿ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرَاتِ ﴾ [ابراهيم: ۳۷] (او دوئ ته د میوو نه ورکړه).

۳ - د مقامِ ابراهیم موجود والے چه په دے کښے د ابراهیم علیه السلام د قدمونو نشانات دی، سره ددے چه د خپے اثر په کاڼړی باندے نه کیږی او د ابراهیم علیه السلام د خپو نښے په کاڼړی کښے شوی دی او دَ ډیرے زمانے راسے را روانے دی او دا به تر قیامته پورے پاتے وی.

٤ - د زمزم کوهے موجودیدل. که چرے ددے نه ټول عالم هم اوبه اوڅکی نو اوچ به نشی. دے نه د خوراك كار هم اخستے شی او د څکاك هم او د بیمارئ شِفاء هم ده په کښے. او په پیړو پیړو باندے په دے کښے هیڅ تغیر او بدلون رانغے، اوکه په لوښی کښے اوساتلے شی نو هم بالکل نهٔ خرابیږی لکه په دے باندے مونږ خپله تجربه کړے ده.

۵ - بله دا چه بیتُ الله شریف د خلقو دَ دینی او معاشی ګذران ذریعه ده. څو مره ډیرے دنیوی فائدے دی چه په دے باندے حاصلیږی چه دا معلومے دی. او په دے سره د دین

معامله برقراره پاتے ده۔ عطاءؒ فرمائی : که خلق دا یو کال دپاره پریدی نو دویٔ ته به انتظار اونـه کړے شی۔ او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ جَعَلَ اللهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْا أَنَّ اللهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴾ [المائدة: ٩٧] (الله کعبے لره عزت مند کور جوړ کړے دے چه د خلقو دپاره د ژوندون سبب دے او میاشت عزتمنه او د قربانیٔ څناور او امیلونه، دے دپاره چه تاسو ته پته اولګی چه الله عالم دے په هغه څه چه په آسمانونو کښے دی او هغه څه چه په زمکه کښے دی او الله په هر شیٔ خبردار دے)۔

نو ځوك چه په دے څیزونو کښے سوچ اوکړی نو هغه به اوپیژنی چه دهٔ دپاره یو داسے رب شته چه په ټولو کائناتو باندے عالم دے، او د هغهٔ په هر شیٔ کښے حکمت دے۔

٦ – بله دا چه : مارغان په کعبه شریفه باندے استشفاء کوی۔ لکه علامه آلوسی په تفسیر روح المعانی (٤ جلد) کښے بلا سنده ذکر کړی دی۔ نو که چرے دا صحیح وی نو په دے باندے قائل شه او که نهٔ وی نو بیا ئے پریده۔

٧ – بله دا چه : بارانونه په هغه طرف د کعبے باندے نازلیږی، کوم طرف نه چه وریځه را پیدا شی، مثلاً کله چه وریځ د حجرِ اسود له طرفه را پورته شی نو بارانونه او تازګی په یمن باندے وی، او کله چه دَ رکنِ عراقی له طرفه راشی نو باران او تازګی په عراق باندے وی او دغسے په رکن شامی کښے هم ده۔

٨ – بله دا چه جامے او بدنونه نهٔ خیرنیږی، سره ددے چه خلق په ځپلو سره مسجد حرام کښے ګرځی، او نهٔ د چا جامه دوړه نیسی۔ که داسے قِسم مزل په نورو منطقو کښے اوشی نو خامخا به تهٔ دومره دوړه او خیرے اووینے چه تعجب به اوکړے۔

٩ – دارنګه مسجد حرام لره الله تعالیٰ د خپل کور حاجیانو دپاره فراخوی اګرکه په ملیونو هم وی۔ اوکله چه ددے نه اوځی نو بیا په ښارو صحراګانو او غرونو کښے هم نهٔ راځی۔

١٠ – دارنګه د آسمان نه په کعبه باندے نور نازلیږی چه بعضے خلق دا پیژنی۔

١١ – کعبه باندے زلزله نهٔ راځی، سره ددے چه په باقی ښهرونو باندے راځی۔

١٢ – کعبه د خلقو د هدایت دپاره وضع شوے ده، ډیرو ګمراهو خلقو ته په دے سره هدایت شوے او ډیر مفسدان په دے سره سَم شوی دی او دَ الله نه ډیرو تښتیدونکو په دے سره الله ته رجوع کړے ده۔---- نو دا واضح او ښکاره دلیلونه دی چه د الله عز وجل په

قدرت او حکمت باندے دلالت کوی۔ په کعبه کښے د څلویښتو نه زیاتے نورے علامے هم شته، کیدے شی چه مونږه ئے په بل یو ځائے کښے راجمع کړو۔ ان شاء الله۔
۱۳ – دیارلسم دلیل د الله تعالیٰ په وجود باندے :

دَ اسلامی دین خوبیانے

الله تعالیٰ دے دا په مونږ باندے را اووروی۔
کله چه تهٔ د اسلامی دین خوبیانے، کمال او جمال او هر امر او حکم په خپل ځائے کیخودلو باندے سوچ اوکړے، نو تاته به پته اولگی چه دا دین د یو عظیم حکیم او علیم ذات د طرفنه راغلے دے۔ ځکه هغه همیشه دپاره د ښائسته اخلاقو حکم کوی او د بدو اخلاقو نه منع کوی، فسادونه ختموی او کموی ئے او مصلحتونه پیدا کوی او زیاتوی ئے۔ په دے کښے د الله تعالیٰ او د هغهٔ د بندګانو ټولو حقوق شته دے۔ په دے کښے انسان څه چه په حیوان باندے هم د احسان کولو حکم دے او په هر آن کښے داسے حکم شته دے چه هغه د حکیم او علیم ذات سره لائق دے۔
خو په دے دلیل باندے صرف هغه څوك پو هیږی چه الله ورته په خپل دین کښے فهم ورکړے وی او په خپل کتاب او سنت کښے ئے ورته پوهه ورکړے وی او خپلو احکامو کښے ئے ورته د اسرارو علم ورکړے وی او په مسائلو شرعیه ؤ کښے ئے ورته سوچ او اتقان ورکړے وی۔
٥ که تهٔ اسلامی عقائدو باندے سوچ اوکړے نو دا به انتهائی صفا او د افراط تفریط نه پاکے بیامومے، چه نهٔ په کښے غلو شته او نهٔ نقصان، بلکه دا زړونو لره آرام ورکونکی دی۔
اوکه د اسلام اعمالو ته اوګورے نو هغه به ډیر درمیانه، ښائسته او عقلونو او فطرتونو ته نزدے بیامومے۔ اوکه تهٔ د اسلام په اخلاقو او آدابو کښے سوچ اوکړے نو هغه به ډیر ښائسته او پوره بیامومے چه دیته موافق او مخالف دواړو رانزدے کیږی۔
اوکه تهٔ ایمان، عمل صالح او ټولو ښائسته اخلاقو ته اوګورے نو داسے وُنه به ئے بیامومے چه مزیداره او میوه داره ده، غټه جرړه لری او اوږدے څانګے او ګڼړے ګورے میوے او مزیداره خوشبوئے لری۔
نو دا کوم ذات دے چه داسے ئے اوکړل؟ ﴿ صِبْغَةَ اللّٰهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً وَّنَحْنُ لَهٗ عَابِدُوْنَ ﴾

[البقرة: ۱۳۸] (د الله رنگ - اختیار کړئ - اوخوك دے چه د الله نه په رنگ کښے ښائسته وی، او خاص مونږ هغهٔ له عبادت کونکی یو).

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً ﴾ [ابراهیم: ۲٤] (آیا تهٔ نه گورے چه څنگه الله یو مثال بیان کړے دے، یعنی پاکیزه کلمه چه د مزیدارے وُنے پشان ده).

٥ دارنگه دِ اسلام په معاشرتی نظام او د عدل او انصاف نه ډك معاملات او بدئ منع کونکی حدود، مضبوط نظام او عظیم خلافت کښے سوچ اوکړه، په دے ټولو کښے دومره **اسرار** او حکمتونه دی چه قلم ئے نشی راگیرولے اونهٔ په یو کتاب کښے راجمع کیدے شی. په دے باب کښے څه کتابونه تصنیف شوی دی چه په هغے کښے د شریعت أسرار او رازونه بیان شوی دی، لکه (د حدیثونو شرحے، حجة الله البالغة، مفتاح دار السعادة، احکام الاسلام فی نظر العقل) وغیره شو --- نو څوك چه په اسلامی احکامو کښے سوچ اوکړی نو یقین به ئے راشی چه دا دین انسانانو نهٔ دے جوړ کړے اونهٔ بل کوم مخلوق دا جوړولے شی. دا خو یوائے هغه الله رالیږلے چهٔ هغهٔ دپاره حکمتِ بالغه، علمِ محیط، رحمتِ کامله او شفقتِ شامله دے.

د مثال په طور: په **نکاح** کښے سوچ اوکړه چه الله رب العزت دا د گڼرو فوائدو دپاره مشروع کړے ده. مثلاً:

۱ - د جائز خوند او مزے حاصلول.

۲ - د الله رحمت په خپلو بندگانو، ځکه الله کولے شو چه انسان بغیر د نکاح نه پیدا کړی. ۳ - په دے سره د جنت رایادول.

٤ - ښائسته معاشرت او سلوك.

٥ - حقوقِ زوجیت اداء کول.

٦ - د زنا او فحش کارئ نه ځان ساتل. کهٔ چرے دا نهٔ وے نو زنا به ډیره زیاته وے او نارینه او زنانه او ماشومان به ضائع شوی وے.

۷ - سخرگنئ حاصلیدل.

۸ - نسب پیژندل، او دواړه عظیم نعمتونه دی. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ﴾ [فرقان: ٥٤] (خاص الله هغه ذات دے چه د اوبو نه ئے انسان پیدا کړو او هغه ئے نسب او سخرگنئ والا جوړ کړو).

۹ - د نفس اطمینان او خاطر جَمعی، ولے چه سکون نهٔ حاصلیږی مگر په درے څیزونو

سره: (۱) کور: ﴿ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا ﴾[النحل: ۸۰] (الله ستاسو دپاره ستاسو د کورونو نه آرام پیدا کړے دے)۔(۲) شپه۔ ﴿ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا ﴾ [الانعام: ۹۶] (او شپه ئے آرام والا جوړه کړے ده۔ (۳) ښځه۔ ﴿ لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ﴾ [الاعراف: ۱۸۹] (دے دپاره چه هغے ته سکون حاصل کړی)۔

۱۰ – نکاح د خوشحالئ وغیره حکمتونو سبب دے۔

بیا دے تـه اوگوره چه الله عز وجل د نارینه دپاره د یوے نه زیات تر څلور ښځو پورے نکاح جائز کړے ده، او دا ئے د ښځے دپاره نهٔ ده جائز کړے۔ په دے کښے هم ډیر حکمتونه دی:

۱ – سړے مضبوط دے او ډیرو ښځو ته حاجت لری، په خلاف د ښځے نه، ولے چه دا کمزورے ده چه، یو سړے هم نشی برداشت کولے مگر په تکلف سره، لکه دا معلومه خبره ده۔ ۲ – دے سره نسبونه خرابیږی۔

۳ – دا د انسانی غیرت خلاف خبره ده۔

٤ – دا دَ خاوندانو ترمینځه د قتل او قتال سبب دے۔

۵ – دَ ښځے خِلقت او شهوت کمزورے دے، او سړے مضبوط او ډیر شهوت والا دے، نو که په دے باندے په یوه شپه کښے څلور خاوندان – چه ځوانان هم وی – راجمع شی، نو کیدے شی چه مړه شی۔ او شاید چه عاقل سړے ددے تصور هم اونه کړی۔

بیا دے تـه اوگوره چه الله تعالیٰ دَ طلاقو واك سړی له ورکړے دے نهٔ ښځے له، ځکه د هغے زړهٔ کمزورے دے او هغـه چه غصه شی نو په زړهٔ کښے ئے هیڅ رضا نهٔ پاتے کیږی، نو که طلاق ددے په لاس کښے وے نو ممکنه وه چه دے خپل خاوند د ورځے لس کرته طلاقولے۔ په خلاف د سړی نـه چه د هغه زړهٔ زُور دے ښځے له طلاق نهٔ ورکوی مگر کله چه سخت ضرورت شی---- بیا دے ته اوگوره چه الله تعالیٰ ښځے له خلع مشروع کړے ده کله چه دے ته د خپل خاوند نه د جدا کیدو حاجت پیدا شی، او دے له طلاق نهٔ ورکوی نو ددے دپاره ئے هم د وتو لاره مقرر کړے ده---- بیا دے تـه سوچ اوکړه چه الله تعالیٰ مهر او نفقه په خاوند باندے ایخی دی نـهٔ په ښځه، سره ددے چه په نکاح کښے دا هم خوند اخلی۔ دا ځکه چه ښځه د خپل مور پلار او رشته دارانو نه جدا کیږی نو په وحشت کښے واقع شی، دے وجے نه شارع مهر او نفقه ددے د هغه وحشت او خفگان ختمولو دپاره مقرر کړی دی کوم چه په فِراق سره راغلے دے۔ بله دا چه ښځه د کور خدمت کوی نو په دے باندے نفقه نشته، ددے برداشت به خاوند کوی، ځکه هغه بهر گرځی۔ --- دغه شان نور محاسن اوخوبیانے شوے

دَ اسلامي دين۔ چه په دے باندے غټ غټ جلدونه ليکلے کيږي۔

۱٤ - څوارلسم عجيب دليل :

او هغه دا چه زمکه دَ انبياء کرامو - عليهم السلام - او د نيکانو او شهيدانو جسمونه نهٔ خوري۔ او د عامو خلقو بدنونه خوري، حال دا چه زمکه يوه ده، طبيعت يو دے، غوښه، هډوکے او بدن يو دے، ټول د آدم عليه السلام اولاد دے۔ نو دا دَ الله تعالیٰ په عظيم قدرت باندے دلالت کوی چه هغهٔ زمکے ته حکم کړے چه د دوئ جسدونه اونهٔ خورے، او هغے ته ئے حکم کړے چه د عامو خلقو بدنونه خوره۔

دارنګه دے نه معلوميږي چه الله تعالیٰ په خپلو محبوبانو باندے غيرت کونکے دے، او هغه نيك عمله شخص له د هغهٔ د نيك عمل نه هم زياته ښائسته بدله ورکوی، او دا چه د نيکيو دپاره عظيم تاثير شته دے، او دا چه ټول اشياء د الله په حکم او امر سره تاثير کوی، که چرے هغه نهٔ وے نو د هيڅ يو شئ دپاره به تاثير نهٔ وے۔ والله الموفق۔

خلقو ډير مړی ليدلی دی چه د هغوئ بدنونه روغ رمټ پراته وی، غوښے ئے پوره وی، ويښتان ئے سالم وی، حال دا چه په هغوئ باندے بے شماره کلونه تير شوی وی۔ او دا په ډيرو حديثونو او آثارو کښے هم راغلی دی۔

۱۵ - پنځلسم ناشنا دليل : د انسان او حيوان په بدن کښے د روح موجود والے :

او عقلاؤ په دے اتفاق کړے چه دا موجود دے او دا په بدن کښے تدبير کونکے دے، سره ددے چه دا په نظر نهٔ راځی اونهٔ بوئے کيږی او نهٔ ددے حِس او کشارے آوريدے کيږی، او دا پته هم نهٔ لګی چه آيا دا ولاړ دے که ناست دے اوکه ملاست ؟ سره ددے چه دا د انسان او حيوان په بدن کښے موجود دے۔ او الله عز وجل خو ډير قدر والا ذات دے او ډير لوئے دے۔ هيڅ مثل او شبيه نهٔ لري، د الله تعالیٰ تعطيل جائز نهٔ دے اونه د هغهٔ صفات نفی کول او يا خلقو سره د هغے تشبيه ورکول جائز دی۔ نو روح موجوديدل عجيب مثال او ناشنا دليل دے د الله عز وجل په وجود او د هغهٔ په قدرت او حکمت باندے۔ الله حکيم او لطيف دے، او هغه نور دے او هغه سميع او بصير دے۔

۱٦ - شپاړسم دليل : د ټولو کائناتو وجود :

دَ عرش نه واخله تر تحت الثرىٰ پورے، او په دے کښے قِسما قِسم حکمتونه او عجيب ...ی د الله تعالیٰ۔ قرآن او سنت ددے مشهور او محکم افراد ذکر کړی دی۔ او علماؤ ...اره کښے تاليفات کړی دی۔ دے باره کښے زما په خيال بهترين کتاب (مفتاح دار

السعادة) د امام ابن قیم رحمه الله دے، دارنګه ددهٔ کتاب دے التبیان۔ او نور کتابونه هم شته په اردو وغیره ژبو کښے۔ دهغے مطالعه اوکړه، ولے چه په هغے کښے نظر کول د بنده ایمان قوی او روښانه کوی، لکه د ابن قیم رحمه الله کتاب البیان کتلو سره دا کیږی۔

نو دا د دلائلو جنسونه وو، او ددے لاندے نور دلائل پراتهٔ دی، او څه چه مونږ پریخودل هغه د مذکوره ؤ نه زیات دی۔ په دغه دلائلو کښے سوچ اوکړه کیدے شی چه تهٔ په دے باندے فائده حاصله کړے، ان شاء الله تعالی۔



٤٦ - فائده

چه مخکنۍ فائده واضحه کوي

کله چه ما دغه مخکنې بحث د خپل دماغو نه اوليکلو والحمد لله، نو ما اوليدلو چه عبد الرحمن بن ناصر السعدیؒ په دے مسئله باندے څه بحث کړے دے، نو زۀ غواړم چه هغه د فائدے د پوره والي دپاره نقل کړم. هغه فرمائي:

د الله په ربوبيت او الوهيت باندے عقلي او فطري دلائل:

○ پوهه شه! چه دا مسئله د ټولو مسائلو نه لويه، افضله او په ټولو کښے ډيره زياته ضروري، نفع منه او واضحه ده. په دے باندے ټول منزل کتابونه او رسولان متفق دي، او دا دَ پيغمبرانو – عليهم السلام – په دعوت کښے د ټولو نه سرِ فهرست وه، ځکه پيغمبرانو چه د ټولو نه وړاندے خپل خپل قومونو ته د کومے خبرے دعوت ورکړے وو، هغه دا وو چه: ﴿ اُعْبُدُوا اللهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ﴾ [هود: ٥٠]

(د الله بندګي اوکړئ نشته تاسو له هيڅ يو معبود سيوا د هغۀ نه).

او هغوئ ته به ئے د الله هغه نومونه، صفتونه او نعمتونه او رحمتونه ذکر کول چه په هغے سره به هغوئ خپل رب اوپيژني او هغه ته خضوع اوکړي او د هغۀ عبادت اوکړي. او قرآن کريم د اول نه آخره پورے دا مسئله بيان کړے، ددے دپاره ئے قِسما قِسم براهين پيش کړي او ددے دپاره ئے ګڼړ دليلونه بيان کړي، دغه شان سنت هم واخله.

○ په دے فصل کښے نقلي دلائل ذکر کول مقصد نۀ دے، ولے چه هغه خو ډير زيات واضح او ښکاره دي، علماؤ او خواصو ټولو ته معلوم دي. او يوائے هغه هم د الله په اجمالي او تفصيلي معرفت باندے پوره او کافي دي. ليکن مونږ غواړو چه ددے عقلي دليلونو او براهينو ته اشاره قدرے اوکړو، چه ديته هر انصاف دار عاقل غاړه کيخودونکے دے، او هر متکبره ضدي او دروغژن شخص ترے انکار کوي.

دا مسئله دَ دليلونو ذکر کولو محتاج نۀ ده ولے چه دا ډيره زياته واضحه او څرګنده ده، ليکن کله چه مؤمن سړے ددے دلائل پيژني نو ددۀ په زړۀ کښے ايمان قوي کيږي او زياتيږي او يقين ئے ډيريږي او د الله تعالیٰ حمد او ثناء وائي په دے نعمت باندے، چه دا په

تولو نعمتونو کښې لوئې او جليل القدر نعمت دے۔ دا وجه ده چه رسولانو – عليهم السلام – خپلو امتونو ته فرمائيلي وو: ﴿ أَفِي اللهِ شَكٌّ ﴾ [ابراهيم: ١٠]
(آيا په الله کښې ګنې هم شك کيدے شي ؟)۔

نو دوئ د هغوئ نه استفهام تقريري په طور تپوس اوکړو، ولے چه دا د ټولو عقلاؤ په زړونو کښې ثابته خبره ده چه په الله او د هغهٔ ربوبيت او توحيد باندے اقرار کوي۔

○ پوهه شه – الله دے درباندے رحم اوکړي – چه کله تهٔ دے لاندے باندے عالم ته اوګورے او هغه قِسما قِسم مخلوقاتو ته نظر اوکړے چه په دے کښې کيښودل شوي دي، دارنګه نوو نوو پيدا کيدونکو څيزونو ته اوګورے، نو تهٔ به دے صحيح سوچ او فکر ته اورسے چه هغه امور چه په عقل کښې د هغې تقسيم ممکن دے هغه درے دي۔

۱ – يا خو به دا مخلوقات خپله پيدا شوي وي په غير د پيدا کونکي او خالق نه، نو دا خو محال او ممتنع ده چه عقل ددے په بطلان باندے خامخا يقين کوي، او دا يقينا پيژني چه څوك ددے ګمان اوکړي نو دا د عقل نه ليونتوب طرفته زيات نزدے دے، ځکه چاله چه الله عقل ورکړے وي هغه پيژني چه دا ممکنه نه ده چه يو شے دے د پيدا کونکي او خالق نه بغير پيدا شي۔

۲ – او ياخو به دے مخلوقاتو خپل ځان په خپله پيدا کړے وي، نو دا هم د عقل په تقاضا سره خامخا محال او ممتنع ده، هر عاقل يقين لري چه يو شے خپل ځان نشي پيدا کولے۔
او کله چه دا دواړه قِسمونه په عقل او فطرت کښې باطل شو، نو دريم قِسم متعين شو او:

۳ – هغه دا چه ددے ټولو مخلوقاتو او حوادثو دپاره يو خالق او پيدا کونکے شته چه دائے پيدا کړي او هغه الله رب العزت دے چه د هر شئ خالق او په هر شئ کښې تصرف کونکے، او د ټولو کارونو تدبير کونکے دے۔ دا وجه ده چه الله تعالىٰ په دے واضح عقلي تقسيم باندے هر عاقل ته خبردارے ورکړے لکه فرمائي: ﴿ اَمۡ خُلِقُوۡا مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ اَمۡ هُمُ الۡخٰلِقُوۡنَ ﴿٣٥﴾ اَمۡ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ بَلۡ لَّا يُوۡقِنُوۡنَ ﴾ [الطور: ٣٦] نو مخلوق دپاره يو خالق ضروري دے، او د اثر دپاره يو مؤثر او د مُحدَث (پيدا شوي) دپاره يو مُحدِث (پيدا کونکے) او د مُوجَد دپاره يو موجِد او د مصنوع دپاره صانع، او د مفعول دپاره فاعل ضروري دے۔

دا بديهي او ښکاره قضيے دي چه ددے په علم کښې ټول عقلاء شريك دي، او دا غتے عقلي قضيئے دي۔ نو څوك چه په دے کښې اضطراب کوي او يا ددے په دلالت کښې شك کوي نو هغهٔ دخپل عقل په خرابئ او ګمراهئ باندے دليل قائم کړو۔

○ تهٔ خپل ځان ته فکر اوکړه او د خپل پيدائش په مبدأ کښې سوچ اوکړه چه تهٔ د نطفې نه پيدا ئې، بيا دَ وينې ټوټې نه او بيا د غوښې ټوټې نه تردې چه تهٔ پوره ظاهري او باطني اندامونو والا انسان جوړ شوې۔

آيا دا نظر تا په قادر رب باندې اقرار کولو ته نهٔ مجبوره کوي چه هغه په هر څه قادر او داسې عليم دې چه هغهٔ په خپل علم کښې هر څه راګير کړي دي، څه چه پيدا کوي په هغې کښې د هغهٔ حکمتونه وي۔ که چرې ټول خلق راجمع شي او د نطفې نه انسان پيدا کول غواړي او دغه مذکوره پړاوونو نه ئې تيرول غواړي، په رحم کښې ددې حفاظت کول غواړي، او د هغې دپاره غوږونه، سترګې، عقل او ظاهري او باطني قوتونه ګرځول غواړي، او په دې عجيبې ترقئ کښې ئې مخکښې وړل غواړي، او دا منظم ترکيب ورکول غواړي، او اندامونو ته دا مضبوط ترتيب ورکول غواړي : نو آيا دوئ ددې طاقت لرلې شي ؟ آيا د دوئ علم ديته رسيدلې شي ؟ نو کله چه تهٔ په دې باندې سوچ او فکر اوکړې، تابه د الله په عظمت، قدرت باندې او هغهٔ ته په عاجزئ او د هغهٔ د کتابونو او رسولانو په تصديق باندې مجبوره کړي ---- دا يو عقلي او فطري دليل دې چه په دې سره فطرتونه د خپل رب معرفت او عبوديت ته مجبوره کيږي۔

○ دارنګه آسمانونو او زمکې او هغه عالمونه چه په دې کښې دي په هغې کښې سوچ اوکړه، دارنګه ددې په چلولو او دَ بقاء دپاره چه کومو اسبابو ته دوئ محتاج دي د هغې په ورکولو کښې سوچ اوکړه۔ آيا دا تاته د رب کمال او د هغهٔ د قيوميت او ربوبيت کمال نهٔ ښائي ؟ الله تعالىٰ په دې باندې داسې خبردارې ورکړې : ﴿ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ اَنۡ تَقُوۡمَ السَّمَآءُ وَالۡاَرۡضُ بِاَمۡرِهٖ ﴾ [الروم: ٢٥] ﴿ او بعضې د نښو – د قدرت – د الله نه داده چه زمکه او آسمان د الله په حکم سره ولاړ دي)۔ او فرمائي : ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُمۡسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ اَنۡ تَزُوۡلَا وَلَئِنۡ زَالَتَاۤ اِنۡ اَمۡسَكَهُمَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيۡمًا غَفُوۡرًا ﴾ [فاطر: ٤١] (بيشکه الله تعالىٰ زمکه او آسمانونه د زوال نه بچ کړي اوکه چرې دا دواړه لرې شي نو د الله نه سيوا ئې هيڅوك نشي راټينګولې، بيشکه هغه بخښونکې او صبر ناك دې)۔

اې وروره ! په دې ګردش کونکي فلك کښې، په شپه او ورځ دارنګه په بدليدو رابدليدو د وختونو، موسمونو او منافعو کښې سوچ اوکړه، دارنګه د مخلوق دپاره ددې په کمالِ انتظام کښې سوچ اوکړه چه په عقل کښې ددې راګيرول ممکن نهٔ وي، آيا دا د طبيعت تقاضا ده ؟ آيا دغسې اتفاقي طور سره اوشو ؟ اوکه نه هغه الله دا پيدا کړل او ددې مضبوط

تدبیرئے اوکړو، چه هغه هر یو شے ډیر په ښائسته انداز پیدا کړے۔

○ دارنګه دیته اوګوره چه هغهٔ هر یو شئ له د هغهٔ د انداز مطابق شکل او خِلقت ورکړو، بیائے هر مخلوق ته د هغهٔ د مصالحو، حوائجو او ضرورتونو رهنمائی اوکړه۔ تردے چه واړه او غټ بے ژبانه حیواناتو ته ئے الهام اوکړو او هر هغه شئ طرفته ئے د هغے رهنمائی اوکړه چه په هغے کښے د هغوئ نفع وی، هغے ته ئے د هغوئ رزقونه او قوتونه مُهیأ کړل۔ نو څوك چه د الله په دے عامه رهنمائی کښے فکر اوکړی، او د هر مخلوق ته په دے عجیب الهام کښے فکر اوکړی چه خپلو منافعو او ضرورتونو طرفته ئے د هغهٔ رهنمائی کړے، نو هغه به په دے سره د الله عظیم اهتمام اوپیژنی، او دابه اوپیژنی چه هغه د هر مربوب رب او د هر مخلوق خالق دے، هغه ذات چه په مخلوقاتو عالم دے او هغے ته ئے هغه ذهنونه ورکړی دی چه هغوئ سره مناسب وی او د هغے نه ضررونه دفع کوی۔ دا عظیم عقلی دلیل دے چه د الله تعالیٰ په وحدانیت او کمال باندے دلالت کوی۔

دا وجه ده کله چه فرعون د رب العالمین نه انکار اوکړو او، وے وئیل : ﴿ قَالَ فَمَنۡ رَّبُّكُمَا يٰمُوۡسٰى قَالَ رَبُّنَا الَّذِىۡۤ اَعۡطٰى كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴾ [طه: ۴۹، ۵۰] (نو اے موسیٰ ! ستاسو د دواړو رب څوك دے ؟ وئیلے : زمونږ رب هغه ذات دے چه هر یو شئ له ئے د هغهٔ پیدائش ورکړے او بیائے ورته رهنمائی کړے)۔

نو موسیٰ علیه السلام هغهٔ ته دا دلیل پیش کړو، کوم چه هر یو کس ته ښکاری۔

نو آیا د ټولو حیواناتو په طبیعت کښے خپلو بے شماره مصالحو طرفته رهنمائی ده دارنګه په خپلو بچو باندے شفقت او نګرانی ده تردے چه دوئ په خپلو خپو اودریږی ؟ اوکه نه دا رحم او شفقت د الله تعالیٰ په عظمت او فراخه رحمت باندے دلیل دے کوم چه هر یو شئ ته فراخه دے ؟

○ بیا د الله هغه فراخه رحمت ته اوګوره چه د عالم ټول اطراف ئے رالاندے کړی دی او په هر حال کښے هر مخلوق ته شامل دے۔ هغهٔ په خپل رحمت سره ټول مخلوقات موجود کړل، او په خپل رحمت سره ئے د هغے حفاظت او هر قِسم مدد اوکړو، په دوئ باندے ئے ظاهری او باطنی نعمتونه راتوئے کړل چه د هیڅ یو مخلوق په وسع کښے نشته چه ددے نه یوه ذره پیدا کړی، او دا نعمتونه په مخلوق باندے قِسما قِسم شوی، لکه د علم او د دین او ددنیا د کارونو تعلیم، عمومی طور سره د بدنونو د عافیت نعمت او خصوصی طور سره د هر یو اندام د عافیت نعمت، د رزقونو نعمت، د اولادو او اتباعو نعمت، د فصلونو او

میوو نعمت، د ګډو بزو قِسما قِسم سامانونو نعمت، د کورونو او بنګلو نعمت، د مزو او خوشحالو هغه نعمتونه چه په هغې کښې ټول منافع جمع شوې وی، او هغه نعمتونه چه په هغې کښې د ټولو ضررونو دفع وی۔ دا ټول ددې په انعام او احسان کونکی باندې ډیر لوئې دلالت کوی، اود هغه په شکر او هغهٔ ته په اخلاص کولو باندې دلالت کوی۔ آیا خالق او مخلوق دواړه سره خپلو کښې برابریدې شی ؟ آیا نعمتونه کونکې د فقیر او محتاج سره سمیدې شی ؟ بیا هغه پریشان حاله خلقو ته اوګوره چه هغوئ په تباهیو او خطرو کښې پراتهٔ او د خپل فقر یا سخت مرض په وجه بدحاله دی۔ خپل ضرورتونه او حاجتونه دوئ لره څنګه خپل رب او اله ته مجبوره کوی او د هغهٔ نه دعاء غوښتونکی او خپل فقر او احتیاج ښکاره کونکی وی، هغهٔ نه سوال کونکی دی نو هغه ورله دعاګانې قبلوی او مصیبتونه ئې لرې کوی او ضرورتونه ئې پوره کوی۔ آیا دا د الله په وحدانیت، فراخه علم، رحمتِ شامله، کامل شفقت او باریکې مهربانئ باندې دلالت نهٔ کوی ؟

﴿اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ﴾ [النمل: ٦٢] ﴿دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ اَنْجٰهُمْ اِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ [یونس: ٢٣]

(نوکله چه دوئ په کشتئ کښې سوارهٔ شی رابلی دوئ الله لره خالص کونکی وی هغهٔ دپاره بلنه، که چرې تا مونږ ته ددې نه نجات راکړو نو خامخا به مونږ د شکر ګذارو نه شو، خو کله چه ورته نجات ورکړی، ناګهانه دوئ په زمکه کښې فساد کول شروع کړی)۔

۵ چه دا قِسم بې شماره واقعات خلقو په خپلو سترګو لیدلی، او دا دوئ د الله تعالیٰ په وحدانیت باندې اقرار کولو ته مجبوره کړی۔ لکه د پریشانه خلقو حالت ته اوګوره چه کله پرې تکلیفونه سوارهٔ شی، د دوئ زړونه څنګه الله سره تعلق شروع کړی او ژبې ئې هغه ته په سوال کولو باندې زاری کوی، زړونه ئې د هغهٔ په عطیاتو باندې روښانه وی چه د سترګو درپ هومره هم د الله نه بنې او کس طرفته نه آوړی، ولې چه دوئ ته ښه معلومه ده چه مشکلات لرې کونکې او خیرونه ښیګړې ورکونکې الله دې، د هغهٔ نه د تیښتې ځائې صرف هغهٔ طرفته دې، او په ټولو کارونو کښې د خلقو اعتماد صرف په هغهٔ باندې دې۔ نو دا ټول کارونه په دې دلالت کوی چه ټول مخلوقات د خپل رب په وحدانیت باندې پیدا شوی دی۔ او په دې باندې چه هغه نفع او ضرر ورکونکې دې او د هغهٔ په لاس کښې د هر شئ خزانې دی۔ سیوا د هغه چانه چه د هغه فطرت په خرابو عقیدو او بدو ارادو باندې

فاسد شوي وي.

○ دارنګه د ټولو مخلوقاتو په هر څه کښې فقر ته اوګوره، په خلق او ایجاد کښې هغه ته محتاج، په بقاء، رزق او مدد کښې ورته محتاج، فائدو راخکلو او ضرر لرې کولو کښې ورته محتاج. د الله نه په لسان القال او لسان الحال دواړه سره سوال کونکي. ﴿ يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ [الرحمٰن: ۲۹] (زمکې او آسمان والا ټول د هغهٔ نه سوالونه کوي). نو هغه ورته د هغوئ غوښتلې څیزونه ورکوي، په هر کار کښې ورسره مدد کوي، که چرې دوئ رغبت کوي نو هم صرف هغهٔ ته، او که تکلیف ورته اورسي نو هم صرف هغه ته راګرځي. څومره تکلیفونه او مصیبتونه لرې کوي، څومره مات زړې ئې رغولي او حاجتونه ئې ورکړي، څومره پریشان حالو سره مدد کوي، څومره تباه کیدونکي ئې خلاص کړي دي ؟ نو د مخلوقاتو فقر په هر حالت کښې ښکاره دے، او د دوئ نه د الله بے پرواهي په ټولو کارونو کښې. دا هم صرف ضدي او منکرنهٔ مني.

○ د الله تعالیٰ د وحدانیت او ربوبیت د دلائلونه داهم ده چه هغه په ټولو اوقاتو کښې

دعاګانې قبلوي :

الله چه څه خلقو ته ورکوي او د نیك او بد، کافر او مسلمان کومے دعاګانې چه قبلوي د هغې شمیره څوك نشي کولے. ډیر مطالب حاصلیږي او هیڅ اسباب ورله نهٔ پیژني سیوا د دعاء او د الله په فضل او مهربانئ کښې د طمع نه او د هغهٔ د رحمت د امید نه. او دا ښکاره او محسوس دلیل دے، ددے نه صرف ضدي او عنادګر شخص انکار کوي. خلق د الله نه دیني مطلبونه غواړي، نو هغه ئې قبلوي، دنیوي غرضونه غواړي نو قبلوي ئې. ﴿فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوا۟﴾ [البقرة: ۲۰۰،۲۰۲] (نو بعضې د خلقو نه هغه څوك دي چه وائي : اے ربه زمونږ، راکړے مونږ ته په دنیا کښې. او نشته ده لره په آخرت کښې څه برخه، او بعضې خلق هغه دي چه وائي : اے ربه زمونږ، راکړے مونږ ته په دنیا کښې نیکي او په آخرت کښې ښه حالت او د عذاب د اوره مو اوساتے، دے خلقو دپاره به د دوئ د عملونو نه برخه وي).

○ د الله تعالیٰ په **وجود** او د هغهٔ په وحدانیت او ربوبیت باندے بل دلیل هغه ناشنا نښے، معجزات او قطعي براهین دي، چه هغه د هغهٔ د انبیاؤ په لاس باندے راښکاره کیږي :

چه په دے سره په دنیا کښې الله د دوئ عزت او نصرت کوي او د دوئ دپاره ښائسته

انجامونه مقرروي، دښمنان ورله رسوا کوي او قِسما قِسم عذابونه ورته ورکوي.

او دا دومره تواتر ته رسيدلي دي چه ددے پشان بل شے دومره تواتر ته نۀ دے رسيدلے، هر څوك دا پيژني. د انبياء کرامو - عليهم السلام - نښے، معجزے او کرامتونه پيړو او نسلونو نقل کړي دي چه د نمر او سپوږمۍ نه هم زيات لوئے دي. دا ټول د هغه ذات په وجود، د هغۀ په عظيمے بادشاهۍ، کمال قدرت، فراخه علم او حکمت باندے دلالت کوي، چا چه دا پيغمبران را ليږلي دي، ددے نه انکار صرف متکبر او زورور کولے شي.

٥ د الله د وحدانيت بل عظيم برهان اودليل هغه عظيم کتابونه او شريعتونه دي چه الله د مخلوق د دين او دنيا د سَمولو او روغولو دپاره راليږلي، خاصکر هغه قرآن چه الله په خاتم النبيين وامام الأنبياء محمد ﷺ باندے راليږلے دے، په دے کښے داسے نښے او براهين دي چه د هغے نه تعبير کونکي تعبير نشي کولے، نۀ صفت کونکي د هغے صفت کولے شي. د هغے نښے او آيات هر وخت قائم دي، هر قِسم خلقو ته تحدي او چيلنج ورکوي. خو خلق ددے پشان کتاب راوړلو نه عاجز شوي دي او عيب ئے ښکاره شوے دے. ﴿سَنُرِيهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ﴾ [حم سجده: ٥٣] (زر دے چه مونږ به دوئ ته خپلے نښے (د قدرت) په اطرافو او د دوئ په ځانونو کښے ور اوښايو تردے چه دوئ ته ښکاره شي چه دا حق دے). ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ﴾ [النحل: ٨٩] (او مونږ په تا باندے کتاب نازل کړے وضاحت کونکے د هر يو شئ دے او هدايت او رحمت او زيرے دے دپاره د مسلمانانو).

نو څوك چه هغه رښتينو خبرونو، د عدل او انصاف نه ډکو احکامو، مضبوطو شرائعو، عامے اصلاح، ديني او دنيوي منافعو راښکلو او ضررونو دفع کولو او عظيم خير ته اوګوري، په کوم باندے چه قرآن کريم مشتمل دے نو خامخا دا اقرار کوي چه دا کِتاب حکيم او حميد الله نازل کړے کتاب دے.

دغه شان څوك چه په خپل ټولو کارونو کښے هغه کامل شريعت، مضبوط دين او صراطِ مستقيم ته اوګوري، کوم چه رسول الله ﷺ راوړے، نو دا ټولے خبرے څه چه ددے نه به بعضے خبرے دے، دے اقرار ته مجبوره کړي چه الله واحد لا شريك دے، او کوم ذات چه دا مشروع کړي دي هغه په خپل شرع او دين کښے عظيم او حکيم دے لکه څنګه چه هغه په خپل خلق او تقدير کښے حکيم دے.

○ د الله تعالیٰ د وحدانیت بل دلیل دادے چه :

فطرتونه او عقلونه د خپل پیدا کونکی معرفت او د هغهٔ په وحدانیت باندے اعتراف کولو ته محتاج دی، ولے چه خلق په جلب المنفعه او دفع المضرت باندے پیدا شوی دی. دا هر عاقل ته معلومه ده چه خپل خالق او اله ته د نفسونو حاجت د ټولو حاجتونو نه زیات او ددے ضرورتونه د هر ضرورت نه زیات دی. دے پیژندلو ته محتاج دی چه هغه د دوئ یواځے خالق او یواځے مالك دے، یواځے ساتونکے او قِسما قِسم منافع ورکونکے دے. او دا د الله هغه فطرت دے په کوم باندے ئے چه خلق پیدا کړی دی او دا مضبوط دین دے. ددے فطرت نه صرف هغه څوك وتلے شی چه شیطانانو تختولی وی او فطرتونه ئے ورله اړولی وی او په فاسدو عقیدو، ګمراه کن خیالاتو، خبیثو رائے ګانو او غلطو نظریاتو باندے خراب کړی وی. که چرے دوئ د خپلو فطرتونو سره یواځے پریښودے شی نو د خپل رب نه علاوه بل چاته میلان نهٔ کوی او د منافعو په جلب کولو او د ضررونو په دفع کولو کښے صرف هغهٔ ته انابت کوی، دارنګه عبادت او انکسار کښے ورته انابت کوی.

رسول الله ﷺ فرمائی : (هر نو مولود بچے په فطرت (دینی استعداد) باندے پیدا کیږی نو (که مور پلار ئے یهودیان وی) هغوئ ئے یهودی کړی، او (که مور پلار ئے نصرانی وی نو) نصرانی ئے کړی، او (که مور پلار ئے مجوسیان وی نو) مجوسی ئے کړی، لکه څنګه چه څناور روغ څناور زیږوی آیا تاسو په هغے کښے کوم غوږ پریکړے وینئ تردے چه خپله تاسو د هغے غوږونه پریکړئ).

○ د الله تعالیٰ په **وحدانیت** باندے بل دلیل :

د الله هغه فضل او کرم دے چه په بے شماره واقعاتو کښے مشهور دے، لکه د صله رحمی پالونکی اکرام کول او په پریشانه خلقو باندے احسان کونکو او د هغهٔ دپاره په محتاجه خلقو باندے خرچ کونکو له په تادئ عوض ورکول، هغوئ له ددے احسان په وجه ښائسته ذرائع او اسباب پرانستل. ټولو خلقو ته معلومه ده چه ددے سبب هغه نیك اعمال دی کوم چه مخکښے لیږلے شوی دی، نو آیا دا هر څه په دے باندے دلالت نهٔ کوی چه ګنے الله د مخلوق د هر عمل نګرانی کوی، او دا چه دا په تادئ جزاء او حاضر ثواب دَ آخرت د ثواب یوه نمونه ده ؟ دارنګه ددے نور انواع او افراد چه د شمیرے لاندے نهٔ راځی. او دا یو داسے شے دے چه په دے کښے هیڅوك شك نشی کولے او دا هر څه خلقو لیدلی دی.

او ددے دلیل پشان هغه عذابونه هم دی چه الله تعالیٰ د باغیانو او ظالمانو او مجرمانو

دپاره د هغویٔ د جرمونو مطابق مقرروی، دا داسے عقوبات دی چه خلق ئے په سترګو باندے وینی او یقین کوی چه دا د جرمونو سزاء ده۔ نو څوك چه د الله عذابونو او واقعاتو کښے سوچ اوکړی او نیك او بدو اسبابو سره چه ددے کوم نیك تعلق دے هغه اوپیژنی، نو په دے سره به د الله وجود او وجوبِ وجود څه کوے چه د هغهٔ وحدانیت، ربوبیت او د هغهٔ کمالِ عدل او فراخه فضل اوپیژنی۔ څکه کوم شے چه د هغهٔ په صفاتو یا افعالو باندے دلالت کوی هغه د هغهٔ د ذات په اثبات او وجوبِ وجود باندے دلالت کوی۔ دارنګه هغهٔ ته به پته اولګی چه علوی او سفلی عالمونه په خپل ایجاد، بقاء، حفظ، ساتنے، امداد او ټولو کارونو کښے محتاج او مستند دی۔ والله اعلم۔

یاد ساته ! چه د خلقو د حاجت او ضرورت مطابق دَ الله د معرفت ذرائع ډیر فراخه دی، هر څوك ددے نه یاخو په کلی عباراتو باندے تعبیر کوی او یا په جزئی عبارت سره، د هغه حال مطابق چه هغهٔ ته حاضر وی او د هغهٔ امورو موافق چه هغهٔ باندے غالب وی۔ ګنے هر هغه شے چه په زړونو باندے تیریږی، سترګے ئے وینی، حواس ئے معلوموی دارنګه هر حرکت او سکون والا دا ټول براهین او دلیلونه دی په وحدانیت د الله تعالیٰ باندے۔

وَفِیْ کُلِّ شَیْئٍ لَهٗ آیَةٌ تَدُلُّ عَلٰی اَنَّهٗ وَاحِدُ

خو جزئیات ذهنونو ته سبقت کوی او زړونه ئے پیژنی او ددے دپاره عاجلهٔ نفع حاصلیږی ولے، چه دا آسان او مختصر دی او فورا ددے ادراك هم کیږی۔ دے وجے نه مونږ ددے دپاره د مخکنیٔ او ددے زمانے د خلقو څه مثالونه او حکایات ذکر کوو۔

○ **بعضے** خلقو نه تپوس اوشو چه تهٔ خپل رب په څه پیژنے ؟ هغه وئیلے : پَچه په اوښ باندے او د خپو منډونه په تلونکی باندے دلالت کوی، نو آیا برجونو والا آسمان، فراخه لارو والا زمکه، او چپو والا سمندرونه به په لطیف او خبیر ذات باندے دلالت نهٔ کوی ؟

○ د **ملحدینو** یوه ډله یو عالم - زما په خیال امام ابو حنیفةؒ - ته راغله او ورته ئے اووئیل : د الله په وجود باندے څه دلیل دے ؟ هغه وئیلے : ما پریدیٔ زما زړهٔ په یو ناشنا کار کښے مصروف دے۔ هغویٔ وئیل : څه کار دے ؟ وئیلے : ماته خبر راکړے شو چه په دریائے دجله کښے یوه غټه کشتیٔ ده، د رنګارنګ سامانونو نه ډکه ده، هغه ځی راځی او نهٔ ورله څوك حرکت ورکوی او نهٔ ئے نګرانی کوی۔ هغویٔ وئیلے : تهٔ لیونے ئے که په خود ؟ وئیلے : دا څنګه ؟ وئیلے : دا خو هیڅ عاقل نهٔ منی۔ ورته ئے اوفرمائیل : نو بیا ستاسو عقلونه څنګه دا منی چه دا عالم او په دے کښے قِسما قِسم څیزونه او عجیب حوادث دارنګه دا

گردش کونکے نمر او سپوږمۍ روان دي او دا حوادث د پيدا کونکی نه بغير پيدا کيږي او دا حرکت کونکی څيزونه بغير د حرکت ورکولو والا نه حرکت کوی ؟ نو هغوئ ملامته شو۔

○ **يو کس ته** اووئيلے شو : تۀ خپل رب په څه پيژنے ؟ وئيلے : نطفے ته اوگوره چه نرئے د مادے په رحم کښے واچوی نو الله ئے د نطفے نه علقے طرفته او بيا مضغے وغيره طرفته اړوی راړوی او بيا ترے روغ رمټ اندامونو او ظاهری او باطنی طاقتونو والا کامل انسان پيدا کړی، غوږونه ئے وی چه آوريدل پرے کوی، سترگے ئے وی چه ليدل پرے کوی، عقل ئے وی چه خپل گټه او تاوان پرے پيژنی، لاسونه ئے وی چه نيول پرے کوی، خپے ئے وی چه تلل پرے کوی، داسے منافذ او مسامات لری چه بدن ته نفع رسونکے څيزونه ورداخليږی، او داسے مسامات ئے وی چه ضرری څيزونه ترے را اوځی۔ او دا دومره عجيب ترکيب باندے مرکب شوے دے که چرے ټول خلق د اول نه آخره پوره په دے مضبوطه ناشنا طريقه د يو کس په موجودولو باندے راجمع شی نو خامخا به د وئ پو هے او طاقتونه ددے نه عاجزه شی۔ آيا دا د خالق په وجود او د هغۀ په عظمت او لويئ باندے دليل نۀ دے ؟ زه وايم : ځکه خو الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے دا دليل په مختلفو طريقو سره ذکرکړے دے۔

○ **يو کس ته** چا اووئيل : خپل رب په څه پيژنے ؟ وئيلے : د ارادو په ماتولو باندے۔ يعنی کله بنده د يو کار مضبوطه اراده اوکړی او په هغے کښے ددۀ هيڅ تردد نۀ وی، دے نه پس بيا ددۀ همت مات شی او بل کار ته مضبوطه اراده اوکړی چه په هغے کښے خپل مصلحت وينی، ددے بله څه وجه نۀ ده سيوا ددے نه چه الله په هر شئ قادر دے، زړونه اړوی راړوی لکه څنگه چه د بدنونو تدبير کوی، هغه په خپل بنده ډير مهربانه دے، د ضرر نه ئے نفع طرفته اړوی او دَ هغه په زړۀ کښے ددے سوچ پيدا کوی۔

○ **يو کس** نه چا تپوس اوکړو : تۀ خپل رب په څۀ پيژنے ؟ وئيلے : زۀ غمژن ووم، دعاء مے ترے اوغوښتله نو زما غم ئے لرے کړو، زۀ فقير ووم، سوال مے ترے اوکړو نو مالداره ئے کړم، زۀ بيمار ووم، دعاء مے ترے اوغوښته نو جوړ ئے کړم۔ او زۀ گمراه ووم، هغۀ په ما مهربانی اوکړه او ماته ئے هدايت اوکړو۔ او دا کار يواځے ما سره نۀ دے شوے بلکه په خپلو بندگانو باندے د هغۀ قِسما قِسم نعمتونه دی چه د هغے مشاهده کيږی۔ دا انسان لره ديته مجبوره کوی چه د هغه په ربوبيت او تربيت باندے اعتراف اوکړی۔

○ **يوکس** نه تپوس اوشو، الله په څه پيژندلے شي ؟ وئيلے : په دے سره چه خپلو بندګانو ته د حاجت او ضرورت په وخت نعمتونه رسوی۔ باران د ضرورت په وخت کوی او کله چه ددے نه ضرر ولاړيږی نو اودروی ئے۔ او د سختئ نه پس آسانی راځی، او غرضونه د حاجت پيدا کيدونه پس پوره کيږی۔د انسان دے اندامونو او قوتونو ته اوګوره چه الله ئے ورله وخت په وخت ورکوی څومره چه ددهٔ هغے ته حاجت وی۔ نو آيا دا ممکنه ده چه دا ټول کارونه دے اتفاقی طور سره اوشی ؟ او که نه دا يقينی طور سره په دے دلالت کوی چه کوم ذات دوئ ته دَ ضرورت او حاجت په وخت دا ورکړی دی، دا رب، معبود او عظيم بادشاه دے---- زهٔ وايم : د همدے باب نه ده هغه خبره په کوم کښے چه مونږ لګيا يو، څکه هر کله چه د الله معرفت ته بندګان هر وخت محتاج دی، دا احتياج په هر وخت کښے دے او دَ ټولو حاجتونو نه زيات حاجت دے، نو دا هم الله بندګانو دپاره آسان کړے دے او ددے طريقے ئے بندګانو ته پرانستی دی او ددے دلائل ئے دوئ ته واضح کړی دی۔ او دَ دوئ دا حاجت دے معرفتِ الهی ته عارضی نهٔ دے، بلکه د هغه حاجتونو نه دے چه هر وخت دوئ سره په هره لحظه کښے لازم دے۔ نو الله نه غواړو چه په خپل معرفت او کامل ايمان سره په مونږ باندے جود او سَخا اوکړی۔

○ **يوکس ته** چا اووئيل : الله په څه پيژندے شی ؟ وئيلے : په دے چه هغهٔ انسان ته هغه څه ور اوخودل چه هغهٔ ته معلوم نهٔ وو، د خپلے مور د خيټے نه په داسے حال کښے را اووتلو چه په هيڅ نهٔ پو هيدلو، نو هغهٔ ته ئے د علم ذرائع ورکړل او ددے اسباب ئے ورته مهيأ کړل، نو هغه هميشه وو چه د خپل دين خبرے ئے زده کولے تردے چه ربانی عالم ترے جوړ شو، او هميشه دے چه د خپلے دنيا کارونه زده کوی تردے چه ماهر او عجيب کارونه کونکے جوړ شو، او ددهٔ دپاره ئے هر هغه سبب او ذريعه آسانه کړه چه دهٔ لره ديته رسوی۔

عجيبه خبره ده ! تختته باندے چه څه اوليکلے شی نو بيا پرے نور څه نهٔ ځائيږی او تر څو ئے چه هغه ترے محوه کړے نهٔ وی نو د بل شئ ليکلو ګنجائش په کښے نهٔ وی۔ حال دا چه د انسان زړهٔ مختلف علوم او معارف دغسے هميشه دپاره زده کوی، او څومره ئے چه معارف فراخيږی نو حافظه ئے قوی کيږی او قوتِ يادداشت ئے ډيريږی او فکرونه ئے فراخيږی۔ آيا دا کارونه د انسان په طاقت کښے کيدے شی ؟ او که نه دا د الله په عظمت، وحدانيت او کمال او فراخه رحمت باندے ډير لوئے دليل دے ؟

○ **بعضو ته** اووئيلے شو : الله په څه پيژندلے شی ؟ وئيلے : زړے خلق اوکړی نو د هغے نه

کهجورے او ونے پیدا کیږی او د هغے نه هغه غټے غټے میوے را اوځی چه د هغے نه خلق نفع مومی۔ او دا دانے په زمکه کښے اچولے شی نو د هغے نه رنګ رنګ فصلونه راوځی چه د بندګانو خوراکونه وی، دغسے هر کال کیږی۔ آیا دا د الله په وجود او قدرت او مهربانئ او رحمت باندے دلیل نهٔ دے ؟

زهٔ وایم : الله تعالیٰ په دے جلیل القدر مضمون باندے په ګنړو آیتونو کښے خبردارے ورکړے دے۔ لکه فرمائی : ﴿ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى﴾ [الانعام: ۹۵] (چوونکے د دانے او د هډوکی دے)۔ او فرمائی : ﴿ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ءَ اَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴾ [الواقعة: ٦٣،٦٤] (خبرکړئ ما په هغه څه باندے چه تاسو ئے کرئ آیا تاسو دا زرغونوئ اوکه نه مونږ زرغونونکی یو)۔

○ **یو کس** په رسول الله ﷺ باندے په تادئ سره ایمان راوړو، نو هغهٔ ته چا اوویل : دا کار دے څنګه اوکړو ؟ وئیلے : دهٔ په هیڅ یو شئ باندے حکم نهٔ دے کړے چه عقل ددے د نهٔ کولو آرمان اوکړی، اونهٔ ئے د څه شئ نه منع کړے چه عقل ددے د کولو آرمان اوکړی۔ نو دے سړی د خپل عقل په نور او د خپل بصیرت په قوت سره د رسول الله ﷺ صدق معلوم کړو چه دهٔ کوم دین راوړے دا د عقولِ سلیمه ؤ سره جوړ او دَ حکمت سره موافق دے۔○ **یو** عارف ته اوویلے شو : الله په څه پیژندلے شی ؟ وئیلے : د نیکیو په خوند څکلو باندے۔ او دا وجدانی استدلال دے چه بنده ته د کمالِ ایمان او یقین دعوت ورکوی، ځکه څوك چه د ایمان خوند بیامومی او د یقین لذت اوڅکی نو هغه د ایمان اوچتے درجے ته اورسیدهٔ۔ والله اعلم۔

○ **یو** بل کس ته اوویلے شو : الله په څه پیژندے شی ؟ وئیلے : په اسبابو برابرولو سره بیا د اسبابو په اړولو او مسبباتو منع کولو سره، او په دے سره چه هغه بغیر د اسبابه څیزونه پیدا کوی چه خلق ئے نه پیژنی۔ او دا صحیح خبره ده ځکه چه الله ټول کارونه په اسبابو او مسبباتو باندے روان کړی دی، په تقدیر کښے هم، شرعا هم او په حکمت بالغه کښے هم، او بعضے اسباب ئے ددے نه منع کړی دی چه په هغے باندے د هغے آثار مرتب شی، لکه په معجزاتو د انبیاء کرامو – علیهم السلام – او په کرامتونو د اولیاء کرامو کښے۔ دغه شان ډیر څیزونه بغیر د معهود اسبابو نه کیږی، لکه عیسیٰ علیه السلام ئے بغیر د پلار نه د موره پیدا کړو، یحییٰ علیه السلام ئے د داسے والدینو نه پیدا کړو چه د دوئ پشان خلقو دپاره بچی نهٔ کیږی، دغه شان نور داسے څیزونه دی، دے دپاره چه بندګان اوپیژنی چه یوائے الله مطلقًا متصرف

او واکدار دے، او هغه لکه څنګه چه په اسبابو معلومه ؤ سره تصرف کوی، نو دغه شان په غیر معهود اسبابو سره هم تصرف کوی۔
دا وجه ده چه د معجزاتو او کرامتونو اکثره حصه دے قِسم سره متعلق ده، او دا تهول د الله تعالیٰ په وحدانیت، الهیت او ربوبیت باندے واضح دلیل دے۔
○ **یو کس ته** اووئیلے شو : الله په څه پیژندلے شی ؟ وئیلے : څوك چه د رزق په مادو کښے سوچ اوکړی او دَ هغه چا په حالت فکر اوکړی چه هغویٔ سره زمکے جائدادونه او ډیرے زیاتے غلے وی، لیکن هغویٔ دیته ځان اوسپاری، نو کارونه پرے تنګ شی، قرضونه پرے واوړی او د دویٔ د امید خلاف کارونه کیږی۔ بیا ډیرو خلقو ته اوګوره چه د هغویٔ نۀ زمکے وی نه غلے، بلکه هغویٔ سره معمولی شان اسباب وی، الله ورله په کښے برکت واچوی او رزق ورله فراخه کړی، او دا په دے وجه چه د دویٔ زړونه الله سره چه څه دی هغے ته طمع لرونکی دی، د رزق فراخولو امید ترے لری، هغۀ باندے هغه شان توکل کوی څنګه چه د توکل حق وی۔ نو په دے سره الله پیژندلے شی او دا چه تهول واکدار او اختیار د الله تعالیٰ دے۔
دارنګه مونږ په خلقو کښے هغه کس ته ګورو چه هغه قوت او زیرکتیا راجمع کړے وی او ډیر تلے تندے وهی، حال دا چه رزق ئے تنګ وی۔ او مونږ کمزورے او کم عقل سړے وینو چه هغۀ سره د دغه مخکنی سړی په لسمه حصه قوت او زیرکتیا هم نۀ وی، حال دا چه الله ورله رزق فراخه کړے وی او کارونه ئے ورله آسان کړی وی۔ او دا داسے څیزونه دی چه مونږ دا وینو او محسوسوؤ ئے، دا عاقل لره دے ته مجبوروی چه د الله په وحدانیت باندے اقرار اوکړی دارنګه په انسان او د هغۀ په عمل باندے د هغۀ د نګرانیٔ او حفاظت اعتراف اوکړی۔
○ **یو کس ته** اووئیلے شو : تۀ خپل رب په څه پیژنے ؟ وئیلے : په دے چه هغه د بندګانو ترمینځه په عزت او ذلت، مالداریٔ او فقیریٔ ، اسبابو سره وی که بغیر اسبابه د دویٔ ترمینځه ورځے شپے اړوی راړوی۔
○ **یو بل** کس ته اووئیلے شو : الله په څه پیژندلے شی ؟ وئیلے : په دے قول د الله تعالیٰ سره : ﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا ﴾ [هود: ٦] (په زمکه هیڅ یو ګرځیدونکے نشته مګر د هغۀ روزی د الله په ذمه ده)۔
نو مونږ ددے تطبیق په خلقو کښے وینو چه هریو کس له الله د رزق دومره اسباب تیار

کړې دي چه په هغې سره د هغهٔ ګذران کيږي، چاله د تجارت په ذريعه، چاله د کاريګرئ په ذريعـه، چاله د کرکيلې په ذريعه، چاله د مزدورئ په ذريعه، چاله د ګډو بزو پالنې په ذريعه، چاله د بل چا په احسان باندې او چاله د بل چا په مشقت او محنت سره، چه دا ټول اسباب عزيز او حکيم ذات مقرر کړي او تقسيم کړي دي.

اې پاکيزه ذاته ! چه تهٔ په دشتو او صحراګانو او په ژورو تيارو کښې د ذراتو روزي رسان ئې !

زهٔ وايم : دا ټول کلي او جزئي جوابونه صحيح دي چه عقلونه په خپل خالق او د هغهٔ په ربوبيت او وحدانيت باندې اقرار کولو ته مجبوره کوي. او ددې دوچند والې بې شماره چندونو ته هم کيدې شي. ځکه چه تهٔ عالمِ علوي او سفلي ته او دې عظيم مخلوقاتو ته او ددې عجيب انتظام او محکم ترتيب او په دې باندې مرتبو نتائجو ته اوګورې، تاته به معلومه شي چه ددې عالم يو عظيم رب او لوئې بادشاه شته دې، قادر او مقتدر ذات دې، کائنات ورته عاجزه او مخلوقات ورته تابع دي او هغه د بندګانو پوره واکدار دې. او تاته به معلومه شي چه دا روښانه نمر، سپوږمئ او ستوري يواځې د الله رب العزت تابع او د هغهٔ په تدبير باندې تدبير کونکي دي، خپله ئې څه واك او تدبير نشته.

بيا چه هر يو مخلوق ته په جدا جدا نظر سره اوګورې او د هغهٔ د پيدائش ابتداء ته دارنګه د هغهٔ نورو صفاتو، حالاتو او تحويلاتو ته اوګورې، نو دابه درته اوښائي چه ددې يو تدبير کونکې اِله او تصرف کونکې رب شته دې، او دا څهِ موجودات او صفات ئې چه ښکاري دا خپله نهٔ دي شوي، بلکه دا دَيو عظيم رب خِلقت او د حکيم بادشاه تدبير دې.

بيا چه تهٔ د خپل ځان په حالاتو کښې او د خپل بدن په ظاهري او باطني صفاتو او په خپلو محسوساتو او معقولاتو کښې فکر اوکړې، نو يقيني طور سره به تاته معلومه شي چه تهٔ مخلوق ئې، خپل رب ته په هر څه کښې فقير او محتاج ئې. په ايجاد کښې ورته محتاج ئې، په قوتونو او عقل او رزق ورکولو ورته محتاج ئې، په خپل حفظ او بقاء کښې ورته محتاج ئې، او په خپله ابتداء او انتهاء هر څه کښې ورته محتاج ئې.

بيا چه کله تهٔ ناشنا کارونو کښې او په بې شماره معجزاتو د انبياء کرامو او په کرامتونو د اولياؤ کښې فکر اوکړې، نو تهٔ به په دې سره د الله تعالیٰ عظمت معلوم کړې، او دا چه هغه د ټولو کارونو تدبير کونکې، مسبب الأسباب او د هر شئ رب او مالكُ دې. دغه شان چه کله تهٔ ديته اوګورې چه هغه ځومره ډيرې دعاګانې د خلقو قبلوي، او د پريشان حاله خلقو پريشانئ لرې کوي او غمزده خلقو سره امداد کوي، نو دا خامخا تالره د خپل رب په

ربوبیت او وحدانیت باندې اعتراف ته مجبوره کوي۔
بیا چه کله تهٔ هغه عذابونو ته اوګورې چه خلقو ته ئې ورکړی دی او په عدل او فضل سره د هغهٔ اهتمام ته اوګورې دارنګه نیکانو ته په تادئ بدلے ورکولو او مجرمانو ته په عذاب ورکولو کښې سوچ اوکړې، تاته به معلومه شي چه دا محسوس براهین او لیدلي دلائل دي، ددې خبرې ګواهي کوي چه هغه د هر چا په نفس او د هغهٔ په عمل باندې نګران او هر چاله د هغهٔ د عمل مطابق بدله ورکونکے دے۔
بیا د هغهٔ هغه دین او شرع او هغه عظیم خیر او ښکاره مصلحتونو او جلیل القدر ثمراتو ته اوګوره کوم چه په دے کښې پراتهٔ دي، او دیته اوګوره چه هغه د عقائدو اصلاح کونکے، د اخلاقو اصلاح کونکے، د اعمالو اصلاح کونکے او د دین او دنیا اصلاح کونکے دے۔ محکمو اصولو او ثابت بنیادونو والا دے، هیڅ یو عقلمند نشي کولے چه د هغهٔ پشان د انسانانو احوال ښهٔ کړي او د دوئ نه شرور دفع کړي۔ او دا چه هیڅ یو داسے صحیح علم نه دے راغلے او نهٔ به راشي چه هغه د هغهٔ په خبرونو کښې یو خبر ټکراؤ کړي، بلکه دا هر څه د عقلونو سره مطابق دي او په دے کښې داسے تفصیلات دي چه د هغهٔ د ارشاد او هدایت نه بغیر هغې ته رسائي نشي کیدلے۔ دارنګه کله چه تهٔ په عباداتو کښې د هغهٔ احکامو او معاملاتو وغیره ته اوګورې او هغه خیر او ښیګړې او عدل او قِسما قِسم اصلاحاتو ته چه په دے کښې دي، او هر هغه نفع او اصلاح ته اوګورې چه هغه موجوده ده او یا موجودیږي چه ددې اصول او بنیادونه په دے دین کښې موجود دي او دا اوپیژنے چه دا د شرونو او ضررونو نه د بندګانو محافظ دے۔ نو تهٔ به په دے سره معلومه کړې چه الله په خپلو اسماؤ او صفاتو او افعالو کښې واحد لاشریك دے، او دا د هغه ستائیلے شوي او غالب ذات شرع ده چه دیته نهٔ د مخکښې نه باطل راتلے شي او نهٔ د روستو نه، ولے چه دا د حکیم او حمید ذات نازله کړے شوے شرع ده۔
او کله چه تهٔ بے شماره هغه خبرونه اووینے ذکومو خبر چه الله او د هغهٔ رسول ﷺ ورکړے او خلقو د هغې واقع کیدل لیدلي دي څنګه چه الله او د هغهٔ رسول ﷺ ددے خبر ورکړے وو، نو دا د الله په وجود او عظمت او د هغهٔ په بادشاهئ او لویئ باندې دلالت کوي۔ دا ټول عقلي او بدیهي دلائل دي د الله په وجود او وجوب او وحدانیت باندې، او دا په حقیقت کښې هغه عظیم صحیح حقائق دي چه په دې باندې صحیح عقلونه او روغ فطرتونه متفق دي، او دا ټول تنبیهات او اشارات دي که چرې ددې څه تفصیل اوکړے شي نو دا به

څو جلدونه واخلي۔

او مؤمن سړے په دے باندے خپل ایمان او یقین زیاتوی، ګنے هغه په دے عظیمه مسئله او په نورو مسائلو کښې د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ په خبر باندے انتهائی اکتفاء کونکے دے۔ او په دے سره د هر څه نه بے پرواه دے۔ او دا عقیده لری چه د الله د خبرے نه لا د چا خبره زیاته رشتینے کیدے شی۔ ﴿ رَبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِىْ لِلإِيْمَانِ أَنْ آمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ﴾ [ال عمران: ۱۹۳] ﴿رَبَّنَا آمَنَّا بِمَآ أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِيْنَ ﴾ [ال عمران: ٥٣]

خو عقل د شریعت تائید کونکے او ددے په کمال او هدایت باندے اعتراف کونکے دے، او عقل شرع ته محتاج او د هغې په ارشاداتو باندے ځان پوره کونکے دے، د هغې په انوارو باندے رهنمائی حاصلونکے دے۔ عقلونه چه روښانه کیږی او پوره طور سره برابریږی نو دا صرف په دین او شرع سره۔ دا وجه ده چه الله تعالیٰ دا وینا ډیره زیاته کوی : ﴿ لَـآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴾ [البقرة: ١٦٤] (نښے د هغهٔ قوم دپاره دی چه عقل نه کار اخلی)۔

او په دے باندے حکم کوی چه د هغهٔ په آوریدلے شوو او لیدلے شوو آیاتونو او نښو کښې تفکر او تدبر اوکړے شی۔ والله اعلم۔ (من الرياض الناضرة)



۴۷ - عظيم النفع فائده

د طاعت او عبادت خوند

او كيدے شي چه ددے پشان فائده تا نۀ وي موندلي

څوك چه د الله د طاعت او عبادت خوند او مزه څكل غواړي، هغه له پكار دي چه د يو څو خبرو لحاظ اوساتي :

۱ - يو هغه خبره ده كومه چه شقيق بن ابراهيم - رحمه الله - وئيلي ده : چاچه الله نه علاوه بل چا ته د مصيبت شكايت اوكړو، الله به د هغۀ نه د طاعت خوند واخلي۔

(سير اعلام النبلاء : ۹/۳۱۵)

ددے وجه داده چه : مخلوق ته د الله شكايت كول هغۀ باندے بدگماني ده او مخلوق باندے ښۀ گمان دے، او د چاچه دا خيال وي چه د الله رحمت او قوت د مخلوق د رحمت او قوت نه كم دے نو ددۀ به څه حال وي ؟ ددۀ پشان خلق به څنگه د طاعت او عبادت خوند اوڅكي ؟ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ﴾ [حج: ۱۵]

(څوك چه دا گمان كوي چه الله به دۀ سره په دنيا او آخرت كښے مدد نه اونه كړي نو دا دے آسمان طرفته يوه رسۍ زوړنده كړي او بيا دے هغه پريكړي او اودے گوري چه آيا ددۀ دا چل ددۀ غصه بوتللے شي)۔

۲ - بل د الله رضامندي د نفس په مزو او خوندونو باندے غوره كول۔ او دا نفع منه او مجربه دوائي ده۔ دا وجه ده چه كله په يو عمل كښے مجاهده زياته وي نو په زړونو باندے ددغه عمل تاثير هم زيات وي، لكه تهجد او دَ صبا راختو نه تر نمر ختۀ پورے د الله ذكر كول، جهاد وغيره۔

الله تعالىٰ داؤد عليه السلام ته فرمائيلي وو : عالم چه كله زما په رضامندۍ باندے خپلو مزو له ترجيح وركړي، نو ادنىٰ هغه كار چه زۀ ئے د هغۀ سره كوم، دادے چه زۀ ئے د خپل خوندور مناجات نه محرومه كوم۔ والعياذ بالله

(كتاب الزهد للامام احمد، احياء العلوم للغزالى)

او ديته قرآن اشاره كړے ده : ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ ﴾ [مريم: ۵۹] (نو د هغوئ نه پس څه نا اهله خلق راغلل چه مونځونه ئے برباد كړل او مزو پسے اولګيدل) ---- نو شهوات او مزے د عباداتو سره منافى دى۔

۳ - بل هغه درے څيزونه دى چه د صحيحينو په حديث كښے راغلى دیٔ۔ رسول الله ﷺ فرمائى : « درے څيزونه دى، په چا كښے چه دا وى نو په دے سره به د ايمان خوند اوڅكى : ٥ الله او د هغهٔ رسول سره د هر چانه زياته مينه كول۔ ٥ يَو بنده سره صرف د الله دپاره مينه كول۔ ٥ او كفر ته تلل داسے بد ګنړل لكه څنګه چه په اور كښے غورزيدل بد ګنړى»۔

د ايمان د حلاوت او خوند معنىٰ ده : طاعت او عبادت لذيذ محسوسول او د الله په باره كښے مشقتونه برداشت كول۔

٤ - درے نور څيزونه دى۔ عباس ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « هغه چا د ايمان خوند اوڅاكهٔ چه : د الله په رب كيدو، د اسلام په دين كيدو اود محمد ﷺ په رسول كيدو باندے خوشحاله شو »۔ (مسلم)۔

۵ - ابو امامه ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « كوم مسلمان چه په اول ځل د يوے ښځے د ښائست ځايونو ته اوګورى بيا خپل نظر ښكته كړى، الله تعالىٰ به ورله داسے عبادت وركړى چه د هغے خوند به بيامومى »۔

(احمد، مشكاة ۲/ ۲۷۰، وسنده حسن لكثرة طرقه)

٦ - په خوراك څكاك كښے دحرامو او مشتبه څيزونو نه ځان ساتل۔ ځكه چه دا زړهٔ خړكوى او د عبادتونو خوند او مزه ختموى، لكه رسول الله ﷺ دَ نعمان بن بشير ﷺ په حديث كښے ديته اشاره كړے ده۔ « خبردار ! په زړهٔ كښے يوه ټكړه ده چه هغه صحيح شى نو ټول بدن صحيح كيږى او چه هغه خرابه شى نو ټول بدن خرابيږى، خبردار ! هغه زړهٔ دے » ---- دا خبره ئے د شبهاتو پريخودلو نه روسته ذكر كړے ده۔

په يو بل حديث كښے دى : « نو ددهٔ دعاء به څنګه قبوله شى ؟ »۔

يعنى د هغه چا دعاء چه د هغهٔ خوراك څكاك حرام وى۔

۷ - بل مراقبه او احسان دے :

عبد الله بن علويه عامرى ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « درے څيزونه دى چاچه هغه اوكړل نو د ايمان خوند ئے اوڅاكهٔ (۱) چاچه د الله عبادت اوكړو (۲) هر كال ئے په

خوشحالئ سره د خپل مال زکوة ورکړو۔ بوډئ، پمنه، رذیله، کمزورے او بیماره ئے ورنه کړه، بلکه د خپل درمیانه مالونو نه ئے زکوة ورکړو، (۳) او د خپل نفس تزکیه ئے اوکړه۔ یو سړی عرض اوکړو، یارسول الله! یو سړے د خپل نفس تزکیه څنګه اوکړی؟ وے فرمائیل: چه دا علم اولری چه الله دۀ سره دے چرته چه دے وی»۔ (ابو نعیم)

عباده بن صامت ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «بهترین ایمان دادے چه تۀ دا اوپیژنے چه چرته زۀ یم، هلته الله ما سره دے»۔

(دا دواړه روایتونه ابن کثیر ۳۰٤/٤، په سورتِ حدید کښے ذکر کړی، اوګوره الصحیحة ۱۰٤٦/۳)

حافظ اسماعیلی ؒ د عمر ﷺ نه روایت کوی، یو سړے نبی ﷺ ته راغے، وئیلے: ماله یو داسے حکمت راکړه چه زۀ په هغے سره ژوند تیروم! وے فرمائیل: الله نه داسے حیاء کوه لکه څنګه چه تۀ د خپلے قبیلے د یو نیك سړی نه چه تانه نۀ جدا کیږی، حیاء کوے۔ (ابن کثیر)۔ -- د بخاری او مسلم حدیث دے «ښائسته عبادت دیته وائی چه تۀ د الله داسے عبادت کوے ګویا تۀ هغۀ وینے، نو که تۀ هغه نۀ وینے نو هغه خو دے وینی»۔

۸ – امام احمد بن حرب ؒ فرمائی: ما پنځوس کاله د الله عبادت اوکړو، خو دَ عبادت خوند مے بیانۀ موند، تردے چه ما درے څیزونه پریخودل:

(۱) – د خلقو رضا مے پریخوده تردے چه زۀ په حق خبره کولو قادر شوم۔

(۲) – د بده عمله خلقو ملګرتیا مے پریخوده تردے چه دَ نیکانو ملګرتیا مے نصیب شوه۔

(۳) – د دنیا خوند مے پریخودۀ تردے چه د آخرت خوند مے بیاموند۔

(سیر أعلام النبلاء: ۳٤/۱۱)

۹ – د علی ﷺ په مرفوع حدیث کښے دی: «څلور څیزونه دی چه ددے نه بغیر څوك د ایمان خوند نشی بیاموندے: (۱) د الله نه سیوا بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، ایکی یواځے دے (۲) او دا چه زۀ د الله رسول یم چه په حق سره ئے رالیږلے یم (۳) او دا چه دے به مری بیابه د مرګ نه پس پاسیږی (٤) او په هر قِسم (ښه او بد) تقدیر باندے ایمان لرل»۔

(ابن أبی شیبة فی کتاب الایمان ص: ۳، والترمذی والحاکم وصححه وهو صحیح)

۱۰ – حسن ؒ فرمائی: په درے څیزونو کښے خوند تالاش کړئ: په مانځه کښے، په ذکر کښے، او په تلاوت د قرآن کښے۔ که خوند مو بیاموندلو نو ښه ده، ګنے دروازه بنده ده۔

(الرسالة القشیریة ص: ۲۵۹)

۱۱ – ابن عباس ﷺ فرمائی: د الله دپاره دشمنی کوه، او الله دپاره دوستی کوه، ځکه د الله

ولايت (قرب) صرف په همدے سره حاصليږي، او هيڅ يو سړے د ايمان خوند نشي څکلے اګرکه مونځونه او روژے ئے ډيرے وي، تردے چه داسے شي۔

(بيهقى شعب الايمان، آثار الصحابة : ۳/۵۰).

نـو دا داسے كارونـه دي چه څوك ددے اهتمام كوي، په دے سره به ان شاء الله د ايمان خوند بيامومي۔ (اللهم انا نسألك ذلك يا أرحم الراحمين)



٤٨ - ناشنا فائده

د الله د رضامندئ حاصلولو اسباب

هغه دا چه: انسان له ډا فکر پکار دے چه دۀ ته به د الله رضامندي څنګه حاصله شي، ولے چه په دے کښې دۀ د دنيا او آخرت نيك بختيا پرته ده، او په دنيا او آخرت کښې بل هيڅ يو شے نشته چه هغه دے د الله د رضامندئ نه لوئے وي۔

الله فرمائي: ﴿ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ﴾ [التوبة: ٧٢]

(د الله لږه شان رضامندي د هر څۀ نه ډير لوئے شے دے)۔

نو اوس زۀ د هغے اسباب ذکر کوم دے دپاره چه څوك هغه اختيار کړي نو د الله رضامندي به ورته حاصله شي، ګنے په ښکاره تاوان کښې به پروت وي – والعياذ بالله۔

١ - اول سبب: د الله تعالىٰ رضامندي تالاش کول:

ثوبان ﷺ فرمائي: نبي ﷺ اوفرمائيل: (بيشکه بنده د الله رضامندي تالاش کوي، او هميشه دغسے کار کوي تردے چه الله عز وجل جبرئيل ته اوفرمائي: زما فلانے بنده زما رضا تالاش کوي، خبردار! زما رحمت په هغۀ باندے دے، نو جبرئيل وائي: د الله رحمت دے وي په فلاني باندے، او د عرش ملائك هم دا وائي، او د دوئ نه ګير چاپيره ملائك هم دا وائي، تردے چه اووه آسمانونو والا ئے اووائي، او بيا دۀ دپاره زمکے ته راکوز شي)۔

(مسند احمد ۲۷۹/٥، او ددے سند صحيح دے)

٢ - دويم سبب: مسواك: لکه حديث کښې دي: «مسواك د خولے د صفا کولو او د رب رضا کولو ذريعه ده»۔

(احمد ۳/۱، ابن ماجه وغيره)

٣ - دريم سبب: خوراك څکاك نه پس د الله حمد او ثناء وئيل:

حديث کښې دي: «بيشکه چه الله د بنده نه خوشحاليږي چه هغه څه خوراك کوي يا څه څکاك کوي نو په هغے باندے د هغۀ حمد او ثناء وائي»۔(مسلم والترمذی)

٤ - څلورم سبب: اخلاص:

حديث کښې دي: «څوك چه د دنيا نه په داسے حال جدا شو چه يواځے الله دپاره ئے اخلاص

کولو او صرف د الله وحده لا شریك له عبادت ئې کولو، د مانځه پابندي ئې کوله او زکوٰة ئې ورکولو، نو الله به ددهٔ نه راضي وي».
(ابن ماجه فی المقدمة رقم : ۷۰، باسناد فیه کلام ومعناه صحیح)

۵ - پنځم سبب : د والدینو رضا کول :

حدیث کښې دي : (دَ رب رضا د والدینو په رضا کښې ده، او د رب خفګان د والدینو په خفګان کښې دے)۔(الترمذی : ۲/۱۹/٤، المشکاة ۲/ باب البر والصلة)

۶ - شپږم سبب : د الله رضا تالاش کول اګرکه خلق خفه کیږي :

حدیث کښې دي : (څوك چه د خلقو په خفګان سره دَ الله رضا تالاش کوي، الله به ئې د خلقو د مشقت نه کافي شي، او څوك چه دَ الله په خفګان سره د خلقو رضا تالاش کوي، الله به ئې خلقو ته اوسپاري)۔(ترمذی)۔

۷ - علم طلب کول او په دے کښې حرص کول :

حدیث کښې دي : (دوه تګی نهٔ مړیږي، یو د علم تګے او بل د دنیا تګے۔۔)۔ او ددے حدیث په آخر کښې دي : (هر چه د علم خاوند دے نو دا دَ رحمٰن په رضا کښې زیادت کوي)۔
(او ګوره : المشکاة : ۱/۳۵)۔

۸ - روژه : حدیث کښې دي : (روژه دار خپل شهوت، خوراك څکاك زما د رضا تالاش کولو دپاره پریدي، روژه زما دپاره ده او زهٔ به خپله ددے جزاء ورکوم)۔(مسند احمد ۲/۳۹۵).

حدیث کښې دي : (د روژه دار دپاره دوه خوشحالئ دي : (۱) د روژه ماتی په وخت خوشحالي۔ (۲) او خپل رب سره دَ مخامخ کیدو په وخت خوشحالي۔

۹ - دا دعاء کول : اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَااُحْصِیْ ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ کَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰی نَفْسِكَ

(اے الله ! زهٔ ستا په رضا سره ستا د غصے نه، او ستا په جوړښت سره ستا د عذاب نه پناه غواړم۔ او پتا سره ستا (د نیوکے) نه پناه غواړم، زهٔ ستا هغه شان صفت نشم کولے څنګه چه تا خپله د ځان صفت کړے دے)۔(مسلم وغیره)

۱۰ - د مصیبت په وخت الله نه رضا کیدل :

حدیث کښې دي : « د بدلے غټ والے د مصیبت د غټ والي په اندازه وي، او الله چه کله یو قوم سره مینه کوي نو هغوئ په مصیبت کښې واچوي، نو څوك چه رضا شو نو هغهٔ دپاره (د الله) رضا ده، او څوك چه ناراضه شو، نو هغهٔ دپاره ناراضتیا ده»۔

(ترمذی، ابن ماجه رقم : ٤٠٣١، باسناد صحيح).

۱۱ - د الله عز وجل ذکر کول :

ابو درداء ﷺ فرمائي : نبي ﷺ اوفرمائيل : « آيا زه تاسو ته خبر درنه کړم چه ستاسو په عملونو کښې کوم عملونه د تولو نه زيات بهتر عملونه او ستاسو مالك ته د تولو نه زيات خوښ عملونه او ستاسو په درجاتو کښې زيات پورته کونکی عملونه او هغه عملونه چه ستاسو دپاره د سرو او سپينو خرچ کولو نه هم زيات غوره وی، او ددې نه هم زيات غوره وی چه تاسو خپل دشمن سره يو ځائے شئ او د هغوئ څټونه اووهئ او هغوئ ستاسو څټونه اووهي ؟ صحابو ؓ عرض اوکړو، دا کوم يو عمل دے يارسول الله ؟ وے فرمائيل : دَ الله ذکر کول »۔

معاذ ﷺ فرمائي : « هيڅ يو انسان داسے عمل نۀ دے کړے چه دَ الله عز وجل د ذکر نه دے زيات هغۀ دپاره د الله د عذاب نه خلاصونکے وی »۔(بنائسته صحيح حديث دے)۔

۱۲ - پگاه صبا درے ځله دا دعاء لوستل :

رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، وَ بِمُحَمَّدٍ (ﷺ) نَبِيًّا. (زۀ دَ الله په رب کيدو، د اسلام په دين کيدو اود محمد (ﷺ) په نبي کيدو باندے راضي يم)۔

څوك چه دا وائي نو په الله باندے حقه ده چه د قيامت په ورځ دۀ لره راضي کړي۔

(احمد ٤/٣٧، ترمذی، المشکاة ١/٢١٠).

(او سند ئے حسن دے، ان شاء الله۔ شيخ الباني په الصحيحه کښے د درے ځلو د قيد نه بغير ديته صحيح وئيلی دی)۔

۱۳ - نيکه خبره :

حديث کښے دی : (بيشکه يو بنده د الله د رضامندئ يوه خبره کوی چه هغے له دومره اعتبار نۀ ورکوی ليکن دَ ملاقات د ورځے پورے الله په هغے سره هغۀ دپاره خپله رضا مندی اوليکی)۔

(الترمذی فی الزهد : ٢)

دغه شان خرابه خبره د الله د خفگان ذريعه ده، والعياذ بالله۔

۱٤ - خلق چه د يو سړی صفت اوکړی نو دا د الله د رضا سبب دے۔

ابو سعيد خدری ﷺ د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئے : (الله چه کله د يو بنده نه راضي شي، نو د هغۀ د اووه قِسمه نيکيو صفت کوی اگرکه دۀ نه وی کړی، او کله چه

د بنده نه ناراضه شي نو په اووه قِسمه شرونو باندې ددهٔ بدی بیانوی اګرکه دهٔ نهٔ وی کړی)۔ (مسند احمد ۳۸/۳)

(ددې په سند کښې دراج عن ابی الهیثم دې، او دا د أبو الهیثم نه علاوه د بل نه په روایت کولو کښې حسن الحدیث دې)۔

خو ددې کارونو اهتمام د الله په بندګانو کښې صرف خواص خلق کوی۔



۴۹ - عظیم الشان فائده

په زړهٔ کښې د نرمۍ پیدا کیدو او د سختئ لرې کیدو متعلق

چه دا یهودو بیماری او د تولو نه غټ عذاب دے چه بنده ته ورکولے شی۔ لکه مالك بن دینارؒ فرمائی: هیڅ یو بنده ته الله داسے عذاب نهٔ دے ورکړے چه هغه د زړهٔ د سختئ نه غټ وی۔ (معالم التنزیل: سورتِ زمر) نو مونږ تولو له پکار دی چه دا مصیبت په شرعی اسبابو سره د ځانه لرے کړو، او دا ډیر اسباب دی:

۱ – اول سبب: مسکینانو له خوراك ورکول، او:

۲ – سبب: یتیم باندے رحم کول:

ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه یو سړی رسول الله ﷺ ته د خپل زړهٔ د سخت والی شکایت اوکړو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: (د یتیم په سر لاس راکاږه او مسکین باندے خوراك خوروه)۔(احمد ۲/۲۶۳، المشکاة: ۲/۴۲۵)

د ابو درداء ﷺ په حدیث کښې دی: نبی ﷺ ته یو سړے راغے چه د خپل زړهٔ د سخت والی شکایت ئے کاوهٔ، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل: آیا تهٔ خوښوے چه ستا زړهٔ نرم شی او خپل حاجت بیاموے؟ په یتیم باندے رحم کوه او په سرئے لاس راکاږه او د خپل خوراك نه هغهٔ باندے خوراك خوروه، ستا زړهٔ به نرم شی او خپل حاجت به موندهٔ کړے)۔

۳ – همیشه د الله ذکر کول۔

۴ – خبرے کمے کول۔ او په دے باندے تجربه شوے ده۔

عیسیٰ علیه السلام فرمائی: د الله د ذکر نه سیوا نورے خبرے کمے کوئ ځکه ډیرے خبرے زړهٔ سختوی، او په تولو خلقو کښې د الله نه زیات لرے د سخت زړهٔ خاوند دے۔

او دا په مرفوع حدیث کښې هم نقل دے چه په سند کښې ئے کلام دے۔

۵ – خندا او خوش طبیعتی پریخودل۔

ځکه دا دواړه زړهٔ خرابوی۔ دا وجه ده چه د رسول الله ﷺ نه په تولہ زندګئ کښې صرف شل کرته خوش طبیعتی (مزاح) نقل ده، حال دا چه د هغوئ مزاح او خوش طبیعتی هم حقه وه۔

حدیث کښې دی: « ډیر مهٔ خاندئ ځکه ډیره خندا زړهٔ وژنی او دَ مخ رڼړا ختموی ».

٦ – أم درداء رضی الله عنها فرمائی: جنازې ته حاضریدل، بیمار پښتنه کول او قبرستان ته ښکاره کیدل دَ زړونو سختی ختموی.

ابن قیم رحمه الله فرمائی: څلور څیزونه چه دَ حد نه زیات شی نو زړهٔ سختوی: (۱) خوراك (۲) خوب (۳) خبرې (٤) او خلقو سره اختلاط. (الفوائد ص ١٦٧)

په مدارج السالکین کښې فرمائی: زړهٔ سختونکی او خرابونکی پنځه څیزونه دی: (۱) ډیر اختلاط کول (۲) آرزوګانې کول (۳) غیرُ الله سره تعلق ساتل (٤) ډیر خوراك کول (۵) او ډیر خوب کول. (او تفصیل ئې ذکر کړې دې: ١/٣٥٣)

ابو الخیر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (څلور خویونه دی چه زړهٔ خرابوی: (۱) د کمعقل ملګرتیا، که جګړه ورسره کوې نو تهٔ هم د هغهٔ پشان کیږې او که ترې چپ کیږې نو په قلاریږې ترې. (۲) ډیر ګناهونه زړهٔ خرابوی. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ [المطففين: ١٤] (خبردار! د دوئ په زړونو باندې هغه شی زنګ راوستې چه دوئ به کول). (۳) ښځو سره یواځې والې اختیارول، دوئ نه خوندونه اخستل او د دوئ په رائې باندې عمل کول. (٤) او مړو سره ناسته کول. عرض اوشو، مړی څوك دی؟ وې فرمائیل: هر هغه مالداره چه خپلې مالدارئ په تکبر کښې اچولې وی).

(ذکره فی الاتحاف ٧/ وهو فی الدر المنثور ٦/٣٢٦، فی تفسیر قوله کلا بل ران علی قلوبهم الآیة)

زهٔ وایم: کیدې شی چه دا د بعضې سلفوؒ خبره وی. دیته مرفوع حدیث وئیل صحیح نهٔ دی.

ابن عساکرؒ فرمائی: د علماؤ وینې زهریله دی، او په دوئ باندې د عیب ویونکی په بیعزتئ کښې د الله عادت معلوم دې، او څوك چه په علماؤ باندې عیب وئیل شروع کړی، الله تعالیٰ ئې د مرګ نه مخکښې د زړهٔ په مرګ باندې اخته کوی. (لحوم العلماء مسمومة لسلیمان الأشقر).

امام شافعی رحمه الله فرمائی: څوك چه دا غواړی چه الله ئې زړهٔ پرانیزی یائې روښانه کړی، نو هغهٔ له پکار دی چه بې فائدې خبرې پریږدی، ګناهونو نه ډډه اوکړی او ددهٔ او دَ الله ترمینځه دې پټ عمل وی.

په بل روایت کښې دی: هغهٔ له پکار دی چه یواځې والې اختیار کړی، خبرې کمې کوی، د بیوقوفانو سره اختلاط پریږدی او دَ هغه علماؤ سره بغض اولری چه د هغوئ سره انصاف او ادب نهٔ وی.

(المجموع ١/١٣، للنوویؒ والجامع فی طلب العلم الشریف ١/٢١٠)

۵۰ - ناشنا فائده

د هر چانه زيات عابد كيدل

كه تهٔ غواړے چه د ټولو خلقو نه زيات عابد شے، او دَ عبوديت مراتب پوره كړے، نو ياد ساته ! چه په بنده باندے د الله تعالىٰ (۱) امر دے چه هغه ئے ورته كړے دے (۲) او فيصله ده چه هغه ئے په دهٔ كړے ده (۳) او نعمت دے چه په دهٔ باندے ئے كوى. نو دے ددے درے څيزونو نه جدا نهٔ دے.

او قضاء په دوه قِسمه ده :

يا خو مصيبتونه دى او يا عيبونه.

او د الله دپاره په بنده باندے په دے ټولو مراتبو كښے عبوديت كول ضرورى دى. نو الله ته د ټولو نه زيات نزدے هغه څوك دے چه هغهٔ په دے ټولو مراتبو كښے د الله عبادت اوكړو او دا ئے اوپيژندے. او په ټولو خلقو كښے د الله نه ډير لرے هغه څوك دے چه دا مراتب ئے اونه پيژندل او په علم او عمل كښے ئے بيكاره پريخودلے.

نو په امر كښے د الله عبوديت دادے : چه هغے ته په اخلاص سره او د رسول الله ﷺ په اقتداء سره راتگ اوكړى، او په نهى كښے ددهٔ عبوديت دادے چه د دغه كار نه د الله د خوف اجلال او محبت د وجے نه ځان اوساتى.

○ او د مصيبتونو په قضاء كښے ددهٔ عبوديت دادے چه په هغے صبر اوكړى او دَ هغهٔ نه رضا اوسى او دا د صبر نه اعلىٰ دے، بيا د هغهٔ شكر اوكړى او دا د رضا نه اعلىٰ دے.

او دا د بنده نه هله كيدے شى چه د هغهٔ محبت د هغهٔ په زړهٔ كښے ځائے اونيسى، او الله ته په مصيبت سره د بنده د حُسنِ اختيار او د هغهٔ د مهربانئ او احسان پته اولگى اگر كه هغه مصيبت بد گنړى.

○ او د عيبونو په قضاء كښے د بنده عبوديت دادے چه توبے طرفته جلتى اوكړى او د عذر او عاجزئ په مقام كښے اودريږى، په داسے حال كښے چه دا ورته علم وى چه ددهٔ نه به دا صرف هغهٔ پورته كوى او ددے د شر نه به صرف هغه دے ساتى، او دا چه كه دا هميشه شى نو دے به د هغهٔ د قرب نه لرے كړى او د هغهٔ دَ دَر نه به ئے اوشړى، نو دا هغه داسے ضرر

ګنړي چه صرف هغه ئے لرے کولے شي، بلکه دا د بدن د ضرر نه هم زيات لوئے ګنړي، او دا ورته پته وي چه ددے نه لاس اخستل او توبه کول صرف د هغهٔ په توفيق سره کيدے شي، او دا د هغهٔ په لاس کښے ده نهٔ د بنده په لاس کښے، ولے چه دے خو ډير عاجز او کمزورے دے ددينه چه خپل ځان ته دے د توبے توفيق ورکړي او يا د خپل مولیٰ رضامندئ ته دے د هغهٔ د اجازت او مشيت نه بغير راتګ اوکړي، نو دے هغهٔ ته عاجزي کونکے، د هغهٔ در ته پناه وړونکے، د هغه په دروازه غورزولے شوے، ډير زيات ذليله، بے يارو مددګاره، او هغهٔ ته ډير زړهٔ ماتے، فقير او هغهٔ ته ډير زيات محتاجه او په هغهٔ کښے ډير زيات رغبت لرونکے او هغهٔ ته ډير زيات خوښ دے۔

۴ – او هرچه د نعمتونو عبوديت دے : نو هغه د هغے اول پيژندل، بيا هغهٔ پورے ددے نه پناه غوښتل چه ددهٔ په زړهٔ کښے دے ددے نسبت د هغهٔ نه سيوا بل چاته راشي اګرکه هغه سبب ولے نهٔ وي ځکه چه الله د هغے مسبب او پيدا کونکے دے۔ هر اعتبار سره نعمت يواځے د هغهٔ د طرفه دے، بيا په دے سره د هغهٔ ثناء کول او په دے باندے هغهٔ سره محبت ساتل او شکر کول او هغه داسے چه د هغهٔ په طاعت او فرمانبردارئ کښے ئے استعمال کړي۔

٥ او په نعمتونو سره د الله دَ تعبد کولو د باريکاتو نه دا خبره ده چه هغه په خپل ځان باندے کم نعمت زيات اوګنړي او په دے باندے خپل ډير شکر کم اوګنړي، او دا اوپيژني چه دا ورته د خپل آقا د طرفنه رارسيدلی دی، په غير د څهٔ قيمت خرچ کولو او په غير د څه وسيلے نه چه دهٔ اختيار کړے وي او بغير د استحقاق ددهٔ نه۔ او دا په حقيقت کښے د هغهٔ د طرفه اوګنړي نه د بنده دپاره۔ او نعمتونه په دهٔ کښے نور هم عجز، انکسار، ذلت، تواضع او د مُنعِم محبت زيات کړي، څومره چه هغه پرے نعمتونه کوي، هغومره دے په عبادت کښے مخکښے روان وي۔ او کله چه هغه ددهٔ نه اخلي نو دے په هغے رضا ښکاره کوي، او هر کله چه ګناه اوکړي نو هغے دپاره توبه او انکسار او اعتذار پيدا کړي۔ نو دا هوښيار بنده دے۔ او عاجز انسان ددے نه ډير لرے دے۔

ولا حول ولا قوه الا بالله العزيز الحكيم.

(ذكره ابن القيمؒ بأتم منه فى الفوائد ص ١٩٤).

او دا ډيره عمده فائده ده !!

۵۱ - فائده : اوچت همت

اوچت همت يو لوئے نعمت دے چه الله ئے چاته ورکړی

او هغه دا چه ته د اوچتو کارونو تالاش کوے يعني : ايمان، احسان، د رحمٰن محبت، په جنتونو کښيے او په هغه نعمتونو او خوشحاليو کښيے چه په هغے کښيے الله تيارے کړے دی رغبت کول. بيا به ته د الله دپاره په خپل نيك عمل باندے راضی نه ئے بلکه ددے دپاسه نوره رضامندی به هم تالاش کوے او دابه وائے : آرمان دے چه زما يو لاکھ ژبے وے چه په هغے سره مے د الله تعالیٰ حمد او ثناء کولے، او آرمان دے چه زما لوئے زړهٔ وے چه هغه مے دَ هغهٔ په محبت او احسان او د هغهٔ په خشوع باندے ډك کړے وے. او آرمان دے چه زما دَ غرونو هومره سترگے وے او د هغے نه د الله سبحانه د ويرے د وجے نه د اوښکو نهرونه روان وے.

او تهٔ پريوتی او ذليله کارونه بد اوگنړے لکه حديث کښيے دی : « الله اوچت کارونه خوښوی او پريوتی کارونه بد گنړی ».

او هغه دا چه د بعضے خلقو همت خيټه ډکول وی، د بعضو همت په ښځه او د جماع په طاقت کښيے وی، او د بعضو همت صرف دَ يارانو او دوستانو ملگرتيا وی.

لکه ابن قيم رحمه الله فرمائی :

وَرَأَتْ عُقُوْلَ النَّاسِ دَائِرَةً عَلٰى ○ جَمْعِ الْحُطَامِ وَخِدْمَةِ السُّلْطَانِ
وَعَلَى الْمَلِيْحِ وَالْمَلِيْحَةِ وَعِشْرَةِ ○ الْأَحْبَابِ وَالْأَصْحَابِ وَالْخُلَّانَ
فَاسْتَوْعَرَتْ تَرْكَ الْجَمِيْعِ وَلَمْ ○ تَجِدْ عِوَضًا تَلَذُّ بِهِ مِنَ الْإِحْسَانَ
يَا سِلْعَةَ الرَّحْمٰنِ لَوْلَا أَنَّهَا ○ حُجِبَتْ بِكُلِّ مَكَارِهِ الْإِنْسَانَ
مَا كَانَ عَنْهَا قَطُّ مِنْ مُتَخَلِّفٍ ○ وَتَعَطَّلَتْ دَارُ الْجَزَاءِ الثَّانِيْ
لٰكِنَّهَا حُجِبَتْ بِكُلِّ كَرِيْهَةٍ ○ لِيَصُدَّ عَنْهَا الْعَاجِزُ الْمُتَوَانِيْ
وَتَنَالُهَا الْهِمَمُ الَّتِيْ تَسْمُوْ إِلٰى ○ رَبِّ الْعُلٰى بِمَشِيْئَةِ الرَّحْمٰنِ
وَصَلَاحُهُ وَفَلَاحُهُ وَنَعِيْمُهُ ○ تَجْرِيْدُ هٰذَا الْحُبِّ لِلرَّحْمٰنِ

(او د خلقو عقلونه ئے اوليدل چه د دنيا په راجمع کولو، د بادشاه په خدمت، د نمکين او دَ نمکينے په محبت او د يارانو او دوستانو او ملگرو په صحبت باندے دائر (روان) وو. نو ددے

تهولو پريخودل ئې گران اوګڼړل او د احسان نه ئې داسې عوض بيانۀ موند چه په هغې سره دا خوند واخلي۔ اې د رحمٰن مبيعې (سودا) ! که چرې تۀ د انسان په نابرداشته څيزونو باندې پرده پوښه نۀ وې نو ستانه به هيڅوك پاتې شوي نۀ وې او دَ بدئې دويم كور به بيكار پاتې شوې وې۔ ليکن تۀ په هر قِسم نازغمه څيزونه باندې پرده پوښه شوې ئې، دې دپاره چه ستا نه سست او عاجزه سرې پاتې راشي۔ او تالره هغه همت ناك خلق حاصل کړي چه هغه د رحمٰن ذاتِ په مشيت باندې الله ته پورته ورځي۔ تر آخره پورې۔ بيا فرمائي : ددۀ صلاح، فلاح او نعمت دادې چه دا محبت دَ رحمٰن ذات دپاره يواځې اوکړې شي)۔

حديث کښې دي : خلقو باندې به داسې زمانه راشي چه د دوئ همت به خيټې وي، شرافت به ئې سامان وي، ښځې به ئې قبله وي او دين به ئې روپئ او اشرفئ وي۔ دا ډيرناكاره خلق دي، د الله په نيز هيڅ برخه نۀ لري۔ (کنز العمال ١١/١٩،٢)

(ددې په سند کښې خبرې اترې شته)۔

اورسول الله ﷺ به په خپله دعاء کښې فرمائيل : اې الله ! دنيا زمونږ لوئې همت مۀ جوړوه اونۀ ځائې د رسيدلو د علم زمونږ۔

دې خوږو كلماتو کښې سوچ اوکړه !

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ﴾ [المطففين: ٢٦] (او په دې کښې دې رغبت واخلي رغبت اخستونکی)۔

اوچت همتونه اوقات غنيمت ګڼړي، دې دپاره چه باقيات صالحات په کښې اوګټي او هيڅ كله د اوقاتو په ضائع كيدلو نه خوشحاليږي۔ او كله چه په هغې يو وخت تير شي چه په هغې کښې هغوئ علم اوعملِ صالح اونه ګټي نو دا خپل عمر نه ګڼړي۔ لکه شاعر وائي۔

اِذَا مَرَّ بِيْ يَوْمٌ وَلَمْ اَتَّخِذْ يَدًا ٥ وَلَمْ اَسْتَفِدْ عِلْمًا فَمَا ذَاكَ مِنْ عُمْرِيْ

(كله چه په ما څه وخت تير شي اوزۀ په هغې کښې څه احسان اونه کړم او نۀ په کښې علم حاصل کړم نو دا زما د عمر نه نۀ دې)۔(نفحة العرب)

★ اوچت همت د خپلو تهولو غمونو نه يو غم جوړوي يعنی د آخرت غم۔ لکه حديث کښې دي (چاچه تهول غمونه يو غم جوړ کړو يعنی د آخرت غم، الله به ددۀ د دنيا او د آخرت د غمونو نه كافي شي)۔ الحديث۔

دارنګه روستو حديث راځي : «د چاچه آخرت همت جوړ شو، الله به ددۀ خوارۀ كارونه

راجمع کړی »۔ الحدیث۔

د بعضو خلقو همت په ښکته او پریوتو څیزونو کښې وی، نو ته به ئے وینې چه په معمولی څیزونو کښې به جګړے او بحثونه کوی او په بے فائدے خبرو کښې به سوچ کوی او د بے قیمته کارونو اهتمام به کوی او غټ څیزونه او لوئے مسائل به هیروی لکه د ایمان مسائل، د الله عز وجل د معرفت، د هغهٔ د وقار او جمال او عظمت دارنګ د رسول الله ﷺ د محبت او ادب او عزت، او د کتاب او سنت سره د محبت او ددے د نشر او اشاعت او په دے باندے عمل کول او په بدعتونو او اهواء او آراء باندے رد کول او جهاد فی سبیل الله مسائل به هیروی۔ نو پاکی ده هغه ذات لره چه د همتونو ترمینځه ئے دا فرق ساتلے دے۔

بعضے خلق داسے دی که د الله نه یو ساعت هم غافل شی نو خپل ځان د منافقانو نه ګنړی۔ لکه حنظله رضی الله عنه اوفرمائیل : « حنظله منافق شوے دے »۔

وَلَوْ خَطَرَتْ لِیْ فِیْ سِوَاكَ اِرَادَةٌ ٥ لَحَكَمْتُ عِنْدَ ذَاكَ بِرِدَّتِیْ

(که زما په زړهٔ کښې ستانه علاوه د بل چا اراده قدرے هم تیره شی نو زهٔ به په خپل ځان باندے دَ ارتداد فیصله اوکړم)۔(شرح فقه اکبر)

خپل رب ته دا آواز کوی چه اے الله! زما زړهٔ په خپل دین باندے ټینګ کړه، او اے د زړونو اړونکیه! زمونږ زړونه په خپل طاعت باندے راواړوه!

دا وجه ده چه نبی اکرم ﷺ به د خپل دنیوی کارونو دومره اهتمام نه کولو۔ لکه عمر بن خطاب ﷺ ته ئے اوفرمائیل : «د خطاب ځویه! آیا ته په دے کښې ئے ؟ »۔

د مسلمان سړی همت چه کله اوچت شی نو بیا د ګرمئ یخنئ، لوږے، تندے، لباس، ځائے او د نرم او زیګ مکان پرواه نهٔ کوی۔

تهٔ به ډیر خلق وینے چه د اوچتو خبرو اهتمام نهٔ کوی چه د هغے نه بغیر د بنده کامیابی نشی کیدے۔ او دَ یخنئ ګرمی او لوږے تندے او داسے کارونو غم به ورسره وی چه په هغے کښې انسان د حیوان سره شریك دے۔ او په هغه شئ کښې به فکر نهٔ کوی چه په هغے کښې انسان د هغهٔ نه جدا دے او هغه دهٔ لره اعلیٰ درجاتو ته رسوی۔ والله المستعان۔

د نبی کریم ﷺ دے قول ته اوګوره « د خطاب ځویه! آیا تهٔ په دے کښې ئے ؟ دا خو داسے خلق دی چه د دوئ مزے دوئ ته په دنیا کښې ورکړے شوی دی »۔

دارنګه د ابو بکر صدیق ﷺ دے قول ته چه : « څوك چه په دے دروازو کښې د یوے دروازے نه را اوبللے شی د هغهٔ دیته ضرورت نشته، نو آیا داسے څوك هم شته چه ددے ټولو دروازو

نه به ورته آواز کيدلے شی ؟ نبی ﷺ اوفرمائيل : آو۔ او زما اميد دے چه ته به د هغوئ نه ئے »۔

(رواه البخاری وهو فی المشكاة)

د صحابه كرامو - رضی الله عنهم - ډير اوچت همتونه وو۔ يو يے تورے زنانه په صحت باندے جنت له ترجيح ورکړه۔

او ابو درداء ﷺ به فرمائيل : خلق فقر، مرګ او مرض بد ګنړی او زۀ ئے خوښ ګنړم۔

په يو حديث کښے دی : « خلقو باندے به داسے زمانه راشی چه د دوئ همت به خيټے وی، شرافت به ئے سامان وی، ښځے به ئے قبله وی او دين به ئے روپئ او اشرفئ وی۔ دا ډير ناکاره خلق دی، د الله په نيز هيڅ برخه نۀ لری »۔

(رواه السلمی عن علی رضی الله عنه مرفوعا، كذا فی الكنز رقم ٣١١٨٦، ١١/١٩٢).

ددے په سند کښے خبرے اترے شته)۔

په احاديثو کښے دا قِسم اوچت همتونه ذکر شوی دی، لکه د غزوه بدر په موقع د مقداد ﷺ دا قول : که چرے ته مونږ ته حکم اوکړے چه سمندر ته اودانګو نو خامخا به اودانګو، او يابه برك الغماد (علاقے) پورے اوښان بوځو۔

او لکه دا قول د نبی ﷺ : « آيا په تاسو کښے يو کس ددے نه عاجزه دے چه د بنی اسرائيلو د بوډئ غونته شی، هغے د موسیٰ عليه السلام نه اوغوښتل چه په جنت کښے دے دا هغۀ سره وی۔ کله چه هغۀ د هغے نه د يوسف عليه السلام د قبر په باره کښے تپوس اوکړو، نو د هغے نه علاوه بل هيچا ته معلوم نۀ وو، نو هغے دا شرط اولګولو چه دا درته هله درښايم چه زۀ به تاسره په جنت کښے يم »۔

دا خبره نبی ﷺ په هغه موقع کښے اوکړه کله چه يو بانډه چی د هغوئ نه دَ پالان سره د يوے ناقے او د ګډو بزو باره کښے تپوس اوکړو۔

(المستدرك، او دا صحيح حديث دے، شيخ البانی په الصحيحة کښے پوره ذکرکړے)۔

د اوچتو همتونو ډير زيات فوائد دی، بعضے مونږ په فائده نمبر () کښے ذکر کړی دی، هلته ئے اوګوره۔

✿✿✿✿✿✿

٥٢ - فائده جیّده

د استقامت بیان

استقامت یو عزتمند عمل دے چه قرآن او سنت په دے باندے امر کړے دے، او دا دَ زرو کرامتونو نه غوره دے.

د استقامت معنیٰ داده چه تهٔ د الله په امر او نهی باندے مضبوط اوسے او دَ ګیدړانو غونته تربے نهٔ اوړے راوړے، لکه چه دا معنیٰ ﷺ فرمائیلے ده.

یا استقامت فرائض اداء کولو ته وائی. (علی ﷺ).

یا داچه، استقامت الله سره هیڅ قِسم شرك نهٔ کولو ته وائی.

د استقامت دپاره څه ارکان دی چه په هغے باندے ددے بنیاد ولاړ دے، کله چه په هغے کښے یو خراب شی نو د استقامت بنیاد مضبوط نهٔ وی. او هغه ارکان او پائے دادی: (١) جوړښت (٢) اتباع السنت والجماعت (٣) درمیانه روی (٤) ښائسته اخلاق (٥) نیك ملګرے.

(١) د جوړښت نه مراد داچه د انسان ظاهر او باطن په خبرو، کارونو او مقصدونو کښے روغ وی، ظاهری عباداتو باندے راتګ کوی او د حرام شوو تولو کارونو نه ځان ساتی، او په الله باندے رشتینے ایمان لری. نو کله چه زړهٔ سَم شی نو بیا نور اندامونه سمیږی، لکه حدیث کښے دی (خبردار! په بدن کښے یوه ټکړه ده کله چه هغه سمه شی نو ټول بدن سمیږی او هغه زړهٔ دے). او په هر عمل کښے دوه شرطه ضروری دی: اخلاص او اتباع سنت.

(٢) د سنت او جماعت نه مراد داچه: انسان دَ زندګئ په تولو کارونو کښے دَ سلفو په منهج او د صحابه کرامؓ او تابعینوؒ په فهم باندے د نبی کریم ﷺ تابعداری کوی. او ددے جملے دلائل معلوم دی.

(٣) درمیانه رویٔ نه مراد داچه: په خپلو تولو کارونو کښے، عبادات وی که معاملات او که اخلاقیات وی دَ افراط او تفریط ترمینځه وی، نهٔ په کښے غلو او سختی وی او نهٔ په کښے تفریط او سستی وی. ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا ﴾ [البقرة: ١٤٣] (او دغسے مونږ

تاسو درميانه امت جوړ کړی ئې)۔ او دا برابره لاره ده د مغضوب عليهم او ضالينو د لارې ترمينځه ده۔

حديث کښې دی (خپل ځانونه په دين کښې د غلو (زياتی) نه اوساتئ ځکه ستاسو نه مخکنی خلق په دين کښې په غلو کولو باندې هلاك شوی دی)۔

(احمد، نسائي، حاکم، بسند صحيح عن ابن عباس مرفوعا)

او په صحيح مسلم کښې د ابن مسعود ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «بې ځايه سختی کونکی خلق تباه شو، درې ځله ئې دا اوفرمائيل»۔

حديث کښې دی: «خپل ځانونو سره د سختئ معامله مه کوئ ګنې الله به هم تاسو سره د سختئ معامله اوکړی»۔او حديث کښې دی «دين آسان دے»۔

او بل حديث کښې دی «ستا د نفس هم په تا حق شته، او ستا د سترګو هم په تا حق شته» يو ويونکی رشتيا وئيلی دی: څوك چه دعوىٰ کوی هلاك شو، څوك چه په کارونو کښې دغسې ورننواتۀ تباه شو، ښې او ګس اړخ هلاکت دے او درميانه لار لوئې سړك دے۔

(٤) او ښائسته اخلاق د دين بنياد او د متقينو د مجاهدې ميوه ده۔ په دې باندې ددې خاوند اوچتو درجو ته پورته کيږی۔

حديث کښې دی: (د مؤمن په تله کښې د ښو اخلاقو نه د قيامت په ورځ بل هيڅ يو شے زيات دروند نۀ دے، او بيشکه الله تعالىٰ د بې حياء او پوچ ګويه سره بغض لری)۔ (ترمذی)

او فرمائی: (او خلقو سره ښۀ سلوك کوه)۔

او حديث کښې دی: (د ايمان په لحاظ په مؤمنانو کښې کامل ترين هغه څوك دے چه د دوئ نه په اخلاقو کښې ښۀ وی)۔(رواه الترمذی وحسنه)

نو مؤمن له پکار دی چه په خپلو ټولو کارونو کښې د نبی کريم ﷺ اقتداء اوکړی او آسانئ او سَخا، فراخ تهندئ او امانت کښې د هغوئ اقتداء اوکړی۔

بيا د **ښائسته اخلاقو څه علامات دی**، غټ غټ په کښې دادی:

١ - **تواضع**: او دا د صحيح علم سره ملګرې څيز دے، څومره چه د انسان علم زياتيږی هغومره به ئې تواضع زياتيږی، او کبر او لوئې والے د جهل ملګرې دے۔ او څوك چه الله ته عاجزی کوی، الله هغه اوچتوی۔

٢-**رشتيا وئيل**: يعنی د يو څيز نه هغسې خبر ورکول چه په نفس الأمر کښې هغه هغسې وی، قول وی که فعل۔ او رشتيا وئيل نيکئ ته رسول کوی او نيکی جنت ته رسول کوی۔

۳ - **حیاء** : او دا دَ خرابو کارونو نه خپل نفس بندولو ته او ددې په وجه پرېښودلو ته وائي. او دا شریفانه خوئے دے، ددې نتیجه ټول خیر خیر دے، او دا یوه عظیمه شعبه ده د ایمان د شعبو نه. یو رشتینے پرهیزګاره مسلمان ژوندے او تهذیب یافته، نرم خویه او باحِسه شخص وي، ددهٔ نه څه داسے خراب کار نهٔ کیږي چه خلقو ته ضرر ورکړي او نهٔ د کوم حقدار په حق کښې کوتاهي کوي.

٤ - **رفق** : یعنی اړخ نرمول او آسانئ باندے عمل کول.

حدیث کښې دي : « نرمي په هیڅ شئ کښې نهٔ ننوځي مګر هغه ښائسته کوي، او د هیڅ یو شئ نه نهٔ اوځي مګر هغه بدرنګوي ».

او الله تعالی فرمائي : ﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ﴾ [آل عمران: ۱۵۹]

(نو د الله په رحمت سره تهٔ دوئ- ملګرو - دپاره نرم ئے).

سفیانؒ خپلو ملګرو ته اوفرمائیل : تاسو رفق (نرمي) پیژنئ ؟ هغوئ وئیلے : تهٔ ئے اووایه اے ابو محمده ! وئیلے : چه تهٔ هر یو کار په خپل خپل ځائے باندے اوکړے، سختي په خپل ځائے، نرمي په خپل ځائے، توره په خپل ځائے او چابك په خپل ځائے.

نو نرمي د ښائسته اخلاقو نتیجه ده، خو ددے نه مراد په دین کښې مداهنت او سستي نهٔ ده، بلکه نرمه خبره او آساني کول دي.

٥ - **رحمت** : او دا د داسے نرمئ نوم دے چه رحم کړے شوي سره د ښیګړے تقاضا کوي.

حدیث کښې دي : « هیچرے تاسو مؤمنان کیدلے نشئ تر څوك چه یو بل باندے رحم او نهٔ کړئ. صحابوؓ عرض اوکړو، یا رسول الله ! په موږ کښې خو هر یو کس رحمدله دے، وے فرمائیل : د رحم نه دا مراد نهٔ دے چه پتاسو کښې یو کس په خپل ملګري باندے رحم اوکړي، بلکه رحم نه مراد دا چه په ټولو خلقو باندے عام طور سره رحم اوکړے شي ».

(طبراني د ابو موسیٰ اشعري ﷺ نه نقل کړے).

حدیث کښې دي « څوك چه په بل چا رحم نه کوي په هغهٔ باندے هم رحم نه کیږي ».

او یو بل حدیث کښې دي : « رحمت خو صرف د بدبخته کس نه ویستلے شي، تهٔ په زمکے والو رحم اوکړه، آسمان والا به په تا رحم اوکړي ».

(طبراني په صحیح سند سره روایت کړے).

٦ - **صبر** : او دا په قول او فعل کښې خپل نفس دَ حد نه تجاوز کولو نه بندولو ته وائي.

حدیث کښې دي : « د مؤمن معامله څه عجیبه شان ده ! که تکلیف ورته اورسي صبر

کوې نو دا ورله غوره ده، اوکه خوشحالي ورته اورسي شکر کوي نو دا ورله بهتره ده».
(مسلم باختصار)

صبر او يقين سره په دين کښې امامت او مشري ملاويږي. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا وَكَانُوْا بِآيَاتِنَا يُوْقِنُوْنَ﴾ [الم سجده: ٢٤] (او مونږ د دوئ نه امامان جوړ کړل چه زمونږ په حکم به ئے د خلقو رهنمائي کوله هر کله چه دوئ صبر اوکړو او زمونږ په آيتونو ئے يقين لرلو). د صبر فضائل مشهور دي.

٧ - **د علم اوفضل والو عزت کول**: د ښائسته خوئے يوه نښه د علم او فضل والو عزت کول دي. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ [حج: ٣٢] (او څوك چه د الله د دين د نښو عزت کوي نو دا دَ زړونو اخلاص دے).

عائشه رضي الله عنها فرمائي: «مونږ ته رسول الله ﷺ حکم کړے چه هر څوك په خپله خپله مرتبه کښې اوګڼړو».(رواه مسلم في مقدمته)

په يو حديث کښې دي: «د مسلمان بوډا عزت کول، دَ هغه حاملِ قرآن عزت کول چه په هغې کښې غلو نهٔ کوي اونهٔ ترے لرے والے اختياروي، او دَ انصاف دار بادشاه عزت کول، د الله عزت کول دي». (ابوداود)

په يو بل حديث کښې دي: «هغه څوك مونږ نه نهٔ دے چه زمونږ په وړوکي رحم نهٔ کوي، زمونږ د مشر عزت نهٔ کوي او زمونږ د عالم شرافت نهٔ پيژني».

په يو بل حديث کښې دي: «کوم ځوان چه دَ بوډا عزت د هغهٔ د عمر د وجے نه اوکړو، الله تعالىٰ به دهٔ لره - کله چه دے عمر ته اورسيږي - داسے څوك مقرر کړي چه ددهٔ عزت به کوي».

٨ - **ښائسته** اوخوښو عادتونو باندے ځان ښائسته کول کوم چه مونږ ته شريعت راخودلي دي لکه ځوانمردي، جُود او سَخا، فراخ تندي، د محتاجو امداد کول او د خلقو حاجتونو پوره کول.

دے باره کښے ډير نصوص راغلي او دا په استقامت باندے دليل او مدد ورکونکے دے.

٩ - **بے فائدے خبرے** (او کارونه) پريخودل، او دا هر هغه قول او فعل دے چه نهٔ په دنيا کښے فائده کوي اونهٔ په آخرت کښے.

نو نهٔ په ګپ شپ او لوبو ټوقو باندے وخت ضائع کوي او نهٔ په خوندونو او مزو او مباحاتو کښے ډوبيږي، پاتے لا دا چه حرام کارونه اوکړي.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ﴾ [مومنون: ٣] (او هغه خلق چه دوئ د بے فائدے کارونو نه مخ اړوي)۔ او فرمائي : ﴿ وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ﴾ [الفرقان: ٧٢] (اوکله چه دوئ په بے فائدے کارونو ورتيرېږي نو عزتمند ورتيرېږي)۔

وخت ضائع کول څکه نهٔ دي پکار چه د مسلمان سرې دَ وختونو نه هم زيات ضروري کارونه دي۔

حسنؒ فرمائي : رشتياؤ دوئ لره د لغوے نه مشغول کړي دي۔

١٠ - بد گمانئ نه ځان ساتل :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ ﴾ [الحجرات: ١٢] (اے ايمان والو ! د ډيرو گمانونو نه ځان اوساتئ ځکه بعضے گمانونه گناه ده)۔

او حديث کښے دي (ځان د گمانونه نه اوساتئ ولے چه گمان غټه دروغژنه خبره ده)۔ (متفق عليه)

نو د مسلمان خوئے به دا نهٔ وي چه په خلقو باندے بدگماني کوي او يا د هغوئ رازونه راښکاره کوي او يا د هغوئ په عزت اخستو کښے لگيا وي، بلکه دَ هغے دپاره به عذرونه لټوي۔

بعضے سلفوؒ نه نقل دي : زهٔ د خپل ورور دپاره دَ يو نه واخله اوياؤ پورے عذرونه لټوم، بيا وايم : کيدے شي چه د هغهٔ دپاره يو بل عذر وي او ماته معلوم نهٔ وي۔

نو دَ بل چا په عيبونو پسے لگيدل او خپل عيبونه پريخودل د خپل نفس هغه تزکيه ده چه ددے نه منع راغلے ده۔ بلکه دهٔ له پکار دي چه د مسلمان په ظاهر او ښکاره حالت باندے فيصله کوي۔

لکه عمر ﷺ فرمائي : څه خلق به د رسول الله ﷺ په زمانه کښے په وحی سره رانيولے شو او اوس وحي بنده شوے ده لهذا اوس به مونږ تاسو ستاسو په ظاهري حالاتو باندے رانيسو۔(رواه البخاري ١/، وعبد الرزاق)

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ﴾ [الاسراء: ٣٦] (هغه شئ پسے مه روانيږه چه د هغے علم درته نهٔ وي، بيشکه غوږ، سترگه او زړهٔ ددے ټولو باره کښے به تپوس کيدے شي)۔

١١ - حسد نه ځان ساتل : او دا معلوم شے دے چه ضررئے ډير زيات دے۔

عمر بن عبد العزيز – رحمه الله – فرمائي : ما دَ حسدگر نه علاوه بل هيڅ يو ظالم نهٔ دے

لیدلې چه هغه د مظلوم سره مشابه وی، همیشه غمژن او همیشه ساه تیګاه وی، او حسد اولنۍ ګناه ده چه په آسمان او زمکه کښې د الله شوې ده د ابلیس او قابیل نه۔
د ابن حبانؒ په روایت کښې دی: «دَ بنده په زړه کښې ایمان او حسَد دواړه نشی جمع کیدې»۔
او دا طاعات خرابوی او په دې کښې لوئې وعید راغلې دې۔
۱۲ - د ژبې حفاظت کول: ددې ساتل واجب دی، او ددې ډیر زیات ضرورنه دی۔
رسول الله ﷺ فرمائی: « د هیڅ یو بنده ایمان نشی برابریدې تردې چه ددهٔ زړهٔ برابر شی، او زړهٔ ئې نهٔ برابریږی تردې چه ددهٔ ژبه برابره شی »۔
(رواه احمد عن انس ﷺ مرفوعا).
د ژبې حفاظت د جنت سبب دې۔ سهل بن سعد ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (څوك چه زما دپاره د هغه شئ ضمانت واخلی چه هغه ددهٔ دَ دواړو ژامو او ددهٔ د دواړو خپو ترمینځه دې، نو زهٔ به هغهٔ دپاره د جنت ضمانت واخلم)۔
یو بل حدیث کښې دی، معاذ ﷺ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، آیا مونږ به په خپلو خبرو باندې رانیولې کیږو ؟ ورته ئې اوفرمائیل: (مور دې بوره شه ! خلق چه په اور کښې پړمخې غورزیدلی دی نو دا د دوئ د ژبو دَ لو شوو - خبرو - د وجې)۔
یو بل حدیث کښې دی: « مسلمان هغه دې چه نور مسلمانان د هغهٔ دَ ژبې او لاس نه محفوظ وی »۔
د ژبې ډیر زیات آفتونه دی۔ په هغې کښې سخت آفتونه: (۱) غیبت (۲) چغلی (۳) په باطل کښې لګیدل لکه د ښځو تذکره او دَ فسق د ځایونو او دې حیاء قیصو وغیره تذکره۔ (٤) جګړې او بحثونه (٥) کنځل کول او عیبونه لګول او پوچ ګوئی او د کفر فتوې لګول۔ (٦) توقې او استهزاء کول۔
۵ - او هرچه نیک ملګر ے دے: نو دهٔ دپاره په استقامت کښې لوئې اثر دې۔ حدیث کښې دی: « سړې د خپل دوست په دین باندې وی نو پتاسو کښې دې یو کس ددې خیال ساتی چه چا سره دوستی کوی »۔ دارنګه فرمائی: (د نیك ملګری او د بد ملګری مثال خو د هغه کس پشان دې چه په هغوئ کښې یو د مشکو والا وی او بل د بنئ (بټئ) والا۔
وهب بن منبهؒ فرما ئی: مانه درې خبرې یادې کړئ: (۱) ځان د داسې خواهش نه اوساتئ چه د هغې تابعداری کیږی (۲) د بد ملګری نه (۳) او دَ سړی خپل ځانته د غرَه کیدونه۔

o هغه اسباب چه د استقامت په تطبيقولو کښې پکار راځی :

(١) کور (٢) مدرسه (٣) علماء او داعيان (٤) مسجد (٥) معاشره (٦) خبردارے (٧) ذکر او دعاء۔

علی ﷺ فرمائی : څوك چه د قبيلے نه بغير عزت، د مال نه بغير مالداری، د بادشاهئ نه بغير هيبت، او دَ ملګرونه بغير مخوريزی غواړی، نو هغهٔ له پکار دی چه دَ الله د نافرمانئ د ذلت نه دَ الله د طاعت عزت طرفته راوځی۔

(رواه البيهقی فی شعب الايمان).



۵۳ - فائده

ایمان زیاتونکی او مضبوطونکی اسباب

چه دیته هغه مؤمن محتاج دے چه هغهٔ ته ایمان محبوب وی۔
او هغه د هغه اسبابو پیژندل دی چه د ایمان زیاتولو او مضبوطولو سبب دے۔ نو هغه:
۱ - د الله اسماء او صفات پیژندل، هغے کښے سوچ کول او په هغے باندے په تدبر او تعبد سره عمل کول۔
۲ - قرآن کښے تدبر کول۔ او دا په کښے ډیر اهم سبب دے۔
۳ - کائناتو، زمکه او آسمان، نمر او سپوږمئ، شپه او ورځ وغیره کښے فکر کول۔
٤ - په غټ او وړوکی هر یو عمل کښے د سنتِ نبوی اتباع کول۔
۵ - د الله عز وجل ذکر ډیر کول۔
٦ - د زړهٔ په خشوع خضوع او توجه سره د الله عز وجل نه دعاء غوښتل۔
۷ - ښائسته اخلاق استعمالول، بلکه دا خو بهترین ایمان دے۔
۸ - د نبی کریم ﷺ معجزات پیژندل۔
۹ - د نبی کریم ﷺ منفرد شخصیت او د هغوئ خواږهٔ اخلاق او زړهٔ راخکونکی عادات پیژندل۔
۱۰ - د اسلامی دین خوبیٔ او محاسن پیژندل۔
۱۱ - د کفر او منافقت د شعبو او اعمالو نه ځان ساتل، ځکه چه د اشیاؤ وضاحت په اضدادو سره کیږی۔
۱۲ - بعضے وخت الله سره یو اځے والے اختیارول۔
۱۳ - نیکانو علماؤ سره ناسته او د هغوئ خوږے خبرے راغونډول۔
١٤ - د قرآن او حدیث علم ۔
۱۵ - هر عبادت کښے احسان کول۔
١٦ - الله سره د عاجزیٔ او ښائسته ادب معامله کول۔
۱۷ - الله دپاره ایمان والو سره محبت ساتل۔

١٨ - هر هغه شئ نه ډېره کول چه هغه د الله نه لرې کول کوي.
١٩ - د الله په لاره کښې جهاد کول.
٢٠ - هر يو نيك عمل. ځكه هر نيك عمل د مؤمن په ايمان كښې زيادت راولي.
او دا كارونه تفصيل او دليل ته محتاج دي، ليكن ددې د ظهور دَ وجې نه مونږ اجمالي ذكر كړل، او دې دپاره چه ددې حفظ آسان شي.
د الله عز وجل نه غواړم چه زمونږ ايمان او يقين مضبوط كړي او د خپلو رشتينو مؤمنانو بندګانو نه مو حساب كړي. آمين !
او ددې خبرو دلائل ما دَ رمضان په درسونو كښې تفصيلي ذكر كړي دي، والحمد لله على توفيقه.



٥٤ - فائده

د منافقت علامات پيژندل او ځان ترې ساتل

دا پيژندل واجب او ددے نه يره لازم ده، ځکه دا ډير عام دى او په عامو خلقو كښے راغلى دى، حال دا چه دا د تباهئ اسباب دى۔
سلف صالحين به ددے نه يريدل او ددے د ارتكاب نه به ئے په الله پورے پناه او دعاګانے غوښتے--- حسنؒ فرمائى : نفاق نه نه يريږى مګر مؤمن، او ددے نه يے غمه كيږى مګر منافق۔(صحيح بخارى)
عمر ﷺ چه د جنت زيرے ورته وركړے شوے دے، هغه به ددے نه يريدلو او حذيفه ﷺ ته به ئے وئيلے : آيا د منافقانو په نومونو كښے خو چرته زما نوم نشته ؟ هغه به وئيلے : نه۔ او ستا نه پس به د هيچا تزكيه زۀ اونه كړم۔
ابن أبى مليكه - رحمه الله - فرمائى : ما د نبى ﷺ ديرش صحابه موندلى دى چه هغه ټول به په خپل ځان باندے د منافقت نه يريدل۔
يو سړى اووئيل : يا الله ! منافقان هلاك كړے ! نو حذيفه ﷺ ورته اوفرمائيل : بيا خو به تۀ په لاره يواځے روان ئے۔ يعنى كله چه منافقان هلاك شى نو بيا خو به ډير كم خلق پاتے شى نو لارے كوڅے به د خلقو نه خالى شى۔
نبى كريم ﷺ به دا دعاء كوله : (اے الله ! زۀ پتا پورے د اختلاف، نفاق او بد خوئے نه پناه غواړم)--- او دا ئے د خپل امت د تعليم دپاره اوكړه چه دوئ د نفاق نه پناه غواړى ځكه چه دا ډير زيات دے۔
يو سړى حسنؒ ته اووئيل : څه خلق دى وائى مونږ د نفاق نه نۀ يريږو۔ وے فرمائيل : قسم په الله ! كه چرے ماته معلومه شى چه زۀ دَ منافقت نه بيزاره يم، دا ماته د سرو زرو دَ ډيركو نه زياته غوره ده۔ (احياء العلوم : ۱/۲۱۷)
يو سړى حذيفه ﷺ ته اوفرمائيل : زۀ د منافقت نه يريږم، ورته ئے اوفرمائيل : كه چرے تۀ منافق وے نو دے نه به نۀ يريدلے(۱/۲۱۷)
نو هغه مسلمان له چه هغه په خپل ايمان باندے يريږى، په آخرت ايمان لرى او د حساب

غم ورسره وي، پکار دي چه د منافقت علامات اوپيژني، دے دپاره چه هغے نه ځان اوساتي.
اوس زهٔ د الله په توفيق سره دَ کتاب او سُنت او دَ سلفِ صالحينو ؒ نه:
دَ منافقت علامات ذکر کوم:
د منافقانو مرکزي درے صفات دي:
۱ – مخلوق له په خالق باندے ترجيح ورکول، او دَ الله عز وجل د لحاظ نه زيات د بندګانو لحاظ ساتل۔
۲ – دروغ وئيل۔
۳ – د الله عز وجل د ياد نه غافله کيدل۔
٤ – په اولني صفت کښے دا هم داخل دي چه دوئ ځان ښودنے دپاره عمل کوي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يُرَاءُوْنَ النَّاسَ﴾ [النساء: ١٤٢] (خلقو ته ځان ښائي)۔
٥ – دارنګه دوئ د الله په نسبت د خلقو نه زيات شرميږي۔
٦ – دارنګه د الله په نسبت د خلقو نه زيات ځان پټوي (حياء کوي)۔ الله فرمائي:
﴿يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَايَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَايَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ﴾ [النساء: ١٠٨]
(د خلقو نه ځان پټوي او د الله نه ځان نهٔ پټوي حال دا چه هغه خو د دوئ سره وي کله چه دوئ دَ هغهٔ په ناخوښه خبرو سره شپه تيروي)۔
۷ – د الله نه زيات د بندګانو نه ډير يريږي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللهِ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ﴾ [الحشر: ١٣] (خامخا تاسو د دوئ په سينو کښے د الله نه زيات رُعب لرئ، دا په دے وجه چه دوئ ناپوهه خلق دي)۔
۸ – خلق چه دوئ له څه تکليف ورکړي نو دا دَ دوئ په نيز د الله د عذاب نه هم غټ شے وي، دا وجه ده چه دوئ په دے وخت کښے دين پريدي او د خلقو نه د ويرے په وجه هغوئ سره مداهنت کوي او د هغوئ د ملامتيا نه يريږي۔
الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللهِ﴾ [العنکبوت: ١٠] (بعضے داسے دي چه وائي مونږ ايمان راوړے په الله خو چه کله د الله په باره کښے ورته تکليف اورسي نو بيا د خلقو آزمائش د الله د عذاب په شان ګنړي)۔
يعني د امتحان په وخت دين پريدي او ارتداد او مداهنت اختياروي۔ والله المستعان۔
۹ – د منافقانو ښکاره صفت دروغ وئيل دي، بلکه دا د منافقت جرړه او بنياد دے۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ﴾ [البقرة: ١٠] (او دوئ له دردناك عذاب دے

په سبب ددې چه دوئ به دروغ وئيل)۔ نو عذاب ئے د دوئ په دروغو باندے مرتب کړو او دائے ددے سبب اوګرزولو۔

اورسول الله ﷺ فرمائی : (څلور صفتونه دی، په چا کښے چه دا وی نو خالص منافق به وی : کله چه خبرے کوی دروغ وائی، کله چه وعده اوکړی خلاف کوی، کله چه امانتدار اوګنړلے شی خيانت کوی، او کله چه جګړه کوی نو کنځل کوی)۔(بخاری، مسلم)

۱۰ – وعده خلافی کول۔

۱۱ – امانتونو کښے خيانت کول۔

۱۲ – د جنګ جګړے په وخت رد بد او کنځل کول۔ لکه تير شوی حديث کښے ذکر شو۔

۱۳ – او هر چه د الله ذکر هيرول دی، نو الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ اِسۡتَحۡوَذَ عَلَيۡهِمُ الشَّيۡطٰنُ فَاَنۡسٰهُمۡ ذِكۡرَ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ حِزۡبُ الشَّيۡطٰنِ﴾ [المجادلة: ۱۹] (شيطان په دوئ غلبه حاصله کړه نو د دوئ نه ئے د الله ياد هير کړو، همدا خلق د شيطان برېخی دی)۔

او الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وَلَا يَذۡكُرُوۡنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيۡلًا ﴾ [النساء: ۱٤۲] (او الله صرف لږ شان يادوی)۔

سبحان الله ! داسے قِسم خلق نن څومره ډير دی ؟ په الله پورے پناه !

او رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی : (څوك چه د الله ذكر ډير نۀ کوی هغه منافق دے)۔

(الترغيب والترهيب)

۱٤ – مونځونه د خپل مقرره وختونو نه روسته کول۔

۱۵ – مونځ کښے ټونګے وهل۔ رسول الله ﷺ فرمائی : (دا د منافق مونځ وی، ناست وی د نمر انتظار کوی تردے چه کله دا د شيطان د دوو ښکرونو ترمينځه شی، نو پاسی او يو څلور ټونګے اووهی)۔(بخاری، مسلم)

۱٦ – مونځ نه غافله کيدل او ددے پرواه نه کول۔

الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ﴾ [الماعون: ٤،٥] (د داسے مونځ ګذارو دپاره خرابی ده چه هغوئ د خپلو مونځونو نه غافله دی)۔

سبحان الله ! دا خلق څومره ډير دی ! د جوماتونو امامانو ته اوګوره نو دَ نورو خلقو به څه حال وی ؟

۱۷ – دِ جَمعے مونځ نه روستو پاتے کيدل۔

حديث کښے دی ابن مسعود ﷛ فرمائی : « او بيشکه مونږ خپل ځان ليدلے دے چه دِ

جَمعے نه به صرف هغه منافق پاتے کيدۀ چه د هغۀ منافقت به معلوم وو »۔ (مسلم)

او نبی کريم ﷺ فرمائی : (په ټولو مونځونو کښے منافقانو ته ګران مونځونه : دَ ماسخوتن او سهار مونځونه دی)۔ (مسلم)

د درونډ والی نه مراد دَ زړۀ درونډ والے دے، ځکه دوئ مونځ نه خوښوی او نۀ ددے اهتمام کوی او نۀ ددے په فوت کيدو خفه کيږی۔

۱۸ - د آذان کيدلو نه پس د جومات نه وتل منافقت دے۔

حديث کښے دی : « چالره چه په جومات کښے آذان راګير کړو، او بيا دا اوځی، د حاجت د وجے نه نۀ اوځی چه بيا بيرته راځی، مګر دا منافق دے »۔

(رواه ابن ماجه وهو فی المشكاة : ۱/۹۷).

۱۹ - بعضے علامات ئے دادی چه : کله دوئ په دين کښے دنيوی فائده مومی نو بيا ورله راځی، او کله چه سختی او مشقت په کښے وينی نو بيا ئے پريدی۔ لکه تاته به داسے کسان هم ملاؤ شی چه هغوئ د اجرت او مزدورئ نه بغير نۀ آذان کوی، نه امامتی او نۀ د قرآن درس۔ او کله چه پرے دا بند شی نو دا هر څه پريدی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا﴾ [البقرة: ۲۰] (هر کله چه دوئ ته رڼا شی، په هغے کښے روان وی، او کله چه په دوئ باندے تيارۀ راشی نو اودريږی)۔

او فرمائی : ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ نِ اطْمَاَنَّ بِهٖ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ﴾ [الحج: ۱۱]

(ځينے خلق داسے دی چه په شك (يا طرف) باندے د الله عبادت کوی، نو که چرے خير ښيګړه ورته اورسی، په دے خوشحاله وی او که آزمائش ورته اورسی نو بيا په خپله مخے الټه روان وی)۔

او نبی ﷺ فرمائی : (د منافق مثال د هغه وار راوړے بزے دے چه د دوو سيرلو ترمينځه ګرځی راګرځی، کله دۀ ته ورځی او کله هغه بل ته)۔ يعنی خود غرضه وی۔

۲۰ - په جنګونو، قحط او سختئ کښے صرف د ځان غم ورسره وی، نۀ ورسره دَ نورو مسلمانانو غم وی اونۀ د علماء وغيره ؤ غم۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ﴾ [ال عمران: ۱۵٤]

(او يوه ډله داسے وه چه صرف د ځان غم ورسره وو)۔

نو چاسره چه په دعاګانو وغيره کښے د مسلمانانو غم نۀ وی نو دا منافق دے۔

د ترمذي په حديث کښې دي : (او يوه بله ډله وه چه د هغوئ صرف ځان سره غم وو)۔

٢١ – د منافقانو بعضې صفات دا دي چه : دوئ په سنت باندې عمل نۀ کوي او نۀ ئې پرواه ساتي۔

حذيفه ﷺ نه يو کس د منافقانو په باره کښې تپوس اوکړو، نو وې فرمائيل : منافق هغه څوك دې چه دَ اسلام صفت کوي او عمل پرې نۀ کوي۔

(رواه البخاري في الفتن ٢/، كتاب السنة لعبد الله بن الامام احمد ٣٧٢/١، ٣٨٠، القرطبي ١٢٢/١٨).

٢٢ – شح (بخل) کول۔ يعنې بل چا دپاره د خير اراده نۀ لرل، او دا د خير خواهئ ضد دې۔

٢٣ – پُوچ گوئي اختيارول۔

٢٤ – بې حيائي کول۔ ددې دواړو ترمينځه فرق دادې چه بې حيائي په افعالو کښې ظاهريږي او پُوچ گوئي په اقوالو کښې۔ لکه په حديث کښې دي : (شح، فحش گوئي او پوچ گوئي د منافقت نه دي)۔

(الصحيحة : ٣٣٨١، ص : ١١٣٩).

٢٥ – بل صفت د دوئ مذاء (ديوثي) دې او هغه دا چه پردي سړي دده کورته راځي او ددۀ د ښځې اولونړو سره کيني او گپ شپ لگوي او يو بل ته د کتلو په وجه د دوئ نه مذي اوځي۔

د بيهقي په روايت کښې دي : « غيرت د ايمان حصه ده، او ديوثي د منافقت برخه ده »۔

(٢٢٦/١٠)۔او دا په (الضعيفة ٢٨٩/٤، رقم : ١٨٠٨) کښې ذکر دې خو په دې سند کښې يو مجهول راوي دې، چه صرف ابن حبان ددۀ توثيق کړې)۔

٢٦ – په دين باندې نۀ پو هيږي۔

٢٧ – ښائسته سيرت (وضع رفع) نۀ لري۔

په صحيح حديث کښې دي : « دوه خويونه په منافق کښې نۀ جمع کيږي : ښائسته سيرت، او په دين کښې پو هه »۔

(رواه الترمذي، وهو في الصحيحة ٤٩٩/١).

٢٨ – دا دوه مخيزې وي، دوئ ته په يو مخ راځي او هغه نورو ته په بل مخ سره، نۀ دې طرفته وي او نه دې بل طرفته۔

په حديث کښې دي : « د قيامت په ورځ به تاسو د الله په نيز د تولو نه بدترين کس دوه

مخیزے بیامومے چه دے خلقو ته په یو مخ سره راتګ کوي او دے نورو ته په بل مخ سره»۔(رواه البخاري في الأدب المفرد: ١/١٦٠).

۲۹ – دارنګه د مؤمن او منافق ترمینځه فرق: د ماسخوتن او سهار مانځه ته حاضري ده، لکه د موطأ امام مالك په جنائز او د ابن ماجه په مناسك (۷۸) کښې راغلي۔

۳۰ – بل دا چه د دوئ زړا به اختیاري وي۔

علي ﷺ فرمائي: «منافق د خپلو سترګو اختیار مند وي څنګه چه غواړي ژړلے شي»۔
(کنز العمال: ١/١٦٩).

حذیفه ﷺ فرمائي: (د مؤمن سړي ژړا دَ زړهٔ نه وي او د منافق ژړا د کوپړئ نه وي)۔
(پورتنۍ حواله).

عقبه بن عامر ﷺ فرمائي: (کله چه بنده د بدئ آخر سرته اورسي نو بیا د سترګو مالك شي، څه وخت چه غواړي په دے ژړلے شي)۔

دا حدیث مرفوع – د رسول الله ﷺ ارشاد – هم راغلے۔

داسے قِسم خلق مونږ هم ډیر لیدلي دي۔

۳۱ – خلق چه ئے څومره ویرے والا ګڼړي هغومره نهٔ وي۔

ابو ذر ﷺ فرمائي: (په چا کښے چه څومره خشیت – ویره – وي، او د هغے نه زیاته ئے خلقو ته اوښودله نو دا منافق دے)۔
(أخرجه ابن النجار كما في كنز العمال ١/١٦٩).

۳۲ – بیماري او آزمائش پرے کم راځي۔ په خلاف د مؤمن نه۔

حدیث کښے دي: « د مؤمن مثال د تنکي فصل دے همیشه ئے بادونه اړوي راړوي، او مؤمن ته همیشه تکلیفونه رسي۔ او د منافق مثال د صنوبر (ډمبرے) وُنے دے چه خوزېږي نهٔ تردے چه لو کړے شي»۔
(انظر المشكاة: ١/، وصحيح الجامع: ٢/١٠١٧، ٥٨٤١).

او رسول الله ﷺ یو سړي ته اوفرمائیل: (پاسه تهٔ زمونږ نه نه ئے)۔ هر کله چه رسول الله ﷺ د بیماریانو تذکره اوکړه او هغه سړي اووئیل چه بیمارئ څه ته وائي؟ (المشكاة: ١/١٤٠).

۳۳ – حدیث کښے دي: «دَ منافقانو څه علامات دي چه په هغے باندے دوئ پیژندلے شي، (هغه دا چه): د دوئ سلام لعنت (ښیرے او کنځلے) کول دي۔

۳٤ – خوراك ئے لوټ مار دے۔

۳۵ – غنیمت ئې غلا کول دي۔
۳٦ – صرف بکواس دپاره جوماتونو ته راځي۔
۳۷ – او مونځونو ته هم د ټولو نه روستو راځي۔
۳۸ – تکبر کونکي وي۔
۳۹ – نهٔ خپله چاسره مینه کوي۔
٤٠ – او نهٔ دوئ سره مینه کیدلے شي۔
٤١ – د شپې لرګي پراتهٔ وي۔
٤٢ – او د ورځې ئې شور شرغب جوړ کړے وي »۔
(احمد، کنز العمال، ١/١٧٠، مجمع الزوائد: ١/١٠٧، تفسیر الصابونی ٣/٣٩٣).

(ددے په سند کښې عبد الملك بن قدامه جمعي راوي دے، یحییٰ بن معینؒ ورته ثقه او دارقطنیؒ ورته ضعیف وئیلي۔ او الفتح الرباني کښې دي چه ابن کثیر د سورتِ منافقون په تفسیر کښې په خپل سند سره ذکر کړے دے)۔

٤٣ – جهاد پریخودل او ددے عزم او اراده هم نهٔ کول۔
حدیث کښې دي: (چا چه غزا اونه کړه او نهٔ ئې ځان سره ددے په باره کښې سوچ اوکړو، نو دا کس د منافقت په یوه (لویه) برخه مړ شو)۔ (مسلم) په الله پورے پناه!

٤٤ – د مسلمان غیبت کول منافقت دے۔
حدیث کښې دي: (اے د هغه خلقو جماعته! چه په ژبه ئې ایمان راوړے او زړهٔ ته ئې ایمان نهٔ دے کوز شوے! مسلمانانو له تکلیف مهٔ ورکوئ او مهٔ ورته پیغور ورکوئ)۔ (المشکاة: ٢)
په مسند احمد او طبراني کښې دي: (ابن عمر ﷺ د یو سړي نه واوریدل چه حاجیانو پسے ئې خبرے کولے، وے فرمائیل: دا راته اووایه چه که هغه حاضر وے او دا خبرے ئې آوریدلے نو آیا تا به د هغهٔ په باره کښې دا وئیلي وے؟ هغه وئیلے: نه۔ وے فرمائیل: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به مونږ دا منافقت ګڼړهٔ۔ (احیاء العلوم: ١/٢١٧).

٤٥ – د منافقت نه بے غمه کیدل منافقت دے۔
یعني منافق د منافقت نه بے غمه وي۔
بعضے علماؤ وئیلي دي: منافقت ته ډیر نزدے هغه څوك دے چه خپل ځان د منافقت نه بیزاره ګڼړي۔ (احیاء العلوم: ١/٢١٦)، ونحوه عن ابن مسعود فی المجمع ١/١١٤).

٤٦ – دا هم د منافقت نه دي چه ښځه په غیر د ضرورت نه هسے د خوند دپاره د خپل

خاوند نه خلع طلب کړي.
حديث کښې دي: «خلع کونکې او - خاوند نه - ځان ويستونکې ښځې منافقانې دي».
(الصحيحة: ۲/۲۱۰، رقم: ٦٣٢، وصحيح الجامع ۲/۱۱۳۳).

٤٧ - دَ جُمعې درې مونځونه پريخودل.
حديث کښې دي: (څوک چه بغير د ضرورت نه دَ جُمعې درې مونځونه پريدي، په داسې کتاب کښې به منافق اوليکلې شي چه هغه نۀ محوه کيږي او نۀ بدليږي).
(رواه الشافعي ۱۲۱، وهو في المشكاة ۱/۱۱٦، جامع الصغير ۲/۱۰۵۸).

٤٨ - دَ زنانو ډول سينګار ښکاره کول او د دوئ تکبر کول.
حديث کښې دي: «ستاسو په زنانو کښې غوره زنانه هغه دي چه ډيره مينه کونکې، ډير بچي راوړونکې او غمخوارګي کونکې وي، کله چه دوئ د الله نه يريږي. او ستاسو په زنانو کښې بدترينې زنانه هغه دي چه هغه ډول او سينګار سره د کوره وتونکې او تکبر کونکې وي، او دا منافقانې دي، د دوئ نه به څوك جنت ته نۀ ځي مګر دَ سپين وزرې کارغۀ پشان». (البيهقي ۷/۸۲، الصحيحة ٤/٤٦٤).

٤٩ - انصارو - رضي الله عنهم - سره بغض ساتل.
حديث کښې دي: «د ايمان نښه انصارو سره محبت ساتل او د نفاق نښه انصارو سره بغض ساتل دي». (رواه البخاري: ۱/۷).

٥٠ - علي ﷺ سره بغض ساتل.
حديث کښې دي، علي ﷺ ته نبي کريم ﷺ فرمائيلي وو:
«تاسره مينه نه لري مګر مؤمن او تاسره بغض نه ساتي مګر منافق».
(مسلم: ۱/٦۱، الصحيحة ٤/۲۹۸).

او د علي ﷺ سره د محبت ساتلو نه مراد شرعي محبت دې، نۀ دا چه د هغۀ عبادت اوکړې شي. او په همدې خبرې سره د مؤمنانو او د شيعه ګانو ترمينځه فرق راځي. ولې چه هغوئ د علي ﷺ عبادت کوي.

٥١ - منافقان د عالم، بوډا او انصاف دار بادشاه سپکاوې کوي.
حديث کښې دي: «درې کسان دي چه د هغوئ سپکاوې صرف منافق سړې کوي، په اسلام کښې بوډا کيدونکې، عِلم والا، او انصاف دار بادشاه».
(رواه الطبراني، كذا في الترغيب: ۱/۱۱٥). خو دا حديث ضعيف دې.

۵۲ – امام مالكؒ فرمائي: په دين کښې جگړې کول د منافقت نه پاتې شوې برخه ده، ابن قاسمؒ فرمائي: بلکه همدا منافقت دے۔(ميزان: ۱/۵٦).

قرآن کريم کښې د منافقانو صفات:

قرآن خو دا ډير زيات ذکر کړی دی او په دے سره ئے مؤمنانو ته پوره خبر ورکړے دے، گويا ټول قرآن کريم د دوئ په بدئ کښې لگيدلے، ځکه دوئ الله او د هغۀ رسول ﷺ او مؤمنانو ته ډير تکليفونه ورکړی او ورکوی ئے او دوئ په هره زمانه کښې د کافرو راهنمائي کونکی دی الله تعالىٰ په خپل کتاب کښې د دوئ دَ دوه سوو نه زيات خبيث صفتونه ذکر کړی او بندگانو ته ئے د دوئ قبيح خويونه ورښودلی او اعلان کړی دی۔

★ نو د سورتِ بقرې په شروع کښې ئے د دوئ پنځلس بد صفات ذکر کړی دی۔

۱ – زړۀ او ژبه کښې مخالفت۔ الله فرمائي: ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ آمَنَّا بِاللهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [البقرة: ۸] (بعضے خلق دی چه وائی مونږ په الله او په ورځ د آخرت ايمان راوړے خو دوئ – د زړۀ نه – ايمان راوړونکی نۀ دی)۔

حسنؒ فرمائي: د ژبې او زړۀ، د ښکاره او پټ او دَ دخول او خروج ترمينځه مخالفت راوستل د منافقت نه دی۔ (احياء العلوم ۱/۲۱۷).

۲ – دهوکه ورکول۔

او هغه دا چه تۀ عمل خو د الله په حکم کوې ليکن په دے سره ستا بل څه اراده وی، يا دا طاعت ښکاره کولو او گناه پټولو ته وائی۔ الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يُخَادِعُوْنَ اللهَ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ [البقرة: ۹] (الله او مومنانو سره ټگی کوی)۔

او فرمائي: ﴿ إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ يُخَادِعُوْنَ اللهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ﴾ [النساء: ۱٤۲] (منافقان د الله سره د دهوکے معامله کوی او الله هم دوئ سره د دهوکے معامله کونکے دے)۔

حديث کښې دی: «منافق سړے دهوکه باز او رذيل وی»۔(المشكاة: ۲).

۳ – د خپل مرض شعور نۀ لرل: او دا عجيب عذاب دے چه انسان بيمار وی او خپله بيماری نۀ پيژنی۔ الله فرمائي: ﴿ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴾ [البقرة: ۹] (او دوئ شعور نۀ لری)۔

٤ – د زړونو بيماری او د هغے کړيدل، او دا د شك، شبهے، حسد او د دنيا د محبت بيماری ده۔ الله فرمائي: ﴿ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ﴾ [البقرة: ۱۰] (د دوئ په زړونو کښې ناشنا مرض دے)۔

۵ – کوی فساد او ځانته اصلاح والا وائی، او د فساد نه مراد، دَ ايمان او طاعت نه خلق ښندول، د هغوئ په زړونو کښې شبهے اچول، او خلق د کتاب او سنت د اتباع نه منع کول۔

سبحان الله ! دا کار نن صبا په مقلدينو اهلِ بدعت کښې څومره ډير زيات دے۔ په الله پورے پناه !

٦ – مؤمنان او هوښيار مسلمانانو ته د کم عقلئ او ناپوهئ نسبت کول۔ « هر سړے په خپل ځان بل څوك قياس کوی »۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَآءُ أَلا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ ﴾ [البقرة: ۱۳] (آيا مونږ داسے ايمان راوړو لکه څنګه چه دے بيوقوفانو ايمان راوړے، خبردار ! هم دوئ بيوقوفان دی)۔

نو هر هغه څوك چه صحابه کرام رضی الله عنهم يا د مسلمانانو هغه علماء چه په هغوئ په حق او د اسلام په اشاعت باندے مشهور دی، بيوقوفئ او کم عقلئ ته منسوب کړی : نو دا خلق منافقان دی۔ داڅنګه بيوقوفان کيدے شی حال دا چه دوئ په دين را رسولو او ددے په خورولو او ښودلو کښے زمونږ او د نبی کريم ﷺ ترمينځه واسطه ده !!

۷ – دوئ پوهه نه لری۔

۸ – مؤمنانو پورے توقے کوی، نو توقے او استهزاء کول د منافقانو صفت دے، البته مزاح او خوش طبيعتی کله ناکله جائز ده۔ او استهزاء مؤمنان سپك او ذليل ګڼړلو ته وائی۔

نو تهٔ د استهزاء نه ځان اوساته ولے چه دا خراب خوئے دے او ستا د نفس په کبر او خود پسندئ باندے دلالت کوی۔

۹ – ګمراهئ له په هدايت باندے ترجيح ورکوی۔

۱۰ – د ايمان اور بل کړی او بيائے پريدی نو د هغے رنړا ختمه شی او ګرمائش ئے دوئ ته پاتے شی۔

يعنی دوئ د ايمان د کارونو اهتمام نهٔ کوی لهذا هغه ختم او زائله شی، لکه يو کس اور بل کړی او د هغے د لرګو اهتمام اونه کړی او هغه ډير زر مری۔

دے مثال کښے سوچ اوکړه، تهٔ به ددے لاندے ډير رازونه بيامومے۔

۱۱ – دوئ سخت جګړه مار خلق دی، تهٔ به دوئ هميشه دپاره جګړه مار مومے، په دوئ کښے د مسلمانانو هيڅ اکرام نشته او نهٔ د دوئ د حقونو او عزتونو نه ځان ساتی۔ ﴿ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ ﴾ [البقرة: ۲۰٤] (اودا سخت جګړالو وی)۔

۱۲ – کله چه ورته اووئيلے شی : الله نه اويرېږه، نو په ګناه به غيرت کوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ ﴾ [البقرة: ۲۰٦] (همدغه معنیٰ ده)۔

۱۳ – فصيح او ډيرو خبرو والا وی د دنيا په کارونو دومره پوهيږی چه لوئے لوئے علماء هم

پرېے دومره نۀ پو هيږي۔

الله فرمائي : ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلْبِهِ ﴾ [البقرة: ٢٠٤] او فرمائي : ﴿ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ﴾ [المنافقون: ٤] (او كه دوئ خبرے كوي نو تۀ به د دوئ خبرو ته غوږ كدے)۔

حديث كښے دي : « فحش گوئي او فصاحت د منافقت نه دے »۔ (المشكاة : ٢).

او حياء او – دے ځائے خبرو نه – چاړا كيدل د ايمان شعبه ده۔

په يو صحيح حديث كښے دي : « الله تعالىٰ هر هغه بد اخلاقه، متكبر بدگنړي چه بازارونو كښے شور كونكے وي، د شپے دَ مردار پشان پروت وي او د ورځے خر وي، د دنيا په كارونو پو هه او د آخرت په كارونو ناپو هه وي »۔

(رواه ابن حبان على شرط مسلم).

١٤ – كافرانو او فاجرانو سره دوستي كوي او مؤمنانو باندے د تكليفونو په انتظار وي۔

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ ﴾ [المائدة: ٥٢] (وينے به تۀ هغه كسان چه د هغوئ په زړونو كښے مرض دے په دوئ كښے به ډير سرگرم وي)۔

يعني د يهود او نصاراؤ په دوستئ كښے۔

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ ﴾ [النساء: ١٣٨، ١٣٩]

(كافرانو له زيرے وركړه چه دوئ له به دردناك عذاب وي، هغه خلق چه د مومنانو نه سيوا كافران دوستان جوړوي، آيا دوئ د دوئ سره عزت تالاش كوي)۔

او يواځے دا خوئے هم منافق د كافرانو په شماره كښے اودروي، ځكه څوك چه دَ كافرو سره دوستي لري، نو دا په نص د قرآن سره د هغوئ نه حساب دے۔

١٥ – دوئ په عباداتو كښے سستي كوي، اوكله چه مانځه ته اودريږي نو سست پست وي۔

١٦ – طاغوت ته فيصلے وروړي، او طاغوت هر هغه باطل دے چه د كتاب او سنت نه سيوا وي۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ ﴾ [النساء: ٦٠]

(آيا نه گورے هغه خلقو ته چه د دوئ دا گمان دے چه دوئ ايمان لري په هغه څه چه تا ته نازل شوي دي او په هغه څه چه تا نه مخكښے نازل شوي دي، دوئ غواړي چه طاغوت ته

فیصلے یوسی حال دا چه دویٔ ته حکم شوے چه ددے نه به انکار کویٔ)۔
او دا خوئے نن په عوامو اوخواصو ټولو کښے زیات شوے دے، دارنګه په هغه چا کښے چه د اسلام او د مسلمانانو د لیډرئ دعویٰ لری حال دا چه دے په خپل دے مصیبت باندے نهٔ پو هیږی۔ اے الله ! پتا پورے پناه !

۱۷ – چغلیٔ او مومنانو ترمینځه فساد اچولو والا دی۔
الله تعالی فرمائی : ﴿ وَلَاَوْضَعُوْا خِلَالَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ﴾ [التوبة : ٤٧]
(او خامخا به دویٔ ستاسو ترمینځه زغلیدلی وے چه په تاسو کښے به ئے فتنے لټولے)۔
یعنی هغه شے به ئے تالاش کولے چه تاسو په فتنه کښے اچوی۔

۱۸ – مسلمانان بدګنړی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ﴾ [التوبة : ٥٧] (که چرے دویٔ د پناه ځائے یا غارونه یا (بل) د داخلیدو ځائے موندلے نو خامخا هغے طرفته په منډه ورګرځی)۔

۱۹ – اهلِ حقو باندے عیب لګوی او صرف د خپلو ګټو دپاره خوشحالی او خفګان کوی۔الله فرمائی : ﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوْا مِنْهَا رَضُوْا وَإِنْ لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ﴾ [النساء: ٥٨] (او په دویٔ کښے بعضے داسے دی چه د صدقاتو په باره کښے پتا باندے عیب لګوی، که چرے دویٔ ته ورکړے شی خوشحاله وی او که ورنه کړے شی نو ناګهانه خفه وی)۔

۲۰ – د خلافِ شرع کار حکم کوی او د نیکیٔ نه بندول کوی۔

۲۱ – او څه چه په دویٔ واجب دی د هغے اداء کولو نه لاسونه بندوی۔

۲۲ – ټګی کوی او د وعدے خلاف کوی۔
﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ عَاهَدَ اللهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصَّالِحِيْنَ ﴾ [النساء: ٧٥] (او په دویٔ کښے ځینے هغه څوك دی چه د الله سره ئے وعده کړے چه که مونږ ته ئے د خپل فضل نه راکړل نو خامخا به مونږ صدقه کوو او د نیکانو نه به جوړ شو، نو کله ئے چه د خپل فضل نه ورکړل، بخل ئے پرے شروع کړو او اوګرزیدل او د دویٔ عادت دَ مخ اړولو دے)۔

۲۳ – مومنانو باندے عیب لګوی او توقے وربورے کوی، او د دویٔ نه په هیڅ یو شیٔ نه خوشحالیږی۔ الله فرمائی : ﴿ الَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ﴾ [النساء: ٧٩] (هغه خلق چه په خپله خوښه صدقه کونکو مومنانو باندے عیب لګوی او په هغه خلقو چه صرف خپل کوشش مونده کړی نو دویٔ

په هغوئ پورے توقے کوی)۔
که چابه ډیر مال خیرات کړو، دوئ به وئیلے : ریاکار دے، اوکه لږ به ئے صدقه کړو، دوئ به ورپورے توقے کولے او وئیلے به ئے : الله ددے نه بے پرواه دے۔
۲۴ – یو بل ته د جهاد د پریخودلو حکم کول۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَقَالُوا لَاتَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ ﴾ [النساء: ۸۱] (د رسول الله ﷺ نه روستو پاتے کیدونکی خلق په خپله ناسته باندے خوشحاله دی او دا بد گنړی چه دوئ د الله په لاره کښے په خپلو مالونو او ځانونو سره اوجنګیږی، او وائی : په ګرمئ کښے جهاد له مهٔ ځئ)۔
۲۵ – مومنانو له ضرر ورکول او په مشروع جائز کار باندے خپل ځان پټول۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا ﴾ [النساء: ۱۰۷]
(او هغه خلق چه د ضرر ورکولو دپاره ئے د جومات په نوم یو شے جوړ کړے دے)۔
نو دوئ جوړ جومات کړو او اراده ئے د ضرر ورکولو، کفر خورولو او دَ رسول الله ﷺ د مخالفتِ کولو وه۔ په هر جومات کښے چه دا حالت وی نو دا په حکم د مسجدِ ضرار کښے دے۔
۲۶ – په دروغه قسَم خوړل ۔
دوئ د الله نه حیاء نهٔ کوی او نه د هغهٔ د نوم تعظیم کوی۔
۲۷ – هیڅ کله د جهاد اراده نه لری۔
۲۸ – هغے دپاره تیارے هم نهٔ کوی۔
۲۹ – د کافرو دپاره د مؤمنانو جاسوسی کوی۔
۳۰ – حق ښکاره کیدل او کتاب او سنت خوریدل بدګنړی۔
۳۱ – د ډیرو دا خیال دے چه د نبی کریم ﷺ په تابعداریٔ کښے فتنه ده، او د هغوئ (ﷺ) سنت طریقے دَ فتنے سبب دے چه ددے راښکاره کول مناسب نهٔ دی۔ نن دا قِسم خلق ډیر زیات دی۔
۳۲ – دَ مومنانو په خوشحالئ خفه کیږی او د هغوئ په خفګان خوشحالیږی۔ نو څوك چه د مومنانو په مصیبت باندے خوشحاله شو، دا منافق دے۔
۳۳ – ویرے او بزدلئ والا دی۔ الله فرمائی : ﴿ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴾ [التوبة : ۵۶]
(خو دوئ داسے خلق دے چه یریږی)۔

۳٤ – د خلقو رضا مندی خوښوی او د الله عز وجل او د هغهٔ د رسول (ﷺ) رضامندی نهٔ خوښوی۔

۳۵ – د الله، د هغهٔ د رسول (ﷺ) او د هغهٔ د آیتونو ادب نهٔ کوی، بلکه دوئ پورے توقے کوی، په الله پورے پناه ! او مومن خو ددے تولو تعظیم کوی۔

۳٦ – او د دوئ بعضے نښے، بخل او کنجوسی کول۔

۳۷ – او د عملِ صالح نه اعراض کول دی۔

۳۸ – د الله په کتاب او احکامو او د رسول الله ﷺ په سنت باندے ناپوهه وی، د دنیا په فنونو کښے به ډیر ماهر وی، خو د مانځه او ایمانیاتو مسائل به نهٔ ورځی۔

۳۹ – د الله په لاره کښے چه کله څه خرچهٔ اوکړی نو هغه ثواب نه گڼړی بلکه تاوان ئے گڼړی۔

٤۰ – کله چه په دوئ باندے قرآن لوستلے کیږی نو ایمان ئے نه زیاتیږی او نهٔ ئے نور او عمل صالح زیاتیږی۔ په الله پورے پناه !

٤۱ – د قرآن کریم د درسونو او تعلیمونو نه بغیر د څه عذر نه مخ اړوی۔ دا خلق هم اوس څومره ډیر دی !

٤۲ – د دوئ مشهوره نښه داده چه دَ قول او فِعل ترمینځه ئے تضاد وی۔ تهٔ به په دوئ کښے یو کس وینے چه د طاعت او دینداریٔ دعویٰ به کوی، خو چه کله د عمل وخت راشی نو بیابه ئے مونده نه کړے۔ الله فرمائی : ﴿ وَ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [النور: ٤٧] (وائی دوئ مونږ په الله باندے ایمان راوړے او اطاعت کوو، ددے هر څه باوجود بیا ددوئ یوه ډله آوړی او دوئ مومنان نهٔ دی)۔

٤۳ – که په حق کښے ئے تاوان وی نو مخ ترے اړوی اوکه گټه وی نو بیا ورته په تادئ راځی۔

٤٤ – په الله او د هغهٔ په رسول (ﷺ) باندے بدگمانی کوی او الله او رسول ته د ظلم او زیاتی نسبت کوی، او د الله په دین کښے ورته وحشت اوظلم ښکاری۔

٤۵ – ددے هر څه باوجود دوئ د سخت ظلم ارتکاب کونکی دی چه هغه منافقت، کفر او د الله او رسول د حدونو نه تجاوز کول دی۔

٤٦ – د دوئ د نښو نه یوه نښه داهم ده چه دوئ د رسول الله ﷺ او د هغهٔ د نائبانو لوئے علماؤ د مشورے مجلس نه د دوئ د اجازت نه بغیر اوځی۔ په خلاف د مؤمن نه ځکه دا

دداسې مجلس نه نۀ اوځي بلکه صبر کوي اوکله چه څه ضرورت ورته راپیښ شي نو اجازت غواړي، که اجازت ورته اوشي نو ځي او که اونشي نو کیني. (دَ مؤمن مثال د نفرت کونکي اوښ دے که تابع کړے شي نو تابع کیږي اوکه د یو کاڼړي دپاسه چُو کړے شي نو چُو کیږي). او دا د منافق د صفت برعکس دے.

٤٧ – د دوئ د نښو نه یوه نښه دا هم ده چه دوئ د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ په وعدو کښې شك او پریشانئ والا دي. الله فرمائی : ﴿ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اِلَّا غُرُوْرًا﴾ [الاحزاب: ١٢]

(کله چه منافقانو او هغه خلقو چه په زړونو د هغوئ کښې مرض دے اووئیل : مونږ سره الله او د هغهٔ رسول وعده نۀ ده کړے مگر د دهوکے).

٤٨ – مجاهدین د جهاد نه منع کوي او وائي : دشمن سخت مضبوط دے او مؤمنان کمزوري دي، د هغوئ د مقابلے نۀ دي، نو پکار دي چه د جهاد نه واپس شي. او بعينهٔ همدا خبره زمونږ په دے زمانه کښې یو صوفي کوي.

٤٩ – د میدانِ جنگ نه کور ته تختیدل.

٥٠ – فتنې او الله باندے کفر طرفته په تادئ باندے ورتلل، کله چه ترے دا اوغوښتے شي او څه زبردستي هم نۀ وي.

٥١ – کله چه جنگ سخت شي نو د طاقت باوجود جنگ نۀ کوي.

٥٢ – شح، بزدلي او ایمان والو ته ضرر ورکول درے واړه ئے راجمع کړي دي. نو د جنگ په وخت بزدله، د مالدارئ په وخت کنجوسان، او دَ جنگ ختمیدو په وخت مومنان په خپلو ژبو سره تنګوي او په پیغور او قِسما قِسم تکلیفونو سره ورته ضرر ورکوي.

٥٣ – کله چه د مومنانو او کافرانو جنگ شي نو دوئ باندے ته تلل خوښوي. د مؤمنانو امداد او په دوئ باندے انفاق نۀ خوښوي.

٥٤ – په دیني خبره نۀ پوهیږي، که غوږ ورته هم کیدي نو پو هیږي پرے نۀ او نۀ ئے یادوي. الله فرمائي : ﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ حَتّٰۤى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا﴾ [محمد: ١٦]

(او په دوئ کښې ځینې داسې دي چه تاته غوږ ګدي تردے چه کله ستا د خوانه اوځي نو هغه خلقو ته وائي چه هغوئ ته علم ورکړے شوے دے : اوس ئے څه اووئیل).

ددے سبب دادے چه دوئ د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) خبرو له دومره اهتمام نۀ ورکوي.

۵۵ – خپلو خواهشاتو پسې روان وی۔

۵۶ – څوك چه ورته د جهاد حکم کوی نو داسې به ورته گوری ته به وائې چه په دوئ باندې د مرگ بیهوشي راغلې ده، او دا د بزدلي او ناخوښئ کتنه ده، دوئ نه د الله په لاره کښې جهاد کول خوښوی او نۀ هغه څوك چه ددې حکم کوی۔

۵۷ – قرآن کښې سوچ نۀ کوی۔ نن صبا هم که تۀ اکثرو خلقو ته اوگورې نو د دوئ د علماؤ او عوامو ټولو دا حال دې۔ والله المستعان۔

۵۸ – کفاروته وائی: مونږ په بعضې خبرو کښې ستاسو منو۔ نو په بعضې خبرو کښې د کافرانو خبره منل منافقت دې۔

۵۹ – د منافق په خاصو خبرو کښې یوه خبره داده چه دې همیشه دپاره هغه کارونه لټوی چه په هغې باندې الله سبحانه خفه او غصه کیږی، او د الله سبحانه رضامندی نۀ خوښوی اونۀ په ژوند کښې ددې کوشش کوی، بلکه د الله رضا ددۀ په نیز معمولی شې دې۔

۶۰ – د دوئ بله علامه حسد او کینه ده۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ اَمۡ حَسِبَ الَّذِيۡنَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ اَنۡ لَّنۡ يُّخۡرِجَ اللّٰهُ اَضۡغَانَهُمۡ ﴾ [محمد: ۲۹] (آیا هغه چه د هغوئ په زړونو کښې مرض دې دا گمان کوی چه الله به د دوئ کینه راښکاره نۀ کړی)۔

فضیل بن عیاضؒ فرمائی: مؤمن غبطه – آرزو – کوی او منافق حسد کوی۔

(رواه فی کشف الخفاء ۲/۲۹۵).

۶۱ – په هوښیارتیا باندې مشهور وی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِىۡ لَحۡنِ الۡقَوۡلِ ﴾ [محمد: ۳۰] (او تۀ به دوئ د خبرو په هوښیارتیا کښې پیژنې)۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی: «د ټولو نه زیات قابلِ خوف شې چه زۀ په خپل امت باندې د هغې نه یریږم، هر هغه منافق دې چه هوښیار ژبې وی»۔

(صحیح الجامع ۱/۱۰۷، ۱/۳۲۳، رقم ۳۲۹، ۱۵۵۶، انظر المجمع ۱/۱۸۶).

په بل روایت کښې دی «دَ خبرو ماهر چه په قرآن سره جگړه کوی»۔

(جامع بیان العلم ۲/۲۰۰، احمد ۱/۲۲).

۶۲ – بله علامه ئې داده چه مؤمنانو ته مشقت او هلاکت رسیږی نو دوئ په زړۀ کښې خوشحالیږی۔ الله فرمائی: ﴿ وَلَمَّا يَدۡخُلِ الۡاِيۡمَانُ فِىۡ قُلُوۡبِكُمۡ ﴾ [الحجرات: ۱۴] (چه رسول او مؤمنان به خپلو کورونو ته هیڅ کله واپس نشی او دا خبره ستاسو په زړونو کښې ښائسته شوې وه)۔

٦٣ – عجيبه خبره داده چه منافق حسدګر وي او وائي : مؤمنان مونږ سره حسد کوي. ځکه سړے په خپل ځان قياس کوي.

٦٤ – دوئ د ايمان خوند نهٔ دے څکلے او نهٔ ئے د طاعت خوند او دَ يقين يخوالے څکلے. الله فرمائي : ﴿ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا ﴾ [الحجرات : ١٤] (ورته اووائے : تاسو مؤمنان نهٔ ئے).

او فرمائي : ﴿ وَ لَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ [الحجرات : ١٤]

(او اوسه پورے لا ايمان ستاسو زړونو ته نهٔ دے داخل شوے).

او دا خوئے اهلِ ايمان هم د الله نه ويروي.

٦٥ – منافقان د ګناهونو، خواهشاتو او کفر په وجه خپل ځانونه په فتنه کښے غورزولي دي.

٦٦ – توبے له تاخير ورکوي او مؤمنانو باندے د تکليف راتلو په انتظار وي.

٦٧ – زړونه ئے د رَيب، شك او شبهاتو نه ډك وي.

٦٨ – آرزوګانو دوئ لره په دهوکه کښے اچولي وي، هغه دا چه کفار په مسلمانانو باندے غالبه شي، دارنګه د دنيا د خوندونو حاصلولو او مالونو آرزوګانو کوي، يا ددے خبرے آرزو کوي چه مونږ ته به خامخا ښنه کيږي.

٦٩ – هميشه دپاره دوئ په الله سره دهوکه خوري، شيطان دوئ له په هغهٔ سره دهوکه ورکړے دارنګه دنيا او خواهشاتو دوئ له په الله سره دهوکه ورکړے ده. نو دوئ د هغهٔ هيڅ پرواه نه کوي، نهٔ د هغهٔ نه حياء کوي، نهٔ هغه ته توجه کوي. حال دا چه دوئ د هغهٔ په قبضه کښے دي او د هغه د لاس لاندے دي.

سبحان الله ! څومره صبرناك دے الله ! والحمد لله على عفوه واحسانه.

٧٠ – منافق ځانته غاوره او متکبر وي.

٧١ – خلقو ته خپل صفتونه شماري.

٧٢ – خپله هم بخيل وي او نورو ته هم د بخل او کارِ خير کښے د خرچ نهٔ کولو حکم کوي.

٧٣ – کله چه د يو شئ نه منع کړے شي نو هغے ته قصدا بيا راتګ کوي. الله فرمائي :

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا عَنْهُ ﴾ [المجادلة: ٨]

(آيا تهٔ داسے خلقو ته نهٔ ګورے چه هغوئ د پټو جرګو نه منع شوي دي او دوئ بيا دے منع شوي کار ته واپس کيږي).

۷۴ - کله چه دوئ په یو مجلس کښې راجمع وی نو د ګناه او زیاتی او د رسول الله ﷺ د مخالفت خبرې به کوی۔ نو دا د منافقانو د مجلس حال دے۔

تهٔ سوچ او فکر اوکړه ! آیا ستا په مجلس کښې خو چرته دا څیزونه او منکرات نشته ؟ زما په خیال د اکثرو خلقو مجلسونه د غیبت، د عزتونو اخستلو، ګناه، چغلئ او قطع رحمئ نه ډك دی۔ والله المستعان۔

۷۵ - د دوئ بله نښه دَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ صیغه ئې بدله کړې ده۔ یاخو دوئ اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ وائی، او یا صرف اَلسَّلَامُ لفظ وائی، او بعضے خلق د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ په ځائے څه نور الفاظ وائی۔

۷۶ - د دوئ بل صفت دادے چه دوئ قسمونه ډیرخوری، دے دپاره چه دا د خپل ځان دپاره ډهال جوړ کړی، نو دوئ د الله د نوم د عزت پرواه نهٔ کوی۔

۷۷ - خلق دَ حق، او دَ قرآن او سنت نه منع کوی۔

نن وخت کښې دا قِسم خلق په بدعتیانو، صوفیانو او تبلیغی جماعت والو کښې ډیر دی۔

۷۸ - او د دوئ دا ګمان دے چه مونږ په یو دین باندے روان یو، حال دا چه په هیڅ شئ روان نهٔ وی، نهٔ د دوئ عقیده صحیح ده، نهٔ ئې عملِ صالح شته، نهٔ ئې صحیح فکر او نهٔ مضبوط دین شته۔

۷۹ - منافقان د یهودو او نصاراؤ په محبت او د هغوئ په خبره منلو باندے کلك ولاړ وی۔ او کله چه د دوئ مخے ته یو طرفته د رسول الله ﷺ خبره راشی او بل طرفته د یهودو خبره، نو دوئ دویمے خبرے له په اولنئ باندے ترجیح ورکوی۔ ﴿ وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا﴾ [الحشر: ۱۱]

(ستاسو متعلق مونږ هیڅ کله د هیچا خبره نهٔ منو)۔

۸۰ - د منافقانو زړونه جدا جدا دی، اتفاق او اتحاد په کښې نشته، دوئ صرف د دنیا په محبت او منافقت کښې متفق دی۔

۸۱ - دوئ نه پو هه او فهم لری او نهٔ د عقل نه کار اخلی۔

۸۲ - منافقان خلق چه کله د جهاد وغیره نه فارغ شی نو د خپل ځان تزکیه کوی او مومنانو له تکلیف ورکوی۔ ﴿ لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ ﴾ [الصف: ۲]

(هغه خبره ولے کوئ چه عمل پرے نهٔ کوئ)۔

۸۳ - جهاد به غواړی خو چه کله ئې وخت راشی نو تختی۔

۸٤ – په خوله باندې د توحید او رسالت ګواهي ورکوي او زړۀ کښې ددې دواړو تکذیب کوي۔
۸۵ – بَد عمله خلق وي۔
۸٦ – کاږۀ لرګي وي، نۀ خپله پو هیږي او نۀ ترې بل څوك فائده مومي، څکه دوئ ډیرې فائدې خلق وي۔ او یا کاږۀ لرګي په دې وجه دي چه دوئ د رسول الله ﷺ او دَ اهلِ علمو په مجلس کښې تکیه وهلې وي او د ادب نه کار نۀ اخلي۔ او یا د لرګو سره تشبیه په عدم رقت او عبادت او انابت کښې ده۔
۸۷ – هره چغه په خپل ځان ګنړي، څکه بزدل او خبیث خلق دي، کله چه د ورك شوي یا غلا شوي شئ د تالاش کونکي آواز واوري، نو دا اندیښنه ورسره وي چه د هغۀ مراد همدوئ دي۔ وجه داده چه په دوئ کښې هر قِسم سپك او خبیث صفات موجود دي، نو څکه د هر یو آواز نه یریږي چه چرې مونږ ترې مراد نه یو۔
۸۸ – کله چه ورته دَ توبې او استغفار دعوت ورکړې شي نو سرونه اوخوزوي، خو د تکبر په وجه منع شي۔
۸۹ – دَ دوئ بله نښه داده چه په یتیم باندې رحم نه کوي بلکه منافق سړې یتیم له خپل حق هم نه ورکوي۔
۹۰ – په مسکین باندې خرچه نۀ کوي بلکه بل چاته هم ددې ترغیب نۀ ورکوي، څکه چه ددۀ زړۀ سخت او د الله په بندګانو باندې ددۀ رحمت نۀ وي۔
۹۱ – کله چه مؤمن سړې څه معمولي شئ ته محتاج شي نو منافق سړې ورته نۀ ورکوي، سوالي ئې هم نۀ ورکوي۔ الله فرمائي: ﴿ وَ يَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴾ [الماعون: ۷]
(او معمولي شے منع کوي)۔
نو د الله په عبادت کښې سست او غافله، او د الله د بندګانو سره سختي او ظلم کونکي دي۔ دا څو مره قبیح خویونه دي!
او ددې حالت ددې برعکس دې څکه چه هغه د الله په بندګئ باندې حریص وي او دَ هغۀ په بندګانو باندې شفقت کونکې وي۔ الله فرمائي: ﴿ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ﴾ [البلد: ۱۷]
(او دوئ صبر باندې او په رحم کولو باندې یو بل ته وصیت کوي)۔
۹۲ – بله علامه ئې داده چه دوئ دَ الله تعالی د تقدیر په خلاف د (لو) کلمه استعمالوي۔

نو دوئ وائي : كه چرې داسې شوې وې نو داسې به نۀ وو شوې۔ او د نبي ﷺ د ارشاد مطابق (كلمه دَ لو د شيطان عمل پرانيزي)۔

۹۳ – د الله په لاره كښې جنګ او قتال نۀ كوي كله ئې چه وخت راشي او نۀ د خپلو وروڼو نه دفاع كوي، او وائي: كه چرې موږ په جنګ پوهيدلے نو ستاسو تابعداري به مو كړې وه

۹٤ – بـلـه علامه ئې داده چه دوئ د الله هغه فضل او مهرباني پټوي چه الله پرې كړې وي لكه مال او جاه او علم وغيره۔ د بخل او كنجوسئ د وجې نه۔

۹۵ – پـه الله او په ورځ د آخرت باندې دوئ ايمان نۀ لري۔ او همدا د مذكوره ټولو خويونو دپاره بنياد دے۔

۹٦ – د دوئ بـل ښـكـاره صـفـت دادے چه دوئ د كتاب او سنت سره محبت نۀ كوي او نۀ ددے اهتـمـام كـوي او نـۀ ديته توجه كوي۔ بلكه حاشيے او ناشنا شروح د دوئ پهِ نظر كښې د كتـاب او سـنت نـه لوئې خيزونه دي۔ كه چرې په دوئ باندې په سوونو او زرونو آيتونه او احـاديث اولـوستے شي نـو دوئ هغے له څه اعتبار نۀ وركوي۔ خو كله چه دوئ ته اووئيلے شي چـه : فـلانـى فـلانـى متاخرينو په دے باندے فتوىٰ وركړے، نو دوئ ئې فورا قبلوي او وائي : دوئ موږ نه ښه پوهيدل۔

او دا د عامو مقلدينو بيماري ده لكه په دے موږ تجربه كړے ده۔ دا خبره تۀ ناشنا مه ګڼړه، كه چرے تا هم په دوئ دا تجربه اوكړه نو بيا د دوئ په باره كښې به ستا ګمان بدل شي۔

الله تـعـالىٰ فرمائي : ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴾ [النساء: ٦١] (او كـلـه چه دوئ ته اوئيلے شي : راشئ هغه شئ ته چه الله نازل كړے او رسول ته راشئ نو ته به منافقان اووينې چه تا نه به خلق اړوي)۔

نو د منافقت معيار او كسوټے، كتاب او سنتِ نبويه دے۔

اے الله ! موږ تا نه ستا د كتاب او ستا د نبي د سنت او دے دواړو چه څه ته دعوت وركړے د هغے محبت غواړو۔

۹۷ – كـلـه چه د قتـال في سبيل الله وخت راشي نو منافق ددے نه روسته كيږي۔ بيـا كـه مـومـنـان ماتے اوخوري، خوشحاله وي او وائي : په ما باندې الله نعمت اوكړو چه زۀ هلتـه پـه معركه كښې حاضر نشوم۔ او كله چه غنيمت حاصل كړي نو وائي : هائے آرمان چه زۀ هم ورسره وے، او دنيا ته لويه كاميابي وائي۔ ﴿فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ [النساء: ۷۳]

۹۸ – مـنـافـقـان هغه نيك اعمال پريدي چه د هغے وخت وي او ددے هيڅ پرواه نه لري، او

هغه عمل تالاش کوي چه طاقت ئې نه لري او يا په دوئ فرض شوے نهٔ وي، لکه يو سړے مونځ نه کوي، نهٔ د خپل مال زکات ورکوي او نهٔ بل کوم نيك عمل کوي او وائي : مونږ له پکار دي چه په فلسطين کښې جنگ اوکړو، فلاني فلاني ځائے کښې جهاد اوکړو۔ سره ددے چه هلته ددهٔ رسيدل هم ممکن نه وي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ﴾ [النساء: ۷۷]

(آيا تهٔ هغه خلق نهٔ وينې چه هغوئ ته اووئيلے شو : خپل لاسونه بند کړئ او د مانځه پابندي کوئ او زکات ورکوئ)۔

۹۹ – دوئ دَ الله نه دومره نهٔ يريږي څومره چه د مخلوق نه يريږي۔ خو سوچ کوه چه هسے نهٔ تهٔ چرته هم داسے ئې، ولے چه ډير مسلمانان دَ انگريزانو نه يريږي او د الله نه نهٔ يريږے، د الله شريعت نافذ کول او جهاد ئې دوئ دپاره پريخے وي۔

۱۰۰ – د الله په لاره کښې جهاد سره بغض لري، تردے چه دوئ وائي : يا الله ! تا ولے په مونږ جنگ فرض کړے دے۔ گويا دوئ په الله اعتراض کوي او دَ هغهٔ په حکم باندے نيوکه کوي۔

۱۰۱ – کله چه دوئ ته څه ښيگړه اورسي، الله ته ئې نسبت کوي او په دے سره د خپل هغه نبي (ﷺ) شکريه نهٔ کوي چه هغه په دے مضبوط دين باندے راتګ کړے۔ اوکه تکليف ورته اورسي نو دوئ ئې نبي ﷺ ته منسوب کوي چه دا ددهٔ له خوا راغے، که دے نهٔ وے نو دا مصيبتونه به نهٔ وے – والعياذ بالله !

۱۰۲ – د تحقيق نه مخکښې دوئ خبرونه خوروي او پروپيگنډے کوي او رازونه ښکاره کوي۔

حديث کښې دي : « د سړي دا دروغ هم بس دے چه خپله هره آوريدلے خبره بيانوي »۔

۱۰۳ – بل صفت د دوئ دادے چه دوئ غواړي چه مسلمانان په خپلو ټولو کارونو کښې د يهودو او نصاراؤ پشان جوړ شي، لکه زمونږ په دے دور کښې ډير ليډران ددے خبرے کوشش کوي لگيا دي۔ (الله دے دوئ تباه کړي – آمين !)۔

۱۰۴ – د دوئ بله نښه داده چه : دوئ په هغه مجلسونو کښې ناسته کوي چه په هغے کښې د الله د آيتونو پورے توقے کيږي، او ددے باوجود دوئ ددے پرواه نه کوي او نهٔ ددے رد کوي او نهٔ دغه ظالمانه مجلس پريدي۔

۱۰۵ – دوئ نۀ د مسلمانانو طرفته دي او نه د کافرو۔ بلکه مذبذب دي۔
۱۰۶ – دَ هغه مومنانو په باره کښې چه هغوئ د الله په لاره کښې جهاد کوي وائي : دا خپل دين په دهوکه کښې غورزولي دي، دوئ ته گوره او دَ انګريزانو مقابلې ته گوره !
دا ټول خصلتونه د دوئ د الله عز وجل د کتاب نه اخستې شوي دي، دارنګه د رسول الله ﷺ د سنت نه۔ نو تۀ په دې باندې اول ځان اوتله او بيا نور خلق۔
او دا علامات – ټول يا بعضې – په ډيرو خلقو کښې موجود دي، خاصکر هغه خلق چه قرآن ته خپل ځان منسوب کوي۔ ځکه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : « ددې امت زياتره قاريان به منافقان وي »۔

(رواه أحمد باسناد صحيح، صحيح الجامع ١/١٦٣).

★ او که چرې تۀ د منافقت نه يريږې، نو دا کارونه اوکړه :

۱ – اول : خالصه توبه۔ ځکه الله تعالىٰ منافقانو له ددې ترغيب ورکړې دې۔ فرمائي : ﴿فَإِن يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ﴾ [التوبة: ٧٤] (که چرې دوئ توبه کړي نو دا به ورله غوره وي)۔
نو رشتينې توبه اوباسه۔
۲ – دويم : هغه نهه (۹) کارونه اختيار کړه چه هغه په فائده نمبر (۲۲) کښې ذِکر شوي دي۔
۳ – ابو موسىٰ اشعري ﷺ فرمائي : « يو سړې راغې : وئيلې : زۀ په ځان باندې د منافقت نه يريږم۔ ابو موسىٰ ﷺ ورته اوفرمائيل : آيا تا په داسې ځائې کښې مونځ کړې چرته چه تا دَ الله نه سيوا بل هيڅوك نۀ وينې ؟ هغه وئيلې : ولې نه۔ وې فرمائيل : منافق هغه ځائې مونځ نۀ کوي چرته ئې چه د الله نه سيوا بل څوك نۀ وينې»۔ (كتاب الآثار ص : ٤٠).
حديث کښې دي : « څوك چه څلويښت ورځې جماعت سره داسې مونځ اوکړي چه تکبيرِ اولىٰ رالاندې کوي، نو ددۀ دپاره به دوه خلاصې اوليکلې شي : يو د اور نه خلاصې او بل د منافقت نه خلاصې »۔(رواه الترمذی ١/٧٧، وابن ماجه باسناد حسن).



۵۵ - فائده

د عرش سوری لاندې به څوك ولاړ وی؟

حشر حق دے او د الله سبحانه وتعالیٰ مخے ته اودریدل ضروری دی، او د قیامت ورځ سخته ده، هیڅوك ددے طاقت نشی لرلے چه برداشت ئے کړی، گرمی ئے سخته ده، انتظار ئے اوږد دے، په داسے حال کښے چه نمر به د یو میل په اندازه رانژدے شوے وی، بدنونه به خولے وی، ځمکه به دومره سخته گرمه وی چه هیڅوك به پرے خپه هم نشی کیخودے، دَ تیختے به هیڅ لاره نهٔ وی، اونه به چرته د پناه ځائے وی، سیوا دَ الله د عرش د سوری نه۔ خو دا به صرف هغه چاته حاصلیږی چه په هغه کښے ځینے هغه صفات راجمع شی چه په هغے سره دا کار کیږی۔ او دا اسباب د نوی (۹۰) نه زیات دی چه په بیلا بیلو احادیثو کښے راغلی دی، زهٔ هغه ټول راجمع کوم او د هغے دَ صحت او ضعف حالت هم بیانوم۔ او دا ډیر مفید بحث دے خو دَ هغه چا دپاره چه هغه آخرت له په دنیا باندے ترجیح ورکوی۔

★ **هغه اسباب چه انسان د عرش د سوری لاندے اودروی :**

دَ بخاری او مسلم په متفقِ علیه حدیث کښے اووه اسباب راغلی دی۔ ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « اووه کسان دی چه الله به ئے په هغه ورځ د خپل سوری لاندے اودروی په کومه ورځ چه به د هغهٔ د سوری نه علاوه بل هیڅ یو سورے نهٔ وی :

۱ – انصاف دار بادشاه۔

۲ – هغه ځوان چه د الله په عبادت کښے لوئے شوے وی۔

۳ – هغه سړے چه د هغهٔ زړهٔ جومات سره لگیدلے وی۔

٤ – هغه دوه سړی چه خاص د الله دپاره یو بل سره مینه کوی، په هغه باندے راجمع کیږی او په هغهٔ باندے جدا کیږی۔

۵ – هغه سړے چه هغهٔ ته یو ښکلے نسب داره ښځه د گناه دعوت ورکړی، نو هغهٔ اووائی : زهٔ د الله نه یریږم۔

٦ – هغه سړے چه صدقه ئے اوکړه او داسے ئے پټه کړه چه ددهٔ گس لاس ته هم پته اونه لگیده چه ددهٔ ښی لاس څه خرچ کړل۔

۷ – هغه سړے چه ځانله ځائے کښے الله رایاد کړی او د سترګو نه ئے اوښکے اوبهیږی)۔
(بخاری، مسلم).

۸ – تنګ لاسی قرضه وړی له مهلت ورکول۔

۹ – هغهٔ ته قرض معاف کول۔

حدیث کښے دی۔ ابو یسر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (څوك چه د تنګ لاسی نه خپل قرض روستو کړی یا ئے ورته معاف کړی، الله به دهٔ لره په داسے ورځ باندے د خپل سوری لاندے اودروی په کومه ورځ چه به د هغهٔ د سوری نه سیوا بل هیڅ سورے نهٔ وی)۔
(صحیح مسلم).

۱۰ – غازی له څه داسے شے ورکول چه هغه په هغے سره خپل ځان ته سورے اوکړی۔

عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (چاچه د غازی سر په سوری کړو، الله به ئے په خپل سوری کښے اووسوی)۔
(أخرجه ابن حبان ۷/ ۷۰، وأخرجه أیضا الضیاء فی المختارة واسناده جید وأحمد ۱/ ۵۳).

۱۱ – مجاهد سره تعاون کول۔

سهل بن حنیف ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (څوك چه د الله په لاره کښے جهاد کونکی سره تعاون اوکړی، یا:

۱۲ – قرضه وړی سره د هغه په تنګدستیٔ کښے، یا:

۱۳ – مکاتب سره د هغهٔ په څټ آزادولو کښے۔ نو الله به ئے په خپل سوری کښے داخل کړی، په کومه ورځ چه به د هغهٔ د سیوری نه علاوه بل سورے نه وی)۔
(أخرجه الحاکم، وأحمد ۳/ ٤۸۷، واسناده حسن).

۱٤ – تجارت کښے رشتیا وئیل:

سلمان فارسی ﷺ فرمائی: رشتینے تاجر به د قیامت په ورځ دَ اوو کسانو سره د الله په سوری کښے ولاړ وی۔ یعنی هغه اووه کسه چه د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے تیر شو۔
(واسناده حسن، کما قال الحافظ).

او دا موقوف دے خو په حکم د مرفوع کښے دے۔(ورواه ابو القاسم التیمی من حدیث أنس).

۱۵ – د مجاهدینو د پریخودونکو څیزونو حفاظت کول۔

د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے د رسول الله ﷺ ارشاد دے: « او بل هغه سړے چه هغه د یو قوم سره په یو لښکر کښے وی، هغوئ د دشمن سره مخامخ شی او ماتے اوخوری، نو دے د

هغوئ د قدمونو حفاظت کوی تر دے چه هغوئ هم نجات بیاموی او دے هم نجات بیاموی یا دے شهید شی - یعنی دا هم د عرش د سوری لاندے دے »۔

۱۶ - ماشوم والی کښے قرآن زده کول او په بوډا والی کښے ئے لوستل۔

ابو هریره ﷺ فرمائی رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « اووه کسان دی چه الله به ورله په خپل سوری کښے ځائے ورکړی۔۔» الحدیث۔ او په دے کښے دی : او هغه سړے چه په ماشوم والی کښے ئے قرآن زده کړو او په بوډا والی کښے ئے لولی)۔

(أخرجه البیهقی فی الشعب ۱/۴۸۷، وأخرجه الخطیب ۹/۲۵۳، کما فی الکنز ۱۵/).

دا حدیث صحیح او غریب دے۔

۱۷ - د مونځونو د وختونو دپاره د نمر خیال ساتل۔

۱۸ - په عِلم سره خبرے کول او په حِلم (صبر) سره خاموشی اختیارول۔

ابراهیم تیمیؒ د سلمان ﷺ نه روایت کوی چه هغهٔ اوفرمائیل : « اووه کسان دی چه دَ قیامت په ورځ به د الله په سوری کښے وی، په کومه ورځ چه د الله د سوری نه سیوا بل سورے به نهٔ وی۔ د ابو هریره ﷺ د حدیث پشان حدیث دے۔ او په دے کښے دی : او هغه سړے چه د مانځه د اوقاتو دپاره د نمر خیال ساتی، او هغه سړے چه خبرے کوی نو په علم سره خبرے کوی، او که خاموش کیږی نو په حِلم سره خاموش کیږی»۔

(واسناده جید وهو موقوف له حکم المرفوع).

۱۹ - په تجارت کښے حق خبره کونکے سړے :

انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « څلور کسه به د الله په سوری کښے وی په کومه ورځ چه د الله د سوری نه علاوه بل سورے به نهٔ وی۔ یو هغه ځوان چه الله ته ئے خپله ځوانی ورکړے وی، بل هغه سړے چه صدقه ئے اوکړه او پټه ئے اوساتله۔ بل تاجر سړے الخ۔ او بل انصاف دار بادشاه »۔ (أخرجه ابن عدی فی الکامل ۷/۲۵٦٦).

۲۰ - عثمان ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : « الله تعالیٰ دے هغه بنده له په خپل سوری کښے ځائے ورکړے په کومه ورځ چه د هغه د سوری نه علاوه به بل سورے نهٔ وی، چه هغهٔ تنگ دست له مهلت ورکړی او یا قرضه وُړی ته قرض پریدی »۔

(واسناده جید قوی ان شاء الله).

ابو قتاده ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « چا چه تنگ لاسی ته انتظار اوکړو او یائے ورته قرض معاف کړو، الله به ورله په هغه ورځ په خپل سوری کښے ځائے

ورکړی چه د هغهٔ د سوری نه سیوا به بل سورے نهٔ وی »۔(الکامل لابن عدی ٦/٢٢٨٠).

او په (١٧٩٦/٥) کښې دی : « چا چه تنګ لاسی له مهلت ورکړو الله به د خپل عرش په سوری کښې دهٔ له په هغه ورځ ځائے ورکړی په کومه ورځ چه د هغه دسوری نه سیوا به بل سورے نهٔ وی »۔

د طبرانی په اوسط کښې دَ شداد بن اوس ﷺ روایت دے : « چا چه تنګ دست له مهلت ورکړو، او یائے په هغه صدقه اوکړه ۔۔ »۔

٢١ – په تجارت کښې رشتیا وئیل :

انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « رشتینے تاجر به د قیامت په ورځ د عرش د سوری لاندے وی »۔(أخرجه الأصبهانی فی الترغیب و الدیلمی فی مسند الفردوس).

دا حدیث په کنز العمال (٧/٤) کښې دے۔ خو ددے سند صحیح نهٔ دے، بلکه شیخ البانیؒ فرمائی : دا موضوع دے، لکه په الضعیفة ٤٢٦/٥) کښې دی۔ ددے په سند کښې یحییٰ بن شبیب راوی دے۔

لیکن په یو بل حدیث کښې راغلی دی چه : « رشتینے امانتدار مسلمان تاجر به دَ قیامت په ورځ د شهیدانو سره وی »۔ (حاکم، ابن ماجه).

خو ددے په سند کښې هم ضعیف شته دے۔

امام ترمذیؒ مرفوعا نقل کړی دی : « رشتینے امانتدار تاجر به دَ پیغمبرانو، صدیقینو او شهیدانو سره وی »۔

نو ددے سند حسن لغیره دے کله چه دواړه حدیثونه راجمع کړے شی۔

(غایة المرام ص : ١٦٦)۔

او دا خبره معلومه ده چه انبیاء او شهیدان به دَ عرش د سوری لاندے وی۔ نو د حدیث معنیٰ – الحمد لله – ثابته شوه۔

٢٢ – دے روزه ګاره او بے تجربے خلقو سره مدد کول۔

جابر ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « یا بے روزګاره سره تعاون اوکړی)۔ یعنی هغه کس چه کارئے نهٔ وی او نهٔ په دے قادر وی چه څه کار زده کړی »۔ (أوسط).

٢٣ – په سختیو کښې اودس کول۔

٢٤ – په تیرو کښې جوماتونو ته تلل۔

٢٥ – اوږو له خوراك ورکول۔

(رواه أبو القاسم التیمی فی ترغیبه عن جابر، وهو فی ضعیف الجامع رقم ٢٠٤٨).

٢٦ - هغه سړے چه اوړی له خوراك ورکړی تردے چه موړ شی۔

(رواه الطبرانی عن جابررضی الله عنه).

٢٧ - د تاجرانو سردار هغه سړے دے چه هغه تجارت ئے راتینگ کړو کوم چه الله ښودلے دے یعنی الله او د هغهٔ رسول باندے ایمان لرل او د هغهٔ په لاره کښے جهاد کول۔ نو څوك چه اخستل خرڅول تینگ اونیسی او کله چه څه اخلی نو بدی ئے نهٔ وائی او چه څه خرڅوی نو صفت ئے نهٔ کوی او رشتیاً خبره کوی، امانت اداء کوی، او مؤمنانو دپاره د گرانیٔ آرزو نهٔ کوی۔ نو کله چه داسے وی نو دابه دَ هغه اوو کسانو پشان وی چه هغوئ د عرش د سوری لاندے وی۔

(رواه أبو الشیخ فی کتاب الثواب عن علی مرفوعًا، قال القسطلانی : واسناده ضعیف).

٢٨ - ابو هریره ﷺ فرمائی : الله تعالیٰ ابراهیم ﷺ ته وحی اوکړه : اے زما دوسته ! خپل اخلاق دے ښائسته کړه اگرکه د کافرو سره وی، تهٔ به د نیکانو ځایونو ته ننوځے، او بیشکه زما فیصله د هغه چا دپاره وړاندے شوے ده چاچه خپل اخلاق ښائسته کړل چه زهٔ به دا د خپل عرش لاندے سوری کښے اوسووم، او دَ خپل حظیرة القدس نه به په دهٔ څکل کوم، او خپل گاونډ ته به ئے رانزدے کوم۔ (الأوسط للطبرانی).

٢٩ - هغه سړے چه د یتیم پرورش اوکړی۔

٣٠ - او یا دَ کونډے۔ (رواه الطبرانی فی الأوسط عن جابر مرفوعًا).

٣١ - عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : «آیا تاسو پیژنیٔ څوك به د قیامت په ورځ د الله سوری ته ورمنډے وهی ؟ صحابوؓ عرض اوکړو، الله او رسول ته بهتره معلومه ده۔ وے فرمائیل : هغه خلق دی چه کله ورته حق ورکړے شی نو قبلوی ئے۔

٣٢ - او کله چه ترے اوغوښتلے شی نو خرچ کوی ئے۔

٣٣ - او خلقو دپاره داسے فیصله کوی څنگه چه ځان دپاره فیصله کوی»۔

(رواه أحمد ٦٧/٦، باسناد حسن، وفیه ابن لهیعة، ولفظه (من السابقون) ثم رواه فی ٦٩/٦، من هذا الوجه، جعل هذه الثلاث القسطلانی خصالًا علی حدة وهو فی المشکاة ٣٢٢/٢).

٣٤ - غمژن کس۔

ابو ذر ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « جنازو باندے مونځونه کوه کیدے شی چه دا کارتا غمژن کړی ځکه چه غمژن دَ الله په سوری کښے وی، هر یو خیر ته تعرض

کوی »۔

ددې حدیث اوله حصه داسې ده : « د قبرونو زیارت کوه، آخرت به درته پرې رایادیږی، مړی وینځه ځکه (د مړی) بدن اړول راړول لوئې پند او نصیحت دے او جنازو باندے مونځونه کوه ۔۔ »۔(قال الحاکم : رواته ثقات قال الذهبی بل هو منکر أبو مسلم الخولانی مجهول، و هو فی الترغیب للمنذری ۴/۳۳۹، وقال : رواته ثقات مقلدا للحاکم).

۳۵ – مرثد بن عبد الله د رسول الله ﷺ د بعضے صحابوؓ نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « د مؤمن صدقه به د قیامت په ورځ ددهٔ سورے وی »۔

(رواه أحمد ۴/۱۴۸، والحاکم ۱/۴۱۶).

عقبه بن عامر ﷺ نه روایت دے، دا فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : « هر سړے به دَ خپلے صدقے په سوری کښے وی تر دے چه د خلقو ترمینځه فیصله اوشی»۔

نو د ابو الخیر نه به یوه ورځ هم نهٔ خطا کیده چه په هغے کښے دے څه صدقه او نه کړی اگرکه خوږ ککوړے (غونزاخے) یا دَ پیِز غوټه ولے نهٔ وی۔(علی شرط مسلم).

۳۶ – د رسول الله ﷺ ارشاد دے : « سورتِ بقره او سورتِ آلِ عمران لولئ ځکه دا دواړه به د قیامت په ورځ داسے راځی گویا دا دوه وریځے دی یا دوه وزرے خورونکی مارغان دی، چه دابه د خپلو لوستونکو د طرفنه بحث او مباحثه کوی »۔

(صحیح مسلم ۱/۲۷۰، المشکاة ۱/۱۸۴).

۳۷ – ابو بکر ﷺ د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل کوی چه : « انصاف دار بادشاه د الله سورے دے نو چاچه په خپل ځان او په خلقو کښے ددهٔ خیر خواهی اولتهوله الله به ئے په هغه ورځ کښے د خپل سوری لاندے اودروی په کومه ورځ چه د هغهٔ د سوری نه سیوا د بل چا سورے به نهٔ وی »۔(ابن شاهین).

۳۸ – ابو بکر صدیق ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایهٔ : (څوک چه دا غواړی چه الله ئے په خپل سوری کښے اووسوی، نو هغهٔ له پکار دی چه مؤمنانو سره سختی نهٔ کوی، بلکه مؤمنانو سره دے د شفقت معامله کوی)۔

(رواه ابن لال وأبو الشیخ فی کتاب الثواب).

۳۹ – ابو بکر صدیق ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی : « چاچه بورے بور چندے ته د صبر تلقین ورکړو »۔ او په بل روایت کښے دی : «موسیٰ ﷺ خپل رب عز وجل ته عرض اوکړو، د هغه چا څه بدله ده چه هغه بورے ښځے ته تسلی ورکړی ؟ وے فرمائیل : زهٔ به ئے

په هغه ورځ په خپل سوری کښې کړم په ورځ چه زما د سوری نه سیوا به بل سورے نهٔ وی»۔

دا حدیث ضعیف دے په دے کښې ابو الرحیم ضعیف دے۔(ضعیف الجامع رقم ۴۰۷۱)۔

۴۰ – فضیل بن عیاضؒ فرمائی: ماته رارسیدلے ده چه موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل: اے ربه! تهٔ د خپل عرش سوری لاندے څوك اوسوے په کومه ورځ چه ستا د سوری نه سیوا بل سورے نهٔ وی؟ وے فرمائیل: اے موسیٰ! هغه خلق چه هغوئ د بیمارانو تپوس کوی او دَ مړو جنازو پسے ځی۔(رواه ابن أبی الدنیا وهو أثر اسرائیلی، کما تریٰ ولا حرج فیه)۔

۴۱ – علی رضی الله عنه نه مرفوعا نقل دی: د علیؓ ډله او محبوبان۔

خو ددے سند ضعیف دے۔

(رواه ابو سعید السکری فی الفوائد الکنجروذیات، وذکره القسطلانی)

۴۲ – ابو درداء رضی الله عنه فرمائی: موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل: اے ربه! تاسره په حظیرة القدس کښې څوك اوسیږی؟ او ستا سورے به چاته حاصلیږی په کومه ورځ چه ستا د سوری نه علاوه به بل سورے نهٔ وی؟ وے فرمائیل: دا هغه خلق دی چه په خپلو سترګو سره زنا، نه ګوری، او په خپلو مالونو کښې سود نهٔ لټوی، او په خپلو فیصلو باندے رشوت نهٔ اخلی۔

(رواه العیشونی فی فوائده، وعزاه الزرقانی الی البیهقی، وأبو الدرداءِ لم یأخذ عن بنی اسرائیل)۔

۴۳ – ابن عمر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوی: (هغه سړے چه د الله په باره کښې پرے د ملامتګر ملامتیا اثر نهٔ کوی۔

۴۴ – او هغه سړے چه ناجائزو څیزونو ته خپل لاس وراوږد نهٔ کړی۔

۴۵ – او هغه سړے چه حرام څیز ته او نهٔ ګوری)۔

(رواه أبو القاسم فی ترغیبه، وفیه عقبة وهو متروك، کذا فی الاتحاف وفی القسطلانی عنبسة)۔

دا حدیث ضعیف دے۔

۴۶ – هغه سړے چه د سورتِ انعام د اول نه واخله تر ۔ ﴿وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ﴾ [الانعام: ۳] پورے هر سهار لولی۔ د حدیث الفاظ داسے دی:

« چا چه د سهار مونځ نه پس د سورتِ انعامؔ درے آیتونه تر ﴿وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ﴾ [الانعام: ۳] پورے اولوستل»۔(رواه ابو القاسم فی ترغیبه وجزء بن الصقر وهو ضعیف، و المتهم به ابراهیم بن اسحق الصینی قاله ابن حجر). دا حدیث ضعیف دے۔

۴۷ – انس رضی الله عنه نه مرفوعا نقل دی: (خپلولی پالونکے، او هغه زنانه چه خاوند ئے مړ شو

او هغې ته ئې وروکي بچي پريخودل، او هغه اووائی چه زۀ په خپلو يتيمانو باندې تر هغه وخته پورې بل خاوند نۀ کوم چه دوئ مړۀ شوی نه وی او يا الله بې پرواه کړی نۀ وی.

۴۹ – او هغه بنده چه ښه مزيدار خوراك ئې تيار کړو او ښه خرچه ئې اوکړه او هغې ته ئې يتيم او مسکين را اوغوښتلو او صرف د الله د مخ دپاره ئې په هغوئ باندې اوخوړلو).

(رواه أبوالشيخ والديلمي في مسنده، وهو في الكنز رقم ٤٣٤٣، ١٦/٨١٦، وهو في ضعيف الجامع رقم ٣٤٢٧).

۵۰ – د ابو امامه ﷺ په حديث کښې دی: «او هغه سړې چه هغه کوم طرفته توجه کوی نو دا يقين ئې وی چه الله دۀ سره دې».

۵۱ – او هغه سړې چه د الله د جلال د وجې نه خلقو سره محبت کوی.

(رواه الطبراني في الكبير وفي اسناده بشر بن نمير وهو متروك).

خو په (الموطأ ٦/٣٤٢، بشرح الأوجز والمشكاة : ٢) کښې حديث دې. ابو هريره ﷺ فرمائی: «رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله تبارك وتعالیٰ به د قيامت په ورځ اوفرمائی: زما د جلال په باره کښې يو بل سره محبت کونکی څه شو؟ نن ورځ به زۀ په خپل سوری کښې دوئ اوسووم په کومه ورځ چه زما د سوری نه سيوا بل سورې نشته».

او ددې حديث سند صحيح دې.

۵۲ – د ابن عباس – رضی الله عنهما – په حديث کښې دی: «مؤذن د الله د رحمت په سوری کښې وی تردې چه د آذان نه فارغ شی».

(رواه الحارث بن أبي أسامة في مسنده وفيه ميسرة وهومتهم، وهو رواه الخطيب عن أبي سعيد مرفوعًا: ان المؤذنين ممن يظل يوم القيامة، واسناده ضعيف جدًا).

دا حديث ضعيف دې. خو ددې تائيد دا راتلونکې حديث د ترمذی کوی.

ابن عمر ﷺ نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «درې کسان به د قيامت په ورځ د مشکو په ډيرکو باندې ناست وی:

۵۳ – هغه غلام چه د الله او دَ خپل آقا حق اداء کړی.

۵۴ – هغه سړې چه خلقو ته امامتی کوی او هغوئ ترې خوشحاله وی. او هغه سړې چه هره ورځ د پنځو وارو مونځونو دپاره آذان کوی».

دا حديث ضعيف دې.

(واسناده فيه أبو اليقظان وهو واه، ورواه الطبراني في الصغير والأوسط باسناد لا بأس به ورواه في الكبير أيضًا، انظر المرعاة ٢/٣٧٣، وضعفه الألباني في ضعيف الجامع ٢٥٧٨).

٥٥ – هغه څوك چه زما په امت كښې د يو غمزده نه غم لرې كړى.
٥٦ – زما سنت ژوندے كړى.
٥٧ – او په ما باندے ډير ډير درود وائى.
(دا حديث ديلمى د أنس ﷺ نه مرفوعا بغير د سند نه ذكر كړے.
٥٨ – د يلمى د أنس ﷺ نه مرفوعا نقل كړى دى : « د قرآن والا به د الله په سورى كښې د هغهٔ د انبياء او غوره بندگانو سره وى».
٥٩ – أنس ﷺ نه مرفوعا نقل دى : « مريض به د عرش په سورى كښې وى».
دا ضعيف حديث دے. (رواه أبو يعلىٰ رقم ٣٤١٦، واسناده فيه عباد بن كثير وهو رجل صالح ولكنه ضعيف الحديث لغفلته، كما في المجمع ٢/٢٩٥).
٦٠ – په دنيا كښې اوږى خلق. (رواه ابن شاهين، وروى الديلمى عن أبى هريرة).
٦١ – د الله د ويرے نه په دنيا كښې اوږى خلق به د قيامت په ورځ سورى لاندے ناست وى.
٦٢ – دارنگه روژه دار خلق.

(رواه ابن أبى الدنيا فى الأهوال عن مغيث بن سمى التابعى قوله، وهو مقطوع، ولكن روى الديلمى عن أبى الدرداءِ رفعه : يوضع للصائمين موائد من ذهب تحت العرش).
٦٣ – د مؤمنانو واړه ماشومان. (رواه الديلمى).
ابن عمر ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ يو سړى ته چه د هغهٔ ځوئے مړ شوے وو اوفرمائيل : « آيا تهٔ نهٔ خوشحاليږے چه ستا ځوئے زما د ځوئے ابراهيم سره د عرش لاندے لوبے كوى ». (المعجم الكبير).
٦٤ – په الحليه كښې دى : وهب بن منبهؒ فرمائى : رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : « هغه كس چه خپلے ژبے سره ذكر كوى او زړۀ ئے د عرش د سورى لاندے وى.
٦٥ – هغه كس چه د والدينو نافرمانه نهٔ وى.
٦٦ – او نهٔ چغلخور وى.
٦٧ – او نهٔ خلقو سره په هغه څه حسد كوى كوم چه دوئ ته الله د خپل فضل نه وركړے وى ». (رواه البيهقى فى الشعب عن موسىٰ عليه السلام وعزاه الزرقانى لابن عساكر).
ابن مسعود ﷺ نه روايت دے : الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام ته اوفرمائيل : هغه كس چه خلقو سره حسد نه كوى او نهٔ چغلخورى كوى، دابه د عرش د سورى لاندے وى.

٦٨ – هغه خلق چه د هغوئ زړونه پاك وی.
٦٩ – بدنونه ئے پاکیزه وی.
٧٠ – هغه خلق چه کله د الله ذکر اوکړے شی نو دوئ ورسره رایادیږی.
٧١ – او کله چه د دوئ ذکر اوشی نو الله ورسره رایادیږی.
٧٢ – دوئ د الله ذکر ته داسے رجوع کوی ځنګه چه نسور (بازونه) خپلے ځالے ته رجوع کوی.
٧٣ – او کله چه د الله د حرام کړو څیزونو بے عزتی اوشی نو داسے غصه کیږی لکه د پړانګ غونته.
٧٤ – او دَ هغهٔ په محبت باندے داسے لیواله وی لکه څنګه چه ماشوم د خلقو په محبت لیواله وی.
امام احمدؒ په کتاب الزهد کښے د عطاء بن یسارؒ نه نقل کړی دی چه موسیٰ عليه السلام د الله عز وجل نه تپوس اوکړو، تهٔ د عرش په سوری کښے څوك اوسوے ؟ وے فرمائیل دا هغه خلق دی چه زړونه ئے پاك دی. الخ.
٧٥ – هغه خلق چه زما جوماتونه آبادوی.
٧٦ – پیشمنی وخت کښے استغفار غواړی.
(رواه ابن المبارك في الزهد عن رجل من قريش عن موسىٰ عليه السلام).
٧٧ – هغه خلق چه زهٔ هغوئ یادوم او هغوئ ما یادوی.
(رواه أبو نعيم في الحلية عن أبي ادريس الخولاني عن موسىٰ عليه السلام).
٧٨ – د لا اله الا الله والا، دوئ به زما د عرش لاندے وی ولے چه زهٔ دوئ سره مینه کوم.
٧٩ – د احد شهیدان.
لکه د ابوداود او حاکم په حدیث کښے دی «د دوئ روحونه د شنو مارغانو په ججورو کښے دی چه د عرش په سوری کښے زوړندو د سرو زرو قندیلونو (فانوسونو) ته پناه وړی.
او دا د دوئ برزخی حالت دے نو دَ قیامت په ورځ به د دوئ څه حالت وی ؟
٨٠ – عقبه بن عبد السلمی ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی : «څوك چه د الله په لاره کښے په خپل ځان او مال سره جهاد اوکړی تر دے چه کله دشمن سره مخامخ شی نو جنګ ورسره اوکړی تردے چه قتل کړے شی نو دا هغه آزمائیلے شوے شهید دے چه دا به د الله د عرش د سوری لاندے د الله په خیمه کښے وی». (أخرجه الدارمي وصححه ٢/١٢٦، وابن حبان).

٨١ - ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : «اے الله ! مُعلمینو - استاذانو - تـه بـخښنه اوکړے، د دوئ عمرونه اوګدهٔ کړے، او د خپل عرش په سوری کښے دوئ له ځائے ورکړه ».(أخرجه الحسن بن محمد الخلال. وأخرجه الخطيب فی تاريخ بغداد، وفيه أبو الطيب وهو غير ثقة، بل قال شيخنا : انه موضوع).

دا حديث چا د ځانه جوړ کړے دے۔

٨٢ - كـعـب الأحبارؒ فـرمائی : الله تعالىٰ موسىٰ ﷺ تـه پـه تـورات کښے وحی کړے وه : خـوك چـه د نيـکـئ حـکـم کوی او د بدئ نه منع کوی او خلق زما طاعت ته رابلی نو دهٔ ته زمـا مـلـگـرتـوب حـاصـل دے په دنيا کښے هم، په قبر کښے هم او په قيامت کښے به زما په سوری کښے وی۔ (أخرجه ابو نعيم فی الحلية).

٨٣ - مسند احمد کښے د علیؓ په مناقبو کښے دی چه : دهٔ سره به د حمد جنډه وی۔

٨٤ - حسن ﷺ به ددهٔ ښی اړخ ته وی۔

٨٥ - او حسين ﷺ به ئے گس اړخ ته وی، تردے چه دے د نبی ﷺ او د :

٨٦ - ابراهيم ﷺ ترمينځه د عرش سوری ته ورتهوپ کړی۔ (ذكره القسطلانیؒ).

٨٧ - او په الزرقانیؒ کښے د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه د نبی کريم ﷺ دا ارشاد نقل دے : زهٔ، علیؓ،

٨٨ - فاطمهؓ، حسنؓ او حسينؓ به د قيامت په ورځ د عرش لاندے په يو گول خيمه کښے يو۔

٨٩ - ابـن عمر ﷺ نـه روايت دے چـه د نبی کريم ﷺ ځـوئے ابراهيم ﷺ بـه د عرش سوری لاندے وی)۔ (أخرجه الطبرانی برجال ثقات).

٩٠ - قرآن کريم۔

٩١ - امانت۔

٩٢ - او خپلولی۔

لکه د عبد الرحمن بن عوف ﷺ پـه حديث کښے دی : (درے څيزونه به د عرش لاندے وی : يو قرآن چه بندګانو سره به بحث او مباحثه کوی، بل امانت او بل خپلولی۔

(وهو فی ضعيف الجامع ١٣٨٠، رقم ٢٥٧٧).

ددے پـه سـنـد کښے حسـن بـن عبـد الرحمن مجهول راوی دے، البته لفظ د خپلولئ او د امانت صحيح دے۔ (كما فی الضعيفة ١٣٣٧).

٩٣ - حديث کښے دی : « درے کسان دی چه د عرش په سوری کښے به ښهٔ په آرام خبرے

اترے کوی او خلق به په حساب کښے مشغوله وی: یو هغه سړے چه د الله په باره کښے پرے د ملامتگر ملامتیا اثر نهٔ کوی۔

۹٤ – بل هغه سړے چه هغه شئ ته خپل لاسونه اوږدهٔ نه کړی چه هغه په دهٔ حرام دی۔

۹۵ – او بل هغه سړے چه حرامو ته او نهٔ گوری»۔

(رواه الأصبهاني في ترغيبه عن ابن عمر، وهو في الكنز برقم (٤٣٢٥٣) وضعيف الجامع (٢٦٠٧).

۹٦ – حديث کښے دی: «درے کسان دی چه الله به ورله په هغه ورځ کښے په خپل سوری کښے ځائے ورکړی په کومه ورځ چه به د هغه د سوری نه علاوه بل سورے نهٔ وی۔ یو امانتدار تاجر۔

۹۷ – دویم درمیانه روی کونکے (انصاف دار) بادشاه۔

۹۸ – دریم د ورځے د نمر خیال ساتونکے۔

(اخرجه الديلمي عن أبي هريرة وهو في ضعيف الجامع رقم ٢٦١٢).

۹۹ – حديث کښے دی: (اووه کسان دی چه په هغه ورځ به ورله الله د خپل عرش په سوری کښے ځائے ورکړی په کومه ورځ چه د هغهٔ د سوری نه سیوا بل سورے به نهٔ وی۔ هغه سړے چه زړهٔ ئے جوماتونو پورے زوړند وی، او هغه سړے چه منصب داره ښځه ورته (د زنا) دعوت ورکړی او دے اووائی: زهٔ د الله نه یریږم، او هغه دوه سړی چه د الله دپاره یو د بل سره مینه کوی، او بل هغه سړے چه د الله د حرام کړو څیزونو نه خپله سترگه ښکته ساتی۔

۱۰۰ – او هغه سترگه چه د الله (دجهاد) په لاره کښے څوکیداری کوی۔

۱۰۱ – او هغه سترگه چه د الله د ویرے نه اوژاړی۔(رواه البيهقي في الأسماءِ والصفات عن أبي هريرة وهو في الكنز برقم ٦٣٥٦٣، وضعيف الجامع: ٣٢٣٨).

د عرش سوری ته ډیر خلق سبقت کونکی دی او دَ الله فضل فراخه دے۔ دا مذکوره کسان مونږ په یو څو ورځو کښے راجمع کړل، سره دَ بعضے تحقیق نه۔ ددے اکثره حصه مونږ دَ قسطلانیؒ د شرح البخاري (٣/٢٤، كتاب الزكاة، او د شیخ زکریا صاحب د اوجز المسالك(٦/٣٤٤) نه واخسته۔ او څه حصه مے دَ کنز العمال، جامع الصغیر او فتح الباری (١١٣/٢) نه نقل کړه، او څه برخه د دلیل الفالحین شرح ریاض الصالحین نه لیکن دوئ داسے تفصیل نهٔ دے کړے څنگه چه ما اوکړو۔ و الحمد لله علی توفیقه۔

٥٦ - فائده

د عملونو درنیدو اسباب

د چا د اعمالو تلے چه درنے شوے نو دا پوره کامیاب شو۔ میزان حق دے او دا ډیر لوے ځیز دے، ددے دواړه چابړی د زمکے او آسمانونو هومره دی لکه په حدیث د حاکم (٥٨٦/٤) کښے دی چه سلمان ﷺ د نبی ﷺ نه روایت کوی۔ فرمائی: «د قیامت په ورځ به میزان – تله – کیخودے شی، نو که په دے کښے زمکه او آسمانونه هم اوتللے شی نو دا ورته فراخیږی، نو ملائك به وائی: اے ربه! په دے به د چا اعمال تللے شی؟ الله تعالیٰ به ورته اوفرمائی: په خپل مخلوق کښے چه زهٔ د چا غواړم۔ ملائك به وائی: پاکی ده تالره! مونږ ستا سَم عبادت اونه کړو۔ او صراط (پُل) به د چَړے د تیرهٔ والی پشان کیخودے شی، ملائك به وائی: اے الله! تهٔ به په دے باندے څوك تیرے؟ الله به وائی: څوك چه زهٔ غواړم د خپل مخلوق نه۔ ملائك به وائی: پاکی ده تالره اے الله! مونږ ستا سَم عبادت او نه کړو»۔

(وهو فی الصحیحة: ٦٥٦/٢).

دا حدیث په دے دلالت کوی چه میزان یو دے، او دا حقیقی شے دے، دے دپاره دوه ژبے او دوه چابړی دی۔ نو مؤمن دپاره ضروری ده چه دا په هغه اعمالو، اقوال او احوالو باندے ډك کړی، کوم چه الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے او نبی ﷺ په خپل سنتِ مطهره کښے ذکر کړی دی۔

او دا ډیر اسباب دی:

١ - یو د هغے نه توحید او د الله دپاره اخلاص کول دی۔

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے: «الله به زما د امت نه یو سړے د تمامو مخلوقاتو مخامخ د قیامت په ورځ راجدا کړی او هغهٔ ته به نهه نوی (٩٩) رجسټرے راپرانیزی چه هر یو رجسټر به د نظر د لګیدو ځائے پورے اوږد وی، بیا به اوفرمائی: آیا تهٔ په دے کښے د څه شئ نه انکار کوے؟ آیا تا باندے زما لیکونکو او ساتونکو ملائکو ظلم کړے؟ هغه به وائی: نه اے ربه! الله به وائی: آیا ستا څه عذر شته؟ وائی به: نه اے ربه! الله به وائی: هاؤ، زمونږ سره ستا یوه نیکی شته دے او نن ورځ به په

تا ظلم نه کیږي، نو هغه بطاقه (چیټۍ) به راوخکلې شي چه په هغې کښې به (اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ) وي، ورته اوبه وائي : خپل تول ته دې حاضر شه ! بنده به وائي : د دغه دفترونو سره ددې چیټۍ څه حیثیت دې ؟ الله به وائي : تاسره به ظلم نه کیږي۔ نبي ﷺ فرمائي : نو دغه دفترونه به په یو چابړي کښې او چیټۍ به په بل چابړي کښې کیخودې شي، نو دفترونه به سپك او چیټۍ به درنه شي ځکه چه د الله د نوم په مقابل کښې هیڅ یو شې نه درنیږي»۔

نو اوګوره ! د توحید په کلمې سره ددۀ تله څنګه درنه شوه ؟ دا داسې کلمه ده چه که زمکه او آسمانونه هم ورسره اوتللې شي نو دا پرې درنیږي۔

۲ - **دويم** : په هر یو عمل کښې د کتاب او سنت اتباع : ځکه د کتاب او سنت نه بغیر د هیڅ یو عمل وزن نشته۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ ﴾ [اعراف: ۳] (روان شئ هغه څه پسې چه تاسو ته ستاسو د رب د طرفنه نازل شوی دی او د هغې نه سیوا بل هیچا پسې مه روانیږئ)۔

دارنګه فرمائي : ﴿ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ ﴾ [اعراف: ۸] (نن ورځ تول حق دې)۔

نو اشاره ئې اوکړه چه تله درنیږي او د اعمالو درنیدل به په توحید او په اتباع د سنت د رسول الله ﷺ سره وي، لکه چه دا د آیت نه معلومیږي۔ سوچ اوکړه !

او نبي کریم ﷺ فرمائي : (چاچه یو داسې عمل اوکړو چه په هغې باندې زمونږ حکم نۀ وو، نو دا مردود دې)۔ (رواه الشيخان)

نو دا عمل به څنګه اوتللې شي ؟

او نبي کریم ﷺ فرمائي : « ډیر داسې روژه دار شته چه د هغۀ دپاره د هغۀ د روژې نه صرف تنده وي، او ډیر داسې تهجد ګذار شته چه د هغۀ دپاره د هغۀ د تهجدو نه صرف بیخوبي وي »۔(رواه الدارمي).او دا په دې وجه چه ددۀ په عمل کښې اخلاص او اتباع سنت نۀ وي۔

ایوب سختیاني ؒ فرمائي : بدعتي چه څومره کوشش کوي، هغومره د الله نه لرې وځي۔ (كتاب البدع والنهي عنها لابن وضاح).

۳ - **دريم** : ښائسته اخلاق :

٤ - **څلورم** : خاموشي د لغوې او بې فائدو خبرونه۔

انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « اې ابو ذره ! آیا زۀ تاته دوه داسې خویونه اونۀ ښایم چه هغه په شا باندې سپك او په میزان کښې درانۀ وي ؟ هغه وئیلې : ولې نه۔ وې

فرمائیل : اوږده خاموشي او ښائسته اخلاق. قسَم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښے زما ساه ده ! هیڅ مخلوقاتو ددے پشان عمل نۀ دے کړے ».
(ددے حدیث سند صحیح دے).
او حدیث کښے دي : « د مؤمن په تله کښے دروند شے ښائسته اخلاق دي ».
(الصحيحة رقم ٨٧٦).
٥ – دَ : سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظيم وظيفه کول.
ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے : « دوه کلمے دي چه په ژبه سپکے، په تله کښے درنے او رحمٰن ذات ته خوښے دي : سُبُحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمُدِهٖ سُبُحَانَ اللّٰهِ الۡعَظِيۡمِ ».
(بخاري آخري حديث).
نو هر مسلمان له پکار دي چه ددے دوه کلمو ذکر څومره چه کولے شي ډیر ډیر کوي.
٦ – د بچي په مرګ باندے صبر کول او دا ثواب ګنړل.
٧ – سُبُحَانَ اللّٰهِ
٨ – اَلۡحَمُدُ لِلّٰهِ
٩ – لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
١٠ – اَللّٰهُ اَكۡبَرُ
ابو سلمیٰ چه د رسول الله ﷺ آزاد کړے غلام دے فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : « واه واه ! او لاس سره ئے پنځو خبرو ته اشاره اوکړه چه ! دا په میزان کښے څومره درنے دي : سُبُحَانَ اللّٰهِ، وَالۡحَمُدُ لِلّٰهِ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكۡبَرُ. او بل نیك بچے چه د مسلمان سړي دپاره مړ شي او هغه ثواب اوګنړي). (الصحيحة ١٢٠٤).
١١ – ابو مالك اشعري ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوي. «تسبیح نیمائي تله ډکوي، او الحمد لله ئے پوره ډکوي». (أخرجه مسلم وهو في المشكاة ١/٣٨).
١٢ – ابو بکر صدیق ﷺ نه نقل دي چه دوئ عمر ﷺ ته وصیت کولو، نو ورته ئے اوفرمائیل : « بیشکه د چا د عملونو تلے چه درنے شوي دي نو دا په دوئ وجه چه دوئ د حق تابعداري کړے ده، او د هغه تلے دپاره لائق دي په کومه کښے چه حق کیخودلے شي چه درنه شي. او د چا تلے چه سپکے شوي دي نو دَ باطل د اتباع د وجے نه، او هغه تلے دپاره لائق دي په کومه کښے چه باطل کیخودلے شي چه سپکه شي ».
(انظر معالم التنزيل للامام فراء البغويؒ، سورة الأعراف).

١٣ – د معاذ ﷛ په اوږد حديث کښې دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «قسم مې دِ وي په هغه ذات چه د محمد (ﷺ) روح د هغهٔ په لاس کښې دے، هيڅ يو مخ نهٔ دے خړ شوے او نهٔ يو قدم ګرد آلود شوے دے په يو داسې عمل کښې چه په هغې کښې د جنت درجات طلب کولے شي پس د فرض مانځه نه، چه هغه دے د الله په لاره کښې د جهاد غونتنه وي. او نهٔ د هيڅ يو بنده تله درنه شوے ده پشان د داسې اس چه د هغه ئے د الله په لاره کښې ورکړي او يا د الله په لاره کښې په هغې باندے څوك بار کړي».

(په دے روايت کښې شهر بن حوشب متکلم فيه راوي دے). (احمد ٥/١٤٦).

١٤ – **اودس کول** : امام احمد (٥/٣٧٠) د بنو سليم د يو سړي نه روايت کوي چه نبي ﷺ په خپل لاس کښې او يا د دغه سلميؓ په لاس کښې شمار اوکړو او وے فرمائيل : «سبحان الله نيمائي تله ده، الحمد لله تله ډکوي او الله اکبر د زمکے او آسمان ترمينځه خالي ګاه ډکوي. او اودس کول نيمائي تله ده او روژه نيم صبر دے».

(وهذا الحديث أخرجه الترمذي بلفظ : الطهور نصف الايمان، وكذا في مسلم بلفظ : الطهور شطر الايمان، وكلاهما في المشكاة ١/٣٨). والله اعلم.

١٥ – د جهاد دپاره اس تړل. څکه دده مړيدل، خړوبه کيدل او خاشنهٔ (هر څه) به دهٔ په تله کښې د قيامت په ورځ نيکئ وي. (كما في البخاري).

١٦ – هغه قرض دارے چه د قرض اداء کولو اراده ئے وي او د خلقو حقونه نهٔ ضائع کوي.

عبد الرحمن بن ابي بكر صديق – رضي الله عنهما – فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ قرضه وړے راوغواړي اوخپلے مخے ته به ئے اودروي، ورته به اوفرمائي : اے زما بنده ! تا د خلقو مالونه ولے خراب کړل ؟ هغه به وائي : ياربه ! تاته ښه معلومه ده چه ما نهٔ دي خراب کړي، هغه خو خپله اوبو کښې ډوب شول، يا اوسول او غلا شول او يا په امانت کښې لاړل، نو دا به د الله عز وجل نه په څه الفاظو سره دعاء اوغواړي نو هغه به دا دهٔ په تله کښې کيدی نو دهٔ نيکئ به درنے شي».

په بل روايت کښې دي : «زما بنده رشتيا اووئيل. زهٔ ډير لائق يم چه نن تانه ستا قرضه اداء کړم. نو دا به د الله نه په څه الفاظو سره دعاء اوکړي... تر آخره پورے. (او په دے کښې دي : نو د الله په فضل سره به جنت ته داخل شي». (أخرجه احمد ٢/٢٩٧).

١٧ – **د فرض مونځونو نه پس تسبيحات وئيل** :

عبد الله بن عمرو بن العاص ﷛ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «دوه خويونه دي

چه هيڅ مسلمان ددې خيال نۀ ساتي مګر جنت ته به داخل شي، خبردار! دا دواړه آسان دي ليکن په دې باندې عمل کونکي لږ دي۔ (هغه دا چه) دَ هر فرض مانځه نه پس به لس ځله سبحان الله وائي، لس ځله الحمد لله او لس ځله الله اکبر۔

عبد الله بن عمرو ﷺ وائي : ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه خپل لاس سره ئې وئيلې۔ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : نو دا کلمې په ژبه باندې وئيلو سره يو نيم سل (١٥٠) شوې او په تله کښې يو نيم زر۔ او کله چه اودۀ کيږې نو درې ديرش ځله (٣٣) سبحان الله، درې ديرش (٣٣) ځله الله اکبر او درې ديرش (٣٣) ځله الحمد لله به وائې۔ نو دا په ژبه باندې وئيلو کښې سل ځله شو، ليکن په تله کښې زر کرته شو۔ نو پتاسو کښې څوك دې چه په يوه شپه او ورځ کښې دوه نيم زره ګناهونه اوکړي؟ صحابوؓ عرض اوکړو، مونږ به ددې خيال څنګه نه ساتو؟ وې فرمائيل : پتاسو کښې يو کس ته شيطان راشي او دا په خپل مانځه کښې مشغول وي نو ورته وائي : دا کار راياد کړه، دا کار راياد کړه، ترديې چه د مانځه نه فارغ شي نو کيدې شي چه دا تسبيح اونه وائي۔ دارنګه چه کله د خوب دپاره اړخ اولګوي نو شيطان ئې اودۀ کوي اودۀ کوي ترديې چه اودۀ شي (او تسبيحات ترې پاتې شي)۔

(ددې حديث سند صحيح دې)۔

نو ددې ذکر اهتمام کوه، کيدې شي چه تۀ نجات بيامومې!

١٨ - هر نيك عمل چه انسان ئې په خپلو هغه شروطو سره اداء کړي، کوم چه مخکښې په (٣) فائده کښې ذکر شوي دي، نو دا په ميزان کښې کيخودلې کيږي او په دې سره تله درنيږي، ځکه الله د هيڅ يو عمل کونکي عمل نۀ ضائع کوي اګرکه هغه عمل دَ وړې د دانې هومره ولې نۀ وي خو هغه به د حساب دپاره الله تعالىٰ را حاضروي۔

﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴾ [زلزال: ٧،٨]

(څوك چه د ذرې هومره نيك عمل اوکړي، هغه به اووينى او څوك چه د ذرې هومره بد عمل اوکړي هغه به اووينى)۔

او حديث کښې دي : « هيڅ يو نيك عمل سپك مه ګڼړه، اګرکه خپل ورور سره په فراخه تندي ملاويدل ولې نۀ وي »۔

ځکه کله چه نيکي او بدي تللې کيږي نو يوه نيکي هم په بديو باندې دَ نيکيو چاړې درنولې شي، او بنده به د قيامت په ورځ يوه نيکئ ته هم محتاجه وي خو هغه به بيا نۀ مومي او ددې په وجه به د جنت د دخول نه بند پاتې شي۔ په الله پورې پناه!

نو ددې ورځې دپاره پوره کوشش او پوخ عزم لره او ددې دپاره سخت اهتمام کوه، چه دا سخته ورځ ده، موده ئې اوږده ده او ډير پلنه او فراخه ورځ ده. او مسئله دَ تللو د اعمالو ډيره خطرناکه ده، ځکه دا خو يا انسان جنت دار السلام ته رسوي او يا اور دار الأشرار ته.

اللهم احفظنا و جميع عبادك المؤمنين، آمين!



٥٧ - فائده

مونځ وغیره کښې خشوع پیدا کونکی اسباب

د خشوع پیدا کولو طریقه، او په دے باره کښې د نیکانو خلقو قیصے :

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی رسوله محمد وآله وصحبه اجمعین.

أما بعد : دا یوه اهمه او ضروری مسئله ده، ځکه چه **خشوع** د مانځه روح، زړونه جوړونکے او دَ مخونو دَ روښانتیا سبب دے. او دا اولنے علم دے چه ددے امت نه به اخستلے شی، لکه په یو صحیح حدیث کښے راغلی دی : « د هر څه نه مخکښے چه کوم شے پورته کیږی هغه خشوع ده ». (کما فی صحیح الجامع ٢٥٦٩).

عباده بن صامت ﷺ فرمائی : که ستا خوښه وی نو زۀ درته د تولو نه اولنے علم ښایم چه د خلقو نه به پورته کړے شی، نزدے ده چه تۀ به یو جامع مسجد ته داخل شے او په هغے کښے به یو کس هم خشوع کونکے بیانۀ مومے. (رواه الترمذی ٢/٩٤، والدارمی ١/٧٥).

بعضے علماء لا فرمائی چه د مانځه په تمامو ارکانو اداء کولو کښے خشوع کول واجب دی. په سننو کښے دا حدیث ثابت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی : « د مونځ کونکی دپاره د مانځه لسمه حصه لیکلے کیږی، نهمه حصه، آتمه حصه، اوومه حصه، شپږمه حصه، پنځمه حصه، څلورمه حصه، دریمه حصه، نیمه حصه ». یا ئے ددے پشان الفاظ فرمائیلی دی.

او دا دَ خشوع د ډیر والی او کم والی په وجه.

حدیث کښے دی : « کوم مسلمان سړی باندے چه د فرض مانځه وخت راشی او هغه ددے اودس او خشوع او رکوع په ښے طریقے سره اوکړی، نو دا به ددۀ د مخکنو ګناهونو دپاره کفاره جوړه شی ترڅو ئے چه د غټے ګناه ارتکاب نۀ وی کړے، او دا کار همیشه ددۀ سره کیږی». (مسلم، مشکاة ١/٣٨).

حدیث کښے دی : « چا چه زما ددے اودس پشان اودس اوکړو، بیائے داسے دوه رکعته (نفل) اوکړل چه په هغے کښے ئے د ځان سره سوچونه نۀ کول، نو ددۀ مخکنی ګناهونه به اوبخښلے شی ». (بخاری، مسلم، مشکاة ١/٣٩).

بل حدیث کښې دي « هیڅ یو مسلمان نشته چه اودس اوکړي او ښه اودس اوکړي او بیا پاسي او دوه رکعته اوکړي چه هغې ته په خپل زړهٔ او مخ (ظاهر او باطن) دواړو سره متوجه وي، مګر ددهٔ دپاره جنت واجب کیږي»۔ (مسلم، المشكاة ١/ ٣٩).

د خشوع په باره کښې ډیر حدیثونه راغلي، بلکه قرآن کریم کښې هم دا مسئله ذکر شوې ده۔ الله فرمائي : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ [المومنون: ١]

(هغه مؤمنان کامیاب شو چه په خپلو مونځونو کښې خشوع کونکي دي)۔

او فرمائي : ﴿ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخَاشِعِيْنَ ﴾ [البقرة: ٤٥]

(او دا - مونځ - ګران دے مګر په خاشعینو باندې)۔

په مانځه کښې او د مانځه نه بهر دواړو حالتونو کښې خشوع کول د مؤمنانو صفت دے۔ الله تعالیٰ : ﴿ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ ﴾ [الاحزاب: ٣٥]

(او عاجزي کونکي نارینه مؤمنان او عاجزي کونکې زنانه)۔

خشوع کونکے : هغه څوك دے چه کارونو ته په فراخئ سره ددے ویرے د وجے نه نهٔ ورځي چه هسے نه په ګناه کښې واقع شي۔ (كما في تفسير الخازن ٣، سورة الأنبياء).

قرآن کښې الله د انبیاء کرامو - علیهم السلام - صفت په خشوع سره کړے دے، فرمائي : ﴿ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴾ [الانبياء: ٩]

(هغوئ به مونږ په رغبت او ویرے سره رابللو او هغوئ صرف مونږ ته عاجزي کونکي وو)۔

دارنګه د اهلِ کتابو نیکه عمله خلقو صفت ئې داسے کړے : ﴿ وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللهِ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خَاشِعِيْنَ ﴾ [ال عمران: ١٩٩]

(په کتاب والو کښې څه داسے خلق هم شته چه دوئ په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لري او الله ته عاجزي کونکي دي)۔

او د خشوع نښه داده چه انسان خپلې جامې یا د بدن کومې حصے سره لوبے اونه کړي، او نهٔ خپل نظر په مانځه کښې آسمان ته اوچت کړي، او نهٔ خپل ښي او ګس ته ولاړ خلق اوپیژني، مقام غټ اوګڼړي او ځائے جلیل القدر۔ خاموشه ولاړ وي، سر ښکته کونکے وي او د خپلې سجدې ځائے ته کتونکے وي۔

د ټولو هغه خلقو په نیز چه الله پیژني دا اتفاقي خبره ده چه د خشوع ځائے زړهٔ دے چه په زړهٔ سره یو انسان خپل معبود ته عاجزه، ذلیل او هیبت والا وي او د معبود نه علاوه بل یو

شئ ته زړهٔ توجه او نهٔ کړي.

د خشوع د پیدا کیدو اسباب ډیر دي

بعضے د هغې نه دادي :

اول سبب : قوی محرك او دا د الله عز وجل خوف دے، ځکه چه کله زړهٔ په خوف باندے آباد وی نو دے سره خشوع پیدا کیږي، او یواځے دا سبب هم کافي دے. سلفو ؒ کښے به چه ځوك مانځه ته اودریدل نو یریدل به.

دویم سبب : دَ مانع کمزورتیا. او دا هغه شے دے چه خشوع خرابوی لکه لوږه، بول او براز وغیره. نبی کریم ﷺ دیته په خپل دے قول سره اشاره فرمائیلے : « کله چه د ماښامی خوراك حاضر شی او دَ مانځه اقامت اوکړے شی نو تاسو اول خوراك اوخورئ ».

او فرمائی : « اونه په هغه وخت کښے مونځ شته چه دوه خبیث څیزونه – بول او براز – دهٔ له دیکے ورکوی ». (بخاری، مسلم).

نو انسان له مناسب دی چه د زړهٔ د اوزګارتیا په حالت کښے مانځه ته اودریږي.

دریم سبب : دا چه قرآن په اوچت آواز سره لولی، چه کم از خپل ځان ته ورآوروی، ځکه چه دا په زړهٔ باندے ډیر تاثیر کوی. او د هغه چا مونځ هم نه کیږي چه هغه خپلے شونډے په قرأت کولو سره نهٔ خوزوی. (لکه فتاویٰ الدین الخالص ٤٨/٤) اوګوره.

څلورم سبب : دا چه په هغه شئ کښے سوچ کوی څه چه ددهٔ په خوله جاری کیږي او دا چه دا کوم ځائے ته اورسیدهٔ آیا دے په ثناء کښے دے او که په سورتِ فاتحه وغیره کښے ؟

پنځم سبب : د قراء ت ، ذکرونو او تسبیحاتو معنیٰ پیژندل.

ابن عباس ﷺ فرمائی : ستا د مانځه نه به صرف هغه شے تاته ملاویږیٔ کوم باندے چه تهٔ پو هیږے. (بخاری).

او پو هه په عربیٔ ژبه باندے د پو هیدلو خاصکر د مانځه د الفاظو په پیژندنه باندے ده.

شپږم سبب : هغه آیتونه او حدیثونه لوستل چه په هغے کښے د خشوع او خضوع کولو ترغیب او تیزی وی، ځکه دا ډیره فائده ورکوی.

اووم سبب : دا احساس کول چه کوم مونځ ما شروع کړے او د کوم مانځه په اقامت کښے چه ما کوشش کړے، ددے ثواب به ماته صرف د خشوع کولو په صورت کښے ملاویږي.

آتم سبب : او دا د ټولونه قوی دے : مجاهده کول. ځکه خشوع نهٔ حاصلیږي مګر په

مجاهدے او تکلف سره په اول ځل کښې، بیا روسته د الله په توفیق سره د مونځ کونکی هیئت اوګرځی، انسان دے په دے تجربه اوکړی. ځکه که مونځ کونکے دا اوغواړی چه ددهٔ په مانځه کښې دِے دنیوی فکرونه رانشی نو دا ورته ډیر ګران کار دے.

نهم سبب : دا ګمان کول چه دا ددهٔ آخری مونځ دے. لکه په حدیث کښې دی (داسے مونځ کوه لکه د رخصتیدونکی).

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ [البقرة: ٤٦]

(هغه خلق دی چه دا یقین لری چه دوئ به د خپل رب سره مخامخ کیږی).

او دَ خشوع په پیدا کولو کښې د مونځ ګذار دپاره دا فکر ډیر زیات اثر لری.

لسم سبب : د مانځه په ارکانو کښې کله یو ذکر او دعاء او کله بله بل ذکر او دعاء لوستل. ځکه دا په خشوع پیدا کولو کښې تاثیر لری. ګنے په یو ذکر باندے همیش والے کول زړهٔ سختوی، او زړهٔ ورسره آموخته کیږی نو بیا پرے اثر نهٔ کوی.

یولسم سبب : د عبودیت آداب او هغه آداب اختیارول چه رسول الله ﷺ په خپل پاکیزه سنت کښې مشروع کړی، لکه تعدیل د ارکانو، مونځ اوږدول، سجده اوږدول او حیواناتو سره مشابهت نه اختیارول.

دولسم سبب : په مانځه کښې اوږد قیام او قراءت کول خشوع پیدا کوی، ځکه لنډ مونځ کښې ډیر کم خشوع باندے راتګ کیږی، او په دے باندے تجربه ګواه ده.

دیارلسم سبب : هغه آیتونه، ذکرونه او دعاګانے بار بار لوستل چه هغه ویره او امید پیدا کونکی وی، لکه چه رسول الله ﷺ به کله یو آیت په ټوله شپه کښې لوستلو، او هغه دا آیت وو، ﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ [المائدة: ١١٨]

(که چرے دوئ له عذاب ورکوے نو دوئ ستا بندګان دی، اوکه بخښنه ورته کوے نو یقینا تهٔ غالبه، حکمت والائے).

دے یو آیت لوستلو نه پس به ئے رکوع او سجده کوله.

استاذ احمد فرید صاحب دَ (مانځه د قدر او تعظیم کولو او په دے کښې د خشوع طریقه زده کولو) په نوم یوه رساله لیکلے، د هغے آخرنے فصل زهٔ را نقل کوم، ولے چه په هغے کښې ماته فائده ښکاره کیږی. هغه فرمائی.

﴿ **فصل** : د زړهٔ د حضور قلبئ او د رب د عظمت د استحضار او په مانځه کښې د خشوع پیدا کولو دپاره د زړهٔ علاج کول ﴾

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴾. [طه : ١٤].
(او زما د ذكر دپاره د خپل مانځه پابندي كوه)۔
امـر دپاره د وجوب دے، او غفلت د ذكر ضد شے دے، نو څوك چه په خپل ټول مانځه كښے غافل پاتے شو، هغه به څنګه د الله د ذكر دپاره خپل مونځ قائم كړي ؟
او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغَافِلِيْنَ ﴾ [الأعراف : ٢٠٥].
(او د غافلانو نه مه كيږه)۔ دا نهي ده او دا د تحريم دپاره وي۔
او الله عز وجل فرمائي : ﴿ لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ ﴾. [النساء ٤٣].
(مانځه ته په داسے حالت كښے مۀ نزدے كيږئ چه تاسو بے خوده يئ)۔
دا د بيـخوده سړي مانځه ته د نۀ نزدے كيدو وجه ده، ځكه دۀ ته پته نه لګي چه ددۀ په ژبه څه شے جاري كيږي۔ او ديته نزدے هغه غافل هم دے چه هغه د وسوسو په سوچونو او د دنيـا په كـارونـو كښے ډوب دے تردے چه دا پته ورته هم نه لګي چه څو ركعته ئے اوكړل او څه ئے پكښې اولوستل ؟
الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ [مومنون: ١]
(يقينا كامياب شو هغه مؤمنان چه په خپلو مونځونو كښے خشوع كونكي دي)۔
او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ ﴾ [البقرة ٢٣٨].
(الله ته خشوع كونكي اودريږئ)۔
او رسول الله ﷺ فرمائي : « كـوم مسـلمان ته چه فرض مونځ حاضر شي اود هغے اودس او خشوع او ركوع په ښه طريقے سره اوكړي، نو دا مونځ به دده د مخكنو ګناهونو دپاره كفاره جوړه شي، په دے شرط چه كبيره ګناه ته راتګ اونه كړي، او دا كار ټول زمانه جاري وي »۔
(رواه البخاري ١/٢٢٨، ومسلم ٣/١١٢، ومالك في الموطأ ١/٣٠، والنسائي ١/٩١، بمعناه).
او نبي ﷺ فرمائي : « چا چه دوه داسے دوه ركعته اوكړل چه په هغے كښے ئے د غفلت نه كار وانخستلو، الله به ورته مخكني ګناهونه معاف كړي »۔
انس ﷛ نه روايت دے، نبي كريم ﷺ اوفرمائيل : « اے خـلقو ! پتاسو كښے چه كله يو كس په مـانځۀ كښے وي نو دا د خپل رب سره پټے خبرے كوي، او ددۀ رب ددۀ او دَ قبلے ترمينځه وي »۔ (رواه البخاري ١/٤٢٥، ومسلم ٥/٤٠، والنسائي ١/١٦٣).
ابو هريره ﷛ فـرمائي : مونځ يوه قرباني ده، د مانځه مثال د هغه سړي پشان دے چه هغه د يو بادشاه نه يو حاجت غواړي نو هغه ته يوه هديه پيش كړي۔

کله چه سړے مانځه ته پاسی نو دا په یو لوئے مقام کښې اودریدۀ چه الله سره سرګوشی کوی او هغه رضا کوی۔ د رحمٰن ذات مخامخ ولاړ دے چه هغه ددۀ خبره آوری او ددۀ عمل وینی، او ددۀ د زړۀ د وسوسو نه خبر دے۔ نو دۀ له پکار دی چه په خپل زړۀ او بدن دواړو سره الله ته توجه اوکړی، او خپل نظر دے په خشوع سره خپلے مخے ته لری او یا دے ئے ښکته کړی ځکه دا ددۀ د غفلت کمونکے دے، او اخوا دیخوا دے نۀ ګوری اونۀ دے خپل لاس او خپے سره څه شے خوزوی او نه بل کوم اندام، تردے چه د خپل مانځه نه اوزګار شی، او څوك چه دا کار کوی نو هغه دے خوشحاله اوسیږی۔ خو دَ بدئ نه اړونکے او د نیکئ توفیق ورکونکے صرف الله تعالیٰ دے۔

حسنؒ فرمائی : کله چه تۀ مانځه ته اودرېږے نو داسے عاجزئ باندے اودرېږه څنګه چه درته الله حکم کړے، او د غفلت او اخوا دیخوا کتلو نه ځان ساته، چه هغه به تاته ګوری او تۀ به هغۀ نه علاوه بل چاته ګورے، تۀ به د الله نه جنت غواړے او د اور نه به په هغه سره پناه غواړے حال دا چه ستا زړۀ به غافل وی او دا پته به هم تاته نۀ وی چه ستا په ژبه څه جاری کیږی ؟

ابنِ سیرینؒ فرمائی : خلقو به دا خبره خوښوله چه په مانځه کښې دے سړے د خپلے سجدے ځائے ته ګوری۔

قرطبیؒ فرمائی : خلقو په خشوع کښې په دوه رائے ګانو سره اختلاف کړے دے چه آیا دا دَ مانځه د فرائضو نه دہ اوکه ددے د فضائلو او مکملاتو نه ؟ خو صحیح خبره اولنئ دہ، او ددے ځائے زړۀ دے او دا هغه اولنے علم دے چه د خلقو نه اوچت شوے دے۔

(الجامع لأحكام القرآن ٥/٤٩٦).

امام ابن قدامه رحمه الله فرمائی : یاد ساته چه د مانځه دپاره څه ارکان، واجبات او سنتونه دی، او ددے روح نیت، اخلاص، خشوع او حضور قلبی دے۔ ځکه مونځ په ذکرونو او مناجات او افعالو باندے مشتمل دے، او چه د انسان زړۀ حاضر نۀ وی نو د ذکرونو او مناجات نه مقصد نۀ حاصلیږی، ځکه ژبے سره چه د زړۀ د مراد اظهار اونشی نو دا یو قِسم بکواس دے۔ دارنګه د افعالو مقصد هم نۀ حاصلیږی ځکه کله چه د قیام نه مقصد خدمت کول دی، او د رکوع او سجدے نه مقصد ذلت او تعظیم دے، او زړۀ حاضر نۀ وی نو مقصد حاصل نشو۔ او کله چه یو کار د خپل مقصد نه خالی شی نو یو داسے ډهانچه پاتے شی چه هغے له هیڅ اعتبار نۀ وی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ لَنْ يَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلاَ دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ﴾ [الحج ٣٧].

(هرګز الله ته نه رسي ددے غوښے او نهٔ ددے وینے مګر هغهٔ ته ستاسو تقویٰ رسیږي)۔

مقصد دا چه الله تعالیٰ ته نزدیکت حاصلونکے به په هغه صفت باندے وي چه د هغهٔ په زړهٔ کښے به دا جذبه وي چه مطلوبه اوامرو ته راتګ اوکړم۔ لهذا په مانځه کښے حضورِ قلبي ضروري دے۔ البته شریعت په عارضي غفلت کښے چشم پوشي کړے ده، ځکه د مانځه په شروع کښے د حضورِ قلبي حکم ددے په باقي باندے جاري کیږي۔

(مختصر منهاج القاصدين ص ٢٩).

نو بنده له مناسب دي چه د مانځه د هر رکن اداء کولو په وخت ددهٔ زړهٔ حاضر وي، او کومه تسبیح، تکبیر، تلاوت چه کوي د هغے په معنو کښے سوچ کوي، دے دپاره چه ددهٔ مونځ یو داسے بدن جوړ نشي چه په هغے کښے روح نهٔ وي۔ او په دے کښے شك نشته چه د مانځه ژوند د زړهٔ د ژوند او د ذهن د صفائي او د هغه مشغولونکو څیزونو ختمولو تابع دے چه بنده داسے راکاږي چه بیا په خپله خبره کښے سوچ کولو او په خپل زړهٔ کښے د الله د عظمت استحضار ته ئے هم پرے نه ګدي۔ نو ددے خواطرو (په زړهٔ کښے راتلونکو څیزونو) قطع کول، ددے د مادے پریکولو ته احتیاج لري، نو که دا دَ خارجي مشاغلو د قبیلے نه وي او دا هغه څیزونه دي چه غوږونه او سترګے مشغولوي، نو په داسے ځائے کښے دے مونځ کوي چه په هغے کښے نهٔ موسیقي او سرود آوري او نهٔ لغو او بیکاره خبرے۔ دارنګه په هغه نقش دارو ځایونو کښے دے د مانځه کولو نه ډډه کوي چه هغه ددهٔ ذهن راکاږي۔

لکه څنګه چه کله نبي ﷺ په هغه شړئ کښے مونځ اوکړو چه په هغے کښے ګلان رسم شوي وو، نو وے فرمائیل: «دے زهٔ اوس د خپل مانځه نه غافله کړم»۔

دے وجے نه ځان سره به هغه شے نه پریدي چه ددهٔ غوږ سترګے مشغوله کړي۔ بیابه د خپلے سجدے ځائے ته ګوري، دے دپاره چه ګیر چاپیره چه څه کیږي په هغے مشغول نشي، دا خو آسان کار دے۔ البته باطني شواغل چه دي نو ددے علاج یو داسے شے دے چه اولین او آخرین ټول خلق ئے ستړي کړي دي، مګر هغه خلق چه ستا رب په هغوئ باندے رحم کړے وي۔

د باطن دَ اوزګارولو اسباب دادي: چه بنده مانځه ته د اودریدلو نه مخکښے خپل مشاغل او کارونه ختم کړي، نو داسے حالت کښے دے مونځ نه کوي چه خوراك ورته تیار پروت وي،

دے دپاره چه زړهٔ ئے په دے سره مشغول نشي۔ دارنګ د بول او براز تقاضے په وخت دے مونځ ته نه اودريږي۔

اوکه ددهٔ زړهٔ مشغـولـونکے شے دنيا سره محبت او ددے د مزو پورے نښتل وي، نو ددے علاج د دنيا محبت د زړهٔ نه ختمول دي، او د الله په محبت باندے خپل زړهٔ ډکول او د آخرت په غم کښے ډوبيدل دي، ځکه د خطرناك شئ غم کولو سره د سپك شئ غم د زړهٔ نه ختميږي۔

موفق بن قدامهؒ فرمائي : بيماري چه کله ځائے اونيسي نو د هغے دپاره به صرف قوي دوائي فائده منه وي، او بيماري چه کله قوي شي نو مونځ کونکے راکاږي او هغه دے لره راکاږي تردے چه مونځ په راښکلو کښے پوره شي۔

او ددے مثال د هغه سړي پشان دے چه هغه دَ يوے ونے لاندے ناست وي غواړي چه سوچ ئے برابر شي خو د چينچڼرو آوازونه په دهٔ تشويش راولي او ددهٔ په لاس کښے يو لرګے وي چه هغه پرے آلوزوي، نو ددهٔ فکر لا مضبوط شوے نهٔ وي چه چينچڼرے بيا واپس راشي او دے په هغے باندے مشغول شي۔ نو دهٔ ته اووئيلے شي چه دا يو نهٔ ختميدونکے شے دے، او چه تهٔ ددے نه خلاصے غواړے نو ونه پريکړه۔ نو دغه شان دَ شهوت ونه هم ده کله چه لويه شي او څانګے ئے خورے شي نو ديته فکرونه داسے راجذب کيږي څنګه چه مرغۍ ونو ته او مچ ګندګيو ته راجذب کيږي، نو قيمتي عمر د هغه شئ په دفع کولو کښے تير شي چه هغه نهٔ دفع کيږي۔ او ددے شهوت سبب چه د فکرونو پيدا کونکے دے د دنيا محبت دے۔

عامر بن قيسؒ ته اووئيلے شو : آيا تهٔ په مانځه کښے په دنيوي امورو کښے سوچ کوے ؟ وئيلے : که په ما کښے نيزے اُووهلے شي دا ماته ددے نه غوره ده چه زهٔ دا بيامومم۔

پوهه شه ! چه د دنيا محبت د زړهٔ نه قطع کول ګران کار دے او بيخي ختمول ئے ناياب دي، نو څومره چه ممکنه وي په دے کښے کوشش پکار دے۔ والله الموفق۔

(مختصر منهاج القاصدين ٣٠)۔

﴿ **فصل : مناسب دي** چه د مانځه د اعمالو نه دَ هر رکن او هيئت په وخت زړهٔ حاضر اولرلے شي ﴾

او دا آذان، طهارت، عورت پټول، قبلے ته مخ کول، قيام، نيت، تکبير، استعاذه، بِسۡمِ الله وئيل، فاتحه او سورت لوستل، رکوع او سجده کول او تشهد وئيل دي۔

آذان : کله چه ته آذان واورے نو خپل زړۀ ته د قیامت آواز راياد کړه او دَ آذان جواب ورکولو ته خپل ظاهر او باطن په تادئ باندې تيار کړه، ځکه دے آواز ته تادی کونکی به د قيامت په ورځ په نرمئ سره رابللے شي. او دَ منافقانو هغه وصف راياد کړه چه الله د دوئ بيان کړے دے. ﴿ وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَىٰ ﴾ [النساء ١٤٢].

(اوكله چه دوئ مانځه ته اودريږی نو سست پست اودريږی).

د مؤمنانو صفات د منافقانو د صفاتو برعکس دی، دوئ خوشحالئ او تازګئ او الله ته په توجه سره مانځه ته پاسيږی.

او هرچه **طهارت** (پاکوالے) دے : نو کله چه ته خپل ځائے پاك کړے چه دا ستا لرے طرف دے، بيا جامے پاکے کړے چه دا ستا نزدے غلاف دے، بيا خپل بدن پاك کړے چه دا ستا نزدے پوستکے دے، نو په توبے، خپيمانتيا او ګناه ته د بيا نه واپس کيدو په عزم او د حقونو په واپس کولو سره د خپل زړۀ د پاکوالی نه مه غافله کيږه، ځکه چه د باطن پاکوالے د ظاهر د پاکوالی نه غوره دے.

او هرچه **عورت** پټول دی : نو ددے معنیٰ ده د خلقو د سترګو نه د بدن قبيح ځايونه پټول، نو په دے وخت کښے دَ خپل باطن قبائح راياد کړه او هغه بدصفتونه چه په هغے باندے ستا باطن مشتمل دے، نو په دے وخت کښے د الله عز وجل نه د حياء استحضار اوکړه چه هغه باندے هيڅ يو شے نه پټيږی ځکه چه ددے پټوالے ممکن نه دے.

او هر چه **قبلے** ته مخ کول دی : نو دا خپل مخ د ټولو طرفونو نه د الله عز وجل کور طرفته اړول دی، نو ياد ساته چه ددے سره خپل زړۀ هم د ټولو طرفونو نه الله عز وجل طرفته اړول ضروری دی. دا وجه ده چه د مانځه شروع کولو په دعاګانو کښے يوه دعا داده :
﴿ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ﴾ [انعام: ٧٩]

(ما خپل زړۀ هغه ذات طرفته متوجه کړو چه زمکه او آسمانونه ئے پيدا کړی دی).

چه ددے نه مراد زړۀ متوجه کول او الله تعالیٰ ته اخلاص کول دی پس ددے نه چه بدن د الله کور ته متوجه شو.

او هر چه **قيام** دے : نو دا خپل بدن او زړۀ د الله عز وجل په مخ کښے نيغ اودرول دی، نو په دے وخت کښے د قيامت په ورځ د سوال په وخت د الله مخے ته اودريدل راياد کړه، نو په دے وخت کښے د الله عز وجل د عظمت احساس اوکړه، او د الله مخے ته دَ اودريدو هغه تياری اوکړه چه د قيامت په ورځ درله نجات درکړی.

او هر چه **نيت** دے : نو په دے سره د الله تعالىٰ د اخلاص شعور اوکړه او د هغهٔ په ثواب کښے د طمع لرلو او د هغهٔ د عذاب نه د ويريدلو او دَ هغه د نزديکت سره دَ محبت لرلو۔ او په دے وخت کښے خپل ځان په هر قول او عمل کښے د اخلاص د نيت د استحضار سره آموخته کړه۔ او ياد ساته چه د قيامت په ورځ به صرف مخلصين نجات مومی۔ او هر هغه عمل چه په هغے کښے د الله نه سيوا د بل چا ځه ګډون راغيے نو الله عز وجل به د قيامت په ورځ د هغے په باره کښے فرمائی : ﴿وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا﴾ [الفرقان ٢٣]

(او مونږ به د دوئ علمونو ته ور وړاندے شو نو هغے نه به آلوتے ګرد او غبار جوړ کړو)۔

او هرچه **تکبير** دے : نو کله چه په دے سره ستا ژبه اوخوزيږی نو پکار دی چه ستا زړهٔ ددے تکذيب اونه کړی، ځکه که ستا په زړهٔ کښے د الله سبحانه وتعالىٰ نه سيوا بل يو شے زيات لوئے وی، او يا په تا باندے د الله د حکم په مقابله کښے خپل خواهش غالب وی او تهٔ د الله په نسبت ددے ډيره خبره منونکے ئے، نو بيا خو تا خپل خواهش اِله اوګنړلو او هغه دے لوئے کړو، نو ستا دا قول چه : الله اکبر دا صرف په خوله باندے دے، چه دے سره زړهٔ موافق نهٔ دے۔ نو ځومره ډيره خطرناکه خبره ده، که چرے توبه، استغفار او د الله عز وجل په عفو او کرم باندے ښه ګمان نهٔ وے !

او هرچه **استعاذه** – اعوذ بالله – وئيل دی : نو ياد ساته چه دا د مردود شيطان نه دَ الله په پناه کښے راتلل دی، چه هغه تاسره په دے خبره حسد کوی چه تهٔ خپل رب سره ولے مناجات، رکوع او سجده کوے۔ په داسے حال کښے چه هغهٔ ته د يوے سجدے توفيق هم ورنه کړے شو، نو اوس د هغه فکر په دے کښے وی چه تا هم د خپل رب د مناجات نه په خپلو وسوسو او د دنيا په کارونو باندے وران کړی، ترديے چه تا د مناجات د شرافت، برکت او ثواب نه محرومه کړی، او د خپل هغه مولیٰ نه دے قطع کړی دَ کوم په مناجات او محبت باندے چه زړونه نيك بختـه کيږی، او د هغهٔ په ذکر او شکر او ښائسته عبادت باندے په دنيا او آخرت کښے عزت حاصلوی۔

او هرچه **بسم الله** وئيل دی : نو په دے سره د برکت حاصلولو نيت اوکړه چه دا د هغه ذات نوم دے چه د هغهٔ د نوم سره نه په آسمان کښے څه شے ضرر ورکولے شی او نهٔ په زمکه او هغه آوريدونکے او پوهه ذات دے۔

او کله چه تهٔ : الرحمن الرحيم : اووائے نو په خپل زړهٔ کښے د هغهٔ د مهربانيو قسمونه

رایاد کړه، دے دپاره چه د هغهٔ رحمت تاته واضح شي چه د زړهٔ نه دے امید را پیدا شي.

او هرچه **سورت** فاتحه لوستل دي: نو په حدیث قدسي کښے د رسول الله ﷺ دا خبره رایاده کړه چه الله رب العزت فرمائي: «ما د خپل ځان او د خپل بنده ترمینځه مونځ (یعني قرائت) تقسیم کړے. نو کله چه بنده: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ اووائي، نو الله تعالیٰ فرمائي: زما بنده زما حمد اوکړو. او کله چه: الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اووائي. نو الله تعالیٰ اوفرمائي: زما بنده زما ثناء اووئیله. او کله چه مَالِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ اووائي: نو الله فرمائي: زما بنده زما تعظیم او شرافت بیان **کړو**. او کله وائي: ماته زما بنده سپارل اوکړل. او کله چه بنده: إِیَّاکَ نَعْبُدُ وإِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ اووائي: نو الله فرمائي: دا زما او زما د بنده ترمینځه دے او زما د بنده دپاره به هغه **څه وي** چه هغهٔ غوښتلي دي. او کله چه بنده: اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ صِرَاطَ الَّذِیْنَ أَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ اووائي، نو الله فرمائي: دا زما د بنده دپاره شو او زما د بنده دپاره هغه څه دي چه دهٔ اوغوښتل».

(رواه مسلم ٤/١٠١، ومالك في الموطأ ١/٨٦).

امام نوویؒ فرمائي: علماؤ وئیلي دي چه په دے حدیث کښے د مونځ نه مراد سورتِ فاتحه ده، سورتِ فاتحے ته مونځ ځکه اووئیلے شو چه بغیر د فاتحے نه مونځ نه صحیح کیږي، لکه رسول الله ﷺ فرمائي (حج د عرفے د ورځے نوم دے). «یعني د عرفے نه بغیر حج نه صحیح کیږي». نو دا ددے **خبرے** دلیل دے چه فاتحه په مانځه کښے متعینه ده او ددے نه بغیر مونځ نه کیږي.

او علماؤ وئیلي دي چه د **فاتحے** د تقسیم نه مراد ددے د معنیٰ د نګاه نه تقسیم دے، ځکه چه ددے نصفِ اول د الله حمد او ثناء، تعظیم او هغهٔ ته خپل ټول کارونه ورسپارل دي. او نصفِ ثاني ئے سوال او طلب او **تضرع** او افتقار دے. (شرح مسلم: ٤/١٣).

غزاليؒ فرمائي: که ستا د **مانځه نه** ستا دپاره ددے نه سیوا بل څه نه وي چه الله په خپل جلال او عظمت کښے ستا **ذکر کوي**، نو دا غنیمت هم ستا دپاره مبارك دے. پاتے لا دا چه تهٔ د هغه د ثواب او مهربانئ امید **کوے**. (احیاء العلوم ١/٣٠١).

او هرچه **سورت** لوستل دي: **نو** تاله پکار دي چه په قرأت کښے سوچ کوے او د هریو آیت سره اودرېږے دے دپاره **چه ددے** په معنیٰ پوهه شے. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ أَفَلَا یَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ عَلٰی قُلُوْبٍ أَقْفَالُهَا ﴾ [محمد: ٢٤]

(آیا دوئ په قرآن کښے سوچ **نه** کوي، اوکه د دوئ په زړونو باندے پردے لګیدلي دي).

محمد : ٢٤.

نو تـهٔ د هغـه د امر او نهي، وعد او وعيد، نصيحتونو او د انبياؤ د اخبارو او د هغهٔ د احسانـاتـو او مهربانيو نه مه غافله کيږه، ددے هريو په تا حق دے. نو اميد ساتل د وعدے حق دے، او خوف کول د وعيد حق دے، او د طاعت عزم کول د امر او نهي حق دے، او وعظ قبلول د نصيحت حق دے، او شکر کول د احسان حق دے، او عبرت حاصلول د قيصو حق دے. (احياء الغلوم ١/ ٣٠١).

قاسمي رحمه الله فرمائي : او دا معنے دَ فهم د درجاتو موافق وي. او فهم د علم او د زړهٔ د صفايئ مطابق وي. او ددے درجات نهٔ شمارلے کيږي. او مونږ د زړونو چابي ده، په دے کښے دَ کلماتو رازونه راښکاره کيږي، نو دا د قرائت او د ذکرونو او تسبيحاتو حق دے، دارنګه په قرائت کښے به د هيبت لحاظ ساتي نو ترتيل سره به قرأت کوي او زر زر به ئے نه لولي، ځکه دا کار سوچ کولو دپاره زيات معاون دے. (موعظة المؤمنين ٦٥).

او هرچه رکوع اوسجده ده : نو ابن قدامهؒ فرمائي : په خپله رکوع کښے د عاجزئ شعور لره او په خپله سجده کښے د زيات ذلت، ځکه چه تا نفس په خپل مناسب ځائے کښے کيخودلو او خپله فرع دے اصل ته واپس کړه چه په خپله هغه خاوره دے سجده اوکړه چه تهٔ ددے نه پيدا ئے، او په ذوق سره د ذکرونو معنے معلوموه. (مختصر منهاج القاصدين ٣٢).

قاسميؒ فرمائي : مناسب دي چه د رکوع او سجدے په وخت تهٔ د الله کبرياء راتازه کړے او د خپل زړهٔ په نرمولو او د خپلے خشوع په تازه کولو کښے کوشش اوکړے، او دے سره تهٔ د خپل مولىٰ د عزت او اوچتوالي او د خپل ځان د ذلت شعور لره او د ژبے په ذريعه په خپل زړهٔ کښے ددے د کينولو مدد غواړه، نو د خپل رب تسبيح وايه او د هغهٔ د عظمت او لويئ ګواهي ورکوه او داچه هغه د هر څه نه لوئے دے. او خپل زړهٔ ته دا بار بار وايه، بيا د خپلے رکوع نه سر راپورته کړه او په خپل دے قول سره دے زړهٔ ته پوره اميد ورکړه چه : سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ (الله د هغه چا قبول والے کوي څوك ئے چه شکر کوي). بيا دے پسے شکر اوکړه چه د زياتي تقاضے کونکے دے، نو : رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ اووايه، بيا سجدے ته پريوزي چه دا دَ عاجزئ اعلىٰ درجه ده، نو خپل عزت مند اندام چه زړهٔ دے په ذليل ترين شئ باندے چه خاوره ده کيږده، او په دے وخت کښے په خپل زړهٔ باندے د الله عظمت راتازه کړه او : سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلىٰ اووايه. بيا خپل سر راپورته کړه چه د هغهٔ لوئي ويونکے او هغه نه د خپل حاجت غوښتونکے ئے او : رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْ ويونکے ئے. بيا دا تواضع ښه مضبوطه کړه

نو بيا دغسې دوياره سجده اوکړه۔

(موعظة المؤمنين ص : ٦٥).

او هرچه **تشهد** دے : نو غزالیؒ فرمائی : کله چه تهٔ دے ته کيناستے نو په ادب سره کينه، او په ډاګه اووايه چه ټول مونځونه او پاکيزه اخلاق د الله دپاره دی، دغه شان بادشاهی د هغهٔ دپاره ده، چه دا د التحيات معنیٰ ده۔ او په خپل زړهٔ کښې نبی ﷺ او د هغهٔ عزت مند شخصيت راياد کړه او اووايه : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُه۔ بيا په خپل ځان او د الله په ټولو نيکانو بندګانو باندے سلام اوکړه، بيا د الله تعالیٰ وحدانيت او د محمد ﷺ د رسالت ګواهی ورکړه، او دَ دواړو کلمو په وئيلو سره دَ الله وعده راتازه کړه۔

بيا په رسول الله ﷺ باندے درودِ ابراهيمی اووايه، او بيا د څلور څيزونو نه پناه اوغواړه، د اور د عذاب، د قبر د عذاب، د ژوند او مرګ د فتنے او دَ مسيح دجال د فتنے د شر نه۔ بيا سلام واړوه او د سلام اړولو په وخت په ملائکو او حاضرينو باندے د سلام اچولو نيت اوکړه، او د الله د شکر شعور اولره چه هغه تاله ددے طاعت د پوره کولو توفيق درکړو، دارنګه د ويرے او حياء شعور اولره چه په مانځه کښے به درنه کوتاهی شوے وی، او دا خوف لره چه چرته مونځ مے نامقبول نشی او د ښکاره او پټے ګناه په وجه غضب شوے نهٔ شم چه بيابه دے مونځ په دے مخ باندے در ويشتلے شی۔ او ددے خوف باوجود به تهٔ دا اميد لرے چه په خپل فضل او کرم سره رانه دا قبول کړی۔

نو دا دَ هغه **خاشعينو** خلقو مونځ دے کوم چه په خپلو مونځونو کښے عاجزی کونکی دی، او د خپل مانځه حفاظت کونکی او ددے پابندی کونکی دی، او هغه خلق دی چه د خپل وس مطابق په عبادت کښے د الله سره سرګوشی کوی۔

نو هر انسان دے په دے مانځه باندے خپل ځان پيش کړی، نو په دے کښے چه څومره اندازه دهٔ ته حاصله وی نو پکار دی چه خوشحاله شی، او کوم چه ترے فوت کيږی، نو پکار دی چه ستومانه شی۔ او ددے په حاصلولو کښے پوره کوشش اوکړی۔

او هر چه د غافلانو مونځ دۓ : نو دا ډير خطرناك دے، مګر دا چه الله ئے په خپل رحمت کښے پټ کړی، او د الله رحمت فراخه دے او کرم ئے راتوئيدونکے دے۔ د الله نه غواړو چه مونږ په خپل رحمت او مغفرت کښے پټ کړی۔ ولے چه زمونږ بله لاره نشته سيوا ددے نه چه مونږ د هغهٔ د طاعت قائمولو نه عاجز او پاتے راغلی يو۔

(احياء العلوم ١/٤٠٣، الدين الخالص ٤/).

ابن خراط اندلسیؒ په (کتاب الصلاة والتهجد ص ۱۷۹ - ۱۹۷) کښې فرمائي :
یاد ساته ! الله دې پتا رحم اوکړي، چه خشوع د مانځه روح دې او ددې ژوند او نور او روښانتیا ده، او په دې سره دا ملأ اعلیٰ طرفته خیژي او د آسمانونو نه پورته کیږي۔
اوخشوع : د زړهٔ خشوع او ډیره زیاته عاجزي ده، او الله عز وجل ته منت او ذلت او ددې په وجه د اندامونو سکون دې۔
الله عز وجل په سورتِ مؤمنون کښې د مؤمنانو د صفاتو په شروع کښې خشوع ذکر کړې۔ فرمائي : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ [مومنون: ۱]
(هغه مؤمنان کامیاب شو چه په خپلو مونځونو کښې خشوع کونکي دي)۔
او د الله ددې قول ﴿ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُّنِيبٌ ﴾ [هود: ۷۵] په تفسیر کښې راځي چه : اواه هغه خاشع او متضرع ته وائي چه ډیرې زیاتې دعاء او رغبت والا وي۔
او نبي ﷺ خپلو ملګروته اوفرمائیل : « آیا تاسو زما قبله دې خوا ګنړئ ؟ خو قسَم په الله ! په ما باندې ستاسو رکوع او خشوع پټه نه پاتې کیږي، خامخا زهٔ تاسو د خپل شا نه وینم)۔
(أخرجه مالك ١/١٦٧، البخاري، ١/٥١٤، ٢/٢٢٥، ومسلم ١/٣١٩، ذكره مالك من حديث أبي هريرة ﷺ)
او د نبي ﷺ دا ارشاد تیر شو چه هغوئ د پنځه مونځونو د تذکرې په وخت اوفرمائیل : (چاچه ددې رکوع او خشوع پوره اوکړه »۔ نو خشوع ئې د مانځه د شروطو نه اوګرزوله چه ددې نه بغیر پوره کیږي نهٔ۔
وئیلې شوي دي چه : څوك چه بغیر د خشوع نه مونځ اوکړي، نو دا د هغه چا پشان دې چه هغه بادشاه ته بې روحه وینزه هدیه کړي۔ او دا رښتیا خبره ده۔ ځکه چه خشوع د مانځه روح دې لکه مخکښې تیر شو۔ او ددې نه څه فائده ده چه تهٔ په جسد سره حاضر ئې، بدن ښکته پورته کوې او زړهٔ دې ستانه غائب دې، حال دا چه تاته خو حکم شوې چه تهٔ په خپل هر څه سره حاضر شه چه هیڅ یو شے ستانه غائب نه وي۔ او ډیر کرته ستا زړهٔ به ستا د حاضر بدن نه هم ډیر اهم وي۔ او په دې سره به ستا اندامونه په سکون کښې وي او د باقي بدن نه به تاته ډیر ضروري ښکاري۔
دا لا څه کوې چه اطمینان په مانځه کښې فرض دې، دارنګه په هغه اندامونو باندې سجده کول چه په هغې باندې د سجدې کولو حکم شوې دې او قبلې ته مخ کول داسې شیان دي چه ددې په لزوم کښې خلاف نشته۔ او دا د نبي کریم ﷺ په مانځه کښې او خلقو ته د هغوئ په خودلو کښې مخکښې تیر شو۔

او نبي كريم ﷺ فرمائي : «په مانځه كښې په سكون سره اودرېږئ».
(ذكره مسلم من حديث جابر بن سمرة).

نو نبي ﷺ په مانځه كښې د اندامونو په سكون باندې حكم كړې.

او ابو جعفر العقيلي د احوص بن حكيم په واسطې سره د خالد بن معدان نه او هغه د عباده بن صامت ﷺ نه روايت كوى، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «كله چه بنده اودس اوكړى او خپل اودس ښه كړى، بيا مانځه ته اودرېږى او د هغې ركوع او سجده او قرائت په پوره طريقې سره اداء كړى، نو مونځ ورته وائي : الله دې داسې حفاظت اوكړه لكه څنګه چه دې زما حفاظت اوكړو، بيا دا آسمان ته خيژولې شي په داسې حال كښې چه د هغې دپاره رڼرا او روښانتيا وى، او د هغې دپاره د آسمان دروازې پرانستې شي تردې چه الله تبارك و تعالىٰ ته اورسيږى نو د خپل خاوند دپاره سفارش كوى. او كله چه ددې اودس، ركوع، سجده او په دې كښې قرائت كول ضائع كړى نو مونځ ورته وائي : الله دې تا داسې ضائع كړى لكه څنګه چه دې زۀ ضائع كړم، بيا آسمان طرفته خيژولې شي، خو د آسمان دروازې د هغې مخې ته بندې شي، بيا داسې را اونغاړلې شي لكه څنګه چه زړه كپړه رانغښتلې شي، او بيا په هغې سره د هغې خاوند په مخ باندې اوويشتلې شي».

نو په دې حديث كښې ئې د ركوع او سجدې اِتمام ذكر كړې. او كوم حديث چه تير شو هغه ددې حديث نه بې پروائي راولي او هغه مشهور او د سند په اعتبار اعلىٰ دې. او زۀ وايم : هغه حسن لغيره حديث دې، لكه د شيخ زبير عليزئي په كتاب الصلاة كښې دى.

د جنيد بن محمد رحمه الله نه د مانځه د فرضو په باره كښې تپوس اوشو، نو هغه تپوس كونكى ته د فقهاؤ مجلسونه اوښودل، كله چه سائل لاړ نو ملګرو ته ئې اووئيل : تاسو ته پته ده، چه د مانځه فرض څه شې دې ؟ هغوئ وئيلې : شيخ دې ئې راته بيان كړى. وې فرمائيل : د مانځه فرض تعلقات ختمول، غمونه راجمع كول او د الله مخامخ حاضريدل دى.

روايت دې چه الله تعالىٰ د بني اسرائيلو يو نبي ته وحي اوكړه چه خپل قوم ته دې اووايه: تاسو ماته خپل بدنونه حاضروئ، او خپلې ژبې راكوئ او د خپلو زړونو نه غائب يئ؟ دا ډير باطل كار دې چه تاسو ئې كوئ.

نو تاله مناسب دى - الله دې پتا رحم اوكړى - چه تۀ خپل زړۀ په مانځه كښې څومره چه كيدې شي حاضر لره، او اخوا ديخوا ئې مه اړوه، او مه هلته او دلته تيروه راتيروه، او كوم

فکرونه او مشغولونکې خبرې چه دې بل طرفته اړوی نو هغه دفع کوه، او څه چه لولې هغه آوره او څه چه کوې هغه پيژنه، ځکه ستا د مانځه نه ستا دپاره صرف هغه حصه ده په کوم باندې چه ته پوهه شوې، او ستا دپاره صرف' هغه برخه ليکلې کيږی په کومه کښې چه ستا حضور وی.

امام ابو داودؒ په کتاب السنن کښې د عمار بن ياسر ﷺ نه روايت کوی، فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئې : « بيشکه يو سړې د مانځه نه فارغ شی او د هغۀ دپاره نۀ وی ليکلې شوې مگر لسمه برخه مونځ، نهمه، آتمه، اوومه، شپږمه، پنځمه، څلورمه، دريمه، نيمه ».

او امام نسائیؒ د ابو يسر ﷺ نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « پتاسو کښې بعضې خلق هغه دی چه مونځ پوره کوی، او ځينې هغه دی چه نيمائی مونځ کوی او دريمه حصه او څلورمه حصه او پنځمه حصه تردې چه لسمې حصې ته اورسيدلو ».

ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « يو بنده مونځ اوکړی خو د هغۀ دپاره لسمه برخه مونځ اوليکلې شی، نهمه حصه، آتمه حصه، اوومه حصه تر دې چه پوره مونځ ورله اوليکلې شی ».

نو ددې حديثونو مطابق به تاله د مانځه صرف هغه حصه ليکلې کيږی په کومه کښې چه ته په زړۀ سره حاضرئې او ستا عقل ئې پيژنی.

سلمان او عبد الله بن مسعود – رضی الله عنهما – دواړه فرمائی : مونځ يو پيمانه ده نو څوك چه پوره ورکړی هغه له به هم پوره ورکيدلې شی، او څوك چه نقصان کوی نو د نقصان کونکو کوم حالت چه الله بيان کړې هغه تاسو ته معلوم دې.

او نبی ﷺ فرمائی : « هيڅ يو مسلمان نشته چه ښائسته اودس اوکړی او بيا پاسی دوه رکعته داسې اوکړی چه په هغې کښې په خپل زړۀ او مخ (ظاهر او باطن دواړو) سره متوجه وی، مگر جنت هغۀ دپاره واجب کيږی ».

دا حديث امام مسلم د عقبه بن عامر ﷺ نه روايت کړې.

نو نبی ﷺ په مانځه کښې حضورِ قلبی شرط کړو.

او نبی ﷺ فرمائی : (بيشکه مونځ گذار د خپل رب سره د راز خبرې کوی نو اودې گوری چه هغۀ سره په څه باندې د راز خبرې کوی).

ياد ساته! رازدار هغه وخته پورې راز دار نشی جوړيدې تر څو چه دا معلومه نه کړی چه

چاسره راز داري كوي ؟ او په څه شئ سره راز داري كوي ؟ او خپل زړۀ د راز دارئ په وخت حاضر لري.

او تاته معلومه ده چه كله يو غلام د خپل دنيوی آقا سره يا يو آزاد سړے د خپل كلي د يو مشر او امير سره د راز خبرے كوي نو هغه ته ئے څنګه غوږ ايخے وي او د هغۀ مخے ته عاجزئ سره ولاړ وي، د هغۀ بدن خشوع كونكے او اندامونه ئے په سكون كښے وي، زړۀ ئے د هغه خبرو ته حاضر وي ؟

نو ستا كمه مرتبه او ادنىٰ منزله داده چه تۀ د خپل رب سره داسے معامله اوكړه، او لكه څنګه چه په مانځه كښے دا واجب ده چه د قبلے نه مخ اونه ګرځولے شي نو دغه شان تۀ د خپل رب نه خپل زړۀ هم مه ګرځوه.

عمر بن خطاب ﷺ فرمائي : د يو سړي د سَر دواړه طرفونه به په اسلام كښے سپين شي او الله به دۀ دپاره مونځ نۀ وي مكمل كړے - عرض اوشو. دا څنګه كيدے شي ؟ وۓ فرمائيل : د هغے خشوع او تواضع او په هغے كښے الله ته توجه پوره طريقے سره نۀ كوي.

عباده بن صامت ﷺ فرمائي : د ټولو نه اولنے شے چه پورته كيږي هغه خشوع ده، نزدے ده چه تۀ يو جامع مسجد ته ننوځے خو هلته به ته يو سړے هم خشوع كونكے اونه وينے.

هاؤ ! په مانځه كښ د وسوسو معامله غالبه وي او پوره طور سره ددے ختمول د انسان په طاقت كښے نه دي مګر هغه څوك چه الله تعالىٰ ئے په خپل تائيد سره مضبوط كړي او د خپل طرفه ئے مدد اوكړي، او تۀ په دے نه ئے مكلف شوے چه په زړۀ كښے تيريدونكے خبرے بيخي قطع كړے او يا زړۀ ته د ننوتلو نه ئے بالكل بندے كړے، بلكه كله چه تۀ ددے په واپس كولو او دفع كولو كښے كوشش كوے نو تا باندے ان شاء الله هيڅ ملامتيا نشته.

احمد بن أبي الحواري فرمائي : ماته ابو سليمان داراني ؒ اوفرمائيل : كله چه مانځه ته اودريږے نو دا رایاد كړه چه تۀ چاته ولاړ ئے ؟ او د چا مخامخ وقوف كونكے ئے ؟ او كوم خراب سوچونه چه ستا په زړۀ تيريږي د هغے د ختمولو عقيده اولره، او كله چه فارغ شے نو د الله نه بخښنه غواړه، ځكه چه الله عز وجل اول او آخر عقد قبلوي او په خپل رحمت سره ددے دواړو ترمينځه چه څه دي هغه بخښي.

ابو حمزهؒ فرمائي : په زړۀ باندے د الله عز وجل د نګرانئ او په دشمن باندے د هغۀ د قدرت په ذريعه دَ وسوسو په ختمولو كښے مدد حاصلولے شي.

په صحابه كرامو او تابعينو - رضي الله عنهم - كښے د يوے ډلے رائے داده چه مونځ دے

لنډ اوکړے شی، چه هسے نه وسوسے ډیرے شی او خلق په خپلو مونځونو کښے الله ته د توجه نه منع کړی۔

نو په مانځه کښے د داخلیدو نه مخکښے هغه اسبابو ته اوګوره چه هغه تا مشغوله کوی او اړوی دے، او یا تهٔ هغه رایادوے او زړهٔ دے په هغے کښے نخلی، نو هغه ټول د ځانه لرے کړه، او څومره چه درنه کیدے شی په غیر د رخصت او یا غلط تاویل نه هغه لرے کړه۔

آیا تا ته معلومه نهٔ ده چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: «د خوراك حاضریدو په وخت مونځ نشته»۔

اشاره ده دیته چه خوراك پورے زړهٔ اونه نخلی بلکه دے چه په کوم مونځ کښے دے هغے ته دا اوزګار وی، او کوم مناجات کښے چه دے لګیا دے، په هغے کښے توجه اوساتی۔ دغه شان چه کله بول او براز ورغلی وی نو په دے کښے هم مونځ کونکے په مشقت او تکلیف کښے وی، نو ددے نه فارغیدو سره مونځ کول پکار دی۔

او دا دواړه حدیثونه امام مسلمؒ ذکر کړی دی۔

او امام مالك په الموطأ کښے د عائشے رضی الله عنها نه روایت کوی چه «ابو جهم بن حذیفه ﷺ رسول الله ﷺ ته شامی شړۍ هدیه کړه چه په هغے کښے ګلان وو، نو په هغے کښے مونځ ته حاضر شو، او کله چه اوزګار شو نو وے فرمائیل: عائشے! ابو جهمؓ ته دا شړۍ واپس کړه ځکه ما ددے ګلانو ته په مانځه کښے کتل نو نزدے وه چه زهٔ ئے د مانځه نه اړولے وے»۔

د نبی ﷺ دے شړۍ ته په مانځه کښے کتل د هغوئ د امت دپاره کله تعزیت او تسلی او د الله عز وجل د طرفنه دوئ سره نرمی ده، او د الله جل جلاله په جناب کښے د دوئ عذر دے هر کله چه دوئ په خپلو مونځونو کښے په څه شئ سره مشغوله شی، ځکه چه دوئ کمزوری او عزم او اراده ئے ضعیفه ده۔

او یا دا ددے دپاره ده چه د هغوئ امت په دے کښے د هغوئ اقتداء اوکړی او خپل ځانونه د هغه شئ په پریخودلو سره فارغه کړی چه هغه دوئ ددے نه مشغوله کوی۔ او په دے کښے ئے په فتنه کښے اچوی، او دا ډیره صحیح خبره ده۔ والله اعلم۔

او امام مالكؒ په الموطأ کښں د عبد الله بن أبی بکر ﷺ نه روایت کوی چه ابو طلحه انصاری ﷺ په خپل باغ کښے مونځ کولو، نو یوه مرغۍ را والوتله او شروع شوه چه بار بار ئے د خپل ځان دپاره د وتلو لاره تالاش کوله، نو هغهٔ ته دا خبره ډیره خوښه شوه او یو

ساعت ئے خپل نظر ورپسے کړو، بیا خپل مانځه ته متوجه شو، نو ناګهانه ورته پته اونه لګیده چه څو رکعته ئے اوکړل؟ وئیلے: ماته په خپل دے مال کښے فتنه را اورسیدله، نو رسول الله ﷺ ته راغے او هغه فتنه ئے ورته ذکر کړه چه هغه ورته په خپل مال کښے رسیدلے وه، او عرض ئے اوکړو، یا رسول الله! دا دے د الله دپاره صدقه وی، نو کوم ځائے دے چه زړهٔ غواړی هلته ئے خرچ کړه.

دارنګ عبد الله بن ابی بکر ﷺ فرمائی: د انصارو یو سړی په خپل یو باغ کښے چه په قف (مدینه کښے یو میدان) کښے وو مونځ کولو په داسے وخت کښے چه دِ میوو او کهجورو موسم وو. او د هغے غونچکونه را زوړند وو، نو دهٔ هغے ته اوکتل او د هغے میوے ئے چه اولیدلے نو خوښے ئے شوے، بیا خپل مانځه ته را واپس شو، نو بیا ورته پته اونه لګیده چه څو رکعته ئے کړی دی؟ نو وئیلے: ماته زما په دے مال کښے فتنه را اورسیده. نو عثمان بن عفان ﷺ ته راغے او هغه په دغه وخت کښے خلیفه وو او دا واقعه ئے ورته ذکر کړه او وئیلے: دا دے صدقه وی، تهٔ چه د خیر ښیګړے په کوم ځائے کښے غواړے هلته ئے اولګوه، نو عثمان ﷺ هغه باغ په پنځوس زره روپو خرڅ کړو، نو دغه مال ته د پنځوسو نوم ورکړے شو.

نو لوستونکیه! ددے سړو عزم او وینا ته اوګوره، دارنګه الله سره چه څه دی په هغے کښے د دوئ رغبت ته اوګوره!

د یوسف بن حبیب ؒ نه نقل دی دا فرمائی: مونږ جندب بن عبد الله ﷺ ته اووئیل: مونږ ته وصیت اوکړه، وے فرمائیل: زهٔ تاسو ته په قرآن سره حکم کوم، ځکه دا د تیرهٔ شپے رنړا او د روښانه ورځے هدایت دے. او تاسو ته د مجاهدے او د هغه شئ د تلافئ چه هغه فوت شو او د راتلونکی وخت دپاره د تیارئ کولو حکم کوم. او که څه مصیبت درته راپیښ شی نو خپل مالونه د خپلو ځانونو نه مخکښے کړئ بیا خپل نفسونه د خپلو بدنونو نه مخکښے کړئ. ځکه جنګ کړے شوے هغه څوك دے چه دین سره ئے جنګ اوکړے شی، او لوټ کړے شوے هغه څوك دے چه دین ترے لوټ کړے شی. او کله چه تاسو د خپل رب مخامخ مانځه ته اودریږئ نو جنت او دوزخ خپل مخے اوګرزوئ، او میزان او صراط (پُل) خپل ګیر چاپیره، ګویا تاسو وائے: ﴿ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْن ﴾ [الم سجده: ١٢]

(اے ربه مونږ اولیدل او وامو ریدل نو مونږ واپس کړه چه نیك عمل اوکړو یقینا چه مونږ

يقين کونکی يو)۔

ابو القاسم منصور بن احمدؒ دَ علی بن حفصؒ نه نقل کوی چه ما سعيد خرازؒ ته اووئيل: مونږ سره يو سړے دے هغه وائی: که يو سړے مانځه ته اودريږی او دے د هغه څه د حقيقت نه خبر شی په کوم کښے چه دے مشغول دے، او بيا اور راشی نو دا هغے ته نۀ ګوری تردے چه هغه ده لره اوسيزی۔ نو هغه اوفرمائيل: رشتيا ئے وئيلی دی، او زۀ به تاته ددے په باره کښے مثال بيان کړم، هغه دا چه څوك الله اوپيژنی نو په دۀ باندے زمکه او آسمانونه درانۀ شی۔

اويس قرنیؒ يو سړی ته اوفرمائيل: کله چه تۀ مانځه ته اودريږے نو داسے شه لکه ګويا تا زمکے او آسمانونو والا وژلے دی۔ د هغه ذات نه د ويرے او خوف او خشيت د وجے، د کوم مخامخ چه تۀ اودريږے۔

مروان بن محمدؒ فرمائی: ما هيڅ کله سعيد بن عبد العزيزؒ په مانځه نۀ دے ليدلے مګر د هغه اوښکے به په بزکی باندے بهيدلے۔

او يو ځل ورته ابو عبد الرحمن اسدیؒ اووئيل: تاله په مانځه کښے دا ژړا څنګه درځی؟ وئيلے: دے باره کښے تۀ ولے تپوس کوے؟ هغه وئيلے: اے ترۀ! کيدے شی چه الله تعالیٰ په دے سره ماته نفع راکړی۔ ورته ئے اوفرمائيل: اے ورارۀ! زۀ هيڅ کله مانځه ته نه يم اودريدلے مګر زما مخے ته جهنم اودريږی۔

يو انصاری سړی خپل ځوئے ته څه وصيتونه کول، په هغے کښے يو داوو چه: داسے مونځ کوه لکه يو سړے آخری مونځ کوی، او داسے ګمان کوه چه تۀ به هيڅ کله ددے نه پس بل مونځ اونه کړے۔

نبی کريم ﷺ فرمائی: «مونځ خو خشوع خضوع او عاجزی ده، تۀ به خپل رب ته دواړه لاسونه اوچت کړے او د هغے ورغوی به خپل مخ طرفته کړے او دابه وائے چه اے ربه اے ربه!»۔(امام ترمذیؒ دا حديث د فضل بن عباس ﷺ نه روايت کړے، خو دا ضعيف دے)۔

امام ابو بکر بزارؒ د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت کوی، چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «الله تبارك وتعالیٰ فرمائی: زۀ صرف د هغه چا مونځ قبلوم چه هغه زما د عظمت د وجے نه په دے کښے تواضع کوی، او زما په مخلوق باندے کبر نۀ کوی، او زما په نافرمانئ باندے تينګ نه پاتے کيږی، او خپل ورځ زما په ذکر کښے تيروی، او په مسکين او مسافر، او کونډو او مصيبت زده باندے رحم کوی۔ ددے کس رڼړا د نمر د رڼړا غونتے ده، زۀ په خپل

عزت سره ددهٔ حفاظت کوم او د خپلو ملائکو نه دده د حفاظت غواړم، په تيارهٔ کښې ورته رنړا پيدا کوم، او په جهالت کښې صبر، او دده مثال زما په مخلوق کښې داسې دے لکه فردوس په جنت کښې۔

په دے حديث کښې په مانځه کښې تواضع ذکر شوے، او تواضع نهٔ راځي مګر په خشوع خضوع او حضور او د هغه ذات مخامخ په خاطر جمعئ سره د کوم ذات مخامخ چه تهٔ اودريږے۔

مطلب دا چه : کله بنده په دے صفت باندے وی او دا قِسم مونځ اوکړی نو د الله د فضل او مهربانئ د وجے نه ددے قبوليت ضروری دے، اګرکه په اصل کښې په الله باندے هيڅ شے واجب نهٔ دے۔ او کله چه بنده په دے صفت باندے نهٔ وی، او نهٔ دا قِسم مونځ کوی، نو دا دَ اميد او دَ اوږد سبب لاندے پاتے کيږی چه دا فيض دے چه نهٔ قطع کيږی او نه ختميږی۔

د عائشے رضی الله عنها نه روايت دے چه کله به مونځ حاضر شو نو رسول الله ﷺ به داسے شو ګويا مونږ نهٔ پيژنی او نهٔ مونږ هغویٔ پيژنو۔

يعنے مانځه باندے د مشغول کيدو او ددے د توجه او اهتمام د وجے نه به داسے شو۔

او نبی کريم ﷺ فرمائی : «زما د سترګو يخوالے په مانځه کښې ګرزولے شوے دے»۔

(نسائی).

او نبی ﷺ به فرمائيل : «اے بلاله ! مونږ له د مانځه په ذريعه راحت راکړه»۔ ځکه د نبی ﷺ راحت به په دے کښې وو۔

او نبی ﷺ نه په مانځه کښې د اخوا ديخوا کتلو په باره کښې تپوس اوشو، نو وے فرمائيل : «دا يو تختول دی چه شيطان ئے د بنده د مانځه نه تختوی»۔

(ذكره البخاری عن عائشة رضی الله عنها).

ابو طالب مکی وائی : خلقو ماته د بعضے عارفينو نه بيان کړل چه هغه وائی : ما د شپے په آخر کښې دوه رکعته اوکړل او بيا پيرشانئ يوړم، نو ما يوه اوچته بنګله اوليده چه ډيرے سپينے کوټے په کښې وے، ګويا دا ستوری دی، نو ما دا ډيره ښه اوګنړله، او ما وئيلے : دا بنګله د چا ده ؟ نو ماته اووئيلے شو : دا د دغه دوه رکعتو ثواب دے۔ زهٔ ډير خوشحاله شوم او شروع شوم چه د هغے نه ګير چاپيره تاويدم، نو ما د دغه بنګلے د يو ګوټ نه يوه کوټه اوليدله چه پريوتے وه، نو دا بدے ښکاره کيده، نو زهٔ خفه شوم او ما وئيلے : که چرے دا کوټه په خپل ځائے کښې وے نو بيا به دا بنګله ښائسته وے۔ (ځکه دا کنډو په کښې

عيبجن معلوميږي) نو ماته يو هلك چه هلته وو اوويئيل : دا كوته د دغه بنګلے په خپل ځائے كښې وه ليكن تا په مانځه كښې اخوا ديخوا كتل نو دے وجے نه پريوته.

او دا دَ هغه نظر په باره كښې ده چه بهر د مانځه نه مباح وي، او پاتے شو هغه شئ ته كتل چه هغے ته كتل حرام وي نو كه دا كار قصدا كوي نو مونځ ئے خرابيږي، او ددے كونكے د حرامو مرتكب جوړيږي او ګناه ئے اوكړو، او معامله ئے الله ته سپارلے شوے ده.

ابو يعقوب يوسف بن حسينؒ فرمائي : يو ځل زهٔ او ذو النون مصريؒ د چا ملاقات له تللي وو، نو مونږ باندے د جُمعے مونځ راغے نو مونږ يو كلي ته ورداخل شو چه د جُمعے مونځ اوكړو، نو مونږ د جُمعے مونځ اوكړو او د مازيګر مونځ كولو پورے هلته پاتے شو، بيا مونږ اووتلو، نو ذو النون په يو نابينا سړي باندے سلام واچولو، چه په هغهٔ باندے د خدمت آثار او د عبادت تازګي وه، نو ذو النونؒ د هغه د ړوند والي د وجے نه خفه شو، نو هغه سړي ورته اوويئيل : اے ذو النونؒ! عادل باندے په خپل فيصله كښې اعتراض مه كوه، ځكه څوك چه د هغه نه سيوا بل چاته ګوري دابه ئے سزا وي. څه وخت چه مونږ اووتلو نو ما دَدهٔ په باره كښې دِ ذو النونؒ نه تپوس اوكړو، وے فرمائيل : يو ځل دا په مانځه كښې وو نو يو داسے كس ته ئے اوكتل چه هغهٔ ته كتل په دهٔ حرام وو، نو دا په هغے خپيمانه شو او د هغے راسے په دغه كتلو باندے ژاړي تردے چه ړوند شو.

يحيى بن زكريا – عليهما السلام – نه نقل دي چه هغهٔ بني اسرائيلو ته اوفرمائيل : «زهٔ تاسو ته د مانځه حكم كوم، نو كله چه په تاسو كښې څوك خپل مانځه ته اودريږي نو هغه دے اخوا ديخوا نه ګوري، ځكه الله عز وجل په خپل مخ سره خپل بنده ته توجه كونكے وي، تر څو پورے چه هغه اخوا ديخوا اونه ګوري. او ددهٔ مثال د هغه سړي دے چه يو بادشاه ته ورشي او هغه ورله وخت وركړي او ورته اووائي چه خپل حاجت دے غواړه. نو دغه سړے شروع شي چه ښي او ګس اړخ ته ګوري. نو بادشاه ورته اووائي : خپل حاجت دے غواړه او ماته خپل مخ را واړوه، نو دغه سړے بيا ښي او ګس اړخ ته ګوري، نو آخر بادشاه ورته اووائي : بيا نو دے ځائے نه اوځه. نو بغير د حاجت پوره كيدلو نه راوځي».

احمد بن أبي الحواريؒ فرمائي : كله چه بنده مانځه ته پاسي. الله عز وجل فرمائي : زما او د بنده ترمينځه پردے پورته كړئ، او كله چه بنده اخوا ديخوا اوګوري، نو فرمائي : را زوړندے ئے كړئ او دا دَ هغه شئ سره پريدئ چه خپل ځان دپاره ئے خوښوي.

عطاء بن ابي رباحؒ فرمائي : ما د ابو هريره ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئے : بنده چه كله په

مانځه کښې ولاړ وی نو دا د رحمٰن ذات مخامخ وی، او کله چه اخوا دیخوا اوګوری نو الله عز وجل ورته فرمائی : اے د آدم ځویه ! تهٔ چاته ګورے ؟ یو داسے رب ته ګورے چه ستا دپاره مانه غوره دے ؟ ماته متوجه شه ځکه زهٔ د هغه چانه ستا دپاره غوره یم چاته چه تهٔ ګورے۔

پو هه شه چه! د الله عز وجل وینا : ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴾ [المومنون: ٩] دوه احتماله لری، یو دا چه په دے کښے دَ مانځه د پابندئ نه مراد د وخت پابندی ده، دویم د مانځه د اعمالو پابندی ده، لکه قیام، قرائت، رکوع، سجده، طمانینت، سکون، حضورِ قلبی او باقی اعمال۔ نو چاچه ددے پابندی اوکړه او په دے صفت سره ئے په دے باندے راتګ اوکړو، نو دابه ددے نه په نور دینی کارونو کښے ډیر پابندی کونکے وی۔ او چاچه دا ضائع کړو، نو ددے نه سیوا نور دینی عملونه به زیات ضائع کونکے وی۔

لکه عمر بن خطاب ﷺ فرمائی : ستاسو په ټولو کارونو کښے د ټولو نه اهم ترین شے زما په نیز مونځ دے، نو څوك چه ددے حفاظت او پابندی کوی، نو دهٔ د خپل دین حفاظت اوکړو، او چاچه دا ضائع کړو نو ددے نه سیوا نور عملونه به سر کښے ضائع کونکے وی۔

په یو حدیث کښے دی : «چاته چه خپل مونځ حقیر شو، د الله په نیز به دا مونځ ډیر حقیر وی»۔

حسن بصریؒ به فرمائی : اے بنیادمه ! کله چه تاته خپل مونځ سپك ښکاره شو نو په خپل دین کښے به تاته کوم یو شے عزت مند ښکاره شی ؟

یاد ساته ! چه خشوع یواځے مانځه پورے خاص نهٔ ده بلکه هر وخت کښے وی، خو په مونځ کښے زیاته وی، ځکه خشوع د الله د تعظیم او هیبت او د هغهٔ د عظیم بادشاهت نه پیدا کیږی، او مونځ د الله د تعظیم او اجلال ځائے دے۔

روایت دے چه الله عز وجل داود ؑ ته وحی اوکړه : اے داود ! ما هغه وخت یادوه کله چه تهٔ خپل اندامونه څنډے، او زما د ذکر په وخت خشوع او اطمینان اختیاروه، اوکله چه تهٔ زما مخامخ اودریږے نو د داسے غلام پشان اودریږه چه هغه ذلیل او حقیر وی، او د خپل ځان بدی بیانوه ځکه دا دَ بدئ ډیر لائق دے، او کله چه تهٔ ما سره رازداری کوے نو په داسے زړهٔ ماسره راز داری کوه چه ویریدونکے وی او په داسے ژبے سره چه رشتینے وی۔

حسن بصریؒ نه نقل دی چه دهٔ یو سړے اولیدلو چه په مانځه کښے ئے په لاس سره په خپله ګیره کښے لوبے کولے، وئیلے : که ددے سړی زړهٔ کښے خشوع وے نو لاس کښے به ئے

خشوع وي۔

او يو ځل ئې يو سړې اوليده چه په مانځه کښې ئې د کوټ کانړو سره لوبې کولې او وئيلې : اې الله ! ماتـه حُورِ عين (غټو سترګو والا ښائسته جينکئ) په نکاح کښې راکړې۔ ورته ئې اوفرمائيل : ډيرې بدې خبرې کونکې ئې، ته د حُورِ عين سره خبرې کوې او بيا دَ کانړو سره لوبې هم کوې ؟

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴾ [الحج: ٣٤] (او زيرې ورکړه عاجزي کونکو ته)۔

دَ مخبتين په تفسير کښې وئيلي شوي دي چه دا عاجزي کونکي دي۔ وئيلې کيږي : اَخبَتَ اِلَى اللّٰهِ فَهُوَ مُخبِتٌ۔ کله چه الله ته عاجزي او تضرع اوکړي۔ هم ددې نه ﴿ وَأَخْبَتُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ ﴾ [هود: ٢٣] ماخوذ دې، يعنې خپل رب ته ئې عاجزي او تضرع اوکړه۔

او بعض وائي : ﴿ أَخْبَتُوا ﴾ معنىٰ ده، مطمئن او خاطر جَمع شو۔ او اَخبَتَ الرَّجُلُ هله وئيلې کيږي کله چه سړې د ګناه نه ځان اوساتي۔ بعضې وائي : هم دې نه ﴿ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴾ هم وتې دې۔

بعضې وائي : اِخبات وئيلې کيږي صفاتو نه حرکات ويستل، ورته اووئيلې شو، ددې حقيقت څه دې ؟ وئيلې : غير الله سره د تقسيمولو نه خپل راز جَمع کول۔ خلقو وئيلې : لږ نور څه اووايه۔ وئيلې : ماسره ددې نه زياتي څه نشته۔

رياح قيسي ؒ نه نقل دي چه يو ځل زۀ د صبا په وخت د رابعه عدويه ؒ ملاقات له لاړم، ما هغه بيامونده چه مونځ ئې کولو، څه وخت ئې چه سلام واړولو، راته ئې اووئيل : رياحه ! زۀ په خپله سترګه کښې زيګوالې موموم، ماچه د هغې سترګه اوکتله نو په هغې کښې دَ دُرمې يوه غټه ټکړه وه، او هغې به په بزګى باندې مونځ کولو، او يو ځل هغې د شپې سجده اولګوله نو د هغې په سترګه کښې دُرمه لاړه خو په مانځه کښې د مشغولتيا او د سجدې په حالت کښې د خشوع او مناجات په وجه هغې ته پته هم اونۀ لګيده۔

رياحؒ وائي : قسَم په الله ! ما د ډير مشقت نه روسته د هغې د سترګې نه هغه راوخکله، نو ما تعجب اوکړو چه د سجدې په وخت دا د هيڅ نه هم خبره نه ده۔

دا هغه رابعةؒ ده چه خپل راز ئې د خپل رب سره راجمع کړې وو نو د خپل بدن په هيڅ شيئ باندې پوهه نشوه۔

خلف بن ايوب ؒ ته اووئيلې شو : آيا په مانځه کښې ته د ځانه مچان نۀ شړې ؟ وئيلې : زۀ خپل ځان د داسې کار سره نۀ آموخته کوم چه مونځ مې خرابوي۔ عرض اوشو، بيا نو ته د

هغوئ په ضرر څنګه صبر کوے ؟ وئيلے : ماته را رسيدلے ده چه بعضے خلق داسے هم شته چه د چابکونو لاندے په دے وجه صبرکوی چه خلق اووائی چه فلانے مضبوط دے او فلانے صبرناك دے او په دے باندے فخر کوی، نو آيا زۀ به د يو مچ د وجے نه خوزيګم چه په ما باندے کينی، حال دا چه زۀ خپل رب ته ولاړ يم، هغۀ سره د راز خبرے کوم او د هغۀ کتاب لولم ؟

دا څه لرے خبره نه ده، ځکه چه کله زړۀ په يو شئ کښے ډوب شی نو د بل شئ نه بيا غافله وی. کله هغه ته آواز اوشی خو وائے هم نۀ وری، او کله ئے بدن ته ډير درد او تکليف اورسی نو په دے باندے هډو پو هيږی هم نۀ. او ډير داسے واقعات په مشاهده کښے راغلی دی.

ابن جهضم په خپل کتاب کښے د ابو القاسم سمنون المحبؒ نه نقل کړی دی چه هغه وائی : زما په ګاونډ کښ يو سړے وو، د هغۀ يوه وينزه وه، هغه به هغے ته ډير مائله کيدو او هغے سره به ئے ډيره مينه کوله. نو يو ځل دغه وينزه ډيره بيماره شوه، نو هغه ډير پريشانه شو، نو يو ځل هغه د هغے دپاره ليتيئ پخه کړه او هغه ئے په ځمځئ باندے خوزوله، چه ناګهانه وينزے اووئيل : اوه. نو د هغۀ د لاس نه ځمځئ پريوته او هغه شروع شو چه په خپل لاس سره ئے دغه ليتيئ لړله تردے چه د لاس غوښه ئے پريوته او هغه ته پته نۀ وه. وينزے ورته اوکتل، وئيلے دا ولے ؟ نو هغه رابيدار شو او خپلو ګوتو ته ئے اوکتل نو د هغے غوښه ئے اوليدله چه پريوتے وه. نو هغے ته ئے اووئيل : دا ستا ددے خبرے د وجے نه چه : اوه.

نو کله انسان ډير درد بيامومی خو په هغے باندے صبر کوی او حرکت نۀ کوی.

د يو سړی نه نقل دی چه هغه ډير چابکونه اووهلے شو خو خبرے ئے او نه کړے او نۀ خوزيدۀ، بيا يو چابك اووهلے شو نو چغے ئے کړے او حرکت او پريشانی ئے شروع کړه. چا ورته اووئيل : تعجب دے پتا باندے، تۀ دومره دومره چابکه اووهلے شوے، غږ دے نۀ کاوۀ او نه خوزيدلے او بيا يو چابك اووهلے شوے نو قيامت دے قائم کړو ؟ وئيلے : د چا د وجے نه چه زۀ وهلے شوم هغۀ زۀ ليدلم نو ما د هغۀ د وجے نه صبر کاوۀ، او هغۀ ته مے په دے سره خپل ځان محبوب جوړولو، او کله چه دغه يو چابك اووهلے شوم نو د هغه سترګه مانه آوړيدلے وه، نو کله چه ماته پته اولګيده چه هغه ما نه وينی او نه ورته زما ددے ځائے پته شته نو زۀ ټينګ نه شوم او هغه څه مے اوکړل کوم چه تاسو اوليدل.

دَ مېچ په کېناستو باندې د صبر په باره کښې يوه واقعه ذکر کېږي چه په قرطبه کښې د هغې د مشرانو نه يو سړې وو چه ډېر وقار او سکون والا وو، کله به چه هغه په يوه ډله کښې کېناسته نو نهٔ به خوزېدلو او نه به آوړېدلو اونه به ئې ښي او ګس اړخ ته کتل، يو ځل هغه په يوه جنازه کښې اووتلو چه هغې ته د ښار غټ خلق هم حاضر شوي وو، دې هغوئ سره په ميدان ډېښ کېناستهٔ، نو ددهٔ جامو ته مچۍ ورننوتې او چيچل ئې شروع کړل خو هغه نه خوزېدلو ، نه پرېشانه کېدو او نه ئې کتل، ته به وائې چه مچۍ په يو کانړي باندې چَلك لګوي، البته د هغه رنګ بدلېدو او مخ ئې سور کېده او زېړېدلو، تردې چه خلق د جنازې دفن کولو نه فارغ شول، نو هغه کور ته واپس شو او جامې ئې وخکلې نو دَ هغه بدن د دغه مچو د چيچلو د وجې نه پړسېدلې او غوټې شوې وو.

او دا کار دَ هغه نو موړي سړي د مرګ په وخت راغلې وو چه هغه ډېر خير ښيګړې والا وو، ډېره خرچه به ئې کوله او په سوونو فقيران به ئې پالل. او دا مذکوره سړې قاضي ابو عبد الله محمد بن اصبغ وو، د يوې کورنۍ سره تعلق لري چه هغوئ په بنو المناصف باندې مشهور وو، دا د فقهاؤ داهلِ شورئ نه وو.

نو کله چه دغه سړي دغه مشقت برداشت کړو او په دې تکليفونو باندې ئې دخلقو د وجې نه صبر اوکړو، او ددې وجې نه چه خلق په جزع فُزع او د صبر او وقار په کموالي باندې صفت اونه کړي. نو په مانځه کښې به دا د الله د سترګو نه د پرېوتو د وېرې نه څنګه وي ؟ چه داسې کار اوکړي چه الله ئې بدې ګڼړي. دا خو ددې لائق دې چه هر څه صرف په دې وجه برداشت کړي چه دا د الله عز وجل مخې ته ولاړ دې، دارنګه د هغه د مشاهدې د تعظيم او هغهٔ د اطلاع د هيبت د وجې نه پکار دې.

مسلم بن يسار ؒ نه نقل دي چه کله به دهٔ د مانځه اراده اوکړه نو خپل کور والو ته به ئې اووئيل : څنګه مو چه خوښه وي خبرې کوئ ځکه زهٔ ستاسو خبرې نهٔ آورم.

او يو ځل هغه د بصرې په جامع مسجد کښې مونځ کولو نو دَ يو طرف نه پرېوتلو خو پو هه پرې نشو.

او يو ځل د هغهٔ په کور کښې اور اولګېده او هغه مونځ کولو، خلقو هله ګوله شروع کړه تردې چه هغه ئې مړ کړو، او هغه په مانځه ولاړ وو، نو کله چه د مانځه نه فارغ شو، ښځې ئې ورته خبر ورکړو، هغه وئيلې : ماته پته اونه لګېده.

عبد الله بن عمر بن خطاب – رضي الله عنهما – به مونځ کولو نو خوږ آواز سره به ئې

قرائت کولو او ژړل به ئے تردے چه که یو داسے سړی لیدلے وے چه نه ئے پیژندو نو خامخا به ئے وئیلی وے چه دا لیونے دے۔

عمر بن عبد العزیز - رحمه الله - به په مانځه کښے نه خوزیدهٔ او نه به ئے خپل بدن گرولو تردے چه فارغ به شو۔

عبد الله بن زبیر ﷺ به مونځ کولو، نو دَ منجنیق (مچوغنے) کاڼړے به راغے او ددهٔ د کپړے څه حصه به ئے اونیوله، نو سلام به ئے نه اړولو تردے چه فارغ به شو۔ او هغه به چه کله مانځه ته اودریدهٔ نو گویا د خشوع د وجے نه به د نهجورے تنه معلومیده۔ یعنی نه به خوزیدهٔ۔

او دغه شان د ابو بکر ﷺ باره کښے هم راځی۔

ابو مصعب ؒ فرمائی : مالك بن انس ؒ به په نفلو کښ اوگده رکوع اوسجده کوله، او کله به چه په مانځه کښے اودریدهٔ نو تابه وئیل چه اوچ لرگے دے هیڅ طرف ئے نه خوزی۔ کله چه اووهلے شو او بیماری ورته اورسیده، نو چا ورته اووئیل : که دا لږ لنډ کړئ نو ښه به وی! وے فرمائیل : ښوك چه یو کار کوی نو هغه له پکار دی چه په ښے طریقے سره ئے اوکړی، ځکه الله عز وجل فرمائی : ﴿لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ [الملك: ٢] (دے دپاره چه تاسو باندے آزمائش اوکړی چه په تاسو کښے ښوك ښه عمل کوی)۔

ابو یزید بسطامی به چه کله مانځه کښ داخل شو نو د اندامونو نه به ئے حرکت آوریدل کیده گویا دا هډوکی دی چه په توشه دان کښے اچولے شوی دی۔

علی بن أبی طالب ﷺ مخ به بدل شو او تغیر به په کښ راغے کله به چه مونځ حاضر شو، او فرمائیل به ئے : د یو داسے امانت اداء کولو وخت راغے چه په زمکه او آسمانونو او غرونو باندے پیش کړے شو خو هغوئ ددے د بارولو نه انکار اوکړو او ددے نه اوویریدل۔

سلیمان بن طرخان تیمی رحمه الله به چه کله مانځه له تیارے اوکړو نو کله به زیړیدلو او کله به سور کیدلو او فرمائیل به ئے : زهٔ د الله عز وجل مخے ته اودریدل غواړم۔

سفیان ثوری ؒ فرمائی : که تا منصور بن معتمر ؒ په مانځه لیدلے وے نو تابه وئیلے چه : اوس مری۔

مجاهد بن جبر ؒ فرمائی : مابه چه کله عرب اولیدل نو سخت به مے گڼړل، خو کله به چه مانځه کښ اودریدل نو تابه وئیل چه دوئ داسے بدنونه دی چه روحونه په کښ نشته۔ د الله د ویرے د وجے نه۔ او دَ عربو نه مراد صحابه او تابعین رضی الله عنهم ـ دی۔

ابـو بـكـر بـن عياش رحمه الله فرمائي : ما حبيب بن ابي ثابت رحمه الله په مانځه اوليدلو داسې وو ته به وائې چه مړې دې. يعني د خوف او د خشوع د وجې نه.

يـحيىٰ بـن وثـابؒ بـه چه كله د مانځه نه فارغ شو، نو ډير وخته پورې به پرې د مانځه غم ښكاره كيدلو.

ابراهيم نخعي رحمه الله به د مانځه نه څه ساعت پس داسې معلوميدهٔ لكه مريض.

ابن عباس رضي الله عنه نـه روايت دې چه دوئ اوفرمائيل : سوچ او فكر سره دوه ركعته مونځ كول د ټولې شپې د داسې قيام نه غوره دي چه زړهٔ په كښې غافل وي.

ابـو طالب مكي د بشر بن حارث په واسطه د سفيان ثوريؒ نه نقل كوي چه دهٔ اوفرمائيل : څوك چه خشوع نهٔ كوي مونځ ئې فاسد دې.

د حسـنؒ نـه نـقل دي چه دهٔ اوفرمائيل : هر هغه مونځ چه په هغې كښې زړهٔ حاضر نهٔ وي نو دا عذاب ته ډير نزدې وي.

معاذ بن جبل رضي الله عنه فـرمـائي : څوك چه په مانځه كښې قصدا خپل ښي او ګس اړخ ته خلق پيژني نو ددهٔ مونځ نشته.

سعيـد بـن جبيرؒ فرمائي : ما د څلويښتو كالو راسې خپل ښي او ګس اړخ ته ولاړ خلق نهٔ دي پيژندلي، د كوم وخت نه چه ما د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه آوريدلي دي چه فرمائيل ئې: په مـانـځـه كښې خشـوع داده چه مـونـځ كـونكې خپل ښي او ګس اړخ ته ولاړ خلق او نهٔ پيژني.

مـحـمـد بـن سيـريـنؒ فرمائي : صحابو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله به په مانځه كښې د سرې دپاره دا بهتره ګـنـړله چه ددهٔ نظر دې د سجدې د ځائې نه تير نشي، اوكه د يو شئ سره آموخته شوې وي نـو سترګې دې پټې كړي، كه په خپل مانځه كښې كتلو باندې آموخته وي نو سترګې دې پټې كړي، دې دپاره چه ګوري نهٔ.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به چه مانځه ته اودريدهٔ سترګې به ئې پټې كړې او آواز او لاس به ئې ښكته كړل.

منصور بن معتمرؒ به چه كله مونځ كاوهٔ نو خپله سينه به ئې په ګيره باندې وهله.

ربيـع بـن خيـثـمؒ د خـاشـعـيـنـو نـه وو، هغه به وئيلې : زهٔ چه كله هم مونځ كښې ولاړ يم نو مـاسـره د هيـڅ شـئ غم نهٔ وي سيوا د هغه شئ نه چه زهٔ ئې وايم او هغه شې چه ماته وئيلې كيږي.

عامر بن عبد الله بن قیس ؒ ددې امت د خاشعینو نه وو، هغه به چه کله مونځ کاوۀ نو لور به ئې چمبه وهله او زنانو به خپلې خبرې کولې، خو هغه به نه آوریدلې او نه به پو هیدلو چه دوئ څه کوی ؟

یو ورځ دۀ ته اووئیلې شو، آیا په مانځه کښې تۀ د څه شئ سوچ کوې ؟ هغه وئیلې : آو۔ دا چه زۀ بـه د الله مـخـامـخ څـنـګه اودریږم، او په خپلو دواړو کورونو کښې به کوم یو ته ځم ؟ ورتـه اووئیـلې شـو، دا نـه یادوم، بلکه دنیوی خبرې یادوم چه مونږه د هغې سوچونه کوو او کـومـې چـه شیطان مونږ ته پرې وسوسې اچوی۔ وې فرمائیل : که زما په سینه کښې نیزې اووهلې شي دا ماته د دغې نه غوره ده۔

سعد بن معاذ ﷺ فـرمـائـی : زۀ هـیـڅ کـله په مانځه کښې نه یم چه خپل ځان دې ددې نه عـلاوه پـه بـل شـئ بـانـدې مشغول کړم تردې چه پوره ئې کړم، او زۀ هیڅ کله په یوه جنازه کښې نه یم چه خپل زړۀ کښې د هغه څه نه علاوه نور سو چونه کوم، کوم چه مړې وائی او یا هغه ته وئیلې کیږی۔

داسې واقـعـات ددې نو موړو خلقو نه ډیر نقل دی، او د دوئ نه سیوا د یوې ډلې نه هم نقل دی، او دا د الله فـضـل دې چاتـه ئې چـه خـوښه شي ورکوی ئې، دا خو یا د هغوئ په اکثرو اوقاتو او اکثرو مونځونو کښې حالت وو، او یا په ټولو مونځونو کښې۔ والله اعلم۔

بـعـضـې وائی : مونځ د آخرت عمل دې نو کله چه تۀ په دې کښې داخل شوې نو د دنیا نه اووتلې۔

یـو کـس تـه اووئیـلې شو، آیا تۀ په مانځه کښې څه شې رایادوې ؟ وئیلې : یو بل شې هم ګنې ماته د مانځه نه غوره دې چه هغه په دې کښې زۀ رایاد کړم ؟

او کـلـه چـه ستا زړۀ خشوع اوکړی او حاضر شي نو ستا وسوسې به ختمې شي او مناجات به دې خوږ شي، او مونځ به درته لنډ ښکاره شي چه بل چاته اوګد ښکاری۔

عبد الله بن زبیر ﷺ بـه اوګـده سجده کوله تردې چه چینچڼې به ددۀ د اوګدې سجدې د وجې ددۀ په شا باندې کیناستې، هغې به دا ګمان کولو چه ګنې دا د دیوال ستنه ده۔

حـمـاد بن زیدؒ فرمائی : عبد الله بن غالب حدانیؒ به دومره اوګده سجده کوله چه یو سړې به وَښو له لاړ او واپس به شو او هغه به لا په خپل حالت کښې وو۔

دا عبـد الله بن غالبؒ د لویو عابدانو نه دې، او هم دا هغه کس دې چه د مرګ نه پس ددۀ د قبر نه ډیر وخته پورې د مشکو خوشبوئې ختله، ګڼ علماء او معتمد خلق دیته ورغلل او

دا ئے اولیدل۔ او هر کله چه د ډیرو خلقو د ورتللو اندیښنه شوه نو په دۀ باندے د فتنے نه یَره اوکړے شوه، نو قبرئے د زمکے سره هوار کړے شو او ځائے ورك کړے شو۔

ابن مغیث په خپل سند سره د عبد الله بن وهبؒ نه نقل کوی چه دۀ اوفرمائیل : زۀ د اختر په ورځ کله چه مونړ را واپس کیدو دَ سلیمان بن قاسمؒ پسے روان شوم، دے دپاره چه دا اوګورم چه دے دچا سره سمنارے کوی، نو هغه جامع مسجد ته ننواتۀ نو زما دا خیال وو چه دا به پړے ورتیږی، نو زۀ هغه پسے روستو ننوتم، نو هغه اول صف ته ورکوز شو او مانځه دپاره ئے تکبیر اوکړو، ما هم پټ هغه پسے تکبیر اوکړو، او دوه رکعته مے اوکړل او التحیات ته کیناستم، نو هغه په سجده باندے پریوتو، نو ما د هغۀ نه په سجده کښے واوریدل :

اے ربه ! ستا بندګان خپلو هغه دنیوی تازه ګیو ډول ډهال او خوراکونو ته واپس شو، کوم چه دوئ د خپل دے ورځے دپاره تیار کړی دی، او ستا بنده سیلمان تاته واپس شو، تانه دا غواړی چه ددۀ څټ د خپل اور نه آزاد کړے، او تانه ستا په رحمت سره د خپلو ګناهونو مغفرت غواړی، نو هائے آرمان ! تابه ددۀ سره څه کړی وی ؟ آیا تابه دا قبول کړے وی، او ددۀ نه به دے تجاوز کړے وی اوکه نه ؟ که تا قبول کړے وی نو واقعی چه دا خوشحاله، نیك بخته او کامیاب شو، او که دا کار دے نۀ وی کړے نو هائے ددۀ تباهئ او بربادئ، او په ژړا او چغو ئے شروع اوکړه۔

نو ماته د هغۀ انتظار اوګد شو، زړۀ کښے مے اووئیل : زۀ کور ته او چاته مے چه ماسره د روژه ماتی دپاره وئیلی وو هغوئ ته ورځم، ما سره ویره ده چه زما په انتظار کښے به ما لیټ اوګنړی او لاړ به شی، نو ما د هغۀ په جامه باندے نښه اوکړه او هغه د سجدے په حالت کښے وو، زۀ کور ته لاړم او د خلقو سره مے سمنارے اوکړو، او اوږدے خبرے مے اوکړے، بیا هغوئ خپلو کورونو ته لاړل او ماله خوب راغے او ډیر ساعت اودۀ پاتے شوم، بیا بیدار شوم او اودس مے اوکړو، او کپړے مے واچولے او زوال ته نزدے جومات ته بیا لاړم، څه ګورم چه هغه په خپل هم دغه حالت د سجده کښے پروت دے، او د هغه په کپړه باندے زما نښه دغسے وه۔ هغه د خپلے ژړا او تضرع په عالم کښے وو، تردے چه د خپل مانځه سره ئے د ماسپخین مونځ پیوسته کړو۔

په مانځه کښے ژړا :

رسول الله ﷺ به په مانځه کښے ژړلے، عبد الله بن شخیر ؓ فرمائی : «زۀ رسول الله ﷺ ته

په داسې حالت کښې راغلم چه د هغوئ د ږد دپاره د کټوئ د خوټ کیدو پشان خوټ کیدل وو۔ یعنی ژړل ئې »۔ (نسائی)۔

او نبی ﷺ فرمائی : « ابو بکر ته حکم اوکړئ چه خلقو ته مونځ اوکړی، نو عائشې رضی الله عنها وئیلې : یا رسول الله ! ابو بکر ﷺ نرم زړے سړے دے، کله چه قرآن لولی نو خپلې اوښکې نشی قابو کولې »۔ (مسلم)۔

نو عائشې رضی الله عنها خبر ورکړو چه هغه به چه کله مونځ کولو نو ژړل به ئې۔

عبد الله بن شدادؒ فرمائی : ما د عمر ﷺ ژړا واوریده او زهٔ د ټولو صفونو په آخر کښې ولاړ ووم، دا آیت ئې لوستلو : ﴿ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّيْ وَحُزْنِيْ إِلَى اللهِ ﴾ [یوسف: ٨٦] (زه خو بس د خپل غم او خفګان شکایت الله ته کوم)۔ (بخاری)۔

د دوئ نه علاوه صحابه کرامو او نورو مسلمانانو نه بے شماره داسې واقعات نقل دی چه هغوئ به په مونځونو کښې ژړل، دے باره کښې ډیر احادیث راغلی دی۔

یاد ساته ! کله انسان په مانځه کښې نور نیکان اعمال رایادوی، اګرکه دا د مانځه نه نهٔ وی، ځکه چه دَ مانځه نه وړاندې په هغې کښې سخت مشغوله وی۔

نبی کریم ﷺ یو ځل د مازیګر مونځ اوکړو، کله ئې چه سلام واړولو، په تادئ باندې پاسیدهٔ، خلقو د هغوئ دَ تادئ نه تعجب اوکړو، نو وے فرمائیل : ما په مانځه کښې د سرو زرو څه ټکړه رایاده کړه چه مونږ کره وه، نو ما بده اوګڼړله چه دا دے مونږ کره بیګاه کړی یا دے شپه تیره کړی، نو ما د هغې د تقسیمولو حکم اوکړو۔(ذکره البخاری وغیره)۔

د عمر بن خطاب ﷺ نه نقل دی چه دوئ اوفرمائیل : زهٔ خپل جهادی لښکر تیاروم په داسې حال کښې چه زهٔ په مانځه کښې یم۔

او دا په دے وجه چه دوئ د مسلمانانو په کارونو، مصلحتونو، د سرحدونو په حفاظت او دشمن سره په جهاد کښې ډیر زیات مشغوله وو، او د دوئ په کارونو کښې به ئې ډیر زیات سوچ کولو او دا په هغه غالب وو۔



٥٩ - فائده

د الله نه خوف به انسان ته څنګه حاصليږي ؟

ځکه چه دا د بنده په ايمان کښې ډير قيمتي شے دے او په دے وخت کښې کم هم دے۔
نو ياد ساته ! چه خوف نه موجوديږي مګر په انتظار د مکروه شئ سره، او دا مکروه شے به يا خپله مکروه وي لکه اور، او يابه په دے وجه مکروه وي چه دا مکروه شئ ته رسول کوي، لکه ته ګناهونه مکروه ګڼړے ځکه چه دا په آخرت کښې د مکروه شئ دپاره سبب جوړيږي۔ او يا لکه مريض مُضر خوراکونه، فروټ وغيره بد ګڼړي ځکه چه دا مرګ ته رسول کوي۔
دے وجے نه د هر ويريدونکي شخص دپاره پکار دي چه په دغه دوه قسمونو کښې خپلے مخے ته يو مکروه ساتي او په خپل زړهٔ کښې دهغے انتظار مضبوط لري، دے دپاره چه ددهٔ زړهٔ د دغه مکروه رايادولو په وجه سوزي۔
نو هغه خلق چه د هغوئ په زړونو باندے هغه شے غالبه شوے دے چه هغه خپله مکروه نهٔ دے بلکه د غير د وجے نه مکروه دے هغه دادے :
١ - لکه په چا باندے د توبے نه مخکښې د مرګ راتللو خوف غالب وي۔
٢ - او يا د توبے ماتولو او لوظ ماتولو نه خوف کوي۔
٣ - او يا دَ دے نه يريږي چه د الله د حقونو پوره کولو نه به ئے قوت کمزورے شي۔
٤ - او يا ددے نه خوف کوي چه زړهٔ به ئے د نرم والي نه سختئ طرفته بدل شي۔
٥ - او يا دَ استقامت نه آوړيدو نه خوف کوي۔
٦ - او يا کوم شهوات چه مالوف دي د هغے د عادت غالبه کيدو نه يريږي۔
٧ - او يا ددے نه خوف کوي چه الله به ئے خپلو هغه نيکيو ته اوسپاري چه په هغے باندے دهٔ توکل کړے او د الله په بندګانو کښې ئے پرے ځان عزت مند کړے۔
٨ - او يا دَ کبر نه خوف کوي ځکه چه په دهٔ باندے د الله نعمتونه ډير وي۔
٩ - او يا ددے نه خوف کوي چه په غير الله سره د الله نه مشغوله نشي۔
١٠ - او يا د يرله پسے نعمتونو د وجے نه د استدراج نه يريږي۔

۱۱ - او یا د طاعاتو د مصیبتونو راښکاره کیدو نه یریږی چه دهٔ ته به د الله د طرفنه هغه شے راښکاره شی چه ددهٔ په گمان کښے نهٔ وی۔
۱۲ - او یا په غیبت، خیانت، تگئ او بدنیتئ کښے د خلقو د عوضونو نه یریږی چه دے به اداء کوی۔
۱۳ - او یا ددے نه یریږی چه معلومه نهٔ ده راتلونکی وخت کښے به څه کیږی ؟
۱٤ - او یا ددے نه خوف کوی چه په دنیا کښے به ورته زر عذاب ورکړے شی او د مرگ نه مخکښے به رسوا شی۔
۱۵ - او یا دَ دنیا په رونقونو باندے د دهوکے خوړلو نه خوف کوی۔
۱٦ - او یا ددے نه خوف کوی چه الله به ددهٔ په باطن باندے خبر وی په داسے حال کښے چه دے به د ځانه غافله وی۔
۱۷ - او یا ددے نه خوف کوی چه ددهٔ به آخره خاتمه خراب شی۔
۱۸ - او یا په ازل کښے ددهٔ دپاره چه کومه فیصله شوے ده هغے نه یریږی۔
نو دا ټول د عارفینو خلقو خوفونه دی او د هر یو دپاره خاص فائده ده، او هغه دا چه د هوښیارتیا په لاره باندے چلن کول چه هسے نه دغه ویرے ته ورنشی۔
نو څوك چه ددے نه خوف کوی چه عادت به پرے غلبه اوکړی نو هغه دے دعادت نه ځان بند کړی، او څوك چه ددے نه یریږی چه الله به ددهٔ په باطن باندے خبر وی نو هغه د وسوسو نه د خپل زړهٔ په پاکولو باندے مشغول شی۔ وعلی هذا القیاس۔
او ددے ټولو نه سخته خبره ده د خاتمے او تقدیری فیصلے ویره ده۔ چه ددے دپاره د تقدیر احادیث مطالعه کول پکار دی۔ (الاحیاء ٥/٨، ٩).



٦٠ - فائده

مؤمن د خپل رب نه ولے یریږی ؟

نو د الله نه ویره د هغهٔ په بادشاهئ ، غلبے او په مخلوق کښے دَ هغه د مشیئت جاری کیدلو باندے اقرار کول دی، او ددے نه غفلت اختیارول د عبودیت نه غفلت اختیارول دی، ځکه د هر مملوك سره دا لائق دی چه هغه د خپل مولیٰ نه یریدونکے وی، ځکه د مولیٰ قدرت په دهٔ باندے ثابت وی او د هغه د مقاومت او انقیاد پریخودلو نه بنده عاجزه وی۔

او دَ الله تعالیٰ نه خوف په څو وجهو سره دے :

١ - یو دا چه بنده خپل ذلت پیژنی او ددے نه خپل ځان سپك، عاجزه او کوتاه ګنړی چه د الله تعالیٰ نه اوتختی هر کله چه الله دهٔ ته څه تکلیف او ضرر رسول غواړی۔ او ددے مثال لکه د ماشوم یره ده دَ خپل پلار نه، او لکه د خلقو ویره ده د خپل بادشاه نه اګرکه هغه عادل او احسان کونکے وی۔

نو تاله مناسب دی چه خپله عاجزی او کمزوری، او دَ خپل مولیٰ قوت، عظمت، لوئی او ستا نه د هغهٔ بے پروائی خپلے مخے ته لرے۔ نو دا تصور به په تا کښے ډیر قِسم خوفونه پیدا کړی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ﴾ [یٰسین: ٧٧]

(آیا انسان نهٔ وینی چه مونږ دے د نطفے نه پیدا کړے نو ګهانه دے ښکاره جګړه مار دے)۔

او فرمائی : ﴿ مَالَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَارًا ﴾ [نوح: ١٣]

(څه وجه ده چه تاسو د الله دَ وقار خیال نهٔ ساتئ)۔ او فرمائی : ﴿ اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ وَكِيْلًا ﴾ [اسراء: ٦٨]

(آیا تاسو ددے نه بے غمه ئے چه هغه تاسو د اوچے په اړخ کښے ډوب کړی او یا دریاندے کانړی را اوروی چه بیابه تاسو د خپل ځان دپاره څوك ذمه وار بیانهٔ مومئ)۔

او فرمائی : ﴿ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِىَ تَمُوْرُ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرٌ ﴾ [الملك: ١٦، ١٧] (آیا تاسو د هغه ذات نه بے په امن کښے یئ چه هغه په آسمان کښے دے، چه تاسو به په زمکه اومنډی نو ناګهانه به هغه خوزیږی او یا تاسو د هغه ذات نه چه په آسمان کښے دے بے غمه ئے چه هغه به په تاسو

کانړي را اووروي نو خامخا به تاسو ته پته اولګي چه زما ویره ورکول څنګه دي).
نو دا آیتونه تاله په دغه احساس کښې فائده درکوي.
٢ – دویم: هغه خوف دے چه د محبت نه پیدا کیږي. او هغه دا چه بنده په عامو اوقاتو کښې ددے نه یره کوي چه هسے نه الله مے ځانته اوسپاري او د توفیق د اسبابو نه مے محروم کړي. او دا د هر هغه مملوك (غلام، او مزدور) خوئے دے چه هغهٔ سره خپل آقا او مولیٰ احسان کوي، نو دے د هغه د احسان قدر پیژني او هغهٔ سره محبت کوي، نو دا همیشه دپاره د خپلے هغه مرتبے نه یریږي چه د هغه سره ده، د هغے د ختمیدو او ورك کیدلو نه خوف کوي.
دا وجه ده چه ایمان والا او زوړ علماء دا دعاء غواړي: ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا ﴾ [ال عمران: ٨]
(یاربه! زمونږ زړونه، روسته ددے نه چه تا مونږ ته هدایت کړے، مه اړوه).
(يَا مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ، صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلى طَاعَتِكَ، يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلى دِينِكَ).
(اے د زړونو اړونکیه! زمونږ زړونه ستا طاعت طرفته واړوه، او اے زړونه اړونکیه! زما زړهٔ په خپل دین باندے مضبوط کړه).
د زړونو د اړولو دعاګانے ډیرے دي، ټولے د بنده په خوف باندے دلالت کوي، بلکه د تصور او احساس نه پس دا خوف پیدا کوي.
٣ – دریم: خوف د هغه عظیم وعید (عذاب) نه پیدا کیږي چه الله سبحانه و تعالیٰ مونږ ته په خپل مبارك کتاب کښے د هغے دهمکی راکړے. لکه فرمائي: ﴿ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴾ [ال عمران: ١٣١] (او د هغه اور نه ځان بچ کړئ چه کافرو له تیار شوے). او فرمائي: ﴿ قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ﴾ [تحریم: ٦] (خپل ځانونه او کور والا د ناشنا اور نه بچ کړئ). او فرمائي: ﴿ وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴾ [البقرة: ٤١] (او خاص مانه یره کوئ). او فرمائي: ﴿وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ [البقرة: ١٩٧] (او مانه یریږئ اے عقل مندو). دغه شان احادیثو کښے هم دي، چه د هغے نه بعضے په شعب الایمان کښے اوګوره. (٤٦٧/١).
جنید فرمائي: بنده نه خوف نه ختمیږي، څومره چه الله بنه پیژني هغومره ترے ډیر یریږي. او یریدونکي درے طبقے لري.
١ – دَ جرم نه یریدونکي.
٢ – د نیکیو د نهٔ قبلیدو نه یریدونکي.

٣ - د انجامونو نه يريدونكى۔ ﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا﴾ [الشمس: ١٥] ١/ ٥٠٤.
عمر ﷺ فرمائى : خوش طبيعتى څوانمردى ختموى، او سينه تنګوى، او ذا خبره ئے خپلو ګورنرانو ته ليكلے وه او هغوئ ته ئے وئيلى وو : خلق ددے نه منع كړئ۔
دارنګه فرمائى : د چا خندا چه ډيره شوه هيبت به ئے كم شى، او څوك چه مزاح كوى، سپك به ګنړل كيږى، او څوك چه يو كار ډير كوى په هغے به مشهوريږى، او د چا خبرے چه ډيرے شوے، لغزشونه به ئے ډير شى، او د چا لغزشونه چه ډير شو، حياء به ئے كمه شى، او د چا حياء چه كمه شوه، پرهيزګارى به ئے كمه شى، او د چا پرهيزګارى چه كمه شوه، زړۀ به ئے مړ شى۔ او د چا زړۀ چه مړ شو نو اور دۀ له ډير لائق دے۔ (قوت القلوب ص ٤٠٦).
يو هوښيار سړى خپل ځوئے ته اووئيل : ځويه ! شريف سړى سره مزاح مه كوه، كينه به درسره اوساتى، او رذيل سړه ئے هم مكوه ګنے زړور به شى دربانديے۔ (تنبيه ١/ ٢١٧).
بعضے حكماؤ وئيلى دى : د هر شئ يو تخم وى او د دشمنئ تخم مزاح دے۔ (حواله سابقه).
محمد بن عبد الله عابد ؒ فرمائى : څوك چه فضول كتل پريدى نو د خشوع توفيق وركولے شى، څوك چه كبر پريدى نو د تواضع توفيق وركولے شى، څوك چه فضول خبر پريدى نو د حكمت توفيق وركولے شى، څوك چه فضول خوراك پريدى نو د عبادت د خوند توفيق وركولے شى، څوك چه مزاح پريدى نو دَ تازګئ توفيق وركولے شى، څوك چه خندا پريدى نو د هيبت توفيق وركولے شى، څوك چه د خلقو نه طمع قطع كړى خلق ورسره مينه كوى، څوك چه د بل چا عيب تالاش كول پريدى نو د خپلو عيبونو د اصلاح توفيق وركولے شى، او څوك چه د الله عز وجل په صفاتو كښے تو هم پريدى نو هغۀ ته د شك او نفاق نه د خلاصى توفيق وركولے شى۔(تنبيه ١/ ٢١٥).
ډير عمده كلام دے۔
يحيىٰ بن معاذ رازى ؒ فرمائى : څلور خويونه دى چه مؤمن دپاره نۀ خندا پريدى او نه خوشحالى۔ د آخرت فكر، روزى ګټل، د ګناهونو غم او د مصيبتونو نازليدل۔(تنبيه ١/ ٢١٣).
وئيلے كيږى چه درے څيزونه زړۀ سختوى : بغير د ناشنا خبرے نه خندل، بغير د لوږے نه خوراك كول، او بغير دَ ضرورت نه خبرے كول۔ (تنبيه ١/ ٢١٦).
ابو عبيد بن جراح ﷺ فرمائى : د انسان د زړۀ مثال د چينچنړے غونته دے چه په ورځ كښے اووه ځله بدليږى۔
دا مرفوع حديث كښے هم راغلى۔ (شعب الايمان ١/ ٤٧٤).

بعضې علماء فرمائي : ددې امت غوره خلق هغه دي چه د خپل رب د فراخه رحمت د وجې نه ښكاره خاندي، او د خپل رب د سخت عذاب د وجې نه پټ ژاړي، او خپل رب صبا بيګاه په پاكيزه كورونو جوماتونو كښې يادوي، او د دوئ بوج په خلقو سپك وي، او په خپلو ځانونو دروند. (حواله بالا).

عتبه بن عبد سلمي ؓ او محمد بن أبي عميرة ؒ فرمائي : كه چرې يو بنده د خپل پيدائش د ورځې نه تر بوډا والي د مرګ د ورځې پورې د الله د رضامندئ په كارونو كښې پرمخې راخكلې شي، نو دابه د قيامت په ورځ سپك اوګنړي او دابه خوښه كړي چه دنيا ته واپس لاړ شي او نور اجر او ثواب حاصل كړي. (شعب ١/٤٧٩).

انس بن مالك ؓ فرمائي : اې بچو ! ځان د ښكته خلقو نه اوساتئ. هغوئ وئيلې : ښكته خلق څوك دي ؟ وئيل هغه څوك چه د الله عز وجل نه نۀ يريږي. (حواله سابقه).

أبو بكر صديق ؓ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو : تۀ څه شئ بوډا كړې ؟ وې فرمائيل : سورتِ هود، واقعې، مرسلات، عم يتسائلون او اذا الشمس كورت (سورتونو).

(الحاكم ٢/٤٧٦، البيهقي في الشعب ١/٤٧٢، باسناد صحيح).

ابن عمر – رضي الله عنهما – د رسول الله ﷺ نه روايت كوي : «جنت ته هغه څوك ځي چه د هغې اميد لري، او د اور نه هغه څوك بچ كيږي چه هغې نه يريږي، او الله په هغه چا رحم كوي څوك چه په بل چا رحم كوي». (شعب الايمان ١/٤٨٣).

ابو بكر صديق ؓ فرمائي : اې مرغئ ! ته څومره مزيداره ئې، ميوې خورې، هيڅ عذاب او حساب درباندې نشته.

عمر ؓ فرمائي : آرمان دې چه زۀ ګډ وې.

ابو درداء ؓ فرمائي : آرمان دې چه زۀ وُنه وې چه پريكړې شوې وې او زما ميوه خوړلې شوې وې او انسان نۀ وې. او ددې پشان خبره ابوذر ؓ هم كړې ده. (شعب الايمان ١/٤٨٥).

عمر ؓ يو بُوس را واخسته او، وې فرمائيل : آرمان دې چه زۀ دا بُوس وې او بل هيڅ شې نۀ وې، آرمان دې چه زۀ مور نۀ وې زيګولې، آرمان دې چه زۀ هير شوې شې وې !

عمران بن حصين ؓ فرمائي : آرمان دې چه زۀ د ډيركئ په سر ايره وې چه د تيز باد چليدو په ورځ هواګانو آلوزولې وې.

عائشه – رضي الله عنها – فرمائي : آرمان دې چه زۀ يو هير كړې شوې شې وې.

ابن مسعود ؓ فرمائي : آرمان دې چه زۀ دا وُنه وې.

د عمر ﷺ په مخ کښې د ژړا د وجې نه دوه تورې کرخې وې۔ (١/٤٩٣).

علي ﷺ فرمائي: کله چه پتاسو کښې څوك د الله د ويرې ژاړي نو خپلې اوښکې دې کپړې سره نهٔ صفا کوي، بلکه هغه دې پريدي چه په دواړو اننګوئے بهيږي، الله سره به په دې باندې ملاويږي۔ (١/٤٩٤).

حسن بصري ؒ فرمائي: هيڅ يوه سترګه دَ اوښکو نه نهٔ ده ډکه شوې مګر الله تعالیٰ باقي بدن په اور باندې حرام کړې دې، نو که د اننګي نه اوبهيږي نو ددهٔ په مخ باندې به ذلت او تور والې هيڅ رانشي، او د هر يو عمل دپاره خاص وزن او ثواب دې، سيوا د اوښکې نه څکه دا د اور سمندرونه وژني۔ او که په يو امت کښې د امتونو نه يو سړې د الله د ويرې نه اوژاړي، نو زما دا اميد دې چه په دغه ټول امت باندې به د دغه سړي د ژړا د وجې نه رحم اوشي۔ (١/٤٩٥) او دا مرسل مرفوع هم روايت شوې.

سليمان ؑ فرمائي: ډير مه خانده څکه ډيره خندا د حکيم سړي زړهٔ سپکوي، او د الله ويره لازم اونيسه څکه دا دَ هر شئ آخري سر دې۔ (١/٤٩٩).

عبد الله بن ثعلبه ﷺ فرمائي: تهٔ خاندې او کيدې شي چه ستا کفن د دهوبي نه راوتے وي۔

آدم ﷺ فرمائي: مونږ د جنت د قيديانو نه قيديان وو، نو ابليس مونږ د ګناه په وجه قيديان جوړ کړو، نو اوس مونږ له د ژړا او خفګان نه سيوا بل هيڅ شے پکار نهٔ دې، ترڅو چه مونږ خپل هغه کور ته بيرته واپس شو، د کوم نه چه مونږ قيد کړې شوي يو۔ (شعب الايمان ١/٥٠٠).

سعيدؒ، غفيرهؒ ته اووئيل: ددې ژړا نه نهٔ ستړې کيږې؟ هغه وئيلے: اے سعيد! بيمار به د هغه شئ نه څنګه ستړې شي چه په هغې کښې ورته د خپلې بيمارئ شِفاء ښکاري۔ (١/٥٠١).

معاذ ﷺ چه کله وفات کيدهٔ نو په ژړا شو، چا ورته اووئيل: آيا تهٔ ژاړې او حال دا چه تهٔ د رسول الله ﷺ صحابي ئے، او تهٔ داسے او داسے کس ئے؟ هغه اوفرمائيل: د مرګ نه دجزع فزع په وجه نهٔ ژاړم چه ګنې په ما راغلے دے، او نهٔ د دنيا د وجے نه ژاړم چه ګنې زهٔ ئے خپل روستو پريدم۔ خبره داده چه دوه موتي دي، يو موټے به په اور کښې وي او بل موټے به په جنت کښې او ماته پته نشته چه زهٔ په کوم يو موټي کښې يم؟

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي: که زهٔ د الله د يرے نه يوه اوښکه توئے کړم، دا ماته ددے نه

ډیره خوښه ده چه زر اشرفۍ صدقه کړم۔ (۱/۵۰۲).

ابن مسعود ﷺ د خپل مرګ په وخت عبد الرحمن ﷺ ته وصیت اوکړو، ورته ئے اوفرمائیل : زهٔ تاته وصیت کوم چه الله نه یریږه او خپل کور راتینګ کړه، د خپلے ژبے حفاظت کوه او په خپله ګناه ژاړه۔ (۱/۵۰۳).

یحیی بن معاذ رازیؒ فرمائی : مؤمن به د دنیا په کور کښے څنګه خوشحاله شی، که ګناه اوکړی نو د نیوکے نه یریږی، اوکه نیکی اوکړی نو دَ نه قبلیدو نه یریږی۔ حال دا چه دابه یا بدی کونکے وی او یا نیکی۔ (حواله سابقه).

دارنګه فرمائی : مابه زما عمل څنګه خلاص کړی حال دا چه زهٔ د نیکئ او ګناه ترمینځه یم ؟ زما په ګناهونو کښے نیکی نشته، او زما نیکئ د ګناهونو سره ګډے دی، او تهٔ صرف خالص عمل قبلوے، نو ددے نه پس پاتے نهٔ ده مګر ستا سَخا۔

ابو هریره ﷺ فرمائی : اے الله ! زهٔ پتا پورے ددے نه پناه غواړم چه په اسلام کښے زنا یا بله کبیره ګناه اوکړم۔ چا ورته اووئیل : آیا ستا غوندے سړے دا خبرے کوی او ددے نه یریږی، حال دا چه تهٔ خو اوس بوډا شوے ئے او شهوتونه دے ختم شوی دی او تا د رسول الله ﷺ سره بیعت کړے او د هغهٔ نه دے حدیثونه نقل کړی ؟ وے فرمائیل : زهٔ څه شئ بے غمه کړے یم حال دا چه ابلیس خو لا ژوندے دے ؟

ابو درداء ﷺ به مونځ کولو او په تشهد کښے به ئے د منافقت نه پناه غوښتله، نو جبیر بن نفیرؒ ورته اووئیل : تهٔ او منافقت ؟ هغه درے ځله اوفرمائیل : اے الله ښښنه اوکړے، څوك دے چه د مصیبت نه بے غمه شی، څوك دے چه د مصیبت نه بے غمه شی، قسَم په الله ! یو سړے په یو ساعت کښے په فتنه کښے پریوزی او د خپل دین نه واوړی۔(حواله سابقه ۱/۵۰٦).

ابو درداء ﷺ فرمائی : څه وجه ده چه زهٔ پتاسو کښے د ایمان خوند ښکاره کیدونکے نهٔ وینم، قسَم دے په هغه ذات چه زما روح د هغه په لاس کښے دے، که چرے د صحراء میږے هم د ایمان خوند بیا مومی نو په هغه باندے به ددے خوند راښکاره شی، هیڅ یو بنده په خپل ایمان نهٔ یریږی مګر هغه ته ورکولے شی، او هیڅ یو بنده د خپل ایمان نه بے غمه کیږی نهٔ مګر د هغهٔ نه اخستلے شی۔ (۱/۵۰٦).

د حسن بصریؒ خبره مخکښے تیره شوه چه ددے نه صرف منافق بے غمه کیږی۔ او فرمائی : قسَم په الله ! په مخ د زمکه باندے هیڅ یو مؤمن نهٔ صبا کوی اونهٔ بیګاه کوی مګر هغه په خپل ځان باندے د منافقت نه یریږی، د منافقت نه صرف منافق بے غمه وی۔

(١/٧٠٦).

عبد الله بن مبارك فرمائي: هوښيار خلق د ځلورو ځيزونو نه نۀ بې غمه كيږي۔ داسې ګناه چه تيره شوه، پته نه لګي چه ددې په باره كښې به رب څه كوي؟ او داسې عُمر چه باقي دې پته نه لګي چه په دې كښې به څه څه تباهئ رامنځ ته كيږي؟ او داسې مهرباني چه وركړې شوې ده كيدې شي چه دا مكر او استدراج وي۔ او داسې ګمراهي چه انسان ته ښائسته شوې ده حال دا چه دې به ئې هدايت ګڼړي۔ او د زړۀ د كړيدو داسې ساعت چه د سترګې د رَپ نه هم تيز وي چه ددۀ دين واخلي او دۀ ته به پته هم نۀ وي۔

ډير مفيد كلام دې۔ (١/٥٠٢).

بلال بن سعد به په خپل دعاء كښې وئيل: اې الله! زۀ تا نه د زړۀ د كوږ والي او د ګناهونو د تاوانونو او د تباه كن اعمالو او دَ نفس د ګمراه كونكو ځيزونو نه پناه غواړم۔

سريّ به وئيل: اې الله! په كوم شئ باندې چه كله هم تۀ ماله عذاب راكوې نو ماله د پردې په ذلت باندې عذاب مه راكوه۔

سفيان ثوري به ډيره ژړا كوله۔ چا ورته اووئيل: ستا دا ژړا د ګناهونو د وجې نه ده؟ نو هغه د كجاوې نه يو لرګے را واخسته او وې غورزولو، وئيلې: زما ګناهونه ماته ددې نه هم سپك ښكاري، ليكن زۀ ددې نه يريږم چه توحيد رانه وانۀ خستې شي!

اسحق بن خلف فرمائي: د ابليس ملا بل هيڅ يو شے ددې نه زيات نه ماتوي چه بنده اووائي: آرمان دې چه ماته پته وې چه زما آخره خاتمه به څنګه وي؟ وائي: ابليس په دې وخت كښې ددۀ نه نا اميده شي او وائي: دا سړے به په خپل عمل باندې څنګه غاوره شي؟

(١/٥٠٨).

سريّ وائي: د اوچتو نيكانو خلقو زړونه آخرو خاتمو پورې نښتي دي، او د مقربينو خلقو زړونه په سوابقو (اوچتو اعمالو) پورې زوړند دي۔ دغه خلق وائي: زمونږ آخره خاتمه به څنګه وي؟ او دا نور وائي: الله ته به زمونږ كوم اعمال مخكښې ورغلي وي؟

كتاني فرمائي: د غفلت نه بيداريدو په وخت لږ ساعت يريدل، او په دې كښې د خپل نفس د يوې حصې (حق) نه بنديدل، او دَ صله رحمئ قطع كولو نه يريدل، د جن او انس د عبادت نه غوره دي۔ (١/٥٠٩).

احمد بن أبي الحواريّ فرمائي: بهتره ژړا د بنده هغه ژړا ده چه بنده په خپلو هغه اوقاتو باندې اوژاړي چه هغه په غير د موافقت نه ددۀ نه تير شو، او يا هغه ژړا چه مخكښې كوم

مخالفت ددۀ تیر شوے دے۔ (مفیده خبره ده)۔

سفیان بن عیینهؒ فرمائی : د الله تعالیٰ غصه داسے بیماری ده چه ددے دوائی نشته۔ (۱/۵۰۹).

ابو سلیمانؒ فرمائی : په دنیا او آخرت کښے د هر خیر جرړه او بنیاد د الله تعالیٰ خوف دے۔ او دَ آخرت چابی لوگه ده او د دنیا چابی مړښت دے۔ (۱/۵۱۱).

ابراهیم بن ادهمؒ فرمائی : خواهش مړول کوی او د الله یره رغول کوی او یاد ساته چه ستا د زړۀ نه چه خواهش لری کوی هغه دا خبره ده چه تۀ د هغه ذات نه خوف اوکړے چه تاته پته ده چه هغه تا وینی۔

رزین ابو اسماءؒ فرمائی : یو سړے غیضه (دَ غزونوگنړو وُنو) ته داخل شو، وئیلے : که زۀ په دے کښے په گناه سره خلوت اوکړم نو څوك به ما اووینی۔ نو یو آواز ئے واوریدۀ چه د بنړ دواړه طرفونه ئے ډك کړل، خبردار! کوم ذات چه مخلوق پیدا کړے هغه عالم دے او هغه باریك بین او خبردار دے۔ ﴿ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴾ [الملك : ١٤].

یو بانډه چی، یوے بانډه چئ نه غلطه مطالبه اوکړه، هغے ورته اووئیل : مور دے بوره شه، آیا د الله فضل او کرم دے نۀ منع کوی؟ آیا ستا دین تا نۀ منع کوی؟ بانډه چی وائی ما وئیلے : مونږ خو هیڅوك نۀ وینی سیوا د ستورو نه۔ هغے وئیلے : ددے پیدا کونکے څه شو؟

رسول الله ﷺ فرمائی : «څوك چه - د دشمن نه - یریږی، وختی ځی او څوك چه وختی ځی نو منزلِ مقصود ته رسیږی، خبردار! د الله سودا قیمتی ده، خبردار! د الله سودا جنت دے»۔ (رواه البیهقی فی الشعب عن ابی هریرة وهو حدیث صحیح، یغنی عن سائر الأقوال).

فضیل بن عیاضؒ فرمائی : الله نه د بنده ویره هغه هومره وی څومره چه الله پیژنی، او په دنیا کښے ددۀ بے رغبتی هغومره وی څومره چه ددۀ جنت ته شوق وی۔

داود طائیؒ فرمائی : د ویرے دپاره څه حرکات دی چه په یریدونکو کښے پیژندلے شی او څه مقامونه دی چه په محبت کونکو کښے پیژندلے شی او څه تنگول دی چه په شوقیانو کښے پیژندلے شی نو دا چرته دی؟ همدا خلق کامیاب دی۔

سریؒ فرمائی : دوه څیزونه ورك دی، تنگونکے ویره، او پریشانه کونکے شوق۔

ذوالنون بن ابراهیمؒ فرمائی : فرض مونځ د خوف چابی ده او نفل مونځ د امید د دروازے چابی ده، او د الله همیشه ذکر کول د شوق د دروازے چابی ده، او په خوف سره فرض نۀ

حاصلیږي بلکه په فرضو سره خوف حاصلیږي، او نهٔ په امید سره نفل حاصلیږي بلکه په نفلو سره امید حاصلیږي، او د چا زړهٔ او ژبه چه په ذکر مشغوله وي نو د هغهٔ په زړهٔ کښې به الله د شوق رڼرا واچوي. او دا دَ ملکوت (بادشاهت) راز دے وے پیژنه او یادئے ساته. (شعب ١/٥١٣).

ابراهیم بن شیبانؒ فرمائي: خوف چه کله په زړهٔ کښې اووسیږي نو په هغے کښې د شوق ځایونه اوسیزي او دَ دنیا رغبت ترے اوشړي، او د دنیا د ذکر نه ژبه خاموشه کړي.

یوسفؒ فرمائي: زه په تاسو تعجب کوم، د خوف سره سترګه څنګه اوده کیږي؟ آیا کوم زړهٔ چه په حساب باندے یقین لري هغه هم ګنے غفلت کوي؟ او څوك چه په خپلو بندګانو باندے دَ الله فرض حق پیژني نو د هغه سترګے به د خپل طرفنه په کوشش ورکولو سره مشتملے وي. الله تعالیٰ زړونه د ذکر د اوسیدو ځایونه پیدا کړي وو نو هغه د خواهشاتو ځایونه جوړ شول، او خواهشات، د زړونو خرابي او د مالونو تباهي ده، او د زړهٔ نه خواهشات صرف تنګونکے ویره یا پریشان کُن شوق ختمولے شي.

فضیلؒ هارون رشید ته اوفرمائیل: امیر المؤمنینَ! خپل زړهٔ دے غم او خوف ته اوزګار کړه تردے چه دا دواړه په کښ اووسیږي نو تابه د الله د نافرمانئ نه بند کړي او د اور د عذاب نه به دے لرے کړي.

احمد بن عاصمؒ فرمائي: د خوف کموالے په زړهٔ کښې د خفګان د کموالي په وجه وي، او کله چه په زړهٔ کښ خفګان کم شي نو داسے خراب شي لکه څنګه چه کور کښ څوك نهٔ اوسیږي خرابیږي.

دیته نزدے خبره د مالك بن دینارؒ نه نقل ده. (١/٥١٤).

دارنګه فرمائي: غم دَ نیك اعمالو تلقیح (اصلاح) ده.

حدیث کښې دي: (الله هر غم والا زړهٔ سره مینه کوي).

(الحاكم ٤/٣١٥، البيهقي في الشعب ١/٥١٥، وأبو نعيم في الحلية ٦/٧٠، باسناد منقطع، ثم ذكر البيهقي اسناد آخر فقال: وهذا أصح).

ابن مبارکؒ فرمائي: د سړي دپاره غټ مصیبت دادے چه په خپل ځان کښې کوتاهي اووینې او بیا د هغے، نه څه پرواه لري او نهٔ په هغے خفه کیږي. (ډیره عجیبه خبره ده!).

شقیقؒ فرمائي: د بنده دپاره د غم او خوف نه بل بنه ملګرے نشته، غم په مخکنو ګناهونو کښې او خوف په دے کښې چه معلومه نهٔ ده په دهٔ به څه نازلیږي. (١/٥١٦).

سهل رحمه الله فرمائي : هيڅوك د خوف حقيقت ته نشي رسيدے تردے چه په دهٔ كښې د الله د علم كوم ځايونه دي هغه اونه پيژني او په هغې غمژن نشي۔
استاذ ابو سهل صعلوكي رحمه الله نه د الله ددے قول په باره كښې تپوس اوشو۔
﴿ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ﴾ [يونس: ٥٨] (په همدے كتاب دے دوئ خوشحاله شي)۔ هغه څوك څنگه خوشحاليدے شي چه هغه په امن كښې نۀ وي ؟ وے فرمائيل : كله چه مهربانئ ته اوگوري نو خوشحاله شي او كله چه بيرته واپس شي نو خفه شي تردے چه په يو وخت كښې خوشحاله او په بل وخت كښې خفه وي لكه څنگه چه د ويرے او اميد معامله ده۔
ابو سليمان رحمه الله فرمائي : الله د دوئ اكرام او ذلت د دوئ د پيدائش نه مخكښې كړے، او دوئ ئے جنت او جهنم كښې، دوئ ته د نيكئ د توفيق نه مخكښې اوسولي دي، او په خپل عدل او مهربانئ سره خپل اولياء (دوستان) په نافرمانئ سره آزمائي، نو پاكي ده هغه ذات لره چه څه ډير مهربانه دے ؟ او هغه چا باندے تعجب دے چه دا ئے بياموندنه نو بيا ئے ولے پريښوده ؟ او هغه چا باندے تعجب دے چه بيائے نه موندنه نو ولے ئے نه تالاش كوي ؟ (ناشنا خبره دے)۔
بيا فرمائي : وريځ هواگانو سره روانه وي، او بندگان خو په توفيق باندے غمژن كيږي او توفيق الله ته د قرب په اندازے سره وي۔ والله المستعان۔
ابراهيم تيمي رحمه الله فرمائي : څوك چه غمژن نۀ وي هغه له پكار دي چه ددے نه اويريږي چه دابه د جنت والو نه نۀ وي، ځكه جنتيان وائي : ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ﴾ [فاطر: ٣٤] (ټول ثناء صفتونه هغه ذات لره دي چه مونږ نه ئے غم لرے كړو)۔ او څوك چه نۀ يريږي هغه له پكار دي چه هغهٔ سره دا انديښنه پيدا شي چه هغه به د جنتيانو نه نۀ وي، ځكه جنتيان وائي : ﴿ اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴾ [طور: ٢٦] (بيشكه مونږ به مخكښې (په دنيا كښې) په خپل اهل كښې يريدلو)۔
عبيده بنت أبي كلاب څلويښتو كالو پورے اوژړلے، نو هغې ته اوويلے شو : تهٔ څه غواړے ؟ هغې وئيلے : مرگ۔ وئيلے ولے : هغې وئيلے : زهٔ هره ورځ يريږم چه هسے نه په خپل ځان يو داسے جنايت اوكړم چه په هغې كښې د آخرت په ورځو شپو كښې زما هلاكت وي۔ (ديته خوف وائي)۔
يزيد بن مرثد رحمه الله ته اوويلے شو : څه وجه ده چه زهٔ ستا سترگه اوچيدونكي نۀ يم ؟ هغه ورته اوويل : د تپوس مقصد دے څه دے ؟ ما وئيلے : كيدے شي چه الله په دے سره نفع

ورکړي۔ وې فرمائیل : الله عز وجل ماته دهمکي راکړې ده چه که زۀ ئې نافرمانی اوکړم نو مابـه پـه اور کښې قیـد کـوي۔ که ماته ئې په حمام کښې د قید کولو دهمکي راکړې وې نو ماسره لائق وو چـه زما سترګه دې اوچه شوې نۀ وې۔ ما عرض اوکړو، دا ستا په تنهایئ کښې وي ؟ وې فرمائیل : قسم په الله ! زمونږ مخې ته کاسه کیخودې شي نو ماله ژړا راشي نـو زۀ ژاړم اوزما کـور والا هـم ژاړي او زمـونږ ماشومان هم ژاړي هغوئ ته پته نۀ وي چه مونږ څه شې ژړوي۔ قسم په الله ! زۀ خپل کور والا ته د سکون حاصلولو اراده اوکړم نو ماته ژړا راپيښه شي او هغه زما او زما د ارادې ترمينځه رکاوټ واقع شي، نو زما کور والا وائي : په دې اوږد غم تعجب دې چه تاسره خاص شوې دې، زما سترګه ستا سره يخه نشوه۔

معاذ بن جبل ﷛ فـرمائي : کـه يـو عـاقـل صبا او بيګاه کړي او د هغۀ د شکو په اندازه ګـناهـونـه وي نـو پـه نجات او د هغې نه په خلاصيدو سره لائق دې۔ او که يو جاهل صبا او بيـګاه کړي او د هغۀ د شکو په اندازه نيکئ وي نو دا ددې لائق دې چه د هغې نه ددۀ سره د ذرې هـومـره هم روغـه پاتې نشي۔ چا ورته اووئيل : دا څنګه ؟ وې فرمائيل : عاقل چه کله اوخـوئيـږي نـو پـه تـوبې او هغه عقل سره ددې تدارك کوي چه دۀ ته ورکړې شوې دې۔ او جاهـل د هغه کس پشان دې چه آبادي کوي او نړوي ئې، نو ده ته به ددۀ د ناپوهئ د وجې نه هغه څه راشي چه هغه ددۀ نيك عمل خراب کړي۔(محبة الله لابن القيمؒ ص ٦٢).

يحيىٰ بن معاذؒ فرمائي : الله تعالىٰ د مؤمن دپاره په ګناه نۀ راضي کيږي تردې چه پته ئې کړي او په پښېمانې باندې نـه راضي کيږي تردې چه وې بخښي، او په بخښلو نه راضي کيږي تردې چه په نيکئ باندې ئې بدله کړي۔ ﴿ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ﴾ [هود: ١١٤] (بيشکه نيکئ بدئ ختموي)۔ او فرمائي : ﴿ فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ﴾ [فرقان: ٧٠] (نو دا خلق دي چه الله ئې بدئ په نيکيو باندې بدلوي)۔ (تفسير روح المعانی ١٢/١٦٩).

حسن بصريؒ به د خوراك په وخت د مرګ تذکره بده ګنړله۔

سريؒ فرمائي : خوف په درې قِسمه دې۔ ○ پـه دين کښې خوف او دا په عامو خلقو کښې مـوجـود دې، دوئ تـه پـته ده چه د الله نه خوف ضروري دې۔ ○ او بـل هغه خوف دې چه د قـرآن کـريـم د تـلاوت او دَ قيصو په وخت وي، د ښځو غوندې د زړۀ نرموالې وي چه د هغې پاتې کيدل نۀ وي۔ ○ او بـل تنګونکې پريشان کن خوف دې چه زړۀ او بدن دواړو ته راپيښ شي، خـوب او خـونـد ختـم کـړي۔ او دَ يـريدونکي يره هيڅ کله نه په آراميږي ترديې چه د خپل قابلِ خوف څيز نه په امن نشي۔ (شعب الايمان ١/٥١٩).

ربیع بن حراش ؒ ځان سره قسَم کړے وو چه تر هغه وخته پورے به نۀ خاندی تر څو چه دا پته ورته اولګی چه ددۀ انجام څه دے ؟ نو خندا ئے اونه کړه مګر د خپل مرګ نه پس۔ او ددۀ ورور ربعی بن حراش ؒ قسَم کړے وو چه تر هغه وخته پورے به نۀ خاندی تر څو چه دا معلومه نه کړی چه دا په جنت کښے دے اوکه په اور کښے۔

حارث غنوی ؒ فرمائی : ماته د هغۀ غسل ورکونکی خبر راکړو چه هغه په خپل کټ باندے مُسکا کونکے پروت وو او مونږ هغه له غسل ورکولو تردے چه اوزګار شو۔
(دا د مرګ نه پس کرامت دے)۔

غزوان رقاشی ؒ فرمائی : الله دپاره دے په ما دا نذر وی چه هغه به ما په خندا اونۀ وینی تردے چه ماته پته اولګی چه په دوه کورونو کښے زما کور کم یو دے۔

حسن ؒ فرمائی : نو هغه په خپل دے خبره تهنګ پاتے شو، قسَم په الله چه هیڅ کله په خندا باندے اونۀ لیدلے شو تردے چه الله له ورغے۔

مطرف بن عبد الله بن شخیر ؒ فرمائی : که ماته زما د رب د طرفنه یو راتلونکے راشی او ددے دوه خبرو ترمینځه اختیار راته راکړی یو دا چه هغه به ماته دا خبر راکوی چه آیا زۀ په جنت کښے یم او که په اور کښے او دویم ددے خبرے چه مانه خاورے جوړے شی، نو خامخا به زۀ دا غوره کړم چه زۀ خاورے شم۔

○ رسول الله ﷺ فرمائی : «اے جبرئیله ! څه وجه ده چه زۀ اسرافیل په خندا نۀ وینم، حال دا چه ماته هیڅ ملائك نه دے راغلے مګر هغه زۀ په خندا وینم ؟ جبرئیل اوفرمائیل : هغه وخت راسے دغه ملائك مونږ په خندا نۀ دے لیدلے د کوم وخت راسے چه اور پیدا شوے دے»۔ (رواه البیهقی ١/٥٢١).

کعب ؒ د الله ددے قول په باره کښے چه : ﴿ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ ﴾ [التوبة: ١١٤]
(بیشکه ابراهیم ډیر زیات آه او فریاد کونکے وو)۔ فرمائی : کله به هم چه هغوئ اور رایاد کړو نو اوه به ئے کولو۔

سری ؒ فرمائی : زۀ څو ځله هره ورځ خپلے پوزے ته ګورم، دا اندیښنه راسره وی چه هسے نه مخ مے تور شوے نۀ وی۔

دارنګه فرمائی : زۀ په هغه ځائے کښے خپل مرګ نه خوښوم چرته چه څوك ما پیژنی۔ چا ورته وئیلے : ابو الحسن دا ولے ؟ وئیلے : ماسره دا غم دے چه مابه مے قبر قبول نه کړی نو رسوا به شم۔

اویس قرنیؒ فرمائی : د الله په امر کښې داسې اوسه ګویا تا تول خلق وژلی دی۔
صلت بن مسعودؒ فرمائی : یو ځل حسن بن صالحؒ زما د کوره اووتلو نو څه ملخان ئې اولیدل چه آلوتل نو، وئیلې : ﴿ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴾ [قمر: ۷]
(دویٔ به د قبرونو نه داسې راوځی ته به وائې چه خوارهٔ وارهٔ ملخان دی)۔ نو بیهوشه شو او را پریوتلو۔
رابعهؒ فرمائی : ما هیڅ کله واوره نهٔ ده لیدلې مګر د عملنامو تقسیمیدل راته یاد شوی دی، او ما هیڅ کله ملخان نه دی لیدلی مګر حشر راته یاد شوې دې، او ما هیڅ کله آذان نهٔ دې آوریدلې مګر د قیامت آواز کونکې راته یاد شوې دې۔ او خپل ځانته وایم چه په دنیا کښې داسې شه لکه راپریوتې مارغه تردې چه تاته د الله فیصله راشی۔
لقمانؒ خپل ځوئې ته اوفرمائیل : ځویه ! ما تاته دومره ډیر وعظ اوکړو چه که تهٔ کاڼړې هم وې نو تاته به اوبهٔ روانې شوې وې، یو ورځ ئې ورته نصیحت کولو چه د هلك زړهٔ اوچادهٔ او مړ شو۔ (۵۳۱/۱).
زراره بن ابی اوفیؒ د بنی قشیر په جومات کښې سورتِ مدثر لوستلو، نو کله چه دې آیت ته اورسیدهٔ : ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴾ [مدثر: ۸]
(نو کله چه په شپیلئ کښې پوکې اوکړې شی)۔ راپریواتهٔ او مړ شو۔ بهزؒ وائی : زهٔ هم په هغه خلقو کښې ووم چا چه پورته کړو۔ او دا امام او قاضی وو۔
(ورواه الترمذی والبیهقی فی الشعب ۵۳۱/۱).
د عبید الله په اولاد کښې یو سړې وو چه هغه دَ ابنِ صمه د توبې واقعه بیانوله چه هغه د خپل ځان سره حساب کولو، نو ناګهانه هغه شپیتو کالو ته رسیدلې وو، نو د هغې ورځې ئې اوشمارلې نو هغه یویشت نیم زره ورځې راؤتې، نو وئیلې : زهٔ د خپل رب سره په یویشت زره ګناهونو باندې مخامخ کیږم، دا لاڅه کوې چه په هره ورځ کښې په زرونو ګناهونه دی، بیا بې خوده شو او را پریواتهٔ۔ (۵۳۳/۱).
صفوانؒ ځان دپاره لاندې یوه تاخانه تیاره کړې وه په هغې کښې به ئې ژړلې۔
سفیان ثوریؒ به چه د آخرت په فکر کښې ورننواتهٔ نو د وینو متیازې به ئې کولې۔ په بل روایت کښې دی : سفیانؒ به د سخت فکر د وجې نه د وینو متیازې کولې۔
(الحلیة ۶۳/۲، الشعب ۵۳۵/۱).
دارنګه فرمائی : زهٔ د الله نه دومره یریګم چه زما آرمان دې چه ماسره به آسانی اوکړی۔

او فرمائي : زۀ د الله نه دومره اويريدم چه تعجب مې اوکړو چه زۀ ولې مړ نشوم، البته زما دپاره نيتيه ده چه زۀ به هغې ته رسيږم.

يو ځل سفيانؒ اوژړل بيائې اوفرمائيل : ماته رارسيدلې ده چه کله د يو سړي منافقت پوره شي نو د خپل سترګو مالك شي، نو بيا په ژړا شو.

طبيب دَ سفيانؒ خوله اوليده نو وئيلې : ددې سړي جګر غم پريکړې دې.

اوزاعيؒ فرمائي : کله چه جهنم ياد کړې شي نو هغه ځوك دې اوژاړي چه ژړيدونکې وي.

آمنهؒ – چه ډيره يريدونکې ښځه وه – کله به ئې چه اور رایاد کړو، نو وئيل به ئې : دوئ اور ته داخل شو، د اور نه ئې خوراك څکاك اوکړو او په اور کښې اووسيدل، بيابه ئې ژړلې. زۀ وايم : او د اور لباس ئې واغستو او دَ اور په صندقونو کښې داخل کړې شو. په الله پورې پناه!

بعضې عابدانو وئيلي دي : بندګانِ څه شئ ستومانه کړي او ويرولي دي ؟ د الله مخې ته د اودريدو ذلت او د حساب ويرې. (۵۳۷/۱).

مطرفؒ فرمائي : نزدې ده چه ويره زما او زما د جنت غوښتلو ترمينځه رکاوټ واقع شي.

سفيان بن عيينهؒ فرمائي : په خلقو کښې کمې ګناه والا د خپل رب نه ډير يريدونکې وي ځکه د دوئ زړونه صفا وي.

مالك رحمه الله فرمائي : د مؤمن مثال د هغې ګډ پشان دې چه ستنه ئې خوړلې وي، دا خوراك کوي خو بيمارۍ ئې نۀ ختميږي، ځکه دۀ سره د راتلونکې حالاتو غم ګډ شوې وي. (۵۳۸/۱). (عجيبه خبره ده).

عامر بن عبد اللهؒ ته چا اووئيل : دې بڼړونو (ځنګلونو) کښې مونږ پتا باندې د زمري نه يريږو. هغه وئيلې : ماله د الله نه شرم راځي چه د هغۀ نه سيوا د بل چانه اويريږم.ؒ

او دۀ د الله نه دعاء غوښتلې وه چه په يخنئ کښې دۀ ته اودس آسان کړي، نو دۀ ته به اوبۀ راوړې شوې چه هغې نه به بخار ختلو، او دا دعاء ئې غوښتلې وه چه الله ددۀ د زړۀ نه د ښځو شهوت اوباسي، نو دۀ به دا باك نۀ کولو چه نارينه سره مخامخ شو او که زنانه سره، او دا دعاء ئې غوښتې وه چه په مانځه کښې ددۀ او د شيطان ترمينځه دې پرده واقع شي، خو په دې باندې قادر نشو.

د فضيل بن عياضؒ ځوئې عليؒ ته به دَ قرآن وژلې وئيل کيدۀ، ځکه د قرآن لوستلو په وخت به په دۀ بيهوشي راتله، او دۀ به خپل پلار ته وئيلې : اې پلاره ! الله نه دعاء اوغواړه چه زۀ يو ځل قرآن ختم کړم. او دۀ به د سختې ويرې د وجې نه قرآن نشو ختمولې.

فضيل ؒ ته اووئيلے شو۔ ستا څوئے عليؒ په څه مړ شو ؟ وئيلے : د شپے ئے قرآن لوستلو نو صبا له په محراب کښے مړ پروت وو۔ (١/٥٤٠).

عمر بن عبد العزيز – رحمه الله – فرمائی : څوک چه الله نه يريږی، الله هر شے ددۀ نه يروی، او څوک چه الله نه نه يريږی نو د هر شئ نه يريږی۔ (ډيره مفيده خبره ده)۔

فضيل ؒ فرمائی : څوک چه الله نه يريږی نو هيڅوک ورته ضرر نشی ورکولے، او څوک چه د غير الله نه يريږی نو هيڅوک ورته فائده نشی رسولے۔

ابو عمرو دمشقیؒ فرمائی : حقيقی خوف دادے چه تۀ د الله سره د هيچا نه اونه يريږے۔

يحيیٰ بن معاذ رازیؒ فرمائی : څومره چه تۀ الله سره مينه لرے، هغومره به تاسره خلق مينه لری، او څومره چه تۀ الله نه يريږے، هغومره به خلق تانه يريږی، او څومره چه تۀ په الله باندے مشغوله ئے، هغومره به خلق ستا په کار کښے مشغول وی۔

ابراهيم بن عبيدؒ فرمائی : زۀ عمر بن عبد العزيزؒ ته ورغلم چه محمد بن قيسؒ ورته حديث بيانولو، نو ما عمرؒ اوليدلو چه دومره ئے اوژړل چه پُختئ ئے ګډے وډے شوے۔

او ددۀ ښځه فاطمهؒ فرمائی : په خلقو کښے خو به دَ مونځونو او روژو په لحاظ د عمرؒ نه زيات خلق وی، ليکن ما د عمرؒ نه زيات بل څوک د الله نه يريدونکے نۀ دے ليدلے۔ دۀ به چه کله د ماسخوتن مونځ اوکړو نو په جومات کښے به کيناستۀ، بيا به ئے لاسونه اوچت کړل او ژړل ژړل به ئے تردے چه سترګے به ئے ورغلے بيابه رابيدار شو او دغسے لاسونه به ئے پورته کړی وو ژړلے به ئے تردے چه سترګے به ئے ورغلے۔

ميمون بن مهرانؒ فرمائی : عمر بن عبد العزيزؒ ته څه چقندر او ککوړی راوړے شو نو وے خوړل، بيائے ډېره اولګوله او د خپل څادر په يو طرف ئے مخ پټ کړو او وئيلے : سست پست خيتهور بنده دے، کوی سستی او بيا د الله نه آرزوګانے هم کوی۔

(منازل الصالحين) (عمرؒ زمونږ د حالت نه خبر ورکوی)۔

او د عمر بن د عبد العزيزؒ اوښکے به ددے شعر نه نۀ اوچيدلے :

وَلَا خَيْـرَ فِـیْ عَيْـشِ امْرِئٍ لَمْ يَکُنْ لَّـهٗ مِـنَ اللّٰهِ فِـیْ دَارِ الْـقَـرَارِ نَـصِيْـبُ

(د هغه سړی په ژوند کښے هيڅ خير نشته چه د الله د طرفنه په جنت کښے د هغۀ څه حصه نه وی)۔

د ربيع بن خيثمؒ لور به وئيلے : پلاره ! څه وجه ده چه خلق اودۀ کيږی اوتۀ نه اوده کيږے ؟ ورته ئے اوفرمائيل : اے لورے ! هغه څوک به څنګه اودۀ شی چه د شپے د حملے نه يريږی۔

او په بل روايت کښې دی : د اور خوف ستا پلار نۀ پريدی چه اودۀ شی.(شعب الايمان ١/٥٤٣).

ذو النونؒ فرمائی : درې څيزونه د ويرې علامات دی : وعيد رامخې ته کولو سره د شبهاتو نه ځان ساتل. د عظيم ذات د لحاظ ساتلو د وجې نه د خپلې ژبې حفاظت کول. او دَ حليم ذات د غصې نه د ويرې په وجه هميشه خفګان کول. (ډيره مفيده خبره ده).

ابو الفتح بغدادیؒ فرمائی : يو ځل ما په څومات کښې شپه تيره کړه نو دَ يو سړی نه مې واوريدل وئيلې او ليدلو مې نۀ :

وَكَيۡفَ تَنَامُ الۡعَيۡنُ وَهِيَ قَرِيۡرَةٌ وَلَمۡ تَدۡرِ فِيۡ أَيِّ الۡمَحَلَّيۡنِ تَنۡزِلُ

(او سترګه به څنګه د يخوالی په حالت کښې اوده شی، حال دا چه ديته دا پته نشته چه په دوه ځايونو کښې به په کوم يو ځائې کښې پړاؤ اچوی).

نو مانه خوب لاړ.

عبد الله بن مبارکؒ به چه کله کتاب الرقاق – يعنی زړۀ نرمونکی احاديث – لوستل نو د ژړا د وجې نه به داسې شو لکه ذبح شوې غوئې يا غوا، په مونږ کښې به هيڅوا دا جرأت نشو کولې چه ورته نزدې شی يا ترې د څه شئ تپوس اوکړی، مګر هغه به دفع کولو.

(زۀ وايم : علماؤ داسې کيدل پکار دی).

عبد الله بن مبارکؒ بيمار شو نو جزع فزع ئې اوکړه. چا ورته اووئيل : څه وجه ده چه تۀ جزع فزع کوې ؟ وې فرمائيل : زۀ په داسې حالت کښې يم چه نۀ ئې خوښوم.

او دۀ ته اووئيلې شو چه دوه سړی دی، يو يريدونکې دې او بل د الله په لاره کښې قتل کړې شو ؟ وې فرمائيل : ماته په دې دواړو کښې هغه يو ډير محبوب دې چه هغه يريدونکې وی.

ديندار سړې د عذاب نه يريږی، شريف سړې د شرم نه يريږی او عقلمند سړې د جُرم نه يريږی.

يو بوډا سړې عبد الله بن مبارکؒ ته په داسې حال کښې راغې چه هغه ناجوړه وو نو هغه ئې اوليدلو چه په يو زيګ بالخ باندې ئې ډډه لګولې وه، هغه وائی ما اراده اوکړه چه څه ورته اووايم، خو ما په هغه باندې دَ ويرې داسې حالت اوليدلو چه زما پرې رحم راغې، نو ناګهانه هغه اوفرمائيل : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَغُضُّوۡا مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ ﴾ [النور : ٣٠]

(مؤمنانو ته اووايه چه خپل بعضې نظرونه ښکته کړی).

نو الله په دې باندې راضی نشو چه مونږ د يوې ښځې د حُسن ځايونو ته اوګورو، نو د

هغه چا به څه حال وي چه هغه ورسره زنا اوکړي ؟ دارنګه وے فرمائيل : ﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ﴾ [المطففين: ١] (هغه چا دپاره تباهي ده چه هغه په ناپ تول کښے کمے کوي) ، نو د هغه چابه څه حال وي چه هغه تول مال واخلي ؟ دارنګه وے فرمائيل : ﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ﴾ [الحجرات: ١٢]

(پټاسو کښے دے څوك د يو بل غيبت نه کوي)۔

نو د هغه چابه څه حال وي چه را اولګي او بل اووژني ؟

دغه بوډا وائي : زما پرے ترس راغے او هيڅ مے ورته اونه وئيل۔

بيهقي فرمائي : حليمي اوفرمائيل : خلق د ډيرو څيزونو نه يريږي، لکه پلار د خپل بچي د مرګ نه يريږي، يا د مال تللو نه يريږي، يا دَ غرقيدو يا سوزيدو، يا دَ ايکسيډنټ نه يا غوړونو سترګو طاقت ختميدو نه، يا د ظالم بادشاه په لاس کښے د ورتللو نه، يا درنده يا دشمن سره د ملاويدو نه، يا ددے پشان د نورو يَرو نه۔ نو دا په دوه قِسمه دي۔ ښه او بد۔ نو په دے کښے ښه هغه ويره ده چه د الله د خفګان او ناراضتيا دَ وجے نه وي۔ ځکه دا کله عذابونه او نيوکے وي، نو څوك چه ددے د وجے نه د ګناهونو نه منع شو نو دا داسے دے لکه دَ اور د يرے د وجے نه د ګناهونو نه منع شي۔

دارنګه ددے کارونو نه په دے وجه يريږي چه هسے نه دا ددهٔ دپاره آزمائش جوړ شي چه بيا به په دے باندے صبر اونه کړي نو دا ويره ښه ده۔

اوکه د دغه مذکوره څيزونو نه ويره په دنيا او خواهشاتو باندے د حرص د وجے نه وه، برابره خبره ده که د الله رضا وي په کښے او که خفګان، نو دا ويره بده ده، ځکه دا څيزونه د بنده په نيز شرم دے او شرم ته ميلان کول د عقلاؤ او مخلصينو کار نهٔ دے۔

دا وجه ده چه د الله نبي ﷺ به دَ وريځے او سختے سيلئ نه يريدلو۔

ابو زکريا همداني فرمائي : مونږ د علي بن بکار سره ناست وو چه په دے کښے يوه وريځ تيره شوه نو ما د هغهٔ نه د څه شئ باره کښے تپوس اوکړو، وئيلے : غلے ښه تردے چه دا وريځ تيره شي، آيا تهٔ نه يريږے چه په دے کښے کاڼړي وي او مونږ پرے ويشتلے شو ؟

حارث محاسبي مصيبت ذکر کړو، وے فرمائيل : دا دَ ګډوډ عمل کونکو دپاره عذابونه دي او دَ توبه ويستونکي دپاره پاکيزګي او د پاکيزه خلقو دپاره درجات دي۔

علي بن عثام به فرمائيل : اے الله ! زمونږ د حالاتو آزمائش مه کوه۔

(دا زياتره اقوال د امام بيهقي د کتاب شعب الايمان نه اخستے شوي دي۔ (١/٥٤٨).

أبـو بكر وراقؒ فرمائي : اکثره د بنده د زړهٔ نه چه ایمان اوباسي نو دا په بندګانو باندې ظلم کول دي۔

ابو القاسم حکیمؒ نه یو سړي تپوس اوکړو، آیا څه ګناه داسې هم شته چه د بنده نه په هغې سره ایمان اخستلې شي ؟ وې فرمائیل : آو۔ درې څیزونه د بندګانو نه ایمان اوباسي۔

١ – اسلام باندې شکر نه کول۔

٢ – د اسلام د تللو ویره نه ساتل۔

٣ – مسلمانانو باندې ظلم کول۔ (انظر التنبيه ١/٤٠٩، وهو مجرب).

مـالك بـن دینـارؒ فـرمـائـي : کلـه چـه سړې په خپل ځان کښې د خوف او امید علامـه بیـامـومـي نو دهٔ یو مضبوط شې را اونیولو۔ هر چه علامه د خوف ده نو دا د الله د منع کړو څیـزونـو نـه ډډه کـول دي۔ او هـر چه علامه د امید ده نو دا دَ الله په حکمونو باندې راټـګ کول دي۔

رسـول الله ﷺ فرمائي : الله عز وجل فرمائیلي دي : زما په عزت او جلال مې دې قسَم وي ! زهٔ پـه خپـل بـنـده بـانـدې دوه خـوفـه او دوه بیغمئ نه راجمع کوم۔ څوك چه مانه په دنیا کښې خـوف کـوي، په قیامت کښې به ئې بیغمه کړم۔ او څوك چه مانه په دنیا کښې بیغمه دې، په آخرت کښې به ئې اویروم۔

(حديث صحيح، أخرجه ابن حبان وغيره عن أبي هريرة، كما في صحيح الجامع).

أبـو میسـرهؒ نه نقل دي چه کله به دې خپلې بسترې ته د خوب دپاره راغې نو وئیل به ئې : آرمـان دې چـه زما مور زهٔ نهٔ وې زیږولې، نو ښځې ئې ورته اووئیل : اې ابو میسره ! الله خو تـا سره احسـان کـړې او د اسـلام هـدایـت ئې درته کړې۔ هغه وئیلې : آو، لیـکن الله مونږ ته وضـاحـت کـړې چه مونږ به اور ته ځو، او دا وضاحت ئې نه دې کړې چه مونږ به بیرته ترې راوځو۔

زهٔ وایم : ددې وضاحت ئې کړې چه متقین خلق به د الله په توفیق سره د اوره راوځي۔

فـضـیـل بـن عیاضؒ فرمائي : زهٔ نهٔ ملك مقرب ته پسخیږم، نهٔ نبي مرسل ته، آیا دوئ له ګنې عتاب نه ورکولې کیږي ؟ زهٔ خو صرف هغه خلقو ته پَسخیږم چه پیدا شوي نهٔ دي۔

یـو هـوښـیـار سـړې وائـي : غـم خوراك منع کوي، خوف ګنا هونه منع کوي، امید طاعت مضبوطوي او مرګ یادول فضول څیزونو کښې انسان بې رغبته کوي۔

پـه یـو صـحیح حدیث کښې دي « درې څیـزونـه تبـاه کـونـکـي دي او درې څیزونه نجات

ورکونکی دی۔ هر چه تباه کونکی ځیزونه دی۔ نو هغه یو داسے بخل دے چه د هغے خبره منلے کیږی، او داسے خواهش چه د هغے تابعداری کیږی او دَ انسان ځانته غاوره کیدل۔

او هر چه نجات ورکونکی ځیزونه دی۔ نو هغه په رضا او غصے دواړو حالتونو کښے عدل کول، په فقر او مالدارئ کښے درمیانه روی کول، او پټ او ښکاره د الله عز وجل نه یریدل»۔ (کما فی الصحیحة مرفوعا، وهو فی المشکاة أیضًا).

بعضے علماؤ وئیلی دی : د **خوف علامه** په اوو ځیزونو کښے راښکاره کیږی۔

١ – اول : د انسان په ژبه کښے، چه دے دَ دروغو، غیبت او فضول خبرو نه د خپلے ژبے حفاظت کوی۔

٢ – دویم : د خپلے خیټے په معامله کښے یریدل چه ددهٔ خیټے ته به صرف پاك او حلال شے داخلیږی او د حلالو نه به هم د ضرورت په اندازه خوراك کوی۔

٣ – دریم : د خپل نظر په معامله کښے یریدل، چه حرامو ته به نه گوری او نهٔ به دنیا ته د رغبت په نظر گوری بلکه دده نظر به عبرت وی۔

٤ – څلورم : د خپل لاس په معامله کښے یریدل۔ چه دا به حرامو طرفته نه اوګدوی۔

٥ – د خپل قدم په معامله کښے یریدل۔ چه په دے سره به د گناه ځائے ته نه ځی۔

٦ – د خپل زړهٔ په معامله کښے یریدل۔ چه ددے نه به شرك، حسَد، او مسلمانانو سره بغض او کینه اوباسی او دوئ دپاره به په کښے خیر خواهی ورننباسی۔

٧ – د خپل طاعت په معامله کښں به یریدونکے وی۔ نو د ریاء، نفاق او نهٔ قبلیدو نه به خوف کوی۔ نو کله چه دهٔ دا کارونه اوکړل نو دابه (ان شاء الله) د متقینو نه وی۔

حسنؒ فرمائی : دا خبره چرته تا دهوکه کښے اونه غورزوی چه انسان به هغه چاسره وی چاسره چه مینه کوی، ځکه تهٔ اوچتو نیکانو ته نشے رسیدے مگر د هغوئ پشان عملونو سره۔ ولے چه یهود، نصاریٰ او اهلِ بدعت د خپلو انبیاؤ سره مینه کوی او د هغوئ سره به نهٔ وی۔

ددے نه افضله خبره هغه ده، کومه چه په حدیث د عائشے رضی الله عنها کښے راغلے ده۔ هغه د الله تعالیٰ ددے قول په تفسیر کښے فرمائی : ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴾ [مومنون: ٦٠]

فرمائی : آیا دا هغه خلق دی چه شراب څښکی، غلا او زنا کوی (او یَریږی) ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : نه، اے د صدیق لورے ! بلکه دا هغه خلق دی چه روژه نیسی، مونځونه او

صدقے کوی او ددے نه یریږی چه د دوئ نه به دا قبول نشی۔
او دا صحیح حدیث دے۔
علماؤ وئیلی دی : څوك چه نیکی اوکړی نو د **څلورو** څیزونو نه خوف ته حاجت لری۔
نو دَهغه چا په باره کښے دے څه خیال دے چه هغه گناه کوی ؟
١ – اول : د نه قبلیدو ویره، څکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴾ [المائدة: ٢٧]
(بیشکه الله خو صرف د متقیانو نه – عملونه – قبلوی)۔
٢ – دویم : ریاء نه خوف کول۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾ [البينة: ٥] (دوئ ته خو صرف ددے خبرے حکم شوے چه خاص د الله بندگی اوکړی په داسے حال کښے چه خالص کونکی وی هغه دپاره دین)۔
٣ – دریم : د سپارلو او ساتلو خوف۔ څکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ [الانعام: ١٦٠] (چا چه نیکی راوړه نو هغهٔ له به ددے لس چنده وی)۔
نو آخرت ته ئے نیکی راوړل شرط کړی دی۔
٤ – څلورم : په طاعت کښے د رسوایئ خوف۔ څکه دهٔ ته پته نه لگی چه ددے توفیق به ورکړے شی اوکه نه۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴾ [هود: ٨٨]
(او زما توفیق نهٔ دے مگر په الله سره، هغهٔ باندے ما څان سپارلے او هغه طرفته زهٔ ورگرځم)۔ (تنبيه الغافلين ٢/٤٢٤).
علماء فرمائی : **خوف په درے قسمه دے** :
١ – عارضی خوف، چه نهٔ عمل بدلوی او نهٔ زړه بدلوی، نو ددے وجود او عدم برابر دے۔
٢ – داسے خوف چه د الله د رحمت نه مایوسی او نا امیدی پیدا کړی۔ او یا داسے مرضونه پیدا کړی چه د الله د طاعت نه بندول کوی۔ نو دا جائز نهٔ دے۔
٣ – دریم داسے خوف چه د الله په طاعت باندے انسان باعث کړی، زړونه نرم کړی، گناهونه منع کړی، اوقات آباد کړی، او خشوع او قِسما قِسم طاعات پیدا کړی۔ نو دا دریم ښه خوف دے، او همدا د شریعت مطلوب دے، او په همدے سره کتاب اوسنت حکم کړے۔
او کله چه دَ وعظ په وخت لکه د ښځو غوندے نرمائش وی او بیا د انسان په عمل کښے څه تغیر او تبدیل پیدا نشی، نو دا عارضی خوف دے، ددے څه ډیره فائده نشته۔ (تسهيل).

ابن قيم – رحمه الله – فرمائي : خوف، دَ لارے د منازلو نه ډير لوئے منزل دے او زړهٔ دپاره ډير زيات نفع مند دے، او دا په هر چا باندے فرض دے. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾ [ال عمران: ۱۷۵] (نو تاسو د هيچانه خوف مه کوئ صرف مانه يريږئ که مؤمنان ئے). او فرمائي : ﴿ وَإِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴾ [البقرة: ٤٠]

(نو خاص مانه يريږئ). او فرمائي : ﴿ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ ﴾ [البقرة: ١٥٠]

(نو تاسو د خلقو نه مه يريږئ بلکه مانه اويريږئ).

او په خپل کتاب کښے ئے د خوف والو صفت کړے او په دوئ باندے ئے ثناء وئيلے ده. لکه فرمائي : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴾ [مومنون: ٥٧]

(بيشکه هغه خلق چه د خپل د رب د ويرے لرزيدونکی دی).

○ خوف سره متعلق يو څو خبرے :

١ – نو خوف د قابلِ ويرے څيز نه حرکت او پريشانئ ته وائی.

٢ – بعضے وائی. دا د احکامو د جاری کيدو په ځايونو باندے قوی علم ته وائی.

٣ – بعضے وائی : دا د زړهٔ هغه تيختے ته وائی چه د نابرداشته څيز راتللو په وخت ئے محسوسوی.

جنيدؒ فرمائي : دا دَ ساه ګانو د جاری کيدو په ځايونو باندے دَ عقوبت توقع ته وائی.

بعضے وائی : خوف دَ خشيت نه عام دے، ځکه خشيت د هغه چا وی چه الله پيژنی، دا داسے ويره ده چه د پيژندګلئ سره يو ځائے وی.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ﴾ [فاطر: ۲۸] (بيشکه د الله په بندګانو کښے د هغهٔ نه صرف علماء يريږی).

او نبی ﷺ فرمائي : «زهٔ تاسو نه د الله نه ډير زيات يريدونکے يم او تاسو نه د هغهٔ نه ډير زيات خوف لرونکے يم».

نو خوف حرکت دے او خشيت خاطر جَمعی او راغونډيدل او سکون دے.

ځکه څوك چه دشمن يا سيلاب وغيره وينی نو د هغهٔ دوه حالته وی :

يو د هغے نه د تيختے دپاره حرکت کول او دا خوف دے.

دويم : په يو داسے ځائے کښ سکون او قرارے حاصلول چرته چه دا نه رارسی، او دا خشيت دے.

او **رهبت** (ويره) داسے خوف دے چه د غم او پريشانئ سره وی. (خازن).

بعضے وائی : دا د نابرداشته شیز نه پوره کوشش سره منډه وهل دی۔ او دا د هغه رغبت ضد دے چه هغه د زړهٔ سفر دے په تالاش کولو د هغه شیز کښے چه په هغے کښے رغبت کولے شی۔او **وَجل** د زړهٔ درزیدل او د هغه چا د ذکر نه تق چاودل دی چه د هغه د سلطنت او عذاب یا لیدلو نه یریږی۔او هرچه **اجلال** دے، نو دا داسے خوف دے چه د محبت سره ګډ وی۔او **هیبت** : دا خوف دے چه د تعظیم او اجلال سره پیوست وی، او زیاتره دا دَ محبت او معرفت سره وی۔او **اشفاق** : داسے خوف دے چه د ترحم سره، یا دَ بدن په ظاهر باندے د خوف اثر راښکاره کیدو ته وائی۔

نو خوف د عامو مؤمنانو وی، او خشیت د عارفینو علماؤ وی، او هیبت د محبینو دپاره وی او اجلال د مقربینو دپاره۔ او د علم او معرفت په اندازه به خوف او خشیت وی۔

نبی ﷺ فرمائی : «زهٔ پتاسو کښ په الله باندے ډیر عالم او پتاسو کښ د هغهٔ نه ډیر زیات یریدونکے یم)۔ او فرمائی : (که چرے تاسو ته هغه څه معلوم وے کوم چه ماته معلوم دی نو کم به مو خاندلی وے او ډیر به مو ژړلی وے، او په بسترو باندے به مو د ښځو نه خوندونه نهٔ وے اخستی، او صحراګانو ته به وتلی وئ چه الله ته به مو زاری کولے»۔

ابو حفص ؒ فرمائی : خوف د الله چابك دے، هغه څوك پرے سموی چه د هغه د دروازے نه تختیدلی وی۔ او فرمائی : خوف په زړهٔ کښ یوه ډیوه ده چه په دے سره هغه خیر او شر وینی کوم چه په دے کښے دے، او هر هغه څوك چه تهٔ ترے یره کوے نو هغه نه تختے، سیوا د الله عز وجل نه چه کله تهٔ د هغه نه یریږے نو هغه طرفته به ورتختے۔

ذون النونؒ فرمائی : خلق په سَمه لاره وی تر څو پورے چه د دوئ نه خوف تلے نهٔ وی، او کله چه دوئ نه خوف لاړ شی نو لاره ورکه کړی۔

ابو عثمانؒ فرمائی : رشتینے خوف دادے چه د پټو اوښکاره ګناهونو نه انسان پرهیز اوکړی۔

شیخ الاسلامؒ فرمائی : ښه خوف دادے چه تا دَ الله تعالیٰ د حرام کړو څیزونو نه بند کړی۔

○ خوف په څو قِسمه دے :

١ – اول : د عذاب نه خوف۔

او دا دَ وعید (عذاب) د رشتینے ګڼړلو، جنایت رایادولو او د عاقبت د لحاظ ساتلو نه پیدا کیږی۔ او خوف نه مخکښے علم او شعور وی۔ نو د چا چه شعور نهٔ وی د هغهٔ خوف هم نهٔ

وي۔

۲ – دويم : د الله د تعلق ختميدو نه خوف كول۔

او دا دَ مكر نه خوف دے، ځكه مؤمن ددے نه خوف كوی چه ددۀ نه به د الله عز وجل د ذكر خوند او حلاوت واخستے شی، هغۀ محتاج وی او ښه معامله ورسره كوی۔

۳ – دريم : د هيبت او اجلال خوف دے۔ او دا د الله د ذات او صفاتو سره متعلق دے۔

علماء فرمائی : زړۀ الله ته په مزل كولو كښې د مارغه غونته دے، محبت ئے سر دے، اوخوف او اميد ئے وزرے دی۔ نو كله چه سر او وزرے روغے وی نو مارغه ښۀ آلوتل كولے شی، او كله ئے چه سر پريكړے شی نو مړ شی، او كله وزرے ورکے كړی نو دَ هر ښكاری او ماتونكی د ښكار شی۔

خو سلفو ؒ دا خبره ښه ګڼړلے چه په صحت كښې دے د خوف وزر قوی وی او د دنيا نه د تللو په وخت دے د اميد وَزر د خوف په وزر قوی وی، نو محبت سورلی ده او اميد راخكونكے او خوف شړونكے دے، او الله تعالیٰ په خپل فضل او كرم سره رسونكے دے۔



٦١ - فائده : عجیب نصیحتونه

○ عیسیٰ علیه السلام فرمائی : اے د آدم کمزورے ځویه ! چرته چه تهٔ ئے الله نه یریږه، او په دنیا کښے کمزورے اوسه، او جوماتونه خپل کور جوړ کړه، او خپلے سترګے ته دے ژړا ، بدن ته صبر او زړهٔ ته دے فکر اوښایه، او د صبا د روزئ غم مکوه ځکه دا ګناه ده۔ (البداية والنهاية ٨٢/٢)

دارنګه فرمائی : د هیڅ یو مؤمن په زړهٔ کښ د دنیا محبت او د آخرت محبت سَمے نهٔ خوری، لکه څنګه چه په یو لوښی کښ اوبهٔ او اور سَمے نهٔ خوری۔

کله چه تهٔ د دنیا نه څه شے د دنیا په اراده حاصل کړے نو دا بدکار دے، او کله چه تهٔ د دنیا نه څه شے د آخرت د ارادے دپاره حاصل کړے نو دا د دنیا نه نهٔ دے۔ دا خبره ابو صفوان رعینیؒ هغه وخت اوکړه کله چه ورنه أحمد بن أبی الحواریؒ د هغه دنیا په باره کښے تپوس اوکړو د کومے بدی چه الله بیان کړے ده۔ (حلية الأولياء ٥/١٠).

○ احمد بن ابی الحواریؒ فرمائی : کله چه هم ما ابو سلیمانؒ ته د خپل زړهٔ د سختئ یا د خپلے وظیفے نه د اودهٔ کیدو یا د بل یو شئ شکایت کړے نو هغه ماته وئیلی دی۔ دا ستا د عمل په وجه او الله په خپلو بندګانو ظلم نه کوی، دابه یو خواهش وو چه تابه حاصل کړے وی۔ (الحلية ٦/١٠).

دارنګه همدا احمدؒ فرمائی : څوك چه دنیا ته د ارادے او هغے سره د محبت په نظر اوګوری الله تعالیٰ د هغهٔ د زړهٔ نه د یقین رنړا او زهد اوباسی۔

دارنګه فرمائی : د الله نه غیر په الله باندے دلیل نهٔ دے، او علم خو د خدمت د آدابو د وجے نه طلب کولے شی۔

دارنګه فرمائی : د الله د محبت علامه د الله د طاعت سره محبت او د هغه د ذکر سره محبت کول دی، او څوك چه دنیا اوپیژنی نو په هغے کښے بے رغبته کیږی، او څوك چه آخرت اوپیژنی په هغے کښ رغبت لری، او څوك چه الله اوپیژنی نو د هغه رضامندی غوره کوی، او څوك چه خپل ځان او نهٔ پیژنی نو دا د خپل دین نه په دهوکه کښ دے۔ (الحلية ٧/١٠).

دارنګه فرمائی : کله چه تاته ستا نفس د دنیا د شا راګرزولو په وخت ددے د پریښولو خبره

اوکړي نو دا دهوکه ده، او کله چه تاته ددې د رامخامخ کیدو په وخت اووائي نو دا بیا صحیح ده. (۷/۱۰).

او فرمائي: کله چه بنیادم قرآن اولولي بیا گډې وډې اووائي او بیا بیرته قرآن لولي نو الله ورته فرمائي: ستا زما د کلام سره څه کار دې؟ (۷/۱۰).

○ عیسیٰ علیه السلام په درې کسانو تیر شو چه د هغوئ رنگونه متغیر شوي وو، ورته ئې اوفرمائیل: ولې؟ هغوئ وئیلې: د اور نه د ویرې په وجه، ورته ئې اوفرمائیل: د مخلوق نه یریدلي یئ او په الله باندې دا حق دې چه تاسو له ستاسو امید درکړي.

بیا د دوئ پشان په درې نورو کسانو باندې ورتیر شو، هغوئ نه ئې تپوس اوکړو، نو هغوئ وئیلې: جنتونو ته د شوق دَ وجې نه. وې فرمائیل: د مخلوق امید تاسو کړې او الله سره لائق دی چه تاسو ته ستاسو امید درکړي.

بیا په نورو درې کسانو ورتیر شو چه دَ مخکنو نه زیات متغیره وو، ورته ئې اوفرمائیل: ولې؟ هغوئ وئیلې: د الله د محبت د وجې نه. وې فرمائیل: تاسو مقربین (د الله نزدیکت حاصلونکي یئ) تاسو مقربین یئ. (۷/۱۰).

○ احمد بن ابي الحواري رحمه الله فرمائي: ما ابو صفوان رحمه الله نه تپوس اوکړو، یو سړې د خپل ورور سره دَ څه وجې نه محبت کوي؟ وې فرمائیل: ځکه چه دا هغه ویني چه د خپل رب بنه خدمت کوي. (۸/۱۰).

دارنگه فرمائي: د توکل نه استقامت راوځي او ددې نه معرفت او د معرفت نه ذکر او د ذکر نه حلاوت او مزه او د مزې نه اُنس او د انس نه حیاء او د حیاء نه خوف، او د خوف علامه ده تیاري کول. (۸/۱۰).

او فرمائي: ما د عبد العزیز رحمه الله نه واوریدل چه فرمائیل ئې: که چرې الله تعالیٰ د خپل طاعت والو له بنائسته آوازونه نهٔ وی ورکړي نو دوئ باندې ئې د خپل طاعت د لذت نه هغه څه پرانستي دي چه په هغې سره دوئ په خپلو آوازونو خوندونه اخلي. (۸/۱۰).

دارنگه احمد رحمه الله فرمائي: ما دَ ابو سلیمان رحمه الله سره په هغه حدیث کښې مناظره اوکړه چه په هغې کښې دادي چه اولنئ ډله چه هغوئ به جنت طرفته روان وی دا به حمادون (د الله ډیر حمد ویونکي) وي، نو هغه وئیلې: غرق نشې دا نهٔ ده چه تهٔ د هغهٔ حمد کوې او ستا زړهٔ په گناه باندې تینگ ولاړ وي، او کله چه تهٔ دغسې ئې نو بیا امید لره چه تهٔ به د تیریدونکو نه ئې، بلکه دا چه تهٔ د هغه حمد وائې او ستا زړهٔ تابعدار او راضي وي. (۱۰/۱۰).

○ محمودؒ فرمائي : پاکي ده هغه ذات لره چه د هغهٔ عظيم بادشاهت هغهٔ لره ددے نه نهٔ منع کوی چه په خپله وړه بادشاهئ کښے اوگوری۔

○ سباع موصلیؒ نه چا تپوس اوکړو، دے خلقو لره زهد څه شئ ته اورسول ؟ وئيلے : د الله أنس ته۔ (۱۰/۱۰).

○ مضاء بن عیسیؒ فرمائي : کله چه دوئ هغه ته اورسی نو هغه نه به را واپس نشی، را واپس خو هغه څوك شو چه د لارے نه را واپس شو۔ (۱۰/۱۰)۔ عجیب کلام دے۔

دارنگهٔ فرمائي : الله نه يريږه هغه به درته الهام کوی او هغه دپاره عمل کوه دليل ته به دے نهٔ محتاجه کوی۔ (۱۰/۱۱).

○ محمد بن ثابت القاریؒ فرمائي : د چا همت چه د فرائضو په اداء کولو کښں وی نو دهٔ دپاره په دنيا کښے لذت نه پوره کيږي۔

○ عتبة الغلامؒ فرمائي : ما شل کاله د مانځه مشقت اوچت اوکړو، او شل کاله مے ترے خوند واخستهٔ۔ (۱۰/۱۰).

د الله د معرفت مثال لکه د آسمان غوندے دے چه په دے باندے بنه علم حاصلونکے هغه څوك دے چه ديته ډير نزدے وی۔(۱۰/۱۱).

○ عبد الرحمن بن زياد بن انعمؒ فرمائي : موسیٰ ﷺ ته وحی اوشوه چه د قرآن مثال د هغه لوښی غوندے دے چه په هغے کښے پئ وی څومره ئے چه تهٔ خوزوے نو کوچ به ترے اوباسے۔(۱۰/۱۱).



٦٢ - جليل القدر فائده

آيا تهٔ د الله تعالیٰ د اولياؤ علامات پيژنې ؟

ځکه دا مهمه ده او کيدے شي چه هغه دے په دوئ کښې داخل کړي چه پوره به کامياب شے، او د دوئ پيژندګلي د الله د محبت سبب دے، دے وجے نه د دوئ د علاماتو پيژندل ضروري دي۔نو مونږ وايو، د دوئ :

١ - اوله علامه داده : چه کله دوئ اوليدلے شي نو الله رايادېږي، لکه د طبراني په حديث کښې دي۔

٢ - الله دپاره محبت کوي او الله دپاره بغض لري۔ (مسند احمد ٣/ ٤٣٠).

٣ - خپلو کښې د يو بل سره مينه محبت لري۔

٤ - حديث قدسي کښې دي : (زما په بندګانو کښې زما اولياء هغه کسان دي چه زما په ذکر سره د هغوئ ذکر کيږي، او د هغوئ په ذکر سره زما ذکر کيږي۔

(ذكره الخازن وهو في الحلية ١/ ٦).

٥ - نو د الله ولي «دوست» هغه څوك دے چه الله ته په هر هغه شئ باندے نزديكت حاصلوي چه په دهٔ باندے ئے فرض کړي وي، او په الله باندے مشغوله وي، د الله د جلال د نور په معرفت کښې ئے زړهٔ مستغرق وي۔ که ګوري نو د الله د قدرت دلائلويني او که کتل کوي نو نبښو ته ګوري، اوکه خبرے کوي نو الله باندے په ثناء وئيلو خوله خوزوي، اوکه حرکت کوي نو د الله په طاعت باندے حرکت کوي، اوکه کوشش کوي نو په هغه شئ کښې کوشش کوي چه الله ته ئے نزدے کوي، د الله د ذکر نه نه ستومانه کيږي او په خپل زړهٔ سره د الله نه سيوا بل څوك نهٔ ويني۔

بعضے عارفينو وئيلي دي : ولايت د الله نزديکت ته وائي او هميشه په هغهٔ سره مشغوليدو ته وائي۔ (خازن ٢/ ٣٢٢).

بيضاء بنت الفضل ؒ الله سره د محبت کونکي علامات ذکر کوي فرمائي : که تهٔ الله سره محبت کونکے اوګورے نو تعجب به اووينے، داسے پريشانه چه په زمکه قرارے نه لري، داسے ترينده مارغهٔ چه يواځے والے ئے آموخت دے، چه د راحت نه منع کړے شوے وي، د

محبوب په ذکر باندې لیواله وي، د لوګې په وخت ئې خوراك محبت دې او د تندې په وخت ئې څکاك محبت دې، خوب ئې په وصال کښې سوچ کول وي او بیداري ئې په غفلت کښې تادي کول وي، سکون ئې نه وي او نۀ آرام ته میلان کوي، که تسلي ورکړې شي نه ئې قبلوي، اوکه د صبر تلقین ورکړې شي صبر نه کوي، او د الله د اوګد خدمت نه نه ستومانه کیږي هر کله چه خادمان ستومانه شي، تردې چه د هغه د محبت او اوګد خدمت په وجه د شوق په پوره ئ کښې شي نو قرارې اونیسي او غمونه ئې پرله پسې شي. (الحلية ملخصًا ١/١٣).

حمزه نشاپوریؒ فرمائي : د دین خاوند د خپل آرام په فعل کښې فکر کوي، او رضا وي نو غم نه کوي او دنیا ئې پریښې وي نو د شر نه خلاص وي، او تنها وي نو کافي وي، او خواهشات ئې پریښې وي نو آزاد شوې وي، او حسد ئې پریښې وي نو دډۀ دپاره محبت ښکاره شوې وي، او خپل ځان ئې د هر فاني څیز نه ویستې وي نو عقل ئې پوره کړې وي. عجیب کلام دې. (١٠/١٤).

٦ – دا داسې قوم دې چه د الله دَ رحمت سره د یو بل سره مینه کوي چه د دوئ ترمینځه څه رشته داري نۀ وي او نۀ د څه مالونو په وجه چه یو بل له ئې ورکوي. قسَم په الله ! د دوئ مخونه رڼا وي او دوئ به د نور په منبرونو باندې ناست وي، کله چه خلق یریږي نو دوئ به نه یریږي، او کله چه خلق غمژن کیږي نو دوئ به نه غمژن کیږي، بیا ئې دا آیت اولوستلو : ﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللهِ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ [یونس: ٦٢] (خبردار ! د الله دوستانو باندې به نه خوف وي او نۀ به دوئ غمژن شي). او دا صحیح حدیث دې.

٧ – بله علامه ئې داده چه دوئ په فتنو کښې سالم وي او په محنتونو کښې یقین کونکي وي. حدیث کښې دي « د الله عز وجل دپاره داسې قابلِ رشك بندګان دي چه هغوئ له په خپل رحمت کښې خوراك ورکوي او په خپل عافیت کښې ئې ژوندي ساتي او کله ئې چه وفات کوي نو خپل جنت طرفته، دا هغه خلق دي چه داسې فتنې په دوئ باندې تیریږي لکه د تورې شپې د ټکړو غونتته او دوئ د هغې نه په عافیت کښې وي. (الحلية ١/٦).

٨ – په خوراکونو او لباس کښې ضرر پورته کونکي او د تکلیف او مصیبت په وخت ئې قسَمونه پوره کړې شوي وي. (که په الله قسَم اوکړي نو پوره کوي ئې ورله).

٩ – د دوئ یقین کانړو لره چولې شي او د دوئ په قسَم سره دریابونه شلیږي.

١٠ – دوئ هرې نیکئ ته مخې وهونکي دي (او په هرې پیړئ کښې نیکئ طرفته مخکښې کیدونکې شته دې. الحدیث ».

١١ – دوئ د دنيا باطن ته اوکتل نو وې غورزوله، او ظاهري تازه ګئ ته ئې اوکتل نو کيخودله، لکه چه عيسىٰ ؑ فرمائيلي دي۔

١٢ – د عيسىٰ ؑ په اثر کښې دي عرض ئې اوکړو، اې ربه! تاته څوك ډير عزتمند دي؟ وې فرمائيل: هغه څوك چه زما خوښې ته داسې رامنډې وهي لکه څنګه چه نسر (باز) خپلې خوښې ته منډې وهي، او زما نيکانو بندګانو ته داسې ليواله وي لکه څنګه چه ماشوم خلقو ته ليواله وي۔ او هغه څوك چه هغه زما د حرام کړو څيزونو ماتيدو په وخت داسې غصه کيږي لکه څنګه چه پړانګ د ځان دپاره غصه کيږي، ځکه پړانګ چه کله غصه شي نو بيا ديته نه ګوري چه خلق ډير دي اوکه کم۔ (ذكره في الحلية ١/١٣).

١٣ – ذو النون مصري ؒ فرمائي: الله عز وجل دپاره څه غوره خلق دي۔ عرض اوشو، اې ابو الفيض! د دوئ نښه څه ده؟ وې فرمائيل: کله چه بنده راحت پريدي او عبادت کښې پوره کوشش کوي او دَ خپلې مرتبې ښکته کيدل غوره ګڼړي۔

١٤ – حديث کښې دي «بيشکه الله تعالىٰ هر هغه پرهيز ګاره بنده خوښوي چه هغه پټ او بې پرواه وي»۔ (مسلم).

او هر نيك عمل کښې دوئ پيش پيش وي او د دوئ دپاره بهتر صفات دي۔ الله تعالىٰ دې مونږ د دوئ نه حساب کړي۔



٦٣ - فائده

شروط او آداب د توبة النصوح يعنى خالصے توبے

په ټولو عباداتو کښے عظيم عبادت چه د هغے نه زياتره خلق غافل دى او بعضے دا ګمان کوى چه دا صرف د ګنهګارانو کار دے، دا توبة النصوح دے. چه په هر نارينه اوزنانه باندے واجب ده، او دا اولنے منزل دے د منازلو د هغه خلقو نه چه الله ته مزل کونکى دى. علماؤ ددے دپاره شروط، آداب او احکام په تفصيل سره ذکر کړى دى، زۀ د هغے نه د فائدے پوره کولو دپاره بعضے مختصرا ذکرکوم.

١ – فورا د ګناه نه لاس اخستل.

٢ – په تير شوى کار باندے خپيمانتيا.

٣ – دوباره ددے کار نۀ کولو پوخ عزم.

٤ – د چا حقونه ئے چه وهلى وى هغوئ ته خپل حقونه واپس کول او يا د هغوئ د حقونو نه بيزارى حاصلول.

٥ – ګناه صرف د الله د وجے نه پريښول، نۀ د بل شئ نه لکه د خلقو د خبرو، يا د حُبِ جاه او شهرت د حفاظت دپاره، يا د صحت د حفاظت دپاره او يا د دغه ګناه نه د عاجزه کيدلو د وجے نه.

٦ – د ګناه قباحت او ضرر محسوسول، ځکه د صحيح توبے علامه داده چه د هغے د ويستلو نه پس په تير شوو ګناهونو باندے خوند اخستل ممکن نه وى او نۀ په راتلونکى وخت کښے د دوباره واپسئ آرزو لرى.

ابن قيم – رحمه الله – په خپلو کتابونو «الجواب الکافى، او الفوائد» کښے د ګناهونو ډير ضررونه ذکر کړى، بعضے د هغے نه دادى :

○ **د ګناهونو ضررونه :**

علم نه محرومتيا، په زړۀ کښے وحشت، د کارونو ګرانى، د بدن کمزورى، طاعت نه محرومتيا، برکت ختميدل، توفيق کميدل، سينه تنګيدل، ګناهونه پيدا کيدل، ګناهونو

سره آموخته کیدل، د ګنهګار په الله باندې سپك کیدل، په خلقو باندې سپکیدل، د حیواناتو په دهٔ باندې لعنت وئیل، د ذلت لباس آغوستل، په زړهٔ باندې ئې مهر لګیدل، لعنت کښې داخلیدل، د دعاء نه قبلیدل، په اوچه او لمده کښې فساد پیدا کیدل، غیرت ختمیدل، حیاء ختمیدل، نعمت زائله کیدل، عذاب نازلیدل، د ګنهګار زړهٔ مرعوب (خوفزده) کیدل، د شیطان په قبضه راتلل، خاتمه خرابیدل او د آخرت عذاب۔

د ګناهونو دے ضررونو پیژندلو سره انسان د ګناهونو نه بیخی لرے کیږی۔ ځکه بعضے خلق کله د یوے ګناه نه د څه اسبابو د وجے نه بلے ګناه ته نقل شی، مثلا دا عقیده اولری چه ددے بلے ګناه بوج کم دے، یا نفس دیته ډیر میلان کوی، یا ددے ګناه تقاضے پوره وی او داسے نور۔

٧ – تویے طرفته جلتی کول۔ ځکه ګناه روسته کول ګناه ده چه تویے ته محتاج ده۔

٨ – د الله کوم حق ئے چه وهلے وی هغه بیرته واپس کول لکه زکات وغیره۔

٩ – په ګناه باندے چه کوم ملګری ورسره مدد کړے وی هغه نه جدا کیدل، لکه د سلو کسانو د قاتل په حدیث کښے۔

١١ – کوم حرام څیزونه چه دهٔ سره موجود وی لکه د ټنګ ټکور آلات، ټی، وی، حرام فلمونه او بربنډ تصویرونه او فحش قیصے، هغه ماتول۔

١٢ – نیکان ملګری اختیارول او هغه چا سره ملګرتوب کول چه هغه ورسره په نیکئ مدد کوی، او د علم او ذکر او وعظ په مجلسونو باندے حرص کول، او ځان سره د وعظ او نصیحت یو کتاب ساتل، او خپل وخت په فائده منو څیزونو باندے ډکول۔ دے دپاره چه شیطان ورته هیڅ لاره بیانه مومی۔ او ددے هر څه نه بهتر قرآن کریم دے۔

١٣ – د الله په طاعت کښے خپل بدن استعمالول، د حرامو نه ځان ساتل او په حلالو کښے کوشش کول۔

١٤ – توبه د غرغرے او د مغرب د طرفنه د نمر راختلو نه مخکښے اوخکل۔

١٥ – ګناهونه سپك نه ګڼړل۔ انس ﷛ فرمائی: تاسو داسے اعمال کوئ چه هغه ستاسو په سترګو کښے د ویښتهٔ نه هم زیات سپك دی حال دا چه دابه مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښے د تباه کونکو نه ګڼړل۔ (بخاری).

ابن مسعود ﷛ فرمائی: مؤمن خپل ګناهونه داسے ګڼړی ګویا دا د یو غر لاندے ناست دے، ددے نه یریږی چه په دهٔ باندے راپریوزی۔ او بدکاره خپل ګناهونه داسے وینی لکه یو

مَچ ددهٔ په پوزه کینیٰ او نو دا ورته اشاره اوکړی او دَ ځانه ئے اوشړی۔
حدیث کښې دی (ځان د وړو وړو ګناهونو نه ساتئ ځکه د وړو ګناهونو مثال د هغه خلقو په شان دے چه لرګی راجمع کړی او غوښه پرے پخه کړی۔ یا ئے ددے پشان الفاظ اوفرمائیل۔

نو عزتمنه وروره ! په تادئ سره توبه اوباسه، ځکه ددے دروازه کهلاؤ ده او کیدے شی چه زر درنه بنده شی نو بیا به په داسے ورځ کښې آفسوس کوے چه فائده به نه کوی۔ او یاد ساته چه کله زړهٔ خراب شی او د الله نه واوړی، نو ددے دپاره د توبے نه او الله ته د رجوع نه سیوا بل هیڅ دوائی نشته۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنْ تَتُوْبَآ اِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ﴾ [تحریم: ٤]

(که چرے تاسو الله ته توبه کوئ نو یقینا چه ستاسو زړونه مائله شوی دی)۔
په دے کښې اشاره ده دیته چه په تَوْبَةُ النَّصُوْح (خالصے توبے سره) زړونه د خپل کوږ والی او آوړیدلو نه پس سمیږی۔ لکه د زړونو د ژوند په فائده کښې مونږ مخکښې ذکر کړی دی۔
توبه د زړونو د نورانیت او روښانتیا سبب دے۔ ﴿ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ ﴾ [تحریم: ٨]

(د دوئ رنړا به د دوئ مخے او ښی طرفونو ته وی)۔
دائے دوئ ته د توبے د حکم کولو نه پس ذکر کړے دے۔
اوکه تهٔ د توبے فوائد او اهمیت کتل غواړے نو د مشکات، ریاض الصالحین او مدارج السالکین باب الاستغفار والتوبه اوګوره۔



٦٤ - قیمتي فائده

آخره خاتمه ښه کېدل

ما په سنه (١٤٢٢/١٢/٢٠) هجري کښې يو خطبه وركړه، نو زما په زړهٔ کښې يوه نکته راغله، او هغه دا چه د انسان آخره خاتمه به څنګه ښه کيږي ؟ نو الله ماته په زړهٔ کښې دا واچول چه دا په څلورو خبرو باندې ښه کيږي، چه څوك په دې باندې راټګ اوکړي نو د مرتد کيدو او کفارو سره د ملاويدو نه به بچ کړے شي. د الله په توفيق او احسان سره.

١ - اول څيز : الله سره سخت محبت ساتل، په دې شان چه د زړهٔ ژور والي ته اورسي او په اندامونو باندې اثر اوکړي.

٢ - دويم څيز : ايمان والو سره نرمي کول او کفارو سره سختي کول، چه ديته ولاء او براء هم وائي. او دا په ټولو اعمالو کښې بهترين عملونه دي، لکه په دې باندې ډير نصوص راغلي دي.

٣ - دريم څيز : د الله په لاره کښې جهاد کول. ځکه دَ مسلمان ايمان او د دين د بقاء دپاره دا يو اهم څيز دے. الله فرمائي : ﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴾ [محمد: ٢٢] (نو نزدې ده چه که تاسو - د جهاد نه - واوړيدئ، په زمکه کښې به فساد اوکړئ او خپلولئ به پريکړئ).

٤ - څلورم څيز : دا چه بنده د حق په دعوت او عمل کښې د چا د ملامتيا نه اونه يريږي.

او دا کارونه بنده صرف د الله د فراخه فضل او مهربانئ سره کولے شي.

قرآن کريم دے څيزونو ته اشاره فرمائيلې ده : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ﴾ [المائدة: ٥٤] (اے ايمان والو ! څوك چه په تاسو کښې د خپل دين نه واوړيده نو زر دے چه الله به داسے خلق راولي چه الله به ورسره مينه کوي او هغوئ به د الله سره مينه کوي، مؤمنانو سره به نرمي کونکي او کافرانو سره به سختي کونکي وي، د الله په لاره کښې به جهاد کوي او د هيڅ ملامتګر د ملامتيا نه به نهٔ يريږي).

يعني څوك چه مرتد شو نو الله به ددې صفاتو والا خلق پيدا کړي چه هغه به د الله د دين

نه نهٔ مرتد کیږي. او په دے کښے تیزي ورکول دي په اختیارولو ددے صفاتو سره. الله تعالىٰ دے مونږ ته په دے باندے په خپل فضل او مهربانئ سره د عمل کولو توفیق راکړي---- بیا چه کله ما په سنه (١٤٢٢/١٢/٢٧) هجري کښے د قرآن کریم د تفسیر دوره کوله نو یو بل پنځم څیز مے هم معلوم کړو. او هغه دے :

٥ – د یهودو او نصاراؤ په قول، فعل او حالت کښے طاعت نه کول دي. او دا په دے قول د الله تعالىٰ کښے دے : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ إِيْمَانِكُمْ كَافِرِيْنَ ﴾ [آل عمران: ١٠٠] (اے ایمان والو ! که چرے تاسو د یو ے ډلے د هغه کسانو خبره منئ چه هغوئ ته کتاب ورکړے شوے نو تاسو به د خپل ایمان نه پس کافران جوړ کړي).
﴿وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾[آل عمران: ١٠١] (اوچا چه الله راټینګ کړو نو بیشکه چه ددهٔ سمے لارے طرفته رهنمائي اوکړے شوه).

او د اعتصام بالله (الله باندے د منګولو لږولو) دوه تفسیره دي.

١ – الله باندے ایمان لرل او د هغهٔ په دین باندے ټینګیدل.

٢ – الله باندے اعتماد او توکل کول او هغه طرفته انابت اوزاري کول. نو چا چه دا کار اوکړو نو دا برابرے لارے طرفته راوستے شو.

حکیم ترمذي د امام زهريؒ نه نقل کړي دي چه ده اوفرمائیل : الله تعالىٰ داود ﷺ ته وحي اوکړه : کوم کس چه زما د مخلوق نه علاوه په ما باندے منګولے اولږوي او بیا زمکه او آسمانونه دهٔ ته چَل جوړ کړي نو زهٔ به خامخا دهٔ له لاره اوباسم. او هیڅ یو بنده نشته چه مانه سیوا زما په مخلوق باندے منګولے اولګوي مګر خامخا زهٔ د آسمان رسئ ددهٔ مخے ته پریکوم، او زمکه ددهٔ د خپو نه تختوم. (روح المعاني ١٧/٤).

او دیته په صحیح حدیث کښے اشاره شوے ده (زما امت به همیشه په فطرت باندے روان وي ترڅو چه دوئ روژه ماتي کښے تادي او پیشمني کښے تاخیر کوي).

٦ – دارنګه بل سبب : اذکارِ شرعیه دي. لکه سید الاستغفار او د خوب دعاء. اَللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ نَفْسِيْ اِلَيْكَ - تر آخره پورے. ځکه په دے کښے دي چه (که مړ شوے نو په اسلام به مړئے). او په سید الاستغفار کښے دي چه « جنت ته به داخل شي ».

او دَ آذان په دعاء کښے دي چه « دهٔ دپاره زما شفاعت واجب شو ».

او د اوداسهٔ په دعاء کښے دي « سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ » چه دابه په یو پاڼره کښې اولیکلے شي او صرف د قیامت په ورځ به پرانستے کیږي.

او دَ حُسن خاتمے اسباب مخکښے په یوه فائده کښے تیر شوي دي.

٦٥ - فائده

وعظونه اونصیحتونه

ابو طلحهؒ نه تپوس اوشو چه په دنیا کښې زهد څه ته وائی ؟ وې فرمائیل : د خپل وس مطابق ورکړه کول، راحت ختمول او امیدونه پریکول. (الحلية ۲۰/۱۰).

هرم بن حبانؒ اویس قرنیؒ ته اووئیل : زهٔ غواړم چه تاسره انس حاصل کړم (بلد شم)، وې فرمائیل : زما خیال نهٔ دې چه څوك به ګنې الله سره وحشی کیږی. هغه وئیلې : ماته وصیت اوکړه. وې فرمائیل : سین غاړې ته زور کوه. هرمؒ عرض اوکړو، معاش به څنګه شی ؟ وې فرمائیل : افسوس دې ! تهٔ الله ته د خپل دین سره تختې او بیا په خپل رزق کښې هغه تهمتی کوې ؟ (۲۰/۱۰).

ابو سلیمانؒ اوفرمائیل : الله تعالیٰ داود ﷺ ته وحی اوکړه : ما خو خواهشات د خپلو کمزورو بندګانو دپاره پیدا کړی دی، نو تهٔ ددې نه ځان اوساته چه ددې نه په یو شئ پورې خپل زړهٔ اولګوې. ګنې ادنیٰ عذاب چه زهٔ ئې تاله درکوم هغه به داوی چه زهٔ به د خپل محبت خوند ستا د زړهٔ نه اوباسم. (۲۱/۱۰).

او دا ډیر سخت وعید دې د عقلمندو دپاره !

دارنګه ابو سلیمانؒ فرمائی : د عارفینو دپاره څه علامات دی او هغه د مصیبتونو پټ ساتل او د کرامتونو حفاظت کول. (۲۱/۱۰).

او فرمائی : کله چه امید په خوف باندې غالب شی نو زړهٔ خراب شی. او کوم خلق چه الله پیژنی هغوئ ته د الله د نافرمانئ په نسبت عذاب آسان ښکاری. (۲۱/۱۰).

اوفرمائی : د قیامت په ورځ به بنده په داسې حال کښې وی چه دې به دا ګمان کوی چه تباه شو، نو ناګهانه به دې د مُهر زده صحیفو سره مخامخ شی، نو دهٔ ته به اووئیلې شی : مُهر اوشلوه او په دې کښې چه څه دی هغه اولوله، نو دې به په هغې کښې اوګوری، نو وائی به : اې ربه ! داسې عملونه دی چه ما نه دی کړی اونه ئې پیژنم. الله به اووائی : دا ستا هغه نیت دې چه په دنیا کښې به تا کولو، ما درله راګیر کړې او لیکلې مې دې درله، بیابه حکم اوشی

چه جنت ته ئے داخل کړئ۔

احمد بن ابی الحواریؒ فرمائی : څوك چه دا خوښ ګنړی چه په څه نیکئ باندے مشهور شی او یا په دے باندے ذکر کړے شی، نو دۀ د خپل رب په عبادت کښے شرك اوکړو، ځکه څوك چه په محبت باندے عبادت کوی هغه دا نه خوښوی چه ددۀ خدمت دے ددۀ د محبوب او مخدوم نه سیوا بل څوك اووینی۔ (۲۲/۱۰).

سفیان ثوریؒ فرمائی : څوك چه دنیا خوښه ګنړی او په دے خوشحالیږی، د آخرت خوف به د دۀ د زړۀ نه اوښکلے شی۔(۲۲/۱۰).

علی بن فضیلؒ خپل پلار ته اووئیل : پلاره ! د رسول الله ﷺ د صحابوؓ خبرے څومره ډیرے خوږے دی ! ورته ئے اوفرمائیل : بچیه، تاته پته شته چه دا ولے خوږے دی ؟ وئیلے : نه، پلاره ! ورته ئے اوفرمائیل : دا ځکه چه دوئ په دے سره د الله اراده لرله۔ (۲۲/۱۰).

حدیث کښے دی (تاسو خلقو ته خپل مالونه نشئ رسولے نو هغوئ ته دے ستاسو نه فراخ تندی او ښائسته اخلاق اورسی)۔ (۲۵/۱۰).

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : نیکانو ته ابرار تر هغه وخته پورے اونه وئیلے شو تر څو چه ځامنو د پلارانو سره او پلارانو د ځامنو سره احسان اوکړو۔ (۲۲/۱۰).

تفسیر ابن کثیرؒ کښے دی : دوئ ته ابرار ځکه اووئیلے شو چه دوئ د پلرونو او ځامنو سره احسان کړے دے۔

حدیث کښے دی « هغه شے کم نۀ دے چه جبار رانزدے کړو»۔ (۲۷/۱۰).

زۀ وایم : ما یو خوب اولیدۀ چه په هغے کښے زۀ د الجامعة الاسلامیة دَ مدرس عبد الرزاق سره ملاؤ شوم، ورته مے اووئیل : ذکر سره چه لغوه خبرے کله هم ملګرے شوی دی نو د هغے نور ئے ختم کړے دے، او داسے ګرزیدلے دے لکه بغیر دَ روح نه ډډ جسد، نو هغه زما تصدیق اوکړو، او ماته ئے په صحیح بخاری کښے یو څو درسونه راکړل، نو زۀ په دے خوب ډیر خوشحاله شوم۔

ابو یزید بسطامی – چه دا دَ اتحادیه (وحدت الوجود) فرقے سره تعلق لری خو مونږ ددۀ هغه خبره اخلو کومه چه د حق سره موافق وی – وائی : زۀ د دیرشتو کالو راسے چه کله هم اراده اوکړم چه د الله ذکر اوکړم نو مضمضه کوم او خپله ژبه وینځم، د وجے د تعظیم د ذکر د الله تعالیٰ نه۔

(اتحادیه هغه ګمراهه فرقه ده چه د وحدت الوجود عقیده لری یعنی خالق او مخلوق یو

شے گنړي۔ لکه دا دَ ابن عربي وغیره صوفیهؤ مذهب دے ۔ مترجم)۔
دارنګه وائی : دا د تعجب خبره نهٔ ده چه زه تاسره محبت کوم په داسے حال کښے چه زهٔ فقیر بنده یم، تعجب په دے خبره دے چه تهٔ ماسره محبت کوے په داسے حال کښے چه تهٔ قادر بادشاه ئے۔ (۳٤/۱۰).
یو سړے ورته راغے وئیلے : ماته وصیت اوکړه، ورته ئے اووئیل : آسمان ته اوګوره، هغه سړي آسمان ته اوکتل، ورته اووئیل : تاته معلومه ده چه دا چا پیدا کړے ؟ هغه وئیلے : الله، ورته ئے اووئیل : کوم ذات چه دا پیدا کړے هغه پتا باندے – چرته چه تهٔ ئے – خبردار دے۔ (۳٥/۱۰).
دارنګه دے وائی : په طاعاتو کښے دومره آفتونه شته دے چه تاسو دیته محتاج نشئ چه ګناهونه طلب کړئ۔ (۳٦/۱۰). عجیبه خبره ده، کم خلق ئے پیژنی۔
دارنګه وائی : تر ټولو پورے چه بنده دا ګمان کوی چه په مخلوق کښے ددهٔ نه بل څوك ډیر شریر شته دے نو دا متکبر دے۔
زهٔ وایم : دا مؤمنانو پورے خاص دے، ګنے دا خبره خطاء ده، ځکه کافر او ابلیس دَ فاسق مؤمن نه ډیر شریر دے۔
دارنګه وائی : څوك چه الله اوپیژنی نو دے به په هر هغه شئ کښے بے رغبته وی کوم ئے چه د الله نه مشغوله کوی۔ (۳۷/۱۰).
او څوك چه خبرے واوری دے دپاره چه خلقو سره په دے باندے خبرے کوی، الله به ورته داسے فهم ورکړی چه خلقو سره به پرے خبرے کوی، او څوك چه دے دپاره خبرے آوری چه الله سره پرے معامله اوکړی، الله به ورته داسے فهم ورکړی چه په هغے خپل رب سره مناجات کوی۔ (۳۸/۱۰).
او ددهٔ نه تپوس اوشو چه د عارف نښه څه ده ؟ وئیلے : چه د هغه د ذکر نه ستومانه نشی، او د هغهٔ د حق نه ستړے نشی او نهٔ په بل چا باندے أنس حاصل کړی۔ (۳۹/۱۰).
او وائی : لوګه وریځ ده نو کله چه بنده اوګے شی نوزړهٔ د حکمت باران کوی۔ (۳۹/۱۰).
دارنګه وائی : که یو سړي ته دومره کرامتونه ورکړے شی چه په هغے سره په هواء کښے والوزی، نو په هغهٔ باندے دهوکه مه خورئ ترڅو چه تاسو هغه په امر اونهی، او د الله په حدودو او په شریعت باندے په عمل کولو سره اووینئ۔ (٤٠/۱۰).
ابراهیم هرویؒ فرمائی : څوك چه دا غواړی چه ددهٔ دعاء د آسمان نه بنده نشی نو دَ پنځو

ځيزونو خيال دے اوساتي :
١ – زيات خوراك دے نه كوي، صرف د ضرورت مطابق دے خوراك كوي.
٢ – لباس دے ئے هم داسے وي.
٣ – خوب دے ئے هم داسے وي.
٤ – خبرے دے ئے هم داسے وي.
٥ – عاجزي كونكے، هميشه د خپلے ارادے حفاظت كونكے، هميشه د خپلو اندامونو حفاظت كونكے دے وي. (١٠/٤٣).
دارنگه فرمائي : څوك چه دا راتلونكي درے څيزونه حاصل كړي، په دنيا او آخرت كښے به عزت حاصل كړي :
١ – د الله ذكر او مناجات ته ئے زړهٔ كهلاؤ وي.
٢ – نيكي غنيمت گڼړي نو دا قبلوي او حفاظت ئے كوي.
٣ – دشمن باندے كاميابي، دے دپاره چه د الله په طاعت باندے تينگ پاتے شي. (١٠/٤٤).
وهبؒ فرمائي : درے څيزونه د علم نه دي.
١ – داسے پرهيزگاري چه د الله د نافرمانئ نه ئے بند كړي.
٢ – داسے اخلاق چه خلقو سره پرے ښه سلوك كوي.
٣ – داسے حلم (صبر) چه جاهل پرے واپس كوي. (١٠/٤٧).
ابو تراب نخشبيؒ فرمائي : استاذ دپاره څلور كارونه ضروري دي.
١ – د الله فعل د مخلوق د فِعل نه جدا كول.
٢ – د اعمالو موقعے پيژندل.
٣ – د نفسونو او طبيعتونو پيژندل، او اختلاف او خلاف كښے فرق كول. (١٠/٤٧).
شقيقؒ فرمائي : خلقو سره داسے ملگرتيا كوه لكه د اور غونته، نفع ئے اخله او د سيزلو نه ئے ځان ساته. (١٠/٤٧).
حاتمؒ فرمائي : غم په دوه قسمه دے. يو غم ستا دپاره دے، او بل غم په تا باندے دے. نو كله چه ستانه د دنيا څه شے فوت شي نو دا پتا غم دے، او كله چه تانه د آخرت څه شے فوت شي نو دا ستا دپاره غم دے. (١٠/٤٩).
دارنگه فرمائي : د دنيا مثال ستا د سوري غونته دے، كه ورپسے شوے درنه لرے كيږي او كه پرېئے دے خوده نو پرله پسے راځي. (١٠/٤٩).

ابو ترابؒ فرمائي: تاسو درې څيزونو سره محبت کوئ حال دا چه هغه ستاسو نه دي.
١ – نفس سره او دا د الله دپاره دے.
٢ – روح سره، او دا د الله دپاره دے.
٣ – مال سره، او دا د ورثو دپاره دے. او تاسو دوه څيزونه تالاش کوئ او هغه نهٔ مومئ: خوشحالي او راحت، حال دا چه دا په جنت کښې دي. (١٠/٥٠).
او، فرمائي: کله چه زړونه دَ اعراض سره آموخته شي، نو هغه په اولياؤ پسے په خبرو کښې اولګي. (١٠/٤٩).
او، فرمائي: چا چه په الله باندے مشغول دَ الله نه مشغوله کړو، مرګ به ئے فورا رالاندے کړي. (١٠/٥٠).
يحيىٰ بن معاذؒ فرمائي: زهٔ به څنګه په ګناه سره ستا دَ اميد نه منع شم، حال دا چه زهٔ نه وينم چه تهٔ په ګناه سره د خپلے ورکړے نه منع شوے ئے. (١٠/٥١).
او، فرمائي: هيڅوك دنيا ته نه دے مائل شوے مګر دهٔ ته د زړونو عيب لګيدلے دے، او نهٔ دنيا ددهٔ په نفس کښې پټه شوے ده مګر دا د ګناهونو په سمندر کښې پريوتے دے. (١٠/٥٢).
او، فرمائي: خلق د کتابونو په مينځ کښې زهد طلب کوي حال دا چه دا په توکل کښې دے خو که دوئ پوهه شي. (١٠/٥٣.
او تپوس ترے اوشو، سړي ته به څنګه پته اولګي چه دے په سمه لار روان دے او ددے مخلوق نه په امن کښې دے؟ وے فرمائيل: کله چه دوئ دا خوږ اوګڼړي او دا هغوئ لره تريخ اوګڼړي، او هغوئ ددهٔ ملاقات خوښ اوګڼړي او دوئ د هغوئ ملاقات بدے اوګڼړي. (ډيره مفيده خبره ده).
او، فرمائي: دَ دعاء قبول والے روستو مه ګڼړه په داسے حال کښې چه تا د هغې لارے بندے کړي دي. (١٠/٥٣).
او، فرمائي: که عقلونو د ايمان په سترګو د جنت مزے اوليدے نو نفسونه به د شوق د وجے نه ايلي شي، او که زړونو خپل خالق سره ددے محبت ادراك اوکړو، نو خامخا به هغه طرفته ددے جوړونه اوچوي د وجے د ليواله کيدو نه په هغهٔ باندے، او خامخا به روحونه د خپلو بدنونو نه د حيرانتيا په وجه آلوتي وے. نو پاکي ده هغه ذات لره چه خلق ئے ددے څيزونو د حقيقت نه غافل کړي دي، او په بيان سره ئے ددے څيزونو د حقائقو نه مشغوله کړي دي. (١٠/٥٣).

حکیم باندے غټ مصیبت داوی چه داسے ورځ تیره شی چه دهٔ ته د خپل رب د طرفنه په کښے هدیه رانشی۔ یعنی د حکمت نوے خبره۔ (۵۳/۱۰).

او، فرمائی : دنیا طالبه هم ده او مطلوبه هم، نو څوك چه دا طلب کوی، دائے غورزوی او چاچه اوغورزوله نو دا ئے طلب کوی۔ (۵۳/۱۰).

او، فرمائی : توبه کونکی لره خپله ګناه ژړوی، او زاهد لره خپل غربت ژړوی، او صدیق لره د ایمان اخستل ژړوی۔ (۵٤/۱۰).

او، فرمائی : په دنیا کښې ستا سوچ کول تا د خپل رب او خپل دین نه غافل کوی، نو چه کله تهٔ دا په تولو اندامونو باندے حاصلوے نو بیابه ستا څه حال وی ؟ عجیب خبره ده !

او، فرمائی : خلق درے قِسمه دی۔ یو هغه سړے چه هغه لره خپل آخرت د خپلے دنیا نه غافله کړے دے، نو دا دَ علماؤ درجه ده، بل هغه سړے دے چه هغه لره ددهٔ د آخرت دپاره ددهٔ معاش مشغوله کړے وی، نو دا دَ فائزینو درجه ده، او بل هغه سړے دے چه ددهٔ دنیا دهٔ لره د آخرت نه غافل کړے دے، نو دا د تباه شوو درجه ده۔ (۵٦/۱۰).

او، فرمائی : هائے زما شرمه ! هر کله چه تهٔ ما وینے چه زما همت ستانه علاوه بل چاته ور مخکښے کیږی۔ (۵۷/۱۰).

او، فرمائی : څوك چه د خپل مولیٰ نه سیوا په بل یو شئ سره خپل زړهٔ ته آرام ورکوی، نو ددے ډیر والے به دهٔ لره پریشانی زیاته کړی۔ (۵۷/۱۰).

او، فرمائی : د عارفینو دپاره دوه عظیم نعمتونه دی۔ کله چه دوئ هغه ته واپس شی نو بیامومی ئے۔ اوکله چه دوئ اوغواړی نو یادوی ئے۔ (۵۷/۱۰).

او، فرمائی : د عارف علامات دادی : نرم جسم، حیران زړهٔ، همیشه شوق او لازم ذکر۔

او فرمائی : د عارف عبادت په دے خبرو کښے دے : خلقو سره ښه سلوك کول، د الله همیشه ذکر کول، او روغ بدن چه ددے دواړو اړخونو ته بیمار زړهٔ وی۔ (۵۷/۱۰).

او فرمائی : خوشحالی ده هغه بنده له چه عبادت ددهٔ کسب وی او فقر ئے آرزو وی او جدائی ئے خواهش وی او آخرت ئے همت وی، او روزی تالاش کول ئے هغه شے وی چه هغے ته ځان رسوی، او مرګ ئے فکر وی، او زهد باندے مشغولتیا ئے نیت وی، او په ذلت سره ئے عزت مړ شوے وی، او خپل رب ته ئے حاجت ګرځولے وی، په خالی ځایونو کښے ګناهونه رایادوی، او په خپل اننګی باندے اوښکے بهیوی، او الله ته دَ خپل غربت شکایت کوی، او په تویے سره د هغهٔ نه د هغهٔ رحمت غواړی۔ (۵۸/۱۰).

او، فرمائی : زیرکه سړے هغه څوك دے چه په هغه کښے درے خویونه وی، څوك چه په خپل عمل کښں جلتی کوی، او په خپل امید کښے تاخیر کوی، او د خپلے نیتے دپاره تیارے کوی۔ (۵۸/۱۰).

او، فرمائی : بنده چه څومره خپل مولیٰ سره محبت کوی، هغومره ئے د هغهٔ مخلوق ته محبوب جوړوی، او څومره چه د هغه د حکم عزت کوی، هغومره به ئے د هغه مخلوق ددهٔ عزت کوی، او څومره چه دے د هغهٔ په کارونو کښے مشغوله وی، هغومره به خپل مخلوق ددهٔ په کارونو کښے مشغوله لری، او څومره چه ددهٔ زړهٔ د هغه په وعده باندے آرام مومی، هغومره به ددهٔ ژوند مزیدار وی، او څومره چه د هغه په طاعت کښں همیش والے کوی، هغومره به ئے ددهٔ په سینه کښے خوږوی، او څومره چه د هغه په ذکر باندے خله خوزوی، هغومره به د هغهٔ سره مهربانی او ښیګړه کیږی، او څومره چه د هغه د مخلوق نه وحشت محسوسوی، هغومره به ئے په خپلے عطاء سره بلدوی۔ نو که د انسان دپاره ددے نه سیوا بل هیڅ هم نهٔ وی، نو هم بس دے۔ (۵۹/۱۰).

او، فرمائی : تهٔ هغه وخته پورے هغه نشے پیژندلے تر څو چه د خلقو نه رونډ نشے۔ او فرمائی : اے انسانه ! تهٔ صرف په هغه وخت کښے خپل رب ته شوق کولے شے چه د هغهٔ د مخلوق نه وحشی شے۔ (۵۹/۱۰).

٦٦ - فائده جليله

ما چه سوچ اوکړو، نو دَ دنيا اوُ آخرت ټولے ښيګړے مے د صحيح فکر تابع بيامونده لے. نو کله چه دَ انسان دپاره يو داسے وخت نهٔ وی چه په هغے کښے فکر اوکړی، نو دا هيڅ کله نشی کاميابيدلے او هيڅ قِسم خير ښيګړے ته نشی رسيدلے.

دا وجه ده چه ډير آيتونه، حديثونه او آثار ددے په ترغيب کښے راغلی دی.

او شرع مطهر د ډيرے خبرو کولو او بے فائدے کارونو نه منع فرمائيلے ده، دغه شان په اهل او مالونو باندے د ډير مشغولتيا نه ئے ددے دپاره منع فرمائيلے ده چه زمونږ فکرونه صحيح شی. او شيطان هميشه د انسان د فکر په خرابولو کښے کوشش کوی، ځکه چه دا د هرے ګناه او مصيبت بنياد دے.

٦٧ - فائده

بعضے حکمتونه

ابن قيمؒ په (روضة المحبين ص ٤٠٩) کښے فرمائی :

محبت په زړهٔ کښے يوه وُنه ده چه زيلے ئے محبوب دپارهٔ ذليل کيدل، او تنه ئے د هغه معرفت دے، او ښانګے ئے د هغه خشيت دے، او پاڼے ئے د هُغه نه حياء ده، او ميوه ئے د هغه طاعت دے، او هغه ماده چه هغه ئے خړوبه کوی د هغه ذکر دے. نو کله چه محبت ددے ټولو څيزونو يا د بعضو نه خالی شی نو هغه ناقص وی.

الله تعالیٰ موسیٰ عليه السلام ته وحی اوکړه : «زهٔ چه څنګه غواړم زما دپاره هغه شان جوړ شه، تهٔ چه څنګه غواړے ستا دپاره به هغه شان به جوړ شم». (روضة ص ٤١٠).

ابو طالب رسول الله ﷺ ته اووئيل : ورارهٔ ! زهٔ ستا رب وينم چه ستا خبره منی. وے فرمائيل : اے تره ! اوکه تا هم د هغه اطاعت اوکړو، هغه به ستا خبره منی.

(روضة المحبين ص ٤١٠)

يحيیٰ بن معاذ رحمه الله فرمائی : د توبه ګار دپاره يو داسے فخر دے چه هيڅ يو فخر دَ

هغې سره برابرېږي نۀ، هغه دا چه الله تعالىٰ ددۀ په توبه باندے خوشحالیږي۔(حلية ١٠/٥٩).
او فرمائي : الله ته هغه څوك نشي رسيدے څوك چه د هغه په تقسيم باندے راضي نه وي، او هغه څوك ئے نشي پیژندلے چه هغه د هغۀ په نعمتونو کښې مزے نه کوي، او هغه څوك ورسره محبت نشي كولے څوك چه د هغه په كرم کښې حيران نشي۔ (١٠/٥٩).
او، فرمائي : دَ سړو خولے د دوئ دکانونه دي، او د دوئ شونډے د دوئ قلفونه دي، او د دوئ غاښونه د دوئ پنجے دي، نو كله چه سړے د خپل دكان دروازه پرانيزي نو تۀ به عطار دَ بيطار (پنساري) نه جدا اوپيژنے۔ (١٠/٦٠).
او، فرمائي : دنيا د الله تعالىٰ زهرِ قاتل دي د هغه د بندګانو دپاره، نو تاسو ددے نه دومره اندازه اخلئ څومره چه په دوايانو کښې زهر اخستے شي، کيدے شي چه تاسو بچ پاتے شئ۔ (١٠/٦٠).
او، فرمائي : دَ هغۀ اولياء د هغه د نعمتونو قيديان دي، او د هغه اصفياء (غوره شوي خلق) د هغه د کرم ګانړه شوي دي، او د هغه علماء د هغه د احساناتو غلامان دي، نو دوئ دداسے محبت غلامان دي چه نشي آزادولے، او د داسے کرم ګانړه شوي دي چه آزادیږي نۀ، او دَ داسے نعمتونو غلامان دي چه نشي پريښولے۔ (١٠/٦٠).
او، فرمائي : معرفت والا په زمکه کښې د الله وحشيان دي چه هيچا سره مانوس او بلدیږي نۀ۔ (١٠/٦٠).
او، فرمائي : تعجب دے په هغه چا چه د الله د ذكر نه صبر كوي، او ددے نه زيات تعجب په هغه چا دے چه په دے باندے ئے صبر کړے دے او بنديږي نۀ۔ (١٠/٦٠).

ډيره عجيبه خبره ده !

عيسىٰ عليه السلام فرمائي : «اے د حوارينو ډلے! ګناهونو والو سره په بغض ساتلو سره الله ته ځان محبوب کړئ، او دوئ سره د کينے ساتلو په ذريعه د هغۀ نزديکت حاصل کړئ، او دوئ په خفه کولو سره د الله رضا حاصله کړئ۔ حوارينو اووئيل : اے د الله نبي ! بيا نو مونږ به چاسره كينو ؟ وئيلے : هغه چاسره كينئ چه د هغۀ خبرے ستاسو په علم کښې اضافه کوي او هغه چاسره چه دَ هغۀ ليدل تاسو ته الله رايادوي، او د هغۀ عمل – يا علم – تاسو په دنيا کښې بے رغبته جوړوي»۔



٦٨ - فائده

د نبي كريم ﷺ د خوشبويه كلام څه حصه چه د حكمتونو نه ډكے خبرے دي او زړونه نرموي

په دے كښے سوچ كول پكار دي او په ايمان، عمل صالح، زهد، تقوىٰ، او محبت اخبات او د ايمان په نورو خصلتونو كښے ددے نه استفاده كول پكار دي. الله تعالىٰ دے مونږ ته زمونږ په دے خبرو او ليكنو او هغه آيتونو، حديثونو او سلفي آثارو سره فائده راكړي كوم چه مونږه وينو.

١ - ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « الله تعالىٰ فرمائي : اے انسانه ! زما عبادت ته ځان اوزګار كړه زۀ به ستا سينه د مالدارئ نه ډكه كړم او ستا فقيري به ختمه كړم، او كه داسے دے اونه كړل نو ستا لاسونه به د كار نه ډك كړم او ستا فقيري به ختمه نه كړم ». (أخرجه أحمد وابن ماجه وهو في المشكاة ٢/ ٤٤٠).

سوچ اوكړه ! دا رشتينے وعده ده، او عبادت هم د حلال رزق د اهمو وسائلو نه يوه وسيله ده، او دَ خلقو كارونو او حرص او پريشانيو ته اوګوره. دا ځكه چه دوئ د الله عز وجل د عبادت نه غفلت كړے دے.

هَـرَبُـوا مِـنَ الـرِّقِ الَّـذِىْ خُـلِقُـوا لَـهٗ   فَبُلُـوا بِـرِقِ الـنَّـفْـسِ وَالشَّيْـطَـانِ

(دوئ د هغه غلامئ نه اوتختيدل د كومے دپاره چه دوئ پيدا شوى وو، نو د نفس او شيطان په غلامئ كښے مبتلا شول). (القصيدة النونية للامام ابن القيمؒ).

٢ - أبو امامه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « زر دے چه زما په امت كښے به داسے سړى پيدا شي چه قِسما قِسم خوراكونه او څكاكونه به كوي او رنګارنګ جامے به آغوندي او په وَينكو سره به خبرے كوي، دا زما په امت كښے بدترين خلق دي ».

(ذكره في الصحيحة ٤/ ٥١٢، ١٨٩١)

٣ - دَ معاذ ﷺ په حديث كښے دي « ځان د خوش عيشئ نه اوساته ځكه د الله بندګان

خوش عیشي (مزے) کونکی نه وي »۔

(اخرجه احمد وهو في المشكاة ۲/۴۴۲)

۴ – انس ﷺ فرمائي : « رسول الله ﷺ دَ ابو ذر ﷺ سره مخامخ شو، وے فرمائیل : ابو ذره! آیا زهٔ تاته یو دوه داسے خویونه اونه ښایم چه د هغے پیټے په شا باندے آسان دے او ددے نه علاوه دا دَ هر شئ نه درانهٔ دي ؟ هغه وئیلے : ولے یا رسول الله ! وے فرمائیل : ښائسته اخلاق او اوګده خاموشي راتینګ کړه، ځکه قسَم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښے زما ساه ده، مخلوقاتو ددے دواړو خویونو پشان هیڅ یو عمل نهٔ دے کړے »۔

(اخرجه ابو یعلی ۲/۸۳۴، وهو في الصحيحة ۴/۵۷۶، المشكاة ۲/، باب الرقاق)

۵ – ابو هریره ﷺ فرمائي : نبي کریم ﷺ اوفرمائیل : « څوك به مانه دا کلمات واخلي چه خپله پرے عمل اوکړي او یا ئے هغه چاته اوښائي چه هغه پرے عمل اوکړي ؟ ابو هریره ﷺ وائي۔ ما عرض اوکړو، زهٔ یا رسول الله ! نو هغوئ زما لاس اونیوه او پنځه خویونه ئے اوشمارل۔ وے فرمائیل : (۱) دَ حرام شوو څیزونو نه ځان ساته، تهٔ به د ټولو خلقو نه زیات عبادت ګذار جوړ شے (۲) او څه چه تاله الله په قِسمت کښے درکړي، په هغے راضي اوسه، تهٔ به په ټولو خلقو کښے مالداره شے۔ (۳) او خپل ګاونډي سره احسان کوه تهٔ به مؤمن جوړ شے۔ (۴) او د خلقو دپاره هغه څه خوښ ګڼړه څه چه ځانله خوښ ګڼړے، تهٔ به مسلمان جوړ شے۔ (۵) او ډیر مهٔ خانده ځکه چه ډیره خندا زړهٔ وژني »۔

(أخرجه الترمذي واحمد۲/۳۱۰، وهو في المشكاة ۲، والصحيحة ۲/۶۳۷، حديث صحيح جامع، وفيه أن الحرام ينافي العبادة وأفضل العبادة ترك الحرام)

۶ – ابو ذر ﷺ فرمائي : « ما عرض اوکړو، یا رسول الله ! یو سړے په څه شئ سره د اوره خلاصیدے شي ؟ وے فرمائیل : الله باندے ایمان راوړلو سره۔ ما وئیلے : یا رسول الله ! آیا د ایمان سره عمل شته دے ؟ وے فرمائیل : څه چه ورته الله ورکړے وي هغے نه به ورکړه کوي۔ ما وئیلے : یا رسول الله ! په دے مے پوهه کړه چه که هغه فقیر وي، هغه څه نهٔ مومي چه ورئے کړي ؟ وے فرمائیل : د نیکئ حکم او د بدئ نه به منع کوي۔ ما وئیلے : په دے مے خبر کړه چه که دا چاړا وي، دا طاقت نه لري چه د نیکئ حکم اوکړي او د بدئ نه منع اوکړي ؟ وے فرمائیل : بے تجربے سړي له به کار جوړ کړي۔ ماوئیلے : په دے مے پوهه کړه که هغه خپله بے تجربے وي، د هیڅ شئ کولو طاقت نه لري ؟ وے فرمائیل : کمزوري سره دے تعاون اوکړي۔ ماوئیلے : دا راته اووایه چه که هغه کمزورے وي، ددے طاقت نه لري چه

مظلوم سره تعاون اوکړي ؟ وې فرمائيل : تهٔ نه غواړې چه په خپل دې ملګرې کښې څه خير پريدې ! تهٔ به خلقو له د تکليف ورکولو نه ځان اوساتې ـ ماوئيلې : يا رسول الله ! کله چه دا کار اوکړي نو آيا جنت ته به ځي ؟ وې فرمائيل : هيڅ يو مسلمان په دې کارونو کښې يو کار نه کوي مګر زهٔ به د هغه لاس اونيسم تردې چه جنت ته به ئې داخل کړم »ـ

(اخرجه الطبراني في الكبير ١/٨٢، وهو في الصحيحة ٦/٣٦٩، رقم ٢٦٦٩، حديث جامع مفيد وفي قدر العمل الصالح عند الله تعالىٰ)

٧ – ابن عمر – رضي الله عنهما – فرمائي : « يو سړے نبي ﷺ ته راغے، وئيلے : يا رسول الله ! څوك الله ته ډير زيات محبوب دے ؟ او كوم يو عمل الله ته زيات خوښ دے ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله تـه د ټولو نه هغه څوك ډير خوښ دے، چه هغه خلقو ته ډيره فائده رسوي ـ او الله تـه د ټولو اعمالونه خوښ عمل هغه خوشحالي ده چه انسان ئې مسلمان ته رسوي او يا د هغهٔ نـه څه تکليف لرے کړي او يا ترے قرض پوره کړي، او يا ترے لوږه لرے کړي ـ او چه زهٔ د يو ورور سره د هغه د حاجت پوره کولو دپاره لاړم شم، دا ماته ددے نه زياته غوره ده چه په (خپل) دے مسجد (نبوي) کښې يوه مياشت اعتکاف اوکړم ـ او چاچه خپلـه غـصـه بنده کړه الله به ددهٔ شرم او حياء پټه اوساتي، او چاچه غصه کنټرول کړه او دهٔ ددے طاقت لرلو چه نافذه ئې کړي نو د قيامت په ورځ به الله ددهٔ زړهٔ د اميد نه ډك کړي، او څوك چه د خپل يـو ورور سـره د هـغـه د حاجت پوره کولو دپاره لاړ تردے چه هغه ئې پوره کـړو، نـو الله بـه په هغه ورځ دده قدم مضبوط کړي په کومه ورځ چه به قدمونه خوئيږي ـ او بيشكه بد اخلاقي عملٰ داسے خرابوي لكه څنګه چه سركه شات خرابوي »ـ

(الطبراني في الكبير ٣/٢٠٩، وهو في الصحيحة رقم ٩٠٦)

دا په باب د اخلاقو او حقوق العباد کښې ډير زيات مفيد حديث دے چه ددے لحاظ ساتل ضروري دي ـ

٨ – ابن عمر ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « اے د معاشرے ټولګيه ! پنځه خويونه دي كه چرے تاسو په دے باندے مبتلا شوئ او دا په تاسو باندے راغلل خو زهٔ د الله نه پناه غواړم چه تاسو دا بيامومئ ـ (هغه دا چه) (١) په كوم قوم كښې چه زنا راخكاره شي تـردے چه ښكاره طـور سره دوئ دا كـار شـروع كـړي نـو خامخا په دوئ كښې هغه دردونه (مـرضـونـه) خـوريـږي كوم چه د دوئ په مشرانو كښې نهٔ وو ـ (٢) او كله چه دوئ ناپ تول كښې كمے شروع كړي نو خامخا دوئ په قحط، مشقت او د باچا په ظلم كښې مبتلا كيږي ـ

(۳) او کله چه دوئ د خپلو مالونو زکات ورکول بند کړی نو خامخا په دوئ باندې د آسمان نه باران وریدل بندیږی. او که چرې دا څناور نه وې نو هیڅ کله به په دوئ باران نه کیدلې. (٤) او کله چه دوئ د الله او د هغه د رسول ﷺ لوظ او وعده ماته کړی نو خامخا په دوئ باندې الله یو داسې دشمن مسلط کوی چه د دوئ نه علاوه وی، نو هغه، د دوئ نه بعضې هغه څه واخلی کوم چه د دوئ په لاسونو کښې دی. (٦) او چه تر څو پورې د دوئ بادشاهانو د الله په کتاب باندې فیصلې نه وی کړی نو خامخا الله دوئ خپل مینځ کښې په جنګ اچوی».

(رواه البیهقی باسناد صحیح وهو فی الترغیب ١/٥٤٣)

نو دا د نبوت پیشنګویانې دی چه اوس عجیبه عجیبه بیمارئ او دردونه پیدا شوی دی، او د باران نظام هم ګډ وډ شوې دې او قتل وقتال هم ډیر شوې دې. په الله پورې ددې مصیبتونو نه پناه غواړو. والله المستعان!

٩ - انس ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «بعضې خلق داسې وی چه خیر پرانستونکی او د شر بندونکی وی، او بعضې خلق داسې وی چه د شر پرانستونکی او د خیر بندونکی وی. نو هغه چا دپاره خوشحالی ده چه الله د هغه په لاسونو باندې خیر پرانیزی. او هغه چا دپاره تباهی ده چه د هغه په لاسونو باندې الله شر پرانیزی».

(اخرجه ابن ماجه ١/٤٦، رقم ٢٣٧). دا هم ډیر ناشنا حدیث دې.

١٠ - علی ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «جبرئیل ماته راغې، وئیلې: اې محمد! څومره چه دې زړۀ غواړی ژوند تیر کړه خو آخر مرګ دې. او چاسره چه دې خوښه شی محبت اوکړه خو آخر به ترې جدا کیږې. او څه عمل چه دې زړۀ غواړی هغه اوکړه تاته به د هغې جزاء ملاویږی. او یاد ساته چه د مؤمن شرافت ددۀ (مانځه ته) اودریدل دی، او ددۀ عزت د خلقو نه بې پروائی ده».

(رواه الحاکم ٤/٣٢٤، وابو نعیم ٣/٢٥٣، وغیرهما، الصحیحة ٢/٥٠٥، رقم ٨٣١)

١١ - عمرو بن عاص ﷛ نه روایت دې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «ستاسو کښې د یو کس په زړۀ کښې ایمان داسې زړیږی څنګه چه جامه زړیږی، نو د الله نه غواړئ چه ستاسو په زړونو کښې ایمان تازه کړی». (رواه الحاکم ١/٤، الصحیحة ٤/١١٣)

په دې حدیث کښې ډیر عجائب دی خو سوچ غواړی.

١٢ - عبد الله بن عمرو ﷛ نه روایت دې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: «مسلمان سړې چه

خپل ورور ته څه هديه ورکوي په هغې کښې بهترينه هديه هغه حکمت دے چه په هغې سره د هغهٔ هدايت زيات کړي او يائے د تباهئ نه اوساتي ».

(اخرجه البيهقي في شعب الايمان وابو نعيم في الحلية)

١٣ – ابو درداء ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چا چه د مسلمانانو د لارے نه يو داسے شے لرے کړو چه هغوئ له ئے تکليف ورکولو، الله به ورله په دے سره يوه نيکي اوليکي، او چاله چه الله د ځان سره نيکي اوليکي، په دے سره به ئے الله جنت ته داخل کړي». (رواه الطبراني والحديث صحيح، الصحيحة ٥/٣٨٦، رقم ٢٣٠٦)

دا ډير د اميد حديث دے.

١٤ – ابو درداء ﷺ فرمائي : « رسول الله ﷺ مونږ ته را اووتلو او مونږ د فقر ذکر کولو او ددے نه يريدلو. وے فرمائيل : آيه فقر نه يريږئ ؟ قسَم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښے زما ساه ده ! خامخا به په تاسو باندے دنيا سَمه را اوبهيږي تردے چه په تاسو کښے د يو کس زړهٔ به هم صرف همدا کړوي. او قسَم په الله ! چه تاسو ما په دے سپين دين باندے پريخوستئ چه د هغې شپے او ورځ برابر دي ».

ابو درداء ﷺ فرمائي : قسَم په الله چه رسول الله ﷺ رشتيا وئيلي دي، مونږه ئے قسَم په الله په يو داسے تلك سپين دين باندے پريښي يو چه د هغې ورځ او شپه برابره ده. (يعني شپه په کښے نشته ټوله ورځ ورځ ده).

(رواه ابن ماجه رقم ٥، وهو في الجامع :١، واسناده حسن)

١٥ – زيد بن ثابت ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « د چا چه لوئے مقصد دنيا وي، الله به ئے کارونه تس نس کړي او فقر به دهٔ د دواړو سترګو ترمينځه کيدي، او دنيا نه به ورته دومره څه راځي کوم چه ورله مقرر وي. او چاسره چه د آخرت غم وي (ددے تيارے کوي) الله به ئے (خوارهٔ) کارونه راجمع کړي، او په زړهٔ کښې به ورله مالداري واچوي، او دنيا به ذليله کيدو سره دهٔ ته راځي ».(رواه ابن ماجه وابن حبان ٧٢، وهوفي الصحيحة رقم ٩٤٩)

دا ډير لوئے نفع مند حديث دے خو فکر غواړي.

١٦ – زبير بن عوام ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « څوك چه دا غواړي چه دهٔ عملنامه ده لره خوشحاله کړي نو هغه له پکار دي چه په دے کښے استغفار ډير ډير کوي».

(اخرجه الضياء في المختارة والطبراني كما في الصحيحة ٥/٣٧٧)

١٧ – ابن عباس ﷺ نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « هيڅ يو مؤمن بنده نشته

مگر د هغه داسې گناه وي چه وخت په وخت ورسره عادت وي او يا داسې گناه وي چه هغې باندې ټينگ ولاړ وي، جدا کيږي ترې نهٔ، تردې چه د دنيانه لاړ شي۔ او مؤمن آزمائش کړې شوې، توبه ويستونکې او خبره هيرونکې پيدا کړې شوې دې، خو کله چه ورته خبره رايادہ کړې شي نو يادوي ئې»۔

(رواه الطبراني ۳/۱۳۶، وهو في الصحيحة ۵/۳۴۶)

۱۸ – انس، ابو هريره او سمره – رضي الله عنهم – فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «ځوك چه غواړي چه په دې پوهه شي چه د الله په نيز به دهٔ دپاره څه وي؟ نو هغه له پکار دي چه د الله چه څه دهٔ سره دي هغې ته دې اوگوري»۔

(اخرجه ابونعيم في الحلية ۶/۱۷۶، وهو في الصحيحة ۵/۳۹۱). عجيب حديث دې!

۱۹ – ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: «نبي ﷺ ابو ذر رضي الله عنه نه تپوس اوکړو، د ايمان کومه يوه کړئ زياته مضبوطه ده؟ هغه وئيلې: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي! وې فرمائيل: د الله دپاره دوستي او دشمني کول، او د الله دپاره مينه او بغض لرل»۔

(اخرجه احمد ۴/۲۸۶، والطبراني ۱۱۵۳۷، الصحيحة ۴/۳۰۶، و۲/۷۳۴).

۲۰ – ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «د الله دوستان هغه ځوك دي چه کله هغوئ اوليدلې شي نو الله رايادېږي»۔

(رواه الطبراني ۱۲۳۱۵، والضياء کما في الصحيحة ۴/۳۱۱).

۲۱ – عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دې، رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، په ټولو خلقو کښې بهتر ځوك دې؟ وې فرمائيل: هر مخموم القلب او رشتينې ژبې والا۔ عرض اوشو يا رسول الله! رشتينې ژبې والا خو مونږ پيژنو، ليکن مخموم القلب ځوك دې؟ وې فرمائيل: هر پرهيزگاره او صفا زړهٔ والا چه په هغې کښې نه گناه وي، نه حسد، نه کينه او نه ضد۔ هغوئ عرض اوکړو: دهٔ ته نزدې کس ځوك دې يا رسول الله! وې فرمائيل: هغه ځوك چه دنيا سره بغض لري او آخرت سره مينه۔ هغوئ وئيلې: په مونږ کښې داسې کس مونږ دَ ابو رافع رضي الله عنه نه علاوه چه دَ رسول الله ﷺ آزاد کړې غلام دې، بل هيڅوك نه پيژنو۔ هغوئ بيا عرض اوکړو: دهٔ ته نزدې بل ځوك دې؟ وې فرمائيل: ښائسته اخلاقو والا مؤمن شخص»۔

(رواه ابن ماجه ۴۲۱۶، وابن عساکر باتم منه، الصحيحة ۲/۶۶۹).

۲۲ – ابو ذر رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «تاسو په داسې زمانه کښې ئې چه

خطيبان ئے کم دی او علماء ئے ډير دی، او څوك چه د خپلو معروفاتو لسمه حصه پريدی هغه اوغورزيدهٔ۔ او روستو به داسے زمانه راشی چه د هغے خطيبان به ډير وی خو علماء به ئے کم وی۔ څوك چه (په هغے کښے) د خپلو معروفاتو لسمه حصه راټينګه کړی نو نجات به بيامومی»۔ (رواه الهروی فی ذم الكلام ١/١٤، الصحيحة ٦/٤٠، رقم ٢٥١٠.

٢٣ – ابن عمر او ابن عباس – رضى الله عنهم – نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «څلور څيزونه دی کله چه پتاسو کښے وی نو که دنيا درنه فوت کيږی څه باك نشته۔ رشتينے خبرے، امانت ساتل، ښائسته اخلاق او پاکيزه خوراك»۔

(اخرجه احمد والطبرانی والحاكم وغيرهم). **ډير مفيد حديث دے۔**

٢٤ – أُبَیّ بن كعب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : «څوك چه يريږی هغه د شپے په اوله حصه کښے مزل کوی او څوك چه د شپے په اوله حصه کښے مزل کوی، منزلِ مقصود ته به اورسی، خبردار ! د الله سودا، ګران بيَه ده، خبردار ! د الله سودا جنت دے۔ زړونه درزونکے آفت راغلو، چه هغے پسے روستو راتلونکے بل مصيبت راغلو۔ راغے مرګ سره د تهولو سختيو نه چه په دے کښے دی»۔

(ابو نعيم فی الحلية ٨/٣٧٧، احمد ٥/١٣٦، الصحيحة ٢/٦٧٥).

٢٥ – ابن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی فرمائی : «د قيامت په ورځ به د الله له خوا نه د بنده دواړه قدمونه د خپل ځائے نه اونه خوزی تردے چه ددهٔ نه د پنځو خبرو تپوس اوکړے شی۔ (١) د عمر نه چه په څه کښے ئے ختم کړو ؟ (٢) د ځوانئ نه چه په څه کښے ئے زړه کړه ؟ (٣) د مال نه چه د کوم ځائے نه ئے ګټلے (٤) او په څه کښے ئے لګولے دے ؟ (٥) اوَ په خپل علم باندے ئے څومره عمل کړے دے ؟ »۔

(اخرجه الترمذی والدارمی وهو فی الصحيحة ٢/٦٦٦)

دا حديث مسلمان غمژن کوی که سوچ پرے اوکړی۔

٢٦ – ابو ذر ﷺ فرمائی : «ماته مے خپل دوست (رسول الله ﷺ) په اوو خبرو وصيت کړے۔ (١) ماته ئے د مسکينانو سره په محبت او دوئ ته په نزدے کيدو باندے حکم کړے۔ (٢) او ماته ئے حکم کړے چه زهٔ د خپل ځان نه ښکته کس ته ګورم او هغه چاته نه ګورم چه مانه پورته دے۔ (٣) او ماته ئے حکم کړے چه خپلوانو سره تعلق ساتم اګرکه هغوئ ما پريدی۔ (٤) او ماته ئے حکم کړے چه د خلقو نه به هيڅ شے نه غواړم۔ (٥) او ماته ئے حکم کړے چه حقه خبره به وايم اګرکه ترخه وی۔ (٦) او ماته ئے حکم کړے چه زهٔ به د الله په باره

کښې د هيڅ ملامتګر د ملامتيا پرواه نه کوم. (۷) او ماته ئې حکم کړے چه : لا حول ولا قوة الا بالله به ډير ډير وايم، ځکه چه دا د عرش نه لاندے خزانو نه يوه خزانه ده ».
(احمد وذكره ابن كثير ۲/). او دا ډير زيات مفيد حديث دے.

۲۷ – أنس الجهني ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « چا چه الله ته د تواضع دپاره خپل ډولي لباس پرينبودلو او هغه په دے باندے قادر وو، الله به ئې د قيامت په ورځ د ټولو خلقو مخامخ را اوغواړي او دهٔ له به اختيار ورکړي چه د ايمان کومه جوړه ئې چه خوښه وي وادے غوندي ».

(الترمذی، الحاکم ٤/١٨٣، احمد ٣/٤٣٩، الصحيحة ٢/٣٤٦، المشكاة ٢/٣٧٥).

د ايمان د جوړو نه مراد د جنت هغه جوړے دي چه ايمان والا ئې آغوندي.
او په دے حديث کښے الله ته تواضع ذکر ده، چه په اوچت لباس پرينبودلو سره راځي. او په دے کښے د ايمان تقويت ذکر دے چه په دے کار سره حاصليږي، او هغه د الله نه حياء کول دي لکه په راتلونکي حديث کښے راځي.

۲۸ – ابن مسعود ﷺ نه روايت دے : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « الله نه په حقه سره حياء کوئ ! صحابو عرض اوکړو، اے د الله نبي ! مونږ خو الحمد لله، الله نه حياء کوو ! وے فرمائيل : دا مراد نهٔ ده. ليکن څوك چه د الله نه حقه حياء کوي نو هغه له پکار دي چه د خپل سر او څه چه په دے کښے دي د هغے حفاظت اوکړي، او د خپلے خيټے او څه چه ددے ګير چاپيره دي د هغے حفاظت اوکړي، او مرګ او ورستيدل رايادوي. او څوك چه د آخرت اراده لري هغه به د دنيا ډول ډال پريدي. چاچه دا کار اوکړو نو هغه د الله نه په حقه سره حياء اوکړه ». (احمد والترمذی واسناده حسن، كما في الصحيحة ٦/، المشكاة ١/١٤٠).

« دا مراد نهٔ ده » ددے مطلب دا چه دا حياء چه ستاسو په زړونو کښے ده زما مراد نهٔ ده.

۲۹ – ابو امامه حارثي ﷺ فرمائي : « د رسول الله ﷺ صحابو د رسول الله ﷺ په مخکښے د دنيا تذکره اوکړه، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : « آيا تاسو نهٔ آورئ آيا تاسو نهٔ آورئ ! بيشکه چه بذاذت (قيمتي لباس پريخودل) د ايمان حصه ده، بذاذت (قيمتي لباس پريخودل) د ايمان حصه ده ».

(أخرجه ابوداود ٤١٦١، والحديث صحيح، كما في الصحيحة ١/٦٠١، رقم ٣٤١).

بذاذت : زيګوالے اختيارول او نازك والے ختمول او اعلىٰ عمده لباس او ډير زيات ډول ډهال پريخودل. (د ايمان نه دي).

۳۰ - أنس بن مالك ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «د هيڅ يو بنده ايمان سميدلے نشي ترڅو چه د هغه زړهٔ سَم شوے نهٔ وي. او زړهٔ ئے نشي سميدلے ترڅو چه ژبه ئے نهٔ وي سمه شوے. او هغه سړے جنت ته نشي داخليدلے چه د هغه ګاونډی د هغه د تکليفونو نه په امن نهٔ وي». (اخرجه احمد ۱۹۸/۳، الصحيحة رقم ۲۸٤۱).

۳۱ - أبو رزين عقيلي ﷺ فرمائي: «زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او عرض مے اوکړو، يا رسول الله! الله به مړي څنګه راژوندي کوي؟ وے فرمائيل: آيا ته د خپلے زمکے په هغه حصه نهٔ ئے ورتير شوے چه هغه شاړه وي، بيا چه پرے ورتيريږے نو هغه شنه وي؟ هغه وئيلے: ولے نه. وے فرمائيل: دغه شان به الله دوباره پيدائش هم کوي. هغه عرض اوکړو، يا رسول الله! ايمان څه ته وائي؟ وے فرمائيل: چه تهٔ ددے ګواهي اوکړے چه الله نه سيوا بل هيڅوك د عبادت لائق نشته، يو اځے دے هيڅ شريك نه لري او محمد (ﷺ) د الله بنده او رسول دے. او الله او رسول تاته ددے دواړو نه علاوه د هر څانه زيات محبوب وي. او په اور باندے سوزيدل تاته ددے نه ډير غوره وي چه تهٔ د الله سره شرك اوکړے. او داچه تهٔ غير نسبي کس سره صرف د الله دپاره مينه کوے. نو کله چه تهٔ داسے ئے، نو واقعي چه د ايمان محبت ستا زړهٔ ته داخل شوے، لکه څنګه چه په سخته ګرمه ورځ کښے تږے انسان د اوبو سره مينه لري.

ما عرض اوکړو، يا رسول الله! ماته به څنګه پته اولګي چه زهٔ مؤمن يم؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه: په دے امت کښے - يا ئے داسے اوفرمائيل: زما په امت کښے - هيڅ يو بنده نشته چه نيکي اوکړي، او دا ورته معلومه وي چه دا نيکي ده، او الله تعالیٰ په دے باندے ده ته د خير بدله ورکوي، او هيڅ ګناه نه کوي چه دا ورته پته وي چه دا ګناه ده، او بيا د الله عز وجل نه ددے نه استغفار اوغواړي او ده ته دا علم وي چه ددے ګناه بخښونکے صرف همدا الله دے، مګر دا سړے به مؤمن وي». (احمد ۱۱/٤)

دا ډير عجيب مفيد حديث دے.

۳۲ - ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «تاسو د: لا اله الا الله ګواهي ډيره ډيره ورکوئ مخکښے ددے نه چه ستاسو او ددے ترمينځه پرده واقع شي، او خپلو مړهٔ کيدونکو ته ددے تلقين کوئ». (اخرجه ابو يعلیٰ ١٤٦٠/٤، الصحيحة ٧٥٧/١، رقم ٤٦٧)

۳۳ - ابو ذر ﷺ فرمائي: «ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، کوم يو جهاد افضل دے؟ وے فرمائيل: افضل جهاد دادے چه تهٔ د خپل نفس او خواهش سره د الله په ذات کښے

جهاد اوکړے ». (ابو نعیم ۳/۲٤۹، الصحیحة ۳/۱٤۹٦)

۳٤ – جابر ﷺ فرمائی: « رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، کوم یو ایمان بهتر دے ؟ وے فرمائیل: صبر او سَخا ». (الصحیحة ۳/٤۸۲)

۳٥ – ام درداء – رضی الله عنها – فرمائی: ما ابودرداء ﷺ ته اوویل: څه وجه ده چه ته هغه شے نهٔ تالاش کوے کوم چه فلانے فلانے کس تالاش کوی ؟ ابو درداء وئیلے: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئے: ستاسو مخے ته یو سخت کنډو دے، په دے به درانه خلق نشی تیریدے. نو زهٔ غواړم چه دغه کنډو دپاره خپل ځان سپك کړم.

(رواه الطبرانی باسناد صحیح، الصحیحة ٥/٦۲۷)

۳٦ – عبد الرحمن بن عبد رب الکعبهٔ فرمائی: زهٔ مسجدِ حرام ته داخل شوم نو څه گورم چه عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ د کعبے په سوری کښے ناست دے او خلق ورته راټول شوی دی، ما د هغهٔ نه واوریدل چه فرمائیل ئے: یو ځل مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښے وو، چه ناگهانه ئے په یو ځائے کښے دیره واچوله، نو په مونږ کښے ځینے خلقو خپله خیمه سموله او ځینو غشی ویشتل او ځینے دخپلو اوښانو په ځائے کښے وو، چه ناساپه د رسول الله ﷺ یو آواز کونکی آواز اوکړو، مونږ حاضر دے. نو مونږ رسول الله ﷺ ته راجمع شو، نو هغویٔ اوفرمائیل: « مانه مخکښ هیڅ یو پیغمبر نه دے تیر شوے مگر په هغهٔ باندے دا واجب وو چه خپل امت ته هغه خیر اوښائی کوم چه هغه ته معلوم وی، او هغویٔ د هغه شر نه اویروی، کوم چه هغه ته معلوم وو، او بیشکه ستاسو دا امت چه دے نو ددے عافیت په اول کښے گرځولے شوے دے، او ددے آخر ته به آزمائش او څه داسے کارونه رسیږی چه هغه به تاسو ناشنا گنړئ او یوه فتنه به راشی چه ځینے به ځینو نورو لره نرموی، فتنه به راشی نو مؤمن به وائی: دا ما تباه کونکے ده، بیا به هغه ختمه شی او بله فتنه به راشی نو مؤمن به وائی: داده داده. نو څوك چه غواړی چه د اور نه په ډډه شی او جنت ته داخل شی نو هغه له دِ په داسے حال کښ مرگ راشی چه هغه په الله او د آخرت په ورځ ایمان لری. او خلقو سره دے هغه سلوك کوی کوم چه د خپل ځان دپاره خوښ گنړی. او چا چه یو (مسلمان) بادشاه سره بیعت اوکړو او هغه له ئے خپل لاس او د زړهٔ میوه ورکړه، نو څومره چه کیدے شی د هغهٔ طاعت دے کوی، نو که بل یو بادشاه راغے او اول بادشاه سره ئے جگړه کوله نو ددے بل څټ اووهئ ».

۳۷ – عباده بن صامت ﷺ فرمائی: یو سړے نبی ﷺ ته راغے او عرض ئے اوکړو، اے د الله

نبی ! کوم یو عمل افضل دے ؟ وے فرمائیل : الله باندے ایمان راوړل او هغه رشتینے گنړل او د هغه په لاره کښے جهاد کول۔ هغه وئیلے : یا رسول الله ! ددے نه آسان عمل غواړم۔ وے فرمائیل : سخاوت او صبر۔ هغه وئیلے : یا رسول الله ! ددے نه هم آسان عمل غواړم۔ وے فرمائیل : الله تبارك وتعالىٰ باندے په هغه شئ کښے تهمت مه لګوه په کوم سره ئے چه ستا دپاره فیصله کړے ده۔(اخرجه احمد ۳۱۸/۵، الصحيحة ۱۰۰۱/۷، رقم ۳۳۳٤).

۳۸ – سهم بن معتمر د هجیمی ﷺ نه روایت کوی چه دا مدینےته راغلے او نبی ﷺ سره د مدینے په یوه کوڅه کښے مخامخ شو، نو په داسے وخت کښے ئے ورسره ملاقات اوکړو چه دهٔ د پُنیے په لنگ سره لنگ تړلے وو چه د هغے دواړه طرفونه خوارهٔ شوی وو، نو دهٔ اوونیل : عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : « عَلَيْكَ السَّلَامُ خو د مړو سلام دے۔ نو دهٔ عرض اوکړو، یا رسول الله ! ماته وصیت اوکړه ! وے فرمائیل : د نیکئ هیڅ یو عمل کول سپك مه گنړه اگرکه تهٔ د رسئ یوه ټکړه هدیه کړے، اگرکه تهٔ خپله بوقه، دَ اوبو ډکونکی په لوښی کښ واچوے، اگرکه تهٔ د خپل مسلمان ورور سره په روڼ تندی سر مخامخ شے۔ اگرکه تهٔ په خپل نفس سره د غمژن غم غلط کړے، اگرکه تهٔ تسمه چاته بخشش کړے »۔ (الصحيحة رقم ۳٤۲۲)

۳۹ – نبی اکرم – ﷺ – فرمائی: « هیڅوك پتاسو کښے په خپل عمل سره جنت تهٔ داخلیدے نشی (او نه پرے د اوره خلاصیدے شی)، صحابو عرض اوکړو، تهٔ هم نهٔ یارسول الله ؟ وے فرمائیل : زهٔ هم نهٔ۔ (او په خپل لاس سره ئے خپل سر مبارك ته اشاره اوکړه) مگر دا چه الله ما په خپل فضل او رحمت کښ پټ کړی (دوه یا درے کرته ئے اوفرمائیل)، نو تاسو نیغ اوسئ او افراط تفریط نه ځان ساتئ او خوشحاله شئ او صبا بیگاه (عملونه) کوئ او د شپے په څه حصه کښے۔ درمیانه روی کوئ نو تاسو به مقصد ته اورسئ۔ او یاد ساتئ چه الله ته د ټولو نه زیات غوره هغه عمل دے چه همیشه وی اگرکه کم هم وی »۔

(ورد عن جمع من الصحابة منهم ابو هريرة وعائشة وجابر وابو سعيد الخدری وأسامة بن شريك رضی الله عنهم الصحيحة ۲٦۰۲).

٤۰ – ابو ایوب ﷺ فرمائی : « یو سړے نبی ﷺ ته راغے، وئیلے : ماته مختصر شان وعظ اوکړه، وے فرمائیل : کله چه تهٔ په خپل مانځه کښے اودریدے نو د هغه کس پشان مونځ کوه چه هغه رخصتیدونکے وی، او هیڅ داسے خبره مه کوه چه صبا له د هغے نه عذر کوے، او د هغه څه نه پوره طور سره نا امیده شه کوم چه د خلقو په لاسونو کښے دی »۔

(رواه أحمد)

۶۹ - فائده

هغه کارونه پیژندل

چه نبی ﷺ د هغې په کولو سره ایمان ختم کړے دے

دے دپاره چه مؤمن د خپل ایمان د حفاظت دپاره ددے نه ځان اوساتی۔ او مخکښے مونږ ذکر کړی وو چه د ایمان د مقویاتو نه یو دا هم ده چه انسان د هر هغه سبب نه ځان اوساتی چه ددهٔ او د ددهٔ د ایمان ترمینځه رکاوټ واقع کیږی۔

او دا داسے نفع منه فائده ده چه کیدے شی تاته بل ځائے په یو ځائے کښے راجمع شوے ملاؤ نشی۔ نو مونږ وایو :

۱ - امانت۔

۲ - او لوظ د ایمان د اهمو واجباتو نه دی۔

نبی ﷺ فرمائی : « د هغه چا ایمان نشته د چاچه امانت نهٔ وی، او د هغه چا دین نشته چه د هغه لوظ نهٔ وی»۔

(أخرجه ابن ابی شیبة فی الایمان ص ۵، واحمد ۳/۲۵۱، وابن حبان ۴۷، وغیرهم)

۳ - عروهٔ فرمائی : تاسو لره دے د یو سړی مونځ او روژه دهوکه نه کړی، که مونځ کوی او که روژه نیسی خو د هغه چا دین نشته چه د چا لوظ نهٔ وی۔ (ابن ابی شیبة ۷).

۴ - زنا۔

۵ - غلا۔

۶ - شراب خوری۔

۷ - لوټ مار۔

حدیث کښے دی « زناکار د زنا په وخت د ایمان په حالت کښے نهٔ وی۔۔ تر آخره پورے»۔

(رواه البخاری وابن ابی شیبة ۱۳)

۸ - قتل کول۔

٩ – مالِ غنيمت کښې خيانت کول. (لکه مخکښې حديث کښې تير شو).

١٠ – مونځ پريښول.

١١ – لعن.

١٢ – طعن کول.

١٣ – فحش کارى.

١٤ – پوچ ګوئى. حديث کښې دى « مؤمن نهٔ لعن کونکے وى او نه طعن کونکے، نهٔ فحش کارى کونکے او نهٔ پوچ ګويه وى».

(رواه ابن ابى شيبة ٢٦، هو فى صحيح الجامع والصحيحة رقم (٣١٤)

١٥ – خيانت.

١٦ – دروغ وئيل. حديث کښې دى (مؤمن په ټولو خويونو باندے پيدا کيدے شى سيوا د خيانت او دروغو نه).

دا خبره ابن مسعود او سعد – رضى الله عنهما – فرمائيلے ده او مرفوع هم روايت شوے دہ. (ابن ابى شيبة ٢٦)

١٧ – « هغه څوك مؤمن نهٔ دے چه ځان مړوى او دهٔ خواته ګاونډى اوږے وى».

(رواه ابن أبى شيبة : ٣٣)

١٨ – مونځ پريښول. عمر ﷺ فرمائى : « په اسلام کښې د هغه چا هيڅ حصه نشته چه د هغهٔ مونځ نهٔ وى». (ابن ابى شيبة : ٣٤). او په دے مضمون ډير احاديث دى. (٤٣).

١٩ – رسول الله ﷺ سره د هر چا د محبت نه زيات محبت نه لرل. حديث کښې دى «هيڅوك پتاسو کښې تر هغه وخته پورے مؤمن کيدے نشى تر څو چه زهٔ هغه ته د خپل پلار، بچى او ټولو خلقو نه زيات محبوب نشم». (متفق عليه).

٢٠ – هغه څوك مؤمن نه دے چه ګاونډى دهٔ د ضرر نه محفوظ نهٔ وى. (رواه مسلم).

٢١ – د مؤمنانو يوبل سره مينه محبت کول.

حديث کښې دى «تاسو جنت ته نشئ داخليدے ترڅو چه ايمان اولرئ او ايمان نشئ لرلے ترڅو چه يو بل سره محبت اوکړئ آيا زهٔ تاسو ته هغه شے اونه ښايم چه کله هغه اوکړئ نو يو بل سره به مو مينه محبت پيدا شى ؟ خپلو کښې سلام خوروئ». (مسلم).

٢٢ – الله باندے ايمان لرل.

٢٣ – الله سره شرك نه کول.

۲٤ - رمضان روژے نیول۔
۲٥ - حج کول۔
۲٦ - د نیکئ حکم کول۔
۲۷ - د بدئ نه منع کول۔
۲۸ - خپل کور والو باندے سلام اچول۔
۲۹ - خلقو باندے سلام اچول۔
۳۰ - زکات ورکول۔

ابو عبیدؒ په کتاب الایمان (ص ٦٠) کښې د ابو هریره ﷺ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : «بیشکه د اسلام دپاره څه نښے او علامات دی لکه څنګه چه د لارے علامات وی۔ د هغے نه بعضے دادی چه ته په الله باندے ایمان راوړے او هیڅ شرك ورسره اونه کړے، د مانځه پابندی کول، زکات ورکول، د رمضان روژے نیول، د بیت الله حج کول، امر بالمعروف او نهی عن المنکر کول۔ او دا چه ته په خپل اهل باندے سلام اچوے هر کله چه ته دوئ ته ورځے او دا چه ته په خپلو باندے سلام اچوے هر کله چه پرے تیریږی۔ نو چا چه ددے نه څه شے پریښودۀ نو دۀ د اسلام نه څه برخه پریښوده، او چا چه داټول پریښودل نو په تحقیق سره دۀ اسلام ته شا راواړوله»۔(ذکره الألبانی فی الصحیحة)

۳۱ - تقدیر باندے ایمان لرل۔ حدیث کښے دی «د هر یو شئ یو حقیقت وی او انسان دَ ایمان حقیقت ته هغه وخته پورے نشی رسیدے تر څو چه دۀ ته معلومه نشی چه کوم شے دۀ ته اورسیده دا دده نه تیریدونکے نۀ وو، او څه چه دۀ نه فوت شو هغه دۀ ته رسیدونکے نۀ وو»۔(رواه احمد ٦/٤٤١، الصحیحة ٥/٦٠٧)

۳۲ - مرګ نه پس دوباره ژوندون۔
۳۳ - مرګ د الله په لاس کښے ګڼړل۔

حدیث کښے دی «څلور څیزونه دی چه هیڅ کله سړے تر هغه وخته پورے د ایمان خوند نشی څکلے تر څوئے چه په هغے ایمان نۀ وی لرلے۔ (۱) الله نه سیوا بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، یواځے دے۔ (۲) او زۀ د الله رسول یم چه په حق سره ئے رالیږلے یم۔ (۳) او دا چه دابه مری او بیابه د مرګ نه پس راپاسولے شی۔ (٤) او تقدیر باندے ایمان لرل»۔

(ابن ابی شیبة : ۳، وابن حبان ۲۳، موارد)

۳٤ - په رسول الله ﷺ او د هغۀ په حقانیت باندے ایمان لرل۔

۳۵ – حیاء اختیارول۔ عمر ﷺ فرمائی : « حیاء او ایمان دواړه پیوست شوی دی، نو کله چه یو جدا شی هغه بل هم جدا کیږی »۔(المشکاة : ۲، وابن أبی شیبة : ۸)
اودا مرفوع هم روایت شوے۔
۳۶ – تېگی کول۔ حدیث کښے دی « ایمان د حملے کولو تاله ده، هیڅ یو مؤمن حمله نه کوی »۔ (رواه ابوداود والحاکم ورواه ابو عبید ص ۸٤، باسناد صحیح)۔
۳۷ – انصارو صحابوؓ سره بغض ساتل۔
حدیث کښے دی « انصارو سره هغه سړے بغض نه ساتی څوك چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری »۔(صحیح مسلم)۔
۳۸ – خوش طبیعتیٔ کښے دروغ وئیل۔
۳۹ – بحثونه اوجنگونه کول اگرکه په حقه وی۔ حدیث کښے دی « هیڅوك د ایمان حقیقت ته نشی رسیدے۔ او په یو روایت کښے دی : یو سړے هغه وخته پورے پوره ایمان ته نشی رسیدے تردے چه په خوش طبیعتیٔ کښے هم دروغ وئیل پریدی، او جگړه پریدی اگرکه په حقه وی »۔
(رواه احمد ۲/۳۵۲، ابن أبی شیبة ٦٤، ابوعبید ۸۵، عن عمر وابن عمر موقوفًا وعن ابی هریرة مرفوعا ومکحول لم یسمع من أبی هریرة)۔
٤۰ – مسلمان سره جنګ کول۔
حدیث کښے دی : « مسلمان ته کنځل کول فِسق دے او هغهٔ سره جنګ کول کفر دے »۔ (متفق علیه)۔
٤۱ – مسلمان ته کافر وئیل۔ حدیث کښے دی « چا چه خپل ورور ته اے کافره اووئیلو نو په دے دواړو کښے په دے خبره باندے یو کس اخته شو »۔ (رواه الشیخان)
٤۲ – نسب نه انکار کول۔ حدیث کښے دی « او چا چه د خپل پلار نه علاوه بل چاته ځان منسوب کړو، نو په دهٔ دے د الله لعنت وی ۔۔ تر آخره پورے »۔
او په یو بل حدیث کښې دی « هیڅ یو سړے نشته چه د خپل پلار نه سیوا، سره د خپل پلار پیژندلو بل چاته ځان منسوب کړی مگر په دے سره کافر کیږی »۔
٤۳ – د سړی دا خبره چه : مونږ باندے د فلانی فلان ستوری راختو یا پریوتو په وجه باران اوشو۔
حدیث کښے دی « زما په بندګانو کښے بعضے کسانو د ایمان په حالت کښے صبا کړو او

بعضو د کفر په حالت کښې صبا کړو». (رواه البخاری ١/١١٧)

٤٤ – حائضې ښځې سره جماع کول.

٤٥ – ښځې سره په شاته حصه کښې جماع کول.

٤٦ – هلك سره جماع کول.

٤٧ – د ترويتی تصديق کول.

٤٨ – جادوګر ته ورتلل.

ابو هريره ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی. « څوك چه جادوګر يا ترويتی ته راغې او هغه ئې په خپله خبره کښې رشتينے اوګنړلو، او يا ئے حائضې ښځې ته راتګ اوکړو او يائے د ښځې شا طرف استعمال کړو نو يقينا دا د هغه شئ نه بيزار شه چه الله په محمد ﷺ باندے نازل کړی، او يا ئے کفر اوکړو په هغه څه چه الله په محمد ﷺ باندے راليږلی دی».

(أبو عبيد ص : ٨٦، وهو فی المشكاة بغير قيد الساحر ١/٥٦)

٤٩ – رياء کاری. حديث کښې دی (رياء شرك دے).

٥٠ – بد فالی نيول. حديث کښې دی «بدفالی نيول شرك دے». (أبو عبيد ص : ٨٦).

٥١ – « تعويذونه او د ښځې خاوند د محبت تعويذونه کول شرك دے ». لکه د عبد الله بن مسعود ﷺ په حديث کښې دی. (المشكاة : ٢).

٥٢ – د سړی دا خبره چه که سپے نۀ وے نو مونږ نه به غلا شوے وے، اوکه په کور کښے بطه (هيلئ) نه وے نو مونږ کره به غلۀ راغلی وے، او ژاله وان ډير تکړه وو. لکه دا خبره ابن عباس ﷺ کړيده.

(انظر ابن كثير ١/٨٩، كتاب الايمان لابی عبيد ص ٨٧، معارج القبول ١/٣٢٩)

٥٣ – نارينه د زنانه سره او زنانه د نارينه ځان مشابه کول.

حديث کښې دی « هغه سړے مونږ نه نۀ دے چه هغه ښځو سره ځان مشابه کوی او نه هغه ښځه چه هغه سړو سره ځان مشابه کوی».

(احمد، صحيح الجامع ٢/٩٥٦)

٥٤ – کافرانو سره مشابهت کول.

حديث کښې دی « هغه څوك مونږ نه نه دے چاچه زمونږ نه علاوه غيرُو خلقو سره ځان مشابه کړو». (رواه الترمذی، صحيح الجامع)

٥٥ – بدفالی نيول، د خپل ځان دپاره يا د بل چا دپاره.

۵۶ – تروېتی توب کول ځان یا بل چا دپاره۔
۵۷ – دارنګه جادو واخله۔
حدیث کښې دی « هغه څوك مونږ نه نه دے چه هغه بدفالي اونیسی او نه هغه څوك چه هغه دپاره بدفالي اونیولے شي، او یا کهاونت اوکړی او یا ورله کهاونت اوکړے شي، او یا جادو اوکړی او یا ورله جادو اوکړے شي »۔(صحیح الجامع ۲/۹۵٦)
۵۸ – امانت باندے قسَم کول۔
۵۹ – ښځه خپل خاوند ته بدنیته کول۔
٦۰ – غلام خپل آقا ته بد نیته کول۔
حدیث کښې دی « هغه څوك مونږ نه نه دے چه هغه په امانت قسَم اوکړی، او هغه څوك چه یو سړی باندے د هغه ښځه بدنیته کړی، یا د هغه غلام هغه ته بد نیته کړی، نو دا زمونږ نه نه دی »۔(صحیح الجامع).
٦۱ – د مصیبت په وخت چغے وهل۔
٦۲ – د مصیبت په وخت سر خرئیل۔
٦۳ – د مصیبت په وخت جامے شلول۔
حدیث کښې دی « هغه څوك مونږ نه نه دے څوك چه چغے وهی، سرخروی او جامے شلوی »۔(رواه ابوداود، صحیح الجامع)
٦٤ – د بل چا په طریقه عمل کول۔ حدیث کښې دی: « هغه څوك مونږ نه نه دے چه زمونږ نه علاوه د بل چا په طریقه باندے عمل کوی »۔
٦۵ – تګی کول۔ « هغه څوك مونږ نه نه دے څوك چه تګی کوی »۔ (أحمد وأبوداود).
٦٦ – اننګی په څپیړو وهل۔
٦۷ – د جاهلیت نارے سورے وهل۔
٦۸ – قرآن کریم په خوږ آواز نه وئیل۔ « هغه څوك مونږ نه نه دے چه قرآن کریم په خوش آوازئ نه لولي »۔
٦۹ – ماشوم باندے رحم نه کول۔
۷۰ – د مشرانو ادب نه کول۔
۷۱ – د علماؤ عزت نه کول۔
حدیث کښې دی: « هغه څوك مونږ نه نه دے چه زمونږ په ماشوم رحم نه کوی، زمونږ د

مشر احترام نه کوی، او زمونږ د عالم حق نه پیژنی »۔ (صحیح الجامع).

۷۲ - د کافرانو اطاعت کول۔

الله فرمائی : « که چرې تاسو د اهلِ کتابو د یوې ډلې خبره اومنئ نو تاسو به د ایمان نه پس کافران کړی »۔

۷۳ - کافرانو سره دوستی کول۔ « او څوك چه دوئ سره دوستی کوی نو بیشکه چه دوئ د هغوئ نه حساب دی »۔

۷٤ - سخته کنجوسئ کول۔

حدیث کښې دی : « هیڅ کله د یو بنده په زړهٔ کښې سخته کنجوسی او ایمان نه راجمع کیږی »۔ (مسلم، وهو فی المشکاة : ۲، کتاب الجهاد)

۷۵ - بخل او بد اخلاقی۔

حدیث کښې دی : « دوه خویونه دی چه په مؤمن کښې نه جمع کیږی : بخل او بد اخلاقی»۔ (رواه الترمذی وهو فی المشکاة : ۱/۱۶۵)

او حدیث کښې دی : « او بد اخلاقی عمل داسې خرابوی لکه څنګه چه سرکه شات خرابوی »۔ (رواه الطبرانی وهو فی الصحیحة رقم : ۹۰۶)

۷۶ - نسب کښې تهك کول۔

۷۷ - ویر کول۔

حدیث کښې دی : « دوه څانګې دی، او په یو روایت کښې دی : دوه څیزونه دی په خلقو کښې چه دا په دوئ کښې کفر دې : ویر کول او په نسب باندې پیغورونه ورکول »۔

(الصحیحة ۲/۵۲۱، مسلم)

۷۸ - مسلمان ته کافر وئیل۔

حدیث کښې دی : « چا چه خپل ورور ته اې کافره اووئیلو نو په دې خبره باندې په دوئ کښې یو کس خامخا اخته شو »۔ (رواه البخاری).

۷۹ - شرکی دمونه، تعویذونه او د خپلې او خاوند د محبت تعویذونه ټول شرك دې۔

(ابو داود).

نو دا د شعب الایمان په مقدار باندې دی، کله چه ترې تکرار حذف کړې شی. نو تاله پکار دی چه څومره دې وس وی ددې کارونو نه ځان اوساته او الله عز وجل ته توبه کړه۔

٧٠ - فائده

دوه خویونه دي چه انسان پرې کامل جوړیږي

او ډیر کم کرته په یو بنده کښې راجمع کیږي۔ او هغه: (١) صبر (٢) او بصیرت دے۔ چه ددے دواړو نه په قوتِ علمي او قوتِ عملي سره تعبیر کولے شي۔دارنګه په ایمان او عمل صالح سره، یا په علمِ نافع او عمل صالح سره ترینه تعبیر کیږي۔
حسن بصريؒ فرمائي: که ته غواړے چه بصیر (هوښیار) سړے اووینے چه یے صبره وي نو لیدلے ئې شے۔اوکه غواړے چه صبرناك سړے اووینے چه بصیرت نه لري نو لیدلے ئې شے۔ لیکن کله چه ته بصیرت او صبر دواړو واله انسان اووینے، نو سړے همدا دے۔
(الفوائد: ص ٢٦٧)

او همدے خبرے ته په دے قول د الله تعالیٰ کښې اشاره شوے: ﴿ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴾ [ص: ٥٤] (خاوندان دَ قوتِ عملي او قوتِ علمي وو)۔
﴿ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُدَ ذَا الْأَيْدِ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴾ [ص: ١٧] ۔(او یاد کړه زمونږ خاص بنده داود چه خاوند دَ لاسونو – یعنی قوتِ عملي – وو)۔ ﴿ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴾ [ص: ٢٠] (او مونږ ورته حکمت ورکړے وو او واضحے واضحے خبرے)۔
ډیر خلق دي چه په دے دواړو قوتونو کښے هیڅ یو هم نه پیژني۔او ځینے خلق صبرناك وي خو بصیرت نه لري، لکه بدعتیان او صوفیه، چه دوئ داسے مجاهدات او عبادات کوي چه انسان ورته حیران شي، لیکن د دوئ علم فاسد وي او ایمان کهوټه وي او بصیرت مړ وي۔ --- او ځینے خلق بصیرت والا وي، د ایمان، اسلام او دین حقائق پیژني، دارنګه سنت او بدعت پوره طور سره پیژني، لیکن د عباداتو، ښائسته اخلاقو، پاکیزه عاداتو نه خالي وي، لکه بعضے اهلِ حدیث ملګري۔ او کم خلق داسے دي چه هغوئ دغه دواړه خبرے راجمع کړے وي۔الله تعالیٰ نه غواړو چه مونږ ته دغه دواړه خبرے رانصیب کړي۔آمین !الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴾ [سجده: ٢٤] اودا ډیره نایابه فائده ده۔

۷۱ - فائده

اور نه د نجات دوه سببه دی

۱ - دَ الله او رسول ﷺ خبره آوریدل۔
۲ - په دے دواړو کښے سوچ او فکر کول، عقل ته کوزول او دا زده کول۔
الله تعالیٰ دَ اور والو دَ طرفنه خبر ورکوی، فرمائی :
﴿ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴾ [الملك: ۱۰]
(او دوئ به وائی : که چرے مونږ څه آوریدلے یا پوهیدلے نو مونږ به په اور والو کښے شمار نه وے)۔
او دَ مجرمانو اکثر گناهونه ددے دواړو څیزونو دَ پریښودلو په وجه دی۔ څکه دوئ په خپلو غفلتونو، شهوتونو او په دنیا کښے سرگرمئ په وجه دَ الله دَ خبرو آوریدو ته اوزگار نه دی، اونه دوئ سره دَ غور او فکر کولو وخت شته، چه په هغے کښے دوئ فکر او سوچ اوکړی او الله ته رغبت اوکړی۔
دے دواړو خبرو ته دَ قرآن کریم په ډیرو آیتونو کښے اشاره شوے ده۔ لکه الله فرمائی :
﴿ ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴾ [حجر: ۳]
(پریده دوئ چه خوراك اوکړی او مزے اوکړی او امیدونه ئے غافل کړی، نو زر دے چه دوئ ته به پته اولګی)۔ او الله فرمائی : ﴿ فَذَرْهُمْ فِيْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴾ [المومنون: ٥٤]
(پریده دوئ لره په سرکشئ د دوئ کښے تر یو وخته پورے)۔ او فرمائی : ﴿ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴾ [ق: ۳۷]
(یقینا په دے قرآن کښے خامخا پند او نصیحت دے دَ هغه چا دپاره چه زړهٔ لری یا غوږ په داسے حالت کښے اونیسی چه حاضر وی)۔
بیا چونکه په بعضے خلقو باندے د آوریدو قوت غالب وی۔ او په بعضو باندے دَ فکر قوت۔ دے وجے نه په مذکوره آیت کښے دواړو درجتو ته اشاره شوے۔

سبحانك اللهم و بحمدك، اشهد أن لا إله إلا إنت استغفرك و أتوب إليك
وصلى الله على نبينا محمد و آله و صحبه اجمعين.

الفوائد پښتو ترجمه

اول جلد ختم شو



د الفوائد (اول جلد) دَ مضامينو فهرست

دَ الفوائد اول جلد فهرست ختم شو

